دواتساپ نمبر 0708768250
مآخذاسلام جار

فضل الانسان على الدواب بالنطق

# الجواهر النقية

في شرح تحرير

# القواعد المنطقية

المعروف بہ

# درسِ قطبی

تالیف
ابوالحنیف حضرت مولانا محمد امیر الرحمن نعمانی

مکتبہ رحمانیہ
محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور
موبائل: 0336-3100065

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾

ان رمت ادراک العلوم بسرعة -:- فعلیک بالنحو القویم ومنطق

# الجواهر النقیة

فی شرح

# تحریر القواعد المنطقیة

المعروف ب

# درس قطبی

[ تالیف لطیف ]

ابو الحنیف مولوی محمد أمیر الرحمن "نعمانی"

-: ناشر :-

مکتبہ رحمانیہ محلہ جنگی عقب قصہ خوانی بازار پشاور

دکتابت اوطباعت حقوق محفوظ دی

۞دَ کتاب نوم : ـــــــالجواهر النقية في شرح تحرير القواعدالمنطقية(درس قطبي)

۞مؤلف:ـــــــــــــــــــــــابوالحنيف محمدامیرالرحمن"نعمانی"

مدرس دارالعلوم رحمانیه شبقدر.چارسده

وخطیب جامع مسجدمصطفیٰ ﷺ شبقدر

۞طباعت :

۞تعداد :

۞قیمت : .......روپے-

۞باهتمام :-.................................شهزاده نقشبندی عفی عنه

ناشر :-.................................-: مکتبه رحمانیه :-

محله جنګی قصه خوانی پیښور فون : ۲۵۰٦۲۷



▶دَالجواهرالنقيه (درس قطبي) فهرست◀


| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| ۞ سریره.................................. | ٦ | ۞ فائده........................ | ٦٦ |
| ۞المقدمة الاساسية في الكلمات الابتدائية... | ۸ | ۞معاني الجمل.................. | ۷۸ |
| ۞احوال الماتن و الشارح رحمهما الله.............. | ۸ | ۞ فائده........................ | ۸۹ |
| ۞ مقام المتن و الشرح ................ | ۹ | ۞ترکیب........................ | ۹۰ |
| ۞تعريف المنطق.......................... | ۹ | ۞عددعنوانات قال الول............ | ۱۰۹ |
| ۞وجه تسمیه.......................... | ۱۰ | ۞فائده........................ | ۱۱۰ |
| ۞موضوع،غرض،التدوين،فی حيثت........ | ۱۱ | ۞تفصیل ابداع،انشاء،تکوین وغیره..... | ۱۱۱ |
| ۞محاکمه.............................. | ۱۲ | ۞تنبيه(۱)تنبيه(۲)................ | ۱۱۲ |
| ۞ بسم الله............................ | ۱۳ | ۞ترکیب........................ | ۱۱٦ |
| ۞الفائدة المشتملة على فضائل البسملة ..... | ۱٦ | ۞تفصیل سبحا................... | ۱۲۲ |
| ۞ الاختلافات(۳)في المتعلق................ | ۱۸ | ۞ترکیب........................ | ۱۳۳ |
| ۞البشارة في توضيح الاستعارة............. | ۲۰ | ۞فائده........................ | ۱٤۳ |
| ۞فلق الصبح في الفروق بين الحمد والمدح.. | ۲۳ | ۞تفصیل المقدمة،والمقالة،والخاتمة........ | ۱٤٤ |
| ۞حل العقدفي الفروق بين الشكر والحمد.... | ۲۵ | ۞تنبيه........................ | ۱٤٦ |
| ۞فائده................................ | ۳۱ | ۞فائده........................ | ۱٤۹ |
| ۞ تفصیل الحواس......................... | ۳۲ | ۞تنبيه........................ | ۱۵۰ |
| ۞اتمام الدراية في مبحث الهداية.......... | ۳٤ | ۞جلاء البصر في مبحث الحصر........ | ۱۵۲ |
| ۞احسن الرفيق في مبحث التوفيق.......... | ۳۹ | ۞معاني المقدمة.................. | ۱۵۷ |
| ۞غاية الوصول في الفروق بين النبي والرسول.. | ٤۱ | ۞تنبيه(۱) تنبيه(۲).............. | ۱۵۸ |
| ۞عيون النكات في مبحث الصلاة......... | ٤۵ | ۞فائده........................ | ۱٦۵ |
| ۞تحصيل الكمال في الفروق بين الاهل والآل. | ٤۹ | ۞الفرق بين الغرض والغاية.......... | ۱۷۰ |
| ۞ترکیب................................ | ۵۲ | ۞فائده........................ | ۱۷٤ |
| ۞زادالسعد في مباحث امابعد............. | ۵۷ | ۞احسن الكلم في توضيح لفظ العلم...... | ۱۷۸ |
| ۞خير العمل في مباحث الجمل............ | ٦۱ | ۞ تنبيه........................ | ۱۸۲ |


Maktaba Tul Ishaat.com

| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| ❁جدول العلم | ١٨٥ | ❁رفع الخلل فی تشریح العلل | ٢٩٠ |
| ❁تنبیه | ١٨٨ | ❁تذنیب | ٢٩٦ |
| ❁فائده | ١٩٩ | ❁فائده | ٣٠٤ |
| ❁تنبیه | ٢٠٣ | ❁التفصیل فی المعارضة | ٣١٢ |
| ❁کشف الستر عن اختلافات الحکم | ٢٠٦ | ❁فائده | ٣١٣ |
| ❁المذاهب فی التصدیق | ٢٠٩ | ❁تنبیه | ٣١٩ |
| ❁القول الاظهر فی توضیح العرض والجوهر | ٢١٠ | ❁الاعتذار والمشورة فی ترک الترجمة | ٣٢٠ |
| ❁الاجناس العالیه | ٢١١ | ❁التفصیل فی العوارض | ٣٢٥ |
| ❁اقسام العلماء والحکماء | ٢١٢ | ❁وجه الحصر ووجه التسمیة | ٣٢٧ |
| ❁ تنبیه | ٢١٤ | ❁تنبیه. فائده | ٣٢٩ |
| ❁تنبیه | ٢١٦ | ❁القول الشرح والحجة | ٣٣٦ |
| ❁تنبیه | ٢٢٠ | ❁تنبیه | ٣٣٨ |
| ❁الاختلا ف فی مقسم البداهة والنظارة | ٢٣١ | ❁اقسام التقدم والتاخر واقسام التصور | ٣٣٩ |
| ❁التقابل بین البدیهی والنظری | ٢٣٤ | ❁ازالة الملالة عن مباحث الدلا لة | ٣٤٨ |
| ❁رفع التاقل فی توضیح التقابل | ٢٣٥ | ❁تنبیه | ٣٤٩ |
| ❁تنبیه(١)تنبیه(٢)تنبیه | ٢٣٦ | ❁تنبیه | ٣٥١ |
| ❁تنبیه | ٢٣٧ | ❁فائده | ٣٥٥ |
| ❁المقالات الاصوبة فی اصطلاحات الاسولة والاجوبة | ٢٤٥ | ❁ فائده | ٣٥٧ |
| ❁فائده | ٢٤٦ | ❁ فائده | ٣٦٢ |
| ❁التفصیل فی الدور والتسلسل | ٢٤٩ | ❁النسبة بین الدلا لات | ٣٦٦ |
| ❁التحقیق فی عَلَّمَ جَزًا | ٢٥٢ | ❁ فائده | ٣٦٩ |
| ❁تنبیه | ٢٥٦ | ❁تنبیه | ٣٧٠ |
| ❁تنبیه | ٢٦٠ | ❁تنبیه(١)،تنبیه(٢) | ٣٧٣ |
| ❁البیان العجیب فی توضیح الفکر والترتیب | ٢٧٠ | ❁القول المرتب فی مباحث المفرد والمرکب | ٣٧٣ |
| ❁تنبیه | ٢٧٤ | ❁الفرق بین المرکب والقول | ٣٧٥ |
| ❁نیل الامانی فی معرفة المعنی اللغوی والاصطلاحی | ٢٧٦ | ❁تنبیه | ٣٧٦ |





| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| ❁التقابل بین المفرد والمرکب | ٣٧٧ | ❁الفرق بین الزائد والحشو | ٤٣٥ |
| ❁فائده | ٣٧٨ | ❁العنقاء | ٤٣٦ |
| ❁اقسام المفرد.الاسم.والکلمة.والاداة | ٣٨٠ | ❁الجنس | ٤٣٧ |
| ❁تعریف الکلمة | ٣٨٣ | ❁مراتب الجنس.تعریف الاجناس | ٤٤٣ |
| ❁تنبیه | ٣٨٤ | ❁الفصل | ٤٤٦ |
| ❁وجوه الحصر | ٣٨٨ | ❁تقسیم الفصل الی قسمین | ٤٥٦ |
| ❁تقسیم اللفظ الی الکلی والجزی والمشترک | ٣٨٩ | ❁العرض اللازم والمفارق واقسامهما | ٤٦٠ |
| ❁انواع الاسم | ٣٩٠ | ❁فائده | ٤٤٥ |
| ❁ طرق التشکیک | ٣٩٥ | ❁تنبیه، الفصل الثالث فی مباحث الکلی | ٤٧١ |
| ❁المشترک والمنقول والحقیقة والمجاز | ٣٩٧ | ❁تعریف الکلی والمنطقی والعقلی | ٤٧٤ |
| ❁المرتجل | ٣٩٩ | ❁النسب بین الکلین | ٤٧٩ |
| ❁التفصیل فی الترادف | ٤٠٠ | ❁نقیض النسب بین الکلین | ٤٨٣ |
| ❁فائده | ٤٠٢ | ❁التسامح | ٤٨٧ |
| ❁المرکب واقسامه | ٤٠٣ | ❁الجزی | ٤٩٠ |
| ❁فائده.. تنبیه | ٤٠٥ | ❁الجزی الحقیقی والتقابل بینهما | ٤٩٢ |
| ❁الامر،فائده،الدعاء | ٤٠٨ | ❁النوع الحقیقی والاضافی | ٤٠٦ |
| ❁الالتماس، | ٤٠٩ | ❁تنبیه،محترزات التعریف | ٤٩٧ |
| ❁التنبیه.. الفروق بین التمنی والترجی | ٤١٠ | ❁مراتب النوع | ٥٠٣ |
| ❁النداء،التعجب،القسم،الاستفهام،النهی | ٤١١ | ❁مراتب الجنس | ٥٠٣ |
| ❁الفصل الثانی فی المعانی المفردة | ٤١٦ | ❁النسبة بین النوع الاضافی والحقیقی | ٥٠٦ |
| ❁الفائدة فی تشریح المعنی | ٤١٨ | ❁نسبة الفصل الی النوع والجنس | ٥١١ |
| ❁فائده..تنبیه..الممکن وجودات ثلاثة | ٤١٨ | ❁الفصل الرابع فی التعریفات | ٥١٤ |
| ❁معنی المفهوم واقسامه | ٤٢١ | ❁الاحتمالات فی المعرف | ٥١٦ |
| ❁السهو فی بعض النسخ | ٤٢٣ | ❁تنبیه(١) تنبیه(٢) | ٥١٧ |
| ❁وجه تسمیة الکلی والجزی | ٤٢٤ | ❁ الاطراد والانعکاس | ٥٢٠ |
| ❁فائده | ٤٢٥ | ❁اقسام المعرف، تنبیه | ٥٢١ |
| ❁اقسام الکلی مع وجه الحصر | ٤٢٦ | ❁الامور التی یجب الاحتراز عنها فی التعریف | ٥٢٤ |
| ❁الکلی الذاتی والعرضی،النوع | ٤٣٠ | ❁مصطفی، استعمال المجاز والمشترک فی التعریف | ٥٢٦ |

## سریزه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ مَیَّزَ نَوۡعَنَا عَنۡ سَائِرِ اَنۡوَاعِ الۡمَوۡجُوۡدَاتِ بِالذَّاتِیَّاتِ وَالۡعَرَضِیَّاتِ وَنَوَّرَ قُلُوۡبَنَا بِمَعۡرِفَةِ الۡمَعۡقُوۡلَاتِ تَعَالٰی عَنِ الۡجِنۡسِ وَالۡجِهَاتِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوۡلِهٖ مُحَمَّدِنِ الۡمَبۡعُوۡثِ بِالۡحُجَجِ وَالۡبَیِّنَاتِ اَلۡمَخۡصُوۡصِ بِاَکۡمَلِ التَّحِیَّاتِ، وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصۡحَابِهِ الَّذِیۡنَ نَاضَرُوۡا بَیۡنَ التَّحۡقِیۡقَاتِ وَالتَّدۡقِیۡقَاتِ، وَحَامُوا الدِّیۡنَ عَنِ النُّقُوۡضِ بِاَفۡضَلِ الۡمُقَدِّمَاتِ،

**اَمَّا بعد:** کله چه ما بنده ضعیف د علم الصیغه شرح (منهاج الصیغه) د یو څو ملګرو په اصرار او مشوره لیکل شروع کړو نو د دے شرح تکمیلولو څخه مخکښی ما ته څنی خاص دوستانو او رفیق درس تعلقدارانو د یو خو کتابونو پښتو د کړو چه په دے کتابونو هم شروع وکړه ما چه هر څو مره انکار کولو چه زه بلا کوړنی علاقات ذهنی، عصابی او اقتصادی مشکلاتو او مصروفیاتو سره سره په درس تدریس او د مذکور الذکر شرح په لیکلو مصروف یم او د مهم بالشان کار د پاره ځان کښی صلاحیت نه وینم ځکه چه دا کار د علماؤ د دے سه "چه نسبت خاک را با عالم پاک" خو د دے حضراتو شوق نور هم زیاتیده کله چه زه ئے لاجواب کړم او الحمد لله مذکور الذکر شرح د عمل میدان ته ورسیده نو ما خاص ملګرو سره مشوره کوله نه وروسته د اعزم د کړو چه عام طور ابتدائی طالب قطبی کتاب پوره پوره طور سره موافقت نه لری او عبور ورته حاصل نه وی او د سلم العلوم نه بره کتابونه څه خو په مدرسو کښی داخل نصاب نه وی او که وی خو لږ ئے په شوق سره وائی او خو ګوروړ نه ځان خلاصوی او خو لږ څوک ورته مخ هم نه اړه وی "وللناس فیما یعشقون مذاهب" پس قطبی نه یو ائی راچه په وفاق المدارس کښی داخل نصاب وه بلکه په فن منطق کښی ورته د ثانوی "منطق درجه حاصله وه او د غه رخت طالبان د ذن منطق اصطلاحات او قواعد ډیر په شوق سره زده کوی، او اکثر طالبان قطبی په مدرسو کښی بنه



په ذوق سره لولی او دا مذکور الذکر کتاب یو طرف ته خو په آکثرو مقاماتو کښی اشکالات لری او بل طرف ته ډیر اسانتیا او طوالت په وجه مخل فهم ګرځیدلے دے نو ما دا کتاب شرح لیکلو د پاره منتخب کړو بعون الله وحسن توفیقه یو دوه خود اسے وو چه د عربی ژبی نه علاوه خاصکر په پښتو ژبه کښی شرح لیکل عیب ګڼل کیده ځکه چه پخوا وروکښی شائقین په علوم کښی بنه مضبوط او د عربی ژبے شروحونه پغیر د څه تکلف نه استفاده کوله لیکن او س دا سے دور دے چه عربی شروحونه خو لږ دا ختو په اراده نو د سه کیږی هم نه الا ماشاء الله فالی الله المشتکی،

هم دا وجه وه چه ملګرو د لاپه کړاتو مراتو اصرار کاوه چه دا شرحه په پښتو کښی ولیکه او څما شوق دا وه چه عربی ژبه کښی ئے او لیکم بالآخر ما د اسوچ وکړو چه مقصود بالذات اهلِ علم او طالبانو ته فائده رسول دی که هره ژبه وی پس راتم الحروف اهلِ علم حضراتو څخه خواست کوی چه بنده لکه څنګه چه علمی لحاظ سره کمزوری دے هم د غه شان پښتو لیکوالی فن باندے پوره عبور نهٔ لری نو که دے کتاب (الجواهر النقیة شرح تحریر القواعد المنطقیة) کښی څه قسم غلطی کړی وی نو خاص د الله تعالیٰ د رضا په خاطر تصحیح او اصلاح ئے او کړی نو دا به ستاسو ډیر احسان وی، والله یحب المحسنین، ولا یضیع اَجرَ المصلحین،

وصلّی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وآله وصحبه اجمعین۔

العارض ابو الحنیف محمد امیر الرحمٰن النعمانی غفرله الباری،

خادم العلوم الاسلامیة بالجامعة الرحمانیه الواردة بشبقدر چارسده پاکستان

١٢ ربیع الاول ١٣٢١ ھ

Maktaba Tul Ishaat.com

## (المقدمة الاساسية فى الكلمات الابتدائية)

زده کړې دا خبره چه هر شارع فى الكتاب لره لابدى ده دا امور ثلاثه ؤ ـ نه (۱) حال المصنف (المؤلف) (۲) حال المصنَّف (المؤلَّف) اى الكتاب (۳) حال المصنف فيه (العلم المشروع فيه)

**بيان الامر الاول:-** مختصرًا د متن (الرّسالة الشمسية) مصنف نوم ابوالحسن نجم الدين على بن عمر بن على الكاتبى القزوينى او مشهور په حکیم د بیران سره وؤ او دے د محقق نصیر الدین طوسی متوفی ۶۷۲ھ شاگرد رشید دے او تاریخ وفات په قول د صاحب تاریخ محمدی ۳ رجب او په قول د صاحب فوات الوفیات میاشت د رمضان ۶۷۵ھ دے علی الاصح:

**تصنیفات:-** د ماتن ځنې مشهور کتابونه دا دی (۱) جامع الدّقائق فى کشف الحقائق (۲) عین القواعد (۳) کشف الاسرار عن غوامض الافکار (۴) حکمة العین، (۵) الرسالة الشمسیه،

**او د شرح** (تحریر القواعد المنطقیة (قطبی)) مصنف نوم ابوعبد الله قطب الدین محمد بن محمد الرازی التحتانی دے او دے ۶۹۲ھ کښ غالبًا پیدا شوے دے، او شیخ جلال الدین سیوطی رحمه الله په بغیة الوعات او صاحب کشف الظُّنُون وائی چه د شارح نوم محمد بن محمد دے، او ده ته تحتانی لقب ځکه ورکړے شوے دے چه د ده په زمانه کښ یو بل جید عالم ابو الثنا محمود بن مسعود بن مصلح و د چه مشهور وؤ په قطب الدین شیرازی سره اتفاقًا دا دواړه په شیراز کښ په یو مدرسه کښ مدرّسین وؤ او هغه مدرسه دوه منزله وه قطب الدین رازی به لاندې منزل کښ درس کولو نو دے په تحتانی سره مشهور شو او قطب الدین شیرازی به برنی منزل کښ درس کولو نو په فوقانی سره مشهور شو او علامه تاج الدین سبکی شارح په حق کښ وائی "امامٌ مبرزٌ فى المعقولات اشتهر اسمهٗ و بعد وصیتهٗ" (طبقات الکبرٰی) او حافظ ابن کثیر وائی "احد المتکلمین العالمین فى المنطق" او دے په تدریس کښ دیر ماهر وؤ او ده په شاګردانو کښ علامة سعد الدین تفتازانی او علامه جلال الدین دوانی رحمهما الله د دلالت په دے خبره کوی چه د علامه د وقت وؤ او دے په (۷۴) څلور اویا کالو په عمر کښ په (۶) ذی قعده ۷۶۶ھ ۶۱۳۶۳ کښ وفات شویدے علی الاصح -



**تصنیفات:** (۱) لوامع الاسرار شرح مطالع الانوار (۲) محاکمات شرح اشارات (۳) تحریر القواعد المنطقیة شرح الرسالة الشمسیه (۴) حواشی علی الکشاف نا مکمل (۵) شرح حاوی الصغیر و غیر ذالک،

## بيان الامر الثانى،

پوه شه چه د متن نوم "الرسالةُ الشمسيّة" دے پس د متن ته رساله شمسیه ویلو وجه هم دا ده ویلے شی (۱) ماتن دا کتاب د شمس الدین محمد بن محمّد (صدر معظم) د مشورے موافق ولیکه نو د دے کتاب نوم ئے هم د ده طرف ته منسوب کړو، (۲) ځینې کتاب ئے د نمر سره تشبیه ورکړه ده دا تفاؤلًا (۳) د ماتن لقب ځکه چه نجم الدین وؤ بل لقب ئے شمس الدین وؤ ځینې لقب ته ئے نسبت کړے وؤ، علی ما قیل او صاحب د کشف الظنون ص ۱۰۶۲ ج ۲ طبع کراچی د متن په حق کښ وائی "متنٌ مختصرٌ فى المنطق" او د شرح نوم دے "تحریر القواعد المنطقیة شرح الرسالة الشمسیة" صاحب کشف الظنون په مذکوره صفحه کښ وائی، وشرحها (الرسالة الشمسیّة) محمد بن محمد التحتانی شرحًا جیّدًا متداولًا بین الطلبةِ الفه للوزیر غیاث الدین محمد بن خواجه رشید من وزراء السلطان خدابنده، او دا شرحه مشهور ده په قطبی سره نو قطبی په عام مشهورو حود منطق کتابونو کښ امتیازی مقام ځکه لری چه دا کتاب په منزله د تاوی د علم منطق دے کما لا یخفیٰ علی تعلمه و علمه، پس د متن او شرح دواړو باره کښ ویلے شی، متنهٗ متنٌ متینٌ، وشرحهٗ شرحٌ لطیفٌ و شهرتهما تغنى عن البیان سره و عیان را چه بیان اتفاق،

## بيان الامر الثالث،

زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښ لابدی ده د معرفت د امورو عشرونه (۱) صیغه د منطق (۲) وزن (۳) معنی لغوی (۴) معنی اصطلاحی (تعریف) (۵) نسبت بین المعنیین (۶) وجه د تسمیه (۷) موضوع (۸) غرض (۹) تدوین (۱۰) حکم او حیثیت نحو تلك عشرة کاملة،

**تفصیل المقام،** منطق: په وزن د مفعل دے صیغه د ظرف ده په معنی د ځائے نطق (د خبرو ویلو ځائے) یا صیغه د مصدر میمی د ضرب باب نه په معنی د ویلو سره، قال الله تعالى و علمنا منطق الطير، او شاعر دیوے ښځې په صفت کښ وائی ـه لها حِكَمُ لقمانٍ و صورة يوسفٍ: و منطق داود و عفة مريم

او په اصطلاح کښ د دے تعریف کوؤ لای شی - آلةٌ قانونیةٌ تعصم مراعاتها الذهن

عن الخطاء في الفكر. پس پدے مقام کښې څلور شیان پېژندل ضروري دي،
(۱) آله (۲) قانون (۳) ذهن (۴) فکر. نو آله په لغت کښې واسطے ته وائي، او په اصطلاح کښې الواسطة بین الفاعل والمنفعل في وصول اثره الیه. یعنې دا یو واسطه او ذریعه ده په مابین د فاعل او د منفعل کښې په رسولو د اثر د فاعل منفعل ته لکه منشار (اره) د نجار د پاره. او قانون په لغت کښې مسطر د کتاب ته وائي او په اصطلاح کښې امرٌ کلّيٌ منطبق علیٰ جمیع جزئیاته التي یتعرف احکامها منه. لکه دا قول د نحویانو الفاعل مرفوعٌ والمفعول منصوبٌ والمضاف الیه مجرورٌ.

فائدة:- د قانون، قاعده، ضابطه، او اصل ترجیح اتحاد ذاتي او فرق اعتباري دے بنا په قول مشهور او علامه حموي مصري وائي چه د قاعدے تعریف کولے شي صورةٌ کلیةٌ یتعرف منها احکامُ جمیع جزئیاتها او دغه ضابطه عامه ده. ځکه چه تعریف ئے کولے شي امرٌ کليٌ ینطبق علیٰ جزئیاته لیتعرف احکامها منه او قانون عام دے د ضابطے اطلاق الاجزئیة باندے هم کیږي لکه مسطر د کتاب (خط کش) او په آلهٔ کلیه هم کیږي لکه آلهٔ قانونیة الخ غمز عیون البصائر ص۳۰۸ ج۲ او علامه ابن نجیم حنفي وائي ان القاعدة تجمع فروعًا من ابوابٍ شتّی والضابطة تجمعها من باب واحد هذا هو الاصل الاشباه والنظائر ص۳۰۸ ج۲ او ذهن په لغت کښې تیزئ یا زیرکیا ته وائي او په اصطلاح کښې قوةٌ للنفس تشتمل الحواس الظاهرة والباطنة معدةٌ لاکتساب العلوم (تعریفات ص۴۳) او فکر په لغت کښې په معنیٰ د تامّل او سوچ سره راځي (ض) او په اصطلاح کښې ترتیب امورٍ معلومةٍ للتأدي الی المجهول، والتفصیل في هذا سیجئ في الکتاب، او نسبت په مابین د معنیٰ لغوي او اصطلاحي کښې عموم او خصوص مطلق دے په دے شان سره چه معنیٰ لغوي اعم مطلق دے او معنیٰ اصطلاحي اخص مطلق دے کما لا یخفیٰ،

**اووجه د تسمیه:** د دے علم د اره چه د دے علم درے نومونه دي (۱) علمِ منطق (۲) علمِ میزان (۳) علمِ آلي. منطق ورته ځکه وائي چه دا اثر کوي په نطق ظاهري او باطني کښې ظاهري ځکه چه په علم منطق باندے خوله پورې هېږي هغه قوي دے په هغه چا چه هغه د دے علم نه غافله وي، او باطني ځکه چه منطقي ته د اکثرو شیانو اجناس، فصول، انواع، خواص، او لوازمات معلوم وي په خلاف د هغه چا چه هغه د دے علم نه محروم وي، او دے ته علم میزان ځکه وائي چه میزان اصل کښې ترازو ته وائي چه په هغے سره وزن تلل کیږي او په علمِ منطق سره هم صحیح فکرونه د غلطو



فکرونو نه جدا کولے شي او تلل شي او علم آلي ځکه ورته وائي چه دا مقصود بالذات نه دي بلکه وسیله ده د نورو علومو د پاره او یا خاص کړو د علم حکمت د پاره

**موضوع د علم منطق:** المعلومات التصوریة والتصدیقیة، لکن لا مطلقًا بل من حیث انها موصلةٌ الی المجهول التصوري والتصدیقي،

**غرض د علم منطق:** صیانة الذهن عن الخطاء في الفکر، والتفصیل سیجئ.

**تدوین:-** منطق یو فطري علم دے ځکه چه د خطاء في الفکر نه بچ کیدل او نظر او فکر کښې غلط نه واقع کیدل او په کوم مقصد باندے دلیل او برهان پیش کول او قیاس کول هر انسان کوشش وي دا جدا خبره ده چه د چا مقصد او نظر او دلیل مطابق د نفس الامر سره وي او د چا نه وي لیکن باقاعده اظهار د دے علم حضرت ادریس علیٰ نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام نه د مخالفینو متعصبینو جوا او غلی کولو د پاره په طریقے د معجزے سره شوے دے بیا یونانیانو پکښې اشاعت وکړو په دے شان سره چه مشهور حکیم ارسطو طالیس (ارسطو) ۳۸۴ ق م مخکښې د عیسیٰ علیه السلام نه په حکم د سکندر رومي سره اول ځل حکمت او منطق تدوین کړو دے وجے نه ورته معلم اول ویلے شي. ولولا کتب ارسطو ما انتقلت الفلسفة من مکان الیٰ آخر یا د هارون الرشید او مامون الرشید په دور کښې دغه فلسفه یوناني ژبې نه عربي ته منتقله کړے شوه بیا منصور ساماني ابونصر (محمد بن محمد بن طرخان) فارابي متوفیٰ ۳۳۹ھ ته دوباره تدوین کولو حکم ورکړو او هغه د خپل وس مطابق پکښې تنقیح او تهذیب وکړو نو د دے وجه نه ده ته معلم ثاني ویلے شي بیا د فارابي اکثر کتابونه ضائع شوے وو او بیا سلطان مسعود شیخ ابو علي (حسین بن عبد الله) ابن سینا متوفیٰ ۴۲۸ھ ته حکم وکړو چه دریم ځل تدوین او تهذیب پکښې وکړو ده هم تفصیلي تدوین پکښې وکړو د دے وجه نه ده ته معلم ثالث ویلے شي، کذا في قرة العیون ص۱۲۹،

**حکم د منطق او فني حیثیت:-** د دے باره کښې همیشه د پاره متناقض رائې چلیږي ځنې حضرات خو ترے نه ډیر نفرت کوي لکه حافظ ابن تیمیه رحمه الله په قصیده نونیه کښې وائي " ے وا عجبا الیونان کم فیه من افكٍ وبهتان مخبطٌ لجید الاذهان ومفسدة لفطرة الانسان او یو بل شاعر وائي،
ے دع منطقًا فیه الفلاسفة الاولیٰ فلت عقول لهم بحثٍ مفرقٍ واجنح الی نحو البلاغة واعتبر ان البلاء موکل بالمنطق او ځنې حضرات یو مقوله نقل کوي

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ تَمَنْطَقَ فَقَدْ تَزَنْدَقَ، او ځنې حضرات وائي چه ځیني علوم مستنبط دي حالانکه علم منطق ته د استنجار او ورائي المنطق رجا مع الرموز) وقيل الحكمة بيت الذورات والمنطق د هليزها، او دوېمې نظریه وائي چه علم منطق یو ډیر بهترین علم دی لکه شیخ ابونصر فارابي وائي چه علم منطق رئیس د علوم دی ځکه چه په صحت او سقم کښې او قوت او ضعف کښې علم منطق په ټولو علوم حاکم دی او شیخ ابوعلي ابن سینا وائي، او امام غزالي رحمة الله وائي، مَنْ لم یعرف المنطق فلا ثقة له في العلوم اصلاً (کشف الظنون) صفحه ۸۶۲ ج۲ او قاضي ثناء الله پاني پتي وائي، گر منطق که خادم هر علوم است خواندن آن البته مفید است، (وما لا بد منه ص ۱۵۲)

**محاکمه**:- صحیح خبره دا ده چه دا علم مقصد بالذات گرځول نه دي پکار چه ټول عمر عزیز پرې صرف کړې شي البته د ضرورت داعیه په مطابق زده کول ئې حتمي دي ځکه چه د احیثیت دا یې لري او الله د ذریعې تابع وي او د اس بغیر د علم منطق نه په اکثر و تفاسیر و او کتابونو باندې پوهیدل ډیر مشکل تمامیږي لهذا د دې زده کړه ضروري ده او مذکوره عبارات په تعصب مبني دي په رسالة النور کومه چه په ربیع الثاني کښې ۱۳۶۱ھ شایع شوې وه د حکیم الامت شاه اشرف علي تهانوي رحمة الله رائې گرامي په دې الفاظو سره درج ده. ہم تو جیسا بخاری کے مطالعے میں اجر سمجھتے ہیں میرزاہد، امورعامہ میں بھی ویسا ہی اجر سمجھتے ہیں (قدسي تصورات ص۱) او څوک چه ترې چورلټ انکار کوي هغوئي پرې سم نه پوهیږي (النَّاسُ اعداءُ لِمَا جهلوا) او شیخ ابوعلي ابن سینا وائي، وقد رفض هذا العلم وجحد منفعته من لم یفهمه، وقال الله تبارك وتعالى واذ لم یهتدوا به فسیقولون هذا افك قدیم، او یو شاعر وائي، ــه

عاب المنطق قوم لاعقول لهم ÷ وليس له اذا عابوه من ضرر
ما ضر شمس الضحى والشمس طالعة ÷ ان لا يرى ضوءها من ليس ذا بصر

او یو بل شاعر وائي ــه،

ان رمت ادراك العلوم بسرعة ÷ فعليك بالنحو القويم و منطق
هذا الميزان العقول مرجح ÷ والنحو اصلاح اللسان بمنطق



قوله. بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط ترجمه: خاص په نوم د الله چې زیات مهربان ډیر بښونکی شروع کوم،

زده کړه دا خبره چه په دې مقام کښې یو څو مباحث دي (۱) وجوه د راوړلو د بسم الله (۲) معنیٰ لغوي (۳) معنیٰ اصطلاحي (۴) نسبت بین المعنیین (۵) تشریح په الفاظ اربعه و (اسم، الله، الرحمٰن، الرَّحيم) کښې، تفصیل المقام، سوال: داکتاب د علم منطق یو کتاب دی او مقصد په علم منطق کښې بیان د قواعد و منطقیه و وي نو شروع په بسم الله الخ کښې شروع بما لا یعني ده (وقال علیه الصلوٰة والسّلام (من حسن اسلام المرء ترکه ما لا یعنیه) اخرجه الترمذي وابن ماجة

جواب ما په سر د کتاب کښې بسم الله راوړه درې وجهونه (۱) وجه اقتداء با القرآن الکریم وذا ظاهر (۲) وجه عمل بالحدیث ځکه چه نبي علیه السلام فرمائي کل أمرٍ ذي بال لم یبدأ فیه ببسم الله الرحمٰن الرحیم ط فهو اقطع، رواه الحافظ عبد القادر الرهاوي في كتاب الاربعين، وقد روي هذا الحديث من كعب بن مالك و ابي هريرة و هو المشهور،

سوال: بسم الله الخ هم امر ذي بال دی پکار ده چه دې د پاره بل بسم الله الخ راوړې شي او هغه بل د پاره هم بل هَلُمَّ جرًّا نو یا به دور لازمیږي یا تسلسل او دا دواړه باطل دي، جواب بسم الله دا مر ذي بال نه مستثنیٰ ده په استثناء عقلي سره (۳) وجه اتباع سلف صالحین ــه فکل خیر في اتباع من سلف ÷ وکل شر في ابتداع من خلف: پس زده کړه دا خبره چه بسم الله په لغت کښې نام الله را گویند او په اصطلاح کښې جملة مركبة من ثلاثة اسماء و تسعة عشر حرفًا، پس په دې تعریف کښې خلور قیدونه دي (۱) جملة نو په دې سره مشهوره معنیٰ بغیر تاویل نه غلط شو ځکه چه په معنیٰ مشهوره سره بسم الله الخ دوه جمله جوړیږي حالانکه بسم الله الخ یو جمله ده، نو صوفي چه کومه ترجمه او کړه نو دا صحیح ده (۲) مرکبة الخ په دې ترکیب باندې یو څو اعتراضونه واردیږي (۱) اعتراض شروع په لفظ جلال او نشوه بلکه شروع په اسم سره او شوه والمناسب هو الاول جواب چه التباس د قسم (بالله "ج") سره راتلې او التباس خلاف اصل دی جواب چه خوله دانسانانو د کدورتونو څخه پاکه شي (۲) اعتراض بسم الله په ترکیب کذائي سره ولې منتخب کړې شو چه لفظ جلال ئې مقدم

کړو او ورپسې لفظ الرحمٰن او ورپسې لفظ الرحیم جواب لفظ جلال ئې مقدم
دے د وجې نه ځکه چه دا ذات دے او ذات مقدم وی په صفاتو باندے،
(۳) اعتراض. لفظ الرحمٰن ئې په لفظ د الرحیم ولې مقدم کړو سره د دے نه چه
ترقی دا دنٰی نه اعلیٰ ته کیږی، جواب لفظ الرحمٰن خاص اللفظ دے په دے شان
سره چه اطلاق ئې په غیر د الله نه په بل چا نه کیږی او لفظ "الرحیم" عام دے
اطلاق ئې په غیر الله هم کیږی لکه دا قول د الله تعالیٰ شو بالمؤمنین رؤف رحیمٌ
التوبه ۱۲۸ او ترقی د اعلیٰ نه ادنیٰ ته هله روانه ده چه اعلیٰ په نهایت د وضاحت
کښې نه وی او دلته اعلیٰ په نهایت د وضاحت کښې دے،

پس زده کړه دا خبره چه لفظ جلال (الله) په تحقیق او تشریح کښې د علماؤ
کرامو مختلف اقوال دی، علامه مجد الدین فیروز آبادی رحمة الله واقف
چه په دے لفظ جلال کښې د دیرشو (۳۰) نه زیات اقوال دی، دلته یو څو اقوال
نقل کولے شی (۱) دا عربی لفظ نهٔ دے بلکه سریانی لفظ دے، چه په اصل کښې
"لاها" وو، لکه روح چه په اصل کښې روحا وو او نور په اصل کښې نورا وو الف
د آخر نه حذف کړے شو او په ابتداء کښې ئې الف لام تعریف پیوست کړے شو نو
"الله" شو واختار هذا القول ابو زید البلخی دوهم قول د علامه ابو حیان الاندلسی
رحمة الله دے هغه په خپل مشهور تفسیر البحر المحیط ص ۱۵/۱ کښې ذکر کړی
دی چه دا لفظ عربی دے لیکن اسم ذات یا علم نهٔ دے بلکه صفت مشتقه دے
لکه د الله تعالیٰ نور صفات، لکه الکریم او الرحیم وغیره، دریم قول د شیخ ابن عربی
رحمة الله دے هغه په خپل کتاب په "فتوحات" کښې ذکر کړیدی چه لفظ "الله" اسم
ذات دے لیکن علم نهٔ دے. څلورم قول مشهور مفسر قاضی بیضاوی رحمه الله
غوره کړے دے، چه لفظ "الله" عربی اسم ذات او علم دے لیکن بالوضع نهٔ دے
(۵) قول چه لفظ "الله" اسم ذات علم دے بالوضع دے او د بل یو لفظ نه مشتق نهٔ دے
وبه قال الامام ابو حنیفة رحمة الله، والشافعی والخلیل النحوی والزجاج، وقال
العلامه الزبیدی رحمة الله وَ اَصَحُّهَا اَنَّهٗ عَلَمٌ لِلذَّاتِ الواجب الوجود المستجمع
لجمیع صفاتِ الکمال غیر مشتقٌ، تاج العروس ص ۳۴۳/۹، شپږم چه دا علم
بالوضع او مشتق دے واختاره الزمخشری والنسفی، پس کله چه دا لفظ مشتق
او منلے شی نو مشتق منهٔ د دے څه شئ دے، په دے سلسله کښې هم مختلف اقوال
دی، دلته صرف څلور اقوال ذکر کولے شی، اول، اِلٰهٌ په وزن د فعالٌ د صفت



مشبه صیغه ده، په معنیٰ د مَاْلُوْهٌ (اسم مفعول) سره د فتح یفتح باب نه په معنیٰ
د محبوب سره په دے باندے الف لام تعریفی داخل شو، اَلْاِلٰهُ شو، نو دویمه
همزه د کثرة استعمال او د ثقل د وجے نه حذف کړے شوه، پس دواړه لامه جمع شول
اول ساکن ثانی متحرک اول په ثانی کښې مدغم کړے شو واختاره ابو الهیثم لسان
العرب ص ۱۱۸/۱ دریم: اِلٰهٌ فعال په وزن صفت مشبهٔ ده د سمع باب نه په معنیٰ
د حیرانتیا سره او پناه نیول دا الله تعالیٰ په ذات او په صفاتو کښې د انسان عقل
همیشه حیران وی او په هر مصیبت او شدت وخت کښې د الله تعالیٰ پناه طلب
کولے شی دریم داچه ولهٔ رف) د لهٰا نه ماخوذ دے په معنیٰ د حیران سره
اَلٰهٌ په اصل کښې وِلَاهٌ وو نو واو په همزے سره بدل کړے شو لکه چه وشاح
اشاح لوستلے شی څلورم د دے قول نسبت امام سیبویه ته کولے شی چه
اصل ئې لَاهَ (ض) یَلِیْهَا دے په معنیٰ د پټیدو سره لَاهَ رَبِّیْ عن الخلائق لمرا.
فهو الله یَریٰ ولا یُریٰ، ولهٰذا اللفظ خصائص فمن اراد الاطلاع علیها فعلیه فتح
الله بخصائص الاسم "الله" للشیخ البازی الروحانی رحمة الله، الرحمٰن الرحیم
دا دواړه د مبالغے صیغ دی (س) لیکن مبالغه په رحمٰن کښې په نسبت د رحیم
زیاته ده، ځکه چه کثرت د الفاظو دلالت کوی په کثرت د معانی باندے یقال
یارحمٰن الدنیا والاخرة ویارحیم الاخرة، وقال الضحاک الرحمٰن باهل السماء
والرحیم باهل الارض وقال عکرمه رحمة الله الرحمٰن برحمةٍ واحدةٍ
والرحیم بمائة رحمةٍ وقال ابن المبارک رحمه الله، الرحمٰن اذا سئل اعطی
والرحیم اذا لم یسئل یغضب وفی القرطبی الرحمٰن لمن آمن والرحیم لمن تاب
وفی التفسیر الکبیر الرحمٰن یخلق ما لا یقدر علیه العبد، والرحیم یخلق ما یقدر
العبد علیٰ جنسه وقیل الرحمٰن الرحیم انعام بعد انعام، نزهة المجالس ص ۲۵/۱
دریم من ثلاثة اسماء الغر سوال:- اسماء خو د الله تعالیٰ ډیر دی نو تخصیص ئې د د
دریو اسماؤ ولے او کړو، جواب دا دے چه درے طاق دی "او ان الله وتر یحب
الوتر" سوال یو او بنخه هم وتر دی نو د دریو انتخاب ولے شو اول جواب دا دے چه
خیر الامور اوسطها دویم نقل کفر کفر نباشد، کافرانو چه کله به یو کار شروع
کولو نو هغوئ به ویل بسم اللات والمناة والعزیٰ) نو الله تعالیٰ د دے په بدل
کښې مسلمانانو ته دا بسم الله الخ نعمت عظمیٰ نصیب کړو (والحمد لله علیٰ ذالک)
دریم جواب انسان د پاره درے ځایونه دی (۱) رحم (۲) دنیا (۳) عقبیٰ آخرت

Maktaba Tul Ishaat.com

نو په رنځونو کښې د انسان خالق الله دے او په دنيا کښې ئې رازق رحمٰن دے او په اخرت
کښې ئې بخښونکے رحیم دے (۴) لفظ جلال سره اشاره دے قول د الله تعالیٰ ته ده
الله ولی الذین آمنوا یخرجهم من الظلمٰت الی النور سورة بقرة آیت ۲۵۷ او په
لفظ د رحمٰن سره اشاره ده دے قول د الله تعالیٰ ان الذین آمنوا وعملوا الصّٰلحٰت
سیجعل لهم الرحمٰن ودّا۔ مریم ص ۹۶ او په لفظ د رحیم سره اشاره ده دے
قول د الله تعالیٰ ته وکان بالمؤمنین رحیما۔ پنځم جواب په نزهة المجالس
ص ۲۳ کښې ذکر دی چه خلق په درے قسمه دی (۱) ظالم (۲) مقتصد (۳) سابق
فالله للسابقین، والرحمٰن للمقتصدین، والرحیم للظٰلمین،

لطیفه ؛ بسم الله الرحمٰن الرحیم کښې معظم کلمات څلور دی ځکه چه گناهونه
څلور دی اول د شپې گناهونه دویم د ورځې گناهونه دریم پټ گناهونه
څلورم ښکاره گناهونه نو قالها کفر الله عنه الذنوب الاربعة،

## ( الفائدة المشتملة علٰی فضائل البسملة )

پوهه شه چه د بسم الله په فضیلتونو کښې ډیر احادیث او آثار وارد دی چه
تفصیل ئې د مولانا عبدالحی لکهنوی په رساله احکام القنطرة فی احکام البسملة
کښې موجود دی (۱) حافظ دیلمی رحمه الله په مسند الفردوس کښې او ابن عطیه
او قرطبی وغیره په طریقه دوکیع په واسطه د اعمش د ابی وائل نه د حضرت
عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت کړے دے قال من اراد ان ینجیه الله من
الزبانیة التسعة عشر فلیقرأ بسم الله الرحمٰن الرحیم د دے وجه دا ده چه د
بسم الله حرفونه (۱۹) دی او د دوزخ فرشتې هم (۱۹) دی کما قال تعالیٰ علیها
تسعة عشر المدثر ۳۰ " (۲) عبدالرزاق عبد بن حمید، ابن جریر، ابن المنذر،
ابن ابی حاتم د امام زهری نه د الله تعالیٰ د قول "والزمهم کلمة التقوی" په
تفسیر کښې روایت کړے دے چه د کلمة التقوی نه مراد بسم الله ده، (۳) حضرت
جنید رحمه الله فرمائی چه مراد د علم نه په دے قول د الله تعالیٰ کښې، ولقد آتینا
داؤد وسلیمان علما " بسم الله ده (۴) بعضو عالمانو لیکلی دی چه کله وخت
حضرت نوح علیه السلام په کشتۍ سور شو او د دوبیدو ویره ورسره شوه نو دا
الفاظ ئې اوویل "بسم الله مجریها ومرسٰها" پس د دے په برکت کشتۍ د غرقیدو
نه وژغورل شوه (بچ) نو په هر کله چه د دے کلمې په برکت هغوئی د غرقیدو
نه محفوظ شول نو کوم انسان چه ټول عمر کښې د هر کار په



شروع کښې لولی هغه به دے په برکت سره کله محروم کیدے (۵) صاحب د
نزهة المجالس لیکلی دی چه الله موسیٰ علیه السلام ته وحی ارشاد کړے وو چه
د نبی آخرالزمان محمد صلی الله علیه وسلم امت ته به درے نومونو سره
شرافت ورکړے شوے دے موسیٰ علیه السلام تپوس اوکړو چه اے ربه هغه نومونه
کوم دی الله اوفرمائیل بسم الله الرحمٰن الرحیم ، په دغه وخت کښې د موسیٰ علیه
السلام سره یو نابینا سړے ناست وو ده اوویل اے الله په حق د دے درے نومونو
سره څما نظر واپس کړے الله تعالیٰ فی الحال د ده نظر واپس کړو او روغ شو
شپږم امام فخرالدین رازی په خپل علمی تفسیر کښې ذکر کړیدی چه په شپه او
ورځ کښې څلور ویشت ساعتونه دی په کوم کښې چه پنځه ساعتونو کښې پنځه
مونځونه مقرر دی د باقی نولس ساعتونو د پاره د بسم الله نولس حرفونه دی په
دے ساعتونو کښې چه کوم گناهونه کیږی هغه به د دے په برکت سره بخښلے شی
تفسیر کبیر ص ۱۷۲ کښې ذکر دی چه عیسیٰ علیه السلام په یو قبر تیر شو نو د عذاب
فرشتې ئې ولیدی چه مړی ته ئې عذابونه ورکول عیسیٰ علیه السلام کله چه واپس
راتلو په قبر ئې د رحمت ملائک ولیدے پس د الله تعالیٰ نه ئې د دے معلومات
پاره سوال وکړو الله تعالیٰ ورته وحی نازل کړه چه دا سړے ډیر گنهگار وو چه مړ
کیده نو ښځه ئې حامله وه څو ورځې پس د اشو تربیت ئے ورکړو چه غټ شو نو استاذ
ته ئې حواله کړو نو هغه ورته د بسم الله الرحمٰن الرحیم تعلیم ورکړو نو ماشوم دا
کلمه زده کړه - فاستحییت من عبدی ان اعذبه بناری فی بطن الارض وولده یذکر
اسمی علی وجه الارض، وقد علمت بالفضیلة حکمة عدد حروف البسملة،

فائده ؛ بسم الله د دے امت د خصوصیاتو نه ده او که نه په دے کښې دوه
قوله دی بعض حضرات وائی: چه بسم الله د دے امت د خصوصیاتو نه ده چه په
نورو امتونو د دے نزول نه دے شوے دلیل ئې دا دے چه د بسم الله د نزول
نه مخکښې نبی علیه السلام باسمک اللهم لیکل کله چه " قل ادعوا الله او ادعوا الرحمٰن
نازل شو نو نبی علیه السلام د بسم الله لیکلو حکم اوکړو، او هر کله
چه د سورة نمل آیت نازل شو نو نبی علیه السلام د بسم الله پوره لیکلو حکم اوکړو او ځینې علماء
وائی چه دا کلمه د دے امت خصوصیت نه دے دلیل ئے د سلیمان علیه السلام
خط دے زده کړه دا خبره چه باء په بسم الله کښې حرف جر ده او دا په ډیرو
معانو کښې مستعمل دے دلته د استعانت د پاره ده کرمه چه په الله د فعل باندے

داخله وی اویا پاره د الصاق ده کومه چه په معانو د باءگانو کښې د ټولو نه مشهوره ده بلکه سیبویه ددې صرف دا یو معنیٰ بیان کړې او ویلی دی چه دا معنیٰ په هیڅ حالت کښې د حرف باء نه نه جدا کیږی، پس جار مجرور ته نحویان اطلاق د ظرف کوی او ظرف په دوه قسمه دے، اول ظرف لغو دوېم ظرف مستقر ددې په تعریفونو کښې مختلف اقوال دی اول د جمهورو دی چه ظرف لغو هغه ته وائي چه عامل ئې مذکور وی، او ظرف مستقر هغه ته وائي چه عامل ئې محذوف وی وهو الاصح دوېم د بعض حضرات دی چه ظرف لغو هغه ته وائي چه عامل ئې خاص وی او ظرف مستقر چه عامل ئې عام وی،
درېم بعض علماؤ ذکر کړیدی چه ظرف لغو هغه ته وائي، چه عامل ئې د ظرف نه دا سې خارج وی چه ددې ظرف نه دا سې مفهوم میږی برابره خبره ده چه ذکروی او که نه او مستقر چه مفهوم میږی ددې ظرف نه معنیٰ د عامل مقدر د افعال عامه نه، افعال عموم نو د ارباب عقول ؛ کون است وجود است ثبوت است وحصول است پس پوه شه چه متعلق ددې باء د بسم الله په مابین د بصریانو او د کوفیانو کښې درې اختلافات واقع شویدی اول اختلاف په ذات د متعلق کښې دوېم په صفت د متعلق کښې، درېم په مرتبه د متعلق کښې،

**توضیح المقام:** اول اختلاف چه دے دا په ذات د متعلق کښې دے په دې شان سره چه بصریان وائي چه متعلق فعل را ایستل اولیٰ دی ځکه چه متعلق عامل وی په متعلق کښې والاصل فی العمل الفعل» او ترتیب د تلاوة د قرآن کریم هم دلالت کوی چه متعلق فعل اولیٰ دے ځکه چه الله فرمائي ایَّاكَ نَعْبُدُ وایاكَ نستعین او تقدیر دا سې دے چه تولوا ایاك نَعْبُدُ الخ هٰکذا هٰهنا۔ او کوفیان وائي چه متعلق اسم را ویستل اولیٰ دی، ځکه چه جار مجرور خبر وی او اصل په خبر کښې افراد دی او دوېم اختلاف په صفت د متعلق کښې واقع شویدے پس بصریان وائي چه متعلق د فعل عام و نه ایستل اولیٰ دی د وجه د سهولت نه په هر انسان باندے، او کوفیان وائي چه متعلق د فعل خاص و نه مناسب دے د وجه د زیادت ارتباط نه هر عمل سره، درېم اختلاف په مرتبه د متعلق کښې دے پس بصریان وائي چه مؤخر په ایستلو شی ځکه چه تقدیم د ما یستحق التاخیر یفید الحصر د فی الروح ص۲۹ ج۱ وقد ذهب الکثیر الی ان تقدیر المتعلق هٰهنا مؤخرًا لان اسم الله تعالیٰ مقدمًا علی الفعل ذاتًا فلیقدم علی الفعل ذکرًا وفیه اشارة الی البرهان اللمی وهو اشرف من



البرهان الانی و لذا قال بعض العارفین ما رأیت شیئًا الا ورایت الله قبله، کذا فی التفسیر الکبیر او کوفیان حضرات وائي چه متعلق مقدم ایستل اولیٰ دی، ځکه چه متعلق عامل وی په متعلق کښې والاصل فی العامل التقدم،

اِنَّ اَبْهٰی دُرَرٍ تُنْظَمُ بِبَنَانِ الْبَیَانِ وَ اَزْهَرَ زُهْرٍ تُنْثَرُ فِیْ اَرْدَانِ الْاَذْهَانِ

**ترجمه:-** بے شکه خائسته قیمتی ملغلرے چه په بندونو د بیان د وضاحت کښې پیلے شی، او ځلیدونکی "دولی" ګلونه چه د ذهنونو (عقلونو) په لستونړو کښې شیندلے شی،

**توضیح اللغات:-** اول اَبْهٰی: صیغه د واحد مذکر اسم تفضیل ده. د بَهَا یَبْهُوْا (ن)، نه په معنیٰ د بنائسته (ډولی) یا قیمتی، دوېم دُرَرٌ جمع د دُرَّةٌ ده هغه ملغلرے چه لوئے او صفا ستره وی، او دُرٌّ (مجرد عن التاء) نه جمع ده او نه اسم جمع ده بلکه اسم جنس دے چه اطلاق ئې په قلیل او کثیر دواړو کیږی او جمع نه کیدل خو واضح دی او اسم جمع ځکه نه شی کیدے چه د اسم جمع اطلاق په کثیرینو باندے نه کیږی بلکه د اعتبار د وصف دار صافونه درېم تُنْظَمُ، صیغه د واحد مؤنث فعل مضارع مجهول ده د نظم ینظم (ض) په معنیٰ د ملغلرے پیلل (جمع اللؤلؤ فی السلك) او که یُنْظَمُ شی نو دا به صفت د ابهیٰ شی، څلورم بنان جمع د بنانة ده په معنیٰ د سرونو د بندونو د ګوتو سره پنځم البیان دا صیغه د مصدر ده د بَانَ یبین بیانًا (ض)، نه په معنیٰ د ظهور، وضاحت او فصاحت سره، او په اصطلاح کښې د بیان دوه تعریفونه شوی دی (۱) ما تبیّن به الشیئ من الدلالة والفصاحة، دوېم المنطق الفصیح المعبّر عمّا فی الضمیر، "المنجد" او ددې نه دا قول د نبی علیه السلام دے اِنَّ مِنَ الْبَیَانِ لَسِحْرًا شپږم: اَزْهَرَ:- دا صیغه د واحد مذکر اسم تفضیل ده د زَهَرَ یَزْهَرُ زُهُوْرًا (ف، س) نه په معنیٰ د پړقیدلو او خالص صفا رنګ "کل لون ابیض صاف، مشرق" او د لته په بعضو نسخو کښې د ازهر په ځائے ازهیٰ دے نو اَزْهٰی هم صیغه د واحد مذکر اسم تفضیل ده د زهیٰ یزهو (ن) نه په معنیٰ د صفا رنګ او ځلیدلو او ددې نه دا روایت د ابن عمر رضی الله عنه دے اَنَّ رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن بیع النخل حتّٰی تَزْهُوَ، کذا فی معجم الوسیط) اوم زَهَرٌ بفتح الزاء اسم جنس دے په معنیٰ د ګلونو ګلاب سره او که زُهَرٌ شی نو بیا په معنیٰ د سپین و الی سره راځی، والمشهور هو الاول اتم تُنْثَرُ صیغه واحده مؤنثه غائبه ده، د نَثَرَ یَنْثُرُ (ن) نه شیندل د ملغلرو او دا

Maktaba Tul Ishaat.com

ضد د نظم دے، نهم اَرْذَان جمع د رُذْن دے، لستونړے لسم اَذْهَان جمع
د ذهن ده (و قد مرّ معناه) او دلته مراد ترے نه عقل دے،

**تشریح** | سوال: کلام د عربو خالی دے د حشو او تطویل نه، خبره به د مقتضی الحال مناسب کولے شی، خالی الذهن ته به زیدٌ قائمٌ ویلے شی او متردد ته به انّ زیداً قائمٌ ویلے شی، او منکر ته انّ زیداً لقائمٌ ویلے شی، او که انکار د جحد درجے ته رسیدلے وی، والله انّ زیداً لقائمٌ ویلے شی نو انّ به په مقام د تردد او انکار کښې راوړلے شی، او دلته تردد او انکار نشته نو ان راوړل مناسب نهٔ شو، جواب اوّل د دے مسئله دا دے چه انکار او تردّد عام دے، حقیقی وی او که تنزیلی وی یعنے مخاطب په منزله د متردد یا منکر اوګرځولے شی، دویم انّ لکه څنګه چه په مقام د تردّد او انکار کښې راوړلے شی دغه شان په مقام د ترغیب کښې هم راوړلے شی، لکه الله پاک فرمائی انّ الذین اٰمنوا وعملوا الصّٰلحٰت کانت لهم جنّٰتُ الفِردوس نُزُلاً، الکهف آیت او په مقام د ترهیب کښې هم راځی لکه د اقول د الله تعالیٰ، انّ بطشَ ربّک لشدیدٌ، البروج او په مقام د تحقیق کښې هم راځی لکه د اقول د الله تعالیٰ انّا اعطینٰک الکوثر، نو دلته انّ تحقیق یا ترغیب د پاره دے

**تمهید** :- د قطبی او رسالهٔ شمسیه (یعنے متن او شرح) په خطبو کښې لکه د اکثرو نورو کتابونو په شان په کثرت سره استعارات موجود دی نو د استعاراتو د بحث نه بغیر په خطبو د دے کتابونو باندے پوهیدل او پوهول لکه لوړ په لوړ ته تیرول دی نو د استعاراتو بحث ضروری دے،

## (البشارة فی توضیح الاستعارة)

په دے مقام کښې لابُدی ده د معرفت د لسو امورو نه اوّل صیغه د استعارهٔ دوئم وزن دریم باب څلورم معنے لغوی پنځم معنیٰ اصطلاحی شپږم مناسبت بین المعنیین اووم فرق په مینځ د مجاز او استعاره کښې اتم ارکان د استعاره کښې نهم اقسام د استعارے نهم وجه د حصر لسم مثالونه،

**تفصیل المقام** :- استعاره صیغه د مصدر ده. د باب استفعال نه چه په اصل کښې په نزد د جمهورو اِسْتِعْوَارًا په وزن د استفعال وو حرکت د واو ما قبل "عین" ته نقل شو، هله واو چه په اصل کښې متحرک وو او س ما قبل مفتوح شو نو بدل شو په الف سره او دوه الف د التقائے ساکنین د وجے نه حذف شو او بیا په عوض د دے کښې په آخر کښې موتا راوړه نو استعارة شوه، استعارة په لغت کښې



طلب الشیءِ عاریةً (په سوال یو شی غوښتلو ته وائی) او په اصطلاح کښې تشبیه شیءٍ بشیءٍ بدون ذکر حرف التشبیه، او علامه تفتازانی رحمهٔ الله په مختصر المعانی ص۳۰۷ کښې د استعارے معنیٰ کړیده هیَ اللفظُ المستعمل فیما شُبّه بمعناه الاصلی لعلاقة المشابهة، او صاحب د معجمُ الوسیط دا لا بهترین تعریف کړیدے، استعمال کلمةٍ بدل اُخری لعلاقة المشابهة مع القرینة الدّالة علیٰ هٰذا الاستعمال، او مناسبت بین المعنیین (لغوی اصطلاح) عموم خصوص مطلق دے چه معنے لغوی ئے اعم مطلق دے او معنے اصطلاحی ئے اخص مطلق دے او په مابین د استعاره او د مجاز د فرق په باره کښې دوه مسلکه دی، اوّل مسلک د اصولیانو، اصولیان وائی چه د استعاره او مجاز تر مینځ ترادف دے، او اهل بیان وائی چه استعاره یو قسم د مجاز دے، څکه چه په مجاز کښې علاقه د تشبیه وی نو مجاز استعاره ورته ویلے شی او که علاقه په کښې د تشبیه نهٔ وی بلکه د څلور ویشتو علاقو نه یوه علاقه وی، نو مجاز مرسل ورته وائی، (وللتفصیل مقام آخر)

ارکان د تشبیه څلور دی اوّل مشبه دوئم مشبه به دریم وجه التشبیه (شبه) څلورم آدات (حروف) التشبیه، پس په زید کالاسد کښې زیدٌ مشبّه ده او اسدٌ مشبّه به دے او شجاعت په کښې وجه التشبیه، او کاف په کښې حرف التشبیه ده، او استعاره په څلور قسمه ده، اوّل حقیقیه، مصرّحه تصریحیه دوئم مکنیه او کنایه دریم تخیلیه څلورم ترشیحیه مرشّحه، وجه د حصر په څلورو کښې دا ده: چه په استعاره کښې یو طرف ذکر وی او بل طرف ئے متروک وی، نو که طرف مذکور مشبّه وی نو استعارهٔ مکنیه شوه، او که طرف مذکور مشبه به وی نو استعارهٔ تصریحیه شوه یا به دا خالی نه وی یا به لوازم د مشبّه به رمذکور ثابت کړے مشبه (متروک ته او یا به مناسبات د مشبّه به ثابت کړی مشبه ته، اوله استعاره تخیلیه شوه، او دویمه استعارهٔ ترشیحیه شوه و هٰهنا کلامٌ لا یسعها المقام، مثال د استعارے تصریحیه لکه رأیت اَسَدًا یتکلّمُ نو په دے مثال کښې اسد مشبّه به دے چه مذکور دے او زید مشبّه دے چه متروک دے، او په کلام کښې هم دغه زید مراد دے- او باقی د دے دوارو مثالونه په دے شعر کښې ملاویدے شی، شعر

وَاِذَا الْمَنِیَّةُ اَنْشَبَتْ اَظْفَارَهَا ۞ اَلْفَیْتَ کُلَّ تَمِیْمَةٍ لَمْ یَنْفَعُ -

یعنے هر کله چه مرګ منګولے ښخ کړے نو بیا به مومی چه هر قسم تعویذ "دم"

کښ د ديواره مثالونه په فائده او نهٔ رسوی، پس د دے شعر به اوله کړے ... موجود ديد يې په دے شان سره چه د (منيه) يعنی د موت مشبه به متوطن دے (چه حيوان مفترس دے) نو دا استعارهٔ مکنيه شوه او اظفار لازم دی د حيوان مفترس سره موښ ثابت کړل مشبه (منيه) ته دا استعارهٔ تخيليه شوه، او انشاب (منګول) مناسب دی د حيوان مفترس سره، موښ ثابت کړو مشبه (منيه) ته دا استعاره ترشيحيه شوه، ۱

پس دا معلومه شوه چه استعاره تصريحيه دے ته وائی چه د تشبيه د يو شی ده ديل شی سره چه په کلام کښ مشبه به ذکر وی او مشبه متروک وی ليکن مراد مشبه وی، او مکنيه دے ته وائی چه تشبيه د يو شی ده د بل څيز سره چه په کلام کښ مشبه ذکر وی او مشبه به متروک وی، او مراد په دے کلام کښ هم مشبه وی، او تخيليه دے ته وائی چه يو لازم د لوازمو د مشبه به ثابت کړے مشبه ته، او ترشيحيه دے ته وائی چه يو مناسب د مناسباتو د مشبه به ثابت کړے مشبه ته او مثالونه د ئ ته په دے نظم کښ واضح شول

استعارات[12] پس په دے مذکوره عبارت کښ يو څو يعنی دولس استعارات دی لکه تنظم بنان البنانکين بنان د مشبه دے کوم چه مذکور دے او يد مشبه دے کوم چه متروک دے نو دا استعاره مکنيه شوه، او وجه د تشبيه په کښ داده چه لکه څنګه بيان نه ويرے تا مُدے حاصليږی د غه شان په لاس سره هم ښه کار ونه کولے شی، او بنان (بندونه) د لاس ګوتو سره لازم دی دا بيان (مشبه) ته ثابت کړے شو نو دا استعارهٔ تخيليه شوه او نظم (پيلل) د لاس سره مناسب دی کوم چه ثابت کړے شو بيان (مشبه) ته نو دا استعاره ترشيحيه شوه، او همدغه شان په " تَنْثُرُ فِیْ اَرْدَانِ الْاَذْهَانِ " اذهان مشبه دے کوم چه متروک دے، څکه چه د ذهن د پاره لستونړے نهٔ وی نو دا استعارهٔ مکنيه شوه او اَرْدَان (لستونړے) ثياب (جامو) سره لازم وی کوم چه ثابت کړے شو اذهان (مشبه) ته نو دا استعاره تخيليه شوه او " تَنْثُرُ " مناسب دے د ثياب سره نو دا استعارهٔ ترشيحيه شوله او ذکر د " دُرَر " کوم چه مشبه به دے او مذکوره دے مراد ترے نه کلمات دی کوم مشبه (متروک) دے نو دا استعارهٔ تصريحيه شوه، او اثبات د اُبْهَی کلماتو (مشبه) له کوم چه لازم دے د " دُرَر " سره دا استعارهٔ تخيليه شوه او اثبات د نظم کوم



چه مناسب دے د " دُرَر " سره کلماتو ته دا استعارهٔ ترشيحيه شوه، او ذکر د زُهَر کوم چه مشبه به مذکور دے او مراد ترے نه صور علميه کوم چه متروک دے نو دا استعارهٔ تصريحيه شوه، او اثبات د ازهر (ږوبلو) کوم چه لازم دے د زهر سره صُوَرِ علميه ته نو دا استعارهٔ تخيليه شوه او اثبات د نَثْر (شيندل) کوم چه مناسب دی د زهر سره صور علميو ته استعارهٔ ترشيحيه شوه،

پس مقصد د دې و مبنیٰ فقرے دا شو چه اِنَّ اَنْضَلَ كَلِمَاتٍ يَتَبَيَّنُ هُوَ حَمْدُ اللهِ تَعَالىٰ، يعنی د ټولونه غوره کلمے چه په هغے سره اظهار کيږی، هغه حمد د الله تعالیٰ دے، او مقصد د دويم فقرے دا شو چه اَنَّ اَحْسَنَ صُوَرٍ تُدْرَكُ هُوَ شُكْرُ لِلّٰهِ تَعَالىٰ دے يعنی ټولونه غوره او بهتر صورتونه چه ادراك ئے کيږی هغه شکر د الله تعالیٰ دے، والحمد لله علیٰ كل حال،

حَمْدُ مُبْدِعٍ اَنْطَقَ الْمَوْجُوْدَاتِ بِاٰيَاتِ وُجُوْبِ وُجُوْدِهٖ وَ شُكْرُ مُنْعِمٍ اَغْرَقَ الْمَخْلُوْقَاتِ فِیْ بِحَارِ اِفْضَالِهٖ وَجُوْدِهٖ

ترجمه:- ثنا صفت د داسے بے نمونے پيدا کوونکی لره دے چه موجودات ئے د خپل واجب الوجود کيدو د پاره په علامو (نخو) سره ګويا کړی دی او شکر د داسے انعام (احسان کوونکی) لره دے چه ټول مخلوقات (کائنات) ئے په دريابونو د احسانونو او سخا کښ ئے ډوب کړی دی،

توضيح اللغات[13]:- اول حمد دا د مصدر صيغه ده د (سمع) باب نه په لغت کښ ثنا او صفت بيانولو ته وائی، او په اصطلاح کښ هو الثناء باللسان على الجميل الاختياری على جهة التعظيم سواء تعلق بالنعمة او لا،

### (فلق الصبح في الفروق[8] بين الحمد والمدح)

اول د کلام د علامه زمخشری په کشاف او فائق کښ ترادف معلوميږی د دواړو، مدح عموماً په غير اختياری وصف باندے اطلاق کيږی يقال مدحت اللؤلؤ على صفائها ويطلے شی آو حمدتُ اللؤلؤ نه شی ويلے وب: قال الجمهور دا تيم حمد کښ اختياری قيد ملحوظ دے، او مدح عام ده، و هو رواية عن الجمهور ځلورم حمد په وصف يقينی باندے اطلاق کيږی، او مدح په وصف يقينی او ظنی دواړو باندے اطلاق کيږی، پنځم، حمد عبارت دے د اخبار د محاسن د غير سره د محبت نه او د مدح اطلاق صرف په اخبار د محاسنُ د غير باندے کيږی، شپږم حمد شرعًا مامور به دے فی الانی

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ لَمْ یَحْمِدِ النَّاسَ لَمْ یَحْمِدِ اللّٰهَ او مدح غیر ماموربه دے، بلکه حضرت
عمر رضی الله فرمائی، احثوا فی وجوهِ المداحِین التُّرَاب، اووم مدح د احسان
کوَلو نه ړوستو او مخکښ دواړو باندے اطلاق کیږی، او د حمد غالبًا پس د احسان
کوَلو نه کوَلے شی پس نسبت په مابین د حمد او مدح کښ عموم خصوص مطلق
دے او دا په اول موځ سره معلومیږی اتّم د مدح اطلاق په وصف د ذی
روح باندے هم کیږی او په غیر ذی روح باندے هم کیږی یعنی په دواړو باندے کیږی
او حمد خاص دے په ذی روح پورے،
پس زده کړه دا خبره، چه مذکوره الذکر تعریف د حمد باندے اعتراض وارد دی
خلاصه د اعتراض دا ده چه تعریف کښ باللسان لفظ مستدرك او بے فائدے دے
ځکه چه ثنا په خپله عبارت دے د دینه، نه چه الثناء هو ذکر الخیر باللسان،
اول جواب دا دے: چه د التصریح بما علم ضمنًا دے وذا شائعٌ فی کلام العرب،
دویم جواب دا دے: ذکر د لسان پس د لفظ د ثنا نه بناء دے په تجرید باندے (وهو
جذف اللّفظ عن بعض المعنٰی) او په دے تعریف باندے بل اعتراض وارد دیږی، چه تعریف
د حمد جامع نشو افراد و خپلو افرادو ځکه چه حمد د باری تعالیٰ په نفس خپل باندے
ترے خارج شو ځکه چه الله ته نسبت د لسان نشی کیدے، اول جواب دا دے چه
الله تعالیٰ په خپل ځان باندے حمد او ثناء وائی، کما یلیق بشانه تعالیٰ او دا په اُلسِنَو
په تعبیر د کاتبانو باندے (و هٰهُنَا کلام و یاباه المقام) دوئیم مُبْدِع دا صیغه
د واحد مذکر اسم فاعل ده، د باب افعال نه ابداع په لغت کښ ایجاد الشئ من
غیر مثالٍ سابقٍ علیه (یعنی بے نمونه نه څیز پیدا کوَل) او په اصطلاح کښ ایجاد الشئ
بغیر مادة (آلة) سواء کانَ علٰی مثالٍ سابقٍ او لا یعنی بے د مادے او توسط د آلاتو
نه څیز پیدا کوَل، خواه که مخکښے نمونه وی لکه عام انسان، او که نمونه (ماځه)
نه وی لکه ایجاد د عقل اول شو په نزد د فلاسفو باندے، ددریم اَنْطَقَ: صیغه د
واحد مذکر غائب ماضی معلوم ده، د باب افعال نه په معنیٰ د گویا کوَلو او په خاصیت
د باب افعال صیرورت دے، نو معنیٰ شوه جعل الشئ ذا نطق، نطق په دوه قسمه دے
یو مجازی او دوئم حقیقی، نطق مجازی دا عبارت دے د لسانُ الحال نه، او لسانُ
الحال عبارت دے د دلالت نه، او نطق حقیقی عبارت دے د لسان القال نه دا یا په
دوه قسمه دے یو نطق حقیقی ظاهری، لکه په ژبه خبرے اترے کوَل، دوئیم
نطق حقیقی باطنی، لکه ادراك د معقولاتو شو، خلور م موجودات: دا جمع د موجود



ده او دا مشتق د وجود نه دے او وجود په درے قسمه دے اول نفس الامری:
چه موجود فی حدّ ذاته او منشأ صحیح به ورله خارج وی او تابع نه وی د اعتبار
د معتبر دوئیم وجود خارجی چه مشاعرو نه خارج وی، دریم وجود ذهنی
چه داخل وی په مشاعرو کښ، دلته مراد د موجوداتو نه ټول حیوانات، نباتات
جمادات او مائعات دی، ځکه چه موجودین د الله تعالیٰ ثنا وائی په لسانِ قال او په لسانِ
حال سره، قال تعالیٰ: وَإِنْ مِّنْ شَیْءٍ إِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰکِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِیْحَهُمْ الاسراء ۴۴
پنځم آیات: جمع د آیَة ده په معنیٰ د علامے سره، قال تعالیٰ إِنَّ آیَةَ مُلْکِهٖ أَنْ یَّأْتِیَکُمُ
التَّابُوْتُ البقرة ۲۴۸، او په اصطلاح کښ آیت عبارت دے د طائفة مِّن کَلِمَاتِ القرآن
متمیّزةٌ بفصلٍ وانّها کلمةٌ واحدةٌ، (والتفصیل فی الروح) شپږم وجود دا ضد
د عدم دے (ض) باب نه په معنیٰ د ادراك سره، پس وجود په درے قسمه دے
اول واجبُ الوجود، چه وجود ئے ضروری وی لکه وجود د باری تعالیٰ شو، دوئیم
ممکن الوجود، چه وجود او عدم ئے علی السویه وی، لکه وجود د انسان شو، دریم
ممتنع الوجود: چه وجود ئے نشی کیدے لکه وجود د شریك الباری، اووم
شکر: صیغه د مصدر ده د (ن) باب نه، شکر په لغت کښ تعظیم المنعم لکونه
منعمًا سواءٌ کانَ باللسانِ او بالجنانِ او بالارکانِ ته وائی، او په اصطلاح کښ
صرف العبدِ جمیع مَا انْعَمَهُ اللّٰهُ تعالیٰ الیٰ مَا خَلَقَ لِاَجْلِهٖ ته وائی، او المراد هٰهنا اللغوی

## (حل العقد فی الفرق بین الشکر والحمد)

مورد د حمد خاص دے چه لسان دے او متعلق ئے عام دے، چه په مقابل د نعمت
کښ وی او که نه، او مورد د شکر عام دے چه که په ژبه سره وی او که په زړه
سره وی او که په عاموانداموبو سره وی، ←
← افادتکم النعماء منی ثلاثة ÷ یدی ولسانی والضمیر المحجبا،
او متعلق ئے خاص دے، چه په مقابله د نعمت کښ وی نو نسبت په مابین د حمد
او شکر کښ عموم خصوص من وجه شو، په دے شان سره چه که تعریف په مقابله
د نعمت کښ په ژبه وی، نو حمد او شکر دواړه شو، او که بغیر د نعمت نه وی نو
حمد شو فقط او که په مقابله د نعمت کښ بغیر د ژبے وی نو شکر فقط شو، و به
قال الجمهور، دوئیم د حمد اطلاق په عام طور په وصف قولی باندے
کیږی، او د شکر اطلاق په وصف قولی باندے کیږی دریم د حمد نه مراد باطنی
نعمتونه دی او د شکر نه مراد ظاهری نعمتونه دی (کذا فی الروح) او څلورم وقیل

بَيْنَهُمَا ترادف، اشــم مُنْعِمْ صیغه واحد مذکر اسم فاعل دہ، د باب افعال نه ۹ نهــم آَغْرَقَ :- صیغه واحد مذکر غایب په معنی د انعام کولو (نعمت ورکول) لــثم مَخْلُوْقَاتَ، د اجمع د فعل ماضی معلوم د باب افعال نه دہ، آغرق، ډوبول، د بحار جمع د بحر ده په معنی د سمندر، مراد ترے نه ټول کائنات دی یوولــثم : بحار جمع د بحر ده په معنی د مخلوق ده مراد ترے نه ټول کائنات دی، چه جمع د فضل در باب سره دولــثم افضال :- دا یا خو په فتح د همزے سره دے، چه جمع د فضل ده په معنی د احسان سره، او یا په کسرے د همزے سره چه مصدر د باب افعال دے هم په معنی د احسان سره دیارلــثم، جُوْد :- په لغت کښ مطلق اکرام (سخاوت) ته وائی، او په اصطلاح کښ نے دوه تعریفونه شوی دی اوّل افادة ما ینبغی لمن ینبغی لا لغرضٍ ولا لِعِلَّةٍ دوېــم مبدأ افادة ما ینبغی لِمَنْ ینبغی لا لغرضٍ لا لعلّةٍ - او مراد د مبدأ نه قدرت او اراده ده نو معنی اصطلاحی د جود مختص ده د الله تعالی پورے، غیر الله په معنی لغوی سره متصف کیدی شی لکه حاتم طائی په جود (لغوی) سره متصف کیږی،

**تشریح :-** قوله حمد مبدع الخ د امرفوع حُکم دے چه دا خبر د اِنَّ دے او تقدیم د مسند الیه د پاره د شوق د ذکر د خبر د پاره دے چه په ذهن کښ په بنه طریقه سره ځائے ونیسی، سوال، شوق د ذکر د خبر په دے طریقه هم کیدے شی چه حمد مبدع الخ اسم د اِنَّ شی او اَبْهٰی د رَدِّ الخ خبر مقدم د اِنَّ شی او دا حُکه چه مقصود (هم حمد دے او هر هغه خبز چه مقصود اهم وی هغه اولیٰ بالتقدّم وی، نو ښکاره دا ده چه حمد مبدع ئے مقدّم کړے وے، جواب، دا نشی کیدے حُکه چه غرض دا چه لفظ د حمد نکره ته مضاف دے کوم چه په جملهٔ فعلیه سره تخصیص شوے دے دغه شان اَبهٰی د رَدِ تنظّمُ الخ اسم تفضیل نکره ته مضاف دے چه په جملے فعلے سره ئے تخصیص شوے دے، نو دواړه په تخصیص کښ برابر شو ی او د اخبره ځل ځائے کښ ثابته ده، چه په دا سے صورت کښ مسند الیه د پاره هغه متعین دے چه په کلام کښ مقدّم وی او په کلام کښ دلته ابهٰی مقدّم دے، قوله بلٰت الخ با حرف جر د پاره د تعریف ده په معنی د علی سره نو متعلق په او صدرك ایات شو نو عبارت دا سے شو، جعل الله تلك الموجودات دالةً علٰی وجوب وجوده باشتمالها علی الحدوث او امکانها، او هُمَا مَعًا، او با حرف جر د پاره د سببیت هم کیدے او مراد د آیات نه نفس حدوث او امکان دے نو معنی به ئے دا سے شی جعل الله الموجودات دالةً علٰی وجوب وجوده بسبب الآیات



(الحدوث والامکان)

**لطافت :-** شارح رحمه الله مبدع حمد سره، او منعم شکر سره ذکر کړو په دیکښ باریک اشاره ده چه په مفهوم د مبدع کښ د صفت اعتبار نه وی نو د اډ ذکر کړو، او په مفهوم د منعم کښ د صفت اعتبار وی نو د اډ شکر سره ذکر کړو د پاره د رعایت او موافقت (الموافقة خیرٌ من المخالفة ، او هــــم د غه شان په لفظ د مبدع د ماتن اِتباع کړ یده ، حیث قال، الحمد لله الذی ابدع نظام الوجود الخ قوله شکر منعم الخ په دے مقام کښ خلور الفاظ پیژندل ضروری دی اوّل منعم دو یــم انعام دریــم منعم به څلورم منعم علیه، نو د انعام معنی نعمت ورکول، لکه او لاد ورکول مثلاً ، او منعم، انعام ورکوونکے، او لاد ورکوونکے او منعم به د غه ولدش، او منعم علیه والدش، سوال اخه وجه ده چه شارح رحمهٔ الله منعم ذکر کړو او نور د یے وا په ئے ذکر نکړل، جواب ، منعم مشتق دے، او ذکر د مشتق مستلزم دے ذکر د مبدأ لره، نو انعام ئے حُکه ذکر نه کړو او مقصود په دے مقام کښ ذکر د صفات د باری تعالیٰ دے نو منعم علیه او به ئے حُکه ذکر نکړل د دریم جواب دا دے، چه شارح ذکر د منعم اوکړو، نه د منعم به او علیه، حُکه چه منعم به او علیه غیر محصور او هم ډیر دی، قال الله تعالیٰ وَاِنْ تَعُدُّوْا نعمة الله لا تُحْصُوْهَا، دریم جواب: دا دے چه منعم به او علیه ظاهر دی، ذکر کولو ته حاجت نشته لکه چه راوستو به اشاره ورته او شی،

سوال :- مقصود په دے مقام کښ حمد او شکر د الله تعالیٰ دے دا په عنوان د اسم صفتی کښ اوکړو نه عنوان د علمی کښ او بیا عنوان د نکره د ولے غوره کړو،

جواب :- په دے کښ اشاره ده چه محمود (الله تعالیٰ) په دے ځائے کښ دا سے ذات دے چه هغه په مفهومیة او تعین کښ محتاج نهٔ دے اسم علم او وصف معروفه ته، کله چه دا صفات ذکر شی نو فوری ذهن ته دا راځی چه دا صفات د رب الله تعالیٰ دی، سه وفی کلِّ شیئٍ لَهٗ آیَـةٌ ÷ تَدُلُّ علٰی اَنَّهٗ وَاحِدٌ ،

**استعارات :-** په فی بحار افضاله وجوده کښ افضال او جود، مشبّه دی او مائع مشبّه به دے، چه متروك دے نو دا استعارهٔ مکنیه شوه، او ذکر د مشبّه (بحار) مراد ترے نه مشبه به دے - رفیضه ، نمتوله) دا استعارهٔ تصریحیه شوه او بحار (دریا بے) لازم دے د او بوسره چه ثابت کړے شوید ے افضال او جود ته دا استعارهٔ تخییلیه شو او اغراق مناسب دے د او بوسره چه ثابت کړے شو افضال او جود ته نو دا استعارهٔ ترشیحیه شوه،

Maktaba Tul Ishaat.com

تَلَأْلَأَ فِي ظُلَمِ اللَّيَالِيْ اَنْوَارُ حِكَمِهِ الْبَاهِرَةِ وَاسْتَنَارَ عَلٰى صَفَحَاتِ الْاَيَّامِ آثَارُ سَلْطَنَتِهِ الْقَاهِرَةِ:

**ترجمه:** - چه پرتیږي (ځلیږي) په تیارو شپو کښې رڼا ګانې د ښکاره حکمتونو د هغه، او رڼا شویدي په طرفونو (مخونو) د ورځو باندې نخې د غالب (زورور) بادشاهۍ د هغه۔

**توضیح اللغات**[1]: - تَلَأْلَأَ: - صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم بحث ثلاثي مزید فیه رباعي مضاعف د باب تفعلل دے. عرب وائي تَلَأْلَأَ النَّجْمُ او البرقُ او پرتید، ستوری یا بریښنا، دویم ظُلَم: - جمع د ظُلْمَة ده د (س) نه په معنی د تیاره سره، ذَهابُ النور. قال تعالى: وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا. دریم لیالي: جمع د لیل ده په معنی د شپې (۴) انوار: جمع د نور ده نور په لغت کښې رڼا ته وائي، او په اصطلاح کښې (۱) کَیْفِیَّةٌ تُدْرِکُهَا الْبَاصِرَةُ اَوَّلًا وَبِوَاسِطَتِهَا سَائِرُ الْمُبْصَرَاتِ، (۲) کَیْفِیَّةٌ ظَاهِرَةٌ لِنَفْسِهَا مُظْهِرَةٌ لِغَیْرِهَا، خواه که بلا واسطه وي لکه نور الشمس او که بالواسطه وي، لکه نور القمر. ځکه چه نور د قمر مستفاد ده د نور د شمس نه، قال تعالى: هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِیَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا، پنځم حکمت: صیغه د مصدر ده د حَکَمَ یَحْکُمُ (ك) نه په لغت کښې مضبوطیا ته وائي (۱) صواب الامور وسداده، (۲) عدل (۳) علم (۴) الکلامُ الموافقُ للحقِ وغیر ذالك من الاقاویل، شپږم الباهِرَةِ: - صیغه د واحده مؤنثه اسم فاعل ده د بَهَرَ یَبْهَرُ (ف) نه په معنی د غالب کیدو سره، عرب وائي بَهَرَ القمرُ اى غَلَبَ ضوءُهُ ضوءَ الکواکبِ وبَهَرَتْ فلانةُ النساءَ اى غَلَبَتْهُنَّ، اووم اِسْتَنَارَ: صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم ده د باب استفعال نه عرب وائي استنار البیتُ، روښانه شو کور او اِسْتَنَارَ کښې سین او تا زائد دي یعنې باب استفعال په معنی د باب افعال سره دے اتم صفحات، جمع د صَفْحَةٌ په معنی د جانب مخ سره یقال صفحة الکتاب اى الوجه من الورق نهم ایام: جمع د یوم ده، یوم لدوه معنو د پاره راځي (۱) بیاض النهار اى الوقت من طلوع الفجر الى غروب الشمس، (۲) مطلق وقت: لسم آثار جمع د اثر ده په معنی د نخو سره، یقال آثار الاقدام تدل على السیر یولسم سلطنت، بادشاهي دولسم القاهرة: صیغه د واحد مؤنث اسم فاعل ده د قَهَرَ یَقْهَرُ د (ف) باب نه په معنی د غالب او زورور سره،

**تشریح:** - قوله ظُلَمُ اللَّيَالِيْ الخ اضافت د ظلم لیالي ته یا اضافت لامي دے



یعنې د شپو تیاره، او یا دا اضافت د قبیلې د اضافة الصفة الى الموصوف نه دے، لکه جردُ قطیفةٍ نو اصل عبارت دا دے شو تَلَأْلَأَ فِي اللَّيَالِي الْمُظْلِمَة، پس زده کړه خبره چه په دې مقام کښې څلور احتماله دي (۱) مراد په ظُلَمُ اللَّيَالِيْ سره بطون المخلوقات دي او په انوار سره انعامات دي نو معنی دا شوه چه قد ظهر في بطون المخلوقات انعامات فعلِهِ وقولِهِ وعلمِهِ على قدر مراتبهم، (۲) ظُلَمُ اللَّيَالِيْ) او انوار نه مراد څپل معاني دي او د حکمت نه مراد نجوم دي د قبیلې د ذکر د سبب او مراد ورانه مسبب نو معنی دا شوه چه روښانه شویدي په شپه تیاره کښې انوار (رڼا ګانې) د ستورو (۳) مراد په لیالي سره جهالت دے او په ظلم سره کدورات د جهل دي او په حکمت سره علم دے. او د انوار نه مراد انوار (رڼا) د علم ده نو معنی دا شوه چه قد ظهرت في کدوراتِ الجهلِ انوارُ علمهِ الغالبِ، (۴) مراد په ظلم اللیالي سره وعاء الواقع چه منظوم دي په کښې اشیاء ممکنې د وجود د وړلو نه او اضافت د انوار حکمت ته د قبیلې د اضافت د مسبب دے سبب ته، او مراد په انوار سره وجودات دي نو معنی دا شوه چه یقینًا ښکاره او واضح شویدي په کوره د واقع کښې وجودات سره خیزونو سبب د غالب او چت حکمت د ده پس د هغه نه چه هغه اشیاء معلوم وي سوال، اغراق المخلوقات في بحار انضاله وجوده، جمله ده او تَلَأْلَأَ فِي ظُلَمِ اللَّيَالِيْ هم جمله ده او قانون دا دے چه جملتین متناسقتین راشي نو په منځ کښې لا بدي ده د فاء عاطفه نه او دلته فاء عاطفه نشته، ددے نه دوه جوابه دي اول جواب دا دے چه دا بیان د پاره د منعم دے او اغراق المخلوقات هم بیان د پاره د منعم وو چه مربوط وو د منعم سره نو دا هم مربوط شو د منعم سره، دویم جواب شارح ځکښې بیان د منعم کړے وو او د منعم به او علیه ذکر نه وو کړے نو دا هغې د پاره علت شو یعنې منعم به او علیه ظاهر دي بیان ته محتاج نه دي،

**استعارات**[1]: - ذکر د مشبه چه حکمت دے او مراد ترینه مشبه به چه شمس او قمر او نجوم دي نو دا استعارة مکنیه شوه او نور د هر واحد د دے سره لازم دے چه ثابت کړے شو حکمت ته نو دا استعارة تخییلیه شوه او که انوار نه مراد نورے معاني شو نو دا استعارة تصریحیه ګرځي که تَلَأْلَأَ د نور سره لازم شي نو دا هم استعارة تخییلیه شوه او مناسب د نور شي نو استعاره تصریحیه ګرځي هم د غه شان په واستنار على صفحات الایام آثار سلطنة القاهرة، کښې تشبیه

دایام ئے اوکړه هغه غیز سره چه د هغې دپاره ظاهراو باطن وی، نو ذکر د
مشبه (ایام) ئے اوکړو او مراد ترې نه مشبه به ده، نو دا استعاره مکنیه
شوه، او لازم د مشبه به چه صفات دی ثابت کړل مشبه (ایام) ته دا استعارهٔ
تخیلیه شوه، او مناسب د مشبه به چه صفت ده ثابت کړو مشبه (ایام) ته
نو دا استعاره ترشیحیه شوه او تشبیه د آثاروسره اوکړه د اقمار سره دا استعاره
مکنیه شوه او استنار لازم دے د مشبه به (اقمار) سره چه ثابت کړل مشبه
اثار ته نو دا استعارهٔ ترشیحیه شوه،
نقره ئے اولی کښې اشاره، الله نور السّمٰوٰتِ والارض مثل نوره کمشکوٰة الآیة،
او په نقرهٔ ثانیه کښې اشاره ده وهُوَ القَاهِرُ فَوْقَ عبادہ ته،

نَحْمَدُهٗ عَلٰی مَا اَوْلَانَا مِنَ الاٰءِ اَزْهَرَتْ رِيَاضُهَا وَنَشْكُرُهٗ عَلٰی مَا اَعْطَانَا مِنْ نَعْمَاءَ اُتْرِعَتْ حِيَاضُهَا،

**ترجمه:-** مونږ د صفت الله تعالیٰ) ثناء او صفت وایو په دے چه مونږ ته ئے
دا سے (ظاهری) نعمتونه راکړیدی چه خائسته شوی دی باغونه د هغې او مونږ
د هغه شکر ادا کوؤ چه مونږ ته ئے داسے (باطنی) نعمتونه راکړیدی چه ډک
شوی دی ډنډونه د هغې،

**توضیح اللغات:** ۱- اَوْلَانَا : صیغه واحد مذکر غائب ده د باب افعال نه
په معنی د احسان کولو او نَا مفعول به دے دویم الآء جمع د اِلْیٌ ده یا د اَلْیٌ
ده په معنی د نعمت سره دریم ازهرت: صیغه واحده مونثه غائبه فعل
ماضی معلوم ده د باب افعال نه په معنی د خائسته، ولی عرب وائی ازهرالنبات
اوالشجر تلع زهرة خلوم ریاض: جمع د روضة ده په معنی د باغ سره
"ابستان الحسن" یعنی ښکلی باغ، او حدیقه هغه باغ ته وائی چه چاردیوار
لری، او بستان چه په هغې کښې اکثر کجورے وی، او فردوس چه اکثر په کښې
انگور وی، بلکه چه هر قسم میوه جات پکښې ملاویږی پنځم اعطانا : اعطی
صیغه واحد مذکر غائب ماضی معلوم د باب افعال نه په معنی د ورکړے
او نا مفعول به دے نعما نَعْمَاء: اسم جمع د نعمة دے او یا جمع د نعمت
او نَعْمَة مَا اُنْعِمَ بِهٖ مِنْ رِزْقٍ و مالٍ و صِحَّةٍ یعنی طیب العیش (ښه ژوند) ته
وائی، اووم اُتْرِعَتْ :- صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی مجهول ده د
باب افتعال نه اتراع په معنی د ډکولو سره، عرب وائی، اَتْرَعَ الْاِنَاءَ اَمْلَاهٗ



اثم حیاض، جمع د حوض ده او حوض مجتمع الماء (ډنډ) ته وائی،

**تشریح:-** هر کله چه شارح فارغ شو دبیان د حمد خفی یا متوسط نه
نو شروع ئے اوکړه په حمد ظاهری کښې، (بالفاظ دیگر)
هر کله چه فارغ شو د تمهید د علت د حمد نه نو شروع ئے اوکړه په عین
حمد کښې، سوال: تلألأ - وَاستنار - الخ جمله ده او نحمدهٗ علی ما الخ هم جمله
ده او قاعده دا ده چه په مابین د جملتینِ متالیتینِ او متناسقتین کښې لابدی
ده د حرف عطف نه او دلته حرف عطف نشته، جواب دا دے، چه دا په منزله
د معلول دے د ماقبل علت دپاره او په مابین د علت او معلول کښې حرف عطف نه
وی، سوال، بیا خو به دے فاء تعلیلیه راوړلے وے، جواب دا محض علت نه
دے بذاته بلکه خپله هم حمد او شکر دے، ځکه چه تحمید د حمد، حمد
وی دپاره د محمود، سوال:۔ حمد عکښې په اَنَّ ابهی الخ کښې په حمد مدح
سره بیان شو نو اوس بیا حمد ذکر کول دا تکرار دے او تکرار شنیع وی، ځکه
چه دے سره تحصیل د حاصل راځی جواب، دا مقصود دے او عکښې
تمهید وو، جواب دا معلول دے او عکښې علت وو جواب حمد کله په جمله
اسمیه سره راوړلے شی او کله په فعلیه سره، نو شارح اول حمد راوړو په
جملے اسمیے سره چه د دلالت اوکړی په دوام او ثبات باندے، بیا ئے حمد راوړو
په جمله فعلیه سره چه د دلالت اوکړی په تجدد او حدوث باندے یعنی جدا جدا
حمد و نه کیف و قد قال الله تعالی یا ایها الذین امنوا اذکروا الله ذکرا کثیرا الآیة
والحمد لله علی کل حال، سوال، شارح خو واحد دے او صیغه د (جمع متکلم
مع الغیر) راوړی په دے کښې څه حکمت دے، او د خپل ځان تعظیم نه دے
پکار، جواب، دے کښې اظهار د ملزوم د عظمت دے چه هغه تعظیم د الله
دے کیف و قد قال، و اما بنعمة ربك فحدث،

**فائده:-** په دے کښې اختلاف دے چه آیا اظهار د نعمت بهتر دے
او که خشوع خضوع، نو مسلك د صوفیانو دا دے چه خضوع بهتر دے، او
مسلك د محدثینو دا دے چه اظهار او تحدیث د نعمت بهتر دے، وقد جری
الشارح علی طریقة المحدثین وللناس فیما یعشقون مذاهب،
دویم جواب دا دے چه حمد د الله تعالی عبادت دے او عبادت کښې هیئت
اجتماعی غوره وی، قال تعالی: ایاك نعبد وایاك نستعین، او جمع ادعی الی القبول

Maktaba Tul Ishaat.com

وی کما فی الهدایه ص۲۳۳ وکذا فی البیضاوی، ص۹ قوله وَ او لانّا الخ سوال: حمد عام دے که په مقابله د نعمت کښ وی او کنه، او تا دلته حمد په مقابله د نعمت کښ ذکر کړو په دے کښ څه حکمت دے؟ جواب: حمد په مقابله د نعمت کښ اولی وی د هغه حمد نه چه په مقابله د نعمت کښ نه وی، ځکه چه نعمت موجب او سبب د خلوص د زړه دے او هر هغه شی چه موجب د خلوص د زړه وی، هغه اولی وی، او اصل په اعمالو کښ اخلاص د قلب دے، ځکه چه د الله او انسان ترمینځه یو پټ (راز) دے،

لنظیمًا، کښ دوه احتماله دی، اول ما موصوله ده او من بیانیه ده یا تبعیضیه دے والمعنی واضح دوېم ما مصدریه ده او من تبعیضیه یا بیانیه دے نو معنے دا به شوه چه نحمده علی ایلاءه ایانا من الخ ولِکُلٍّ وجهة هو مولّیها،

قوله من نعماءه:- آلاء او نعماء دواړه په معنی د نعمت سره راځی او دا هم دلالت کوی په فصاحت او بلاغت باندے او اکثر علماء دوی ترمینځه فرق کوی

اول آلاء نه مراد نعمت لازمه دی او نعماء نه مراد نعمت متعدیه دی دوېم وقیل بالعکس دریم آلاء نه مراد نعمت ظاهریه دے لکه پنځه حواس ظاهریه، او نعماء نه مراد نعمت باطنیه دی لکه پنځه حواس باطنیه

پنځم وقیل بینهما ترادف، ز: تفصیل الحواس:-

زده کړه دا خبره چه حواس جمع د حاسة ده، او حاسة د حس نه ده او حس په لغت کښ ادراك او معلومولو ته وائی قال تعالی، فلما احسّ عیسی منهم الکفر، الآیه، وقال تعالی هل تحسّ منهم من احد الآیة، او په اصطلاح کښ قوّة طبعیة لها اتصال بالجسم بها یدرك الحیوان ما یطرء جسمه من التغیرات:

او حواس په دوه قسمه دی، ظاهریه، باطنیه، بیا حواس ظاهریه په پنځه قسمه دی اول سمع دوېم بصر دریم شم، څلورم ذوق پنځم لمس،

او حواس باطنیه هم په پنځه قسمه دی، اول حس مشترك، دوېم خیال دریم وهم، څلورم حافظه پنځم متصرفه،

باقی نقشه دوسرے طرف پر ملاحظه فرمائی،






"استعن بهذه الصورة فی الحواس الظاهریه والباطنیة،"

لطائف:- هر کله چه د آلاء نه مراد ظاهری نعمتونه شول او د نعماء نه مراد باطنی نو فقرهٔ اولی کښ ذکر د حمد مناسب شو ځکه چه مورد د حمد هم ظاهر دے چه هغه لسان دے او په فقرهٔ ثانیه کښ ذکر د شکر مناسب شو ځکه چه مورد د شکر عام طور قلب وی

لطائف۲:- شارح اولاً ایراد د تسمیه اوکړو او ثانیاً علت د حمد بیان کړو چه ان بهیٰ درر الخ دے او ثالثاً عین حمد ذکر کړو "نحمده علی ما الخ" سره په دے کښ باریکه اشاره ده یو نکتے ته او هغه دا چه په شارح باندے الله پاك انعام د احسان د تصنیف د دے کتاب اوکړو، نو د شارح د پاره درے حالته دی (۱) اراده د تصنیف (۲) ارتسام د صورو د ابوابو او فصلونو (۳) اظهار اول یعنی وقت الشروع فی التصنیف نو اول خفی، ثانی متوسط او ثالث ظاهر دے نو ایراد د تسمیه نه هم خفاءً او ضمناً حمد معلومیږی، او ان ابهیٰ درر الخ هم متوسط دے ځکه چه د احمد د محمود دے په دے اعتبار سره چه تحمید د حمد حمد د محمود دے او په نحمده علی ما الخ هم ظهور د حمد دے،

استعارات۳:- تشبیه د آلاء او نعماء ورکړو په جنات (لوئی باغ) سره، نو ذکر د مشبه "آلاء او نعماء" مراد ترے نه مشبّهٌ به (جنات) نو دا استعارهٔ مکنیه شوه، او ریاض حیاض د باغونو لوازم دی چه ثابت کړے شو مشبّه ته دا استعارهٔ تخیلیه شو، او دا ازهار او اثمار د مناسباتو د باغونو څخه دی چه مشبّه ته ثابت کړے شو، نو دا استعاره ترشیحیه شوه، دا استعارات د دواړو فقرو مجموعی طور سره او انفرادی

هو کډے شی، په ادنی تنګۍ سره حاصلیږی

وَنَسْأَلُهُ أَنْ يُفِيضَ عَلَيْنَا مِنْ زُلَالِ هِدَايَتِهِ وَيُوَفِّقَنَا لِلْعُرُوجِ إِلَى مَعَارِجِ عِنَايَتِهِ ،

**ترجمه** :- او مونږ سوال کوو د حضرالله تعالی نه چه په مونږ باندے رحیل هدایت صفا خوږ ےاو به دا پرولے «او بهویلے» او د خپل مرتبو ته یے د ختلو (رسیدلو) توفیق را کړی.

**توضیح اللغات** :- اول یفیض، صیغه واحد مذکر فعل مضارع معلوم ده د باب افعال نه، افاضه په معنی د بهیدلو بهول، سره عرب وائی افاض الاناءُ اے ملأهٗ حتی فاض وسال، دویم زُلال، الماء العذب الصافی البارد یعنی صفا یخ خوږ اوبه او په معنی د صفا او خالص سره هم راځی دریم هدایة: په معنی د لاره ښودلو (وسیجیٔ التفصیل) څلورم یُوَفِّقنا، یوفق صیغه د واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده د باب تفعیل نه، توفیق د دفق نه برابرېدو ته او موافق المراد ته وائی، پنځم عروج، صیغه د مصدر ده د (ن، ض) باب نه په معنی د برو ختل، عرب وائی، عَرَجَ فلانٌ اے ارتقی و صَعِدَ، قال الله تعالی تعرج الملائکةُ والروحُ الیه، الآیة، شپږم معَارج جمع د معرج ده، مایعرج بِهٖ ته وائی، په معنی د ختلو ځائے «انډر، پایه» اوم عنایت: په معنی د رأفت، رحمت، حفاظت، تدبیر، او ارادة الاحسان سره راځی،

## «اتمام الدراية فی بحث الهداية»

**تشریح** :- زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښ لابدی کار ده د معرفت د دولسو امورو نه اول صیغه د هدایت دویم وزن، دریم باب څلورم معنی لغوی پنځم معنی اصطلاحی شپږم مناسبت بین المعنیین اووم اختلاف په هدایت کښ اتم احتمالات په هدایت کښ نهم نزتونه د مسلکونو ترمینځ، لسم نقوض په مسلکونو باندے، یولسم استعمال د هدایت، او په بیان د محاکمه کښ دولسم اقسام د هدایت،

**تفصیل المقام** :- هدایت په وزن د فعالة مصدر دے د هدی یهدی (ض) باب نه په لغت کښ راه نمودن ته وائی، او په اصطلاح کښ اختلاف دے په مابین د اهل سنت او معتزلو کښ، په دے شان سره چه معتزله وائی چه هدایت په اصطلاح کښ «الدلالة الموصلة الی المطلوب» ته وائی، او اشاعره اهل سنت وائی، چه هدایت په اصطلاح کښ، الدلالة علی ما یوصل الی المطلوب ته وائی،



او فرقونه په مابین د معنی د معتزلو او اهل سنتو کښ درے دی، اول فرق دا دے چه کومه معنی معتزله کوی دا مستلزم ده د وصول الی المطلوب ته یعنی هدایت ملزوم دے او اصول الی المطلوب ورسره لازم دے، او کومه معنی چه اهل سنت کوی هغه مستلزم نه ده د وصول الی المطلوب لره، او دویم فرق دا دے چه ارادة الطریق عام دے، مسلمانانو او کافرانو ټولو ته شامل دے، ځکه چه ټولو مسلمانانو او کافرانو ته ارادة الطریق شوے دے په واسطه د پیغمبرانو او د قرآن سره، او دلالة موصلة الی المطلوب خاص دے ترمسلمانانو پورے ځکه چه ایصال الی المطلوب صرف مسلمانانو ته شویدے کافرانو ته نهٔ دے شوے، او دریم فرق دا دے، چه په معنی د معتزلو کښ ایصال صفت دے د پاره د دلالت او په معنی د اهل سنتو کښ ایصال صفت د طریق دے، المناسبت بین المعنیین (اللغوی والاصطلاحی) ظاهرةٌ، او احتمالات پکښ څلور دی، اول دا چه دا لفظ د هدایت حقیقت دے په ایصال الی المطلوب کښ او مجاز دے په ارادة الطریق کښ، وبه قال المعتزله دویم بالعکس یعنی هدایت حقیقت دے په ارادة الطریق کښ او مجاز دے په ایصال الی المطلوب کښ وبه قال اهل السنّة (الاشاعرة) دریم دا چه لفظ د هدایت مشترک لفظی دے په دواړو کښ څلورم چه لفظ د هدایت مشترک معنوی دے په دواړو کښ

**تنبیه** :- زده کړه دا خبره چه مشترک په دوه قسمه دے، اول مشترک لفظی دویم، مشترک معنوی، مشترک لفظی عبارت دے د هغه لفظ نه چه هغه وضع شوے وی د پاره ادبیا وضع شوے وی د پاره د بل معنی په او ضاع متعددة ځو سره نو که لفظ د هدایت مشترک لفظی نو دا لفظ به هم یو ځل وضع وی د پاره د معنی د اهل سنتو او بیا به په جدا جدا وضع سره وضع وی د پاره د معنی د اهل سنتو او مشترک معنوی عبارت دے د هغه لفظ نه چه هغه وضع شوے وی د یو مفهوم کلی د پاره چه د هغے لاندے افراد وی، نو که لفظ د هدایت مشترک معنوی شی نو دا به هم وضع وی د پاره د یو عامے معنی چه هغه مطلق د لالت دے، او د مطلق د لالت لاندے دوه معنی ګانی دی، چه یو د لالت موصله الی المطلوب دے، چه ایصال الی المطلوب سره یے تعبیر کوے شی، او بل دلالت علی ما یوصل الی المطلوب دے، چه ورته ارادة الطریق وائی، او بیان د نقوضو دا دے، چه په دواړو مسلکونو باندے اعتراضونه وارد یږی، نو هغه اعتراض چه په معتزلو وارد یږی، د هغے د پاره دوه تقریره دی اول تقریر دا دے، چه که هدایت په معنی د ایصال الی المطلوب شی، نو بیا به د دے

Maktaba Tul Ishaat.com

جه نمودیانه آیت، واَمَّا ثَمُودُ فَهَدَیْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰی عَلَی الْهُدٰی » معنیٰ به دا ے شي
غوره کړه
نه موږ هدایت اوکړو، یعنې مطلوب ته اورسول، هغوئ یا ګمراهي
یکن وصول الی المطلوب (الحق) نه پس ضلالت اوګمراهي راتلل محاله ده نو معلومه
شوه چه هدایت په معنیٰ د ایصال الی المطلوب نه دے، او دوئم تقریب دا دے، که
هدایت په معنیٰ د ایصال الی المطلوب شي نو بیا به د دے آیت مذکوره معنیٰ به
دا شي، واَمَّا ثَمُودُ فَأَوْصَلْنَاهُمْ إِلَى الْإِيمَانِ، او په دے تاریخ ګواه دے چه
ثمودیانو ایمان نهٔ دے راوړلے او نصوص قطعیه هم په دے دلالت نهٔ کوي
فالتالی باطلٌ والمقدم مثله نو معلومه شوه چه هدایت په معنیٰ د ایصال الیٰ
الی المطلوب نه دے، او هغه اعتراض چه په اهل سنتو باندے وارد یږي په دے
آیت کښې "انک لاتهدی من احببت" دے نفي د هدایت شوے ده د نبي علیه الصلاة
والسلام نه نو معنیٰ به دا شي چه الله تعالیٰ نبي علیه السلام ته واي چه ته
ارائة الطریق نهٔ شي کولے هغه کښ ته چه ستا خوښ وي (چه هغه ابو طالب وو)
او دا معنیٰ ظاهر البطلان ځکه ده چه د نبي علیه السلام شان او ټول ژوند ارائة
الطریق وو او تا نفي کړو، فالتالی باطلٌ فالمقدم مثله، معتزله دا اعتراض نه
جواب کوي، چه هدایت په انک لاتهدی من احببت کښ په معنیٰ حقیقي سره دے
او په "واما ثمود فهدیناهم کښ په معنیٰ مجازي سره دي، او اهل سنت دا اعتراض جواب
کوي چه هدایت په واما ثمود فهدیناهم کښ په معنیٰ حقیقي سره دے او په انک
لاتهدي کې په معنیٰ د مجاز سره دي، او هم د غه شان اهل سنت جواب کوي چې صدور
د فعل د فاعل نه او شي، نو دې په قدرات او په وسع د فاعل کې نه وي نو نفي اصل د
فعل د فاعل نه صحیح ده، بلکه پدې قول د الله تعالیٰ کښ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ
اللهَ رَمٰی نو په آیت مذکوره انک لاتهدی الایة کښ هم نفي د اصل د فعل (چه ایصال الی
المطلوب دے) شوے ده
بیان د استعمال د هدایت او محاکمے دا یے دَه، چه علامه تفتازاني رحمه
الله په حاشیه د تفسیر کشاف کښ ذکر کړیدي، چه د هدایت د پاره درے
استعماله دي اوّل دا چه هدایت متعدي وي مفعول ثاني ته بالذات بغیر د
واسطے د حرف جر نه، کقوله تعالیٰ، اهدنا الصراط المستقیم دوئم چه هدایت
متعدي وي مفعول ثاني ته په حرف جاره سره، کقوله تعالیٰ، والله یهدي مَنْ
يَشَاءُ الی صراط مستقیم، دریم چه هدایت متعدي شوے وي مفعول ثاني
ته په واسطے د لام حرف جاره سره، کقوله تعالیٰ، إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي



هِيَ أَقْوَمُ، بیان د محاکمے دا چه هدایت د پاره درے استعماله شول نو په اول استعمال
کښ مراد د هدایت نه ایصال الی المطلوب دے او په دوئم او دریم استعمال کښ
مراد د هدایت نه ارائة الطریق دے،
پس معتزله چه وائي چه د هدایت نه مراد ایصال الی المطلوب دے دا هغه هدایت
دے چه متعدي شوے وي مفعول ثاني ته بالذات او دا اهل سنت و رسره هم
مني، او اهل سنت چه وائي چه مراد د هدایت نه ارائة الطریق دے دا هغه هدایت
دَے چه متعدي شوے وي مفعول ثاني ته په واسطه د حرف جر الی یا لام سره
او دا ورسره معتزله هم مني نو معلومه شوه چه دا نزاع حقیقي نه ده بلکه نزاع
لفظي ده، پس معتزله د هغه اعتراض نه چه په دوي وارد دوَ د اهغه جواب کوي
چه د هدایت نه مراد موږ ایصال الی المطلوب اخلو که متعدي شوے وي مفعول
ثاني ته بالذات لکه اهدنا الصراط المستقیم، او کوم هدایت چه متعدي شوے وي
مفعول ثاني ته په حرف جر سره نو د هغې نه مراد ارائة الطریق دے، په دے آیت
"وَاَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ" هدایت متعدي شوے دے مفعول ثاني ته په واسطے د حرف
جر سره ځکه چه هم ضمیر مفعول اول دے او لفظ د ایمان مفعول ثاني دَے نو
تقدیر د آیت دا سے شو، وَاَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ اِلَى الْاِيمَانِ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰی عَلَى الْهُدٰى
نو مراد د هدایت نه ارائة الطریق دے او د ارائة الطریق نه پس تصور د ضلالت
محاله نه دَه، او اهل سنت د هغه اعتراض نه چه په دوئ وارد دوَ د اسے جواب
کوي چه کوم هدایت چه متعدي شوے وي مفعول ثاني ته په واسطه د حرف
جر (لام، الی) سره نو هغه په معنیٰ د ارائة الطریق سره دَے، او کوم هدایت چه
مفعول ثاني ته متعدي شوے وي بالذات بغیر د واسطے نه هغه په معنیٰ د ایصال الی
المطلوب سره دَے نو په دے آیت "اِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ اَحْبَبْتَ" کښ مفعول اول
"مَنْ" موصوله دَے او مفعول ثاني ئې محذوف دَے "چه الایمان" دے نو تقدیر
د دے آیت داسے شو، اِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ اَحْبَبْتَ الْاِيمَانَ " نو مراد د هدایت نه
ایصال الی المطلوب دَے، او په دے کښ شک نشته چه نفي د هدایت په دے معنیٰ
سره د نبي علیه السلام نه صحیح ده لیکن بیا هُم په دے نظر شته، ځکه چه
یو ځائے مفعول ثاني په الی "الی الایمان" سره او بل ځائے کښ مفعول ثاني بغیر د الی
"الایمان نه ذکر کول دا تحکم دے، او هم د غه شان دا توجیه منقوض ده.
په دے قول د باری تعالیٰ سره، (حکایةً عن ابراهیم) یا ابت قد جاءَ فی من

تعالیٰ (يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا) او په دے قول د باری
کښ، (حکایۃ عن رجل مؤمن من آل فرعون) يا قوم اهدکم سبيل الرشاد، او په
دے قول د الله تعالیٰ سره (حکایۃ عن فرعون) وما اهديکم الا سبيل الرشاد وکذا فی الکثير
لقوه دے وجه نه اکثر علماء وائی چه هدايت مشترک دے په مابين د معنيو کښ
نو هره معنیٰ اداکولے شی په موافق د ترتيب سره او هم د دے وجه نه قاضی
بيضاوی رحمة الله د هدايت تعريف په "الدلالة بلطف" سره کړی او دا بهتره حکه
ده چه اختصار سره سره عام دے دواړو معنيو ته شامل دے، او د هدايت د پاره مختلف
اقسام او مراتب دی اول هدايت الهامی او فطری چه دا قسم هدايت انسان او غير انسان
تولو ته شامل دے او د هر ذی روح شی په پيدا کيدو سره الله تعالیٰ د اهدايت ورته
عطاکوی، قال تعالیٰ وَأَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَىٰ طٰهٰ و الَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ، الاعلیٰ
و هَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ، البلد، دويم قسم هدايت هغه دے چه په کسب د کسب
سره حاصليږی يا داکسبی، مختلف مراتب لری اول هدايت احساسی، چه هر
کله د انسان حواس ظاهريه او باطنيه قوت پيدا کړو او ادراک ئے پورے اوکړو،
نو د ښه او بد مينځ امتياز کولے شی، دويم قسم هدايت عقلی چه کوم شی ته
حواس ظاهريه او باطنيه او نه رسيږی نو هغے د پاره الله تعالیٰ عقل ورکړو چه
مدرکات ظاهريه او باطنيه نه کليات خارج کښی، دريم هدايت استدلالی
او نظری، يعنی کوم خبرے چه په عقل سره هم حاصل نشی نو هغه د علم
د پاره دلائل عطاکړے شو، څلورم هدايت انبيائی يعنی کوم شی چه د عقل او
نظر نه هم خارج وی، او د دے حسن او قبحه په قوت عقليه سره هم نه
معلوميږی نو د دے د حصول د پاره انبيائی کرام مبعوث کړے شو يا دا هدايت
په دوه قسمه دے (١) عام (٢) خاص، عام دا دے چه د خير او شر لارې واضح
کړے شی يا دا په دوه قسمه دے (١) تبيانی (٢) او توفيقی، تبيانی دے ته وائی چه
چه پيغمبر يوشی د هدايت دا او ړی او دا ئے واضح کړی چه په هغے کښ څه قسمه
شک او شبه گنجائش نه وی، او هدايت توفيقی دے ته وائی چه د چا د پاره د
انبياء عليهم السّلام هدايات مهيّا شوے وی، او هدايت خاص يو نور دے
د الله تعالیٰ د طرفه چه په دے سره حقائق د اشياء د ايسے واضح شی لکه څنګه چه
په نفس الامر کښ وی،
يا د هدايت خاص د پاره درے درجے دی (١) من الله لکه د اقول د الله تعالیٰ



قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ، (٢) الی الله، لکه دا قول د الله تعالیٰ، إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ
رَبِّي سَيَهْدِينِ، يا دے د پاره دوه درجے دی (١) انابت الی الله، کقوله تعالیٰ ويهدی
اليه من اناب (٢) صراط مستقيم الی الله، لکه اهدنا الصراط المستقيم (٣) دريم
بالله. لکه حديث شريف کښ راځی لولا الله ما اهتدينا، او بيا دے د پاره هم
دوه درجے دی (١) استقامت کقوله تعالیٰ، ان الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا
حکه چه قالوا ربنا الله کښ هدايت راغے، او ثم استقاموا کښ استقامت،
(٢) ربط القلب، لکه ارشاد ربانی دے إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ
هُدًى وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ

"د هدايت نقشه"




(احسن الرفيق فی مبحث التوفيق)

زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښ لا بدی ده د معرفت د لسو امورو نه
اول توفيق دويم وزن دريم باب څلورم معنیٰ لغوی پنځم معنیٰ اصطلاحی
شپږم نسبت بين المعنيين اووم معنیٰ د ځه لا ن اتم نسبت په مابين د توفيق
او ځه لا ن کښ نهم فرق په مابين د توفيق شرعی او عرفی کښ لسم نسبت

(تلك عشرة كاملة)
په مابين د توفيق شرعي او عرفي كښې. (تلك عشرة كاملة) دباب تفعيل نه، په لغت كښې
اول توفيق په وزن د تفعيل صيغهٔ مصدر ده، دباب تفعيل نه، په لغت كښې عبارت دے د
دست دادن كسى را بكارى او په اصطلاح د شرع كښې جعل الله فعل عباده موافقاً لما
(۱) توجيه الاسباب نحو المطلوب الخير (۲) جعل الاسباب موازنة للمسببات (۳) موافقة تدبير العبد
يحبه ويرضاه (۳) جعل الاسباب موازنة للمسببات (۴) معرفة الشئ بما هو
لتقدير الحق (۵) سد باب المعصية و فتح باب الخير (۶) معرفة الشئ بما هو
حقه وغير ذالك، او مناسبت بين المعنيين عموم خصوص مطلق دے، او توفيق
په عرف عام كښې عبارت دے د توجيه الاسباب نحو المطلوب خيرًا كان او شرًا
او خذلان د (ن) باب نه په لغت كښې ترك نصرت (اعانت) ته وائي، او په اصطلاح
كښې عبارت دے د توجيه الاسباب نحو المطلوب الشر، او نسبت په مابين د
توفيق شرعي او خذلان كښې تباين كلي دے حُكه چه يو په بل نه صادقيږي
او نسبت په مابين د توفيق عرفي او خذلان كښې عموم خصوص مطلق دے،
حُكه چه مطلوب تعريف په توفيق كښې عرفي كښې عام دے خير وي او كه شر، او په خذلان
كښې خاص دے چه مقيد دے په قيد د شر سره، او نسبت په مابين د توفيق
شرعي او عرفي كښې هم عموم خصوص مطلق دے، حُكه چه مطلوب په تعريف
د توفيق شرعي كښې خاص دے چه مقيد دے په خير سره او په تعريف د توفيق
عرفي كښې عام دے خير وي او كه شر وي،

**استعارات:**- اضافت د زلال هدايت ته، د قبيلے د اضافت د مشبه به مشبه
ده اے من هداية التي كالزلال او دا هم كيدے شي چه د هدايت تشبيه ذكو
سره وركړے شي نو ذكر د مشبه چه هدايت دے، او مراد ورنه مشبه به
چه كوثر دے، دا استعارهٔ مكنيه شو، او زلال ذكوثر سره لازم دے چه ثابت
كړے شو هدايت ته دا استعارهٔ تخييليه شوه او «افاضه» ذكوثر سره مناسب
دے چه ثابت كړے شو هدايت ته، دا استعارهٔ ترشيحيه شوه و يوفقنا الخ
په دے كښې «عنايته» مشبه ده، او فلك يا قصر عالي مشبه به دے نو ذكر د
مشبه به چه «عنايت» دے مراد ورنه مشبه به چه فلك يا قصر عالي دے دا
استعاره مكنيه شوه، او معارج د قصر عالي لازم دے چه ثابت كړے شو عنايت
ته دا استعارهٔ تخييليه شوه، او عروج د قصر سره لازم دے ثابت كړے شو
عنايت ته دا استعاره ترشيحيه شوه،



وَاَنْ يُّخَصِّصَ رَسُوْلَهٗ مُحَمَّدًا اَشْرَفَ الْبَرِيَّاتِ بِاَفْضَلِ الصَّلَوٰتِ وَاٰلِهِ الْمُنْتَجَبِيْنَ وَاَصْحَابِهِ الْمُنْتَجَبِيْنَ بِاَكْمَلِ التَّحِيَّاتِ.

**ترجمه:**- او (مونږ د الله نه سوال كوو) چه خپل ليږلے شوے محمد صلى الله عليه وسلم چه عزت ناك[۱] او غوره «په ټولو مخلوقاتو دے» چه ډير بهترين رحمتونو سره خاص كړي او دا چه د هغه رسول «منتخب (غوره) تابعداران او اوچت «عزتمند» ملګري په پوره تحفو او بركتونو سره (خاص كړي)

**توضيح اللغات[۲]:**- اول يخصص، صيغهٔ واحد مذكر غائب فعل مضارع معلوم ده، د باب تفعيل نه د تعميم ضد دے يعنې خاص كول دويم رسول، په وزن د فعول په معنى د مرسل سره په معنى د ليږلے شوے سره دريم محمد: صيغهٔ واحد مذكر اسم مفعول ده د باب تفعيل نه په معنى د صفت كړے شوي خلورم اشرف: صيغهٔ واحد مذكر اسم تفضيل ده دالك) باب نه په معنى د اوچت او غوره (عالي الحسب) سره پنځم بريات: جمع د بريّة ده په معنى د مخلوق سره، شپږم افضل دا صيغه د واحد مذكر اسم تفضيل ده د (ن) باب نه په معنى د غوره او غالب، اوم صلوات جمع د صلوٰة ده، مختلف معنو لپاره راځي «كما سيجئ» اتم آل دا (ن) باب نه په معنى د اهل سره آل الرجل اهله نهم منتجبين جمع مذكر اسم فاعل ده د باب افتعال نه، انتجاب، په معنى د اختيار (غوره كول) لسم اصحاب جمع د صحب ده د (س) نه په معنى د ملګرتيا، يقال صاحبه فلان اے لازمه ورافقه وعاشره يولسم منتجبين: صيغه جمع مذكر اسم فاعل ده د باب افتعال نه په معنى د غوره كولو سره يقال انتجب فلان صديقاً اے اختاره واصطفاه دولسم اكمل: صيغه واحد مذكر اسم تفضيل ده د (ن، س) باب نه په معنى د پوره، ديارلسم التحيات: جمع د تحية ده په معنى د ژوندے كولو او استعمال ئے عام طور سره په دعا او تسليم كښې كيږي، يقال حياك الله، قال تعالى تحيتهم فيها سلام،

«غاية الوصول في الفروق بين النبي والرسول[۳]»

**تشريح:**- قوله رسوله، ځكه دا خبره چه په دے مقام كښې لابدي ده د معرفت د نبيانو او رسولانو، اول صيغه د رسول دويم وزن دريم باب خلورم معنى لغوي پنځم معنى اصطلاحي شپږم مناسبت بين المعنيين اوم تعداد د رسولانو اتم صيغه د نبي نهم وزن لسم باب يولسم معنى لغوي

دولسم معنی اصطلاحی دیارلسم، نسبت بین المعنیین څوارلسم، تعداد د انبیاء پنځلسم فرق په مابین د رسول او نبی کښی شپاړلسم، وجه د اختیار د شارح لفظ د رسول په لفظ د نبی باندې

**تفصیل المقام**:- پس پوه شه چه رسول په وزن د فعول صفت مشبه دے د (س) باب نه په معنی د مرسل ((لیکلے شوے)) ((قاصد)) للواحد والجمع قال تعالیٰ: انّما انا رسول ربّك الآية وقال تعالیٰ انّا رسول ربّ العٰلمین، او په اصطلاح کښی انسان بعثه الله تعالیٰ الی الخلق لتبلیغ الاحکام، (تعریفات) او نسبت په مابین د معنی لغوی او اصطلاحی کښی عموم خصوص مطلق دے، معنی لغوی اعم مطلق او اصطلاحی اخص مطلق، او تعداد د رسولانو په موافق د روایت د ابوذر غفاری رضی الله عنه (۳۱۳) دی اخرج احمد و ابن حبان عن ابی ذر رضی الله عنه انّه سئل النبیّ صلی الله علیه وسلم کم الانبیاء: قال مائة الف و اربعة وعشرون الفا، قلت یا رسول الله کم الرسل قال ثلاث مائة و ثلاثة عشر جم غفیر، روح المعانی صـ۱۶/۲۲ (امدایه) اھ

او نبی هم صفت مشبه ده، د فعیل په وزن په اصل کښی نبیٔ (مهموز اللام) دو همزه په یا سره بدله شوه او یا په یا کښی مدغم شوه نبیّ ترے جوړ شو او یا د باب د نبأ ینبأ (ن) نه دے په معنی د اخبار سره، نبی ته نبی ځکه وائی چه دے هم مخبر وی قوم د پاره یا نبیّ مشتق د نبوة د (ن) نه دے په معنی د ارتفاع ((اوچت)) والی سره یقال نبی فلانٌ اے اذا ارتفع و علا او نبی هم عالی وی په قوم باندے، او په اصطلاح کښی انسانٌ اوحی الله الیه، او نسبت په مابین د معنی لغوی او اصطلاحی کښی عموم خصوص مطلق دے ((کالمذکور)) او تعداد د انبیاء په موافق د حدیث مذکور سره (۱۲۴۰۰۰) دے او په موافق د روایت د حضرت کعب رضی الله عنه (۱۲۴۰۰۰) دے انهم (الانبیاء) الف الف و اربعمائة الف واربعة وعشرون الفا روح المعانی صـ۱۶/۴ لیکن دا عدد د قطعی ځکه نهٔ دے چه مذکور روایتونه خبر واحد دی او خبر واحد ظن فائده کوی نه یقین، انّ الخبر الواحد لا یفید الّا الظنّ و لا عبرة بالظنّ فی باب الاعتقادات خصوصًا اذا اشتمل علی اختلاف روایة (شرح عقائد صـ۱۰۱ وفی ردّ المختار (الشامی) صـ۲۲۲/۳ انّ عددهم لیس بمعلوم قطعًا فینبغی ان یقال آمنتُ بجمیع الانبیاء اوّلهم آدم و آخرهم محمد علیه وعلیهم الصّلٰوة و السّلام، فلا یجب اعتقاد انّهم مائة



الف و اربعة و عشرون الفا الخ (۱) د نبی او رسول ترمینځه ترادف دے، کل رسول نبیٌ و کلُّ نبیٍّ رسول، لقوله تعالیٰ و کان رسولًا نبیًّا. و الیه مال الزمخشری والتفتازانی والسیّد الجرجانی (علیٰ قول) و ابن همام واکثر المعتزلة، لیکن دا خبره ځکه نهٔ صحیح کیدے، چه یو خو مخالفت د حدیث مذکور نه راځی بل عطف د نبی شوی دے په رسول باندے په دے قول د الله تعالیٰ کښی و ما ارسلنا من رسولٍ و لا نبیٍّ الّا اذا تمنّی الآیة، الحج، او عطف مغایرت غواړی، او دلیل په و کان رسولًا نبیًّا سره نه دے صحیح ځکه چه د رسول او نبی ترمینځ علی الاصح کما ستبیّن عموم خصوص مطلق دے، جمع کیدل د فرق سره منافات نهٔ لری (۲) د نبی او رسول ترمینځه تباین کلی دے۔ او دا مسلك والا دلیل نیسی په دے قول د الله تعالیٰ، و ما ارسلنا من قبلك من رسولٍ و لا نبیٍّ " باندے، ځکه چه عطف مغایرة غواړی لیکن دا استدلال صحیح ځکه نهٔ دے چه مغایرت جزئی کافی دے او د عموم خصوص مطلق د یو بل سره جدا کیدل د مغایرت سره منافات نهٔ لری (۳) د رسول او نبی ترمینځه نسبت د عموم خصوص مطلق دے په دے شان سره چه رسول عام دے که فرشته وی که دا قول د الله تعالیٰ انّما انا رسول ربك الآیة شو او که انسان وی لکه دا قول د الله تعالیٰ انّا رسول ربّ العٰلمین الآیة او نبی خاص دے تر انسان پورے فقط لیکن دا هم نهٔ ده صحیح ځکه چه زمونږ بحث په معنی اصطلاحی کښی دے نه په معنی لغوی کښی (۴) رسول هغے ته وائی چه من یاتیه الملك بالوحی یقظةً، او نبی عام دے خواه که یقظة وی او که منامًا وی او که الهامًا ((والیه مال الامام الرّازی) لیکن دا هم نهٔ ده صحیح ځکه چه دد نه معلومیږی چه بعض انبیاء ته وحی نهٔ وی شوی مګر منامًا، او دا دحق نه لرے خبره ده، قال العلّامه الآلوسی رحمه الله و هٰذا اغرب الاقوال و یقتضی ان بعض الانبیاء علیهم السلام لم یوح الیه الّا منامًا، و هو بعید، و مثله لا یقال بالرأی روح المعانی صـ۱۶۳/۱۷ (۵) الرّسول: من بعثه الله تعالیٰ الی الخلق لتبلیغ الاحکام الشرعیة و معه کتاب متجدّدٌ او نبی عام دے که کتاب متجدّد ورسره وی او که نه، لیکن دا فرق هم نهٔ دے صحیح، ځکه چه ډیر رسولان لکه لوط، اسماعیل او یونس علیهم السّلام داسے دی چه کتاب ورسره نشته اوبل دا چه رسولان (۳۱۳) دی، او آسمانی کتابونه (۱۰۴) دی فکیف التّوفیق، او آدم علیه السّلام نبی دے حالانکه د هٔ ته صحیفے ملاؤ شوے وی، (علیٰ روایة)

شپږم: فرق دا دے چه رسول هغه ته وائی چه، ذکرٌ حرٌّ بعثه الله تعالیٰ بشرع

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکرٌ حُرٌّ بعثهُ اللهُ بشرعٍ جدید، یدعو الناسَ الیه، او دنبی تعریف داسے کولے شی، ذکرٌ حُرٌّ بعثهُ اللهُ بشرعٍ جدید ولتقریر شرعٍ سابق، لکه هغه انبیاء چه په مابین د موسٰی او عیسٰی علیه السلام تیر شوی دی، کذا فی الروح، وهو الاصح (۷) رسول خپل قوم ته په جدید شرع سره لیږلے شوے وی، په نسبت د قوم اګرکه دده په حق کښ جدید نه وی، لکه اسماعیل علیه السلام، او نبی عام دے، (۸) رسول هغه ته وائی چه مامور بالتبلیغ وی، او نبی عام دے (۹) رسول هغه ته وائی چه صاحب د معجزے وی او نبی عام دے (۱۰) رسول: من له نسخٌ فی الجملة ته وائی او نبی عام دے (۱۱) رسول هغه ته وائی چه مامور بالجهاد وی او نبی عام دے (۱۲) رسول او نبی دا دواړه داسے الفاظ دی چه اذا اجتمعا افترقا واذا افترقا اجتمعا یعنے که یو ځائے کښ دواړه ذکر شی، نو بیا فرق کولے شی او که په یو ځائے کښ صرف یو ذکر شی بیا فرق نشی کولے، قال الله تعالی تلك الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بعضهم الآیة یوم یجمع اللهُ الرُّسُلَ الآیة کلفظی الایمان والاسلام او الفقیر والمسکین۔

او شارح لفظ د رسول په نبی ځکه غوره کړو چه په ما ذکر نا سره دا ته معلومه شوه چه مرتبه د رسالت اوچته ده د مرتبے د نبوت نه، والرِّسالةُ فوق النُّبُوَّةِ ولانَّ الرِّسالةَ مستلزمةٌ لسائرِ الصِّفاتِ الکمالیةِ، شعر لکل نبیٍّ فی الانامِ فضیلةٌ، وجُملتُها مجموعةٌ لمُحمدٍ،

ع ـــ آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

قولهٗ: محمَّد: صلی الله علیه وسلم الخ دده صیغه، وزن، باب او معنی لغوی مخکښ تیر شویدی، او اصطلاحی معنے ئے دا ده چه" عَلَمٌ لِمَنْ یُحْمَدُهٗ اَهْلُ السَّماءِ والارضِ وهُوَ الاوّلُ روحًا وَالآخرُ جَسدًا او دنبی علیه السلام نوم و نه زیات دی، کما فی البهجةِ السَّنِیَّةِ فی الاَسْماءِ النَّبَوِیَّةِ، للسُّیوطی، او کثرت د اسماؤ دلالت کوی په شرافت د مسمّٰی باندے، او حافظ علی ابن احمد زیلعی رحمه الله وائی چه نبی علیه السلام په آسمان کښ په احمد سره بللے شی او په زمکه کښ په محمّد صلی الله علیه وسلم سره، او په انجیل کښ په احمد سره او په توراة کښ په ابو القاسم سره وقال المداح:ـه

بانجیل عیسٰی من اسل میه ÷ بتوراةِ موسٰی حامد یَتَحَمَّدُ
ومحمود اسم فی الزبور محمّدٌ ÷ ختام جمیع الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم

لیکن په ټولو نومونو کښ دا اشرف دے، ځکه چه په کثیرو محامدو باندے دلالت کوی، او نبی "اخرُ الزَّمان" نه وړاندے د چا نوم محمد نه وو ایخودلے شوے



البته درے یا څلور کسان داسے تیر شویدی چه والدینو ئے د اهل کتابو د علماؤ نه، د نبی "آخر الزَّمان" نوم واوریدو نو خپلو بچو له ئے محمَّدٌ نوم ایخودو، ابو طالب صاحب د نبی علیه السّلام په مدح کښ یوه قصیده ویلے ده چه یو شعر په کښ دا دے، ـه

وَشَقَّ لَهٗ مِنْ اِسْمِهٖ لِیُجِلَّهٗ ÷ فَذُو الْعَرْشِ مَحْمُوْدٌ وَّذَا مُحَمَّدٌ

لطائف:- (۱) الله انسان لره په صورت د لفظ (محمد صلی الله علیه وسلم) پیدا کړے دے په دے شان چه سر د انسان د میم په شان مدور (ګول) دے او لاس نه ئے په شان د ح دی، او بطن "الخیمه" په شان د میم ده، او خپے ئے په شان د دال دی، او په انسان باندے الله یو اهم فریضه مقرر کړیده چه هغه موخ دے په صورت د احمد، پس قیام په مانځه کښ په شان د الف دے او رکوع په شان د حاء ده او سجده په شان د میم ده او قاعده په شان د دال ده (۲) لفظ د محمَّد صلی الله علیه وسلم کښ څلور حروف دی (یعنی م، ح، م، د) پس په اول میم کښ اشاره ده مِنَّةٌ ته، او حاء کښ محبت ته او دوئم میم کښ مغفرت ته او دال کښ دین ته۔ نو ګویا کښ دے ته اشاره ده چه الله تعالی نبی علیه السلام ته فرمائی، اَمُنُّ عَلٰی اُمَّتِكَ بِعِتْقِهِمْ مِنَ النَّارِ وَاَجْعَلُ مُحَبَّتِیْ فِیْ قُلُوْبِهِمْ وَاَغْفِرُلَهُمْ وَلَا یُنْزَعُ عَنْهُمُ الدِّیْنُ الْاِسْلَامُ" (البنیان المرصوص) ص۳۵ (۳) په لفظ محمَّد صلی الله علیه وسلم کښ اشاره ده، تعداد د رسولانو ته، په دا شان سره چه تفسیر صاوی والاوائی، چه په عدد د رسولانو کښ دوه روایات دی هغه په دوه قسمه دی یو روایت موافق د (۳۱۳) دے او دوئم روایت مطابق د (۳۱۴) دے او دریم روایت د (۳۱۵) او لفظ محمَّد صلی الله علیه وسلم نه هم دا معلومیږی چه په محمَّد صلی الله علیه وسلم کښ پنځه حروف دی، سره د میم مدغم او مدغم فیه نه نو حروف هجاء په لحاظ، میم، حٰ، میم میم، دال، نو مجموعه ئے د رسولو د یادلو جوړیږی، یا میم، حا میم میم، دال، نو مجموعه (۳۱۹) شوه، او یا میم، حا میم، دال، نو مجموعه (۳۱۵) شوه،

((عیون النکات فی مبحث الصلوٰة))

قولهٗ، بافضل صلوٰة الخ زده کړه د اخیره چه په دے مقام کښ لس مباحث دی (۱) صیغه (۲) وزن (۳) معنی لغوی د صلوٰة (۴) معنی اصطلاحی

(۵) وجود ایراد (راوړل) د صلوٰة (۶) نکته په صلوٰة کښې (۷) اقسام د صلوٰة، (۸) حکم د صلوٰة (۹) فائده په صلوٰة کښې (۱۰) اختلاف په صلوٰة کښې په غیر دانبیاؤ باندې،

**تفصیل المقام**:- صَلوٰة: صیغه د مصدر ده د باب تفعیل نه په وزن کښې اختلاف دے. صاحب د نوادر الاصول (مفتی سعد الله مراد آبادی) رائی چه په صلوٰة په اصل کښې صَلَوَةٌ وو، واو بدل شو په الف سره، او علامه تفتازانی په (شرح دزنجانی) کښې وائی چه دا په صورت د واو لیکلے شی، والحقّ أنّ امثال ذالك تکتبُ فی المصحف بالواو وفی غیره بالالف،

**قاعده**:- هر کلمه چه مثل د صَلوٰة حیوٰة مضاف شی ذوی العقول (انسانانو ته) نو په صورة د الف لیکلے کیږی غالبًا لکه حیاتنا، صلاتنا، او حیاتی او صلاتی شی او کله چه مضاف شی غیر ذوی العقول ته نو په صورة د واو لیکلے شی غالبًا، کذا افادنی مفتی الشیخ شهزاده رحمة الله، او صلوٰة په لغت کښې په مختلفو معنو سره راځی (۱) الدعاء بالخیر، قال تعالیٰ وصل علیهم اے ادع لهم (۲) په معنی د دعا او رحمت سره (علیٰ سبیل الاشتراک) او دله معنی د بنده له طرفه لکه وصل علیهما او دویمه معنی د الله تعالیٰ د طرفه اولئك علیهم صلوٰة الآیة، (۳) په معنیٰ د ثناء کا مل لکه ان الله وملئکته یُصلّونَ عَلَی النّبیّ الآیة اے یثنون علیه (۴) تعظیم، مراد د تعظیم نه او چتوالے د ذکر او شریعت دے په دنیا کښې، او تضعیف (ډیل ولے) د اجر دے په آخرت کښې کذا ذکرہ ابن الاثیر (۵) عطف انعطاف (مهربانی) او دا د الله د طرفه رحمت دے او د غیر الله د طرفه دعا ده (ذکرہ العلامة الفارسی فی مطالع المسرات) شپږم په معنیٰ د قراءة سره قال تعالیٰ ولا تجهر بصلاتك ای قراءتك، (۷) په معنیٰ د تلیین (نرمول، سیده کول) یقال صلیت العود بالنار لینته (۸) په معنیٰ د دویم سره، یقال فرس مصلی اے ثانیة للسابق او صلوٰة هم په قرآن کښې په مرتبه ثانیه کښې ذکر شوے دے، قال تعالیٰ یؤمنون بالغیب ویقیمون الصّلوٰة، (۹) په معنیٰ د تحریك الصلوین سره یعنی (کنا تی خوزول) بیا نقل کړے شو ما نحن ته، ځکه چه په په رکعتونو تحریك الصّلوَین وی، یا د ما نحن دعا ته نقل شو ځکه چه مونځ هم په دعا مشتمل وی، او یا په دواړو کښې خضوع او خشوع وی (واختار ابو علی الفارسی وابن جنی رحمهما الله وتبعهما الزمخشری) او صلاة په اصطلاح کښې تعظیم النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم باعلاء کلمته وابقاء شریعته فی الدنیا، ورفع



درجته وتشفیعه لامته فی الآخرة ته وائی، او مناسبت د معنیٰ لغوی اصطلاحی د معانی لغویه سره په ادنیٰ تأمل سره واضح کیږی او په وجوه د ایراد (راوړل) د صلاة نو دپاره دراوړلو د صلوٰة پنځه دلائل نقلی دی او یو دلیل عقلی دے، دلائل نقلیه دا دی (۱) اقوال د نبی علیه السّلام، چه من صلّی علیّ فی کتاب لم تزل الملئکة تستغفرلهٗ مادام اسمی فی ذالك الکتاب الحدیث (۲) دا حدیث شریف دے چه عن ابی موسیٰ رضی الله عنه قال قال رسول الله صلّی الله علیه وسلّم کلّ کلامٍ لا یُبدأ فیه بالصّلوٰة علیّ فهو اقطع ممحوق من البرکة (۳) دا قول د نبی علیه السلام دے- چه خصّوا بکرامات منها اذا ذکر ثم الله تعالیٰ فاذکرونی معه الحدیث، (۴) دا قول د الله تعالیٰ دے، یا ایّها الذین آمنوا صلّوا علیه وسلّموا تسلیمًا،

سوال الله تعالیٰ حکم کوی مونږ ته چه په نبی علیه السّلام، صلوٰة او سلام وائی، او شارح د الله تعالیٰ ته حواله کړو، حیث قال وان یخصّص رسوله الخ نو دا امر الهی تعمیل او نشو، جواب، د نبی علیه السّلام مکارم اخلاق د اندازے نه زیات دی، او د هغوی په خپل امت باندے بیشماره احسانونه دی، چه د هغوی موافق هیڅ یو انسان صلوٰة او سلام نشی ویلے،

ــه ستا د خائست ګلونه ډیر دی ÷ جولۍ م تنګه ده کم کم به تولوم

نو ځکه شارح بارع او ویلے ان یخصّص رسوله الخ او هم د غه شان خبره په مثل د اللّٰهمّ صلّ- الخ کښې ده، والتفصیل فیه فی مقامٍ آخر، سوال شارح صلوٰة سره سلام رانه وړو حالانکه بعض علماء د وینا مطابق دا طریقه مکروه ده، جواب:- شارح په دے سره اشاره اوکړه چه دا طریقه مکروه نه ده، او بیا قال الجمهور دویم جواب، لعلّ الشارح اتٰی بهما تلفّظًا واکتفی بالصّلوٰة کتابةً او بیا نکته په صلوٰة کښې دا ده، چه د صلوٰة نسبت الله تعالیٰ ته او شی نو مراد ترے نه نزول رحمت او که نسبت ئے ملائکه ته او شی نو مراد ترے نه استغفار دے او که نسبت ئے مؤمنانو ته او شی نو مراد ترے نه دعاوی، او که نسبت ئے وحوش طیورو ته اوشی نو مراد ورنه تسبیح او تهلیل وی (کذا فی مقدمة النبراس والمستخلص) او دلیل عقلی دا دے، چه نبی علیه السّلام واسطه ده په علم رسولو کښې د طرفه د الله تعالیٰ نه ځکه چه الله تعالیٰ په اعتبار د مرتبے سره په نهایت بعد کښې دے د بنده نه، ځکه چه د عبد (بنده) مرتبه ډیره

لاندې وه د دې چه د ګنا هونو د بهدله نو د پاره د افاضې د علم د الله پاك د طرف نه لابدی دی دیوې د واسطې نه او هغه واسطه پیغمبر علیه السلام دے او هرکله چه پیغمبر علیه السلام واسطه شو په افاضه د دې نعمت عظمیٰ کښې نو منعم حقیقی الله پاك دے او نبی علیه السلام منعم مجازی، لکه څنګه چه الله پاك منعم حقیقی دے نو صلاة په نبی علیه الصلوٰة باندې ضروری دے د پاره د ادا د حق واجبه د نبی علیه السلام

**اقسام الصلوٰة**:- صلوٰة (درود) په نبی علیه السلام باندې په شپږ قسمه دے (۱) فرض په تمام عمر کښې یو ځل درود د شریف ویل فرض دی، د آیت کریمه د وجې نه، (۲) واجب، کله چه د نبی علیه السلام نوم مبارك ذکر کړیشی علیٰ قول الطحاوی (۳) سنت: په آخره قعده کښې (۴) مستحب: په عامو اوقاتو کښې (۵) مکروه: په مانځه کښې بغیر د قعدې آخره (۶) حرام: په ناروا کارونو کښې، (در مختار)

**تنبیه**:- که په یو مجلس کښې د نبی علیه السلام نوم بیا بیا ذکر کولے شي نو یو ځل ویل لازم دی اتفاقاً. او بیا بیا درود شریف ویلو کښې اختلاف دے ځنې فقهاء کرام لکه (طحاوی) وائي چه هر ځلے درود شریف ویل لازم دی، او ځنې فقهاء وائي لکه کرخی چه صرف یو ځل ویل واجب دی، او بیا بیا ویل مستحب دی وعلیه الفتوی (در مختار)

**فائده**: په اوو ځایونو کښې درود ویل مکروه دی (۱) جماع کولو وخت کښې دویم قضاء حاجت په وخت کښې (۳) په مشهور د لو د مبیع کښې (۴) غوسه زیدو (تیندك خوړلو) په وخت کښې (۵) تعجب کښې (۶) حلالے (ذبح) په وخت کښې (۷) پرنجی (عطاس) په وخت کښې علیٰ خلاف فی الثلاثة الاخیرة شامی ص $\frac{۳۳۱}{۲۲}$ (امدادیه)

**فائدة**:- کل الاعمال فیها المقبول والمردود الا الصلوٰة علی النبی صلی الله علیه وسلم فانها مقبولة غیر مردودة شامی ص $\frac{۳۳۳}{۲۲}$

**اختلاف**:- په غیر د انبیاء باندې درود یعنې صلوٰة ویل جائز دی او که نه؟ نو په دے کښې درے مذاهب دی (۱) صلوٰة په غیر د نبی باندې مطلقاً جائز دی، خواه استقلالاً وی او که تبعاً وی، ددے نسبت روافضو ته کیږی، فانهم یصلون ویسلمون علی اهل البیت، (۲) صلوٰة په غیر د نبی باندې مطلقاً نده جائز، خواه استقلالاً وی او که تبعاً، او ددے قول نسبت خوارجو ته کولے شی (۳) صلوٰة په غیر د نبی باندې تبعاً جائز دی، او استقلالاً نه دی جائز





مګر په معنیٰ لغوی سره د اصالك د اهل ستنو دے وخیر الامور اوساطها،

## تحصیل الکمال فی الفرق بین الاهل والآل،

زړه کړه د اخبره چه په دے مقام کښې پنځلس مباحث دی، (۱) صیغه د آل (۲) وزن (۳) باب (۴) اصل د آل (۵) معنیٰ لغوی (۶) معنیٰ اصطلاحی، (۷) مناسبت بین المعنیین (۸) صیغه د اهل (۹) وزن (۱۰) باب (۱۱) معنیٰ لغوی (۱۲) معنیٰ اصطلاحی (۱۳) مناسبت بین المعنیین (۱۴) د آل او اهل تر مینځ فرقونه (۱۵) مصداق د آل،

**تفصیل المقام**:- اهل مصدر دے په وزن د فعل د (ن س) نه لغت کښې موالفت ته وائي، او په اصطلاح کښې اهل اقارب عشیرة، زوجه او ملګرو ته وائي، او نسبت په مابین د معنیٰ لغوی او اصطلاحی کښې واضح دے چه عموم خصوص مطلق دے، او د آل په اصل کښې اختلاف دے، اول قول د سیبویه رحمه الله دے، دے وائي چه په اصل کښې اَهْلٌ دے په دلیل د تصغیر د "اُهَیْلٌ" سره والتصغیر یرد الاشیاء الی اصولها، بیا هاء په همزے سره بدله شوه آءْلٌ نو بیا همزه ثانیه په قانون د اٰمَنَ سره په الف بدل شو آلٌ نو دے جوړ شو (وبه قال اکثر البصریة) (والتفصیل فی اهیل قد مر) دویم قول د امام کسائی او یونس رحمهما الله دے، دوی وائي چه آل په اصل کښې اَوَلٌ وو، واو په قانون د قال سره په الف بدل شو، آلٌ شو (وبه قال المحققون والکوفیة) قال الکسائی رحمة الله سمعت اعرابیا فصیحا یقول آهل واهیل، وآل واویل، او اول صیغه د مصدر ده په وزن د فعل د (ن) نه په لغت کښې رجوع کولو ته وائي او په اصطلاح کښې عبارت دے د اهل عیال، اتباع او انصارو نه، (معجم) او نسبت په مابین د معنیٰ لغوی او اصطلاحی کښې عموم خصوص مطلق دے، او آل او اهل تر مینځ فرقونه دا دی (۱) چه د آل اضافت صرف ذی شرف د یعنې یا د نیوی دا لاته کیږی یقال آل النبی وآل السلطان ولا یقال آل الحجام وآل المسکین، او اهل عام دے اضافت نے شرافت والا ته هم کیږی یقال اهل النبی واهل السلطان او غیر شرافت والا ته هم کیږی یقال اهل الحجام واهل المسکین (۲) مدخول د آل داخل وی په حکم د آل کښې لکه په "ادخلوا آل فرعون اشد العذاب" کښې فرعون په طریقه اولیٰ سره داخل دے په حکم کښې، او مدخول د اهل داخل نه وی په حکم د اهل کښې نو په "جاءنی اهل زید" کښې زید داخل نه دے په حکم د مجیئت کښې (۳) آل په کلام د عربو کښې اکثر مضاف وی، او اهل عام دے

مضاف او غیر مضاف دواړو ته راتلے شی (۴) آل اسم جمع دے، نو ئه جمع کیږی،
او اهل جمع کیږی په اهلون او اهلات سره (۵) د آل اضافت صرف ذکورو (نارینو) ته کیږی، او اهل عام دے ښځو او نارینو دواړو ته ئے اضافت کیږی
(۶) د آل اضافت غالباً معرفه ته کیږی، او د اهل عام دے، فلا یقال آل الرجل ویقال اهل الرجلِ (۷) د آل اضافت ازمنه (زمانو) ته نه کیږی، او د اهل کیږی
فلا یقال آل الزمان ویقال اهل الزمانِ (صرح بهما الامام الراغب) (۸) د آل اضافت امکنه (ځایونو ته) نه کیږی او د اهل کیږی، فلا یقال آل مکة ویقال اَهل المکة (۹) د اهل اضافت بیت، علوم، فن، او حرفت ته نه کیږی، او د اهل
کیږی، فلا یقال آل البیتِ، والفن، وال العلمِ وال الحرفةِ، ویقال اهل العلم والبیتِ والفن والحرفةِ (۱۰) اهل په معنیٰ د قرابت سره، خواه که تابع وی او که نه وی، او آل په معنیٰ د قرابت سره خو چه تابع وی، وغیر ذالِكَ، او مصداق
(ما صدق علیه) د آل کښی اختلاف د علماؤ دے،
(۱) مراد په آل د نبی علیه السلام سره ازواج او ذریات دی (۲) مراد په آل د نبی علیه السلام سره فاطمه، علی، حسن، حسین او دد وئ اولاد دی، (رضی الله عنهم) وبه قال جمهور اهل البیت، و ابو سعید الخدری رضی الله عنه وجماعة من التابعین منهم، قتاده و مجاهد رحمه الله کما فی نور الابصار ص۱۱،
(۳) مراد په آل د نبی علیه السلام سره قرابت د نبی علیه السلام دے بغیر د تقید نه کذا فی التیل (۴) آل د نبی علیه السلام نه مراد ازواج مطهرات (امهات المؤمنین) دی وبه قال سعید بن جبیر و عکرمة و مقاتل رحمهم الله
(۵) مراد په آل د نبی علیه السلام سره هغه خلق دی چه په هغوئ صدقه حرامه ده، بیا په دے کښی اختلاف دے، امام شافعی رحمه الله وائی چه په دوئ کښی بنو هاشم او بنو مطلب دی، او ائمه ثلاثه وائی چه دوئ صرف بنو هاشم دی فقط (۶) مراد په آل د نبی علیه السلام سره هغه علماء دی چه هغوئ وارثان د نبی علیه السلام دی، هم د دے وجه نه امام راغب رحمه الله وائی چه اهل دین په دوه قسمه دی، یو قسم علم متقن او عمل محکم والا دی نو دوئ ته آل النبی و امة النبی صلی الله علیه وسلم ویلے شی، او بل قسم علیٰ سبیل التقلید والا دی، پس دوئ ته اُمَةُ النبی صلی الله علیه وسلم ویلے شی او آل النبی نشی ویلے (فکلُّ آل النبیّ اُمَةٌ لَه وَلَیسَ کلُّ اُمَةٍ لَه آلُه)



(۷) آل د نبی علیه السلام نه مراد اتقیاء د امت دی، لکه حدیث پاك کښی راځی "آل محمدٍ کلُّ تقیٍّ" رواه الطبرانی والدیلمی) (۸) آل د نبی علیه السلام نه مراد بنو غالب دی (د غالب جد رسول الله صلی الله علیه وسلم وابوهٔ العاشر فی سلسلة نسبه) (۹) آل نه مراد ټول امت اجابت دے (اختارهٔ النووی والشیخ الازهری ومالك رحمهم الله) او امام د لغت نشوان حمیری په دے کښی یو شعر ویلے دے

| | | |
|---|---|---|
| آلُ النَّبیِّ هُمْ اَتْبَاعُ مِلَّتِه | ÷ | مِنَ الْاَعَاجِمِ وَالسُّوْدَانِ وَالْعَرَبِ، |
| لو لَمْ یَکُنْ آلُهٗ اِلَّا قَرَابَتُهٗ | ÷ | صَلَّی الْمُصَلِّیْ عَلَی الطَّاغِیْ اَبِیْ لَهَبِ، |

او د دے قول تائید د قول د الله تعالیٰ دے، ادخلوا آل فرعون اشد العذاب، ځکه چه مراد په آل فرعون سره اتباع د فرعون دی (۱۰) لفظ د آل مختلفو معانیو د پاره راځی نو هر ځائے کښی د مقتضی د مرام او قرینے مقام سره معنیٰ اخستلے کیږی او بهٰذا یسهل التطبیق بین الاحادیث والاثار والاقوال والیه مال الصبان رحمه الله)
سوال:- آل مفرد دے او منتجبین جمع ده نو د صفت او موصوف ترمینځه مطابقت را نه غلو او دا ضروری دے، جواب، آل لفظًا اګر که مفرد دے لیکن معنیً جمع دے
قوله واصحابه :- په دے ځائے کښی اووه مباحث دی (۱) صیغه د اصحاب (۲) وزن (۳) باب (۴) معنیٰ لغوی (۵) معنیٰ اصطلاحی (تعریف) (۶) نسبت بین المعنیین، او (۷) فرق په مابین د اصحاب او صحابه کښی،
تفصیل المقام :- اصحاب په وزن د افعال یا جمع د صاحب ده لکه چه اطهار جمع د طاهر دے، او یا اصحاب جمع د صَحْبٌ دے، لکه اَنْهَارٌ جمع د نَهْرٌ ده، یا اصحاب جمع د صَحِبٌ ده لکه اَنْمَارٌ جمع د نَمِرٌ ده، او یا اصحاب جمع د صَحِیْبٌ دے لکه اشراف جمع د شریف دے په لغت کښی (س) نه په معنیٰ د ملګرتیا سره او په اصطلاح کښی تعریف د صحابی دا دے چه مَنْ لَقِیَ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ علیه وسلم مُؤْمِنًا بِه وَ مَاتَ عَلَی الْاِسْلام (الاصابه ص۱۲) نو په تعریف کښی هغه صحابه کرام داخل شو چه د نبی علیه السلام سره ئے ملاقات کړے وی، او په هغه ئے ایمان راوړے وی، او په دغه ایمان سره وفات شوے دی، خواه که د نبی علیه السلام نه ئے روایت کړے وی او که نه، غزائے ورسره کړی وی او که نه او رویت حقیقی وی او که حکمی، او په قید د ایمان سره هغه خلق وتلے او وتل چه نبی علیه السلام سره ئے ملاقات کړے وی، او ایمان ئے پس د وفات د نبی علیه السلام نه ئے راوړے وی، او په قید د مات علی الاسلام سره هغه خلق ترے خارج

راورے او ایمان ئې هم پرے راوړے وی او ملاقات کړے وی سره ئې دنبی علیه السّلام سره ئې ملاقات کړے
شو چه دنبی علیه السّلام سره ئې ملاقات کړے وی او ایمان ئې هم پرے راوړے "الاصطلاحی" عموم خصوص
وی او بیا مرتد شوے نه وی، او نسبت بین المعنیین "اللغوی" و "الاصطلاحی" عموم خصوص
مطلق دے، او فرق په مابین د اصحاب او صحابه کښ لفظًا هم شته او معنیً هم
په دے شان سره چه لفظ د اصحاب په وزن د افعال دے، او لفظ د صحابه په وزن
د فعاله دے، او معنیً فرق دا دے چه اصحاب اعم مطلق دے او صحابه اخص
مطلق دے په دا شان چه د اصحاب اطلاق په ملګرو د نبی علیه السّلام باندے
هم کیږی، او ملګرو د غیر د نبی علیه السّلام (بل انسان) باندے هم کیږی،
او د صحابه اطلاق صرف په ملګرو د پیغمبر علیه السّلام باندے کیږی۔

ترکیب:- اِنَّ حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع
غوارې، اَبْهٰی صیغه د واحد مذکر غائب اسم تفضیل مضاف دُرَرٍ موصوف
تُنْظَمُ صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل مضارع مجهول ضمیر دهِیَ پکښ مستتر
دے چه راجع ده دُرَرٍ ته، هغه ورله نائب فاعل شو بِا جار بنان مضاف البیان
مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه
دا ظرف لغو تعلق نیسی فعل مذکور (تُنْظَمُ) پورے فعل سره د نائب فاعل نه
او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت
نه فاعل مضاف الیه دا اَبْهٰی شو اَبْهٰی اسم تفضیل مضاف سره د فاعل مضاف
الیه نه شبه جمله معطوف علیه، واو حرف عاطفه اَزْهَرَ صیغه واحد مذکر
اسم تفضیل مضاف، زَهَرٍ موصوف، تَنْشُرُ صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل
مضارع مجهول، ضمیر دهِیَ پکښ مستتر دے، چه راجع دے زَهَرٍ ته، هغه ورله
نائب فاعل شو، فِیْ جار، اردان مضاف الاذهان مضاف الیه، مضاف سره د
مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو متعلق په فعل
مذکور (تُنْشَرُ) فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه
صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه فاعل مضاف الیه د اَزْهَرَ
شو، اَزْهَرَ اسم تفضیل مضاف سره د فاعل مضاف الیه نه معطوف، معطوف
علیه سره د معطوف نه دا اسم د اِنَّ، حَمْدُ مضاف مبدع موصوف، اَنْطَقَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی
معلوم ضمیر د هو پکښ مستتر دے چه راجع دے (مبدع) ته هغه ورله
فاعل شو، الف لام موصول، موجودات صیغه جمع مؤنث اسم مفعول ضمیر



دهِیَ په کښ مستتر دے چه راجع دے موصول ته هغه ورله نائب فاعل شو
اسم مفعول سره د نائب فاعل نه صله د موصول شوه، موصول سره د صلے نه
مفعول له به د اَنْطَقَ شو، بِا جار ایات مضاف، وجوب مضاف الیه الیه مضاف
وجود مضاف الیه د مضاف، ة ضمیر د مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه
نه مضاف الیه شو دپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه بیا مضاف الیه
شو دپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار شو، جار سره د مجرور
ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور (اَنْطَقَ) پورے، فعل سره د فاعل او سره د
مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه صفت د موصوف شو موصوف
سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف شو مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف
علیه، واو حرف عاطف، شکر مضاف، منعم موصوف، اَغْرَقَ، صیغه واحد مذکر
غائب فعل ماضی معلوم ضمیر هُوَ پکښ مستتر دے چه راجع دے منعم ته
هغه ورله فاعل شو، الف لام موصول، مخلوقات ئې صله، موصول سره د صله
نه مفعول به د اغرق شو، فِیْ جار بحار مضاف اتصال مضاف ة ضمیر مضاف الیه
مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه، واو حرف عاطف، جود مضاف ة
ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور
نه ظرف لغو تعلق نیسی فعل مذکور (اغرق) پورے، فعل سره د فاعل
او سره د مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه صفت د موصوف شو
موصوف سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه
معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه موصوف، تَلَأْلَأَ، صیغه واحد
مذکر غائب فعل ماضی معلوم، فِیْ جار ظُلَمِ مضاف، اللَّیَالِیْ مضاف الیه مضاف
سره د مضاف الیه نه ظرف لغو تعلق نیسی فعل مذکور پورے، اِنْوَارُ مضاف
حکمت مضاف ة ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف اَلْ موصول
بَاهِرَةٌ، صیغه واحده مونثه اسم فاعل، ضمیر دهِیَ پکښ مستتر دے چه راجع دے
موصول ته هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعله شبه جمله صله د موصول،
موصول سره د صله نه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه مضاف الیه
د مضاف شو، مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د فعل شو، فعل سره د فاعله او سره
د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة عَلَیْهَا، واو حرف عاطف، اِسْتَنَارَ صیغه
واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، عَلٰی جار صفحات مضاف، الایام مضاف

الیه، مضاف سره د مضافٌ الیه نه مجرور د جار شو، جار سره د مجرور نه دا
ظرف لغو تعلق نیسی فعل مذکور پورې، آثار مضاف سلطنة مضاف ة ضمیر
مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف، القاهرة ورله صفت شو
موصوف سره د صفت نه مضافٌ الیه د مضاف شو، مضاف سره د مضافٌ
الیه نه فاعل د فعل شو، فعل سره د فاعله او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه
معطوفه، معطوفة علیها سره د معطوف نه دا معلل شو،
نحمد، صیغه جمع متکلم مع الغیر فعل مضارع معلوم ضمیر په کښې مستتر دې
هغه ورله فاعل شو ه ضمیر د مفعول به، علیٰ جار ما موصوله اولیٰ صیغه واحد
مذکر غائب فعل ماضی معلوم ضمیر د هو پکښې مستتر دې هغه ورله فاعل
شو، نا ضمیر مفعول به مِن جار الآء موصوف، ازهرت صیغه واحده مؤنث
غائبه فعل ماضی معلوم، ریاض مضاف ها ضمیر مضافٌ الیه مجرور محلاً
مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د فعل شو، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه
خبریه صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار شو، جار
سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی فعل مذکور پورې، فعل سره د فاعله او
سره د مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة علیها، واو حرف
عاطف، نشکر، صیغهٔ متکلم مَعَ الغیرهٔ ضمیر مفعول به علیٰ جار ما موصوله
اعطیٰ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم نا ضمیر مفعول به مِن جل
نعماء موصوف، اترعت صیغهٔ واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی مجهول،
حیاض مضاف ها ضمیر مضافٌ الیه مضاف سره د مضافٌ الیه نه نائب فاعل
د فعل شو، فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعلیه خبریه صفت د موصوف
شو، موصوف سره د صفت مجرور د جار، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو
تعلق نیسی فعل مذکور پورې، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د
متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوف د معطوفةٌ علیها،
واو حرف عاطف نسئلُ صیغه جمع متکلم مع الغیر فعل مضارع معلوم ضمیر
د نحن په کښې مستتر دې هغه ورله فاعل شو، ه ضمیر مفعول به، او أنْ ناصبه
مصدریه، یفیض صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم، ضمیر د هُوَ
په کښې مستتر دې هغه ورله فاعل شو علیٰ جار نا مجرور محلاً جار سره
د مجرور نه تعلق نیسی فعل مذکور پورې مِنْ جار زُلال، مضاف، هدایت



مضاف الیه ومضاف ه ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مضاف
الیه شو دپاره د مضاف، مضاف سره د مضافٌ الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور
نیز متعلق د فعل مذکور پورې، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه او سره
د متعلقینو نه، جمله فعلیه خبریه معطوفةٌ علیها، واو حرف عاطفه، یوفق
صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم، ضمیر د هو پکښې مستتر دې
هغه ورله فاعل شو، نا مفعول به لام جار العروج مجرور، جار سره د مجرور
دا ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور پورې، الیٰ جار معارج مضاف، غایت
مضاف الیه ومضاف ه ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضافٌ الیه نه، مضاف
الیه شو دپاره د مضاف، مضاف سره د مضافٌ الیه نه مجرور د جار، جار سره
د مجرور نه ظرف لغوه نیز تعلق نیسی فعل مذکور پورې فعل سره د فاعله او
سره د مفعول به نه او سره د متعلقینو نه جمله فعلیه خبریه معطوفه، معطوف
علیه سره د معطوف نه په تأویل د مصدر سره معطوفةٌ علیها، واو حرف
عاطفه أنْ ناصبه مصدریه، یُخصص فعل مضارع معلوم واحده مذکر
غائبه، ضمیر د هو پکښې مستتر دې هغه ورله فاعل شو، رسول، مضاف
ه مضافٌ الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبین. محمدًا موصوف
اشرف اسم تفضیل مضاف البریات، فاعل مضاف الیه مضاف سره د مضاف
الیه نه صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه بیان د مبین شو،
مبین سره د بیان نه معطوف علیه، با جار افضل مضاف، الصلٰوة مضافٌ
الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه
ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور ر یخصص پورې، واو حرف عاطفه
آل مضاف ه مضافٌ الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف المنتجبین
صفت، موصوف سره د صفت نه معطوفة علیه، واو حرف عاطف، اصحاب
مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضافٌ الیه نه
موصوف، المنتجبین صفت، موصوف سره د صفت نه معطوف، معطوف
علیه سره د معطوف مفعول به د فعل، با جار، اکمل مضاف التحیات مضاف
الیه، مضاف سره د مضافٌ الیه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه دا ظرف
لغوه تعلق نیسی، فعل مذکور (یخصص) پورې فعل سره د فاعله او سره د
مفعول به او سره د متعلقینو نه جمله فعلیه خبریه په تاویل د مصدر سره

Maktaba Tul Ishaat.com

ثاني دفعل (فسأل) شو فعل معطوف، معطوفة عليها سره د معطوف نه مفعول ثاني دفعل (فسأل) شو فعل
معطوف، معطوفة عليها سره د متعلقونو نه جمله فعليه خبريه سره د فاعله او سره د مفعولبونو نه، او سره د متعلقونو نه جمله فعليه خبريه
سره د فاعله او سره دمفعولبونو نه، او سره د معطوف نه معطوف شو د پاره د معطوفة عليها
معطوف، معطوفة عليها سره د معطوف نه تعليل (علت) دمعلل شو، معلل سره دتعليل
معطوفة عليها سره دمعطوف نه تعليل (علت) دمعلل شو، معلل سره دتعليل معطوفة عليها سره دمعطوف نه او سره د خبر (حمد مبدع الخ) نه
نه خبر د انّ شو، انّ سره د اسم (ابهي) او سره د خبر (حمد مبدع الخ) نه
جمله اسميه استدائيه لا محل لها من الاعراب،

وَبَعْدُ فَقَدْ طَالَ إِلْحَاحُ الْمُشْتَغِلِيْنَ عَلَيَّ وَالْمُتَرَدِّدِيْنَ إِلَيَّ أَنْ أَشْرَحَ لَهُمُ الرِّسَالَةَ الشَّمْسِيَّةَ وَأُبَيِّنَ فِيْهِ الْقَوَاعِدَ الْمَنْطِقِيَّةَ، عِلْمًا مِّنْهُمْ بِأَنَّهُمْ سَأَلُوْا عَرِيْفًا مَاهِرًا وَاسْتَمْطَرُوْا سَحَابًا هَامِرًا،

**ترجمه**:- بسم الله، ثناء او درود شريف نه پس ما سره د علم شغل ساتلو (متعلمين) او ما ته راتلو راتلو (الا د متعلمين او معلمين، (متعلمين) او (په غرض د فائده حاصلو) تلو راتلو زياتي شو چه زه د رسالے شمسيه شرح اوليکم اصرار او مطالبه د اندازے نه زيات شوچه زه د رسالے شمسيه شرح اوليکم او په هغے کښ منطقي قواعد بيان کړم، ځکه چه هغوئ ته دا علم وو چه هغوئ د يو داسے لائق او هنرمند سړي نه درخواست کړے دے او د يو ډير وروونکي وريځے نه د باران غوښتنه کړے ده،

**توضيح اللغات**[٢]:- اول د بعد تحقيق لږ د وستو راځي دويم صيغه واحد مذکر فعل ماضي معلوم، د (ن) نه په معني د اوږد کيدو دويم الحاح مصدر دے د باب افعال نه په معني د اصرار او هميشه والي، يقال الَحَّ السحاب دامَ مطره خلور م مشتغلين جمع مذکر اسم فاعل د باب افتعال جمع د مشتغل ده پنځم مترددين صيغه د جمع مذکر اسم فاعل د باب تفعل جمع د متردد ده په معنی د بيا بيا راتلل دی، رجع مرّةً بعد أخرى شپږم: اشرح صيغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم د باب تفعيل نه په معنی د وضاحت او تفصيل سره اووم الرساله دے "چه په لغت کښ مايرسل الى الغير ته وائي" او په اصطلاح کښ تعريف شويدے، كتابٌ يشتمل على قليل مِّنَ المسائل تكون في موضوعٍ واحدٍ او بعض حضراتو تعريف په دے الفاظو کړے دے، ما صَغُرَ جسمُهُ و كَبُرَ علمُهُ د دے ضد قاموس ده يعني ما كَبُرَ جسمُهُ وصَغُرَ علمُهُ والكتاب عامٌ اتم الشمسية ياء او تاء نسبتيه دی، او ياء نسبتيه دی ته وائي چه تعبير توسے نه کوله شي په منسوب سره، او د صفت د پاره موصوف محذوف وي، يا مذکور وي



او ملحق ديا نسبتيه سره دخول د الى حرف جر منسوب اليه وي، لکه رجلٌ كوفيٌ اے منسوبٌ الى الكوفة، نو شمسيه معنى منسوب الى شمس الدين شوه،
نهم قواعد، جمع قاعدة ده، په معنی د اصل کلي سره (القواعد المنطقية) يا د دے هم نسبت د پاره ده اے نسبة الى المنطق، پس په دے مقام کښ څلور احتمالات دی (١) مراد د منطق نه ملکات شي د قبيلے د نسبت د شي خپلے ملکے ته (٢) مراد د منطق نه ادراکات شي، د قبيلے د نسبت د شي خپل متعلق ته (٣) منطق نه مراد مسائل منسوبٌ اليه دی د قبيلے د نسبت د جزء کلي ته، ځکه چه مسائل د منطق ډيردی او دی کتاب کښ چه کوم مسائل ذکر دی هغه بعض دی (٤) د انسبت د قبيلے د نسبت د شي خپل نفس ته دی، مبالغةً حتى انهٗ لا منطقَ الا مسائل الرسالة يولسم[١١] علمًا منصوب دی دوجه د دے چه دا مفعول له دی د پاره د طال او يا حال دی د مشتغلين نه، دولسم عرّيف. مبالغه د عارف ده په معنی د کثير العرفان سره لکه صديق مبالغه ده د صادق، ديارلسم[١٣]: ماهرًا صيغه واحد مذکر اسم فاعل ده د (ن) (ف) په معنی د پوهې او حاذق سره څلورلسم[١٤]: إِستَمطَرُوا، صيغه د جمع مذکر غائب فعل ماضي معلوم د باب استفعال نه په معنی د باران طلب کولو، پنځلسم[١٥] سحاب په معنی د وريځے شپاړلسم[١٦] هامرًا: صيغه د واحد مذکر اسم فاعل ده د (ن) باب نه په معنی د وريځے ډير بهيد ونکي - يقالُ سحابٌ هامرٌ. اى سيالٌ كثيرٌ،

## " زاد السعد في مباحث اما بعد "

**تشريح**:- زه ده کره د اخبره چه په دے مقام کښ اته[٨] مباحث دی (١) په طريقه د استعمال د دے لفظ کښ (٢) اول قائل د ما بعد کښ (٣) حکم شرعي (٣) مواضع د استعمال د دے کښ پنځم[٥] په اصل د امّا بعد کښ، (٦) وجوهٔ د اعراب د ما بعد کښ (٧) په حکم د واو د و بعد کښ (٨) په حکم د فا کښ،

**تفصيل المقام**:- پس دا لفظ په دوه[٢] طريقو سره مستعمل دے (١) اما بعد، وهو المروى في الاحاديث وهو الاحسن (٢) وبعد، او اول قائل د دے کلمے باره کښ اختلاف واقع شوے دے، چه (٨) اقوال پکښ دی، (١) اول قائل د دے لفظ حضرت داؤد عليه السلام دے، او "وآتيناه الحكمة وفصل الخطاب" نه دا مراد دے على تفسير، واختار هذا القول الحافظ ابن حجر والفقيه ابن عابدين وكثيرٌ من المفسرين (٢) قائل د دے قسي بن ساعده دے (على ما قيل) (٣) اول قائل كعب بن لؤي (جد رسول الله صلى الله عليه

لکه النحو بعد الصرف، او کله کله د تاخر دشئ دپاره هم راځی، لکه الحجاج بعد عبد الملك، و فی لقط الدرر شرح لنخبة الفکر ص۲۱) وَبَعدُ ظرف زمان کثیرًا وظرف مکان قلیلًا فباعتبار من النطق هی ظرف زمان وباعتبار الرسم هی ظرف مکان - انتهی، پس زده کړه داخبره چه مضاف الیه د بعد یو خالی نه وی، یا به مذکور وی او یا به محذوف وی، که مذکور وی نو معرب شی او که محذوف وی نو یا به خالی نه وی یا به حذف وی په حذف نَسیًا منسیًا سره، نو بیا هم معرب او که حذف وی په حذف منوی سره نو په دے کښ څلور احتماله دی (۱) اما بعد اے بعد الکلام المذکور من الحمد والصّلوٰة (۲) اَمّا بعد: اے بعد ما بلغنی من الخبر او ما مرنی فلانٌ (۳) اما بعد اے بعد دعائی لك (۴) بعد ای بعد ماردت او نوبتُ، او قرینه په تعین د مضاف الیه کله حالیه وی او کله لفظیه وی، والامر سهلٌ، نو په دے صورت کښ بعد مبنی شی او چه د اضافت نه قطع شی نو په دے کښ څلور احتماله کیدے شی، (۱) ضم الدّال بلا تنوین (۲) رفع الدال بتنوین (۳) فتح الدال بدون تنوین (۴) نصب الدال مع التنوین، او هرچه توجیهات د واو دی په وبعد کښ نو هغه څلور دی (۱) عطف القصة علی القصة (۲) مطلق العطف (۳) استیناف (۴) د امّا شرطیه نه عوض اګرچه غوره او مسنون اما بعد ویل دی، لیکن من لم یدرك کله لایترك کله، او خاصکرچه مقام تقاضی داختصار کوی،

او بیان د توجیهات دفاء داشان دے، چه دا اصل سوال راځی، او هاصل د سوال دا دے، چه دلته آیا فنشته او فا راغلے ده، او فاء راځی دپاره دجزاء او یا دپاره دتفصیل، او یا دپاره د تفریع او یا دپاره د تعلیل، والکلُّ باطلٌ لعدم الشرط والاجمال والمتفرع علیه والمعلل فیها قبله، اوّل جواب دا دے، چه واو د عطف دپاره دے او فاء سبب دپاره ده دوئم جواب دا دے چه دلته امّا مقدر دے نو فاء څکه راوړے شوه، لیکن دا جواب څکه بیکاره دے چه شیخ رضی وائی چه امّا په هغه ځائے کښ مقدر منلے شی، چه فاء نه پس امر یا نهی واقع وی او ددې ماقبل منصوب وی، لکه ربّك فکبّر، جواب دریم دا دے چه فاء هم عطف دپاره دے، دبه قال العلامه الدمیامنی رحمه الله" جواب څلورم دا دے الفاء زائدة والواو للعطف، جواب پنځم واو عوض د امّا شرطیه دے او فاء د جزاء دپاره شوه، جواب شپږم دا دے دلته توهم د امّا دے و به قال السید



لفظ سبحان دے،
وسلّم) دے کما فی الفتح ص۳۲۲/ج۲ (۴) قائل اول د دے یعقوب علیه السلام (۵) قائل د دے لفظ یعرب بن قحطان (ابو الیمن) دے (۶) پنځم قائل د دے لفظ آدم علیه السلام (۸) آدم علیه السلام) وقد نظم بعضهم ٥
(۷) ایوب علیه السلام (۸) آدم علیه السلام ÷ خمسة اقوال و داؤد اقرب،
جری الخلف اما بعد من کان بادئًا ÷ نقس منحبان فکعب فیعرب
وکانت له فصل الخطاب و بعده ÷ وقیل الی ایوب آدم تنسب
روی الدارقطنی ان یعقوب قائلها ÷

استعمال د امّا بعد په خطبو او رسالو کښ اتحکم شرعی د دے لفظ دا دے چه حکه چه نبی علیه السلام او خلفائے راشدینو رضی الله عنهم به په خطبو او رسالو کښ دا لفظ استعمالولو - الفتح ص۳۲۳ عمدة القاری مستحسن بلکه سنت دی، ص۲۲۱/ج۲۴ شرح مسلم للنووی ص۲۸۵/ج۱ او مواضع د استعمال د دے لفظ څلور دی (۱) استیناف (۲) تبعیض (۳) صدر الکلام مطلقًا (۴) تاکید، او اصل د امّا کښ دا حرف بسیط دے او کلمة برأسها ده و هو قول سیبویه نحوی وهو الحق وعلیه الجمهور (۲) امّا په اصل کښ مهما وو هاء په همزے سره دقرب مخرج دوجه نه بدله شوه نو مَا مَا ترے جوړشو بیا همزه مقدّم کړے شوه نو اما ترے جوړشو وبه قال الخلیل وهو المشهور (۳) امّا په اصل کښ اِنْ وَمَا وو د ستوترے نه مازیات کړے شو بیا نون په میم کښ مدغم کړے شو، د وجے د قرب نه اِمّا شو، بیا کسره د همزے په فتح سره بدل کړے شوه چه التباس د امّا تردیدیه سره را نشی نو اما ترے جوړشو وبه قال البعض (۴) اما په اصل کښ ما ما وو، اجتماع د میمینو مستکره وو نو الف په همزے بدل شو بیا همزه مقدم کړے شوه، بیا میم په میم کښ مدغم کړے شو نو اما ترے جوړ کړے شو علی ما قال الرضی، (۵) امّا مرکب دے د مَه او مَا نه او اعلال ئے ظاهر دے وبه قال الاخفش والزّجاج، او وجوه د اعراب د بعد په دغه شان دی، چه لفظ د بعد په اصل کښ د ظرف مکان د پاره دے او ظرف زمان دپاره هم قلیلا راځی، امام راغب رحمة الله په مفردات اللّغة کښ ذکر کړیدی چه لفظ د بعد تاخر منفصل دپاره راځی، لکه جاءَ زیدٌ بعد عمرو، او تاخر متصل دپاره هم راځی، لیکن غالب استعمال تاخر زمانی د ے لکه زمان المنصور بعد زمان عبد الملك او کله کله د ظرف مکان پاره هم راځی، لکه دار زید بعد دار عمرو، او کله کله ترتیب صناعی کښ هم استعمالیدشی،

Maktaba Tul Ishaat.com

شي يف رحمة الله، ولكن التوهم يوهم التوهم، جواب اوّم دلته بعد قائمقام شي يف رحمة الله، ولكن التوهم يوهم التوهم تعالى كښې واذلم يهتدوا به فسيقولون هذا دشرط دے لکه په دے قول د الله تعالى کښې واذلم يهتدوا به فسيقولون هذا دشرط دے چه دا نا دنا ئنده دے،

انك قديم، جواب اتّم دا دے چه دا نادنائنده دے،

قوله فقد طال :- غرض دشارح په دے عبارت سره بيان دا مورونلا تو دے، ځکه چه کله يوشارح دليکلو په نيت قلم پورته کوی نو ترهرڅه ترمخه ورته دا يو ښتنی مطرح کيږی، (۱) علماء او مصنفين ډيردی دے تصنيف ته خه ضرورت ووَ (۲) تصنيف په معهود (منطق کښې ولے وکړے شو حالانکه علوم ډيردی (۳) متون ډيرووَ نودرسالهٔ شمسيه شرحه يکل ئے ولے متعين کړو،

نوشارح دِدے ځائے نه ترمتن پورے بيان ددے توجيها توکوی، سوال شارح خو په دے عبارت کښې خپل صفتونه کوی، حالانکه دا شرعًا ناروا دی و في الخبر مَنْ قالَ اَنَا فليسَ بشئٍ،

جواب: مراد دشارح په دی عبارت سره دا دے چه الله تعالى په علم سره تعظيم دشارح کړيدے کيف و قد قال عليه السّلام، ليس مِنّا من لم يتعاظم بالعلم، او شارح په دے کښې مسلك د محدثينو غوره کړيدے او دا تحديث بالنعمة دے او په دے کښې دِدے قول د فقهاؤ ته اشاره ده چه ينبغي لِلانسان شهرة عِلمِه، قال تعالى واما بنعمة ربك فحدّث،

قوله عِلماً منهم: علماً منصوب دے او د نصب دپاره طرق عديده دی نو په کومه طريقه منصوب دے، جواب دا مفعول له دے دپاره د طال، سوال، مفعول له کيدو دپاره شرط د نصب تقدير د لام دے او تقدير د لام مشروط دے په شروطِ ثلاثه سره (۱) چه دا به حدث وی (۲) اتحاد د فاعل د فعل معلل به او د مفعول له کښې (۳) مقارنت في الزمان دلته شرط ثاني مفقود ځکه دے چه فاعل د علماً مشتغلين دے او فاعل د طال الحاج دے، اوّل جواب دا دے چه دلته دوه مذهبه دی، يو مذهب د جمهورو دے او بل مذهب د بعضو او د ابنِ هشام دے نو دا شرط په نيز د جمهورو دے نه په نيز د بعضو باندے دوّيم جواب دا دے، چه اتحاد في الفاعل شته، ځکه چه طال په معنی د اَطال دے، ذکر د لازم او مراد ترينه ملزوم دے، پس فاعل د اَطال مشتغلين شو، او فاعل د علماً هم مشتغلين دے (درتيم جواب دا صل اعتراض نه دا دے) چه دا علماً حال دے د مشتغلين نه، نو او س که ته او وے چه حال



خو محمول وی په ذو الحال باندے لکه چه خبر محمول وی په مبتداء باندے نو لازم شو حمل د صرف وصف په ذات مع الوصف باندے، ځکه چه مشتغلين ذات مع الوصف دے نوزه وايم چه علماً مصدر مبنی للفاعل دے په معنے د عالمين سره نو حمل د ذات مع الوصف په ذات مع الوصف راغے و هٰذا جائزٌ شائعٌ سائغٌ،

## (خير العمل في مباحث الحمل)(۸)

زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښې اته مباحث دی (۱) صيغه د حمل (۲) وزن (۳) باب (۴) معنی لغوی (۵) معنی اصطلاحی (۶) نسبت بين المعنيين (۷) اقسام اولی د حمل (۸) اقسام ثانوی د حمل

**تفصيل المقام** :- حمل په وزن د فعل دے د مصدر صيغه ده د (ض) باب نه په لغت کښې بار کېدن ته وائی، او په اصطلاح کښې اتحاد المتغايرين في نحوٍ من التعقل لا بحسب من الآخر من الوجود، او نسبت بين المعنيين، عموم خصوص مطلق دے، پس حَمل په دوه قسمه دے، يو حمل اولی او دوّيم شائع متعارف، حملِ اولی هغه دے چه موضوع عين محمول وی لکه الانسان انسان شو، او شائع هغه دے، چه موضوع عين محمول نه وی، پس حمل شائع په دوه قسمه دے (۱) ذاتی (۲) عرضی، ذاتی هغه دے چه محمول جزوی د موضوع نه لکه الانسان حيوان شو، او عرضی هغه دے چه محمول خارج وی د موضوع نه، لکه الانسان ضاحك شو، پس حمل شائع په دوه قسمه دے (۱) اشتقاقی (۲) مواطاتی حمل اشتقاقی هغه دے چه په واسطه د ذو، يا له، يا في، سره وی، لکه الانسان ذو سواد يا ذو سواد يا له سواد، او حمل مواطاتی هغه دے، چه په دوا سطے د دے اشياء ثلاثه نه وی، لکه الانسان قائم شو،

پس زده کړه دا خبره چه حمل په نهه قسمه دے (۱) حمل د ذات په ذات باندے (۲) حمل د ذات مع الوصف په ذات مع الوصف باندے (۳) حمل د ذات په ذات مع الوصف باندے (۴) حمل د ذات مع الوصف په ذات باندے (۵) حمل د صرف وصف په صرف وصف باندے (۶) حمل د صرف وصف په ذات باندے (۷) حمل د صرف ذات مع الوصف باندے (۸) حمل د وصف مع الذات په ذات باندے (۹) حمل د وصف مع الذات په ذات مع الوصف باندے په دوی کښې شپږم او اوووم غير جائز دی، ځکه چه په ذات قضيه صادقه ده، چه اَنّهٗ لَيسَ بوصفٍ،

او په وصف داتضیه صادقه ده چه انه وصف، اوکون دشی واحد وصفانو وصف نه ده مگراجتماع دنقیضین و هٰذا ظاهر البطلان،

فائده ۱- المشتغلین الخ په دے کښ اشاره ده چه طالب العلم لره لازم دی چه دے همیشه دعلم سره مشغول وی، او مترددین کښ اشاره ده چه طالب دعلم لره پکار دی چه د اهل علم سره تعلق ساتی، او دتلوراتلو سلسله جاری ساتی چه دعلم دفیض نه محرومه نشی، او مترددین عام دی که متعلمین وی وکه معلمین وی، فالعطف من عطف العام علی الخاص،

استعارات:- ذکر دمشبه به (سحاب) مراد ورنه مشبه، (شارح) نودا استعارهٔ تصریحیه شوه او ذکر دلازم دمشبه به چه "استمطار" دے چه ثابت کړے شو مشبه ته دا استعارهٔ تخییلیه شوه، او ذکر دوصف مناسب دمشبه به چه (همز) (هیدل) دی چه ثابت کړے شو مشبه ته نو دا استعارهٔ ترشیحیه شوه،

وَلَمْ اَزَلْ اُدَافِعُ قَوْمًا مِنْهُمْ بَعْدَ قَوْمٍ وَاُسَوِّفُ الْاَمْرَ مِنْ يَوْمٍ اِلٰى يَوْمٍ لِاشْتِغَالِ بَالٍ قَدِ اسْتَوْلٰى عَلٰى سُلْطَانُهٗ وَاخْتِلَالِ حَالٍ قَدْ تَبَيَّنَ لَدَيَّ بُرْهَانُهٗ وَلِعِلْمِيْ بِاَنَّ الْعِلْمَ فِيْ هٰذَا الْعَصْرِ قَدْ خَبَتْ نَارُهٗ وَوَلَّتِ الْاَدْبَارَ اَنْصَارُهٗ اِلَّا اَنَّهُمْ كُلَّمَا ازْدَدْتُ مَطْلًا وَتَسْوِيْفًا ازْدَادُوْا حَثًّا وَتَشْوِيْقًا فَلَمْ اَجِدْ بُدًّا مِنْ اِسْعَافِهِمْ بِمَا اقْتَرَحُوْا وَاِيْصَالِهِمْ اِلٰى غَايَةِ مَا الْتَمَسُوْا

ترجمه:- او ما به همیشه یوه ډله پس له بلے ډلے نه یا بیا لوے کول او یا دا کار (شرح رساله) به مے وروته دیوے ورځے نه بلے ورځے ته ټال کولو (او بهانه به مے ورته کوله چه دا کار به اوکړم) دزړه د مشغولتیا په وجه چه کوم په ما دهغه تسلط غالب وو، او ددے بدل حالت په وجه د هغے ثبوت ما سره ښکاره وو، او د خپل علم په وجه چه نن صبا دعلم اور دومره کمه شوے دے چه د هغے مدد کوونکی لاهم هغے ته شاکړیده خو سره چه ما څه او روستو کول غوښتل دی نو په هغوی کښ شوق او جذبه زیاتیده، پس ما د هغوی مطالبه پوره کولو او مقصود ته د رسولو نه بغیر څه لاره اونه موندله،

توضیح اللغات:- (۱) ازل: صیغه واحد متکلم نفی جحد بلم در فعل مضارع معلوم د (ن) باب نه زوال ختمیدو ته وائی، نو دا یو قسم نفی شو او لم جازمه هم نفی ده، نو نفی چه په نفی داخل شی نو اثبات پیدا کوی،



(۲) اُدَافِعُ:- صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم د باب مفاعله نه په معنی دیو بل د دفع او لرے کول (۳) اُسَوِّفُ:- صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم د باب تفعیل نه په معنی د ټال کول (سوف العمل) (۴) بال په معنی د زړه سره (۵) استولی، صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم د باب استفعال نه په معنی د غالب کیدو سره (۶) سلطان په معنی د دلیل او حجت سره، یقال لهٗ سلطانٌ مُبِيْنٌ. اے حجة بيّنة انه مشتق من السليط، والسليط مَا يضاءُ بِهٖ و لذالك سمّى الزيت سليطًا، (۷) اختلال: صیغه د مصدر د باب افتعال نه په معنی د لاغر شدو (کمزورې کیدل) (۷) لَدَيَّ په یاء مشدده سره په معنی د عندی سره (۸) برهان په معنی د دلیل او حجت سره (۹) خبت صیغه واحدهٔ مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم د باب تفعیل نه په معنی د شاړول، (۱۰) ادبار جمع د دبر ده د هرڅه روستے حصے ته، دُبُرَ كُلِّ شَیٍّ مؤخره وعقبه (۱۱) انصار جمع د ناصر ده (ن) باب نه په معنی د مدد ګار سره (۱۲) ازددتُ: صیغه واحد متکلم د باب افتعال نه په معنی د زیادت سره (۱۳) مطل: په معنی د وروسته کول یقال مَطَلَهٗ (ن) نه فلانٌ حقّ فلانٍ اے سوفه بوعد الوفاء مرَّةً بعد اُخریٰ،

(۱۴) تسویف: صیغه د مصدر ده د باب تفعیل نه ټال کول (۱۵) حَثًّا: صیغه د مصدر ده (ن) نه تیزه ول، (۱۶) تشویق: صیغه د مصدر ده د باب تفعیل نه په معنی د شوق بنول یقال شوّق الیه، اے حمله علی الشوق د الشوق الحب او په بعض نسخو کښ تشوین دے په معنی د مزین، (بناښته) کول،

(۱۷) لَمْ اَجِدْ: صیغه واحد مذکر غائب فعل نفی جحد بلم در فعل مضارع معلوم، په اصل کښ اوجد دو، واو د معلومے قاعدے مطابق حذف شو (۱۸) بُدًّا په ضمے د باء سره او په تشدید د دال سره په معنی د چاره - څه د خلاصے لاره (۱۹) اسعاف: صیغه د مصدر ده د باب افعال نه په معنی د حاجت پوره کولو. یقال اَسْعَفَهٗ بحاجته اے قضا حاجتهٗ، (۲۰) اقترحوا: صیغه جمع مذکر غائب فعل ماضی معلوم، د باب افتعال نه اقتراح په معنی د سوچ کولو نه سوال کول یقال اقترحَ البئرَ حفرها فی موضع لم يُحْفَرْ فيه اولم يكن فيه ماءٌ (۲۱) ایصال صیغه د مصدر ده: د باب افعال نه په معنی د رسولو (۲۲) اِلْتَمَسُوْا: صیغه جمع مذکر غائب فعل ماضی معلوم د باب افتعال نه التماس د مساوی نه طلب کول،

Maktaba Tul Ishaat.com

**تشریح**:- قوله ولعلی ازل ادافع الخ غرض د شارح په دے عبارت سره د تاخیرِ اجابت د پاره دوه وجے د تاخیرِ اجابت عذر بیانول دی، پس شارح د تاخیرِ اجابت عذر بیانوی دی، اول د مصروفیانو نه نهٔ ارزګاریدل ذکر کړی دی اولے وجے د پاره دوه شقه دی، اول د مصروفیانو نه نهٔ ارزګاریدل ذکر کړی دی او الیه اشار بقوله لاشتغال الخ
(۲) غربت او مرض وغیره کښ ګیریدل و الیه اشار بقوله لاشتغال الخ
او دویمه وجے د پاره هم دوه شقه دی (۱) چه دا دور دا سے بیکاره دور دے چه خلق په تعلیم کښ ترغیب نه کوی (۲) دا چه خلق په تعلیم کښ ترغیب خولا تحصیل او تعلیم د علم ته شوق نه کوی
(مینه) نهٔ کوی ای ان العلم فی زمانی هذا قد بلغت حالته الی ان لا یشاق الا تحصیلہا المتعلمون و لا یرغب الی تعلیمه المعلمون، والیه اشارة بقوله ولعلی الخ

سوال: ادافع د باب مفاعله نه دے او د باب مفاعله خاصیت مشارکت دے نو معنیٰ دا شوه چه شارح مطالبه کوونکو لره لرے کول او دوی شارح لره لرے کول نو دا نه ده مګر بے ادبی ده و هو ممنوع.

اول جواب دا دے چه باب مفاعلت کله کله مبالغے د پاره هم راځی نو دلته هم دفع مبالغه مراد ده، نو مقصد د شارح دا شو چه ده به هغوی لره باربار دفع کول
دویم جواب دا دے: مطالبه کوونکو د طرفه کثرت طلب او د شارح له طرفه دفع کول کښ د مشارکت معنیٰ موجوده شته، یعنی یو جانب نه مشارکت حقیقی دے او دبل جانب نه مشارکت حکمی دے دریم جواب دا دے چه دلته باب مفاعله په معنیٰ د مجرد سره دے پس ادافع په معنیٰ د ادفع سره دے، سوال: تالیف او تصنیف په قسم د علم دے تر دے چه بعض علماء وائی: التالیف افضل من التدریس نو شارح ولے انکار کوی، او نبی علیه السلام فرمائی، من سئل عن علم علمه فکتمه الجم بلجام من النار الحدیث "

جواب تاخیرِ اجابت د خه عذر د وجے نه وو او دے ته کتمان نشی ویلے والدلیل علیه قوله لاشتغال الخ جواب مضماً لنفسه جواب دا طریقے اختیار کړه د پاره د تشویق، لان الانسان حریص فیما منع الخ

قوله ولعلی بان العلم الخ دا د تاخیر دویمه وجه ده او د لعلی په ابتداء کښ چه کوم لام دے په دے کښ دوه احتماله دی (۱) دا لام جاره مکسوره دے او عطف دے په لاشتغال بال باندے نو دغه احتمال سره دا تسویف او د تاخیر اجابت د پاره دویمه وجه کرځی وهو الانسب، پس اول لفظ علم نه مراد معنیٰ لغوی ده، او دویم لفظ د علم نه مراد علمِ عرفی دے یعنی مسائل مدونه منطقیه



مراد دے او یا په بأن الخ کښ متعلق دے ته لعلی پورے (۲) واو په ولعلی کښ قسم د پاره دے او لام د پاره د تاکید مفتوحه دے، او مقسم به مقدر دے یعنی لَاُقْسِمُ بِاللّٰهِ لعلی بِاَنَّ الْعِلْمَ الخ تقدیر نه ضرورت حُکه راغے چه قسم غیر الله جائز نهٔ دے پس په دے احتمال کښ به دوارو ځایونو کښ (علی بان العلم) علمِ عرفی (مسائل مدونه منطقیه) مراد دے او باپه به دے احتمال کښ زائده کرځی، ځکه چه دا قول د ده بانّ العلم الخ جواب قسم کرځی او جواب قسم نهٔ وی مګر جمله مستقله،

**استعارات**:- خبت نارهٔ الخ ذکر د نار (مشبه به) مراد ورانه جذبه او شوق د متعلمینو ، (مشبه) دا استعاره مصرحه شوه او خبو (سړیدل مړکیدل) لازم د مشبه به دے چه ثابت کړے شو مشبه ته دا استعارهٔ تخییلیه شوه، قوله مطلاً: مطل په اصل کښ امتناع د .. دا کول د قرض نه وائی سره د قدرت نه نو شارح ځان د هغه قرضدار سره مشابه کړو چه قادر وی په اداکولو د قرض باندے پس دا استعارهٔ مکنیه شوه، او مطل تاخیر وره لازم یا مناسب دے نو دا استعارهٔ تخییلیه یا ترشیحیه شوه،

فَوَجَّهْتُ رِكَابَ النَّظَرِ اِلٰى مَقَاصِدِ مَسَائِلِهَا وَسَخَّبْتُ مَطَارِفَ الْبَيَانِ فِي مَسَالِكِ ..... دَلَائِلِهَا وَشَرَحْتُهَا شَرْحًا كَشَفَ الْاَصْدَافَ عَنْ وُجُوهِ زَوَائِدِ فَوَائِدِهَا وَنَاطَ اللَّآلِيَ عَلٰى مَعَاقِدِ قَوَاعِدِهَا وَضَمَمْتُ اِلَيْهَا مِنَ الْاَبْحَاثِ الشَّرِيفَةِ وَالنُّكَتِ اللَّطِيفَةِ مَا خَلَتِ الْكُتُبُ عَنْهُ وَلَا بُدَّ مِنْهُ بِعِبَارَاتٍ رَائِقَةٍ تُسَابِقُ مَعَانِيهَا الْاَذْهَانَ وَتَقْرِيرَاتٍ شَائِقَةٍ يُحِبُّ اِسْتِمَاعَهَا الْاٰذَانُ وَسَمَّيْتُهُ بِتَحْرِيرِ الْقَوَاعِدِ الْمَنْطِقِيَّةِ فِي شَرْحِ الرِّسَالَةِ الشَّمْسِيَّةِ،

**ترجمه**:- نو ما د نکراو د نظر سورلۍ د مقاصدو د رسالے طرف ته متوجه کړو او په لارو د دلیلو نو د مسئلو کښ د بیان او وضاحت ریښمی او کلدار څادرونه را بنکلو، او دے (رسالے) لره دا سے شرحه اوکړه کومه چه د دے رسالے د فائدو د بنکلو ملغلرو د مخونو نه سیپے پرده اوچته کړه، او غاړو د قواعدو د دے رسالے باندے ملغلرے فواره راواچولے او نورما په دے کښ دا سے عمده غوره بحثونه او نازکو" مزید ارو" نکتو اضافه اوکړه د کوم نه چه عام کتابونه ادب فن" خالی دی، او حالانکه دا ضروری دی په دا سے خوښن کړے عبارتونو سره چه د هغے د معانی طرف ته ذهن مائل کیږی او په دا سے نره راښکونکو تقریرونو

سره چه د هغې په آرایه وغوړونه خوشحالیږي ما د دے شرح نوم
"تحریر القواعد المنطقیه فی شرح الرّسالة الشمسیة" اینبودے دے،

**توضیح اللغات**[٣٥]:- وجهت: صیغهٔ واحد متکلم فعل ماضی معلوم باب تفعیل نه توجیه مخ اړول دیوشی ته (٢) رکاب یا جمع د رُکبٌ ده مایعلق فی السّرج فیجعل الراکب فیه رجلهٔ یعنے دزین هغه حصه چه راکب (سوار) په خپلے خپے ایږدی، او یا داچه رکاب نه دَے د فعال وزن دَے په معنٰے د مرکوب سره د لکه چه کتاب په معنٰے د مکتوب کے، اے مرکوبُ النظر(٣) النظر: صیغه د مصدر دَے د (ن) نه په لغت کښ کتلو اوتا مُل ته وائی،

**فائده**:- د نظر په صله کښ چه کله فی راشی نو په معنٰے د فکر سره به وی او کله چه صله کښ اِلی راشی، نو په معنیٰ د رؤیت سره وی، او کله چه په صله کښ لام راشی نو په معنیٰ د رحمت سره وی، او کله چه علیٰ راشی نو په معنیٰ د غضب سره به وی، او کله چه بین راشی نو په معنٰے د حکم، فیصلے سره راځی لکه نظرت بین القوم اے حکمت بینهم، والواق ظاهرة، او په اصطلاح کښ ترتیب امورٍ معلومةٍ لِلتَّادِی اِلی مجهولٍ (٥) مسائل، جمع د مسألة ده، او مسئلة صیغه د ظرف ده په معنیٰ د ځائے د سوال سره او یا مصدر میمی دَے په معنیٰ د حاجت او مطلب سره، او په اصطلاح کښ مایطلبُ علمهٔ وتدوینهٔ و یصلحُ للسوال عنهٔ او تا په کښ د وصفیت نه اسمیت ته نقل ده (٦) تحجّبتُ: صیغهٔ واحد متکلم فعل ماضی معلوم د (ف) نه په معنٰے د رابنکلو سره یقال فلان سحب الخیط اذا مرّه - (٧) مَطَارِف جمع د مِطرف ده او مطرف رداءٌ مزین فیه خطوط یعنے هغه څادر چه نقش دار وی، او پکښ کرچے وی، ګلدار رینبمی څادر (٨) بیان: قد مرالبحث فیه (٩) مسالك: جمع د مسلك ده او مسلك مصدر میمی دَے د (ن) نه په معنیٰ د لاره (١٠) دلائل جمع د دلیل ده، او دلیل په لغت کښ رهنمائی (لارخودنے) ته وائی، او په اصطلاح کښ په نزد د حکماؤ مانه مایلزمُ من العلمِ به العلم بشئ آخر، لکه العالمُ متغیّرٌ وکلُّ متغیرٍ حادث فالعالم حادثٌ، او په نیز د اصولیانو باندے، مایمکن التّوصّلُ بصحیح النظر فیه الی مطلوبٍ جزئیٍّ لکه یو سړے د عالم په احوال صحیح کښ سوچ اوکړی نو هغه د او واضح کړی چه عالم کښ بدلون راځی او کوم څیز کښ چه بدلون راځی هغه نه وی مګر حادث وی نو عالم هم حادث شو (١١) اصداف جمع د



صدفة یا صدف ده په معنٰے د سیپے (غلاف اللؤلؤ) (١٢) وجوه جمع د وجه ده مخ ته وائی (١٣) فرائد جمع د فریدة ده (الجوهر النفیس) بے مثاله قیمتی ملغلره (١٤) فوائد: جمع د فائدة ده، او فائدة صیغهٔ واحده مؤنثه اسم فاعل ده د (ض) نه او فائده ما استفادهٔ الانسان من مالٍ او علمٍ ته وائی (١٥) ناط: صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ده د (ن) نه نوط په معنیٰ د زوړولو سره یقال نیط علیه الشئ ای علّق علیه (١٦) لآلی: جمع د لؤلؤ ده او لؤلؤ جمع د لؤلؤة ملغلره (١٧) معاقد جمع د معقد ده، او معقد صیغه د ظرف ده د (ض) نه په معنٰے د ځائے د تړلو او چول سره (١٨) قواعد جمع د قاعدة ده وقد مر معناها (١٩) ضممت: صیغهٔ واحد متکلم ده د (ن) نه په معنیٰ د جمع کولو (٢٠) ابحاث: جمع د بحث ده او بحث صیغه د مصدر ده د (ف) نه بحث په لغت کښ طلب الشئ تحت التراب ته وائی - ومنهٔ فبعث الله غرابا یبحث فی الارض، او په اصطلاح کښ اثباتُ النسبةِ بین الشیئین بطریق الاستدلال ته وائی (٢١) نکت جمع د نکتةٌ ده لکه دررٌ چه جمع د درّة ده، نکته په لغت کښ داغ ته وائی، د (ن) نه او په اصطلاح کښ مسئلة لطیفةٌ اخرجت بدقةِ نظرٍ وامعانِ فکر ته وائی، (٢٢) خلت، صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم د (ن) باب نه خالی کیدل (٢٣) لابُدَّ منهٔ، معنیٰ حقیقی د لابُدَّ لا مفارقة ده، او معنیٰ لازمی د لابُدَّ وجبَ اولزِمَ ده، وجهُ اللزوم انهٔ مشتق من قولهم "بدا لامر وتبدد" اذافرق وتفرق یقال جاءتِ الخیل بدادًا اے متفرقةً (٢٤) عبارات، جمع د عبارت ده او عبارت په لغت کښ د (ن) نه په معنیٰ د بیان سره، کما یقال فلان حسن العبارة ای البیان، او په اصطلاح کښ الالفاظ الدالة علیٰ معنیً ته وائی (٢٥) رائقة: صیغه واحده مؤنثه اسم فاعل د (ن) نه روق په معنٰے د غوره او بنائسته (٢٦) فتابق:- صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل مضارع معلوم د باب مفاعله نه په معنٰے دیو بل نه وړاندے کیدل (٢٧) معانی: جمع د معنیٰ ده او معنیٰ په لغت کښ صیغه د ظرف ده او یا صیغه د مصدر میمی ده، او یا صیغه د اسم مفعول ده د (ض) نه په معنیٰ د قصد کولو سره، او په اصطلاح کښ مایقصدُ من شئٍ ته وائی (٢٨) اذهان جمع د ذهن ده وقد مرّ معناهٔ (٢٩) تقریرات، جمع د تقریر ده او تقریر په لغت کښ اثبات ته وائی، او په اصطلاح کښ اثبات شئٍ فی قرارهٖ ته وائی، او دلته ترے مراد عبارات دی (٣٠) شائقه: صیغهٔ واحده مؤنثه اسم فاعل ده د (ن)

Maktaba Tul Ishaat.com

تعجب صیغه واحده مؤنثه (۳۱) ارزو سره راځي او آرزو په معنی د محبت او شوق په معنی د تعجب کښ استعمال کیږی او تعجب دے فعل مضارع معلوم ده "دَش" نه په معنی د تعجب کښ اچول او تعجب دے ته وائی چه د لے خیز ادو ینی چه ورته حیران شی گویا چه تا دا سے خیز نه وی لیدلے انفعال النفس عما خفی سَبَبُهُ (۳۲) استماع: صیغه د مصدر ده د باب افتعال نه غوږ ایښودل (۳۳) آذان جمع د اُذُنْ ده غوږ (۳۴) سټن صیغه واحد متکلم فعل ماضی معلوم د باب تفعیل نه نوم ایښودل (۳۵) تحریر صیغه د مصدر ده، د باب تفعیل نه تحریر په لغت کښ التخلیص من الرق یعنی د غلامۍ نه آزادول ته وائی، وعنهٔ قوله تعالیٰ (حکایة عن قول امرأة عمران) رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا، او په اصطلاح کښ التخلیص من الصعوبة ته وائی

**تشریح** ۱- قوله مَا خَلَتِ الكُتُبُ عنهُ: سوال ما په ماخلت الکتب کښ مبین دے، او من الابحاث الشریفة ئے بیان دے، قانون دا دے چه مبین مقدم وی په بیان باندے او دلته تا بیان مقدم کړیدے په مبین باندے، اول جواب: تقدیم ما حقهٔ التاخیر، یفید الحصر و الاختصاص، او دلته حصر او اختصاص دا دے چه ابحاث شریفه او نکته لطیفه، په کتب سابقو کښ نه وو صرف دا په کتاب کښ موجود دی دوئیم جواب دا دے چه کما کتاب ته تقدم بالشرف حاصل دے، ځکه چه دلته مقصود وجود د ابحاث شریفه او نکت لطیفه وُ ده، او هر چه خالے والے د کتب سابقو دے نو دا غیر مقصود دے قوله ولا بُدَّ فیه الخ غرض په دے عبارت سره د شارح جواب د سوال مقدر دے، حاصل د سوال دا دے، چه هر کله په کتب سابقو کښ دا ابحاث او نکتے موجود نهٔ وے نو مقصود دَ به نهٔ وے، او هر غیر مقصود دا لائق بالترك وی نو هغوئی ځکه پریخودے دی، او حاصل د جواب دا دے چه دا ابحاث او نکتے ما لا بد منهٔ، او هر ما لا بُدَّ مِنْهُ مقصود بالذکر وی، نو ما هم ذکر کړل. قوله بعبارات النائق. غرض په دے عبارت سره د یو اعتراض جواب کول دی، حاصل د اعتراض دا دے چه تا په دا ابحاث شریفه او نکت لطیفه په دا سے عبارتو نو سره راوړی دی چه حصول د مراد ورنه مشکل وی نو بیا خو دا ابحاث شریفه او نکته ئی لطیفه چندان مفید نشول، او حاصل د جواب دا دے چه ما دا ابحاث شریفه او نکت لطیفه په دا سے عبارتو نو سره راوړی دے چه فهم د مراد ورنه اسهل وے، قوله بعبارات الخ، دا جار مجرور



ترضمت پورے متعلق دَے، او فاعل د تسابق کښ یو څو احتمالات دی، (۱) تسابق فعل شی او معانیها ورله فاعل شی او مفعول به محذوف ده، چه هغه ایاها ده، او ایاها کښ ضمیر راجع دَے عباراتو ته، او الاذهان منصوب شی بنزع الخافض اے الی الاذهان نو تقدیر د عبارت دا سے شو تسابق معانیها ایاها الی الاذهان (۲) تسابق فعل دَے او الاذهان ورله فاعل دَے، او معانیها ورله مفعول به دَے او مسابقت په معنی د وصول سره دَے اے تصل الاذهان الی معانیها قبل اتمام المتکلم عباراتها، لیکن په دے احتمال ثانی باندے اعتراض وارديږی، او هغه دا چه اصل خو تقدیم د فاعل دَے په مفعول به باندے او دلته مفعول به مقدم شویدَے په فاعل باندے دا خلاف الاصل دَے، او مؤلف عمده دَے، او خلاف الاصل چه په عباراتو د عمده کښ واقع شی نو لا بد وی د نکتے نه فما النکته هٰهنا- جواب اصل په ضمیر کښ ارجاع ده قریب ته او په معانیها کښ ها ضمیر راجع وُ عباراتو ته نو مفعول به ئے مقدم کړو، چه ارجاع د ضمیر قریب ته راشی، او فرق لفظی په مابین د احتمالینو کښ ظاهر دَے، او فرق معنوی پکښ دا دَے چه د الفظ د مسابقت په اول احتمال کښ په خپل معنی ده، او په دوئیم احتمال کښ په معنی د وصول سره دَے،
قوله وسمیته بتحریر الخ: زده کړه د اخبره چه اسامی د کتبو (د کتابونو نومونه) د کومے قبیلے نه دی، یو اسم جنس دے، او بل علم جنس دے او بل علم شخص دَے، فرق په مینځ د دوی کښ دا دَے، چه یا به وضع وی د پاره د ذات معینه مشخصه او یا به نفس طبیعت کلی د پاره، که اول وی نو علم شخص شو او که ثانی وی نو بیا به خالی نه وی، یا به لحاظ د حضور او تعین ذهنی وی، او یا به نه وی، اول علم جنس شو، او ثانی اسم جنس شو "آمدم بر سر مطلب" اسامی د کتب اسم جنس نه صحیح کیږی، ځکه چه بیا به صحیح شی اطلاق په ټولو افرادو د کتبو باندے، او علم شخص هم نه صحیح کیږی، ځکه چه بیا به صحیح شی اطلاق په هغه مکتوب باندے چه هغه په لاس د مؤلف کښ وی، او حالانکه ځکه چه اطلاق په ئے کیږی هم د غه رنګ په غیر د دے (چه د مؤلف په لاس کښ نه وی) باندے هم اطلاق کیږی، نو اسامی د کتبو د قبیلے د علم جنس نه شو،
سوال: لازم شوه اجتماع په مابین د دوه آلو د تعریف کښ چه یو علمیت دَے

اجتماع دالتئ
او بل الف لام، لکه الثانية والثانية، او دا ممنوع دے، جواب: اجتماع دالتئ او بل الف لام کښې منع دے نه په مابين دعلم شخص او دالف لام کښې منع دے نه په مابين دعلم تعريف په مابين دعلم جنس او دالف لام کښې،

استعارات:- توجهت رکاب النظر: په دے کښې ذکر دمشبه (چه نظر دے) مراد دے نه مشبه به "فرس مزين" دے نو دا استعارۀ مکنيه شوه، او رکاب د فرس (مشبه به) دلوازمو څخه دے چه ثابت کړے شو نظر (مشبه) ته نو دا استعارۀ تخيليه شوه، او توجيه دفرس دمناسباتو نه ده چه ثابت کړے شو مشبه (نظر) ته پس دا استعارۀ ترشيحيه شوه، وسنحت مطارف البيان په دے کښې دوه احتماله دی، اول دا چه اضافت دمطارف بيان طرف ته دقبيلے داضافت دمشبه به دے، طرف دمشبه ته ١ے

جزت البيانات التي هي كالمطارف في الوسعة والحسن يعنې هغه بيانات چه حسن او جمال او په فراخ کښې د رينمی ګلدار څادر په شان دے، دويم احتمال دا چه ذکر دمشبه (بيان) او مراد ترے نه مشبه به (امرأة جميلة) ده دے نو دا استعارۀ مکنيه شوه، او مطارف دمشبه به (امرأة جميلة) دلوازمو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه (بيان) ته نو دا استعاره تخيليه شوه، او سحب "ذا بنکل" دمشبه به (امرأة جميلة) دمناسباتو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه (بيان) ته"

کشف الاصداف عن وجوه فوائد فوائدها: په دے کښې ذکر دمشبه (فوائد الفوائد) شوے ده او مراد ترينه مشبه به (باکرات يعني پيغلے) دی نو دا استعاره مکنيه شوه، او وجوه دمشبه به (باکرات) دلوازمو نه دی چه ثابت کړے شو مشبه (فوائد الفوائد) ته پس دا استعارۀ تخيليه شوه، او کشف دمشبه به (باکرات) دمناسباتو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه به (فوائد الفوائد) ته نو دا استعارۀ ترشيحيه شوه،

وناط للآلي على معاقد قواعدها: ذکر دمشبه (قواعد) او مراد ورنه مشبه به (حيوان، امرأة) دا استعارۀ مکنيه شوه او معاقد دمشبه به (امرأة) دلوازمو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه (قواعد) ته دا استعارۀ تخيليه شوه، او "نوط اللآلي" دمشبه به دامرأة دمناسباتو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه (قواعد) ته دا استعارۀ ترشيحيه شوه،



تسابق معانيها الاذهان: په دے کښې ذکر د مشبه (معاني) مراد ورنه مشبه به فرسان (شهسوار) دا استعاره مکنيه شوه، او همدغه شان، ذکر د مشبه (اذهان) مراد ورنه مشبه به (هدف، غنه) دا هم استعارۀ مکنيه شوه تسابق (مسابقت) دا مشبه به (فرسان - هدف) د لوازمو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه به (معاني، اذهان) ته دا استعارۀ تخيله شوه، "تحريرا لقواعد المنطقية" په دے کښې ذکر د مشبه (قواعد) مراد ورنه مشبه به (عبد، يا غلام) نو دا استعارۀ مکنيه شوه، او تحرير آزادی د مشبه به (عبد) د لوازمو او يا د مناسباتو نه دے نو دا استعارۀ تخيليه يا ترشيحيه شو،

وَخَدَمْتُ بِهِ عَالِيْ حَضْرَةِ مَنْ خَصَّهُ اللّٰهُ تَعَالٰى بِالنَّفْسِ الْقُدْسِيَّةِ وَالرِّيَاسَةِ الْاِنْسِيَّةِ وَجَعَلَهٗ بِحَيْثُ تَتَصَاعَدُ تَصَاعُدُ رُتْبَتِهٖ مَرَاتِبَ الدُّنْيَا وَالدِّيْنِ وَتَتَطَاطَأُ دُوْنَ سُرَادِقَاتِ دَوْلَتِهٖ رِقَابُ الْمُلُوْكِ وَالسَّلَاطِيْنِ وَهُوَ الْمَخْدُوْمُ الْاَعْظَمُ دُسْتُوْرُ اَعَاظِمِ الْوُزَرَاءِ فِي الْعَالَمِ صَاحِبُ السَّيْفِ وَالْقَلَمِ سَبَّاقُ الْغَايَاتِ فِيْ نَصْبِ رَايَاتِ السَّعَادَاتِ الْبَالِغُ فِيْ اِشَاعَةِ الْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ اَقْصَى النِّهَايَاتِ نَاظُوْرَةُ دِيْوَانِ الْوُزَرَاءِ عَيْنُ اَعْيَانِ الْاِمَارَةِ اللَّائِحُ مِنْ غُرَّتِهِ الْغَرَّاءِ لَوَائِحُ السَّعَادَةِ الْاَبَدِيَّةِ الْفَائِحُ مِنْ هِمَّتِهِ الْعُلْيَا رَوَائِحُ الْعِنَايَةِ السَّرْمَدِيَّةِ مُمَهِّدُ قَوَاعِدِ الْمِلَّةِ الرَّبَّانِيَّةِ مُؤَسِّسُ مَبَانِي الدَّوْلَةِ السُّلْطَانِيَّةِ الْعَالِيْ عَنْ اَنْ يُحَلَّى بِالْحُلَا وَرَايَاتُ اِقْبَالِهِ التَّالِيْ لِسَانُ الْاِقْبَالِ اٰيَاتِ جَلَالِهٖ ظِلُّ اللّٰهِ عَلَى الْعَالَمِيْنَ مَلْجَأُ الْاَفَاضِلِ وَالْعَالَمِيْنَ شَرَفُ الْحَقِّ وَالدَّوْلَةِ وَالدِّيْنِ رَشِيْدُ الْاِسْلَامِ وَمُرْشِدُ الْمُسْلِمِيْنَ اَمِيْرُ اَحْمَدُ

اَللّٰهُ لَقَّبَهٗ مِنْ عِنْدِهٖ شَرَفًا ÷ لِاَنَّهٗ شَرُفَتْ دِيْنُ الْهُدٰى شِيْمَتُهٗ
اِنَّ الْاِمَارَةَ اِذْ بِهٖ نُسِبَتْ ÷ وَالْحَمْدُ حَمِدَ لِمَا اشْتُقَّ مِنْهُ لِيْمَهٗ

**ترجمه:-** او ددے (شرح) په ذريعه ما د داسے کس دربار (بارګاه) عاليه خدمت کړيدے چه الله تعالیٰ په دوه خيزو نو سره يو په نفس قدسي (پاک) او بل حکومت انسانی سره خاص کړيدے، او داسے يې جوړ کړيدی چه دهغه د مرتبے او چتوالے سره ددين او دنيا مرتبے او چتيږی، او دده د دولت (حکومت) خيمو ته د بادشاهانو او مشرانو سټونه ختکته کيږی، او ددے خدمت کړے شوے لوئ دے او ځائے د رجوع د وزيرانو د قوله دنيا دے خاوند د تورے او د قلم دے. د نيک بختيا او بيرغونو په لګولو (پورته کولو) کښې مخ

په وړاندې تلونکې دے، او په خورولو (ښکاره کولو) د انصاف او د احسان کښې دے، آخرۍ حدته رسيدلو والا دے، د دفتر وزارت نګران (نګهبان) دے د خالصو خالص (سردارانو سردار) دده د رو ښانه تندی نه هميشه د نيک بختۍ ظاهرې نخې واضح ښکاري دده د لوئي همت او عزم نه هميشه د مهربانۍ خوشبوئي راځي د ملت رباني اصولو له برابره ونکې دے، د شاهي حکومت بنيا د ټينګولو والا دے، د هغه نيک بختۍ په بيرغو باندې د بزرګۍ وريځې اوچتې دي، د بادشاهانو ژبې د هغه د بزرګۍ ايتونه لولي، هغه د دنيا والو د پاره د الله سورے دے او علم او فضل والو د پاره ځائے د پناه دے، هغه د حق، دولت او د دين د پاره باعث د عزت دے، هغه د اسلام هادي (خودونکې) دے او مسلمانانو د پاره لاره خودونکې دے، د هغه نوم امير احمد دے، الله تعالی هغه ته شرف الدين لقب ورکړيدے ځکه چه د هغه اخلاقو سره دين ته عزت (اوچتوالے) ورکړيدے، يقيناً امارت (حکومت) فخر دے ځکه چه هغه د ده طرف ته منسوب دے. او د حمد ستائنه ځکه کولے شي چه د دے نه د ده نوم جوړ شويدے،

**توضيح اللغات**:- (۱) خَدَمْتُ: صيغه واحد متکلم د (ن، ض) نه په معنی د خدمت کولو اے صرت خادمًا لهٗ بسبب هٰذا الشرح (۲) عالي: صيغهٔ واحد مذکر اسمِ فاعل د (ن) باب منه علو د اوچتوالي په معنی سره راځي، (۳) حضرت:- صيغه د مصدر ده (ن) نه حضرة (مثلث الحاء) په لغت کښې ځائے او حالت د حاضريدو ته وائي يقال كَلَّمْتُهٗ بحضرة فلان اے بمشهد منهٗ، او دلته ذات (ممدوح) ترے نه مراد دے (۴) خص، صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم ده د (ن) نه په معنی د خاص کولو، (۵) القدسية: منسوب الی القدس، او قدس په معنی د پاک او پاکيدل، (۶) الرياسة: صيغه د مصدر ده د (ض) نه په معنی د مشرے سردار سره (۷) الانسية: دا منسوب الی الانس دے په معنی د انسان سره (۸) جَعَلَ: صيغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم د (ف) نه په معنی د خلق يا صَيَّرَ سره، (۹) يتصاعد: صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم د باب تفاعل نه په معنی د ختلو او اوچتيدلو سره (۱۰) رتبة: صيغه د مصدر ده د (ن) نه په معنی د منزله او مقام (۱۱) مراتب: جمع د مرتبة په معنی د منزله او مقام عالي سره،



(۱۲) يَتَطَأْطَأُ: صيغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده د ايتدحرج نه سر ځکته کول يا تيټول (عاجزي کول) (۱۳) دونَ په معنی د عِنْدَ سره، (۱۴) سرادقات: جمع د سرادق ده او سرادق خيمه او سرپرته وائي (۱۵) دولة: صيغه د مصدر ده د (ن) نه دولت په لغت کښې اوچتوالي او غلبے ته وائي او په اصطلاح کښې مجموع كبير من الافراد يقطن بصفة اقليما معينا ويتمتع بالشخصية المعنوية وبنظام حكومي وبالاستقلال السياسي ته وائي، (معجم) (۱۶) رقاب: جمع د رقبة ده، ګردن (څټ) (۱۷) ملوك جمع د ملك ده د (ض) نه په لغت کښې تصرف کولو ته وائي، او په اصطلاح کښې صاحب الامر والسلطة على امّةٍ او قبيلةٍ او بلادٍ ته وائي (۱۸) دُستور: په ضمه د دال سره په اصل قاعده رسم، رواج، او هغه دفتر ته وائي چه په هغې کښې نومونه د لښکرو او قوانين د بادشاه پکښې ليکلے شوے وي، او په اصطلاح کښې مجموعة القواعد الاساسية التي تبيّن فيها شكل الدولة ونظام الحكومة ته وائي، (۱۹) اعاظم جمع د اعظم ده، او اعظم صيغه واحد مذکر اسم تفضيل ده (ن) نه په معنی د لوئي، اوچت (۲۰) وزراء: جمع د وزير ده، او وزير صيغه د صفت مشبه ده د (ض) وزير اصل کښې بار اوچتونکې، معين ته وائي، او په اصطلاح کښې خاصة الملك اوله الذي يحمل ثقله ويعينه برايه وتدبير وجل الدولة الذي يختاره رئيس الحكومة للمشاركة في ادارة شئون الدولة ته وائي، (۲۱) عَالَمٌ: ما يعلم به الشئ، الله تعالی نه بغير تولو څيزونو ته عالم وئيلے شي، ځکه چه په دے څيزونو سره وجود او وحدانيت د الله تعالی معلوميږي.

فَفِي كُلِّ شَيْءٍ لَهٗ آيَةٌ ﴿ تَدُلُّ عَلٰى اَنَّهٗ وَاحِدٌ.

(۲۲) سباق: صيغه د واحد مذکر اسم فاعل مبالغے ده د (ض) نه په معنی د "ډير" وړاندے (مخکښې) کيدونکے) (۲۳) غايات: جمع د غاية ده، او غايت نهايت او آخر د شئ ته وائي (۲۴) رايات جمع د راية ده، په معنی د بيرغ (جهنډا) (۲۵) سعادات، جمع د سعادة ده او سعادة صيغه د مصدر ده د (س) نه په معنی د نيکبختيا سره (۲۶) بالغ: صيغه واحد مذکر اسم فاعل ده د (ن) نه په معنی د رسيدل، بلغ الامر اے وصل الى غايته (۲۷) اشاعة: صيغه د مصدر ده د باب افعال نه په اصل کښې اشياعًا وو، حرکت د يا نقل شو ماقبل ته هغه يا چه په اصل کښې متحرك وه، او س ماقبل ئے مفتوح شو نو بدل شو په

الف سره، او الف د اجتماع د الفينو د وجې نه ساقط شو، او د دې په عوض کښې تا په آخر کښې زياته کړې شوه په معنې د خوړول او ښکاره کول (۲۸) عدل: صيغه د مصدر ده د (ض) نه عدل په لغت کښې برابرتيا او انصاف ته وائي، او په اصطلاح کښې اعطاء المرء مَالَهُ وَاَخَذَ منهُ ما عليه (۲۹) احسان: صيغه د مصدر ده د باب افعال. يقال اَحْسَنَ فلانٌ اے فعل ما هو حَسَنٌ، و في التنزيل. اِنْ اَحْسَنْتُمْ اَحْسَنْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ: (۳۰) اقصٰی: صيغه د واحد مذكر اسم تفضيل ده، د (ن) نه په معنٰی د او چت او انتهاء د شي ته رسيدل وړولو ے، يقال اقصَى الشيُ بَلَغَ اقصاهُ (۳۱) نهايات: جمع د نهاية ده آخر د شي ته وائي (۳۲) نا ظور، صيغه د مبالغې ده، په نظر کښې، ناظور، په معنې د مشر سردار د قوم او محافظ سره، او ځينې نسخو کښې ناطوره (بالطاء المهملة) دَه په معنې د حافظ او نګران- والاول هو الاصح (۳۳) ديوان: صفه د دفتر ته وائي چه په هغې کښې نومونه د لښکر او قوانين پکښې ليکلے شوے وی، (۳۴) وِزَارَة: په فتحَ او کسرَ دواو سره په معنې د رتبه، حال او منصب د وزير سره (۳۵) اعيان: جمع د عين ده په معنې د سترګه، چينه، خالص، مشر، سردار، شريف، او ذات د شي سره (۳۶) اِمَارَة: صيغه د مصدر ده دان، نه په معنې د منصب د امير (۳۷) لائح: صيغه د واحد مذكر اسم فاعل ده، د (ن) نه لوح په معنې د پړقيدل، (۳۸) غُرَّة: پاملکښې د آس د تندی سپين ټکي ته وائي، او بيا هر ظاهر او واضح ته استعارةً ويلې شی (۳۹) غَرَّاء هم په معنې د سپين او واضح سره راځي (۴۰) لوائح: جمع د لائحة ده، او لائحه صيغه واحده مؤنثه اسم فاعل ده، دان، نه په معنې د ښکاره کيدو نکے خيز (۴۱) الابديّة: منسوب الى الابد: په معنې د هميشه زمانې ډير وخت (۴۲) فائح: صيغه واحد مذكر اسم فاعل ده د (ن) نه په معنې د خوشبوئي خوريدل (۴۳) همة: په لغت کښې عزم او ارادے ته وائي او په اصطلاح کښې مَا هَمَّ بِهٖ مِنْ يفعل ته وائي (۴۴) عليا، صيغه واحد مؤنث اسم تفضيل ده، د (ن) نه علو او چتوالي ته وائي، (۴۵) روائح: جمع د رائحة ده په معنې د خوشبوئي: (۴۶) عنايه: مر معنا هَا، (۴۷) السَّرمديّة: منسوب اِلى السرمد او سرمد په معنې د دائِم او هيشوالے سره راځي، و في التنزيل قل ارأيتم جعل الله عليكم الليل سرمدًا الى يوم القيامة: (۴۸) مُمَهِّدٌ: صيغه د اسم فاعل ده د باب تفعيل نه تمهيد، درست، او هوارول، او ځائے جوړول



ته وائي، وفي التنزيل، و مَهَّدْتُّ لَهٗ تمهيدًا (۴۹) ملة په لغت کښې کفايت ته وائي او په اصطلاح کښې عبارة دے دَمَا شرع الله لعباده بواسطة انبياءه ليتوصلوا به الى صلاح الدين والدنيا (معجم) او دين صيغه د مصدر ده د باب د (ض) نه په لغت کښې خضوع او اطاعت ته وائي، او په اصطلاح کښې وضعُ الٰهيٌّ يدعوا اصحاب العقول، الى قبول مَا هُوَ عند رسول الله صلى الله عليه وسلم، پس په مابين د دين او د ملت او د مذهب کښې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري دے، په دے شان د شريعت مطهره، د دے حيثيت نه چه واخلے چه تابعدارى ئے کيدے شي دين ورته وائي، او د دے حيثيت نه چه احکام اتوله جمع کوی نو ملة ورته وائي، وَقيل، الفرق بين الدين والملة والمذهب ان الدين منسوبٌ الى الله، والملة منسوبة الى الرسول صلى الله عليه وسلم، والمذهب منسوبٌ الى المجتهد - اتعريفات، (۵۰) الرَّبَّانية: المنسوب الى الرب، الله والا درب سره تعلق ساتلو والا، (۵۱) مؤسس: صيغه د اسم فاعل ده د باب تفعيل نه بنيا د ايخودل او اصل د هر شي ته وائي، ومنهٗ آساسُ الفكرِ والبحث: نظام اساسي عبارت دے د هو النظام الذى لمثله دستور الدولة: (المعجم) (۵۲) مبانى جمع د مبنىٰ ده، دا صيغه د مصدر ميمي يا د ظرف ده، د (ض) نه په معنٰی د بنياد يا ځائے د بنياد (۵۳) عَنَان: (بفتح العين) وريځ، مايبدو الك فى السَّمَاءِ اِذَا نظرت اليها (۵۴) جلال: لوئي، عزت، (۵۵) اقبال بعزتمند او درست والے ته وائي، (۵۶) التالي: صيغه واحد مذكر اسم فاعل د (ن) نه په معنې د لوستونکے، (۵۷) لسان: په لغت کښې خبرے او فصاحت ته وائي، او په اصطلاح کښې جسمٌ لَحْمِيٌّ مستطيل متحرك يكون فى الفم ويصلح للتذوّق، والبلع، والنطق (يعني ژبه) ته وائي (۵۸) اقيال جمع د قيل ده په معنې د رئيس مشر او حمير بادشاه لقب دے لکه قيصر د روم او کسرٰی د فارس او فرعون د مصر او صدر د پاکستان وغير ذالك، (۵۹) ظل- (سايه) سورے (۶۰) ملجاء، ځائے د پناه (۶۱) شرف- صيغه د مصدر ده د (ك) نه په معنې د عزت غوره او او چت سره (۶۲) حق: صيغه د مصدر ده د (ض) نه په لغت کښې ثبوت ته وائي او په اصطلاح کښې (۱) الثابت بلا شك. (۲) الحكم المطابق للواقع، فرق په مابين د حق او صدق کښې دا دے، چه حق عام دے، اطلاق ئے په اقوالو، عقائدو او اديانو او مذاهبو ټولو باندے کيږی، او صدق خاص دے تر اقوالو پورے، وقيل المطابقة فى الحق، من جانب الواقع و فى الصدق من جانب الحكم فمعنٰی صدق الحكم

مطابقته للواقع و معنی حقیقته مطابقة الواقع ایاهٔ تعریفات) (۶۳) رشید صیغه د صفت مشبه ده دان ا نه رشد خودل ، موافقت ته وائی (۶۴) مرشد: صیغهٔ واحد مذکراسم فاعل ده د باب افعال نه خودو نکے (۶۵) اسلام: صیغه د مصدر ده د باب افعال نه په لغت کښ تابعداری غاړه ایخودل: خضوع ته وائی او په اصطلاح (۱) اظهار الخضوع و القبول لما اتٰی به محمد صلی الله علیه وسلم (۲) الدین الذی جاء به محمد صلی الله علیه وسلم، (۶۶) لقّبَ، صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ده د باب تفعیل نه په لغت کښ ایخودلو ته وائی او په اصطلاح کښ ما یسمّٰی بهِ الانسان بعد اسمِ العلمِ من لفظ یدل علی المدح او الذم لمعنی فیه (۶۷) شِیَمُ: جمع د شیمةٌ ده، عادت او طبیعت ته وائی (۶۸) باهت، صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم ده، فخر کول، (۶۹) نُبِتَتْ، صیغهٔ واحده مؤنثه غائبه ده، د فعل ماضی مجهول د (ض) نه په معنی د ثبت کولو، (۷۰) حُمِّدَ، صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول د باب تفعیل نه ستائنه کول، (۷۱) اشتق، صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول د باب افتعال نه جوړول، (۷۲) سِمَةٌ: نوم په اسم کښ یو لغت دے،

**تشریح**:- هر کله چه د مسلمانانو دعروج دور وو، او په اطراف د عالم (په ټوله دنیا) کښ د دوی غلبه او هیبت وو، او حکمران او بادشاهان په دغه وختونو کښ نیکان او علماء به وو، د علم او د علماؤ به ئے ډیر عزت کولو په دغه وجه په دغه وختونو کښ دا طریقه وه چه کله به یو عالم کتاب ولیکه نو د بادشاه د وخت په خدمت کښ به ئے پیش کړو چه طباعت او اشاعت ئے پوره او شی په دغه اساس د کتاب په مقدمه د بادشاه ستائنه کوله شوه، او د هغه او صاف حمیده او محامد جزیله بیا نولے شول، دلته شارح هم دخپل کتاب د منظر عام کولو نه مخکښ د بادشاه د وقت (د قطر و زیر امیر محمد) صفتونه او ستائنے کوی،

سوال: څه وجه ده چه شارح او ماتن د واړه د بادشاهانو (وزیرانو) صفتونه کویدی، دا نه ده مګر یو قسم چاپلوسی ده؟ جواب: مدح د بادشا یا د وزیر امر مستحسن دے، ځکه چه یو مسلمان د پاره په کار دی چه بل ته دعا او کړی، او بیا خاصکر بادشاه ته چه مسلمان عادل وی، او په مدح

---



کښ دُعا موجود ده، بلکه مدحَ دعا له مستلزمه ده، ځکه چه هر کله ده د بادشاه مدحَ او کړه په صفات حمیده سره نو د دے صفاتو نه علت د استحقاق د ثواب معلومیږی، او هر کله چه علت د ثواب معلوم شی نو دا ایجے ده لکه مطالبه د ثواب د الله تعالیٰ نه د پاره د دے بادشاه،

سوال: شارح بارع خو د رسالهٔ شمسیه شرح او لیکله، نو د دربار عالیه د بادشاه (وزیر) څرنګه خدمت او شو دا خو یو قسم کذب لازمیږی؟

جواب: چونکه بادشاه وزیر متصف وو په دے صفاتو مذکوراتو سره نو د دے نه معلومیږی چه د دے اصلاح د باطن د خلقو، او ظاهر د دوی ته متوجه وو، او د خپلو خادمانو ته په اصلاح د خلقو سره آمر وو او د منطقو قواعد و بیانولو له د خل وو - په اصلاح ظاهری، او باطنی د خلقو کښ، او شارح جلدی او کړه په امتثال د امر د ده کښ، او ځان ئے په زمره د خادمانو کښ داخل کړو په قرینة الحال سره چه هغه شرح لیکل وو، نو ګویا چه شارح مامور شوا و بادشاه آمر شو، سوال، خدمت صیغه د ماضی ده او ظاهره ده، چه دا خطبهٔ ابتدائیه ده نو تعبیر په صیغه د ماضی سره صحیح نهٔ دے، ځکه چه مدلولات د دے صیغے واقع دی په زمانه استقبال کښ، نه په زمانهٔ ماضی کښ، لکه کیدل ددهٔ خادم په سبب د دے شرح سره دا په زمانه راتلونکے کښ شوے دے، نو لازم شو تعبیر د مدلولاتو واقعو په استقبال کښ په صیغه د ماضی سره او دا باطل دے، جواب (۱) دا دے چه دا خطبه الحاقیه ده نه خطبه ابتدائیه، نو تعبیر د معبر عنه سره موافق شو، فلا ورود جواب (۲) منم چه دا خطبه ابتدائیه ده، لیکن وجه د صحت د ماضی دا دے چه شارح عزم مصمم کړے وو په راوړلو د دے مدلولاتو کښ بغیر د څه تاخیر نه ګویا چه دا مدلولات په زمانه ماضی واقع وی، د یقینی تحقق وجه نه، کل ما یاتی قریبٌ، و کل ما فات بعید، او د دے د پاره مثال په قرآن کښ موجود دے، اقتربت الساعة وانشق القمر، سوال: حضرت نه مراد دلته ذات د ممدوح دے نو مؤلف دلته ذات سره تعبیر و نکړو او جواب تعبیر ئے په حضرت سره او کړو نه په ذات سره په دے کښ اشاره ده چه ذات د ممدوح په زړه د ده کښ معنیً یا حسّاً موجود دے، د تعبیر ته ئے ضرورت نشته، قوله الریاسة الانسیة الخ ز ده کړه د ... چه احوال د مشر

رئیس او حاکم درتے دی، (۱) جلال (۲) جمال (۳) جلال او جمال دواړه
لیکن اتمام د ریاست په دواړو سره کیږی نه په یو سره، پس په دے
قول د شارح چه "الأنسبة" دے کښ اشاره ده چه ممدوح مذکور امیر لعهد
کښ دواړه (جلال او جمال) صفتونه موجود دی، لیکن پکښ غالب صفت د
جمال، لکه بنه اخلاق. ولے که جلال غالب وی نو د غه انو ستبه ورته
حاصل نهٔ وی، بلکه جلال سره نفور (نفرت) عام طور راځی او په دے
قول د الله تعالی کښ "وزادکم فی العلم والجسم" جمال او جلال طرف ته
اشاره ده، **قوله** وجعله الخ: زده کړه د اخیره چه جعل په دوه قسمه د
(۱) جعل بسیط (۲) جعل مرکب، (مؤلف) جعل بسیط هغه ته وائی چه
هغه یو مفعول غواړی. او په معنی د خلق سره وی، لکه د اقول د الله تعالی
شو وجعل الظلمات والنور. او جعل مرکب هغے ته وائی چه هغه دوه مفعوله
غواړی او په معنی د صَیّر سره وی، لکه د اقول د الله تعالی شو وجعل لکم
الأرض فراشا.
پس زده کړه دا خبره چه جعل په دولس معانو سره مستعمل دے (۱) په معنی
د صَیّر سره. لکه دا قول د الله تعالی شو وجعلنی نبیًا، ای صیرنی (۲) په معنی د
تسمیت او نوم ایخودل، لکه دا قول د الله تعالی شو جعلوا الملئکة الذین هم
عباد الرحمٰن إناثا، اے سموها اناثا (۳) په معنی د خلق سره لکه دا قول د
الله تعالی شو وجعل الظلمات والنور اے خلق (۴) په معنی د بعث سره لکه
دا قول د الله تعالی شو وجعلنا معه اخاه هارون وزیرا، اے بعثنا معه،
(۵) په معنی د بیان سره: لکه دا قول د الله تعالی انا جعلناه قرآنا اے بینا -
(۶) په معنی د قول سره، لکه دا قول د الله شو، وجعلوا لله اندادا اے قالوا،
(۷) په معنی د ایجاد د شیٔ د بل شی نه، لکه دا قول د الله تعالی - وجعل لکم
من انفسکم ازواجا، اے اوجد، (۸) په معنی د حکم حق د شی په شی باندے
لکه دا قول د الله تعالی شو، وجاعلوه من المرسلین اے حاکموه (۹) په معنی
د حکم باطل د شی په شی باندے لکه دا قول د الله تعالی" ویجعلون لله البنات
اے یحکمون باطلا، (۱۰) په معنی د اخذ او شروع په په شیٔ کښ، لکه دا قول
ستا سو جعلت الشیٔ اے اخذته وشرعته، (۱۱) په معنی د وجوب سره، لکه
دا قول ستا شو جعلت العامل کذا وکذا، (۱۲) په معنی د القاء (غورزول) سره.



لکه دا قول د عربو شو جعلت بعض متاعی علی بعض، وبعضهم یدرج بعض
هذه المعانی فی بعض (کذا فی شیخ زاده)
**قوله**: صاحب السیف والقلم الخ په دے کښ اشاره ده چه ممدوح مذکور
بهادر او عالم او کاتب وو (فکانه قال الشجاع العالم الکاتب) پس صاحب السیف
کښ اشاره ده صفت جلال ته او په والقلم کښ اشاره ده صفت جمال ته
**قوله** سباق الغایات، الخ دا عادت د عربو وو چه کله به ئے مسابقه کوله
په دے شان سره چه د میدان په آخر کښ به یو غنه (نشان) ودرولو، کله به
پیاده او کله به په اسونو مسابقه کولو کوم کس چه به وړومبے او رسیدو
هغه ته به ئے سابق سباق الغایات ویلی بیا هر بهادر تکړه او مخکښ کیدونکو
ته سباق الغایات ویلے شی، **قوله**، ناظورة دیوان الخ په دے کښ درے
احتماله دی، (۱) احتمال دا دے چه ناظورة په معنی د منظور الیه سره د
یعنی د نتریان ورته همیشه کوری چه صاحب به څه ارشاد فرمائی،
چه مونږ ئے عملی کړو (فهو منظورهم وهم ناظرون) او دویم احتمال
دا دے چه ناظورة مبالغه ده په ناظر کښ، یعنی کثیر النظر یعنی د دولت او
حکومت په قواعدو او اصولو او اساسی خبرو کښ ډیر نظر او سوچ کوونکے
دے، او دریم احتمال دا دے: چه دا لفظ په دواړو معنو کښ مستعمل دے
او دواړه مراد دی یعنی ان اهل الدولة ینظرون الیه، وهو ینظر الیهم اوپه
څنو نسخو کښ ناطورة (بالطاء) دے په معنی د حافظ او نګران سره،
**قوله**: ومن غرته الغراء الخ دا مبالغه ده په شهرة، واضح او معروف
النسب والحسب کښ قاعده دا ده، چه هر کله یو لفظ صفت او کړیشی په دا سے
یو لفظ سره چه مشتق د دے نه وی نو ا فاده د مبالغے کوی، لکه ظل ظلیل،
او ورد ے قیلے دا قول د مؤلف دے "من غرته الغراء" **قوله**: العالی عنان الخ
زده کړه دا خبره چه عنان په فتح د عین او کسرے دواړو سره کیدے شی
او دلته نسخے مختلف دی، څنے نسخو عنان الجلال (بدون الباء) ده او
په څنے نسخو کښ بعنان الجلال (مع الباء) ده. پس دلته شپږ احتمالات
دی (۱) فتح د عین مع حذف الباء او اضافت د عنان جلال ته د قبیلے د اضافت
د مشبه به نه دے طرف د مشبه ته او عنان ته مراد سحاب (وریځ) ده او
جلال نه مراد د عظمت په غیر ده، فالمعنی علت ایات اقبالہ علی جلال

غیرالشبیہ بالسحاب، یعنے اوچت دی بیرغونہ دَ نیک بختیا دَدہ، پہ لوئی او عظمت د بل چا بانديـ چہ مشابہ دے دورایجُ سرہ (۲) فتح دعین سرہ دوجود دبادنہ او بآد پہ معنیٰ دعلےٰ سرہ دے نیرجع الی الاول۔ (۳) پہ کسرۂ دعین سرہ دوجود دبادنہ۔ وعنان نہ مراد واگے د آس دی، نومعنیٰ داشوہ چہ اوچت دی بیرغونہ د نیکبختیا ددہ دہ باندے پہ سبب داو چتوالے ددہ اوگے دعظمت لرہ (شبہ الجلال براية صاحبةِ عنان) (۴) عنان پہ کسرے سرہ مع حذف الباء، پس عنان منصوب دَے پہ نزع دخافض سرہ فیرجع الاوّل دااحتمال ھلہ کیدشی چہ رایات دعالیٌ دپارہ فاعل شِی، اوکہ فاعل دعالِیْ عنان شِی یا دوّہ احتماله کیدے شِی (۱) عنان الجلال (بدون الباء) فاعل د عالِی شِی۔ او رایات اقباله مفعول شی، والمعنیٰ واضحٌ،

(۲) عنان الجلالِ (بدون الباء) فاعل دعالِی شِی۔ اورایات اقبالہ منصوب بنزع الخافض شِی، فالمعنیٰ عنان الجلالِ عالٍ علیٰ رایاتِ اقبالِہ یعنی وریخ دلوئی او عظمت اوچت دَے پہ بیرغونو د نیکبختیا ددہٗ باندے،

**قوله** ظل الله الخ ظل نہ مراد حقیقی معنیٰ (سورے) دَے چہ خلق پہ سختہ گرمیٔ کښی استراحت او سہولت حاصلوی، او خلق ورتہ رجوع کوی، پس دا د قبیلے دتشبیہ نہ شو، (أیْ کالظِّل المخلوق لہٗ)

**تنبیہ**:۔ تشبیہ بلیغ مالا ینتقل مِنَ المشبہ الی المشبہ بہٖ الا بعد فکرٍ و تدقیق نظرٍ تہ وائی، لکہ شاعر وائی ؎

والشمسُ کالمِرْآۃِ فی کفِ الْاَشَلِ، نمرد اسے ښکاری لکہ ذکوزنی پہ لاس کښی شیشہ وی، وللتفصیل مقامٌ آخر۔ او یا ظل نہ مراد معنیٰ مجازی (رحمت) دَے او علت جامعہ پہ مابین د معنیٰ حقیقی او مجازی کښی استراحت دَے لکہ څنگہ خلق ذکوزنی نہ اودنمرنہ پہ سورے سرہ استراحت حاصلوی، دغہ شان بادشاہ ھم د خلقو مرجع وی، او پہ وخت د تکلیف کښی ددہ نہ مرستہ غواړی او پہ ایرادد دے لفظ سرہ اشارہ دہ دے قول د نبی علیہ السّلام تہ (السلطانُ الْعَادِلُ ظل اللہ فی الارض الحدیث)

**قولہٗ اللہ لقبہٗ**: سوال شارح تہ څہ معلوم دو چہ ممدوح مذکور تہ اللہ تعالیٰ، د شرف الدین لقب ورکړیدے، جواب (۱) د موصوف الذکر





وزیر صاحب، د اعمالو صالحو او د اقوالو صادقو څخہ وندکیدل دلیل دے چہ خوبن او مقبول والے اللہ تعالیٰ تہ پہ (قرینۃ الحال) سرہ ځکہ نسبت د لقب اللہ تعالیٰ تہ اوکړو، جواب (۲) چونکہ د انسانانو او د دوئ د عملونو خالق اللہ تعالیٰ دے کما هو مذهب اهل السنۃ، نو ځکہ ئے نسبت اللہ تعالیٰ اوکړو، قال تعالیٰ، واللہ خلقکم وما تعملون، جواب (۳):۔ اللہ الهمَ الناس اللقب لهٗ،

**قوله** شرفًا الخ دا منصوب دے، یا خو مفعول مطلق دَے، لقّبَ تلقیب شرفٍ اے تلقیبًا دالاً علی الشرف، او یا مفعول بہٖ دَے نو لقب ئے شرف الدین دَے، لیکن بعض لقب د ضرورت شعری د وجے نہ حذف شویوی، "من عندہ" کښی اشارہ دہ مسلک د اهل السنت والجماعت تہ چہ خیر او شر ټول د اللہ د طرفہ دَے،

**استعارات**:۔ **قولهٗ** ویطاطا دون سرادقات دولتہٖ، ذکر د دولۃ (مشبہ مراد ورنہ حرب (مشبہ بہٖ) د ا استعارۂ مکنیہ شوہ، او سرادقات لازم او یا مناسب دی د لوازمو او د مناسباتو د مشبہ بہٖ چہ ثابت کړے شو مشبہ تہ د ا استعارۂ تخیلیہ یا ترشیحیہ شوہ، ھم دغہ شان سرتیټول لازم یا مناسب دی د لوازمو او یا مناسباتو د مشبہ بہٖ نہ چہ ثابت کړے شو مشبہ تہ د ا استعارۂ تخیلیہ یا ترشیحیہ شوہ،

**قوله**: سباق الغایات فی نصب الرّایات الخ دا ت:۔ ذکر د مشبہ بہٖ (سباق) مراد ورنہ مشبہ "وزیر" د ا استعارۂ مصرحہ شوہ، (وغایات لازم دَے د لوازمو د مشبہ بہٖ (سباق) نہ چہ ثابت کړے شو مشبہ "وزیر" تہ د ا استعارۂ تخیلیہ شوہ او (نصب) مناسب دے د مناسباتو د مشبہ بہٖ (سباق) نہ چہ ثابت کړے شو مشبہ (وزیر) تہ نو د ا استعارۂ ترشیحیہ شوہ،

**قولهٗ**، العالی عنان الجلال رایات اقبالہٖ، پہ دے کښی جلال مشبہ دے او عنان مشبہ بہٖ دَے د ا استعارہ مصرحہ شوہ او علو د مشبہ بہٖ (عنان) د لوازمو نہ دَے، مشبہ (جلال) تہ ثابت کړے شو د ا استعارہ تخیلیہ شوہ "رایات اقبالہ" یو خو اقبال مشبہ دَے، او رایات مشبہ بہٖ دے د ا استعارۂ تصریحیہ شوہ، او دوئم "اقبال" مشبہ بہٖ دے او "سلطان" مشبہ بہٖ دَے چہ "متروک" دَے د ا استعارہ مکنیہ شوہ، او رایات د مشبہ بہٖ (سلطان) د لوازمو نہ دَے مشبہ (اقبال) تہ ثابت کړے شو د ا استعارۂ تخیلیہ شوہ او علو د مشبہ بہٖ (سلطان) د مناسباتو نہ دے چہ ثابت کړے شو مشبہ (اقبال) تہ

دا استعاره ترشیحیه شوه،

قوله، التالی لسان الاقبال آیات جلاله :- دلته یو خو جلال" مشبه دے او" ایات" مشبه به دے نو دا استعارهٔ مصرحه شوه، اے جلاله کالایاتِ الغراو دوهم جلال مشبه دے او قرآن مجید مشبه به دے دا استعاره مکنیه شوه، او آیات د مشبه به (قرآن مجید) د لوازمونه دے چه ثابت کړے شو مشبه (جلال) ته دا استعاره تخییلیه شوه، او تلاوت او لسانُ الاقبال د مشبه به (قرآن) د مناسباتو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه (جلال) ته دا استعاره ترشیحیه شوه او یا جلال مشبه دے او قرآن مشبه به دے نو دا استعارهٔ مکنیه شوه او التلاوة واللسان د مشبه به "د قرآن" د لوازمونه دے، چه ثابت کړے شو مشبه (جلال) ته دا استعاره تخییلیه شوه- او اقبال د مشبه به (د قرآن) د مناسباتو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه (جلال) ته دا استعاره ترشیحیه شوه،

لَازَالَ اَعْلَامُ الْعَدْلِ فِیْ اَیَّامِ دَوْلَتِهٖ عَالِیَةً وَقِیْمَةُ الْعِلْمِ مِنْ اٰثَارِ تَرْبِیَتِهٖ غَالِیَةً وَاَیَادِیْهِ عَلٰی اَهْلِ الْحَقِّ فَائِضَةً وَّاَعَادِیْهِ مِنْ بَیْنِ الْخَلْقِ غَائِضَةً وَّهُوَ الَّذِیْ عَمَّ اَهْلَ الزَّمَانِ بِاِفَاضَةِ الْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَخَصَّ مِنْ بَیْنِ اَهْلِ الْعِلْمِ بِفَوَاضِلَ مُتَوَالِیَةٍ وَفَضَائِلَ غَیْرِ مُتَنَاهِیَةٍ وَرَفَعَ لِاَهْلِ الْعِلْمِ مَرَاتِبَ الْکَمَالِ وَنَصَبَ لِاَرْبَابِ الدِّیْنِ مَنَاصِبَ الْاِجْلَالِ وَخَفَضَ لِاَصْحَابِ الْفَضْلِ جَنَاحَ الْاِفْضَالِ حَتّٰی جُلِبَتْ اِلٰی جَنَابِ رِفْعَتِهٖ بَضَائِعُ الْعُلُوْمِ مِنْ کُلِّ مَرْمًی سَحِیْقٍ وَّوُجِّهَتْ تِلْقَاءَ مَدْیَنَ دَوْلَتِهٖ مَطَایَا الْاٰمَالِ مِنْ کُلِّ فَجٍّ عَمِیْقٍ، اَللّٰهُمَّ کَمَا اَیَّدْتَّهٗ لِاِعْلَاءِ کَلِمَتِکَ فَاَبِّدْهُ وَکَمَا نَوَّرْتَ خَلَدَهٗ لِنَظْمِ مَصَالِحِ خَلْقِکَ فَخَلِّدْهُ، شعر

مَنْ قَالَ اٰمِیْنَ اَبْقَی اللّٰهُ مُهْجَتَهٗ ۞ فَاِنَّ هٰذَا دُعَاءٌ یَّشْمَلُ الْبَشَرَا

فَاِنْ وَّقَعَ فِیْ حَیِّزِ الْقَبُوْلِ فَهُوَ غَایَةُ الْمَقْصُوْدِ وَنِهَایَةُ الْمَاْمُوْلِ وَاللّٰهَ تَعَالٰی اَسْئَلُ اَنْ یُّوَفِّقَنِیْ لِلصِّدْقِ وَالصَّوَابِ وَیُجَنِّبَنِیْ عَنِ الْخَطَلِ وَالْاِضْطِرَابِ اِنَّهٗ وَلِیُّ التَّوْفِیْقِ وَبِیَدِهٖ اَزِمَّةُ التَّحْقِیْقِ،

**ترجمه**:- د هغه په دور حکومت کښې د عدل او انصاف جهنډه بیرغ همیشه وی، او د علم قیمت، قدر او منزلت (عزت) د هغه د ترتیب اثار و (نخی) ګران دی، او د هغه احسان په اهل حق (حق پرستو) باندے جاری او ساری وی، او د هغه د شمنان د (تمام) مخلوق په مینځ (ورانده) مغلوب



وی، او دا هغه کس دے چه په زمانو والاؤ باندے عدل او انصاف، او احسان خواره کړیدی، او هغه په ټول مخلوق کښې اهل علمو (علماؤ) ته په دا سے انعامونه ختمیدونکو فضیلتونو سره خاص کړیدی، او د علم والؤ د پاره ئے مرتبے د کمال او چتے کړیدی او د دیند ارانو د پاره ئے د بزرګئ مناسب (شرافت) قائم کړیدی، او د فضل (بهتر او غوره) والاؤ د پاره ئے د فضل (مهربانی) وزرے (مټے) ښکته کړیدی تر دے پورے چه د ده د او چته دربار ته د هر لرے علاقو نه د علمونو رختونه (سرمایه) راښکل کیږی او د ده د حکومت د بنار (قطب طرف) ته د هر لرے لارے نه د امیدونو سورلئ مقدے (مخ) کړے شوے، اے الله ځنګه چه تا د اعلاء د کلمة الله د پاره د دهٔ تائید (مضبوطیا) کړے ده، همدغه شان تر ډیر وخته قائم لرے او ځنګه چه تا د هغه روح او زړه د خلقو مصالح (فائدو) د انتظام د پاره منور او روښانه کړیدے، همدغه شان دا باقی او ساتی، کوم کس چه "زما په دعا" آمین اووائی، الله تعالیٰ دے د هغه روح ژوندے او ساتی، ځکه چه دا یو داسے دعا ده چه ټولو انسانانو (مسلمانانو) ته شامل ده، ګیرته دا دعا د قبولیت ځائے ته اورسی نو د غائت (انتهائی) مقصود دے، او د مطلوب انتهاء ده او زه د الله تعالیٰ نه دا سوال کوم چه ماله د رښتو نوالی، او د صحیح والی توفیق راکړی، او ما د غلطی او ټال مټول (چرنچی، ګډو ډوالی) نه لرے اوساتی بیشکه هغه د توفیق ورکوونکے دے، او د هغه په لاس (قدرت) کښې د تحقیق واګے دی-

توضیح اللغات(۳۵) :- (۱) لَازَالَ : مرمعناهٔ (۲) اعلام جمع د علم ده، بیرغ اوچت عز، نخه، سید القوم، و فی التنزیل فی البحر کالاعلام) (۳) عالیة: صیغه واحده مونثه اسمِ فاعل ده، د (ن) نه اوچتوالے (۴) قیمة، مایقدر بهٖ العادلا والثمن، مایتراضی بهٖ المتعاقدان، (۵) اثار: جمع د اثر ده (س) نه په معنیٰ د علامه، باقی د شی - و فی التنزیل، ائتونی بکتاب من قبل هٰذا او اثارة من علمٍ اِن کُنْتُمْ صادقین، او په مثل عربی کښې ویئلی شی لاتطلب اثرًا بعد عینٍ (۶) ترتیب: دا صیغه د مصدر ده د باب تفعیل نه تربیت (روزنه) خود نه کول (۷) غالیة: صیغه واحده مونثه اسمِ فاعل ده د (ن) نه ګران، د حد نه تجاوز کول، و فی التنزیل لا تغلوا فی دینکم (۸) ایادی: جمع د اید ده، او اید

Maktaba Tul Ishaat.com

دا استعاره ترشیحیه شوه،

قوله، التالي. لسان الاقبال آيات جلاله. د لته پو خو"جلال" مشبه دے او"آیات" مشبه به دے نو دا استعارهٔ مصرحه شوه، اے جلاله کالایاتِ الغراو دوېم جلال مشبه دے او قرآن مجید مشبه به دے دا استعاره مکنیه شوه، او آیات د مشبه به (قرآن مجید) د لوازمونه دے چه ثابت کړے شو مشبه (جلال) ته دا استعاره تخیلیه شوه او تلاوت او لسانُ الاقبال د مشبه به (قرآن) د مناسباتو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه (جلال) ته دا استعاره ترشیحیه شوه اویا جلال مشبه دے او قرآن مشبه به دے نو دا استعارهٔ مکنیه شوه او التلاوة واللسان د مشبه به "د قرآن" د لوازمونه دے، چه ثابت کړے شو مشبه (جلال) ته دا استعاره تخیلیه شوه- او اقبال د مشبه به (د قران) د مناسباتو نه دے چه ثابت کړے شو مشبه (جلال) ته دا استعاره ترشیحیه شوه،

لَازَالَ اَعْلَامُ الْعَدْلِ فِيْ اَيَّامِ دَوْلَتِهٖ عَالِيَةً وَقِيْمَةُ الْعِلْمِ مِنْ اٰثَارِ تَرْبِيَتِهٖ غَالِيَةً وَاَيَادِيْهِ عَلٰی اَهْلِ الْحَقِّ فَائِضَةً وَاَعَادِيْهِ مِنْ بَيْنِ الْخَلْقِ غَائِضَةً وَهُوَ الَّذِيْ عَمَّ اَهْلَ الزَّمَانِ بِاِفَاضَةِ الْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَخَصَّ مِنْ بَيْنِ اَهْلِ الْعِلْمِ بِفَوَاضِلَ مُتَوَالِيَةٍ وَفَضَائِلَ غَيْرِ مُتَنَاهِيَةٍ وَرَفَعَ لِاَهْلِ الْعِلْمِ مَرَاتِبَ الْكَمَالِ وَنَصَبَ لِاَرْبَابِ الدِّيْنِ مَنَاصِبَ الْاِجْلَالِ وَخَفَضَ لِاَصْحَابِ الْفَضْلِ جَنَاحَ الْاِفْضَالِ حَتّٰی جُلِبَتْ اِلٰی جَنَابِ رِفْعَتِهٖ بَضَائِعُ الْعُلُوْمِ مِنْ كُلِّ مَرْمًی سَحِيْقٍ وَوُجِّهَتْ تِلْقَاءَ مَدْيَنِ دَوْلَتِهٖ مَطَايَا الْاٰمَالِ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ، اَللّٰهُمَّ كَمَا اَيَّدْتَهٗ لِاِعْلَاءِ كَلِمَاتِكَ فَاَبِّدْهُ وَكَمَا نَوَّرْتَ خَلَدَهٗ لِنَظْمِ مَصَالِحِ خَلْقِكَ فَخَلِّدْهُ، شعر

مَنْ قَالَ اٰمِيْنَ اَبْقَی اللّٰهُ مُهْجَتَهٗ ۞ فَاِنَّ هٰذَا دُعَاءٌ يَشْمَلُ الْبَشَرَا

فَاِنْ وَقَعَ فِيْ حَيِّزِ الْقَبُوْلِ فَهُوَ غَايَةُ الْمَقْصُوْدِ وَنِهَايَةُ الْمَاْمُوْلِ وَاللّٰهَ تَعَالٰی اَسْاَلُ اَنْ يُّوَفِّقَنِيْ لِلصِّدْقِ وَالصَّوَابِ وَيُجَنِّبَنِيْ عَنِ الْخَطَلِ وَالْاِضْطِرَابِ اِنَّهٗ وَلِيُّ التَّوْفِيْقِ وَبِيَدِهٖ اَزِمَّةُ التَّحْقِيْقِ،

ترجمه:- د هغه په دور حکومت کښ د عدل او انصاف جهنډه بیرغ همیشه وی، او د علم قیمت، قدر او منزلت (عزت) د هغه د ترتیب اثار د (نخو) ګران دی، او د هغه احسان په اهل حقو (حق پرستو) باندے جارو ساری وی، او د هغه د شمنا ن ذ (تمام) مخلوق په مینځ (وړاندے) مغلوب وی، او دا هغه کس دے چه په زمانو والاؤ باندے عدل او انصاف، او احسان خواره کړیدی، او هغه په ټول مخلوق کښ اهل علمو (علماؤ) ته په دا سے انعامونو او نه ختمیدونکو فضیلتونو سره خاص کړیدی، او د علم والو د پاره ئے مرتبے د کمال او چتے کړیدی او د دیند ارانو د پاره ئے د بزرګئ مناصب (شرافتو) قایم کړیدی، او د فضل (بهتر او غور ره) والاؤ د پاره ئے د فضل (مهربانی وزرے (اجتے) بنکته کړیدی تر دے پورے چه د ده او چته دربار ته د هر لرے لرے علاقو نه د علمونو رختونه (سرمایه) راښکل کیږی او د ده د حکومت د ښار (قطر) طرف ته د هر لرے لارے نه د امیدونو سورلے مقدے (رخ) کړے شوے، اے الله څنګه چه تا د اعلاء د کلمة الله د پاره دهٔ تائید (مکمتیا) کړے ده، همدغه شان تر ډیره وخته قائم لرے او څنګه چه تا د هغه روح او زړه د خلقو مصالح (فائدو) د انتظام د پاره منور او روښانه کړیدے، همدغه شان دا باقی او ساتی، کوم کس چه "دُما په دعا" آمین او وائی، الله تعالیٰ دے د هغه روح ژوندے او ساتی، څکه چه دا پورا ئے دعا ده چه ټولو انسانانو (مسلمانانو) ته شامل ده، کچرته دا دعا د قبولیت ځائے ته اورسیږی نو دغائت (انتهائی) مقصود دے، او د مطلوب انتهاء ده او زهٔ د الله تعالیٰ نه دا سوال کوم چه ماله د رشتیو نوالی، او د صحیح والی توفیق را کړی، او ما د غلطۍ او تال متول (چوبچوړ کډو ډوالی) نه لرے اوساتی بیشکه هغه د توفیق ورکوونکے دے، او د هغه په لاس (قدرت) کښ د تحقیق واګے دی-

توضیح اللغات (۳۸):- (۱) لَازَالَ: مرمعناهٔ (۲) اعلام جمع د علم ده، بیرغ او چت عز، نخه، سید القوم، و فی التنزیل في البحر کالاعلام) (۳) عالیة: صیغه واحده مؤنث اسم فاعل ده، د (ن) نه او چتوالے (۴) قیمة، مایقدر به العادلا والثمن، مایتراضی به المتعاقدان، (۵) اثار: جمع د اثر ده (س) نه په معنی د علامه، باقی د شی- و فی التنزیل، ائتونی بکتاب من قبل هذا او اثارة من علم ان کنتم صادقین، او په مثل عربی کښ ویلی شی لاتطلب اثرًا بعد عین (۶) ترتیب: دا صیغه د مصدر ده د باب تفعیل نه تربیت (روزنه) خود نه کول (۷) غالیة: صیغه واحده مؤنث اسم فاعل ده د (ن) نه ګران، د حد نه تجاوز کول، و فی التنزیل لا تغلوا فی دینکم (۸) ایادی: جمع د اید ده، اواید

جمع دید ده، لاس، دلته قرینه مراد التزاماً احسانات، او، انعامات دی کما ھو الاستعمال، (۹) فائضة: صیغه واحده مونثه اسم فاعل ده د(ن) نه زیاتوالے، ډکوالے، بهیدل یقال فاض النهر (۱۰) اعادی:- جمع د اعداء ده، او اعداء د عدوٌ جمع ده، نو اعادی جمع الجمع ده، د (ن) نه دشمن، (۱۱) غائضة: صیغه واحده مونثه اسم فاعل ده د (ض) نه کمیدل، زاهبة فی الارض، او په ځمکه کښې په صادسره دے ای ناقصةٌ (۱۲) افاضه: صیغه د مصدر ده، د باب افعال نه کوزیدل، فراخی، د خیر ډیروالے او داریو اهوّل (۱۳) فواضل، جمع د فاضلة ده د(ن) نه په معنی د نعمت عظیم سره، او صاف متعدیه با لغیر، لکه عطیه، هبه، تعلیم (۱۴) متوالیة: صیغه واحده مؤنثه اسم فاعل ده، د باب تفاعل نه، لکه تتابع لفظاً او معنیً پوله پسے پسے درپے راتلل (۱۵) فضائل: جمع د فضیلة ده د (ن) نه او چته مرتبه، الدرجة الرفیعة فی حسن الخلق، او فضیلت په معنی د وظیفه سره هم راځی یقال فضیلة السیف، احکام القطع، وفضیلة العقل احکام الفکر، امّهات الفضائل اربعةٌ، (۱) الحکمة (۲) والعفة (۳) والشجاعة (۴) والعدل، (۱۶) متناهیة: صیغهٔ واحده مونثه اسم فاعل د باب تفاعل نه ختمیدل، حدته رسیدل، (۱۷) خَفَضَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ده د (ن) نه نومیدل، عاجزی کول ښکته کیدل (۱۸) جناح، وزر، جمع ئے اجنحةٌ راځی، وفی التنزیل: واخفض لهما جناح الذلة من الرحمة" وذاکنایةٌ عن التواضع والخشوع مع کونه امیناً (۱۹) افضال: صیغه د مصدر ده، د باب افعال نه په معنی د احسان، (۲۰) جلب: صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی مجهول ده د (ن، ض) نه را ښکل (۲۱) بضائع جمع د بضاعةٍ ده د (ض) نه په لغت کښې ما یتجر فیه (سرمایه) ته وائی، او په اصطلاح کښې ما یدفعهٔ الانسان لانسانٍ یتجر فیه لیکون الربح فیه کله للمالك ته وائی، (۲۲) مرمیً: صیغه واحد ظرف یا مصدر میمی ده د (ض) نه ځائے د غشی ایشتلو، ایشتل مراد او مقصد دے، (۲۳) سحیق: صیغه واحد مذکر صفت مشبه د(س) نه ډیر لرے، وفی التنزیل فسحقاً لاصحاب السعیر (۲۴) وجّه صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول د باب تفعیل نه تابع کیدل، مخ ورته کول (۲۵) تلقاء:- مقابل، جانب او طرف (۲۶) مدائن: جمع د مدینةٌ ده، په معنی د ښار سره، او ځینې نحوکښې مدین



دے او دا په اصل کښې د شعیب علیه السلام د ښار نوم دے په معنی د اقامت (استوګنه) کول د (ن)، نه یقال مدن بالمکان اَقَامَ بهٖ، د ښار ځائے، وفی التنزیل، ولما توجّه تلقاءَ مدینَ قال عسٰی ربّی ان یهدینی سواء السبیلِ (۲۷) مطایا: جمع د مطیة ده، مرکوبه سورلے، (۲۸) آمال جمع د امل ده امیدونه (۲۹) الفج: صیغه د مصدر ده د(ن) نه کشاده، کولاؤ لرے لاره، او دوو غرونو ترمینځ لاره جمع ئے فجاج او افجّه راځی (۳۰) عمیق: صیغه صفت مشبه ده د(ك) نه لرے والے یقال عمق المکان اے بعد، او طالجمع عُمق راځی کثیر المرور لاره ځکه چه په ډیرو تلو سره لاره جوړیږی (۳۱) ایّدتهٗ: صیغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضی معلوم ده د باب تفعیل نه معنی ئے ده قوی کیدل، (۳۲) ایّدهٗ، صیغه واحد مذکر امر حاضر معلوم ده د باب تفعیل نه، همیشه تر ډیره وخته پورے لرل، (۳۳) نوّر: صیغهٔ واحد مذکر حاضر فعل ماضی معلوم د باب تفعیل نه رڼا، روښانه کول، (۳۴) خَلَدَهٗ: (بفتح الخاء و اللام) صیغه د مصدر ده د(ن) نه زړه، نفس، ومنهٗ لم یدُرْ فی خلدی کذا جمع ئے اخلاد راځی (۳۵) مصالح جمع د مصلحةٌ ده منفعت ته وائی (۳۶) خلّدهٗ، صیغه واحد مذکر امر حاضر معلوم ده د(ن) نه خلود همیشه والے، مکث طویل (۳۷) مهجة:- د زړه وینه، روح- (۳۸) حیز: په لغت کښې مطلق ځائے ته وائی، او په اصطلاح د متکلمینو کښې، الفراغ المتوهم الذی یشغلهٗ شئٌ ممتدٌ کالجسم، او غیر ممتد کالجوهر الفرد ته وائی، او په اصطلاح د حکماءُ کښې عبارت دے د السطح الباطن من الحاوی المماس للسطح الظاهر من المحوی، وللتفصیل مرضع آخَرَ، (۳۹) مامول: صیغه واحد مذکر اسم مفعول ده د (ن) نه امید کول- الغایة والنهایة شئٌ واحد کمالات المتصور والمامول شئٌ واحد (۴۰) الصدق، مرمناهٗ (۴۱) الصواب: صیغه د مصدر ده، د باب تفعیل نه درست والے، حقوالے، (۴۲) یجنبنی:- صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده د باب تفعیل نه ډډے ته کول، او بچکول، (۴۳) خطل:- صیغه د مصدر ده د (س) نه بیوقوفی، مهمل کلام درانه خبره (الکلام الفاسد الکثیر) (۴۴) اضطراب: صیغه د مصدر ده د باب افعال نه کډوډوالے (۴۵) ازمّة: جمع د زمام ده، لګام: واګے، (۴۶) التحقیق:- صیغهٔ مصدر ده، د باب تفعیل نه، اثبات المدعیٰ بالدلیل ته وائی!



Maktaba Tul Ishaat.com

جمع دید ده، لاس، دلته قرینه مراد التزامًا احسانات او انعامات دی
کما هو الاستعمال، (۹) فائضة: صیغه واحده مونثه اسم فاعل ده د(ن)
نه زیاتوالے، ډکوالے، بهیدل یقال فاض النهر (۱۰) اعادی:- جمع د اعداءٌ
ده، او اعداء دعدوٌّ جمع ده، نو اعادی جمع الجمع ده، د (ن) نه دشمن،
(۱۱) غائضة: صیغه واحده مونثه اسم فاعل ده د (ض) نه کمیدل، ذاهبةً
فی الارض، او په ځمکه کښې په صادسره دے ای ناقصةٌ (۱۲) افاضه:
صیغه د مصدر ده، د باب افعال نه کوزیدل، فراخی، د خیر ډیروالے او داوبو
اړول (۱۳) فواضل: جمع د فاضلة ده د (ن) نه په معنی د نعمت عظیم سره،
او صاف متعدیه بالغیر لکه عطیه، هبه، تعلیم (۱۴) متوالیة: صیغه واحده
مونثه اسم فاعل ده، د باب تفاعل نه، لکه تتابع لفظًا او معنًی پوله پسے پے درپے
والے (۱۵) فضائل: جمع د فضیلة ده د (ن) نه او چته مرتبه، الدرجة
الرفیعة فی حسن الخلق، او فضیلت په معنی د ر ظیفه سره هم راځی یقال فضیلة
السیف، احکام القطع، و فضیلة العقل احکام الفکر، امّهات الفضائل اربعةٌ،
(۱) الحکمة (۲) والعفة (۳) والشجاعة (۴) والعدل، (۱۶) متناهیة: صیغهٔ
واحده مونثه اسم فاعل د باب تفاعل نه ختمیدل، حدته رسیدل، (۱۷) خَفَضَ
صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ده د (ن) نه نومیدل، عاجزی کول
ښکته کیدل (۱۸) جناح، وزر، جمع ئے اجنحةٌ راځی، وفی التنزیل: واخفض
لهما جناح الذلة من الرحمة" وذا کنایةٌ عن التواضع والخشوع مع کونه
امینًا (۱۹) افضال: صیغه د مصدر ده، د باب افعال نه په معنی د احسان،
(۲۰) جلب: صیغه واحده مونثه غائبه فعل ماضی مجهول ده د (ن، ض) نه
را ښکل (۲۱) بضائع جمع د بضاعةٍ ده د (ض) نه په لغت کښې ما یتجر فیه
(سرمایه) ته وائی، او په اصطلاح کښې ما یدفعهٔ الانسان لانسان یتجر فیه
لیکون الربح فیه کله للمالك ته وائی، (۲۲) مرمّی: صیغه واحد ظرف یا مصدر
میمی ده د (ض) نه ځائے د غشی ایشتلو، ایشتل مراد او مقصد دے، (۲۳)
سحیق: صیغه واحد مذکر صفت مشبه د (س) نه ډیر لرے، وفی التنزیل
فسحقًا لاصحاب السعیر (۲۴) وجّه صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول
د باب تفعیل نه تابع کیدل، مخ ورته کول (۲۵) تلقاء:- مقابل، جانب او طرف
(۲۶) مدائن: جمع د مدینةٌ ده، په معنی د ښار سره، او ځنې نحوکښې مدین



دے او دا په اصل کښې د شعیب علیه السلام د ښار نوم دے په معنی د اقامت (استوګنه)
کول د (ن) نه یقال مدن بالمکان اقام به، د ښار ځائے وفی التنزیل، ولما توجّه
تلقاء مدینَ قال عسٰی ربی ان یهدینی سواء السبیل، (۲۷) مطایا: جمع د مطیة
ده، مرکوبه سورلے، (۲۸) آمال جمع د امل ده امیدونه (۲۹) الفج: صیغه د مصدر
ده د (ن) نه کشاده، کولاؤ لرے لاره، او د دوؤ غرونو ترمینځ لاره جمع ئے فجاج او
افجّه راځی (۳۰) عمیق: صیغه صفت مشبه ده د (ك) نه لرے والے یقال عمق
المکان اے بعد، او طالجمع عُمق راځی کثیر المرور لاره ځکه چه په ډیرو تلو سره
لاره جوړیږی (۳۱) ایّدته: صیغه واحد مذکر مخاطب فعل ماضی معلوم ده
د باب تفعیل نه معنی ئے ده قوی کیدل، (۳۲) ایّدهٔ: صیغه واحد مذکر امر حاضر
معلوم ده د باب تفعیل نه، همیشهٔ تر ډیره وخته پورے لرل، (۳۳) نوّر: صیغهٔ
واحد مذکر حاضر فعل ماضی معلوم د باب تفعیل نه رڼا، روښانه کول، (۳۴)
خَلَدَهٔ: بفتح الخاءِ واللام، صیغه د مصدر ده د (ن) نه زړه، نفس، ومنهٗ لَمْ
یُدْرَ فی خلدی کذا جمع ئے اخلاد راځی (۳۵) مصالح جمع د مصلحةٌ ده منفعت
ته وائی (۳۶) خلّدهٔ، صیغه واحد مذکر امر حاضر معلوم ده د (ن) نه خلود
همیشه والے، مکث طویل (۳۷) مهجة:- د زړه وینه، روح۔ (۳۸) حیز: په
لغت کښې مطلق ځائے ته وائی، او په اصطلاح د متکلمینو کښې، الفراغ المتوهم الذی
یشغله شیٔ ممتدٌّ کالجسم، او غیر ممتد کالجوهر الفرد ته وائی، او په
اصطلاح د حکماؤ کښې عبارت دے د السطح الباطن من الحاوی المماس
للسطح الظاهر من المحوی، وللتفصیل موضع آخَرَ، (۳۹) مامول: صیغه واحد
مذکر اسم مفعول ده د (ن) نه امید کول۔ الغایة والنهایة شیٔ واحد کمالات
المقصود والمامول شیٔ واحد (۴۰) الصدق، مرمناهٔ (۴۱) الصواب: صیغه
د مصدر ده، د باب تفعیل نه درست والے، حقو الے، (۴۲) یخبنی:- صیغه
واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده د باب تفعیل نه پردے ته کول او
پټول، (۴۳) خطل:- صیغه د مصدر ده د (س) نه بیوقوفی، مهمل کلام
درانه خبره (الکلام الفاسد الکثیر) (۴۴) اضطراب: صیغه د مصدر ده
د باب افعال نه کډوډوالے (۴۵) ازمّة: جمع د زمام ده، لګام: واګے،
(۴۶) التحقیق:- صیغهٔ مصدر ده، د باب تفعیل نه، اثبات المدعٰی بالدلیل ته
وائی؛

تشریح :- قوله، بفواضل: فواضل نه مراد اوصاف حمیده، متعدیه بالغیر دی، لکه مواهب، عطایا، انعام او تعلیم شو، او فضائل نه مراد اوصاف حمیده، او خصائل ذاتیه مراد دی، لکه علم، حسن، شجاعت، کرم سخاوت، یا فواضل نه خصائل حمیده عملیه مراد دی، لکه عطایا، مواهب انعام وغیره او فضائل نه خصائل حمیده قولیه مراد دی علیٰ ما قیل قوله غیر متناهیة

سوال :- دا لفظ په دے مقام کښ استعمالول صحیح نه دی، ځکه چه دنیا ټوله متناهی ده کل ما دخل فی الوجود فهو متناه، جواب[۱] دلته د متناهی درے معنی دی (۱) ما لا نهایة له اصلاً (۲) ما لا یقف علیٰ حدٍ (۳) ما تحصر عدهٗ و حصرهٗ دلته دویم یا دریم معنیٰ مراد ده، جواب[۲] دا علیٰ سبیل المبالغة، قوله ورفع

لاهل العلم: الخ شارح په دے دوو فقرو کښ ډیر ښکلی ترتیب رعایت او لحاظ کړیدے په دے شان سره چه اول رفع بیا نصب بیا خفض ذکر کړی دی کوم چه حرکات د اسم معرب دی، او هم دغه شان مناصب د نصب او افضال د فضل سره پیوست کړے دے دا د محسنات بدیعو نه شمار لے شی،

سوال، رفع د مراتبو تقاضا کوی چه د کمال مرتبے اهل علمو ته ثابت و نه وو (وزیر) رفع او اوچتوالے کړیدے حالانکه دا (وزیر) هغه کس دے چه مراتب د کمال د عدم نه وجود ته را ایستی دی وآخْرَجَ یا اَثْبَتَ وئیل ښکاره مناسب وو، جواب[۱] رفع په معنیٰ د اثبت سره دے جواب[۲] رفع په معنیٰ د اظهر سره دے یعنی مراتب د کمال د علماؤ دے وزیر ښکاره کړیدی چه د علمو او علماؤ تل ترتله تعظیم او خدمت کوی، جواب[۳] لفظ د رفع راوړلو کښ اشاره ده دے خبرے ته چه د کمال مرتبے علماؤ ته بالقوة ثابت وو خو ده بالفعل او چت او موجود کړل پس د دے چه هغے مراتب د کمال په معرض زوال کښ وو، قوله، جُلِبَتْ: الخ زده کړه د اخبره چه دلته په نسخو د قطبی کښ اختلاف را غلے دے په دے شان سره چه په څو نسخو کښ جلبت صیغے واحدے مؤنثے سره واقع دے نو په دے کښ صرف یو احتمال واقع کیدے شی چه جلبت صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی مجهول. بضائع العلوم ورله نائب فاعل شو، او په څو نسخو جُلِبَ په تذکیر سره راغلے دے، نو په صورت د تذکیر کښ دوه احتماله کیدے شی، (۱) جَلَبَ: صیغهٔ واحد مذکر فعل ماضی معلوم، ضمیر د هو پکښ مستتر دے چه راجع دے ممدوح ته هغه ورله فاعل شو او بضائع العلوم



منصوب دے بنا بر مفعولیت کما هو مناسب لا مثاله السابقة و اللاحقة (۲) جُلِبَ صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول او بضائع العلوم ورله نائب فاعل دے قوله، مرمیٰ سحیق، الخ مرمیٰ د لرے ځائے ویشتلو ته وائی: (محل الرمی البعید) او سحیق هم بعید ته وائی، نو کلام کښ تکرار راغے والتکرار شنیع جواب[۱]: دا تکرار د پاره د تاکید دے و ذا شائعٌ وجائزٌ، جواب[۲] دا علیٰ سبیل المبالغة دے ځکه چه مراد السحیق المتناهی فی البعد دے، جواب[۳]: دلته تجرید کړے شی (و التجرید خلو اللفظ عن بعض المعنیٰ) په دے شان سره چه مرمیٰ نه مراد هر ځائے د ویشتلو دے، خواه قریب وی، او که بعید وی، والتاسیس اولیٰ من التاکید، قوله فابّده الخ پوه شه چه په دے عبارت کښ لفظاً او معنیً تقدیم او تاخیر واقع شویدے، لفظاً په دے شان سره، چه فاء د تفریع د پاره ده، او تابید تفریع ده په تائید (متفرع) باندے باعتبار مَا جرت به عادة الکریم انهٗ اذا صدر منهٗ احسان ان یُبّده و لا یقطعهٗ، او معنیً په دے شان سره ده چه فاء زائده ده، نو اصلی عبارت معنیٰ دا دے شوه اللّٰهُمّ کما اَحْسَنْتَ الیه بالتائید فاحسن الیه بالتابید. یعنی اے الله لکه څنګه تا دے ممدوح سره په تائید محکم احسان کړیدے، نو په همیشه ژوند عمر دراز سره هم احسان او کړه قوله فخلده: سوال :- انسان لره خو همیشه پاتے کیدل په دنیا کښ محال دی، قال تعالیٰ کل من علیها فانٍ" قال تعالیٰ کل شیءٍ هالکٌ الا وجههٗ" وقال تعالیٰ کلُّ نفسٍ ذائقة الموت: وغیر ذالک من الاٰیات. وقال الشاعر ؎

لو کانت الدنیا تدومُ لواحدٍ ÷ لکان رسول الله فیها مخلدًا

نو شارح بیا ممدوح ته په خلود او همیشه پاتے کیدو باندے ولے دعا کوی جواب[۱]: مراد د خلود نه معنیٰ حقیقی ده، او دا علیٰ سبیل المبالغة ده، جواب[۲] مراد د خلود نه طول العمر او مکث طویل دے مجازًا کما هو شائعٌ و سائغ، جواب[۳] مراد د خلود نه همیشه والے دے په اعتبار د محامدو او نیکو خصلتو نو سره، قوله فان هٰذا یشمل البشر الخ سوال: ابقی الله مجدهٗ دعا خو صرف او صرف وه لکے د آمین ته شامل ده نو د شارح فان هٰذا دعاء" الخ وئیل صحیح نه شو بلکه دا دروغ دی، جواب[۱]: آمین په دے مقام کښ دعا ده د هغه بادشاه (وزیر) د پاره چه د هغه ژوند دعا موانسانانو د پاره کتنه ورته ما صیبی نو ګویا که د آمین دعا شوه د عا مو انسانانو

جوابُ چه ددے معنیٰ داده چه زه طلب د دعاکوم د هغه چا د پاره چه هغه دعا او کړه او آمین یې ووائي په دے کښې اشاره ده چه ممدوح مذکور هرکله چه دده مذکور و صفا تو خاوند دے نو هر څوك ورته دعا کوي،

آمين آمين لا ارضٰى بواحدةٍ حتّٰى اضم اليها الفُ آمينا ـ

**قوله** : فان وقع في الخ زده کړه دا خبره چه په وقع کښې هو ضمير مستتر دے، او په مرجع د دے ضمیر کښې دوه احتماله دي (۱) چه دا ضمیر شرح ته راجع دے او تعبیر ئې په اِن سره اوکړو تواضعًا للملك لان التواضع للسلاطين والعلماءِ والآباءِ واجبٌ (شروح) (۲) چه دا ضمیر دعا ته راجع دے، لیکن په دے باندے دا سوال واردیږي چه دا کلام دشارح د حدیث پاك نه مخالف دے، ځکه چه نبي علیه السلام فرمائي، ادعوا الله وانتم موقنون بالاجابة: (الحدیث ترمذي) او هم دغه شان د مقتضیٰ حال نه هم مخالف دے ځکه چه مقتضیٰ حال دا دے چه بادشاه وزیر وغیره دعا کوي لے ئې، سره د امید د قبلیدو نه نو دلته اِنْ داوړلے صحیح نهٔ شو اذا تحقيقه راوړل پکار وو، جواب :- تعبیر په اِنْ سره اوکړو تواضعًا چه دا حقیر گناهګار ته ګوره او دوعا قبلیدو ته ګوره، **قوله**، والله تعالیٰ اسأل الخ: په دے جمله دعائیه کښې دوه احتماله کیدے شي (۱) دا چه دا جمله فعلیه ده، او مفعول به دافادے د حصر او اختصاص دپاره مقدم کړے شوے دے لانَّ تقديم ماحقهٔ التاخير يفيد الحصر والاختصاص، فتفيد الجملة التجدُّد والحدوث، (۲) چه دا جمله اسمیه ده (وان یوفقني فعل مضارع ورله خبر دے لیکن په دے باندے دا سوال واردیږي، چه جمله اسمیه مفید د دوام او ثبات وي۔ او جملهٔ فعلیه مفید د تجدد او د حدوث وي نو اول د جملې د آخر د جملې سره منافي شو، جواب: جمله اسمیه مفید د دوام او ثبات هله وي چه خبرئې اسم وي، او که خبرئې فعل نو دا جمله هم مفید د تجدد وي پس دا جمله هم په دے مقام کښې مفید د دوام تجدد د سوال دے نه دوام د سوال دپاره، **قوله**، ان یوفقني للصدق والصواب الخ ځنې علماء وائي چه د صدق او صواب ترمینځه ترادف دے هر صدق صواب دے او هر صواب صدق، لیکن صحیح خبر داده چه د دوئ ترمینځ نسبت د عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه صواب (ضد الخطاء) اعم مطلق دے



چه شامل دے اقوالو او افعالو دواړوته او صدق اخص مطلق دے چه شامل دے صرف اقوالو لره، او هم دغه شان ځنے وائي چه خطل او اضطراب ترمینځ هم ترادف دے لیکن صحیح خبره داده چه د دوئ ترمینځ هم نسبت د عموم خصوص مطلق دے، خطل اعم مطلق دے چه شامل دے افعالو او اقوالو دواړو ته او اضطراب اخص مطلق دے چه شامل دے اقوالو ته، والتاسيس اولیٰ من التاکید،

**فائده** :- زده کړه دا خبره چه حال د مصنف، مؤلف، او مدرس یا ناطق بالحق وي او یا تردد وي (بین الحق والباطل) او یا ناطق بالباطل وي، غرض د شارح په دے دعا سره والله اسأل الخ دادے چه الله تعالیٰ ما (شارح) لره دریم حالت نصیب کړي او دویم دریم حالت نه م اوساتي، او الله تعالیٰ ما بنده ته هم حالت اولیٰ کښې حظ وافر نصیب کړے (آمین) **قوله** ويبيد به الخ لفظ د ید د متشابهاتو نه دے، متقدمین حضرات وائي چه كما يليق بشانه الايمانُ به واجبٌ والسُّوالُ عنهُ بدعةٌ : او متاخرین حضرات پکښې تاویل کوي چه د ید نه مراد قدرت دے، والتفصيل مقامٌ آخر،

**استعارات** (۹) :- لازال اعلام العدل في ايام دولته عاليهٌ ذکر د مشبه به (جبال، رایات) او مراد ورنه مشبه (اسباب العدل) دا استعاره مصرحه شوه، او علو (عالیه) د لوازمو د مشبه به (جبال) نه لازم دے چه ثابت کړے شو مشبه (اسباب العدل) ته دا استعارهٔ تخییلیه شوه، او علو (عالیه) نو مناسب دے د مناسباتو د مشبه به (جبال) نه چه ثابت کړے شو مشبه (اسباب العدل) ته دا استعارهٔ ترشیحیه شوه، وتيمة العلم من آثار تربيته غاليةٌ ذکر د مشبه علم مراد ترے نه مشبه به (جواهر نفیسه) دا استعارهٔ مکنیه شوه او قیمة لازم دے د لوازمو د مشبه به (جواهر) نه چه ثابت کړے شو مشبه (علم) ته دا استعارهٔ تخییلیه شوه او غلو (ګرانوالے) نو مناسب دے د مناسباتو د مشبه به (جواهر) نه چه ثابت کړے شو مشبه (علم) ته دا استعاره ترشیحیه شوه،

وافاد يه على اهل الحق فائضة :- ذکر د مشبه (احسانات) مراد ترے نه مشبه به (ماء عذب، خوږے اوبه) دا استعاره مکنیه شوه، او فیض لازم دے د لوازمو د مشبهٌ به (ماء عذب) نه چه ثابت کړے شو، مشبه

(نعمت احسان) ته د استعارهٔ تخيليه شوه، فهو الذي عم اهل الزمان بافاضة
الدل : ذکر د مشبه (افاضه) مراد دی او نه مشبه به (ايصال) د استعاره مکنيه
شوه، وخفض لاصحاب الفضل جناح الافضال : ذکر د مشبه (افضال) مراد
دی او نه مشبه به (طائر، مارغه) د استعاره بالکناية شوه. او جناح وزر،
يو لازم دی د لوازمو د مشبه به (طائر) نه چه ثابت کړی شو مشبه (افضال) ته
د استعارهٔ تخيليه شوه او خفض ښکته کول د مشبه به (طائر) مناسب د
چه ثابت کړی شو مشبه (افضال) ته د استعارهٔ ترشيحيه شوه، وجه تلقاء
مدين دولته عطايا الآمال : آمال مشبه ده او عطايا مشبه به ده منو د
استعارهٔ مصرحه شوه او يا آمال مشبه ده او (جمل مرکوبه) مشبه به ده د
استعاره مکنيه شوه او عطايا يو لازم دی د مشبه به (جمل) نه چه ثابت
کړی شو مشبه (آمال) ته د استعارهٔ تخيليه شوه، او توجيه يو مناسب دی
د مناسباتو د مشبه به (جمل) نه چه ثابت کړی شو مشبه (آمال) ته د
استعارهٔ ترشيحيه شوه، فان وقع في حيز القبول، ذکر د مشبه "قبول" مراد
دی نه مشبه به (جسم) ته، د استعارهٔ مکنيه شوه، او حيز (ځائی)
يو لازم دی د لوازمو د مشبه (جسم) نه چه ثابت کړی شو مشبه (قبول)
ته د استعارهٔ تخيليه شوه، او (وقوع) يو مناسب دی د مناسباتو د مشبه به
(جسم) نه چه ثابت کړی شو مشبه (قبول) ته د استعارهٔ ترشيحيه شوه
وبيده ازمة التحقيق) الخ ذکر د مشبه (تحقيق) مراد دی نه مشبه به
(حيوان) د استعارهٔ مکنيه شوه، او ازمة يو لازم دی او يا يو مناسب
دی د لوازمو او يا مناسباتو د مشبه به (حيوان) نه چه ثابت کړی شو
مشبه (تحقيق) ته نو د استعارهٔ تخيليه يا ترشيحيه شوه،

**ترکيب** :- وبعد ما طال الحاح الخ و آو عوض دا ما دی او فاء
جزائيه ده او فعل شرط محذوف دی، نو تقدير د عبارت داسې شو (مهما
يکن شئ من الاشياء ثابتا بعد الحمد والصلوة فلما الخ، مهما اسم شرط
يکن فعل ناقص اسم مرفوع خبر منصوب غواړی شئ موصوف، من الاشياء
جار مجرور به اعتبار د متعلق سره صفت شو، موصوف سره د صفت نه
اسم د يکن شو، ثابتا صيغهٔ واحد مذکر اسم فاعل ضمير د هو پکښې مستتر دی
هغه ورله فاعل شو، بعد : مضاف، التسمية، معطوف عليه، واو حرف عاطفه



الحمد معطوف اول واو حرف عاطف الصلوة معطوف ثانی معطوف عليه
سره د معطوفينو نه مضاف اليه د مضاف شو مضاف سره د مضاف اليه نه
مفعول فيه شو د اسم فاعل. اسم فاعل سره د فاعل او سره د مفعول فيه نه شبه
شبه جمله خبر د يکن شو، يکن سره د اسم او سره د خبر نه جمله فعليه فعل
شرط، فاء جزائيه، طال، صيغه واحد مذکر فعل ماضی معلوم، الحاح،
مصدر مضاف، الف لام موصول مشتغلين صيغهٔ جمع مذکر اسم فاعل
ضمير د هم پکښې مستتر دی، هغه ورله فاعل شو، على جار ی مجرور محلا
جار سره د مجرور نه د ظرف لغو تعلق نيسی تر مشتغلين پورې، اسم فاعل
سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله صله د موصول شو، موصول
سره د صله نه معطوف عليه واو حرف عاطف ال موصول مترددين
صيغه د اسم فاعل شو الی جار يا مجرور محلا جار سره د مجرور نه د ظرف
لغو تعلق نيسی تر مترددين پورې، اسم فاعل سره د فاعله او سره د متعلق نه
شبه جمله صله د موصول، موصول سره د صلې نه معطوف، معطوف عليه
سره د معطوف نه مضاف اليه د مضاف شو، مضاف سره د مضاف اليه نه
فاعل د فعل شو، ان ناصبه مصدريه اشرح صيغه واحد متکلم ضمير د
انا پکښې مستتر دی هغه ورله فاعل شو ل جار هم مجرور محلا جار سره
د مجرور نه د ظرف لغو تعلق نيسی فعل مذکور (اشرح) پورې، الرسالة
موصوف، الشمسية، صفت، موصوف سره د صفت نه د مفعول به د فعل
فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلق نه د جمله فعليه
خبر يه معطوفة عليها، واو حرف عاطف، ابين صيغه واحد متکلم ضمير
د انا پکښې مستتر دی هغه ورله فاعل شو، في جاره مجرور، جار سره د
مجرور د ظرف لغو تعلق نيسی تر فعل مذکور (ابين) پورې، القواعد
موصوف، المنطقيه، صفت، موصوف سره د صفت نه مفعول به د فعل، فعل
سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه معطوفه
معطوفة عليها سره د معطوف نه په تاويل د مصدر سره د مفعول له د
فعل (طال) شو، علماء موصوف، من جار هم مجرور محلا، جار سره
د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نيسی تر ثابتا مقدر پورې، باجارات
حرف دی د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړی

Maktaba Tul Ishaat.com

نُصِرَ ضمیر اسم دان ـ سألوا فعل ضمیر د هم پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو عریفًا موصوف، مَاهرًا صفت، موصوف سره د صفت مفعول به د فعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوفهٔ علیها واو حرف عاطفه استمطروا فعل، ضمیر د هم پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، سحابًا موصوف - ماطرًا صفت، موصوف سره د صفت نه مفعول به د فعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه معطوفه، معطوفه علیها سره د معطوف دا خبر دانَّ شو - انَّ سره د اسم او سره د خبر نه مجرور د جار شو، جار سره د مجرور نه نیز متعلق شو ترثابتًا پورے، ثابتًا صیغه د اسم فاعل ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلقینو نه شبه جمله صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه مفعول له شو د فعل (طال) د پاره، فعل سره د فاعل نه او سره د دواړو مفعول له نه جمله فعلیه خبریه معطوفه علیها، و لم ازل ادافع الخ واو حرف عاطف لم جازمه جحدیه، ازل صیغهٔ واحد متکلم فعل مضارع معلوم فعل دے د افعال ناقصه نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړی ضمیر د انا په کښې مستتر دے هغه ورله اسم شو، ادافع، صیغهٔ واحد مذکر متکلم ضمیر د آنا پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، قومًا موصوف، مِن جار هُمْ مجرور محلاً - جار سره د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نیسی ثابتین مقدر پورے، ثابتین صیغه جمع مذکر اسم، ضمیر د هم پکښې مستتر دے، هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه مفعول به د فعل - بعد ظرف مضاف - قوم مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه د فعل شو، فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه معطوفهٌ علیها، واو حرف عاطف اُسوِّف صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم ضمیر د آنا پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، الامر، مفعول به مِن جار یومَ مجرور جار سره د مجرور نه ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور (اسوف) پورے الیٰ جار یومَ مجرور - جار سره د مجرور دا ظرف لغوه نیز تعلق نیسی ترفعل مذکور پورے فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه او سره د متعلقینو نه جمله فعلیه خبر یه معطوفه، معطوفه علیها سره د معطوف نه دا معلل، فی جار اشتغال، مصدر مضاف - بال مضاف



الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف قد تحقیقیه، استولیٰ، صیغهٔ فعل ماضی معلوم، علیٰ جار ی مجرور جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نیسی ترفعل مذکور پورے، سلطان مضاف ة ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د فعل، فعل سره د فاعله او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه مُصَدَّره په قد تحقیقیه صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه معطوف علیه، واو حرف عاطف، اختلال مضاف، حال مضاف الیهٔ مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف، قد تحقیقیه تبیّن فعل ماضی معلوم لدیٰ مضان ی مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه شو، برهان مضاف ه ضمیر مضاف الیه مجرور محلاً مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د فعل شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه مُصَدَّره په قد تحقیقیه سره صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار شو، جار سره د مجرور معطوف علیه - واو حرف عاطف ل جار علم مصدر مضاف یا مضاف الیه، بأ جار أنّ حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړی العلم اسم دانّ شو، فی جار هٰذا اسم اشاره، الفن مشار الیه اسم اشاره سره د مشار الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور ظرف لغوه تعلق نیسی ترفعلین مُرخرین (خبت، ولت، علی سبیل التنازع) پورے قد تحقیقیه، خبت فعل نار مضاف ة مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د فعل، فعل سره د فاعله او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفه، واو حرف عاطف ولت فعل الادبار مفعول به مقدم، انصار مضاف ة مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د فعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفه، معطوفة علیها سره د معطوف نه مصدّره په قد تحقیقیه سره خبر دانّ شو - اِنَّ سره د اسم او سره د خبر نه په اعتبار د تاویل سره مجرور د جار شو، جار سره د مجرور دا ظرف لغوه تعلق نیسی تر مصدر مذکور پورے، مصدر مضاف سره د فاعل مضاف الیه نه او سره د متعلق نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه معطوف، معطوف علیها سره د معطوف په اعتبار د متعلق سره تعلیل د معلل شو معلل سره د تعلیل مستثنیٰ منه، اِلّا انهم الخ د لته تقدیر د عبارت دا سے دے

ای فی جمیع الاوقات الا وقت رؤیتھم الخ فی جار جمیع مضاف الاوقات
مضافٌ الیہ، مضاف سرہ د مضاف الیہ نہ مجرور د جار، جار سرہ د مجرور
نہ پہ اعتبار د متعلق سرہ۔ مستثنیٰ منہٗ۔ الا حرف استثناء وقت مضاف
روٴیۃ مضافٌ الیہ مضاف، ی ضمیر فاعل مضاف الیہ، إنّ حرف دے د حروف
مشبہ بالفعل نہ اسم منصوب خبر مرفوع غواړی ھُم ضمیر اسم د إنّ
شو۔ کلما اسم جازم متضمن معنی د شرط لرہ ازددت، فعل ت ضمیر بارز
ممیز مطلا، معطوف علیہ۔ واو حرف عاطفہ، تشویقًا معطوف علیہ
معطوف علیہ سرہ د معطوف نہ تمیز شو د پارہ د ممیز، ممیز سرہ د تمیز
نہ فاعل د فعل، فعل سرہ د فاعل نہ جملہ فعلیہ خبریہ فعل شرط، ازداد و
فعل۔ ضمیر د ھُم پکښی مستتر دے ھغہ ممیز، حُبًّا، معطوف علیہ، واو
حرف عاطفہ، تشویقًا، معطوف، معطوف علیہ سرہ د معطوف نہ تمیز شو
د پارہ دَ ممیز ممیز سرہ د تمیز نہ فاعل شو د پارہ د فعل، فعل سرہ د فاعل
نہ جملہ فعلیہ خبریہ جزاء شرط، فعل شرط سرہ د جزائے شرط نہ
خبر شو د انّ، انّ سرہ د اسم او سرہ د خبر نہ پہ تاویل سرہ مفعول بہ د مصدر
شو، مصدر مضاف سرہ د فاعل مضاف الیہ نہ او سرہ د مفعول بہ نہ مُعلَّل
واو تعلیلیہ، لَم جازمہ، اجد صیغہ واحد متکلم ضمیر د انا پکښی مستتر دے
ھغہ ورلہ فاعل شو، مِن جار اسعاف مصدر مضاف ھم ضمیر فاعل مضاف
الیہ، با جارہ، ما موصولہ، اقترحوا فعل، ضمیر د ھم پکښی مستتر دے ھغہ ورلہ
فاعل شو، فعل سرہ د فاعل نہ صلہ د موصول شوہ، موصول سرہ د صلے نہ
مجرور د جار، جار سرہ د مجرور ظرف لغوہ تعلق نیسی فعل مذکور پورے
مصدر مضاف سرہ د فاعل مضاف الیہ نہ، او سرہ د متعلق نہ، شبہ جملہ
معطوف علیہ، واو حرف عاطف ایصال مصدر مضاف ھُم ضمیر فاعل
مضافٌ الیہ إلی جار غایۃ، مضاف۔ ما موصولہ، التمسوا فعل فاعل فعل
سرہ د فاعلہ، جملہ فعلیہ خبریہ صلہ د موصول، موصول سرہ د صلہ نہ
مجرور د جار، جار سرہ د مجرور ظرف لغوہ تعلق نیسی فعل مذکور پورے
مصدر مضاف سرہ د فاعل مضاف الیہ نہ، او سرہ د متعلق نہ شبہ جملہ
معطوف۔ معطوف علیہ سرہ د معطوف نہ مجرور د جار شو، جار سرہ د مجرور
نہ ظرف لغو تعلق نیسی فعل مذکور (المراجد) پورے، فعل سرہ د فاعل نہ



............ او سرہ د مفعول بہ نہ او سرہ د متعلق نہ جملہ فعلیہ خبریہ
مُصدّرہ پہ لَمْ جازمہ تعلیل شو د پارہ د معلَّل۔ معلَّل سرہ د تعلیل نہ مستثنیٰ
منہٗ شو د پارہ د مستثنیٰ، مستثنیٰ منہٗ سرہ د مستثنیٰ نہ خبر د فعل ناقص
(لم ازال) شو۔ فعل ناقص سرہ د اسم او سرہ د خبر نہ جملہ فعلیہ خبریہ معطوفہ
معطوفۃ علیہا (طال) سرہ د معطوف نہ جملہ فعلیہ خبریہ جزائے شرط۔
فعل شرط، سرہ د جزائے شرط نہ جملہ فعلیہ شرطیہ متصلہ او دعائیہ،
(ویمکن فیہ ترکیب آخر) فوجھت رکابی الخ جزاء د شرط محذوف دہ
یعنی اذا کان الامر کذالک فوجھت الخ اذا اسم جازم متضمن معنی د شرط
لرہ، کان فعل دے د افعال ناقصو نہ اسم منصوب خبر مرفوع غواړی، الامر
اسم د کان او کذالک پہ اعتبار د متعلق سرہ خبر د کان شو کان سرہ د اسم
او سرہ د خبر نہ جملہ فعلیہ فعل شرط فاء جزائیہ، وجھت صیغہ واحد
متکلم فعل ماضی معلوم ضمیر د انا پکښی مستتر دے ھغہ ورلہ فاعل شو
رکاب مضاف النظر مضاف الیہ، مضاف سرہ د مضاف الیہ نہ مفعول بہ د فعل
شو، الی جار مقاصد مضاف، سائل مضافٌ الیہ مضاف...... ھا
ضمیر مضاف الیہ مجرور محلًا، مضاف سرہ د مضافٌ الیہ نہ مضافٌ الیہ
شو د پارہ د مضاف، مضاف سرہ د مضاف الیہ نہ مجرور د جار شو، جار سرہ
د مجرور د ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے، فعل سرہ د فاعلہ
او سرہ د مفعول بہ نہ او سرہ د متعلق نہ جملۂ فعلیہ خبریہ معطوفۃ علیہا
واو حرف عاطف سعیت صیغۃ واحد متکلم فعل ماضی معلوم ضمیر د انا
پکښی مستتر دے ھغہ ورلہ فاعل شو، مطارق، مضاف، البیان مضافٌ
الیہ، مضاف سرہ د مضاف الیہ نہ مفعول بہ د فعل۔ فی جار مسالک مضاف
دلائل۔ مضافٌ الیہ مضاف، ھاء ضمیر مضاف الیہ مجرور محلًا مضاف سرہ د مضافٌ الیہ نہ مضاف
الیہ شو مضاف د پارہ مضاف سرہ د مضافٌ الیہ نہ مجرور د جار، جار سرہ د مجرور د ظرف
تعلق نیسی فعل مذکور پورے، فعل سرہ د فاعلہ او سرہ د مفعول بہ نہ او سرہ د متعلق نہ
جملہ فعلیہ خبریہ معطوفۃ و معطوفۃ علیہا، واو حرف عاطف، شرحت
فعل فاعل ھا ضمیر مفعول بہ، شرحًا موصوف۔ کشف فعل ماضی معلوم
ضمیر د ھو پکښی مستتر دے ھغہ ورلہ فاعل شو الاصداف، مفعول بہ،
عن جار وجوہ مضاف، فوائد مضاف الیہ مضاف، فوائد، مضاف

Maktaba Tul Ishaat.com

ضمیر مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه مضاف، ها ضمیر مضاف الیه نه مضاف الیه شو دپاره د مضاف شو دپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره، دا ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور (کشف) پورې فعل سره د فاعله، او سره د مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة علیها، واو حرف عاطف ناط، فعل ماضی معلوم ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو اللآلی مفعول به علی جار، معاقد، مضاف، قواعد مضاف الیه مضاف ها ضمیر مضاف الیه مجرور محلاً مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو دپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور (ناط) پورې فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفه، معطوفة علیها سره د معطوف نه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه مفعول مطلق د فعل (شرحت) شو. فعل سره د فاعله او سره د مفعول مطلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة او معطوفة علیها، واو حرف عاطف، ضمنت فعل فاعل الی جار، ها مجرور محلاً - جار سره د مجروره ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورې من جار الابحاث موصوف الشریف، صفت، موصوف سره د صفت نه معطوف علیه - واو حرف عاطف النکت موصوف اللطیفة صفت، موصوف سره د صفت نه معطوف - معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی فعل موخر (خلت) پورې ما موصوله خلت صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم الکتب، فاعل - عن جارة مجرور محلاً جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور پورې، فعل سره د فاعله او سره د متعلقینو نه جمله فعلیه خبریه معطوفة علیها - واو حرف عاطف لا لنفی الجنس بد مفرد مبنی بر فتحه اسم د لا شو، من جارة مجرور محلاً جار سره د مجروره ظرف مستقر تعلق نیسی موجود وغیره پورې، موجود صیغه د اسم مفعول ده، ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله نائب فاعل شو - اسم مفعول سره د نائب فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله خبر د لا، لا سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه حالیه معطوفه (ونیه ترکیب آخر)



معطوفة علیها سره د معطوف نه داصله د موصول شوه، موصول سره د صلې نه مفعول د فعل (ضمنت) شو، با جار عبارات موصوف رائقة صفت اول تنا بی فعل مضارع، معانی مضاف. ها مضاف الیه مجرور محلاً مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل، الاذهان فاعل، فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت ثانیه، موصوف سره د صفتونو نه معطوف علیه، واو حرف عاطف تقریرات موصوف، شائقة صفت اول تحب فعل مضارع استماع مضاف ها مضاف الیه مجرور محلاً، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل - الاذان فاعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه صفت ثانی - موصوف سره د صفتونو نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف، مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور (ضمنت) پورې، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلقینو نه جمله فعلیه خبریه معطوفه و معطوف علیه، واو حرف عاطف سمیت فعل فاعل - ة مفعول به با جار تحریر مصدر مضاف القواعد موصوف، المنطقیه صفت - موصوف سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف، فی جار شرح مضاف، الرسالة موصوف، الشمسیه صفت - موصوف سره د صفت نه، مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور (تحریر) پورې، مصدر مضاف سره د مضاف الیه نه او سره د متعلق نه شبه جمله مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور (سمیت) پورې فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة او معطوفة علیها، واو حرف عاطف خدمت فعل فاعل با جار ة مجرور محلاً، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور پورې. عالی مضاف، حضرت مضاف الیه من موصول، خص فعل ة ضمیر مفعول به الله ذو الحال، تعالی صیغه فعل ماضی معلوم، ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه حال د ذو الحال، ذو الحال سره د حال نه فاعل د فعل شو، با جار انفس موصوف القدسیة، صفت، موصوف سره د صفت نه معطوف

الرّیاسة موصوف الاُنسیة صفت، موصوف
علیه، واو حرف عاطف، الرّیاسة موصوف الاُنسیة صفت، موصوف
سره د صفت نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار، جار
سره د مجرورۃ دا ظرف لغوۃ تعلق نیسي فعل مذکور اخصّ پورے فعل سره
دفاعله او سره د مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة
علیها واو حرف عاطف، جعل، فعل ماضی معلوم ضمیر دهو پکښ مستتر د
هنه ورله فاعل شو، ة ضمیر مفعول اول، با جار حیث مضاف، یتصاعد
فعل مضارع معلوم. با جار تصاعد، مضاف، رتبة مضافٌ الیه مضاف ة
ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضافٌ الیه نه مضاف الیه شو دپاره د
مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جارسره د مجرورۃ
ظرف لغوه تعلق نیسي فعل مذکور پورے، مراتب مضاف الدّنیا معطوف علیه
واو حرف عاطف الدین ، معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه
فاعل د فعل. فعل سره د فاعله او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة
واو حرف عاطف، یتطاطأ، فعل مضارع معلوم. دون مضاف، سرادقا
مضاف الیه مضاف دولة مضافٌ الیه مضاف ة ضمیر مضاف الیه، مضاف
سره د مضاف نه مضافٌ الیه شو دپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه
نه مضاف الیه شو د مضاف، مضاف سره د مضافٌ الیه نه مفعول فیه د فعل
شو رقاب، مضاف، الملوك معطوف علیه، واو حرف عاطف السلاطین
معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مضاف الیه د مضاف، مضاف
سره د مضافٌ الیه نه فاعل د فعل. فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه
نه جمله فعلیه خبریه معطوفة او معطوفة علیها، واو حرف عاطف هو
مبتدا المخدوم موصوف، الاعظم صفت، موصوف سره د صفت
نه خبر اول، دستور مضاف، اعاظم اسم تفضیل مضافٌ الیه مضاف
الوزراء مضاف الیه فی جار. العالم مجرور جارسره د مجرور ظرف لغوۃ
تعلق نیسي اسم تفضیل مذکور پورے اسم تفضیل مضاف سره د فاعل
مضافٌ الیه نه او سره د متعلق نه شبه جمله مضافٌ الیه د مضاف
مضاف سره د مضافٌ الیه نه خبر ثانی، صاحب، مضاف السیف معطوف
علیه واو حرف عاطف. القلم معطوف، معطوفٌ علیه سره د معطوف
نه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضافٌ الیه نه خبر ثالث، سبّاق



اسم فاعل مضاف، ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو،
الغایات، مضاف الیه، فی جار نصب مضاف رایات مضافٌ الیه مضاف،
السّعادات، مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه، مضاف الیه د مضاف مضاف
سره د مضافٌ الیه نه مجرور د جار، جارسره د مجرورۃ ظرف لغوۃ تعلق نیسي
سباق پورے اسم فاعل، سره د فاعل مضاف الیه او سره د متعلق نه شبه
جمله خبر رابع، البالغ الف لام موصول، بالغ صیغه د اسم فاعل ضمیر د هو
پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، فی جار اشاعة مصدر مضاف العدل
معطوف علیه واو حرف عاطف الاحسان معطوف، معطوف علیه سره د
معطوف نه مضافٌ الیه شو د مضاف با جار اقصٰی اسم تفضیل مضاف،
النّهایات، مضافٌ الیه، مضاف سره د مضافٌ الیه نه مجرور د جار، جارسره
د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسي تر مصدر مذکور پورے، مصدر مضاف سره
د فاعل مضاف الیه نه او سره د متعلق نه شبه جمله مجرور د جار، جارسره
د مجرورہ ظرف لغو تعلق نیسي فعل تر اسم فاعل مذکور پورے، اسم فاعل سره
د فاعله، او سره د متعلق نه شبه جمله صله د موصول، موصول سره د صلے نه
خبر خامس، فا ظرف، مضاف، دیوان مضاف الیه مضاف الوزارة مضافٌ
الیه. مضاف سره د مضاف الیه نه مضافٌ الیه شو دپاره د مضاف، مضاف
سره د مضاف الیه نه خبر سادس، عین مضاف، اعیان مضافٌ الیه مضاف
الامارة. مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو دپاره د
مضاف، مضاف سره د مضافٌ الیه نه خبر سابع اللائح الف لام موصول لائح
صیغه د اسم فاعل من جار غرة مضاف، ة ضمیر مضاف الیه مضاف سره
د مضافٌ الیه نه موصوف. الغراء صفت، موصوف سره د صفت نه مجرور
د جار، جارسره د مجرور نه تعلق نیسي تر اسم فاعل مذکور پورے، لوائح مضاف
السّعادة موصوف، الابدیة، صفت، موصوف سره د صفت نه مضاف الیه
د مضاف شو، مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د اسم فاعل، اسم فاعل سره
د اسم فاعله او سره د متعلق نه شبه جمله صله د موصول، موصول سره د
صلے نه خبر ثامن، الفائح، الف لام موصول فائح صیغه د اسم فاعل من
جار همت مضاف ة مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف
العلیا صفت، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار شو، جارسره د مجرورہ

Maktaba Tul-Ishaat.com

داظرفِ لغوه تعلق نیسی ترا اسمِ فاعل مذکور پورے، رواجُ مضاف، العنایة
موصوف الرمدیه، صفت، موصوف سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف
مضاف۔ مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د اسمِ فاعل، اسمِ فاعل سره دفاعله
او سره د متعلق نه شبه جمله صله د موصول، موصول سره د صلے نه خبر
تاسع، ممهد اسمِ فاعل مضاف، قواعد مضاف الیه مضاف الملة موصوف،
الربّانیة صفت موصوف سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف۔ مضاف
سره د مضافٌ الیه نه بیا مضاف الیه شو دپاره د مضاف، مضاف سره د
مضافٌ الیه نه داخبر عاشر، مؤسس اسمِ فاعل مضاف، مبانی مضاف الیه
مضاف، الدولة موصوف۔ السلطانیة، صفت، موصوف سره د صفت نه
مضاف الیه شو د مضاف، مضاف، مضاف۔ مضاف سره د مضافٌ الیه نه مضاف
الیه شو دپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه خبر حادی عشر العالی
الف لام موصول۔ عالی صیغه د اسمِ فاعل۔ عنان مضاف الجلال مضاف الیه
مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د اسمِ فاعل۔ رایات مضاف، اقبال مضاف
الیه ۂ ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه دپاره
د مضاف شو، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د اسمِ فاعل۔ اسمِ فاعل
سره دفاعل او سره د مفعول به شبه جمله صلة د موصول، موصول سره د صلے
نه خبر ثانی عشر الف لام موصول رتالی اسم فاعل، لسان مضاف الاقبال مضاف الیه، مضاف
سره د مضاف الیه نه فاعل د اسم فاعل، آیات، مضاف، جلال مضاف الیه
ۂ ضمیر مضافٌ الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو دپاره د مضاف
مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول د اسم فاعل، اسمِ فاعل سره دفاعله او
سره د مفعول به نه شبه جمله صله د موصول، موصول سره د صلے نه
خبر ثالث عشر، ظل مصدر مضاف، الله مضاف الیه۔ علیٰ جار العٰلمین مجرور
جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر مصدر مذکور پورے، مصدر
مضاف سره د مضاف الیه نه او سره د متعلق نه شبه جمله خبر رابع عشر
ملجاء مضاف الافاضل معطوف علیه، واو حرف عاطف العٰلمین معطوف
معطوفة علیها سره د معطوف نه مضاف الیه د مضاف مضاف سره د مضافٌ
الیه نه خبر خامس عشر۔ شرف مضاف۔ الحق معطوف علیه، واو حرف
عاطف، الدولة معطوف اول، واو حرف عاطف الدین معطوف ثانی، معطوف



علیه سره د معطوفینو نه، مضاف الیه شو د مضاف مضاف سره د مضاف الیه
خبر سادس عشر، وشید مضاف الاسلام مضاف الیه، مضاف سره د مضاف
الیه نه معطوف علیه، واو حرف عاطف، مرشد مضاف۔ المسلمین مضاف الیه
مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف۔ معطوف علیه سره د معطوف نه خبر سابع
عشر، مبتدا اچه هغه هو ده) سره د اولنی وا ړو خبرونو نه مبدل
یا مبین، امیر احمد۔ بدل یا بیان، مبدل منه سره د بدل نه یا مبین سره
د بیان نه، جمله اسمیه خبریه معطوفه، معطوفة علیها سره د معطوف نه
معطوف شو دپاره د معطوف علیها۔ معطوف علیها سره د معطوف نه په اعتبار
د تاویل سره مضاف الیه شو دپاره د مضاف (حیث) مضاف سره د مضاف الیه نه
مجرور د جار۔ جار سره د مجروره ظرفِ مستقر تعلق نیسی تر متلبسًا مقدر پورے
متلبسًا صیغه د اسمِ فاعل ده ضمیر د هو پکښی مستتر دے هغه ورله فاعل شو
اسمِ فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله، مفعول ثانی د جعل
پاره۔ جعل فعل سره د فاعله او سره د مفعولینو نه جمله فعلیه خبریه معطوفه
معطوفة علیها سره د معطوف نه صله د موصول چه (من) دے موصول سره
د صلے نه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو
دپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل چه (خدمت)
دے، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه
خبریه معطوفه۔ معطوفة علیها (ممیت) سره د معطوفه نه بیا معطوف شو
دپاره د معطوفة علیها (ضممت) دپاره، معطوفة علیها سره د معطوفه نه
معطوف شو دپاره د معطوفة علیها (سحبت) دپاره معطوفة علیها سره د معطوف
نه بیا معطوف شو دپاره د معطوفة علیها (وجهت) دپاره معطوفة علیها سره د
معطوف نه جمله فعلیه خبریه جزائے شرط فعل شرط سره د جزاء شرط
نه جمله فعلیه شرطیه،

قوله شعر۔ الله لقبهٔ الخ شعر مبدل منه، لفظ الله مبتداء لقب فعل ماضی
معلوم۔ ضمیر د هو پکښی مستتر دے هغه ورله فاعل شو ۂ مفعول به اول،
من جار عند مضاف ۂ ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه
مجرور د جار۔ جار سره د مجروره تعلق نیسی فعل مذکور پورے۔ شرفا
مفعول ثانی، فعل سره د فاعله او سره د مفعولینو نه او سره د متعلق نه جمله

فعلیه خبر یه متفرع علیها لاَمْ جار اِنَّ حرف دَے د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړی ؔة ضمیر اسم د اِنَّ شو، شرقت، صیغه واحدهٔ مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم دینَ مضاف الهدٰی مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به مقدم شو، د فعل د پاره، شَیَم مضاف ةٓ ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د فعل، فعل سره د فاعله اوسره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه خبر د اَنَّ شو، اَنَّ سره د اسم اوسره د خبرهٔ جمله اسمیه خبریه تعلیل اول، اِنَّ حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړی، الامارة، اسم د اَنَّ شو، باهت صیغهٔ واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی معلوم ضمیر دِهِیَ پکښ مستتر دَے هغه ورله فاعل شو فعل سره د فاعله جمله فعلیه معلّل، اِذْ تعلیلیه، بآ جارهٓ مجرورٌ، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مؤخر (نسبت) پورے، نسبت صیغه واحده مؤنثه غائبه فعل ماضی مجهول ده ضمیر د هِیَ په کښ مستتر دے هغه ورله نائب فاعل شو لاَمْ جار- مَا مصدریه، اُشْتُق: صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول، مِنْ جار ةٓ مجرور محلاً، جار سره د مجروره ظرف لغو تعلق نیسی فعل مذکور پورے یِمّ مضاف ةٓ مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه نائب فاعل د فعل (اشتق) شو، فعل سره د نائب فاعل نه اوسره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه په تاویل مصدر مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے، فعل سره د نائب فاعل نه اوسره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر د مبتدا شو، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه معطوفة معطوف علیها سره د معطوف نه تعلیل ثانی، معلل سره د تعلیلونو نه خبر د مبتدا (الفظ د الله د پاره) شو، مبتدا سره د خبرنه جمله اسمیه خبریه بدل د مبدل منه، مبدل منهٗ سره د بدل نه خبر شو د مبتداء محذوفے د پاره چه هٰذا دَے، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه،

لاَ زال اعلام العدل الخ لاَ نافیه زَالَ صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ناقص اسم مرفوع خبر منصوب غواړی، اَعْلَام مضاف- العدل مضافٌ الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه، معطوف علیه، وآو حرف عاطف قیمةِ مضاف العلم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه د ا معطوف اول، واو



حرف عاطف اَیَادِی مضاف ةٓ ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف ثانی، واو حرف عاطف، اَمَادِی مضاف ةٓ مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف ثالث، معطوف علیه سره د دریو د اړو معطوفینو نه اسم د زال شو فِیْ جار اَیَّام مضاف دولة مضاف الیه مضاف ةٓ ضمیر مضاف الیه ........................مضاف سره د مضاف الیه نه د ا مضاف الیه شو د پاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه، معطوف علیه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغو تعلق نیسی عالیة پورے، عالیة صیغه واحده مؤنثه اسم فاعل- ضمیر د هِیَ پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعله اوسره د متعلقه، شبه جمله معطوف علیه، وآو حرف عاطف، مِنْ جار آثَار مضاف- تربیة مضافٌ الیه مضاف ةٓ ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضافٌ الیه نه مضاف الیه شو د مضاف- مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره دا ظرف لغوه تعلق نیسی تر غالیة مؤخر پورے، غالیة صیغه د اسم فاعل ضمیر د هِیَ پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعله اوسره د متعلق نه شبه جمله معطوف اول، وآو حرف عاطف علیٰ جار، اهل مضاف الحق مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر غائضة مؤخر پورے، غائضة صیغه د اسم فاعل ده، ضمیر د هِیَ پکښ مستتر دَے، هغه ورله فاعل شو اسم فاعل سره د فاعله اوسره د متعلق نه شبه جمله معطوف ثانی، واو حرف عاطف- مِنْ جار- بَیْنَ مضاف- الخَلقَ مضاف الیه مضاف سره د مضافٌ الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره نه ظرف لغوه تعلق نیسی تر غائضة مؤخر پورے، غائضة صیغه د اسم فاعل- ضمیر د هِیَ پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعله او سره د متعلق نه شبه جمله معطوف ثالث، معطوف علیه سره د دریے واړو معطوفو نه خبر د زال شو، لاَ زال فعل ناقص سره د اسم او سره د خبر نه جمله فعلیه خبریه،

وهُوَ الذی اعم اهل الزمان الخ وآو زائده تحسینیه- هُوَ مبتدا- الذی موصول- عَمّ صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو اهل مضاف الزمان مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به بآ جار افاضه مصدر مضاف العدل

Maktaba Tul Ishaat.com

معطوف علیه، واو حرف عاطف الاحسان معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مضاف الیه شو د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور ی، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة علیها واو حرف عاطف، خص، صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ور له فاعل شو، من جار بین مضاف هم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی فعل مذکور پورے، اهل مضاف العلم مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به یا جار، فواضل موصوف، متوالیة صفت، موصوف سره د صفت نه معطوف علیه، واو حرف عاطف - فضائل موصوف - غیر مضاف، متناهیة مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه صفت، موصوف، سره د صفت نه، معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلقینو نه، جمله فعلیه خبریه معطوفه او معطوفة علیها، واو حرف عاطف رفع صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، ضمیر د هو پکښ مستتر دے - هغه ور له فاعل شو، لام جار اهل مضاف العلم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور (رفع) پورے، مراتب مضاف، الکمال مضاف الیه - مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل - فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة د معطوفة علیها، واو حرف عاطفه نصب صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ور له فاعل شو لام جار ارباب مضاف الدین مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور ،الاجلال، مفاالیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل. فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفه د معطوفة علیها، واو حرف عاطف، خفض صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ور له فاعل



شو لام جار اصحاب مضاف، الفضل مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار - جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی مذکور (خفض) پورے جناح مضاف الافضال مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلقه نه جمله فعلیه خبریه معطوفه، حتی تفریعیه یا غائیه، جلیت صیغه واحده مؤنثه فعل ماضی مجهول الی جار جناب مضاف رفعة مضاف الیه مضاف ة ضمیر مضاف الیه - مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے، بضائع مضاف، العلوم مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه نائب فاعل د فعل - من جار - کل مضاف، مرمی موصوف سحیق صفت موصوف سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلقینو نه، جمله فعلیه خبریه معطوفة علیها، واو حرف عاطف، وجه صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی مجهول تلقاء مضاف مدین مضاف الیه مضاف. دولة مضاف ة مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه د فعل، مطایا مضاف الآمال مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه نائب فاعل د فعل، من جار کل مضاف فج موصوف عمیق، صفت، اول سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مقدر پورے فعل سره د نائب فاعل او سره د مفعول فیه او سره د متعلق د جمله فعلیه خبریه معطوفة - معطوفة علیها سره د معطوف نه تفریع شو د پاره د متفرع علیها یا غایة شوه د پاره د مغیا:

اللهم کما ایدته الخ اللهم په اصل کښ یا الله وو، یا حرف نداء قائم مقام د ادعوا - ادعوا فعل ضمیر د انا په کښ مستتر دے هغه ور له فاعل شو لفظ د جلال مفعول به - فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جملهٔ ندائیه انشائیه، کاف په معنی د مثل سره، مضاف، ما جازمه متضمن معنی د شرط ایدت فعل فاعل - ة ضمیر مفعول به لام جار لفظ الله مضاف کلمة مضاف الیه د مضاف ك ضمیر د مخاطب مضاف الیه مجرور محلا مضاف سره د مضاف

الیه نه مضاف الیه شو د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار
جار سره د مجرور ره دا ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے، فعل سره
د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه فعل شرط
فاجزائیه، ابد صیغه داحد مذکر امر حاضر معلوم، ضمیر د أنت پکښې مستتر
دے هغه ورله فاعل شو ة ضمیر مفعول به فعل سره د فاعله او سره د مفعول به
جمله فعلیه انشائیه امریه جزائے شرط، فعل شرط سره د جزائے شرط
نه جمله فعلیه شرطیه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه
معطوف علیه واو حرف عاطف کاف په معنیٰ د مثل سره مضاف ما جازمه
متضمن معنیٰ د شرط لره نورت فعل فاعل، خلد مضاف ة ضمیر مضاف الیه مضاف
سره د مضاف الیه نه مفعول به لام جار نظم مصالح، مضاف الیه مضاف
خلق مضاف الیه مضاف ك ضمیر د خطاب مضاف الیه مجرور محلاً مضاف
سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه
بیا مضاف الیه شو د پاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار
جار سره د مجرور ره ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے فعل سره
د فاعله او سره د مفعول به نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه فعل
شرط فا جزائیه خل صیغه واحد مذکر امر حاضر معلوم ضمیر د انت پکښې
مستتر دے هغه ورله فاعل شو- ة ضمیر مفعول به- فعل سره د فاعل او سره
د مفعول به جمله انشائیه امریه جزائے شرط، فعل شرط سره د جزائے
شرط نه جمله فعلیه شرطیه معطوفه معطوفة علیها سره د معطوف نه
جمله فعلیه جواب ندا شو

من قال آمین الخ، من متضمن معنیٰ د شرط لره، قال فعل ماضی معلوم
ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو- آمین مفعول به
فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه فعل شرط، ابقی
صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، لفظ الله ئے فاعل، مهجة
مضاف ة ضمیر مضاف الیه- مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به
فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه فعلیه خبریه
صورة انشائیه معنیٰ جزائے شرط، فعل شرط سره د جزائے شرط نه
معلل، فا تعلیلیه إنّ حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر



مرفوع غواړی، هذا اسم اشاره اسم د إنّ دعاءً موصوف یشمل صیغه
واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه
ورله فاعل شو- البشر مفعول به فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه
جمله فعلیه خبریه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه خبر د إنّ
شو، إنّ سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه تعلیل د معلل شو
فا، تفریعیه یا جزاء د شرط محذوف د پاره اے اذا کان الامر کذالک
فان وقع الخ إنْ شرطیه وقع صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ضمیر
د هو پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، فی جار حیز مضاف القبول مضاف
الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور ره ظرف لغوه
تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے فعل سره د فاعله او سره د متعلق نه جمله
فعلیه خبریه فعل شرط، فا، جزائیه هو مبتدا غایه مضاف المقصود مضاف
الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه، واو حرف عاطف نهایه
مضاف المامول مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه
معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه خبر د مبتداء مبتداء سره د
خبر نه جمله اسمیه خبریه جزائے شرط، فعل شرط سره د جزائے شرط
نه جمله فعلیه شرطیه تفریعیه یا جزائیه، واو استینافیه لفظ د الله ذو
الحال- تعالیٰ صیغه واحد غائب فعل ماضی معلوم، ضمیر د هو پکښې مستتر د
هغه ورله فاعل شو، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه حال د ذوالحال
ذوالحال سره د حال نه مفعول به مقدم اسأل صیغه واحد متکلم فعل
مضارع معلوم، ضمیر د انا پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، ن وقایه
ی ضمیر د متکلم مفعول به لام جار الصدق معطوف علیه، واو حرف
عاطف الصواب معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار
جار سره د مجرور نه ظرف لغوه تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے فعل سره
د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفه
معطوفة علیها سره د معطوف نه په تاویل د مصدر سره دا مفعول ثانی د
دفعل شو، فعل سره د فاعل او سره د مفعولینو نه جمله فعلیه خبریه معلله
إنّ حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه، اسم منصوب خبر مرفوع غواړی
ة ضمیر اسم د إنّ شو ولی التوفیق، ولی صفت مشبه مضاف التوفیق

Maktaba Tul Ishaat.com

فاعل مضاف الیه صفت مشبه، مضاف سره دفاعل مضاف الیه نه شبه جمله معطوفة علیها، واو حرف عاطف با جار ید مضاف ة ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء مؤخر، خبر مقدم سره د مبتداء موخر نه جمله اسمیه خبریه معطوفه معطوفة علیها سره د معطوف نه خبر د إنّ، إنّ سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه تعلیل د معلل نه الخ

قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَبْدَعَ نِظَامَ الْمَوْجُوْدِ وَاخْتَرَعَ مَاهِیَاتِ الْاَشْیَاءِ بِمُقْتَضَی الْجُوْدِ، وَاَنْشَاءَ بِقُدْرَتِهِ اَنْوَاعَ الْجَوَاهِرِ الْعَقْلِیَّةِ وَاَفَاضَ بِرَحْمَتِهِ مُحَرِّکَاتِ الْاَجْرَامِ الْفَلَکِیَّةِ،

**ترجمه**:- ماتن و یلی دی چه په نوم د الله تعالیٰ سره چه زیات مهربان او ډیر بخښونکے دے شروع کوم، ټول تعریفونه (د خدائے صفتونه) خاص هغه الله لره چه (هغه) په نا اشنا عجیبه طرز (انداز) کښ د ممکناتو د وجود نظام قائم او پیدا کړو، او د خپل صفت جود او سخا په وجه د څیزونو حقائق (ذاتیات) پیدا کړل او په خپل قدرت کامله" ئے د جواهر عقلیو (عقول عشرة عند المناطقة) قسمونه پیدا او ایجاد کړل، او په خپل رحمت "عامه" ئے اجسام فلکیه (افلاک) کوکب، سموٰت، نجوم) ته حرکت ورکولو والا څیز (هغه جواهر چه د حوادثو ذریعه دی عند الفلاسفه) زیات والی سره پیدا کړل،

**توضیح اللغات**:- ابدع: صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم د باب افعال نه، وقد مر معناهٗ فی ذیل مبدع (۲) نظام: په لغت کښ هغه تار (مزی) ته ویلے کیږی، چه هغے کښ ملغلرے وغیره پیللے کیږی او په اصطلاح کښ، الترتیب الحاصل بجمع بعض الاشیاء الی بعض وضم بعضها الی بعض ته وائی، (۳) اختراع، صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ده د باب افتعال نه په معنیٰ د پیدا کول، (۴) ماهیات، جمع د ماهیة ده، د شی حقیقة ته وائی، ماهیت، هویت، او حقیقت، اتحاد ذاتی او فرق اعتباری دے، دے اعتبار سره چه په جواب د ما هو کښ ماهیت شو، او په دے اعتبار سره چه په خارج کښ تحقق او وجود لری، حقیقت شو،





او په دے اعتبار سره چه د هو مرجع واقع کیږی نو هویت شو (۵) انشاء صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، د باب افعال نه پیدا کول او ایجاد کول، و فی التنزیل، وهو الذی انشاءکم من نفس واحدة (۶) جواهر جمع د جوهر ده، په لغت کښ حقیقة الشئ ذاتهٖ ته ویلی شی، او په اصطلاح کښ هغه شی ته ویلے شی چه قائم بالذات وی، او محل ته محتاج نه وی، لکه هیولیٰ، صورة، جسم، نفس، او عقل شو، او د دے په مقابل عرض دے، چه قائم بالغیر وی او محتاج وی محل وی والتفصیل فی موضع آخر (۷) العقلیة :- ---: المنسوب الی العقل (۸) افاض، صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ده، د باب افعال نه وقد مرّ معناهٗ (۹) محرکات جمع د محرکة ده، مراد ترے نه نفوس فلکیه دی (۱۰) اجرام: جمع د جرم ده، په لغت کښ جسم ته وائی، او په اصطلاح د فلاسفو کښ، (الاجرام هی الاجسام اللتی فوق العناصر من الافلاک والکواکب (تعریفات)

(۱۱) الفلکیة :- منسوب فلک طرف، فلک، والفلک جسم کروی یحیط به سطحان ظاهری وباطنی وهما متوازیان مرکز هما واحد (تعریفات)

**تشریح**:- قوله قال الخ بیانوی شارح رحمهٗ الله د متن عنوان په قال سره او د شرح عنوان په اقول سره منتخب کړیدے یعنی د قال نه روستو د متن (رساله شمسیه) عبارت وی او د اقول نه روستو د شرح تحریر القواعد المنطقیة، (قطبی) عبارت وی، او دا عنوانات په کتاب کښ تقریبًا (۱۲۰) دی او خطبه د شارح پرے زائد ده، لکه قطبی ابجد لحاظ سره (۱۲۱) دی.- یو عدد په عنوانا تو زائد دے، وان کنت فی ریب فارجع البصر کرتین، الخ پس د دے ځائے نه د متن خطبه شروع کیږی قوله، الحمد لله الذی الخ سوال: ماتن د مشهور حمد (خطبه) نه ولے عدول ولے کړو سره د دے نه هغه مختصر هم وه، او آسانه هم وه (جواب(۱)) :- کلّ جدید لذیذ. جواب(۲) دلته ئے د براعة الاستهلال کړیدے، کما لا یخفیٰ، جواب(۳) په دیکښ یو قسم اثبات د مدعیٰ دے، سره د دلیل نه جواب(۴) لحاظ د سجع ئے کړیدے چه هغه په خطبو کښ مستحسن ګڼړلے شی، جواب (۵) په دیکښ تشبیه د معقول ده د محسوس سره، چه د دے سره وضاحت د معقول راځی

پس زده کړه د اخبره چه معنٰی د حمد خو مخکښ بیان شویدی، لیکن په الف لام کښ درے احتماله کید یشی، (۱) چه د االف لام جنسی شی، یعنی جنس حمد او حقیقت خاص الله تعالٰی لره دَے،

حمد را با تو نسبتے است درست ❊ بردر هر که رفت بردر تست ،

(۲) دا چه الف لام استغراق د پاره دے یعنی ټول محامد (هر ثنا او یو نکے په هره زمانه کښ د ازل نه تر ابده پورے بالواسطه وی یا بلا واسطه خاص الله تعالٰی لره دی (۳) دا چه الف لام عهد خارجی د پاره دی یعنی هغه حمد او ثنا کوم چه الله تعالٰی د خپل ذات او صفات د پاره کړیدے وی الحدیث، لا احصی ثناء علیك انت کما اثنیت علی نفسك او کما قال علیه السلام ، شعر،

اے غنی در ذات خود از ماسوائے خویشتن ❊ خود تو هی گوئی بحمد خود ثنائے خویشتن،

علامه زمخشری په (کشاف) کښ او علامه تفتازانی رحمه الله په (مطول) کښ رو مبے احتمال غوره کړے دَے، ځکه چه کوم الف لام په مصادرو داخل وی، هغه په اصل کښ د جنسیت د پاره وی، او علامه میر سید شریف جرجانی په حاشیه د شرح تلخیص کښ او جمهورو علماؤ دویم احتمال غوره کړیدَے، او صاحب د مجمع دریم احتمال ته ترجیح ورکړیده، ځکه چه دا خبره په اصولو کښ بیان شویده چه الف لام عهدی په استغراق باندے مقدم دَے،

**فائده ۹**:- زده کړه دا خبره چه الف لام او لفظ د الله د لام کښ ټول نهه احتمالات دی (۱) الف لام په الحمد کښ د جنس د پاره او لام په لفظ جلال کښ اختصاص د پاره (۲) الف لام جنس د پاره او لام استحقاق د پاره (۳) الف لام جنس د پاره او لام ملك د پاره، (۴) الف لام حمد کښ استغراق د پاره او لام په لفظ جلال کښ اختصاص د پاره (۵) الف لام استغراق د پاره او لام استحقاق د پاره (۶) الف لام استغراق د پاره، او لام د ملك د پاره (۷) الف لام په الحمد کښ عهد خارجی د پاره او لام په لفظ جلال کښ اختصاص د پاره، (۸) الف لام د عهد خارجی د پاره او لام د استحقاق د پاره (۹) الف لام عهد خارجی د پاره او لام د ملك د پاره، هر کله چه دلته ټول افراد د محامدو خاص الله لره ثابتول ضروری دی - نو شپږ احتماله ساقط شو او صرف درے احتماله چه (۱، ۲، ۱) دی باقی پاتے شو،



سوال :- انسانان خپل مینځو کښ د یو بل حمد کوی، نو ثبوت د ټولو افرادو د حمد په ذات الٰهی کښ منحصر نهٔ شو، او ته وائی چه لام د اختصاص د پاره دے جواب ۱:- انسانان چه په خپلو مینځو کښ د یو بل حمد کوی، دا په حقیقت کښ حمد د الله تعالٰی دَے، ځکه د کوم انسان چه صفت کوے شی په هغه کښ ضرور یو صفت د مدح وی، ورنه دا استهزاء کرځی او صفت د مدح ورکوونکے یو الله دَے، جواب ۲ : د انسانانو او دوئی د عملونو خالق یو الله دے په نیز د اهل سنت و الجماعة، نو حمد د انسان عین حمد د الله تعالٰی دے والله خلقکم وما تعملون ۵ نو یرجع حمد العباد فیما بینهم الی حمد الله،

قوله، ابداع الخ زده کړه د اخبره چه په دے مقام کښے د څو الفاظو ترمینځ فرق کول ضروری دی، چه هغه عبارت دے د ابداع، انشاء، تکوین، احداث، تخلیق، او اختراع نه پس پوه شه چه ابداع ایجاد الشئ غیر مسبوق بمادة و زمان ته وائی یعنی د اسے څیز پیدا کول چه هغه مخکښ نهٔ څه ماده وی او نه څه زمانه رو مبے شی پیدا کول خواه د هغه مثال مخکښ وی او که نه وی، لکه عقل شو عند الفلاسفة، وقال تعالٰی بدیع السموت والارض، او انشاء، ایجاد الشئ الذی یکون مسبوق بمادة و زمان۔ ته وائی، یعنی د اسے څیز پیدا کول چه د هغه نه مخکښ ماده او زمانه د واړه وی، یعنی دویم ځلے څیز پیدا کول، لکه عام انسانان شول، وفی التنزیل، وهو الذی انشأکم من نفس واحدة، او تکوین عبارت دے ایجاد الشئ مسبوقا بالمادة فقط یعنی د اسے څیز پیدا کول چه د هغه ماده مخکښ نه موجوده وی، لکه آدم علیه السلام د خاورو نه پیدا کیدل او خاوره مخکښ نه موجوده، وقال تعالٰی ان مثل عیسٰی کمثل آدم خلقه من تراب ثم قال له کن فیکون ، او احداث عبارت دَے د ایجاد الشئ مسبوقا بالزمان " نه یعنی د اسے څیز پیدا کول چه د هغه زمانه مخکښ موجوده وی لکه نفخهٔ ثانیه - د انسانانو پیدا کول په وخت، وفی التنزیل، لعل الله یحدث بعد ذالك امرا، او اختراع، ایجاد الشئ لا علی مثال سابق مطلقا سواء کان مسبوقا بالمادة والزمان اولا، یعنی د اسے څیز پیدا کول چه د هغه مثال (نمونه) مخکښ موجود نه وی خواه که د هغه ماده مخکښ نه موجوده وی او که نه او د هغه زمانه د مخکښ نه موجوده وی او که نهٔ، لکه آدم علیه السلام او عقل اول شو، او خلق، تخلیق عبارت دَے، د ایجاد الشئ مطلقا، سواء کان علی

مثال سابق او لاً وسواء کان مسبوقًا بالمادۃ والزمان او لا، وفی التنزیل قال قال تعالیٰ یاایها الناس اعبدوا ربکم الذی خلقکم و الذین من قبلکم، وقال تعالیٰ واذ قال ربك للملائکة انی خالق بشرًا، وقال تعالیٰ، الذی خلق سبع سمٰوٰت طباقًا،

**تنبیه** :- د دے شپږ واړو الفاظو دیو بل په ځائے اطلاق کیږی هم د دے کبله اکثر علماء د ترادف قائل دی هم په دغه اساس مولوی ولی الله انصاری رحمه الله په حاشیه د صدرا کښ ذکر کړیدی، چه ابداع او اختراع دواړه په یو معنٰے سره راځی یعنی ایجاد الشئ لاعلیٰ مثال سابق، لیکن مونږ دلته کښ فرق واضح کړو، او که ترادف شی نو بیا عمومًا دا یې ویلے شی چه کله په کلام عربی کښ مترادف الفاظ واقع شی نو بنه داده چه هر یو لره په جدا معنیٰ باندے محمول کړے شی چه تکرار لازم نشی (والتاسیس اولیٰ من التاکید) او هم دغه راز کله چه په کلام کښ مترادف الفاظ جمع شی، نو فرق پکښ کولے شی او کله چه دا الفاظ جدا جدا ذکر کړے شی، نو فرق نشی کولے، اذا اجتمعا افترقا واذا افترقا اجتمعا، (فتح الملهم) چونکه دلته په متن کښ ابداع او اختراع دواړه ذکر دی نو فرق به پکښ کولے شی (کما ذکرناهٗ) پس په مابین د ابداع او اختراع کښ نسبت د عموم خصوص من وجه دے، ماده اجتماعیه عقل اول دے چه دواړه پکښ جمع کیدے شی، او دویمه ماده افتراقیه ایجاد د نفس ناطقه انسانیه شو، په وخت د حدوث د بدن کښ نو دا ابداع دے نه اختراع، او دریمه ماده افتراقیه، ایجاد د بدن د آدم علیه السّلام شو دا اختراع دے، ځکه چه عالم کښ ددے مثال سابق موجود نه وو) او ابداع نهٔ دے ځکه چه بدن د آدم علیه السّلام مادی دے)

**قوله، محرکات اجرام الفلکیة** :- مراد د محرکات نه نفوس فلکیه د اسمان ستوری، کواکب وغیره) دی کما تقرر عند الحُکَمَاءِ، او نسبت د اجرام فلك ته د تبیلے د نسبت د عام نه دے خاص وته،

**تنبیه** :- نظام الوجود سره ئے لفظ دا بداع راوړو ځکه چه هغه شی چه مجموع او مشتمل دے په ماده زمان او په مجردات و باندے هغه مسبوق بالماده مسبوق بالزمان کیدل منع دی، او ابداع هم غیر مسبوق بالماده او غیر مسبوق بالزمان وی، (اوما هیات الاشیاء " سره ئے لفظ



دا اختراع راوړو ځکه چه شامل شی تولو مادی او غیر مادی وته، او اختراع هم مطلق ایجاد ته ویلے کیده، او هر کله چه انواع د جواهر عقلیه مسبوق بالماده، او مسبوق بالزمان وو نو لفظ د اشیاء ئے ورسره راوړو، او محرکات اجرام الفلکیة سره ئے لفظ افاضه راوړلو، ځکه چه دا سبب دے د پاره د حدوث د حوادثو په عالم کون او فساد کښ، او دے سره معیشت د انسانانو راځی ځکه چه انسان په خپل معیشت دنیوی کښ محتاج دے، حدوث د حوادثو ته، او حدوث د حوادثو په محرکات اجرام فلکیه سره راځی نو دا خالص رحمت شو، سوال :- رحمت خو رقة القلب ته وائی، او الله جسم او جسمانی نه دے نو د رحمت نسبت ورته څنګه کوے جواب ع۱ : رحمت نه معنیٰ لازمی مراد ده چه هغه احسان دے، جواب ع۲ :- رحمت نه مراد (ارادة الخیر والنفع للغیر) دے او په دے مقام کښ تخصیص د عقول د شرافت او د تعظیم د وجه نه کړیدے،

**وَالصَّلٰوةُ عَلٰی ذَوَاتِ الْاَنْفُسِ الْقُدْسِيَّةِ الْمُنَزَّهَةِ عَنِ الْكُدُوْرَاتِ الْاِنْسِيَّةِ خُصُوْصًا عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَاحِبِ الْاٰيَاتِ وَالْمُعْجِزَاتِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ التَّابِعِيْنَ لِلْحُجَجِ وَالْبَيِّنَاتِ،**

**ترجمه** :- او رحمت کامله (درود) دوی په پاکو شخصیاتو (انبیاء علیهم السّلام) باندے چه د انسانی غلطیانو او لغزشونو نه مبرّیٰ پاك) دی خاصکر خصوصًا زمونږ آقا اسردار) محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے چه د نخو او د معجزو خاوند دے او (رحمت کامله دِوی) په هغه تابعدارو ددہ او ملګرو ددہ باندے چه قوی او واضح دلائلو، (په رڼا کښ د اسلام) تابعداری کوونکی دی،

**توضیح اللغات** :- (۱) انفس جمع د نفس ده په لغت کښ په معنیٰ د روح سره ده یقال خرجت نفسهٗ وجاذ بنفسه اے مات، او په اصطلاح کښ جوهرٌ بخاریٌ لطیفٌ حاملٌ لقوة الحیاة، (۲) جوهر مشرق للبدن ینقطع ضوئهٗ عن ظاهر البدن و باطنه عند الموت، وعند النوم ینقطع عن ظاهر البدن (۲) قدسیه : منسوب ده قدس، او قدس پاکوالی ته وائی، وفی التنزیل، ونحن نسبح بحمدك ونقدس لك) پس نفس قدسیه په اصطلاح کښ عبادت دے د "مالها ملکة استحضار جمیع ما یمکن

للنوع او قریبًا من ذالك علی وجهٍ یقینی" وهذا نهایة الحدس،
(۳) منزّهةٌ: صیغه واحده مونثه اسم مفعول ده د باب تفعیل نه، دکندګۍ لرې کېدل یقال نزّه نفسه عن الاقذار (۴) کدورات: جمع دکدورة ده، خړ، بې رڼا، او تورکېدل، وفی التنزیل، واذا النجوم انکدرت (۵) الانسیة، منسوب بسوئ انسان (۶) سید، صیغه واحد مذکر صفت مشبه ده د (ن) نه په لغت کښې معنیٰ ده مالك، مولیٰ ملِك، متولی او شریف سره او په اصطلاح کښې کل من افترضت طاعته، (۲) لقب تشریف یخاطب به الاشراف (معجم) (۷) معجزات، جمع د معجزه ده، معجزه په لغت کښې کمزورې کېدل او عاجز کېدو ته وائی (ما یعجز البشر ان یأتوا بمثله) ته وائی، او په اصطلاح کښې امر خارق للعادة یظهره الله علی ید نبي تائیدًا لنبوّته ته وائی،

**تشریح** ۶- **قوله**: الانفس القدسیه الخ ز ده کړه دا خبره چه که دلته د نفس قدسیه نه معنیٰ لغوی واخستې شي. نو ټولو انبیاؤ او اولیاؤ او علماؤ عظامو ته شامليږي، او که معنیٰ اصطلاحي واخستې شي نو صرف انبیاء کرامو ته شامليږي، چه هغوئ د بشري کدوراتو، جسماني شهواتو د باطلو خبرو او رذالت نه پاك دي،

**قوله**، خصوصًا الخ خصوصًا منصوب دے بنا بر مفعول مطلق چه فعل ورله محذوف دے اے خصّ خصوصًا **قوله** سیدنا، الخ پوه شه چه سیدنا په اصل کښې سَیْوِدٌ ووُ، واو او یا یو ځائے جمع شول، اول ددوئ نه ساکن وو، واو بدل شو په یا سره، او یا په یا کښې مدغم کړے شوه، سیّدٌ ترې جوړ شو، وقیل اصله، سَوْیِدٌ - والاوّلُ هوالاصح ؛ ایا لفظ د سید خدائے تعالیٰ دپاره خاص دے او که نه؛ علامه ابن منیر په مصنفی کښې درے قوله ذکر کړیدي (۱) چه د سید اطلاق په الله تعالیٰ باندے نه کیږي (۲) چه سیّد لفظ اطلاق صرف په الله باندے کیږي په غیرالله باندے اطلاق نه کیږي ځکه چه حدیث پاك کښې راځي " السید هوالله" (۳) چه د لفظ سید اطلاق په خالق او مخلوق دواړو باندے کیږي او قول محقق همدا دے، ځکه چه عبد الله بن مسعود او عبد الله بن عمر رضی الله عنهما مروی دے او قرآن او حدیث په دے باندے ګواه دی، وسیّدًا



وحصورًا وقال علیه السلام السید هوالله تعالیٰ، انا سیّد ولد آدم، قوموا الیٰ سیّدکم وقال القرآن سید الکلام،

**قوله**، صاحب الآیات والمعجزات ۱- ز ده کړه دا خبره چه دلته یو څو الفاظ دي د هغوئ پیژندل ضروري دي (۱) ارهاص (۲) معجزه (۳) کرامت (۴) استدراج، پس خارق بالعادة (د عقل او عادت نه خلاف) کار به خالی نه وي یا به د نبي نه ظاهر شوی وي او یا به د غیر نبي نه ظاهر شوی وي که نبي نه ظاهر شوی وي یا به خالي نه وي یا به قبل از نبوت (مخکښې د نبوت نه) وي او یا به بعد از نبوت (روستو د نبوت نه وي) که مخکښې د نبوت نه ظاهر شوی وي هغې ته ارهاص وئیلے کیږي او که پس د نبوت نه وي، نو هغې ته معجزه وئیلے کیږي، او که د غیر د نبي نه ظاهر وي نو بیا به خالي نه وي یا غیر نبي مسلمان متبع السنة وي، او یا به نه وي که وو دے ته کرامت وائي او که مسلمان متبع السنة نوي بلکه کافر یا فاسق (بدعمله) وي نو دے ته استدراج وئیلے کیږي،

**تنبیه**[۱] :- معجزه په دوه[۲] قسمه ده (۱) هغه ده چه تصرف حسّي وي لکه په لږ اوبو او لږ غذا (خوراك) سره ډیر (سلګونه) خلق سیرابول او مړول (۲) په انسانانو طبیعتونو کښې تغیر راوستل، لکه بد عمل، کافر په لږ غونډے صحبت سره رحم دل، نیك پرهیزګار او مسلمان جوړیدل لکه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته اول قسم معجزه سره زیات دوئم قسم معجزے ورکړے شوے وي،

**تنبیه**[۲] :- پوه شه چه د آیت، معجزه، دلیل، بینه، حجت، سند، او امر خارق، ترمینځ اتحاد ذاتي، او تغائر اعتباري دے، په دے شان سره چه کوم څیز د نبي علیه السلام د لاس مبارك نه ظاهر شي، که په دے حیثیت سره ئے واخلې چه دا د دلالت کونکے دي په صدق دنبوت د نبي باندے نو دا دلیل شو، او که په دے اعتبار ئے واخلې چه علامه (نخه) ده په صدق د نبي باندے نو دے ته آیت وئیلے شي، او که په دے حیثیت سره داخلې چه د دے سره نبي د صدق دنبوت راځي، نو دے ته بینه وائي او که په دے اعتبار سره ئے واخلې چه په دے سره اعجاز د خصم راځي نو دے ته معجزه وئیلے شي، او که په دے اعتبار سره واخستے شي چه

Maktaba Tul Ishaat.com

چه دے سره مغلوبیت د خصم نورو ته حجت ویلے شی او په اعتبار د
استناد (نسبت دنبوت) درته سند ویلے شی۔ او که په دے اعتبار سره
واخستے شی چه د اعادت او عقل نه خلاف دے نو دا ته امر خارق للعادة
ویلے شی، **قوله علی آله**، سوال ا:- دلته علی را وړل صحیح نه دی ځکه
چه په حدیث کښ راغی، من فصل بینی وبین آلی بعلی لم ینل شفاعتی،
جواب ما: دے حدیث د پاره څه اصل نشته، بلکه شیعه گانو دځان نه
جوړ کړیدے (کذا فی الموضوعات الکبیر للقاری) جواب[۲] د اعلیٰ نه
دے بلکه علیٌّ دی (مشددة الیاء) ده یعنی خړک چه څما او دعلیٌّ تر مینځ
فرق کوی په د اِشان د هغه اهلیت او آلیت نه منی نو لم ینل الخ

**ترکیب:**- قال صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، ضمیر ده هو
پکښ مستتر دے چه راجع دے ماتن ته هغه ورله فاعل شو، فعل سره د فاعله
جمله فعلیه خبریه قول، با جار اسم مضاف لفظ د الله موصوف، الرحمٰن
صفت اول، الرحیم صفت ثانی موصوف سره د صفتینو نه مضاف الیه د
د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه
ظرف مستقر تعلق نیسی په اَبْتَدِءُ فعل مؤخر پورے (علی احد القولین) اَبْتَدِءُ
فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه، الحمد مبتداء لَ جار الله
موصوف، الذی موصول، ابدع صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی
معلوم ضمیر ده هو پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، نظام مضاف،
الوجود مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل فعل
سره د فاعله او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوفة علیها، واو حرف
عاطف اخترع صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، ضمیر ده هُوَ
پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، ماهیات مضاف الاشیاء مضاف الیه
مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل، با جار مقتضی مضاف الجود
مضاف الیه۔ مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور
ظرف لغو تعلق نیسی فعل مذکور پورے فعل سره د فاعله او سره د مفعول به
او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة و معطوفة علیها، واو
عاطف، انشاء صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ضمیر ده هُوَ
پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو با جار قدرة مضاف ه ضمیر مضا



الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف
لغوه تعلق نیسی فعل مذکور (انشاء) پورے انواع مضاف، الجواهر
موصوف العقلیة، صفت، موصوف سره د صفت نه مضاف الیه مضاف
سره د مضاف الیه نه مفعول به د فعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول
به نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفه و معطوفة علیها،
واو حرف عاطف افاض صیغه واحد مذکر غائب ضمیر ده هو پکښ مستتر
دے هغه ورله فاعل شو با جار رحمة مضاف ة ضمیر مضاف الیه، مضاف
سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجروره ظرف لغو تعلق نیسی
فعل مذکور (افاض) پورے محرکات مضاف الاجرام موصوف، الفلکیة،
صفت، موصوف سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف
الیه نه مفعول به د فعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلق
نه جمله فعلیه خبریه معطوفه، معطوفة علیها سره د معطوف نه د ابیا
معطوف شو د پاره د معطوف علیها، معطوفة علیها سره د معطوف نه بیا معطوف
شو د پاره د معطوفة علیها، معطوفة علیها سره د معطوف نه صله د موصول
موصول سره د صلے نه صفت شو د پاره د موصوف، موصوف سره د صفت
نه مجرور د جار، جار سره د مجروره دا ظرف مستقر تعلق نیسی مختصٌ
پورے (علی احد القولین) مختص صیغه د اسم مفعول ده (علی احد القولین)
ضمیر ده هو پکښ مستتر دے هغه راجع دے مبتداء ته هغه ورله نائب
فاعل شو، اسم مفعول سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله خبر
د مبتدا شو مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه، واو حرف عاطف الصلوة
مبتداء، علی جار ذوات مضاف الانفس موصوف، القدسیه صفت اول
واو حرف عاطف المنزهة، الف لام موصول منزه صیغه واحده مؤنثه
اسم مفعول ضمیر ده هی پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، عن جار الکدورات
موصوف الانسیة، صفت، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار
سره د مجروره ظرف تعلق نیسی تر اسم مفعول مذکور پورے، اسم مفعول سره
د نائب فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله صله د موصول، موصول
سره د صلے نه، صفت ثانی، موصوف سره د صفتینو نه مضاف الیه شو د
مضاف، مضاف سره د مضاف الیه مبین، خصوصاً مفعول مطلق دے

فعل محذوف دپاره چه اخصُّ دَے، اخصُّ صیغه واحد متکلم مضارع ضمیر دانا پکښې مستتردے هغه ورله فاعل شو، خصوصًا موصوف، عَلٰی جار سید مضاف نا ضمیر دجمع متکلم مع الغیر مضاف الیه مجرور بجلالة مضاف سره دمضاف الیه نه مبدل منهُ محمد موصوف، صاحب مضاف الآیات معطوف علیه، واو حرف عاطف، المعجزات معطوف، معطوف علیه سره دمعطوف نه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه بدل دمبدل منه، مبدل منه سره د بدل نه مجرور دجار جار سره دمجرور نه معطوف علیه، واو حرف عاطف عَلٰی جار آل مضاف ه ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه، واو حرف عاطف، اصحاب مضاف، ه مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه موصوف، (الف لام، موصوله تابعین صیغه جمع مذکر اسم فاعل ضمیر د هم پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، لام جار الحجج معطوف علیه، واو حرف عاطف، البیان معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور دجار، جار سره د مجروره، ظرف لغوه، تعلق نیسی ترا سم فاعل مذکور پورے، اسم فاعل سره د فاعله او سره دمتعلق نه شبه جمله صله د موصول، موصول سره د صلے نه صفت د موصوف موصوف سره د صفت نه مجرور دجار۔ جار سره د مجرور نه معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه ظرف مستقر تعلق نیسی تر کائنًا مقدر پورے، کائنًا، صیغه د اسم فاعل ضمیر د هو پکښې مستتر دے چه راجع دے موصوف (خصوصًا) هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعله او سره دمتعلق نه شبه جمله صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه مفعول مطلق شو دفعل محذوف دپاره۔ فعل سره د فاعله او سره د مفعول مطلق نه جمله فعلیه خبریه بیان مبین شو، مبین سره د بیان نه مجرور دجار شو، جار سره دمجرور ظرف مستقر تعلق نیسی تر نازلة مقدر پورے نازلة صیغه واحده مؤنثه اسم فاعل ضمیر د هی پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله خبر دمبتدأ مبتدأ سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه معطوفه،



وَبَعْدُ، فَلَمَّا كَانَ بِاتِّفَاقِ اَهْلِ الْعَقْلِ وَاِطْبَاقِ ذَوِی الْفَضْلِ اِنَّ الْعُلُوْمَ سِيَّمَا الْيَقِيْنِيَّةِ اَعْلَى الْمَطَالِبِ وَاَبْهَى الْمَنَاقِبِ وَاِنَّ صَاحِبَهَا اَشْرَفُ الْاَشْخَاصِ الْبَشَرِيَّةِ وَنَفْسَهُ اَسْرَعُ اِتِّصَالًا بِالْعُقُوْلِ الْمَلَكِيَّةِ وَكَانَ الْاِطِّلَاعُ عَلٰی دَقَائِقِهَا وَالْاِحَاطَةُ بِكُنْهِ حَقَائِقِهَا لَا يُمْكِنُ اِلَّا بِالْعِلْمِ الْمَوْسُوْمِ بِالْمَنْطِقِ اِذْ بِهٖ يُعْرَفُ صِحَّتُهَا مِنْ سُقْمِهَا وَغَثُّهَا مِنْ سَمِيْنِهَا

**ترجمه**:۔ او د حمد او صلاة نه پس هرکله چه د اهل عقل (هوښیارانو) په اتفاق سره، او د اهل فضل (فاضلانو او غوره خلقو) په اجماع سره دا خبره ثابته ده، چه ټول علوم خاصکر علوم یقینیه د اعلیٰ درجے مقصود دی، او د ټولو نه غوره (د قابل فخر) صفتونه دی او (یله دا خبره) چه د دے علوم حامل (خاوند، عالم) د ټولو انسانانو نه زیات عزت مند (محترم قدرمند) دے او د دے (عالم، نفس (عقل) ډیر زر او چا لاکی سره) عقول ملکیه (عقول عشره) ته رسیدلو والا دی، او د دقائق د علومو (د علومو باریکاتو) باندے او د حقائقو د علومو (معانی، ذاتیات د علومو باندے احاطه کول (او پوهے دل) بے د دغه علم نه ممکن نه دی کیدے چه کوم ته علم منطق ویلے شی حکه چه هم په دے (علم منطق) سره د دے علومو درستوالے د غلطوالی د ټوی د الے نه معلومیږی

**توضیح اللغات**:۔ (۱) اتفاق صیغه د مصدر ده د باب افتعال نه په لغت کښې موافقت او تړ دیکت ته وائی، او په اصطلاح کښې اشتراک القوم فی امر مخصوص، قولًا او فعلًا ته وائی، (۲) اطباق :۔ صیغه د مصدر ده د باب افعال نه، په لغت کښې جمع کیدلو ته وائی، یقال اطبق القوم، علی کذا ای اجتمعوا علیه، او په اصطلاح کښې اجتماع القوم علی امر مخصوص ته وائی، (۳) سیّما : په دے لفظ کښې تفصیل زیات دَے هم د دے وجے نه روستو په تشریح کښې راځی، (۴) الیقینیة، منسوب بسوی یقین او یقین په لغت کښې صیغه د مصدر ده د (س) نه په لغت کښې ثبوت او تحقق ته وائی، یقال یقن الماءُ فی الحوض اذا استقر فیه، او په اصطلاح کښې العلم الذی لا شك فیه (۲) اطمئنان النفس الی حکم مع الاعتقاد بصحته (۳) الاعتقاد الجازم الموافق للواقع غیر ممکن الزوال، (۴) رؤیة العیان بنور الایمان (۵) ارتفاع الریب فی مشهد الغیب وغیر ذالك، وفی التنزیل

Maktaba Tul Ishaat.com

واعبد ربك حتى يأتيك اليقين، اويقين په درے قسمه دے (۱) علم اليقين (۲) عين اليقين (۳) حق اليقين، ځکه چه کوم شی چه حاصل شی، دا به خالی نه وی یا به حاصل شوے وی به نظر او دلیل سره، اویا به حاصل شوے وی په اعیانو اوبه مشاهدی سره اویابه حاصل وی په دواړو سره اول ته علم اليقين ویلے شی او دا د عامو علماؤ دپاره دے. دوئیم ته عین الیقین ویلی شی دا د خاصو علماؤ دپاره دے، او دریم ته حق اليقين ویلی شی او دا د انبیاء دپاره دے (۵) مطالب: دا جمع د مطلب ده، او مطلب یا مصدر میمی دے او یا صیغه د ظرف ده دان، نه په معنیٰ د طلب (غوښتنه) مقصد مبحث او موضع الطلب ته (ځائے د طلب) سره (۶) مناقب: جمع د منقبة ده، او منقبة مصدر میمی دے د (ن) نه په لغت کښ د دوؤ کورونو ترمینځ (کوڅه تنګے لارے ته وائی، او په اصطلاح کښ الفعل الکریم الذی یفتخر بهٖ ته وائی (۷) اشخاص: جمع د شخص ده صیغه د مصدر یا صفت مشبه ده د (ف) نه په لغت کښ او چتو الی، د لرے نه ښکاره کیدل او د سترګو زیر کولاؤیدو ته وائی، وفی التنزیل: انما یؤخرهم لیوم تشخص فیه الابصار، او په اصطلاح کښ کل جسم له ارتفاع و ظهور وغلب فی الانسان مذکرًا کانَ او مؤنثًا، ته وائی، او کله د شخص اطلاق صرف په ذات هم کیږی ځکه چه په حدیث پاک کښ راځی لا شخص اغیر من الله (۸) البشریة، منسوب بسوی بشر او بشر انسان ته وائی، خواه واحد وی که تثنیه او که جمع وی، مذکر وی، او که مؤنث کله کله په بشرین، او په ابشار تثنیه او جمع کیږی هم، وفی التنزیل، انؤمن لبشرین مثلنا (۹) اسرع: صیغه واحد مذکر اسم تفضیل ده، تیزے کونکے والے، (۱۰) العقول الملکیة: هغه عقلونه چه ملك (فرشتی) طرف ته منسوب وی ویمکن ان تنسب الی الملکة وهی کیفیة راسخة فی النفس (۱۱) اطلاع: صیغه د مصدر ده د باب افتعال نه ختل، ښکاره کیدل، او پوهیدلو ته وائی، وفی التنزیل فاجعل لی صرحًا لعلی اطلع الی اِلٰهِ موسٰی، فاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فی سواءِ الجحیم، لواطلعت لولیت منهم فرارًا (۱۲) دقائق، جمع د دقیقة ده باریکی خبرے ته وائی، الا مرالغامض، (۱۳) احاطه صیغه د مصدر ده د باب افعال نه، په اصل کښ احواط وو، نکه دا اقامة پشان پکښ اعلال شویدے معنیٰ ئے ده ګیرول د هر طرف نه- ادراك ته وائی، وفی التنزیل والله محیط بالکافرین، الا ان یحاط بکم، احطت بما لم تحط بهٖ، (۱۴) کُنْهٗ: جوهر نهایت، حقیقت او ذات



د شی ته وائی، (۱۵) حقائق جمع د حقیقة ده، خالص، ذات، او هغه شی ته وائی چه ثابت وی به یقین سره (۱۶) سقم، صیغه د مصدر ده د (س، ك) نه په معنیٰ د ناجوړتیا وفی التنزیل فقال انی سقیم، (۱۷) غث: صیغه د مصدر ده (ض) نه په معنیٰ د خراب، بے کاره، (الردی الفاسد من کل شیئ) (۱۸) سمین صیغه د مصدر یا صفت مشبه ده د (ك، س) په معنیٰ د خوراب محکم او مضبوط سره،

**تشریح:-** قوله وبعد فلما کان الخ غرض د شارح پدے عبارت سره تر (اما المقدمة" پورے بیان د امور ثلاثو دے چه (۱) سبب د تصنیف (۲) انتخاب د علم (۳) طرز او طریقه د تصنیف دی، ځکه څرنګه چه عام مصنفین د خپلو کتابونو په خطبو کښ د دے امورو ته اشاره کوی، بس ماتن هم د دے امورو ثلاثو نه شروع کوی په دے شان سره چه "فلما کان الخ" کښ اشاره ده انتخاب د علم ته او په اَشَارَ اِلَیَّ مَنْ الخ کښ اشاره ده سبب د تصنیف ته، او په فبادرت الی مقتضی الخ کښ اشاره ده طریقه د تصنیف ته

قوله سیما الخ ز ده کړه دا خبره چه په دے مقام کښ لس بحثونه دی،

(۱) صیغه د سیمی (۲) وزن (۳) باب (۴) معنیٰ (۵) اصل د سیئ (۶) احتمالات په لفظ ما کښ (۷) احتمالات د اعراباتو په مابعد د ما کښ (۸) اسم او خبر د لا کښ (۹) به لفظ د لا کښ (۱۰) په استعمال د سیئ کښ،

**تفصیل المقام:-** نو سیئ په وزن د فعل د مصدر صیغه (وقیل صفة مشبة) د باب (س) نه په معنیٰ د مثل او نظیر سره او سیئ په اصل کښ سوی وو لفیف مقرون دے واو او یا یو ځائے جمع شو اول د دے نه ساکن وو، واو مو بدل کړو په یا سره او یا مو په یا کښ مدغم کړه سیئ ترے جوړ شو، وقیل اصله سَیُو (بتقدیم الیاء) والاول هوالاصح- او لفظ د ما کوم چه دیی نه روستو واقع دے، یا دا ما حرفیه دے، او یا اسمیه دے که حرفیه شی نو زائد دے، او که اسمیه شی نو بیا پکښ درے احتمالات کیدی شی (۱) موصوله (۲) موصوفه، (۳) تامه، او په مابعد د ما کښ د اعراباتو لحاظ سره هم درے احتمالات کیدیشی، (۱) دا چه دا به مجرور وی د دوؤ وجهونه (۱) سیما به مضاف شی او مابعد د دے به مضاف الیه به د دغه صورت کښ ما زائد دے، ورنه وجر د موصوف، یا د موصول

بغیر د صفت او صلے نه راځی و هو باطل، او که ته او وائی چه د مضاف او
مضاف الیه تر مینځ فصل راغے، نو زه وایم چه دا فصل بالزوائد دے، او دا
جائز دے وفی التنزیل "ایّما الاجلین" (۲) اوله وجه دا ده چه دا بدل دَے
د لفظ ما نه، او محل د لفظ ما مجرور دے، ځکه چه دا مضاف الیه دکے د سیئ
د پاره پس ما به معنیٰ د شئ سره یعنے نکره غیر موصوفه شوه لا سیّما به
معنیٰ لا شئ سره، او دوئم احتمال دا دَے چه دا مرفوع و یُبلے شیئ دوه وجونه
(۱) وجه دا ده چه دا خبر دَے د مبتداء محذ و فه د پاره (۲) وجه دا ده چه دا مبتداء
ده د خبر محذ و فه د پاره، پس دا جمله صله د موصول جوړیږی، که ما موصوله
واخلے، او یا صفت د موصوف جوړیږی که ما موصوفه واخلے پس تقدیر د
عبارت داسے شو، لا مثل الذی، یا لا مثل شئ، لیکن د مرفوع نه مجرور و یُبل ځکه
غوره ده چه په صورت د رفع کښ ارتکاب د حذف راځی و هو خلاف الاصل
او دریم احتمال دا دے چه دا منصوب و یلے شی د درے د جهونه (۱) چه
دا تمیز دے د لفظ ما نه په دے شرط سره چه ما نکره غیر موصوفه شی
لیکن په دے صورت کښ ما بعد سیّما نکره کیدل ضروری دی" لان التمیز لایکون
الا نکرة" دوئیم دا چه دا مفعول به دَے د فعل مقدر د پاره، چه هغه اعنی دَے
لیکن دا وجه هم ضعیفه ده، ځکه چه په دَے صورت کښ هم ارتکاب د
حذف راځی و هو خلاف الاصل، (۳) دا چه لا سیّما د کلما تو د استثناء نه
شمار لے شی، نو ما بعد د دے به وجه د مستثنیٰ کیدو منصوب دَے، وتوجیهه
کما فی بعض شروح الکافیة ان ما بعد مخرجٌ عما قبله من حیث اولیته
بالحکم المتقدم" او اسم د لا کښ اتفاق دے چه هغه سی دے البته خبر د
لا کښ اختلاف واقع شو یدے په مابین د جمهور و نحا تو او اخفش رحمه
الله کښ په دے شان سره چه جمهور وائی چه خبر د لا محذوف دَے چه هغه
موجود دَے او په نیز د اخفش رحمه الله خبر د لا هغه ما دے کوم چه د
سی لفظ نه روستو واقع شو یدے لیکن په دے صورت کښ لفظ ما نکره
غیر موصوفه منل ضروری دی ځکه چه عمل د لا لنفی جنس مشروط دَے په
دے سره چه اسم به ئے نکره وی پس ضروری ده چه خبر د لا هم نکره وی
ورنه لازمیږی تنکیر المبتدا مع تعریف الخبر و هو باطلٌ فالکلام الخبری
بالاتفاق وا ما فی الکلام الانشائی فبالاختلاف بین الجمهور و سیبویه رحمه



الله. لیکن مسلک د اخفش رحمه الله ضعیف ځکه دے چه سی لازم الاضافة
دے او دده په مسلک سره منقطع عن الاضافة گرځی، او سیما په اصل کښ
لا سیما دو، لا حذف کیدے شوے دے په حذف منوی سره، ثعلب رحمه الله
نه منقول دی چه دا به لا سره و یُبلے شی لکه چه د امرئ القیس نه منقول دی
ے ألا رُبّ یوم لی مِنَ البیض صَالح ÷ وَلَاسِیّمَا یَوْمٌ بِدَارَةِ جُلْجُلِ .
ترجمه :- واوره ډیرے ورځے دی (حسینو ښځو) د پرښما وی، خاصکر هغه
ورځ چه په دار جلجل مقام کښ تیره شوه) ۔
نو بغیر د لا نه ئے و یُبل صحیح ندی، ځکه چه لا سیّما یو د اسے مرکب دَے چه
پتان د کلمے واحدے گرځیدلے دَے، او جز د کلمے حذف کول جائز نهٔ دی
لیکن دا قول دده صحیح نهٔ دے، یدل علےٰ بطلانه ما قال الشیخ فی شرح الکافیة
وقد یتصرف فی هٰذا الکلمة بتصرفات کثیرة استعمالها، فیقال سیّما بحذف
لا، و سِیْمَا بتخفیف یا مع ذکر لا و حذفها و لا سوا مّا (بالواو) و فی القاموس
لا سِیّه د لا سیک و لا سیّی و لیت المرءة لک بسیّ، او کله کله د دَے استعمال
به واو سره هم کیدیشی، لکه چه امرء القیس ویلے دی و لا سیّما یوم الغ
لیکن په دے باندے اعتراض وارد یږی، هغه دا چه هر کله دا لا سیّما
د کلما تو د استثناء شماریدلے نو په دے باندے د دخول د حرف عاطف
جائز نه دَے لان الحروف العاطفة لا تدخل علی الکلماتِ الاستثنائیة
فلا یقال جاء نی القوم و الّا زیدٌ الا فی صورة التکرار فیقال جاءنی القوم الّا
زیدٌ و الّا عمرو، جواب ۱:- دا واو عاطفه نه دے بلکه دا واو اعتراضیه
دَے. ځکه چه و لا سیّما جمله مستقله ده او مدخول د واو اعتراضیه هم
جمله مستقله وی، او بعض حضرات وائی، چه دا واو واو حالیه دَے،
جواب ۲:- منم چه دا واو عاطفه دَے لیکن خرنګ لا سیّما په کلما تو د استثناء
باندے خلاف قیاس دے، پس پوه شه چه په دے جمله کښ په دریو طریقو
سره تخفیف کولے شی (۱) حذف لا فی اللفظ دون النیة (۲) حذف د ما بعد سی
کما یقال زیدٌ شجاع لا سیّما، په دے صورت کښ لا سیّما به معنیٰ د خصوصًا
سره دَے، او د مفعول مطلق کیدو په وجه محلًا منصوب دے د فعل محذوف
د پاره ای خصّه خصوصًا (۳) کله کله لا سیما نه روستو واو راځی (علی
سبیل القلة، کما یقال زیدٌ عالمٌ لا سیما و هو راکب، یا به دے واو کښ

Maktaba Tul Ishaat.com

دوہ احتمالہ کید یشی (۱) داچہ داوآو حالیہ دے، (۲) داچہ داوآو عاطفہ دے او معطوف علیہ محذوف دے، نو تقدیر دعبارت داسے شو زید عالم وسیتما هو لابس السلاح وهو راکب (کذا فی الفوائد العجیبۃ) او استعمال ئے دا دے چہ دا سیؐ پہ معنیٰ دمثل سرہ دے۔ مذکر او مؤنث دوارو دپارہ ویلے شی، فیقال هو سیّك وهی سیّك وقد یقال هم سِیّ متساوون ویقال هٰذا سیّان اے مثلان او متماثلان (معجم) قوله العلوم الیقینیۃ مراد دعلوم یقینیو نہ پہ نزد د فلاسفو باندے علوم حکمیہ دی بانواعها چہ یو د هغے علم منطق دے، او پہ نیز د اهل شرع باندے، علوم یقینیہ هغہ علوم دی چہ اسناد او ثبوت ئے پہ وحی جلی یا خفی سرہ شوے وی چہ خالی وی دو هم او شك نہ، قوله العقول الملكیۃ الخ مراد د عقول ملكیہ نہ عقول عشر دی (عند الفلاسفۃ واكثر المناطقہ) او مسلمانان منطقیان وائی چہ دعقول نہ مراد ملائك دی نو د دے وجہ نہ ماتن هم پہ عقول ملكیو سرہ تعبیر او كړو،

فَاَشَارَ اِلٰی مَنْ سَعِدَ بِلُطْفِ الْحَقِّ وَاِمْتَازَ بِتَاْیِیْدِهٖ مِنْ بَیْنِ کَافَّۃِ الْخَلْقِ وَمَالَ اِلٰی جَنَابِہِ الدَّانِیْ وَالْقَاصِیْ وَاَفْلَحَ بِمُطَاوَعَتِہِ الْمُطِیْعُ وَالْعَاصِیْ وَهُوَ الْمَوْلَی الصَّدْرُ الصَّاحِبُ الْمُعَظَّمُ الْعَالِمُ الْفَاضِلُ الْمُقْبِلُ الْمُنْعِمُ الْمُحْسِنُ الْحَسِیْبُ النَّسِیْبُ ذُو الْمَنَاقِبِ وَالْمَفَاخِرِ، شَمْسُ الْمِلَّۃِ وَالدِّیْنِ بَهَاءُ الْاِسْلَامِ وَالْمُسْلِمِیْنَ قُدْوَۃُ الْاَکَابِرِ وَالْاَمَاثِلِ مَلِكُ الصُّدُوْرِ وَالْاَفَاضِلِ قُطْبُ الْاَعَالِیْ فَلَكُ الْمَعَالِیْ "مُحَمَّدٌ" اِبْنُ الْمَوْلَی الصُّدُوْرِ الْمُعَظَّمِ الصَّاحِبِ الْاَعْظَمِ دُسْتُوْرِ الْاٰفَاقِ، اٰصِفُ الزَّمَانِ مَلِكُ وُزَرَاءِ الشَّرْقِ وَالْغَرْبِ صَاحِبِ دِیْوَانِ الْمَمَالِكِ بَهَاءُ الْحَقِّ وَالدِّیْنِ وَمُؤَیِّدُ عُلَمَاءِ الْاِسْلَامِ وَالْمُسْلِمِیْنَ، قُطْبُ الْمُلُوْكِ وَالسَّلَاطِیْنِ مُحَمَّدٌ اَدَامَ اللّٰہُ ظِلَالَ لَهُمَا وَضَاعَفَ جَلَالَ لَهُمَا الَّذِیْ مَعَ حَدَاثَۃِ سِنِّہٖ فَاقَ بِالسَّعَادَاتِ الْاَبَدِیَّۃِ وَالْکَرَامَاتِ السَّرْمَدِیَّۃِ، وَاخْتَصَّ بِالْفَضَائِلِ الْجَمِیْلَۃِ وَالْخَصَائِلِ الْحَمِیْدَۃِ بِتَحْرِیْرِ کِتَابٍ فِی الْمَنْطِقِ جَامِعٍ لِقَوَاعِدِهٖ حَاوٍ لِاُصُوْلِهٖ وَضَوَابِطِهٖ،

ترجمہ:- پس ماتہ هغہ کس اشارہ (لارښود نہ) او کړہ کوم چہ د اللہ



تعالیٰ د مهربانی او د عزت پہ وجہ نیك بخت، او د اللہ تعالیٰ تائید او مرستے پہ وجہ پہ ټولو خلقو کښں ممتاز (اوا اوچت) شو او د هغہ دربارتہ نزدے او سید و نکے او لرے او سید و نکے ټول هغہ طرف تہ مائل او متوجہ شول او د هغہ د تابعدارے پہ وجہ منو نکی او نہ منو نکی ټول کامیاب شو او هغہ مشر او آقا، وزیراعظم عالم او فاضل منلے شوے مهربانی کوو نکے او احسان کوو نکے، بنہ نسب اوچت شرافت والا، خاوند د صفتونو او کارنامو ملت او دین نمر، د اسلام او د مسلمانانو رنړا، د مشرانو او د غورہ خلقو پیشوا د سردارانو او د اهل فضلو بادشاه، او د اوچتو خلقو مشر (یا د اوچتو مرتبو مرکز) او د ا اوچتو دپارہ آسمان چہ هغہ "محمّد" دے) چہ (دے د) ویرلوئے مشر او وزیراعظم او د ټولو اطرافو (مخلوقاتو) دپارہ ځائے دوا پښ ئے او دپناه د ا صف (تکیه) د زمانی د مشرق او د مغرب د وزیرانو بادشاہ د ټولو ملکو د دفترونو اکدار، د حق او د دین رنړا د علماء اسلام او د مسلمانانو مرستہ کوؤنکے او د مشرانو او بادشاهانو مرکز د محمد ځوئے دے، اللہ تعالیٰ دے د دے دواړو سورے همیشہ لری او د دوئی پہ بزرگئ او بہ اولوئی کښں نور هم اضافہ او کړی کوم چہ د خپل کم عمرے سرہ سرہ د تل ترتلہ نیك بختئ او د همیشہ عزتونو کښں او چتوالے او پیدا پہ بنہ صفتونو او قابل دستائینے خویونو سرہ خاص کړے شوی دی، پہ علم منطق کښں یو داسے کتاب لیکلو (حکم او کړو) چہ د دے "منطق" د قواعدو جمع کوونکے او د دے د اصولو او د قوانینو گیرہ و نکے،

توضیح اللغات:- (۱) اشار صیغہ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دہ د باب افعال نہ چہ پہ اصل کښں اَشْوَرَ وو، لکہ د اَقَام پشان اعلال پکښں کړے شویدے، رموز، حکم، مشورہ ورکول او تعین الشیٔ بالید تہ وائی (۲) سَعِد: صیغہ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دہ، د (س) نہ سعادت بك بختیا تہ وائی، (۳) لطف: صیغہ د مصدر دہ د (ن، ك) نہ مهربانی نرمی او ملگری کید و تہ وائی، و فی التنزیل اللہ لطیف بعبادہٖ (۴) امتاز: صیغہ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم دہ د انتعال نہ، پہ اصل کښں امتیز وؤ، د اِختَارَ پشان اعلال پکښں شویدے خپل مثل باندے برتری حاصلول، (۵) کافۃ، پہ معنیٰ د جمیعًا، یقال جاءَ الناس کافۃً اے جمیعًا، او پہ د ے

لفظ ہاندے الف لام ھم نه داخلیږی، او اضافت ئے هم نشی کید ے، وفی التنزیل وقاتلوا المشرکین کافة کما یقاتلونکم کافة، (۶) مال صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی ده د (ن) نه ددے لفظ په صله کښ چه عَنْ راشی نو په معنیٰ د اعراض سره راځی، لکه مال عن الحق اے اعرض عنهٗ، اوکه په صله کښ علیٰ راشی نو په معنیٰ د ظلم سره راځی، یقال مالَ علیهِ اے اظلمَ علیه، اوکه په صله کښ الیٰ راشی نو بیا په معنیٰ د محبت سره راځی یقال الیه، اے احبّهٗ، ے

ے الناس قد مالوا :: الیٰ من عندهم مالٗ ومن لیس عندهم مالٗ، فالناس عنه قد مالوا

(۷) دانیْ : صیغه د واحد اسم فاعل ده دان، نه دُنُوٌّ نزدیکت، وفی التنزیل ثم دنا فتدلّیٰ، (۸) قاصی، صیغه د واحد مذکر اسمِ فاعل ده د (ن، س) نه لرے کیدل (۹) اَفْلَحَ :- صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، د باب افعال نه کامیابی، وفی التنزیل، قد افلح المؤمنون (۱۰) مطیع : صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده د باب افعال نه په اصل کښ مطوِع وو، لکه د مقیم پشان اعلال پکښ شویدے اطاعة تابعداری او منل ته وائی، وفی التنزیل، ومن یطع الله ورسوله (۱۱) عاصی: صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده د (ض) نه مخالفت کول، او خروج عن الاطاعة ته وائی وفی التنزیل ومن یعص الله ورسولهٗ (۱۲) حسیب: صیغهٔ واحد مذکر صفة مشبه ده د (ك) نه خاندانی شریف (۱۳) نسیب :- صیغهٔ واحد مذکر صفت مشبه ده د (ض) نه اوچت نسب او ښه اخلاق والا، یقال رجلٗ نسیب اے شریف معروف حسبهٗ واصولهٗ (۱۴) مفاخر، جمع د مفخرة ده مایفخربه ته وائی، (۱۵) بهاءٗ صیغه د مصدر ده د (ن) نه ښائست او خه نظر ته وائی (۱۶) قدوة : (مثلثة الفاء) صیغه د صفت مشبه ده د (ن) نه من یقتدیٰ به (پیشوا) ته وائی، (۱۷) اکابر :- جمع د اکبر ده او اکبر صیغه د اسمِ تفضیل ده، د (ن) نه اوچت او مشر ته وائی، یقال فلان اکبر قومه (۱۸) اماثل: جمع د امثله ده، او امثله صیغه د اسمِ تفضیل ده د (ك) نه غوره او بهتر ته وائی (۱۹) قطب: صیغه د صفت مشبه ده د (ض) نه محوَر، مرکز، او سردار ته وائی، قطب القوم سید هم (معجم) (۲۰) اعالی: جمع د اعلیٰ ده اوچت او بهتر (۲۱) معالی جمع د معلاة ده اوچتوالے او شرافت ته وائی (۲۲) آفاق: جمع د افق ده د



آسمان غاړے، کنارو ته ویلے شی، وفی التنزیل سنریهم آیاتنا فی الآفاق وفی انفسهم (۲۳) اصقاع : جمع د اصقع ده، او اَصْقَعَ اصل کښ یو قسم کل ته وائی (۲۴) اَدَامَ، صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم د باب افعال نه همیشه والی ته وائی، (۲۵) ضَاعَفَ : صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، د باب مفاعله نه د و چند کول (۲۶) حداثة : صیغه د مصدر ده د (ن) نه (میعة الشباب) د ځوانئ عمر ته وائی، (۲۷) فاق : صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم - دان، نه اوچت کیدو او غوره والے ته وائی، وفی التنزیل وفوق کل ذی علمٍ علیم (۲۸) حاوٍ صیغه صیغه واحد مذکر اسمِ فاعل ده د (س) نه په اصل کښ حاویٗ وو لکه د قاضٍ پشان اعلال پکښ شویدے غونډول او جمع کولو ته وائی،

تشریح :- هرکله چه ماتن فارغ شو د بیان د امر اول نه چه انتخاب د علم وو، نو شروع ئے وکړه په بیان د امر ثانی کښ چه هغه سبب د تصنیف دے نو ددے ځائے نه ترڅو د رت الیٰ مقتضیٰ اشارته الخ پورے، بیان د سبب د تصنیف دے، حاصل ئے دا دے چه ماتن په فن منطق کښ ځکه کتاب اولیکلو چه موصوف مذکور محمد بن محمّد د ر ته حکم او لارښوونه او تعاون ئے ورسره کړے وو،

قوله، الدانی والقاصی الخ په دے کښ یو څو احتمالات دی (۱) نزدے او لرے په اعتبار د مکان او مسافت سره (۲) لرے او نزدے په اعتبار د زمان او وخت سره (۳) لرے او نزدے په اعتبار د مراتب سره - (۴) لرے او نزدے په اعتبار د فهم او پوهے سره، یعنے دده عظمت او محبت په خلقو کښ عام دے د هر یو زمانے د هر ځائے خلق ورسره تعاون او محبت لری،

قوله، المعطی والعاصی الخ سوال: د منونکی (مطیع) کامیابی ده په تابعداری سره خو ظاهره ده، لیکن د نه منونکو (عاصی) ده په تابعدارئ تصور څرنګه کولے شی؟ جواب: ممدوح مذکور ډیر د ښائسته اخلاقو خاوند دے که څوك ورسره زیاتے او کړی، بیا هم ورسره ښه اخلاق او احسان کوی قال علیه السلام صِلْ مَنْ قطعكَ واعفُ عمّن ظلمك واحسن الیٰ من اساءَ الیك او کما قال ے ولنعم ماقیل،

ے بدی را بدی سهل باشد جزا :: اگر مردی احسن الیٰ من اساءَ

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب[۲]: مطیع او عاصی نه د الله تعالیٰ تابعداری کوونکے او نافرمانی کوونکے مراد دے، یعنی دے د مسلمانانو او کافرانو تولو سره د اسلام مبین د اصولو موافق گوزاران او ژوند تیروی په چا هم څه قسم ظلم او تشدد نه کوی۔

قوله، آصف الزمان الخ مصنف رحمة الله د خپل ممدوح د سلیمان علیه السلام وزیر آصف بن برخیا بن شمعیا بن منکیل سره تشبیه ورکړے ده، او د دے دیو قول مطابق د سلیمان علیه السلام خورزے، کاتب او وزیر وو۔ او د ده اسم اعظم یادوو، مفسرینو د قول مطابق ده د بلقیس تخت یوه لمحه او ساعت کښ حاضر کړے وو، او ده د مور نوم یا طورا وو، وهو المراد من قوله تعالیٰ قال الذی عنده علم من الکتاب، علی ما علیه الجمهور کذا فی روح المعانی۔

قوله، ضاعف، لخ سوال باب د مفاعله د مشارکت د پاره راځی، او دلته د مشارکت معنی نه جوړیږی بلکه د کثرت سره مرادف کیږی، جواب[۱]: کله کله باب مفاعله د مبالغې د پاره هم راځی وهو المراد ههنا، جواب[۲]:- دلته خاصیت د موافقت د مجرد دے یعنی د ضاعف په معنی د ضَعَّفَ سره دے یقال ضعّف الشیٔ ای جعله ضعفین و ضعف القوم کثر عددهم، وقال تعالیٰ، والله یضاعف لمن یشاء"

قوله، حداثة سنه الخ سوال حداثت په معنی د خپله نوعمری (د ځوانۍ عمر) د نو د سنه داو ړل مستدرك او بے فائده شو، جواب دلته کښ تجرید شو یعنی په دے شان سره چه حداثة نه صرف ځوانی مراد ده۔

قوله، بالسعادات الخ په دے کښ یو څو احتمالات دی، (۱) دا چه د سعادات ابدیه نه کمالات غیر اختیاریه مراد دی، او کرامات سرمدیه څخه کمالات اختیاریه مراد دی (۲) په عکس د دی (۳) سعادات ابدیه نه کمالات علمیه مراد دی او کرامات سرمدیه څخه کمالات عملیه مراد دی (۴) په عکس د دے (۵) د سعادات ابدیه نه مراد عند الله او کرامات سرمدیه نه مراد عند الناس دے، قوله، بالفضائل الجمیلة الخ په د کښ هم یو څو احتمالات کیدے شی، (۱) فضائل جمیله نه امور لازمیه مراد دی، لکه علم، حسن، شجاعت، او ذکاوت شو، او خصائل حمید و نه امور متعدیه مراد دی، لکه تعلیم، انعام، هبه، صدقه، او احسان کول (۲) وقیل بالعکس (۳) فضائل جمیله څخه کمالات علمیه مراد دی او خصائل حمیده څخه کمالات عملیه مراد دی (۴) وقیل بالعکس (۵) فضائل جمیله نه او صاف قولیه مراد دی، او خصائل حمیده څخه او صاف عملیه مراد دی (۶) وقیل بالعکس

قوله بتحریر کتاب الخ دا جار مجرور ظرف لغو دا اشار پورے متعلق دے نو خلاصه د عبارت دا جوړ شوه، اذا کان الامر کذالك فاشار الی محمد بن محمد بتصریر کتاب الخ قوله حاو لاصوله الخ پوه شه چه فعول وزن که مفرد راځی لکه قعود او جلوس، او کله جمع راځی لکه اصول او فروع چه جمع د اصل او د فرع ده، او اصل په لغت کښ ما یبتنی علیه غیره ته وائی، او ابتناء حسی ده که منتبین د واړو حسی وو لکه ابتناء د سقف ده په جدران باندے او بله ابتناء عقلی ده که د واړه عقلی وو لکه ابتناء د احکامو شوه په دلائلو باندے او که چرته یو طرف حسی وو او بل طرف عقلی وو نو بیا هم عقلی ده لکه ابتناء د عالم په واجب تعالیٰ، او په عرف د فقهاؤ کرامو او اصولیانو کښ نقل شوے په معنی د راجح او دلیل، او قاعده، او استصحاب الحال سره، او دلته ترے مراد قاعده ده پس اصل قاعده، ضابطه، او قانون ترمینځ اتحاد ذاتی او فرق اعتباری دے، علی ما قیل و سیجیٔ التفصیل،

فَاَبْرَزْتُ اِلٰی مُقْتَضٰی اِشَارَتِهٖ وَشَرَعْتُ فِیْ تَبْیِیْنِهٖ وَکِتَابَتِهٖ مُسْتَلْزِمًا اَنْ لَّا اُخِلَّ بِشَیْئٍ یُّعْتَدُّ بِهٖ مِنَ الْقَوَاعِدِ وَالضَّوَابِطِ مَعَ زِیَادَاتٍ شَرِیْفَةٍ وَّنُکَتٍ لَطِیْفَةٍ مِّنْ عِنْدِیْ مِنْ غَیْرِ تَابِعٍ لِاَحَدٍ مِّنَ الْخَلَائِقِ بَلْ لِلْحَقِّ الصَّرِیْحِ الَّذِیْ لَا یَاْتِیْهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَیْنِ یَدَیْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ وَسَمَّیْتُهٗ بِالرِّسَالَةِ الشَّمْسِیَّةِ فِیْ تَحْرِیْرِ الْقَوَاعِدِ الْمَنْطِقِیَّةِ وَرَتَّبْتُهٗ عَلٰی مُقَدِّمَةٍ وَّثَلَاثِ مَقَالَاتٍ وَّخَاتِمَةٍ مُعْتَصِمًا بِحَبْلِ التَّوْفِیْقِ مِنْ وَّاهِبِ الْعَقْلِ وَمُتَوَکِّلًا عَلٰی جُوْدِهِ الْمُفِیْضِ لِلْخَیْرِ وَالْعَدْلِ اِنَّهٗ خَیْرُ مُوَفِّقٍ وَّمُعِیْنٍ

ترجمه:- پس ما د هغه د اشارے (لا ښوونے) د موافقت طرف ته وړاندے والی (پیش قدمی) وکړو، او د دے په صفائی او په لیکلو کښ بوخت شوم د دا خبره ما په ځان لازمه کړے ده چه په دے (کتاب) کښ کوم داسے خیز نه پریږدم چه د هغه شمار په قواعدو او ضوابطو کښ ضروری وی، او معتد به وی، او په (دے سلسله کښ) د خپل طرف نه څه غوره او مزیدار الخوندو نکتے هم اضافه کوم بغیر د اتباع او تقلید (جامد) نه بلکه د هغه حق

پیروی (تابعداری) کوم چه د مخکنو اورو ستو (هر طرف) نه د باطل د راتلو د پاره څه لاره نه وی، ما دد ے رسالے نوم " الرسالة الشمسية " فی تحریر القواعد المنطقية " ایښے دے او دے ته م په یوه مقدمه، په درے مقالو او په یوه خاتمه باندے ترتیب ورکړیدے، په دے حالت کښ ما د عقل ورکولو د طرف نه د توفیق رسئ نیولے دے، او د ینګئ او د انصاف خورولو والا په سخا باندے اعتماد (بروسه) کړیدے، او یقینًا منه بهترا وغوره توفیق ورکونکے دے

## توضیح اللغات

:- (۱) بادرتُ: صیغه واحد متکلم ده د باب مفاعله نه کړندیو لو (۲) مقتضی صیغه د اسم مفعول ده د باب افتعال نه، طلب غوښتنه او بنودنه ته وائی، (۳) ثبت صیغه د مصدر ده د (ك) نه جمع کول، غونډول او لیکل ته وائی (۴) مستلزم صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده د باب استفعال نه په ځان مقدرول او لازمول ته وائی یقال استلزم الشئ ای عدّه لازمًا، (۵) أخِلُّ، صیغه واحد متکلم فعل مضارع معلوم ده (ن، ض) نه کوتاهی کول پریښودل (۶) یعتد به صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع مجهول ده د باب افتعال څخه (۷) صریح: صیغه د صفت مشبهه ده د (ف، ك) نه ظاهر او واضح ته وائی، (۸) رتّبتُ: صیغه واحد متکلم د باب تفعیل نه ترتیب په لغت کښ جعل کل شئ فی مرتبته ته وائی، او په اصطلاح کښ جعل الاشیاء المتعددة بحیث یطلق علیه اسم الواحد ویکون لبعضها نسبة الی البعض بالتقدم والتأخر، (۲) ایراد شئ عقیب شئ (۹) مقالات جمع د مقالة ده په لغت کښ ګفتار ته وائی او په اصطلاح کښ طائفة من الکلام، تدل علی جنس المقاصد (۲) بحث تصیر للعلماء والادباء والسیاسة او الاجتماع ینشد فی صحیفة او مجلة (معجم) (۱۰) خاتمة:- مایختم به الشئ - عاقبة الشئ او اخر الشئ ته وائی (۱۱) معتصم صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده د باب افتعال څخه په لاس نیول یقال اعتصم بالشئ ای اخذه بالید (۲) حَبْلُ: رسئ لوټ، او امان ته وائی، و فی التنزیل واعتصموا بحبل الله جمیعًا (۱۲) واهب، صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده د (ف) نه په لغت کښ ورکړے ته وائی، او په اصطلاح کښ تملیك العین بلا عوض ته وائی (۱۳) متوکل صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده د باب تفعل نه، توکل په لغت کښ سپارل او اعتماد کول ته وائی، او په اصطلاح کښ (۱) وثق بما عند الله و یئس مما فی ایدی الناس (۲) تفویض الامور الی الله تعالیٰ مع رعایة الاسباب (۱۴) مفیض



صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده د باب افعال نه، فراخی، ډیرو الے او بهیول ته وائی (۱۶) الخیر صیغه د اسم تفضیل ده ما یلحقه من لذة او نفع، او سعادة ته وائی، (۱۷) موفق، صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده، د باب تفعیل څخه، وقد مر فیه التفصیل (۱۸) معین، صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده د باب افعال نه چه په اصل کښ مُعْوِنٌ وو، بیا د مقیم په شان اعلال پکښ شو یدے، امداد کول،

## تشریح

:- هرکله چه ماتن فارغ شو دبیان د امر ثانی (سبب د تصنیف) څخه نو شروع ئے وکړه په تفصیل د امر ثالث کښ، چه هغه طرز او طریقه د تصنیف ده، حاصل ئے دا دے چه ماتن وائی، چه زه به په دے کتاب کښ نه یواځے دا چه ضروری مسائل او قواعد نه پریږدم بلکه د خپل طرفه قیمتی مباحث او خوندور لطائف پکښ هم اضافه کوم او د چا تقلید جامد په ځان نه لازموم بلکه تل لپاره (حتی الوسع) د حق تابعداری کوم اګر چه په ځنی مسائلو کښ جمهور ر ته ئے مخالفت کوی (لان الحق احق ان یتبع " قوله بل للحق الصریح الخ سوال: د یوره حقو الی علم خو د الله تعالیٰ سره دے د نیا کښ خو هرڅوك وائی چه "دروغ من ترش نیست" جواب: حق صریح څخه مراد هر هغه خبره ده چه ثابت وی په دلیل یقینی سره (۲) دلته تقدیر د عبارت دے یعنی فی اعتقاده مافی زعمه، قوله، لا یاتیه الباطل من بین الخ دا اقتباس دے د کتاب الله څخه، ځکه چه الله تعالیٰ قرآن مجید باره کښ فرمائی، لا یاتیه الباطل من بین یدیه و من خلفه تنزیل من حکیم حمید "پس د باطل څخه مراد تکذیب دے یا شیطان دے او یا تبدیلی او بدلون دے و هو الانسب، مقصد دا دے چه دے کتاب ته مخکی او وروسته داسے کتاب نشته چه دے لره باطل او کړخوی په طریقه د استغراق سره ځکه چه قاعده دا ده چه کله د وه متقابل متضاد څیزونه ذکر شی مراد ترے نه عموم او استغراق وی،

قوله، الرسالة الشمسية الخ زده کړه دا خبره چه ماتن رحمه الله په خپل کتاب (رساله) په "الرسالة الشمسية" سره مسمیٰ کړیده نو په دے کښ درے وجوه کیدے شی (۱) چونکه ده دا کتاب د محمد بن محمد (صدر المعظم) د شورے موافق لیکلے دے نو کتاب ئے هم دهغه طرف ته منسوب کړو او د هغه لقب شمس الدین وو، والقرینة علیه، قوله شمس الملة والدین الخ ده، (۲) هرکله چه نمر په تولو کوا کبو باندے په رڼائی، رفتار او په افاده کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

غالبه ده نو ماتن خپل کتاب تفاؤلاً شمس (نمر) طرف ته منسوب کړو چه لکه د نمر په نور روکتابونو غالب شي؛ وقد صدق هٰذا التفاؤل" (۳) د قطبي د ځني حواشیو څخه معلومیږي چه د ماتن یو لقب نجم الدین هم دغه شان بل لقب ئې شمس الدین دے. نو ده خپل کتاب ځان طرف ته منسوب کړیدے وهٰذا اضعف الوجوه قوله، ورتبتهٗ: الخ هر کله چه عادت د عامو مصنفینو داوو چه په اول کښ د خپل مصنف کتاب، حالاتو ته اجمالاً اشاره کوی، چه ویونکی لوستونکی او کتونکی په بصیرت شي، هم ددے کبله ماتن هم او فرمائیل ورتبتهٗ الخ، پس ورتبتهٗ د ترکیب په لحاظ اوکه دا استیناف، لیکن صحیح او غوره دا ده چه دا عطف دے په سمیتهٗ باندے "والاستیناف مع وجود العاطف وإن صحّ لکنّه خلاف المتعارف" سوال ځکښ رسالة مؤنث ذکر ده او د ضمیر د مذکر ده نو موافقت راتلل په مابین د راجع او د مرجع کښ، وذا ضروری جواب[1]: دا ضمیر رسالة ته راجع دے په اعتبار د مذکر سره جواب[2]: دا ضمیر رسالة ته راجع دے په اعتبار د کتاب سره جواب[3]: رساله مصدر ذو تا دے ضمیر د مذکر او مؤنث دواړه ورته راجع کیدے شي جواب[4]: دا ضمیر رسالة ته نهٔ دے راجع بلکه کتاب ته راجع دے لکه چه د سمیتهٗ ضمیر ورته راجع وو. دا جواب راجح دے، لان الموافقة خیر من المخالفة، جواب[5]: دا ضمیر مسمّٰی د رسالة ته راجع دے، سوال: د شارح د عبارت، الرسالة مرتبة څخه خو معلومیږي چه دا ضمیر مذکور رسالة ته راجع دے، نو تا جواب رابع ته څنګه راجح اوویل؟ جواب د شارح دا قول "الرسالة مرتبة" بیان د مرجع نهٔ دے بلکه بیان د محصل او خلاصه د کلام ده، قولهٗ علی مقدمة الخ په دے جار مجرور کښ دوه احتماله دی (۱) دا چه دا ظرف لغو متعلق دے تو فعل مذکور (رتبتُ) پورے، لیکن په دے باندے اعتراض واردیږی چه د رتّبتُ (ترتیب) په صله کښ با راځي نهٔ علی او د لته خو علی راغلے دے؟ جواب رتبت (ترتیب) متضمن دے معنیٰ د اشتمال لره نو تقدیر د عبارت دا شو ورتّبتهٗ ترتیبًا مشتملاً علی مقدمة الخ (۲) دا چه دا ظرف مستقر دے او متعلق ئے تو مشتملاً پورے او مشتملاً حال دے د ضمیر (ۃ) څخه سوال: د ماتن رحمه الله دا قول "ورتبته علی مقدمة و ثلاث مقالات وخاتمة" صریح دروغ ښکاری چه خطبه د کتاب یو جزء او حصه ده حالانکه



دا په ترتیب کښ نهٔ دے داخل؟ جواب دلته تقدیر د عبارت دَ دے اے ورتّبتُ المقصود الکتاب علی مقدمة الخ، سوال: دا کتاب مشتمل دَ دے په اجزاء ثلاثه مقدمه، مقالات، (وخاتمه) باندے او کتاب هم عبارت دے د دے اجزاء ثلاثه څخه نو اشتمال د کتاب په اجزاء ثلاثه اشتمال د کتاب په کتاب شو نو دا اشتمال د شي شو په نفس خپل باندے او دا باطل دے، جواب: کتاب کل دے او اجزاء ثلاثه اجزاء دی نو دا اشتمال د کل شو په اجزاء خپلو باندے وذا شائع وجائز کما اشار الیه المحشی رحمه الله لقوله فالشامل هو المجموع والشمول کل"،

قوله، وثلث مقالات الخ سید شریف صاحب وائی چه په دے مقام کښ لفظ "ثلاث" لکه چه عامو نسخو کښ موجود دے غلط دَ دے، ځکه چه ماتن په خپله ورستو فرمائی "واما المقالات فثلاث الخ او تفصیل د مقالاتو هله کیدے شي چه د مقالات بیان ځکښ اجمالی وی نو دا لفظ د کاتب یا د ناقل څخه غلطی ده،

قوله، منضمًا بجمل الخ غرض د مصنف په دے عبارت سره دفع د وهم ده چه تا ځکښ د متکلم صیغی استعمال کړے چه بادرت، شرعت، من عندی، سمّیت او رتبت دی، او دا مشعر دی په انانیت باندے "ومن قال انا فلیس بشئ فاجابا تو ئي،

ترکیب:- وبعد فلما کان باتفاق الخ واو عوض دامّا دے او فاء جزائیه ده او فعل شرط محذوف دَ دے نو تقدیر د عبارت دا سے شو، مهما یکن شيءٌ من الاشیاء ثابتًا بعد الحمد والصلوة، مهما اسم بشرط یکن فعل ناقص اسم مرفوع خبر منصوب غواړی شيءٌ موصوف من الاشیاء په اعتبار د متعلق سره صفت شو نو موصوف سره د صفت نه اسم د یکن شو ثابتًا صیغه واحد مذکر اسم فاعل ضمیر د هو ورکی مستتر دے هغه ورله فاعل شو، بعد مضاف التسمیة معطوف علیه واو حرف عاطف، الحمد معطوف اول واو حرف عاطف الصلوٰة معطوف ثانی، معطوف علیه سره د معطوفینو نه مضاف الیه د مضاف شو مضاف سره د مضاف الیه مفعول فیه شو اسم فاعل سره د فاعل او سره د مفعول فیه نه شبه جمله خبر د یکن شو یکن سره د اسم او سره د خبر نه جمله فعلیه فعل شرط فاء جزائیه لمّا جازمه متضمن ده معنیٰ د شرط لره، کان صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم فعل تام با جار اتفاق مصدر مضاف، العقل مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مضاف الیه شو د مضاف، مصدر

مضاف سره د فاعل مضاف الیه نه معطوف علیه، واو حرف عاطف، اطباق مصدر مضاف ذوی مضاف النصّل مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نه دا مضاف الیه شو د مضاف. مصدر مضاف سره د فاعل مضاف الیه سره معطوف، معطوفٌ علیه سره د معطوف نه مجرور د جار، جار سره د مجرور تعلق نیسی تر فعل مذکور (کان) پورې، انَّ حرف دې د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غوارې العلوم مبیّن سیّما سِیّ مضاف ما زائده (علی قول) الیقینیّةِ مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه په معنیٰ د خصوصًا سره مفعول مطلق شو د فعل محذوف د پاره چه اخُصُّ دې، اخصّ صیغه واحد متکلم مضارع معلوم ده، ضمیر د انا پکښې مستتر دې هغه ورله فاعل شو فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول مطلق نه جمله فعلیه خبریه بیان د مبیّن شو، مبیّن سره د بیان نه اسم د انَّ شو، اعلیٰ صیغهٔ واحد مذکر اسم تفضیل مضاف، المطالب، فاعل مضاف الیه. اسم تفضیل سره د د فاعل مضاف الیه نه شبه جمله معطوف علیه، واو حرف عاطف، ابهی اسم تفضیل مضاف المناقب فاعل مضاف الیه، اسم تفضیل مضاف سره د فاعل مضاف الیه نه شبه معطوف، معطوفٌ علیه سره د معطوف نه خبر د انَّ شو اِنَّ سره د اسم او سره د خبره جمله اسمیه خبریة معطوفة علیها واو حرف عاطف اِنَّ حرف دې د حروفِ مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غوارې، صاحب مضاف ها مضافٌ الیه مجرور محلاً، مضاف سره د مضاف الیه نه اسم د انَّ شو اشرف: صیغه واحد مذکر اسم تفضیل مضاف الاشخاص، موصوف البشریة صفت، موصوف سره د صفت نه مضاف الیه د مضاف شو اسم تفضیل مضاف سره د فاعل مضاف الیه نه شبه جمله خبر د اِنَّ، اسم د انَّ سره د خبر د ان نه معطوف علیه، واو حرف عاطفه نفس مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه اسم د انَّ شو، اسرع صیغه واحد مذکر اسم تفضیل ضمیر د انا پکښې مستتر دې هغه مُمیّز اتصالًا مصدر با جار العقول موصوف، الملکیة صفت موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر مصدر مذکوره پورې مصدر سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله تمیز د ممیّز، ممیّز سره د تمیز نه، فاعل د اسم تفضیل، اسم تفضیل سره د فاعل نه شبه جمله خبر د انَّ اِسم د انَّ سره د خبر نه جمله



اسمیه خبریه معطوفه، معطوفةٌ علیها سره د معطوف نه دا معطوف شو د پاره د معطوفة علیها، واو حرف عاطف، کان فعل دې د افعال ناقصو نه اسم مرفوع خبر منصوب غوارې، اطلاع، مبتدا علیٰ جار د قائق، مضاف ها ضمیر مضاف الیه مجرور محلاً، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثابتٌ یا کائنٌ مقدره پورې، ثابت صیغه د اسم فاعل ضمیر د هو پکښې مستتر دې هغه ورله فاعل شو اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله خبر د مبتدا، مبتدا، مبتدا سره د خبره معطوف علیه واو حرف عاطف الاحاطة مبتدا، با جار کنه مضاف، حقائق مضاف و مضاف الیه، ها ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه د مضاف، مضاف الیه نه مجرور د جار. جار سره د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثابتة مقدره پورې، ثابتةٌ صیغه د اسم فاعل ضمیر د هِیَ پکښې مستتر دې هغه ورله فاعل شو اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله خبر د مبتداء. مبتداء شو مبتداء سره د خبره نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه دا اسم د کان شو، لا یمکن الخ لا نافیه یمکن صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ضمیر د هُوَ پکښې مستتر دې هغه ورله فاعل شو اِلّا الخ استثناء مفرّغ دې تقدیر د عبارت دا شو لا یمکنُ بعلمٍ مِنَ العلوم الّا بالعلمِ الخ با جار علمٍ موصوف مِن جار العلوم مجرور، جار سره د مجروره نه ظرف مستقر تعلق نیسی تر ثابتٌ مقدر پورې، ثابتٌ صیغه د اسم فاعل ده ضمیر د هُوَ پکښې مستتر دې هغه ورله فاعل شو اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله صفت د موصوف شو موصوف سره د صفت نه مجرور د جار شو جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور (لا یمکن) پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه مصدّره په لا نافیه مستثنیٰ منهٌ، اِلّا حرف استثناء با جار العلم موصوف الف لام موصول، موسوم صیغه واحد مذکر اسم مفعول ضمیر د هو پکښې مستتر دې هغه ورله نائب فاعل شو، با جار المنطق مجرور، جار سره د مجرور نه ظرف لغوه تعلق نیسی تر اسم مفعول مذکور پورې اسم مفعول سره د نائب فاعل نه او سره د متعلقاتو نه شبه جمله صله د موصول شو، موصول سره د صلې نه صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه

Maktaba Tul Ishaat.com

مجرور د جار، جارسره د مجرورنه په اعتبار د متعلق سره مستثنیٰ، مستثنیٰ
منهٗ سره د استثنیٰ نه معلل، آذ تعلیلیه یا جاره ہٖ ضمیر مجرور، جارسره
د مجروررنه ظرف لغو تعلق نیسی ترفعل مؤخر (یعرف) پورے یُعرفُ صیغه
واحد مذکرغائب فعل مضارع مجهول صحة مضاف ها ضمیر مضاف الیه،
مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه وآو حرفِ عاطف، غشّ، مضاف
ها ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جارسره د
مجرورنه معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه ظرف لغو تعلق نیسی تر
فعل مذکور (یعرف) پورے فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلقینو نه جمله
فعلیه خبریه تعلیل د معلل شو، معلل سره د تعلیل نه خبر د کان شو، کان سره
د اسم او سره د خبرنه جملهٔ فعلیه خبریه معطوفه، معطوفة علیها سره د معطوف
نه معطوفه شوه د معطوفة علیها دپاره، معطوفة علیها سره د معطوف نه فاعل د
فعل چه "کان دے" فعل تام سره د فاعل نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه
فعل شرط، ناشار الیٰ من سعد الخ فاء جزائیه شرط محذف دے اے إذا
کانَ الأمر کذالكَ فَاَشَارَ إلیٰ، اشار صیغه واحد مذکرغائب فعل ماضی
معلوم إلیٰ جار یٖ ضمیر د مجرور متکلم، جارسره د مجروره ظرف لغو تعلق
نیسی ترفعل مذکور پورے مَنْ موصوله سعَد صیغه واحد مذکرغائب
فعل ماضی معلوم باجار لطف مضاف الحق مضاف الیه، مضاف سره د
مضاف الیه نه مجرور د جار، جارسره د مجرورنه ظرف لغو تعلق نیسی
ترفعل مذکور پورے، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه معطوفة
علیها واو حرف امتاز صیغه واحد مذکرغائب فعل ماضی معلوم با جار
تائید مضاف ہٖ ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د
جار، جارسره د مجرورنه ظرف لغو تعلق نیسی ترفعل مذکور پورے، مِنْ
جار بیْن مضاف کافه مضاف الیه و مضاف الخلق مضاف الیه، مضاف سره
د مضاف الیه نه مجرور د جار، جارسره د مجروره ظرف لغو تعلق نیسی ترفعل
مذکور پورے فعل سره د فاعل نه او سره د متعلقینو نه جمله فعلیه خبریه
معطوفة ومعطوفة علیها، وآو عاطفه مالَ صیغه واحد مذکرغائب فعل ماضی
معلوم، الیٰ جار، جناب مضاف ہٖ ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف
الیه نه مجرور د جار، جارسره د مجروره ظرف لغو تعلق نیسی ترفعل مذکور



پورے الذانی معطوف علیه وآو حرف عاطف القاصِی معطوف، معطوف سره د
سره د معطوف نه فاعل د فعل، فعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه
معطوفة ومعطوفة علیها، وآو عاطفه افلح صیغهٔ واحد مذکرغائب فعل ماضی
معلوم باجار متابعة مضاف ہٖ ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور
د جار، جارسره د مجروره ظرف لغو تعلق نیسی ترفعل مذکور پورے، المطیع
معطوف علیه وآو عاطفه العاصی معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه فاعل
د فعل، فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة ومعطوفة
علیها، وآو عاطفه هو مبتداء المولیٰ موصوف، الصدر صفت اول[۱]، الصاحب
موصوف المعظم صفت، موصوف سره د صفت نه دا صفت ثانی[۲] العالم الفاضل
(علیٰ هذا القیاس) صفت ثالث[۲] المقبول المنعم، صفت رابع[۳]، المحسن الحسیب النسیب
صفت خامس[۵]، ذو مضاف المناقب معطوف علیه وآو حرف عاطف المفاخر معطوف،
معطوف علیه سره د معطوف نه صفت سادس[۶]، شمس مضاف الملة معطوف
علیه وآو عاطفه، الدین معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه صفت سابع[۷]
بهاء الإسلام والمسلمین، صفت ثامن[۸]، قدوة الأکابر والأماثل صفت تاسع[۹]
ملك الصدور والأفاضل، صفت عاشر[۱۰] قطب مضاف الأعالی مضاف الیه
مضاف سره د مضاف الیه نه صفت حادی عشر[۱۱]، فلك المعالی صفت ثانی عشر[۱۲]
موصوف سره د دولسو صفاتو نه دا مبیّن یا مبدل منهٗ محمد موصوف بن
مضاف المولیٰ موصوف الصدر المعظم صفت موصوف صفت اول، الصاحب الأعظم
صفت ثانی دستور مضاف الآفاق مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه
صفت ثالث ملك مضاف وزراء مضاف الیه مضاف الشرق معطوف علیه وآو
حرف عاطف الغرب معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه صفت رابع،
صاحب دیوان الممالك، صفت خامس، بهاء مضاف، الحق مضاف الیه
معطوف علیه، وآو حرف عاطف الدین معطوف، معطوف علیه سره د معطوف
نه مضاف الیه د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه، وآو
حرف عاطف مؤید مضاف علماء مضاف الیه مضاف الإسلام معطوف علیه
واو حرف عاطف المسلمین معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مضاف
الیه د مضاف شو، مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو د مضاف،
مضاف سره د مضاف الیه نه، معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه صفت

سادِس، قطب الملوك والسلاطين، صفت سابع، موصوف سره داروه واړه صفا تونه دا مبدل منه یا مبین، محمد بدل یا بیان- مبدل منهٔ یا مبین سره دبدل اوسره دبیان نه دا مضاف الیه د مضاف شو، مضاف سره د مضاف الیه نه دا صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه موصوف ادام صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم لفظ الله فاعل، ظلال مضاف هما مضاف الیه مجرور محلاً مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به- فعل سره د فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه صورةً انشائیه معنیً معطوفة علیها واو حرف عاطف، ضاعف صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم، ضمیر د هُوَ پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو جلال مضاف هُما مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه صورةً انشائیه معنیً لَا مَحَلَّ لَهَا من الاعراب الذی موصول مع ظرف مضاف حداثة مضاف الیه مضاف سن مضاف الیه مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه یا مضاف الیه شو د مضاف مضاف سره د مضاف الیه نه دا ظرف شو د فاق د پاره فَاقَ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، با جار السعادة موصوف الابدیة صفت موصوف سره د صفت نه معطوف علیه واو حرف عاطف، الکرامات موصوف السرمدیة صفت، موصوف سره د صفت نه معطوف، معطوف علیه سره معطوف نه مجرور د جار، جار سره د مجرور ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے، فعل سره د فاعل او سره د متعلق او ظرف نه جمله فعلیه خبریه معطوفة عَلَیْهَا، واو حرف عاطف، اختصّ صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو با جار الفضائل الجمیلة، صفت موصوف معطوف علیه واو حرف عاطف الخصائل الحمیدة صفت موصوف معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة، معطوفة علیها سره د معطوف نه دا صله د موصول شوه موصول سره د صله نه دا صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه بدل د مبدل منهٔ شو یا بیان





د مبین شو مبدل منه سره د بدل نه یا مبین سره د بیان نه دا خبر د مبتدا شو مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه معطوفة، معطوفة علیها سره د خلور نه فاتونه دا صله د موصول (مَنْ) شوه موصول سره د صله نه دا فاعل د فعل "اشار" شو، بتحریر کتاب الخ با جار تحریر مضاف کتاب موصوف فی جار المنطق مجرور، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نیسی تر کائن مقدره پورے کائن صیغه واحد مذکر اسم فاعل ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو لام جار، قواعد مضاف ه ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر اسم فاعل مذکور پورې اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله صفت ثانی حاوٍ صیغه واحد مذکر اسم فاعل ده ضمیر د هو پکښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو لام جار اصول مضاف ه ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه واو حرف عاطف ضوابط مضاف ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر اسم فاعل مذکور پورې، اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله صفت ثالث موصوف سره د صفاتو ثلاثه نه مضاف الیه د مضاف شو، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور (اَشَارَ) پورے اَشَارَ فعل سره د فاعل او سره د متعلقینو نه جمله فعلیه خبریه متفرع علیها، فا تفریعیه، بادرتُ فعل فاعل اِلَی جار مقتضی مضاف، اشارة مضاف الیه مضاف، ه ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مضاف الیه شو د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے، فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه معطوفة علیها، واو حرف عاطف ترجمت فعل ضمیر بارز ذوالحال فی جار ثبتة مضاف و مضاف الیه معطوف علیه واو حرف عاطف کتابته مضاف مضاف الیه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار۔ جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورے، ملتزمًا صیغه د اسم فاعل ضمیر د اَنَا په کښ مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اَن ناصبه مصدریه لَا نافیه اُخِلَّ صیغه واحد مذکر،

متکلم مضارع معلوم ضمیر د آنا پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، بَا جار شَیْءٌ موصوف، یعتدّ صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع مجهول ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله نائب فاعل شو بَا جاره ة ضمیر مجرور، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورې مِنْ جار القواعد معطوف علیه، واو حرف عاطف الضوابط معطوف۔ معطوف علیه سره د معطوف نه نیز متعلق تر فعل مذکور پورې، فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلقینو نه جمله فعلیه خبریه صفت د موصوف شو، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورې فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه مصدره په لاءِ نافیه په تاویل د مصدر سره مفعول به د اسم فاعل، (مستلزمًا) شو، اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه شبه جمله حال د ذو الحال، ذو الحال سره د حال نه فاعل د فعل مَعَ مضاف زیاداتٍ شریفةٍ، صفت موصوف معطوف علیه، واو حرف عاطف، نکت لطیفةٍ، صفت موصوف، معطوف معطوف علیه سره د معطوف نه موصوف، مِن جار عند مضاف ة ضمیر د متکلم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نیسی تر کائنةً مقدر پورې، کائنةً صیغه واحده مؤنثه اسم فاعل ضمیر د هی پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله صفت د موصوف موصوف سره د صفت نه موصوف، عند مضاف، تابع صیغه د اسم فاعل ضمیر د آنا پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، لام جاره احد موصوف مِن جار الخلائق مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نیسی ثابتٌ مقدر پورې، ثابتٌ صیغه د اسم فاعل ضمیر د هُوَ پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر اسم فاعل مذکور پورې اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله مجرور د جار جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر اسم فاعل مذکور پورې اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه مضاف الیه د مضاف شو، مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه بَلْ حرف عاطف لام جار الحق موصوف



الصریح صفت موصوف سره د صفت نه موصوف الذی موصول، لا نافیه یأتی صیغه واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ة ضمیر مفعول الباطلُ فاعل مِنْ جار بَیْنِ مضاف یدی مضاف الیه مضاف ة ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه معطوف علیه، واو حرف عاطف لا زائده برائے تاکید نفی مِنْ جار خَلْف مضاف ة ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورې۔ فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول نه او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه مصدره په لاءِ نافیه صله د موصول شوه موصول سره د صله نه صفت د موصوف موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نیسی تابعٌ مقدر پورې تابع صیغه د اسم فاعل ضمیر د انا پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه، شبه جمله معطوف علیه سره د معطوف نه مضاف الیه د مضاف (مع) شو، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه د فعل "شرعت" شو، فعل ... او سره د متعلق او مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه معطوفه ومعطوفة علیها، واو حرف عاطف رتبتُ فعل ضمیر بارز ذو الحال ة ضمیر مفعول به علیٰ جار مقدمة معطوف علیه ثلاث مقالات الخ معطوف اول، واو حرف عاطف خاتمة معطوف ثانی، معطوف علیه سره د معطوفینو نه مجرور د جار۔ جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر فعل مذکور پورې، متحصیا، صیغه واحد مذکر اسم فاعل، ضمیر د آنا پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو بَا جار حَبْل مضاف التوفیق مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف، مِنْ جار واهب مضاف العقل مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور د جار، جار سره د مجرور، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر تعلق نیسی تر الثابت پورې الف لام موصول ثابتُ صیغه واحد مذکر اسم فاعل، ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله صله د موصول شو، موصول سره د صله نه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر اسم فاعل مذکور پورې، اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله معطوف علیه، واو حرف عاطفه ة ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه موصوف، الف لام موصوف مفیض صیغه واحد مذکر اسم فاعل ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل

شو، لام جار الخیر معطوف الیه وآو حرف عاطف العدل معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر اسم فاعل مذکور پورې، اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله صله د موصول، موصول سره د صلې نه صفت د موصوف، موصوف سره د صفت نه مجرور د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نیسی تر اسم فاعل مذکور پورې، اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه معلل إنَّ حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړی ة ضمیر اسم دانَّ شو خیر اسم تفضیل مضاف موفق: صیغه اسم فاعل ضمیر د هُوَ پکښې مستتر دے هغه ورله شو، اسم فاعل سره د فاعل نه معطوف علیه، وآو حرف عاطف، معین صیغه د اسم فاعل، ضمیر د هو پکښې مستتر دے هغه ورله فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعل نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه فاعل مضاف الیه شو د مضاف (خیر) اسم تفضیل مضاف سره د فاعل مضاف الیه نه شبه جمله خبر د انَّ شو انَّ سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه تعلیل د معلل شو، معلل سره د تعلیل نه حال د ذوالحال ذوالحال سره د حال نه فاعل د فعل، فعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه معطوفة، معطوفة علیها سره د معطوف نه معطوف شو د معطوف علیها د پاره، معطوفة علیها سره د معطوف نه تفریع شو د پاره د متفرع علیها، متفرع علیها سره د تفریع جزائے شرط، فعل شرط سره د جزائے شرط نه جمله فعلیه شرطیه، جزاء د لمَّا، لمَّا سره د شرط او جزاء نه جمله فعلیه شرطیه جزائے شرط (مهما یکن) فعل شرط سره د جزائے شرط نه جمله فعلیه شرطیه،

**اَقُولُ: الرِّسَالَةُ مُرَتَّبَةٌ عَلٰی مُقَدِّمَةٍ وَثَلَاثِ مَقَالَاتٍ، وَخَاتِمَةٍ، اَمَّا الْمُقَدِّمَةُ فَفِيْهَا بَحْثَانِ، اَلْاَوَّلُ فِيْ مَاهِيَّةِ الْمَنْطِقِ وَبَيَانِ الْحَاجَةِ اِلَيْهِ، اَمَّا الْمُقَدِّمَةُ فَفِيْ مَاهِيَّةِ الْمَنْطِقِ وَبَيَانِ الْحَاجَةِ اِلَيْهِ:**

**ترجمه:-** هرچه مقدمه ده نو په دے کښې دوه بحثه دی، اول بحث په بیان د ماهیت د منطق کښې او اهمیت د منطق او ضرورت د دے کښې دے، زه شارح وایم چه دا رساله شمسیه په یوه مقدمه درے مقالو او په یوه خاتمه باندے ترتیب کړے شویده، بهرحال هرچه مقدمه ده، نو په



بیان د ماهیت او ضرورت د منطق کښې ده۔

**تشریح:-** زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښې د مقدمے او مقالے او خاتمے پېژندل ضروری دی، چه پوره بصیرت حاصل شی نو پوهه شه چه مقدمه کښې معرفت د[10] امورو ضروری دی (۱) صیغه (۲) باب (۳) وزن (۴) معنیٰ لغوی (۵) معنیٰ اصطلاحی (۶) مناسبت په مابین د معنینو کښې (۷) اقسام (۸) نسبت په مابین د مقدمه د علم او مقدمه د کتاب کښې (۹) غرض درا وړلو د مقدمے (۱۰) سوال او جواب په مقدمه کښې،

پس په صیغه د مقدمه کښې شپږ[6] احتمالات دی، (۱) صیغه د اسم فاعل په وزن د مُفَعِّلَةٌ ده د باب تفعیل نه (۲) صیغه د اسم مفعول ده په وزن د مُفَعَّلَةٌ د همدے باب نه (۳) صیغه د اسم فاعل ده په وزن د مُفْعِلَةٌ د باب افعال نه (۴) صیغه د اسم مفعول په وزن د مُفْعَلَةٌ د همدے باب نه (۵) صیغه د ظرف ده په وزن د مُفَعَّلَةٌ د باب تفعیل نه (۶) صیغه د ظرف په وزن د مُفْعَلَةٌ د باب افعال نه په لغت کښې ماخوذ ده د مقدمة الجیش نه،

**فائده:-** زده کړه چه د جیش (لښکر) د پلو نه حصے وی همدے وجه نه ورته خمیس وئیلے شی، ځکه چه لښکر هم په موافق د عادت قدیمه په پنځو حصو باندے مشتمل وی (۱) مخکینی حصې ته مقدمة الجیش وئیلے (۲) وروستنے حصے ته ساقه او مؤخرة الجیش وئیلے (۳) او ښی طرف ته چه کومه حصه وی هغه ته میمنه وئیلے شی (۴) کینړ (چپ) طرف ته چه کومه حصه وی هغے ته میسره وئیلے شی (۵) مینځ او سط حصے ته قلب وسطة الجیش وائی، او په اصطلاح کښې مقدمة په څلور[4] معانو سره راځی، (۱) اول کل شئ (۲) مقدمة الدلیل، او دا عبارت دے د مایتوقف علیه الدلیل نه (۳) مقدمة العلم او دا عبارت دے د مایتوقف علیه الشروع نه او مصداق د دے معانی یعنی ادراکات د امور ثلاثه دی چه (۱) تصور برسمهٖ (۲) تصدیق بموضوعه (۳) تصدیق بغرضه (۴) مقدمة الکتاب او دا عبارت دے د طائفة من الکلام تذکر قبل المقاصد لارتباطها به ونفعه فیها، او مصداق د دے دغه امور ثلاثه دی فقط یا معانی د دوئی دی فقط او یا الفاظ او معانی دواړه دی، او مناسبت په مابین د معنیٰ لغوی او اصطلاحی کښې ظاهر دی، او نسبت بین المقدمتین کښې څو احتمالات دی، پس، مقدمه د کتاب

Maktaba Tul Ishaat.com

دکتاب که عبارت شی د الفاظو نه فقط نو په مابین د مقدمے د علم کښې او د مقدمے دکتاب کښې تباین ذاتی دَے په دے شان سره چه مقدمة دکتاب دالوی او مقدمه دکتاب صدلولوی، او که مقدمة دکتاب عبارت شی د معانیو نه با په مابین د مقدمتین کښې اتحاد ذاتی او تغائر اعتباری دے، ځکه چه مقدمة دکتاب معلومه ده، او مقدمه د علم علم دَے او که مقدمه دکتاب عبارت شی دالفاظ او معانیو کلیهما څخه نو بیا په مابین د دوی کښې تباین ذاتی دَے په دے شان سره چه مقدمة دکتاب کل دے، او مقدمه دعلم جزء دے ځکه چه مقدمة دعلم خو عبارت دے د معانیو څخه فقط و هٰهنا احتمالات اُخَر کما تبین فی السلم،

غرض دیاوړلو د مقدمے:۔ پس زده کړه د اخبره چه د اقول د مصنف، اَمّا المقدمة: په اصل کښې جواب د سوال مقدره دَے، حاصل د سوال دا دے چه مصنف منطقی دے او مقصود د منطقیانو نه دے مګر بحث دکاسب او مکتسب نه نو اشتغال د مصنف رحمه الله په تعریف او په تقسیم دعلم باندے اشتغال بما لا یعنی دے، او حاصل د جواب دا دے چه دا ماسباق (مقدمه) مقدمه دکتاب ده نو اشتغال د مصنف په مقدمه د شی د پوهی کښې مالا یعنی نهٔ وی ځکه چه مقدمه موقوف علیها وی، او موقوف علیه مقدم وی په موقوف باندے،

هرکله چه په لفظ مقدمه کښې دوه احتمالات وو لکه چه مخکښې بیان شوی او متصور پکښې صرف دوه دی (۱) صیغه د اسم فاعل (۲) صیغه د اسم مفعول، او دلته سوال وارد یږی، چه د الفظ د مقدمه به خالی نه وی، یا به ئے په صیغه د اسم فاعل سره وائی، او یا به ئے په صیغه د اسم مفعول سره وائی، هر واحد نه صحیح کیږی بناء په اول قول باندے معنی به دا رنګه شی، د اچی مقدمه وړاندے کونکے ده شئ آخر لره په ځان خپل باندے حالانکه مقدمه خو خپله مقدمه ده، او بنا په دوّیم قول معنی به دا ےبی مقدمه وړاندے کړے شویده حالانکه تقدیم د دے لذاته وی نه درجه د جعل د جاعل نه جواب (۱) بعضو حضراتو په اعتبار د اختیار د شق اول سره جواب کړے دے، او معنی ئے دا رنګه کوی، چه مخکښې کونکے ده عالم لره په جاهل باندے په مقاصدو کښې، جواب (۲) او بعض حضراتو په اختیار



د شق ثانی سره جواب کړے دے او معنی ئے دا رنګے کوه چه دا مقدم کړے شویده ذکرًا چه مطابقت راشی د وضع د طبع سره لیکن دا جواب صحیح نهٔ دے ځکه چه دے نه مقدم طبعی د مقدمی معلو میږی، او په عنوان کښې خو دالله یو شی پکار دے چه هغه دال وی په تقدم ذاتی باندے نو حق په جواب کښې داده، چه مقدم صیغه د اسم فاعل متعدی ده په معنی د متقدم لازمی سره نو معنی دا شوه چه دا په خپله مخکښې کیدونکے ده،

مقاله:۔ زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښې لا بدی ده د معرفت د شپږو امورو څخه (۱) صیغه (۲) وزن (۳) باب (۴) معنی لغوی (۵) معنی اصطلاحی (۶) مناسبت په مابین د دوارو معنو کښې،

تفصیل المقام:۔ مقاله صیغه د مصدر ده په وزن د مفعلةٌ د باب (ن) څخه په اصل کښې مقوَلَةٌ وه، واو متحرک ماقبل ئے مفتوح واو بدل شو په الف سره په لغت کښې ګفتار (وینا) ته وائی، او په اصطلاح کښې طائفة من الکلام تدل علی جنس المقاصد ته وائی، او مناسبت بین المعنیین عموم خصوص مطلق دے،

خاتمه:۔ په دے مقام کښې هم معرفت د (۶) امورو ضروری دے (۱) صیغه (۲) وزن (۳) باب (۴) معنی لغوی (۵) معنی اصطلاحی (۶) مناسبت په مابین د معنینو کښې،

تشریح المقام:۔ خاتمه صیغه د اسم فاعل ده په وزن د فاعلةٌ ده یا صیغه د ظرف ده په وزن د فاعلة ده د (ض) باب نه په لغت کښې بندولو او مهر لګولو ته وائی، او په اصطلاح کښې مایختم به الشیٔ ته وائی او مناسبت په معنینو کښې عموم خصوص مطلق دے ځکه چه د مضمون په آخر کښې مهر لګولے شی چه د هغے نه روسته تا نو څا حفظ نشی لیکلے هم دغه شان دکتابونو په آخر کښې عمومًا خاتمه ذکر کړلے شی چه د هغے نه روسته بل څه مضمون نشی ذکر کولے،

قوله: الرسالة مرتبة الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره جواب د سوال مقدر دے، حاصل د سوال دا دے چه ماتن رتبتُ صیغه د فعل ماضی راوړی ده حالانکه ترتیب وروسته را غلے دَے نو کذب لازم شو، او حاصل د جواب دا دے چه په قول مذکور د ماتن کښې فعل ماضی

دمضئ (تیرشوی) څخه خالي کړے شوید (کا لا فعال الواقعة فی التعریفات)
تنبیه :- پوهه شه چه ددے مذکور سوال دپاره دوه جوابه نور هم
وړکړے شویدی جواب (۱) چه دا خطبه د ماتن خطبه الحاقیه ده نه
خطبهٔ ابتدائیه، جواب (۲) چه مراد د ترتیب نه ترتیب ذهنی دے کوم چه
مخکښ ذهن کښ مستحضر وُو نو تقدیر دعبارت به داسے شی ورتبت ما حضر
فی الذهن، قوله، ففی ماهیة المنطق الخ سوال فی راجع د پاره دظرفیت، نو
مدخول دے ظرف وی ماقبل لپاره، ماهیت المنطق نه ظرف زمان وی او
نه ظرف مکان نو د ظرفیت معنیٰ صحیح نه شوه (جواب (۱) دا ظرفیت د
عام دے خاص لره او یا ظرفیت دکل دے لپاره د جز مجازاً ځکه چه لکه
څرنګه ظرف مشتمل وی په مظروف باندے، همدغه شان عام مشتمل وی
په خاص باندے او کل مشتمل وی په جزء باندے جواب (۲) ظرفیت په دوه
قسمه دے (۱) ظرفیت حقیقی، دے کښ دا ضروری ده چه ظرف به یا زمان
وی او یا به مکان وی (۲) ظرف اعتباری او شبهی په دے کښ دا ضروری نه ده
چه ظرف به زمان او یا مکان وی، بلکه دے کښ دا ضروری ده چه ظرف زمان او
مکان نه وی کوم شی چه ظرف وی هغه به مشابه وی د ظرف زمان یا مکان
سره په دے مقام کښ ظرفیت د ماهیت د منطق دپاره د مقدمے ظرفیت
تشبیهی دے نه حقیقی، سوال دشارح او د ماتن په عبارتونو کښ سره اختلاف
دے ځکه چه ماتن مقدمه ظرف ګرځولے ده او بحثان ئے مظروف ګرځولی
دی، او شارح عکس کړے دے یعنی مقدمهٔ مظروف او بحثان ئے ظرف
ګرځولے دی، او شی د احد په آن واحد په جهت واحده سره ظرف او
مظروف ځکه نشی ګرځولے چه ظرفیت یو نسبت دے تقاضا کوی د تغائر
د نسبتینو، جواب (۱) دا ظرفیت د عام دے لپاره د خاص یا ظرفیت د کل
دے لپاره د جز کما مرّ آنفًا پس د لته جهات مختلف شوی، جواب (۲) په
عبارتونو کښ اختلاف د دے ځکه چه په متن کښ مقدمه ظرف شو او بحثان
مظروف، نو ظرفیت د الفاظو دپاره د معانیو او په شرح کښ مقدمه
مظروف شو او بیان الماهیة ظرف شو، نو ظرفیت د معانیو دپاره د الفاظو
او دا دواړه صحیح دی، ځکه چه مقصود تغائر دے، او دا حاصل شو،
جواب (۳) په متن کښ بحثان مظروف دی او ماهیت المنطق وغیره ظرف



دی، نو دا مظروفیت د الفاظو دے لپاره د معانیو، او دا مستلزم ده مظروفیت
د مقدمے لپاره د ماهیة المنطق وغیره پس مقدمه په متن کښ او په شرح کښ
په دواړو کښ مظروف واقع شوے دے،
سوال :- ماهیة المنطق ئے ولے مقدم کړو په بیان الحاجة باندے حالانکه
مقام تقاضا کوی چه بیان الحاجة مقدم کړے شی ځکه چه مقصود هم دا دے
او تقدیم د مقصود اولیٰ وی په غیر مقصود باندے لان التقدیم فی الذکر
لا یخلوا عن الاهتمام، والترجیح، فما الترجیح ههنا؟ جواب: ماهیة المنطق
ذات ده او بیان الحاجة صفت ده او ذات مقدم وی په صفت باندے طبعًا
نو مونږ مقدم کړو په ذکر او وضع کښ لیوافق الوضع الطبع، والموافقة خیر من
المخالفة، سوال څه وجه ده چه مصنف رحمهٔ الله ماهیة المنطق او موضوع
سره لفظ دبیان ئے نه دے راوړے، او حاجت سره ئے لفظ دبیان راوړے
دے؟ ان هذا الا ترجیح بلا مرجح" مناسب خو دا وُو چه د ټولو سره ئے
لفظ بیان راوړے وے او یا ئے د ټولو سره نه وے راوړے مقدر به وے،
او یا اول "ماهیة المنطق" سره ئے راوړے وے او نور "دواړه روستی" ئے پرے
عطف کړے وے او ترجیح بلا مرجح خو باطل ده، جواب ذکر د لفظ بیان په
ټولو کښ متروک دے، او بیان الحاجة چه دے دا د قبیلے د لفظ واحد نه دے
لکه اصول الفقه د اضافت لحاظ به کښ نه دے کړے شوے،

وَاَمَّا الْمَقَالَاتُ فَاَوْلٰهَا فِى الْمُفْرَدَاتِ، وَالثَّانِيَةُ فِى الْقَضَايَا وَاَحْكَامِهَا وَالثَّالِثَةُ فِى الْقِيَاسِ وَاَمَّا الْخَاتِمَةُ فَفِى مَوَادِ الْاَقْيِسَةِ وَاَجْزَاءِ الْعُلُومِ،

ترجمه :- (او هر چه مقالات نو هغه درے دی) اول مقاله په بیان د
مفرداتو کښ ده، او دویمه مقاله په بیان د قضیو او حکمونو د دوی کښ ده،
او دریمه مقاله په بیان د قیاس کښ ده پاتے شوه خاتمه دا په بیان د موادو
د قیاسو او اجزاؤ د علومو کښ ده،

تشریح :- غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره تفصیل د
اجمالي خلاصه د کتاب بیانول دی سره د وجهٔ الحصر نه،

قوله، فاو لها فی المفردات : په دے باندے اعتراض وارد دیږی او حاصل
د اعتراض دا دے چه په مقالهٔ اولیٰ کښ لکه چه څرنګه مفردات ذکر
کیږی همدغه شان د مرکبات تامه (یعنی معرفات وغیره) هم ذکر کیږی



Maktaba Tul-Ishaat.com

کما هو ظاهر، نوشارح ځکه دا قول کړے دے، د اخو صریح دروغ دی،
جواب ۱: مقالهٔ اولی کښې مفردات ذاتًا او اصلاً ذکرکیږی، او مرکبات پکښې طبعًا او استطرادًا او عوضًا ذکرکیږی، جواب ۲: لفظ مفرد، په طور د اشتراک دیو څو معانو لپاره استعماله ولے شی (۱) کله مفرد مقابل د تثنیه او د جمع وی، لکه رجلٌ (۲) کله مفرد مقابل د مضاف او د شبه مضاف وی، لکه چه باب د لا کښې مفرد نه مراد مالیس بمضاف ولا شبیهابه دَے (۳) کله مفرد مقابل د جملے او د مرکب سره راځی لکه چه په تعریف دَ «الکلمة» کښې مفرد راغلے «الکلمة لفظ وضع لمعنیً مفرد» پس دلته د مفرد نه آخری معنی «ما یقابل الجملة» مراد ده، نو کلیات خمسه او تعریفات ټول په مفرداتو کښې داخل پاتے شول ځکه چه دا مرکبًا تقید یه دی او په دے خبره باندے دلیل دا دے چه ماتن رحمه الله مفرد د قضیهٔ مقابل ګرځولے ده" حیث قال" المقالة الثانیة فی القضایا واحکامها،
سوال: ذکر د مفرد په مقابل د قضیه کښې په دے خبره باندے دلالت نکوی چه دلته د مفرد نه روستنی "آخری" معنیٰ "ما یقابل الجملة" مراد دے ځکه چه جمله د قضیه نه عام ده انشاء لره هم شامل ده، جواب، ذکر د مفرد مقابل د قضیه کښې دلیل دے په دے خبره باندے چه مراد د مفرد ځنې مالیس بقضیة دے، لیکن دا معنیٰ احتمال بطور مجاز دے، او په وخت د اطلاق کښې اصل حقیقت مراد وی، نو د همدغه وجه نه ویلے شی چه دلته مفرد مقابلاً د جملے دے، **قوله**، و الثانیة فی القضایا واحکامها، الخ پوه شه چه په دے مقام کښې معترض یو اعتراض کوی چه په واحکامها کښې واو حرف عاطف دَے او احکامها معطوف دَے او دا معطوف علیه غواړی، پس په معطوف علیه کښې دوه احتماله دی اوّل دا چه دا عطف دے په احوال مقدَّره باندے په دے قول چه المقالة الثانیة فی القضایا، ځکه چه د دے معنیٰ دا ده چه المقالة الثانیة فی احوال القضایا یعنی دویمه مقاله چه ده په بیان د احوالو د قضایا کښې ده، او مراد د احکامو نه هم احوال دی نو عبارت به داسے شی، چه والثانیة فی احوال القضایا واحوالها، و هل هذا الا تکرارٌ، والتکرار شنیعٌ، او دویم احتمال دا دے چه احکامها عطف شی په القضایا باندے نو بیا لازمیږی چه په مقاله ثانیة کښې بحث د احوال د قضی نه هم مشته، و لیس الامر کذالک، ځکه چه تقدیر داسے کیږی، چه المقالة الثانیة فی احوال





احوال القضایا،
**فائده**: بطور جمله معترضه، کله چه معترض اعتراض اوکړی په شقینو سره نو قانون دا دے چه "مجیب" جواب ورکونکے "لره اختیار دَے چه په کوم شق سره جواب ورکوی په اوّل سره او که په ثانی سره او که په دواړو سره وی، نو مونږ اول جواب کوو په اختیار د شق اول سره چه احکام د قضیی اسم او عبارت د دغه مباحثو د پاره، چه عکس مستوی، عکس نقیض او تناقض دی او عام شروح په اختیار د شق ثانی سره جواب ورکوی ځکه چه دا جواب ضعیف دَے پس خلاصه د جواب داده چه تکرار د نشته بحث د عکس مستوی، عکس نقیض او تناقض نه عین بحث د احوالو د قضایا ځنې دَے چه جمله ده او شرطیه ده یا شرطیه متصله دی او که منفصله یا متصله موجبه وی او که سالبه وعلی هذا القیاس، نو حمله شرطیه احوال د قضی دی، او عکس مستوی، عکس نقیض، او تناقض دا احوال احوال د قضایا ؤ دی، او: هذه اعتراض هم ورسره دفع شو چه، معترض په دے مقام کښې کړیدے او دا چه مراد له قضایا ځنې احوال د قضایا ؤ دی او د احکام نه هم مراد احوال د ی، بیا نو ذکر د احکامو پس د قضایا ؤ نه مستدرک او بی فائده شو، جواب ظاهر دے چه د القضایا نه مراد احوال اوّلیه دی، او د احکامها نه مراد احوال ثانویه دی **قوله**، و الثالثة فی القیاس، سوال تقابل د مقاله ثالثه د خاتمه سره صحیح نه شو ځکه چه دواړو کښې ذکر او بیان د قیاس دَے، جواب: دلته تقدیر د عبارت دے، اے من حیث الصورة لا من حیث المادة، سوال، هرکله چه دا قید (من حیث الصورة) ضروری وو نو شارح ولی ذکر نکړو؟ یعنی مقاله ثالثه ئے مطلق ذکر کړه او خاتمه ئے مقید کړه، مناسب دا وو چه مقاله ثالثه ئے هم مقید کړے وے؟ جواب ۱: چونکه قیاس من حیث الصورة کثیر الوقوع دے ګویا چه بحث د صورت د قیاس نه بحث د ټول قیاس نهٔ دے جواب ۲: (اکتفاء بالشهرة)، **قوله** واما الخاتمة ففی مواد الاقیسة واجزاء العلوم، سوال: په خاتمه کښې د دلیل برهانی، خطابی، جدلی شعری او سوفسطائی ذکر دے، او دا ټول قیاسات دی نو شارح څرنګه وائی "الخاتمة فی مواد الاقیسة" جواب: دا خاتمه اګرکه دا خلو د قیاساتو لره شامله ده لکن مقصود بالذات په خاتمه کښې بیان دا جزاء او مواد د قیاساتو دے پس تعبیر په الخاتمة فی مواد الاقیسة سره صحیح شو، سوال ماده ویلے شی ما بهِ الشیُ بالقوة، او صورة وائی ما به الشیُ بالفعل ته، او په دیکښې

هیڅ شك نشته چه ما بهِ الشئ بالقوة مقدم وی په وجود کښې طبعًا، مصنف رحمه الله لره په کاردو، چه خاتمه (ماده) په قیاس (صورة) مقدم کړے چه موافقت د وضع راغلے وے د طبع سره مع انَّ الموافقة خیر من المخالفة، جواب ع۱:- کله چه ما بهِ الشئ بالفعل اشرف وی په ما بهِ الشئ بالقوة باندے نو بیا تقدیم د اشرف اولٰی دی همه په دے اساس چه کله قیاس (صورة) اشرف وی په مواد باندے نو قیاس ئے مقدم کړو په خاتمه باندے، جواب ع۲: مواد مضاف دے او اقیسه مضاف الیه دے، او قاعده دا ده چه معرفت د مضاف موقوف وی تر معرفت د مضاف الیه پورے " و لا یعلم المضاف الا بعد علم المضاف الیه" نو په مواد د قیاس باندے پوره پوهه هله راتللے شی چه معرفت د قیاس خوړشی، سوال: مراد د قضایاؤ څخه مواد او اجزاء د قیاس دی، نو بحث د قضایاؤ څخه مواد او اجزاء د قیاس دی، نو بحث د قضایا بلوُنه دا عین بحث دے د مواد د قیاس نه پس خاتمه ته ضرورت راغے، بلکه ذکر د خاتمه پس د مقالهٔ ثانیه نه مستدرك او بے فائدے شو، جواب منم چه مواد د قیاس په مقاله ثانیه کښې هم ذکر دی، او په خاتمه کښې هم ذکر دی، لیکن خاتمه دا قید او د حیثیت لحاظ پکښې نشته، او معرفت د دغه قیودو، او حیثیتو نو حاصلیږی پس د معرفت د قیاس څخه،

**تنبیه** :- مواد جمع د مادة ده، او ماده په لغت کښې اصل ته وائی، او په اصطلاح کښې مایترکبُ منهُ الشئ ته وائی، او اجزاء د علوم څخه درې شیان مراد دی (۱) موضوعات (۲) مبادی "مایتوقف علیه المسائل (۳) نفس مسائل،

---

وَاِنَّمَا رَتَّبْنَا عَلَيْهَا لِاَنَّ مَا يَجِبُ اَنْ يُّعْلَمَ فِي الْمَنْطِقِ اِمَّا اَنْ يَّتَوَقَّفَ الشُّرُوْعُ مِنْهُ عَلَيْهِ اَوْلَا فَاِنْ كَانَ الْاَوَّلُ فَهُوَ الْمُقَدِّمَةُ، وَاِنْ كَانَ الثَّانِيْ فَاِمَّا اَنْ يَّكُوْنَ الْبَحْثُ فِيْهِ عَنِ الْمُفْرَدَاتِ فَهُوَ الْمَقَالَةُ الْاُوْلٰى اَوْ عَنِ الْمُرَكَّبَاتِ فَلَا يَخْلُوْ اِمَّا اَنْ يَّكُوْنَ الْبَحْثُ عَنِ الْمُرَكَّبَاتِ الْغَيْرِ الْمَقْصُوْدَةِ بِالذَّاتِ فَهُوَ الْمَقَالَةُ الثَّانِيَةُ، اَوْ عَنِ الْمُرَكَّبَاتِ الَّتِيْ هِيَ الْمَقَاصِدُ بِالذَّاتِ فَلَا يَخْلُوْ اِمَّا اَنْ يَّكُوْنَ النَّظَرُ فِيْهَا مِنْ حَيْثُ الصُّوْرَةِ وَحْدَهَا وَهِيَ الْمَقَالَةُ الثَّالِثَةُ اَوْ مِنْ حَيْثُ الْمَادَّةِ وَهُوَ الْخَاتِمَةُ، وَالْمُرَادُ بِالْمُقَدِّمَةِ هٰهُنَا مَا يَتَوَقَّفُ عَلَيْهِ الشُّرُوْعُ فِي الْعِلْمِ،



**ترجمه**:- او ماتن رحمه الله خپله رساله (شمسیه) په اجزاء خمسه (مقدمه، دری مقالات، خاتمة) باندے ځکه مرتب کړو چه د کوم څیز زده کول په منطق کښې ضروری دی دا به د دوو حالو، نه خالی نه وی، یا به په دے باندے شروع فی المنطق موقوف وی، او یا به نهٔ وی که اول وه نو مقدمه شوه او که دویم وی نو یا به بحث د مفردا تو څخه کولے شی او یا به د مرکبا تو څخه، که اول وه نو مقالهٔ اولٰی شو او که دویم وی نو بیا به خالی نهٔ وی، یا به په دیکښې بحث د داسی مرکبا تو نه وی چه پخپله مقصود بالذات نه وی او یا به په دیکښې بحث د داسی مرکبا تو نه وی چه پخپله مقصود بالذات وی، که اول وو نو مقالهٔ ثانیه شوه، او که دویم وو نو بیا به خالی نه وی یا به په دیکښې بحث په اعتبار د صورت سره وی نو مقالهٔ ثالثه شوه، او یا به بحث په اعتبار د مادی سره وی نو دا خاتمه شوه، او دلته د مقدمی نه مراد هغه شئ دے چه په هغه باندی شروع فی العلم موقوف وی

**توضیح اللغات**[۳]:- (۱) ترتیب: په لغت کښې جعل کل شئ فی مرتبته ته وائی، او په اصطلاح کښې جعل الاشیاء الکثیرة بحیث یطلق علیه اسم الواحد ویکون لبعضها نسبة الی بعض بالتقدیم و التاخیر ته وائی، "والترتیب اخصُّ مفهومًا، من التالیف اذ لم یعتبر فی التالیف نسبة بعض الاجزاء الی بعض بالتقدیم والتاخیر (۲) توقف په لغت کښې بندوالی ته وائی او په اصطلاح کښې د توقف په دوه معنو باندے اطلاق کیږی (۱) توقف المعیة، وهو ما لا یوجد احد الشیئین الا مع الاخر (۲) توقف التقدم، وهو ان لا یوجد احدهما الا بالآخر (۳) بحث په لغت کښې تفحص او تلاش ته وائی، او په اصطلاح کښې مختلف تعریفونه شویدی (۱) حمل شئ علی شئ (۲) اثبات النسبة الخبریة بالدلیل (۳) اثبات المحمول للموضوع وغیر ذالك، الکشاف ص۲۰۹ ج۱

**تشریح**:- وانما رتبها علی الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب د سوال مقدر دے، تقریر د سوال دا دے چه مصنف خپل کتاب (الرسالة الشمسیة) ولے په اجزاء خمسو باندے مرتب کړو، او په دیکښې څه فائده شته او که نه؟ جواب، خلاصه د جواب دا ده چه مصنف رحمه الله خپل کتاب په هیئت کذائیه باندے مرتب کړو په دے کښې اشاره ده بیان د وجه د حصر ته،

Maktaba Tul Ishaat.com

## ((جلاء البصر فی بحث الحصر))

(۸)
زده کړه داخبره چه په دے مقام کښ لا بدی ده د معرفت د امورِ ثمانیو نه (۱) صیغه د حصر (۲) باب د حصر (۳) معنیٰ لغوی (۴) معنیٰ اصطلاحی (۵) مناسبت په مینځ د معنینو کښ (۶) تقسیمات د حصر (۷) طریقے د حصر (۸) فرق په مابین د حصر، قصر او اختصاص کښ،

**تفصیل المقام**:- پس حصر صیغه د مصدر ده د (ن، س) نه په لغت کښ ضیقت (تنګوالی) احاطه (ګیرول) تحدید (اندازه کول) ته وائی او په اصطلاح کښ "ایراد شئ علی عدد معین" یعنی راوړل دشی په شمیر معین ته وائی، (تعریفات) صاحب د معجم الوسیط تعریف د حصر داسے ذکر کړیدے چه "الحصر اثبات الحکم للمذکور ونفیه عما عداه"، او مناسبت په مینځ د معنینو کښ عموم خصوص مطلق دے په دے شان سره چه معنیٰ لغوی اعم مطلق او معنیٰ اصطلاحی اخص مطلق دَے، هرچه تقسیمات د حصر دی، نو په دےکښ در ے تقسیمات دی، بنا په تقسیم اوّل اقسام د حصر دوه دی (۱) حصر د کلی په جزئیا تو خپلو کښ داعبارت دے د هغه څیز نه چه نهٔ صحیح کیږی اطلاق د اسم په تولو اجزاء خپلو باندے لکه حصر د رسالهٔ (شمسیه) شو په امور خمسو باندے (مقدمه ثلاث مقالات او خاتمه) په دے شان سره چه د اطلاق د رسالے په هر واحد د امور خمسو باندے نه کیږی (۲) حصر د کلی شو په جزئیاتو خپلو باندے او دا هغه دَے چه صحیح اطلاق د اسم د کلی په هر واحد د جزئیات باندے، لکه حصر د مقدمه شو په اشیاء ثلاثو (ماهیة المنطق، بیان الحاجة، او موضوع د منطق) کښ، پس بیا حصر په څلور قسمه دَے (۱) حصر عقلی (۲) حصر طبعی (۳) حصر وضعی (۴) حصر استقرائی ځکه چه دلیل د حصر به خالی نهٔ وی یا به دائر وی په مابین د نفی او اثبات کښ او یا به دائر نه وی که دائر وو په مینځ د نفی او اثبات کښ یا به خالی نه وی یا به عقل مجوّز د قسم آخروی او یا به نهٔ وی، پس که دلیل د حصر دائر وی په مابین د نفی او اثبات کښ او عقل مجوز د قسم آخروی نو دا حصر طبعی شو، لکه واجب دا حصر دے په واجب تعالیٰ کښ لیکن عقل وائی چه که بل ذات واجب الوجود وے نو په هغه باندے به هم اطلاق د واجب کیدو، او که دلیل د حصر دائر وی په مابین د



نفی او اثبات کښ او عقل مجوّز د قسم آخر نه وی نو دا حصرِ عقلی شو لکه حصر د مفهوم شو په دری څیزونو (۱) واجب الوجود، ممکن الوجود، او ممتنع الوجود) کښ او عقل مجوّز د قسمِ آخر نه دَے، او که دلیل د حصر دائر نهٔ وی په مابین د نفی او اثبات کښ نو بیا به خالی نه وی یا به دا حصر په اعتبار د وضع د واضع سره وی، او یا به په اعتبار د تتبع او استقراء سره وی، که په اعتبار د وضع د واضع سره وی نو دا حصرِ وضعی شو لکه حصر د کلمے شو په اقسام ثلاثو (اسم، فعل، حرف) کښ په نیز د نحویانو باندے او یا حصر د افلاکو شو په تسعو کښ په نیز د فلاسفو، او که په اعتبار د تتبع او استقراء سره وی نو دا حصرِ استقرائی دے، لکه حصر د د لالت لفظیه شو په وضعیه او طبعیه کښ وقیل الحصر علی ثلاثة اقسام (۱) عقلی کالعددِ للزّوجیّةِ والفردیةِ (۲) وقوعی کحصرِ الکلمةِ فی اقسامِ الثلاثةِ (۳) حصرِ جعلی، کحصرِ الرسالة علی مقدّمةٍ وثلاث مقالات وخاتمةٍ، او هرچه طریقے د حصر دی نو حصر په مختلفو طریقو سره کولے شی، او دیو څو ترے مشهورے دی (۱) کوم شیٔ چه دائر شی په مابین د نفی او اثبات کښ، لکه ما زیدٌ الا شاعرٌ (۲) انما سره هم حصر حاصلیږی ځکه چه په انما کښ د مَا او لَا معنیٰ موجود ده، هم په دے وجه بعض مفسرینو دے قولِ د الله تعالیٰ چه (انما حرّم علیکم المیتة) دے معنیٰ کړیده ما حرّم علیکم الا المَیْتَةَ، وفیه کلام والتفصیل فی التفسیر،
او هم د دے وجه نه نحویان حضرات وائی چه انما خپل ما بعد ثابتوی او د ماسوا نفی کوی او دا معنیٰ د حصر ده، (۳) تقدیم د ماحقهٔ التاخیر، لکمااِیَّاكَ نعبدُ واِیَّاكَ نستعین، شو (۴) عطف په لا سره هم حصر حاصلیږی لکه زیدٌ شاعرٌ لا کاتبٌ، او هرچه فرق دے په مابین د حصر قصر او اختصاص کښ پس کشاف اصطلاحات الفنون والعلوم په ص ۶۸/۱۲ کښ لیکلی دی چه الحصر عند اهل العربیة هوالقصر وهواثبات الحکمِ للمذکور ونفیه عما عداهٗ وکثیر من الناس لم یفرق بینهٗ وبین الاختصاص وبعضهم فرق فیهما،

**فائده**:- فی الاتقان قد یفهم کثیر من الناس من الاختصاص الحصر ولیس کذالك وانّما الاختصاص شی والحصر شیٔ آخر، والفرق بینهما ان الحصر نفی غیر المذکور والاختصاص قصد الخاص من جهة خصوصیة اه

پس پوه شه چه شارح رحمهٔ الله په وانّما رتبها سره وجه د حصربیانوی
او دا حصرعقلی، جعلی دے، خلاصه دوجه د حصر داده چه هرهغه شیٔ چه
په کتابونو د منطق کښے ذکرکول ضروری دی دا به خالی نه وی یا به موقوف
علیه وی او یا به موقوف وی کچرے موقوف علیه وؤ نو دا مقدمه شوه او که
موقوف وؤ نو بیا به خالی نه وی یا به بحث د مفردا تو څخه کوُلے شی، او یا به بحث
د مرکباتو څخه کوُلے شی که بحث د مفردا تو نه کولے شو نو دا مقالهٔ اولیٰ شوه او که
بحث د مرکباتو نه کوُلے شو یا به خالی نهٔ وی یا به مقصود بالعرض وی او یا به
مقصود بالذات وی، که مقصود بالعرض وؤ نو دا مقالهٔ ثانیه شوه، او که
مقصود بالذات وؤ یا به خالی نه وی یا به من حیث الصورة وی، او یا به من
حیث المادہ وی که من حیث الصورة وؤ نو دا مقاله ثالثه شوه او که من حیث المادہ وی نو خاتمه شوه
اوس په دے وجه د حصرباندے یو څو سوالونه واردیږی، سوآل اول:۔
خلاصه د سوال داده چه ته حصر د کتاب چه په امورِ خمسوکښ کوے
۲ یا دا اجزاء نه ستا مراد مطلق اجزاء دی او که مقاصد دی، که مطلق اجزاء
وی نو حصر دِ په خمسوکښ باطل دے، ځکه چه مقدمه خو مقصود نه ده،
جواب: زه حصر د کتاب په امورخمسوکښ په اعتبار د مقاصدو سره اخلم
او که ته وائې چه مقدمه خو مقصود نه ده، نو زه وایم چه مقدمه
مقصود بالذات ده ځکه چه د مقصود بالذات دپاره موقوف علیه ده نو
دا هم مقصود شوه لان مقدمة الواجب واجبٌ، سوآل ثانی: اوس سوال
واردیږی، چه ستا د کلام نه خو دا معلوم شوه چه مقدمه موقوفٌ علیه
ده لپاره د شروع فی العلم نو معنیٰ دا شوه چه تر څو دا مقدمه نهٔ وی نو
شروع به په علم کښ نه صحیح کیږی، حالانکه دا د مشاهدے نه خلاف
ځکه چه بعض طالبانو څخه مقدمه تیره شوی وی بیا هم شروع فی العلم
کوی څهٔ محال والے پکښ نه راځیٔ؛ جواب ع۱: توقف لره دوهٔ معنیین دی
اول په معنیٰ د لو لاهٔ لامتنع سره، لکه که دا قول فی شئ حیوان نه وی نو انسان
به هم نهٔ وی، او دوئیم توقف په معنیٰ د إنْ وجد فوجد سره دے، لکه که
دا قول فی شئ انسان نوکاتب به وی، نو دلته زه توقف د إن وَجَدَ فَوَجد د قبیلی
نه اخلم اے إنْ وجد هذهِ الامور الثلاثة فوجد الشروع واذا امکن
الشروع بدونها، او دا زه د لته توقف د لولاهٔ لامتنع اخلم یعنی که امور



ثلاثه زده نکړی نو بصیرت کامله به حاصل نه شی په شروع کښ،
جواب ع۲: توقف په درے قسمه ده (۱) توقف عادی دا عبارت دے د هغه نه
چه ممکن وی شروع کوُل بغیر د دے نه (۲) توقف عقلی دا عبارت دے د هغه
نه چه ممکن نهٔ وی شروع کوُل د مقصود بغیر د دے نه (۳) توقف شرعی
چه د هغه په پریښودو باندے انسان گنهگار دیږی، او زه د توقف نه مراد
دلته توقف عادی اخلم نهٔ عقلی او نهٔ شرعی،
سوآل ثالث:۔ (مورده قولهٔ لانّ مایجب ان یعلمَ فی المنطق) خلاصه د سوال
داده چه کوم شیٔ چه په منطق کښ زده کوُلے شی هغه یقیناً د منطق جزء دے
ځکه چه په منطق کښ د غیرمنطق بیان نشی کوُلے کیدے لازمیږی اختلاف
په علوموکښ وذا باطلٌ، نو په دے صورت کښ مقدمه جزء د منطق
شو، او دا باطل دے ځکه چه د علماؤ اتفاق دے چه مقدمة الشروع فی
العلم د علم نه خارج وی، سوآل رابع: بنا په تقریر سابق (سوال ثالث)
مقدمه هرکله چه د منطق جزء شوه نو په مقدمه کښ شروع کوُل داعینه
منطق کښ شروع کوُل دی، او موږ وئیلے وؤ چه شروع فی المنطق مقدمه
پورے موقوف دے نو د دے خبرے نتیجه دا را اوځی چه شروع فی المقدمه
موقوف دے تر شروع فی المقدمه پورے او دا محال دے، ځکه چه لازمیږی
توقف د شئ علیٰ نفسه پس د دے سوال مقدمات ترتیب دا سے بیانولے شی
چه "الشروع فی المقدمة شروع فی المنطق" (صغریٰ شوه) و الشروع فی المنطق
موقوف علی الشروع فی المقدمةِ (کبریٰ شوه) و الشروع فی المقدمةِ موقوف
علی الشروع فی المقدمةِ (نتیجه شوه) نو توقف د شئ لنفسه راغے وهو باطلٌ
د دوؤ سوالونو جواب دا دے، چه د شارح په عبارت کښ مضاف محذوف
دے نو تقدیر د عبارت دا سے شو چه "لانَّ مَا یجبُ ان یعلم فی کتب المنطق"
پس په دے صورت کښ مقدمه د کتاب جزء شو د منطق نه او شروع فی
المنطق موقوف شو تر مقدمه پورے او دلیل په حذف فیئت د مضاف باندے
دا دے چه د شارح رحمهٔ الله مقصد انحصار د کتاب دے په اجزاءِ خمسو
کښ نه بیان د انحصار د علم، جواب (۲)، فی په معنیٰ د لام تعلیل سره دے او مضاف
محذوف دے اے لِاَنَّ مَا یجبُ ان یَعْلَمَ لحصول المنطق،

قولهٔ لِاَنَّ مَا یجبُ اَنْ یعلم الخ سوآل دا وجوب به خالِی نه وی، یا به وجوب

شرعي وي او يا به وجوب عقلي وي او دا دواړه نه صحيح كيږي، ځكه چه وجوب شرعي عبارت دے ددے نه چه په مخالفت او ترك د هغه سره ګناه لازميږي، او د علم منطق نه زده كولو سره خو سړے نه ګنهګاريږي او وجوب عقلي عبارت ددے نه چه مخالفت ورنه ممكن نهٔ وي بلكه محال وي، او د منطق نه مخالفت ممكن دے محال نهٔ دے؟ جواب: مراد د وجوب نه نهٔ شرعي اخلم نه عقلي بلكه مراد د وجوب نه يوه دريمه معنىٰ اخلم چه هغه وجوب عرفي دے چه معنىٰ ئې [illegible] نو يجب په معنىٰ ينبغي سره دے او يا مراد د وجوب نه معنىٰ لغوي ده چه ضروري او لزوم دے، قوله، او عن المركبات الخ سوال مقالهٔ اولیٰ كښې تكه څرنګه چه د مفرداتو نه بحث كيږي هم د غه شان د مركباتو نه بيان هم شته لكه حد تام، حد ناقص، رسم تام، او رسم ناقص، او صرف په مقالهٔ ثانيهٔ كښې د مركباتو بيان نشته بلكه څه مركبات په مقالهٔ اولیٰ كښې هم ذكر دي جواب: د مفرد نه مراد مقابل د جملے او قضيه ده د مركب نه مراد مطلق مركب نهٔ دے بلكه مراد ورنه مركب تام او قضيه ده،

قوله، فهو المقالة الثانية الخ سوال: شارح رحمه الله مركبات په دوه[2] قسمه اوكرځول (۱) مقصود بالذات (قياسات) او دوئم[2] غير مقصود بالذات (قضايا) او د دواړو د پاره ئې جدا جدا مستقل مقاله منعقد كړه او د مفرداتو تقسيم ئې ونكړو، حالانكه مفردات هم په دوه[2] قسمه كيدے شي اول[1] مقصود بالذات، لكه معرفات (۲) غير مقصود بالذات لكه كليات شول پس شارح رحمهٔ الله له پكار وو، چه دے دوه[2] قسمو د مفرداتو د پاره هم دوه[2] مقالے مقرر كړے وے؟ جواب هر كله چه د مركباتو د دواړو قسمونو لپاره احكام او لوازم بكثرت سره موجود دوو او د مفرداتو د دواړو قسمونو لپاره احكام او احوال بكثرت موجود نه وو نو شارح رحمه الله مركباتو لپاره دوه[2] مقالے مقرر كړے او د مفرداتو لپاره مقالهٔ واحده مقرر كړه،

قوله، و هي الخاتمة الخ سوال د شارح د كلام سابق "اما الخاتمة ففي مواد الاقيسة و اجزاء العلوم" نه دا معلوميده چه خاتمه په مواد اقيسه باندے مشتمله ده نه په اجزاء العلوم باندے و هل هذا الا تناقض جواب هر كله چه مقصود اصلي د منطق نه ايصال الى المطلوب دے پس



په خاتمه كښې مقصود بالذات صرف مواد اقيسه دي او اجزاء د علوم طبعًا او عرضًا ذكر كړے شي كه دليل حصر نه اجزاء العلوم خارج شي نو كوم نقصان نه جوړيږي ځكه چه دليل حصر د هغه شيانو اثبات مقصود وي چه يا خو موصل الى المطلوب وي، او يا په ايصال الى المطلوب كښې د دغه شيانو دخل وي او اجزاء العلوم نهٔ مقصود دي او نهٔ په ايصال الى المطلوب كښې د دغه شيانو څه دخل شته؛ سوال، د مقصود نه ستا مقصود د كتاب مراد دے، يا مقصود د فن دواړه نهٔ صحيح كيږي ځكه چه كه مقصود د كتاب اخلې نو بيا خو اجزاء العلوم له دخل شته پس خاتمه صرف په بيان د مواد اقيسه كښې نشوه، او كه د مقصود نه مراد صرف مقصود د فن اخلې نو بيا خو په خاتمه كښې صرف مواد اقيسه ذكر كول مناسب دي ليكن دا دليل حصر د شارح دليل حصر د كتاب دے نه دليل حصر د فن جواب ۱: مقصود نه مراد د مقصود كتاب دے ليكن هر كله چه اجزاء علوم بالذات په فن كښې مقصود نهٔ دي كه د دليل حصر نه خارج شي نو څه نقصان نهٔ جوړيږي، جواب ۲، شارح په دليل حصر كښې اجزاء العلوم ذكر نكړل اكتفاء بما سبق يا اكتفاء بالشهرة د درج نه، (معانی المقدمه)

زده كړه دا خبره چه د مقدمے اطلاق په مختلفو معانيو باندے شويدے (۱) مقدمة الجيش يعني د لښكر مخكنے حصه كما مرّ (۲) مقدمة الدليل نفية جعلت جزء قياس او حجة يعني د قياس په مباحثو كښې، د مقدمه اطلاق هغه قضيه باندے كيږي چه د قياس يا د حجت جزء وي (۳) كله كله مقدمه نه مراد ما يتوقف عليه الابحاث الآتية وي يعني مقدمه عبارت دے د هغه شي څخه چه روسته راتلونكے بحثونه په دے باندے موقوف وي (۴) او كله كله د مقدمے اطلاق په "ما يتوقف عليه صحة الدليل" باندے كيږي، يعني كله د مقدمه اطلاق په هغه شي باندے كيږي چه په هغه باندے د دليل صحت موقوف وي لكه د شكل اول د پاره صغرىٰ موجبه كيدل او كبرىٰ كليه كيدل (۵) او اكثر مراد د مقدمه نه مقدمة العلم وي أے "ما يتوقف عليه الشروع في العلم" يعني شروع كول په علم كښې على وجه البصيرة په دے باندے موقوف وي، او د دے نه مراد درے شيان دي (۱) د علم تصور تعريف سره (۲) تصديق د غرض د علم (۳) تصديق د موضوع د علم (۶) او كله كله د مقدمے نه مراد مقدمة الكتاب وي، يعني طائفة من الكلام قدمت امام المقصود

لارتباطه بها ونتها نیه. یعنی مقدمه دکتاب عبارت دے دیوے حصے دکلام (الفاظ) نه چه دا حصه دکلام به مخکښ کړے شوے وی د مقصود نه له وجې دتړون د مقصود نه په دے حصه دکلام باندے او دوجه د نفع د دے طائفے په دے مقصود کښ (۷) او کله د مقدمے نه مراد ما یستعان به فی الشروع وی یعنی مقدمه هغه شی دے چه شروع فی العلم کښ مرسته حاصلولے شی په دے مقدمه سره،

تنبیه[1] :- په دے مذکوره معانیو کښ مشهور صرف دوه[2] معانی دی اول مقدمة العلم، او مقدمة الکتاب پس پوهه شه په دے خبره باندے چه د مقدمة العلم او د مقدمة الکتاب په مینځ کښ په نیز د اکثرو علماؤ باندے تباین او تغائر دے، ځکه چه د مقدمة العلم اطلاق په معانی مخصوصه باندے (امور ثلاثه مذکوره) باندے کیږی، او د مقدمة الکتاب اطلاق په الفاظ مخصوصو باندے کیږی، او د معانیو او د الفاظو تر مینځ تباین دے او بعض منا طقو وئیلی دی چه د مقدمة العلم او د مقدمة الکتاب تر مینځ نسبت د عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه مقدمه د علم هغے ته وائی چه مقصود به دے باندے موقوف وی او مقصد د کتاب عام ده خواه که مقصود (مسائل) به دے باندے موقوف وی او که غیر مقصود، لکه تعریف، موضوع او غرض شو،

تنبیه[2] :- علامه میر سید شریف رحمه الله چه علامه تفتازانی رحمه الله باندے اعتراض کړیدے چه "اصطلاح مقدمة الکتاب لم یوجد فی کتب القوم" یعنی مقدمة الکتاب اصطلاح د قوم په کتابونو کښ نه ده ملاو شوے، بلکه دا د علامه تفتازانی رحمه الله ایجاد دے ګویا کښ چه د مقدمة الکتاب اصطلاح هیڅ حقیقت نلشته، جواب ۱: د قوم په کتابونو کښ اګر که مقدمة الکتاب اصطلاح تصریحًا نشته، لیکن د قوم د کتابونو نه د دے اصطلاح تخریج کولے شی، په دے شان سره چه ارباب د تصانیف په خپلو کتابونو د مقاصدو نه مخکښ دا یو مجموع دکلام راوړی، چه ادراک د معانی د هغه د طالب د پاره سبب او باعث د نفع ګرځی جواب ۲: که د مقدمه دوه قسمه دی (۱) مقدمة العلم (۲) مقدمة الکتاب) نتی نو دوه اشکاله پیدا کیږی چه د هغے نه خلاصے په آسانئ سره نشے کیدے، اول دا چه د مقدمه باره



کښ وئیلے شوے دی چه شروع فی العلم په دے باندے موقوفه ده او موقوف علیه د مقاصدو نه مخکښ وی، حالانکه علامه سکاکی رحمة الله مقدمه د علم معانی او د علم بیان په آخر کښ ذکر کړیده، چه د دے نه واضح معلومیږی چه دا د مقدمه شروع فی العلم لپاره موقوف علیه نه ده او دویم اشکال دا دے چه وئیلے شی چه "المقدمة فی حد العلم و موضوعه و غایته" حالانکه مقدمه په خپله عبارت دے د دے امور ثلاثو نه پس د دے نه ظرفیت د شی لنفسه لازمیږی او دا ناروا دے، لیکن کله چه مقدمه دوه قسمونه واخلے نو د غه دواړه اشکالونه ډیر په آسانئ سره حل کیږی د اول اشکال په دے طور سره حل را اوځی چه په مقدمة الکتاب کښ دا شرط ده چه د مقاصدو نه مخکښے وی په خلاف د مقدمة العلم، ځکه چه په مقدمة العلم کښ دا شرط نه ده او دویم اشکال حل دا دے چه مقدمة العلم مظروف ده او مقدمة الکتاب ظرف ده، پس ظرفیت د شی لنفسه لازم نه شو فتحقق قول التفتازانی رحمه الله وامحی اعتراض الجرجانی رحمهٔ الله هر کله چه په دے تفصیل مذکوره دا شی پوره شوئ پس زده کړه دا خبره چه غرض د شارح رحمهٔ الله په دے عبارت "والمراد بالمقدمة هٰهنا الخ" سره جواب د سوال مقدره ده حاصل د سوال دا دے چه د مقدمے دپاره خو معانی مختلفه دی د لته ترے کومه یوه معنی اخلے که ټولے معانی اخلے نو عموم مشترك لازمیږی او که یوه معنی اخلے او بل نه نو ترجیح بلا مرجح لازمیږی، خلاصه د لته ځه مراد د مقدمه نه ما یتوقف علیه الشروع فی العلم اخلو، که ته وائی چه ترجیح بلا مرجح راځی نو ځه وایم چه د لته مع المرجح ده، ځکه وجه الحصر کوم چه مخکښ بیان شوه دا قرینه ده په دے خبره باندے چه د لته مراد د مقدمه نه ما یتوقف علیه الشروع فی العلم ده،

وَوَجْهُ تَوَقُّفِ الشُّرُوْعِ فِی الْعِلْمِ اِمَّا عَلٰی تَصَوُّرِ الْعِلْمِ فَلِاَنَّ الشَّارِعَ فِیْ عِلْمٍ لَوْلَمْ یَتَصَوَّرْ اَوَّلًا ذٰلِكَ الْعِلْمَ لَكَانَ طَالِبًا لِلْمَجْهُوْلِ الْمُطْلَقِ وَهُوَ مُحَالٌ لِاِمْتِنَاعِ تَوَجُّهِ النَّفْسِ نَحْوَ الْمَجْهُوْلِ الْمُطْلَقِ وَفِیْهِ نَظَرٌ لِاَنَّ قَوْلَهٗ وَالشُّرُوْعُ فِی الْعِلْمِ یَتَوَقَّفُ عَلٰی تَصَوُّرِهٖ اِنْ اَرَادَ بِهِ التَّصَوُّرَ بِوَجْهٍ مَّا فَمُسَلَّمٌ لٰكِنْ لَا یَلْزَمُ مِنْهُ اَنَّهٗ لَابُدَّ مِنْ تَصَوُّرِهٖ بِرَسْمِهٖ فَلَا یَتِمُّ التَّقْرِیْبُ اِذِ الْمَقْصُوْدُ بَیَانُ سَبَبِ اِیْرَادِ رَسْمِ الْعِلْمِ فِیْ مُفْتَتَحِ الْکَلَامِ وَاِنَّمَا یَلْزَمُ ذٰلِكَ لَوْلَمْ یَکُنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

الْعِلْمُ مُتَصَوَّرًا بِوَجْهٍ مِّنَ الْوُجُوْهِ وَهُوَ مُمْتَنِعٌ، فَالْاَوْلٰی اَنْ يُّقَالَ لَابُدَّ مِنْ تَصَوُّرِ الْعِلْمِ بِرَسْمِهٖ لِيَكُوْنَ الشَّارِعُ فِيْهِ عَلٰی بَصِيْرَةٍ فِيْ طَلَبِهٖ فَاِنَّهٗ اِذَا تَصَوَّرَ الْعِلْمَ بِرَسْمِهٖ وَقَفَ عَلٰی جَمِيْعِ مَسَائِلِهٖ اِجْمَالًا حَتّٰی اَنَّ كُلَّ مَسْئَلَةٍ مِّنْهُ تَرِدُ عَلَيْهِ عَلِمَ اَنَّهَا مِنْ ذٰلِكَ الْعِلْمِ كَمَا اَنَّ مَنْ اَرَادَ سُلُوْكَ طَرِيْقٍ لَمْ يُشَاهِدْهُ لٰكِنْ عَرَفَ اَمَارَاتِهٖ فَهُوَ عَلٰی بَصِيْرَةٍ فِيْ سُلُوْكِهٖ

ترجمه :- او شروع فی العلم تَصَوُّر د علم باندے موقوف کید و وجه داده چه کوم علم کښ شروع کونکے که اول نه د دے علم تصور او خاکه ذهن کښ نه وی نو دا مجهول مطلق طلب کونکے وا لاکرځی او د مجهول مطلق طلب محال دے ځکه چه نفس (انسانی) مجهول مطلق طرف ته نه متوجه کیږی او په دے خبره کښ نظر (سوال) دے ځکه چه د اقول چه "الشروع فی العلم یتوقف علی تصوره" که مراد تصوُّر بِوَجه شاوی نو دا خو منلے شی لیکن د دے نه دا نهٔ لازمیږی چه د علم تصور برسمه ضروری دے لهٰذا تقریب (دلیل) تام او پوره نهٔ شو ځکه چه مقصود په شروع د کلام کښ بیان د وجه د را وړلو د رسم د علم دی، او که د دے نه مراد تصور برسمه وی نو دا نشی منلے چه که د علم تصور برسمه نشی نو طلب د مجهول مطلق لازمیږی دا (طلب د مجهول مطلق) خو هغه وخت کښ لازمیږی چه د علم په هیڅ وجه سره تصور او نکړے شی پس بهتره دا ده چه او وئیلے شی چه د علم تصور برسمه ضروری دے د پاره د دے چه شروع کونکے د دے په طلب کښ په بصیرت (بینائی) باندے شی، ځکه چه کله د دے علم تصور برسمه ورته حاصل شی نو دا په ټولو مسائلو باندے پوهیږی تر دے چه کومه مسئله د دے علم دے مخی ته راشی نو دے پوهیږی چه دا مسئله هم د دے علم ده، لکه یو کس په داسے لاره د تلو اراده لری چه مخکښ چیرته نه ده لیدلے، لیکن علامات (آدرس) د دے لارے پیژنی نو دا کس په دے لاره په تلو کښ په بصیرت سره وی،

توضیح اللغات[1] :- (۱) مجهول مطلق عبارت دے د هغه شی نه چه د هغه معرفت په هیڅ طریقے د طرقو سره نشی کیدے اے مالیس بمعلوم بطریق (۲) "مُحال" په کسره د میم سره په معنیٰ د قوت سره راځی کما قال

تعالیٰ هو شدید المِحال (الرعد ۳) او که په فتحې د میم سره شی نو بیا په مختلفو معانو سره راځی (۱) ما لا یمکن وجوده (۲) ما اقتضی الفساد من کل جهةٍ کاجتماع الحرکة والسکون فی جسمٍ واحدٍ (۳) ماعدل به عن وجهه او کله کله د امعانی په ضمې د میم سره هم راځی- او که د میم ضمه شی نو بیا په معنیٰ د بدنام سره راځی لکه د اقول د متنبی شو، ع

وَمَا اَنْكَرْتُ قَلْبَكَ فِيْ مُحَالٍ ÷ وَلَا جَرَّبْتُ سَيْفِيْ فِيْ هَبَاءٍ

(۳) الرَّسْم (ض) الاثر فی الارض من شدة الوطأ ته وائی، او په معنیٰ د الاثر الباقی من الدار ته هم وائی، او په اصطلاح د منطقیانو کښ تعریف الشئ بخصائصه ته وائی، (۴) التقریب - په لغت کښ نزدیکت ته وائی یقال قَرَّبَ الشئَ ای ادناه الیه، او په اصطلاح کښ سوق الدلیل علی وجهٍ یستلزمُ المطلوب ته وائی یعنی را وړل د دلیل په داسے طریقه سره چه مستلزم دی مطلوب (مدعی) لره که دلیل یقینی وو نو یقین فائده کوی) او که ظنی وو نو ظن فائده کوی، وقیل تطبیق الدلیلِ علی وفق المُدَّعٰی، یعنی برابرول د دلیل دی په موافق د مدعیٰ (مطلوب) سره (۵) مفتح صیغه د مصدر میمی ده، وقیل ظرف د (ف) باب فتحه په معنیٰ د شروع سره (۶) بصیرة صیغه د صفت مشبهه ده د (س، ك) فتحه بصیرت په لغت کښ زیرکی او بینائی ته وائی، او په اصطلاح کښ په مختلفو معانیو سره راځی، (۱) قوة الادراك والفطنةِ (۲) په معنیٰ د مطلق علم او خبر سره راځی، (۳) په معنیٰ د حجت سره هم راځی (۳) په معنیٰ د عقیده سره هم راځی، یقال فعل ذالك عن بصیرةٍ اے عَنْ عقیدةٍ، (۷) الاجمال، په لغت کښ مطلق ابهام ته وائی او په اصطلاح کښ ایراد الکلام عَلٰی وجهٍ مبهمٍ ته وائی، وقیل تعدد الامور بلحاظٍ واحدٍ ته وائی، او د دے ضد تفصیل دے، پس تفصیل په لغت کښ د ماحت او بیان ته وائی، د فی التنزیل، قد فَصَّلْنَا الْاٰيَاتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ، او په اصطلاح کښ ایراد الکلام علی وجهٍ معلوم ته وائی، او یا تعدد الامورِ بلحاظاتٍ متعددةٍ ته وائی، (۸) السلوك : صیغه د مصدر ده، د (ن) نه په لغت کښ تلل او ننوتلو ته وائی، او په اصطلاح کښ سیرة الانسان ومذهبه واتجاهه ته وائی (۹) طریق : صیغه د صفت مشبهه ده، د (ن) نه په لغت کښ تلل- د شی راختل ته وائی، او په اصطلاح کښ، الممر الواسع الممتد

اوسع من الشارع ته وائی، کذا فی المعجم الوسیط ص ۵۵۶/۲ج ، (۱۰) امارات جمع د امارۃ دہ، په معنیٰ د علامة سره، او په معنیٰ د منصب الامیر سره هم راځی، والمراد ههنا هو الاول،

**تشریح:-** و وجه توقف الشروع الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره ده بیان د اجزاء د مقدمے ته، په دے شان سره چه هر شارع فی العلم له لابدی ده د معرفت د تصور د دغه علم، ځکه چه که شروع کوونکے د دے علم بالکل کوم تصور او نکړے نو دے طلب کوونکے د مجهول مطلق کرځی فالتالی باطل، والمقدم مثله، وجه د بطلان د تالی ظاهره ده، چه عقل مجهول مطلق طرف ته بالکل متوجه کیږی نهٔ نو طلب ئے خرنګ وکړی، او هر چه وجه د ملازمے ده نو دا هم ظاهره ده، ځکه چه کله ته تصور د علم بوجهٍ ما او نشی نو خامخواه طلب د مجهول مطلق راځی، او مجهول مطلق دے ته وائی، چه نه وی معلوم په هیڅ وجه د وجوهو سره، پس که علم په هیڅ وجه د وجوهٔ سره معلوم نشی، نو بنکاره خبره ده چه مجهول مطلق کرځی،

**قوله** وفیه نظر الخ په قول د بعضو د انظر (اعتراض) د شارح د شق د کوم چه شارح په طریقه د نقل سره ذکر کړیده، قاله عصام، خلاصه د نظر او د اعتراض داده چه تأویل چه " الشروع فی العلم یتوقف علی تصوره" مونږ تا نه تپوس کوو چه " تصور العلم" نه ستاخه مراد دے (۱) تصور العلم بوجهٍ من الوجوه یا (۲) تصور العلم برسمه، وکلاهما باطلان ولے که ستا مراد تصور العلم بوجهٍ من الوجوه وی دا خو منو لیکن دے نه هرکز دا نهٔ لازمیږی چه تصور د علم برسمه ضرور دے، او د لته خمونږ مقصود بیان د تصور العلم برسمه دے او که چه " تصورا لعلم بوجهٍ من الوجوه" مراد کړے شی نو دا نقصان لازمیږی چه تقریب نه تام کیږی یعنے دلیل د دعوی سره موافق نهٔ کرځی ځکه چه دعوی خاصه ده، او دلیل عام دے، دعوی خمونږه داده چه شروع فی العلم په تصور العلم برسمه باندے ولے موقوف دے، او دلیل داد ے، چه تصور العلم بوجهٍ من الوجوه ضروری دے، پس دلیل عام شو، په دے شان سره چه تصور بوجهٍ مّا " مطلق دے، او د دے خلور[۲] افراد دی، (۱) حد تام (۲) حد ناقص (۳) رسم تام (۴) رسم ناقص، پس په دے خلورو کښ





کوم یو سره چه تعریف او شی نو تعریف برسمه کرځی او که ستا مراد، د تصور العلم نه تصور د علم برسمه وی، نو دا مونږ نه منو، چه څوک د دے علم تصور برسمه او نه پیژنی، نو دا طلب د مجهول مطلق کرځی ځکه چه طلب د مجهول مطلق هغه وخت لازمیږی چه که د دے علم تصور بوجهٍ مّن الوجوه او نکړے شی، لیکن دا یے کید شی چه یو انسان (طالب علم) ته د دے علم تصور برسمه نه وی حاصل، بلکه تصور بوجهٍ نادر ته حاصل وی، پس طلب د مجهول لازم نهٔ شو، فبطل الاحتمالان ولا سبیل الی الثالث"

**تنبیه:-** ایراد رسم العلم الخ العلم کښ الف لام عهدی دے، چه د دے نه معهود او مراد علم منطق دے، الف لام استغراقی نهٔ دے ځکه چه روسته راځی، "ورسموه بانّه آلة قانونية" او په رسموهٔ کښ هاء ضمیر مرجع منطق دے نهٔ مطلق علم، فالاولی أن يقال الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره جواب دے د سوالِ مذکور نه، او دا جواب د شارح رحمه الله مبنی دے په اختیار د شق ثانی سره، پس شارح فرمائی چه بهتر دا دے چه دلته دوهم صورت (شق) مراد کړے شی لیکن یو قید او شرط سره " ای الشروع فی العلم علیٰ وجهِ البصيرة يتوقف علی تصوره برسمه" یعنی شروع فی العلم علیٰ وجه البصیرۃ قید لګول ضروری دے، چه په دے سره د شروع فی العلم تصور برسمه باندے موقوف کیدل بنکاره دے ځکه چه شروع فی العلم علیٰ وجه البصيرة په دے قولو امورو باندے موقوف دے چه ذکر مو بیان په مقدمه کښ شویدے هم دغه وجه ده چه کوم طالب علم د کوم علم تصور برسمه باندے و اقف وی نو دا کس د دے علم په تولو مسائلو باندے اجمالی طور سره پوهه وی په دے کښ د و صره صلاحیت او استعداد وی چه کومه مسئلے د دے مخی ته راشی نو دے پرے پوهیږی چه دا مسئله د دے علم متعلق ده او که نهٔ،

**قوله** کما ان من اراد الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره تشبیه د امر معقول ده د امرِ محسوس سره د وضاحت د امرِ معقول د پاره، په دے شان سره چه د دے مثال دا دے، چه څوک به دا سے لاره باندے سفر کولو اراده لری چه هغه لاره ئے نهٔ ده لیدلے لیکن د دے

Maktaba Tul Ishaat.com

لاره علامات او نخونه (ادرس) باندے پوره معلومات لري، پس دا انسان چه کله هم په دے لاره باندے رفت او آمد کوي نو ده ته دا معلومات حاصل وي، چه دغه فلانے ځائے دے او دا فلانے مقام دے، د علامات په ذريعه نو دے به ضرور منزل مرام ته رسيږي نو هم دغه شان دلته که طالب علم په تصور العلم برسمه باندے واقف شي نو دے به هم د غلطو نه محفوظ وي، او منزل مقصود ته به رسيږي،

د شارح د "فالاولى ان يقال الخ" نه معلوميږي چه جواب په اختيار د شق اول سره هم کيدے شي هم دے وجه نه شارح رحمه الله فالاولى ويلے فالصواب يا فالصحيح ئے او نه ويل چه مقابل ئے غلط او باطل راځي، او د اولى مقابل غيراولى راځي، پس په دے مقام کښ دوه خبرے پيژندل ضروري (۱) امکان د جواب په اختيار د شق اول سره (۲) وجه د اولويت د شق ثاني او غيراولويت د شق اول، پس هرچه امکان د جواب دے په اختيار د شق اول سره، نو هغه په دا سے طريقے سره چه د تصور العلم نه مراد ځما تصور بوجه مّا مطلق دے (والمطلق يجري على اطلاقه) او دے مطلق د پاره خلور افراد دي کما مرّ، او د تصور بوجه مّا حصول د دے خلور د کوم خاص فرد په ضمن کښ کيدے شي، او اوس مصنف رحمه الله يو فرد خاص يعني تصور برسمه اختيار کړو، قطع لحاظ د خصوصيت د دے نه، پس حصول د تصور برسمه، تصور بوجه مالره مستلزم شو، پاتے شوه دا خبره چه د تصور العلم برسمه نه علاوه د تصور بوجه مّا نور افراد هم مستلزم حصول د تصور بوجه مّالره دي نو دا کوم نقصان نشي جوړولے، د دے په امر معقول کښ مثال داسے دے چه يو انسان غواړي چه منزل مقصود ته اورسيږي ليکن منزل مقصود طرف ته مختلفے لارے تلے وي، نو د سالک خوښه ده چه په کومه لاره باندے تلګ کوي، نو ښکاره خبره ده چه منزل مقصود ته به ورسيږي، او هرچه وجه د اولويت د شق ثاني ده، په شق اول باندے پس شارح رحمه الله په فالاولى سره چه کومه وجه ذکر کړيده هغه په دے باندے دلالت کوي، چه د مطلق شروع د پاره تصور برسمه ضروري نه دے، بلکه شروع على وجه البصيرة د پاره تصور برسمه ضروري دے او شق اولى (غيراولى) والا وجه پدے باندے دلالت کوي چه شروع فى العلم لپاره



تصور بوجهٍ مّا کيدل ضروري دي ورنه شروع فى العلم على الاطلاق ممنوع ګرځي،

فائده :- د توقف معنى لغوي او اصطلاحي مخکښ بيان شوي ده، پس زده کړه دا خبره چه توقف د پاره موقوف او موقوف عليه ددوارو شيان کيدل ضروري دي توقف په دوه قسمه ده (۱) توقف په معنى د لولاه لامتنع يعني ګچرته موقوف عليه بيا موندلے شي، نو موقوف به هم موندلے کيږي (۲) توقف په معنى د مصَحِّحْ لدخول الفاء، يعني که موقوف عليه بيا موندلے شي نو موقوف به هم موندل کيږي، ليکن موقوف عليه بيا نهٔ موندلے شي نو دا ضروري نهٔ ده چه موقوف دِ هم نهٔ موندل کيږي، کيدے شي چه دا موقوف بل موقوف عليه د وجه نه موندل شوے وي، پس خلاصه د خبرے دا شوه چه په ومبئ صورت کښ، د موقوف او موقوفٌ عليه لازم مساوي وي او په دوئيم صورة کښ لازم عام وي، هرکله چه تا د توقف اقسام او پيژندل نو پوهه شه چه د کوم نقض (اعتراض) شارح رحمه الله نقل کړيدے هغه جواب داسے ورکولے شي، چه د تصور نه مراد تصور برسمه دے، او د شروع نه مراد شروع على وجه البصيرة ده، په دے صورة کښ شروع على وجه البصيرة توقف په تصور برسمه باندے د قبيلے د لولاهٔ لامتنع نه ده، يعني که تصور برسمه حاصل نشي نو شروع على وجه البصيرة به هم نه حاصليږي

سوال :- شروع على وجه البصيرة لکه څرنګه چه رسم سره حاصليږي هم دغه شان په حد سره هم حاصليږي لهذا دا ويل هم صحيح نشو چه شروع فى العلم على وجه البصيرة موقوف شوه په تصور برسمه باندے د قبيلے د لولاهٔ لامتنع نه بلکه په دے صورت کښ د شروع على وجه البصيرة توقف په تصور برسمه په معنى ثاني (مصَحِّحُ لدخول الفاء) سره کيدے شي او توقف بالمعنى الاول د لولاهٔ لامتنع) صرف تصوُّر بوجهٍ مّا باندے کيدے شي، ځکه چه د شروع فى العلم نه مراد د شروع مطلقًا وي، او که شروع على وجه البصيرة وي، جواب، د شروع فى العلم په وخت کښ د علم حد (يعني تصور العلم بحدّه) محال ځکه دے چه د علم حقيقت او حد جمله مسائل او معلومات دي، نو د جمله مسائلو د حل کيدو نه مخکښ د علم حقيقت او حد حاصلول غير ممکن شو دے وجے نه په ابتداء د علم

کبن تعریف په حد سره نشی کوَلے بلکه په رسم سره کولے شِی، نو شروع فی العلم علیٰ وجهِ البصیرة توقف په تصور برسیمه باندے دے دقیلے دلولاهٔ لا متنع ئخنه درست شو،

قوله، وقف علیٰ جمیع مسائله الخ سوال: صرف په تصور برسیمه سره علم په ټولو مسائلو بالفعل حاصلیدے نهٔ شِی؟ جواب: دلته د وقوف نه مراد وقوف بالفعل نهٔ دے بلکه د دے نه مراد تمکن او استعداد دے په دے شان سره چه د تصور برسیمه د حاصلیدو نه روسته دهٔ ته یوه ملکه او قوت حاصلیږی چه هغه سره دے د مسائلو د علم امتیاز کولے شی، مثلاً یو سړے د علم نحو تصور په داسے طریقه سره اوکړی چه د اے احوال زده کړی چه په هغے سره کلمات ثلاثه (اسم، فعل، حرف) آخر د حیث د معرب و مبنی ورته معلوم شی، نو دهٔ ذهن ته یوه قاعده راځی چه کومه مسئله د علمِ نحووی نو هغه د معرب او مبنی کید و دپاره به په کښ دخل وی، دے نه روستو چه کومه مسئله دده مخې ته راشِی نو دهٔ ته معلو میږی چه دا مسئله د علم نحو ده، او د دے دلیل مقد مات په داسے طریقه سره مرتب کولے شِی (صغری) هذه المسئلة لها دخلٌ فی معرفتها من حیث الاعراب و البناء (کبریٰ) وکل ما هٰذا شانهٔ فهی مسئلةٌ لعلمِ النحو (نتیجه) فهٰذهِ المسئلةُ لعلمِ النحو. هم دغه شان که د علمِ منطق تصور برسیمه په داسے طریقے سره حاصل شِی دا منطق یوه داسے قانونی آله ده چه د هغه په رعایت سره ذهن د خطاء فکری ئخنه محفوظ کرځی، نو د دهٔ ذهن ته یوه قاعده راځی چه د منطق سره یوه مسئله د ذهن د خطاءِ فکری ئخنه محفوظ کید و دپاره دخل لری او د دے قاعدے کلی په وجه دَے په دِے خبره قادریږی چه کله هم څهٔ مسئله د منطق دده مخې ته راشی نو دے ته دا معلومیدے شی، چه دا مسئله د علم منطق سره مربوط ده، پس خلاصه د جواب دا شوه چه دهٔ ته اګر چه په ټولو مسائلو باندے توقف بالفعل حاصل نه دے لیکن بالقوة د په ټولو مسائلو باندِی یو قسم پوهیږی، یعنی په دهٔ کښ تمکن او استعداد پید اکیږی چه دے استعداد سره د ټولو مسائلو اجمالی علم دهٔ ته حاصلیږی،



وَاَمَّا عَلیٰ بَیَانِ الْحَاجَةِ اِلَیْهِ فَلِاَنَّهٗ لَوْلَمْ یَعْلَمْ غَایَةَ الْعِلْمِ لَکَانَ طَلَبُهٗ عَبَثًا وَاَمَّا عَلیٰ مَوْضُوْعِهٖ فَلِاَنَّ تَمَایُزَ الْعُلُوْمِ بِحَسَبِ تَمَایُزِ الْمَوْضُوْعَاتِ فَاِنَّ عِلْمَ الْفِقْهِ مَثَلًا اِنَّمَا یَمْتَازُ عَنْ عِلْمِ اُصُوْلِ الْفِقْهِ بِمَوْضُوْعِهٖ لِاَنَّ عِلْمَ الْفِقْهِ یُبْحَثُ فِیْهِ عَنْ اَحْوَالِ الْمُکَلَّفِیْنَ مِنْ حَیْثُ اَنَّهَا تَحِلُّ وَتَحْرُمُ وَتَصِحُّ وَتَفْسُدُ، وَعِلْمَ اُصُوْلِ الْفِقْهِ یُبْحَثُ فِیْهِ عَنِ الْاَدِلَّةِ السَّمْعِیَّةِ، مِنْ حَیْثُ اَنَّهَا تُسْتَنْبَطُ مِنْهَا الْاَحْکَامُ الشَّرْعِیَّةُ فَلَمَّا کَانَ لِهٰذَا مَوْضُوْعٌ وَلِذَالِکَ مَوْضُوْعٌ صَارَا عِلْمَیْنِ مُتَمَایِزَیْنِ مُنْفَرِدًا کُلٌّ مِنْهُمَا عَنِ الْاٰخَرِ فَلَوْلَمْ یَعْرِفِ الشَّارِعُ فِی الْعِلْمِ اَنَّ مَوْضُوْعَهٗ اَیُّ شَیْئٍ هُوَ لَمْ یَتَمَیَّزِ الْعِلْمَ الْمَطْلُوْبَ عِنْدَهٗ وَلَمْ یَکُنْ لَهٗ فِیْ طَلَبِهٖ بَصِیْرَةٌ،

**ترجمه**:- او د "شروع فی العلم" د منطق د بیان د ضرورت باندے موقوف ځکه دے، چه که دا شارع د علم غرض او غایه او نهٔ پیژنی، نو دده طلب کول لغو او فضول کیږی، او د "شروع فی العلم" د منطق موضوع باندے موقوف دے ځکه چه د علومو خپلو مینځو کښ امتیاز او فرق په اعتبار د تمائز او فرق د موضوعات سره کیدے شِی، لکه مثال په توګه د علم الفقه فرق د علمِ اصول فقه ئخنه په اعتبار د فرق د موضوع سره کیدائے شی په دے شان سره چه په علم فقه کښ د افعال مکلفین (عاقل بالغ) نه بحث کیږی په دے شان سره چه دا حلال دے که حرام فاسد دے که صحیح، او په اصول فقه کښ د د لائل شرعیه نقلیهٔ ئخنه بحث کیږی د دے حیثیت نه چه احکام شرعیه فرعیه دد ے (دلائلو) ئخنه ایستل کیږی، پس هر کله چه د دے اصول فقه لپاره یو موضوع شو، او د دے علمِ فقه لپاره بل موضوع شو نو دواړه علمین خپلو مینځو کښ یو د بل نه ممتاز او جدا شول، او که شروع کوُنکی دا معلوم نکړی، چه د دے علم موضوع څهٔ شئ دَے، نو دده مخې ته چه کوم علم مطلوب دے هغه به د نورو علومو ئخنه ممتاز او جدا نشی او نه به دده لپاره د دے علم په طلب کښ بصیرت او بینائی وی،

**توضیح اللغات**[۳]:- (۱) غایة په لغت کښ، شریکیدل ته رسیدل، او مقصد ته وائی، او په اصطلاح کښ دده مختلف تعریفونه شوی دی، (۱) الفائدة

Maktaba Tul Ishaat.com

المقصودة من الشئ سره (۲) ما لاجله وجود الشئ (۳) ما لاجله اقدام
الفاعل على فعلِه (۴) ما يتأدى اليه الفعل وغيرذالك (۲) عبث "كه د (ض)
باب نه شي بيا په معنى د لوبي كول، او د اِيجه عمل كول، چه د هغه څه فائده
نهٔ وي، وفي التنزيل افحسبتم انما خلقنٰكم عبثاً" او په اصطلاح كښ ارتكاب
امر غير معلوم الفائدة، وقيل ماليس فيه غرضٌ صحيح لفاعله، كذا في التعريفات
(۳) تمايز، مجرد ئے د مَازيميز (ض) باب نه په معنى د جدا كول لرے كول
سره راځي، عرب وائي مازفلان الاذى عن الطريق، وفي التنزيل وامتازوا
اليوم ايها المجرمون، (۴) الفقه، د (س) نه په معنى د فهم او د پوهي سره
سره راځي، او د (ك) نه فقيه كيدل، او په اصطلاح كښ مختلف تعريفونه
شوي دي (۱) معرفة النفس مالها وما عليها (۲) العلم بالاحكام الشرعية
العمليه من ادلتها التفصيليّة (۳) الاصابة والوقوف على المعنى الخفي الذي
يتعلق بهِ الحكم (۵) مكلف، تكليف په لغت كښ مشقت برداشت كولو ته وائي
او په اصطلاح كښ لازم ديو كار دے په هغه چا باندے چه استطاعت
او طاقت د دے لري لكه عاقل بالغ (۶) تحِلُّ: د (ض) نه په لغت كښ مباح او
روا والي ته وائي، وفي التنزيل "فان طلقها فلا تحِلّ له من بعد" او په اصطلاح
كښ حلال عبارت دے (۱) د ما اطلق الشرع فعلهٗ نه (۲) ما اباحهٗ الكتاب
والسنة بسبب جائز مباح نه (۳) ماانقطع عنهٗ حق الغير (۷) تحرم - د (ض
ك) نه په لغت كښ منع والي ته وائي او په اصطلاح كښ ما امتنع الشرع
فعلهٗ ته وائي او دا ضد د حلال دے (۸) تصِحُّ د (ض) نه په معنى
د محفوظ كيدل د هر عيب او ريب نه، او په اصطلاح كښ كون الفعلِ
مسقطًا للقضاء في العبادات، او سببًا لترتّبِ ثمرتهِ المطلوبةِ منهُ عليه شرعًا
في المعاملات، كه صحت په عباداتو كښ راشي نو په معنى د كيدو د فعل
ساقطونكے د باره د قضا راځي، او كه په معاملاتو كښ راشي نو بيا په معنى د ترتب
د ثمرهٔ (فائده) مطلوبي سره راځي او د بعضو حضراتو لكه (شوافعو) دا مسلك
دے چه كه صحت په عباداتو راشي او كه په معاملاتو كښ نو هيڅ فرق
نشته، او دَ صحت او دَ جواز ترمينځ بعض وائي، چه ترادف دے چه هر
صحيح جائز دے او هر جائز صحيح دے، ليكن حقه خبره دا ده چه د دې
دواړو ترمينځ نسبت د عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه



هر صحيح جائز وي او هر جائز صحيح نهٔ وي، لكه په ارض مغصوبه
مونځ كول جائز دي ليكن صحيح نه دي (۹) تَفْسُدُ: د (ن) نه په معنى د
خراب والي هلاكت بدبوئي او نقصان سره راځي او په اصطلاح كښ عبادات
دے د عَدَمُ استيفاء الشروط " نه په نيز د شوافعو او مالكيو او حنابلو
فساد او بطلان لفظين مترادفين دي هم فساد په عباداتو او هم په معاملاتو
كښ فرق نشته، او احناف "كثرالله سوادهم" مسلك دا دے چه فساد او بطلان
كه عباداتو كښ راشي بيا خو فرق په مينځ د دوئي كښ نشته څكه چه د فساد
معنى كولے شي " خروج العبادة عن كونها عبادةً بسبب فوات بعض الفرائضِ
او دا معنى د بطلان هم ده، او كه دا دواړه لفظونه په معاملاتو كښ استعمال
شي بيا كښ ضرور فرق كولے شي په دې شان سره چه د فاسد معنى كولے شي چه المشروع اصلهٗ لا وصفًا
ويفيد الملك قبضًا يعني په اعتبار د ذات صحيح وي، او په اعتبار د بعض اوصافو
خارجو سره فاسد وي، او د بيع باطل معنى كولے شي ما لايكون مشروعًا
اصلًا ولا وصفًا ولا يفيد الملك قبضًا، يعني په اعتبار د ذات او وصف خارجي
په هر لحاظ سره ناروا وي (۱۰) ادلة د (ن) نه په معنى د ښودلو سره
راځي، او په اصطلاح كښ الذي يلزم من العلم به العلمُ بشئٍ آخر، وقيل مايمكن
التوصل بصحيح النظر فيه الى مطلوب خبري (۱۱) تستنبط: استنباط په لغت
كښ اخراج الماء (او به راويستلو ته وائي) او په اصطلاح كښ استخراج المعاني من
النصوصِ بفرط الذهن وقوة القريحة ته وائي (۱۲) الاحكام: جمع د حكم ده
د (ن) نه په معنى د فيصله (قضا) سره او په اصطلاح كښ ئے مختلف
تعريفونه شوي دي (۱) خطاب الله تعالى المتعلق بافعال المكلفين بالاقتضاءِ
او التخيير (۲) ماثبت بالخطاب كالوجوب والحرمةِ، او په لفظ د حكم كښ
پوره وضاحت به روسته راځي ان شاء الله (۱۳) الشرعيه: شرع په لغت
كښ د (ف) نه په مختلفو معانو سره راځي (۱) قربت (نزديكت) دين، لاره
او مورد الابل على الماءِ الجاري، او په اصطلاح كښ ما كان مستفادًا من
الشارع بان اُخِذَ من القرآن او السنّةِ وقد يطلق مجازًا على ماكان في كلام
الفقهاء،

**تشريح**:- **قوله**، واما على بيان الحاجة الخ غرض د شارح
رحمه الله په دے عبارت سره بيان د دے خبرے دے چه بيان

.................... الحاجة ولې موقوف علیه دے پس پوهه شه چه شروع في العلم دپاره دا هم ضروري دي چه د دے علم څه ناڅه فائده تصور اوکړے شي ځکه چه شروع في العلم یو فعل اختیاري دے او هر فعل اختیاري د صدور نه مخکښ د دے خبرے تصورکول ضروري دي چه په دے کښ څه ناڅه فوائد شته ولې کچرته د دے عمل مقصد او فائده نه وي نو دا کار فضول او عبث کرځي، «فالتالي باطلٌ وَالمقدَّمُ مثلُهٗ» وجه د بطلان د تالي داده چه عبث وائي، الفعل الخالي عن الفائدةِ «نه نوکوم شئ چه خالي وي د فائده نه هغه ممنوع وي له دے وجه نه قال علیه السَّلام العبث حرامٌ، نو بنا په دغه اساس شروع په عِلمِ منطق کښ حرام شو، حالانکه خبره داسے نهٔ ده، بلکه په نیز د بعضو علم منطق واجب دے، ځکه چه معرفت د ذات او د صفاتو د واجب تعالیٰ په مونږ باندے واجب دے او دا نهٔ حاصلیږي مګر په دلیل باندے، او دلیل من حیث الصِّحَّةِ و الفساد موقوف ده په علم منطق پورے، نو علمِ منطق زده کول واجب شو لانَّ مقدّمة الواجبِ واجبٌ پس په علم منطق کښ هر شروع کوونکے دپاره دا ضروري دي چه د منطق اهمیت او د دے نافعیت ضرور ذهن کښ مخکښ مستحضر کړي ترڅو چه پوره په بصیرة کامله سره تحصیل د علم منطق کښ مشغول وي، سوال: والغرض عطف دے په غایة العلم باندے او عطف تقاضا د مغائرت کوي او دلته خو مغائرت موجود نهٔ دے، جواب غرض او غایه لفظین مترادفین دي فرق پکښ نشته پس عطف د الغرض په غایة العلم باندے عطف تفسیري دَے، جواب ۲: د غایة او غرض په مابین کښ نسبت د عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه غرض هغه مصلحت (فائده) ته وائي چه مرتبه وي په فعل باندے د دے حیثیت نه فاعل اقدام هم د دے فعل لپاره دَے او غایه هغه مصلحت ته وائي، چه مرتبه وي په فعل باندے، خواه که اقدام د فاعل د دے فعل لپاره وي او که نه مثال په طور یو سړے زمکه یعني کوهی کَنِئ، د دے دپاره چه او به راوځي، او د دغه فعل سره او به راوځي نو دا او به راوتل غرض دے، او که دا او بو په ځائے څهٔ معدنیات راوتل یا او به راوتل نو دا غایه شوه، نو غرض اخص مطلق شو او غایه اعم مطلق شو نو عطف



دالغرض په غایة العلم باندے عطف د خاص شو په عام باندے، جواب ۳:- غرض عبارت دے له هغه امر نه چه باعث وي په فاعل باندے په ایجاد د فعل کښ برابره خبره ده، که دا امر فائده مرتبه علی الفعل وي او که نه وي، او غایه عبارت دے د هغه امر نه چه دا امر په فائده مرتبه وي په فعل باندے برابره خبره ده که باعث وي په فاعل باندے په ایجاد د فعل کښ او که نهٔ وي، نو د دوئ دواړو په مابین کښ نسبت د عموم خصوص من وجهٍ ده، او دا د رے مادے غواړي (۱) مادهٔ اجتماعیه، چه دا فائده مرتبه هم وي په فعل باندے او باعث هم وي په فاعل باندے په ایجاد د فعل کښ او غایه هم ده ځکه چه دا مرتبه ده په فعل باندے، او مادهٔ افتراقیه د جانب د غرض نه هغه امر چه باعث وي په فعل باندے په ایجاد د فعل کښ، او فائده مرتبه نهٔ وي په فعل باندے، او مادهٔ افتراقیه د جانب د غایه نه هغه فائده چه مرتبه وي په فعل باندے او باعث نهٔ وي په فاعل باندے په ایجاد د فعل کښ، نو دا عطف یا عطف د خاص شو په عام باندے او یا عطف تفسیري شو، د لته شارح یا صرف غایه ذکر کړے او یا صرف غرض، مقصود به هم حاصل شوے وے او اختصار به هم راغلے وے، جواب ۱: شارح دواړه راوړل د زیادت وضاحت د وجے نه، جواب ۲: مشهور او متداول په ژبو د منطقیانو کښ غایه ده نو د دے وجه نه سے غایه ذکر کړه بیا هر کله چه د لته مقصود غرض وو، نو غرض ئے ورپسے ذکر کړ چه دواړو خبرو ته اشاره اوشي، پس په مابین د غایه او غرض کښ اتحاد ذاتي او فرق اعتباري شو، که نسبت ئے فعل ته شوے وي نو دا غایه شو او که نسبت ئے فاعل ته شوے وي نو دا غرض شو، او اطلاق د احد هما په ځائے د آخر کښ کیدائے شي،

قوله، واما علیٰ موضوعه الخ غرض د شارح په دے عبارت سره بیان د دے خبرے دے چه شروع في العلم لپاره معرفت د موضوع ولې موقوف علیه دے، پس پوهه شه لکه چه د رسم او بیان الحاجة (غرض) پشان د موضوع معرفت او وافقیت هم ضروري دے، ځکه چه علوم خپلو مینځو کښ په موضوعاتو سره یو د بل نه جدا او ممتاز کیدائے شي مثلاً د علمِ فقه موضوع دے، افعال المکلفین من انها تحل و تحرم الخ او علمِ اصول

Maktaba Tul Ishaat.com

فقه موضوع دہ الاَدِلَّةُ السَّمْعِيَّة من حيث انها تستنبط عنها الاحكام الشرعية
اوس ترخو چه مونږ د دواړو علمونو د موضوعاتو نه واقف نه شو نو مونږ ته د علمِ فقه او د اصول فقه فرق نه حاصليږی، همدغه شان صورت حال دے په نورو علومو کښ، پس شارع فی العلم که اول نه موضوع باندے واقف نشی نو ده ته به په تحصیل د علومو کښ بصیرت کامله حاصل نشی،
زده کړه دا خبره چه شارح رحمه الله موضوع موقوف علیه کیدو لپاره دلیل په طور د قیاس راوړے او دلیل که په نمط د قیاس استثنائی رفعی وی، او کله په نمط د قیاس استثنائی حملی وی و هو المراد ههنا، او بنا د قیاس صغری او کبری وی، او صغری او کبری دلته دواړه مطوی دی نو خلاصه د قیاس دا شوه چه الشروع علیٰ وجه البصیرة الکاملة موقوفٌ علی التصدیق بالموضوع لان البصیرة الکاملة موقوفة علیَ العلم بکمال الامتیاز، و العلم بکمال الامتیاز موقوف علی التصدیق بالموضوع، دلیل د صغری خو ظاهر دے او هرچه دلیل د کبری دے نو هغه شارح ذکر کړیدے په دے قول سره فلان تمایز العلوم الخ اوس په دلیل کبری د شارح باندے یو سوال وارد یږی خلاصه د سوال دا ده چه لازم د دے دلیل نه توقف د تمیز د علومو دے په اعتبار د نفس الامر په تمیز د موضوعاتو نه توقف د علم په امتیاز کامل په تصدیق بالموضوع پورے، او مراد د مونږ هم دغه ده ځکه چه دا کبری نظری ده نو کوم شی چه ثابت شو په دلیل سره هغه مراد نهٔ دے،
او کوم چه د مونږ مراد دۀ هغه ثابت نشو په دلیل سره نو تقریب غیر تام شو؟ جواب: خلاصه د سوال دا شوه چه مونږ منو چه دلیل دلالت کوی په دے خبره باندے چه تمیز د علومو په حسب د نفس الامر موقوف دے په تمیز د موضوعاتو لیکن هرکله چه علم حاصل شو په تمیز د علومو په نفس الامر کښ نو تمیز حاصل شو په اعتبار د علم نو علم په ممیز تا غیر په نفس الامر او علم په ممیز په نفس الامر کښ مستلزم دے علم لره په کمال امتیاز باندے او علم په ممیز خو موقوف دے، په تصدیق بالموضوع باندے نو علم په کمال امتیاز هم موقوف شو په تصدیق بالموضوع پورے ځکه چه قاعده دا ده، چه مستلزم المستلزم مستلزمٌ، پس مدعی ثابته شوه چه "العلم بکمالِ الامتیاز موقوفٌ علی التصدیق بالموضوع" سوال لازم دے د



دلیل نه پس د تسلیم څخه حصول د بصیرت،
العلم په امتیاز باندے دے او مدعی ز مونږ علم په کمالِ امتیاز ده، نو دلیل دِ بیا مطابق نشو د مدعی سره و ذالكَ ضروریٌ، جواب: کوم امتیاز چه حاصل شویدے په موضوع سره هغه کمال امتیاز دے او په دیکښ هیڅ شك نشته چه علم په ممیز کامل سره علم په کمالِ امتیاز حاصلیږی،
سوال: تمائز د علومو کله په غیر د موضوع نه هم حاصلیږی، لکه غایة او غرض سره کله تمائز د علومو راځی نو حصر د تمائز د علومو په تصدیق بالموضوع سره غیر صحیح شو؟ جواب مراد د مونږ ممیز سره ممیز ذاتی ده او ممیز ذاتی د علومو موضوع ده او غایة او غرض ممیز عرضی دی، ده سوال دا جواب هله صحیح کیدے شی چه موضوع ممیز ذاتی شی او یا ممیز ذاتی منحصر شی په موضوع کښ، او دلته دواړه په مقام د منع او د خفاء کښ دی یعنی دا خبره نده ثابته چه موضوع ممیز ذاتی ده، او همدغه شان دا هم نده ثابته چه ممیز ذاتی منحصر شی په موضوع کښ، جواب ۱: مونږ وایو چه انحصار د ممیز ذاتی کښ دا فعل د جاعل ده، او جاعل حصر د ممیز ذاتی کړیدے په موضوع کښ جواب ۲: مراد په ممیز ذاتی سره عام دے که حقیقةً وی او که په منزله د ممیز ذاتی وی، نو کوم تمیز چه حاصل دے په موضوع سره دا په منزله د ممیز ذاتی ده نهٔ حقیقی جواب (۳): مراد په ممیز ذاتی سره هغه ممیز ذاتی ده چه هغه معتبر او معتد به وی، او معتبر عند القوم په تدوین د علومو کښ تمیز د علومو دے په موضوع سره،
قوله فانَّ علمَ الفقه مثلاً الخ سوال (۱): مدعی دِ عامه او کلی ده، چه تمائز د علومو په اعتبار د تمائز د موضوعاتو سره راځی، او دلیل دِ خاص او جزئی ده، نو د مدعی او دلیل ترمینځ مطابقت رانغی، ناکت جواب طرف ته اشاره کړیده په دے قول سره، تصویر العلم الکلی فی الجزئی الخ خلاصه د جواب دا ده چه دا دلیل نه دے د مدعی د پاره بلکه دا تمثیل جزئی دے لپاره د وضاحت د امر کلی، او قرینه په دے خبره باندے دا قول د شارح دے چه "مثلاً"
سوال (۲): علوم خو ډیر دی شارح ولے تخصیص د علمِ فقه او د اصول فقه لوکړو جواب (۱): شارح دا په طور د مثال ذکر کړیدے، او ولا مناقشة فی المثال،
جواب (۲): هرکله چه د علمِ فقه او د اصول فقه ترمینځ شدة اختلاط او کثرت

مشابهت وؤ، او د دوئ په مابين کښ امتياز امرمشکل وؤ، او دا نه حاصليده مگر په موضوع سره، نو شارح حُکه خاص کړل په ذکر سره،

**فائده**[1]:- د علمِ اصول فقه ئې په موضوع کښ اختلاف دے بعض وائی چه موضوع[2] الادلة فقط دی، او بعض وائی چه الاحکام فقط دی، او جمهور[3] اصوليان وائی، چه الادلةُ والاحکام جميعًا، الاوّلُ من حيث انّه مثبِتٌ والثانی من حيث انه مثبَتٌ، او شارح هم د دغه غوره کړيده حيثُ قالَ "يبحث فيه عن الادلةِ الخ

**فائده**[2]:- موضوع د علم به خالی نه وی، يا به شئ واحد وی، او يا به اشياء کثيره وی، که شئ واحد وؤ نو يا به خالی نهٔ وی، يا به مطلق وی، لکه موضوع د علم حساب چه عدد دے، او يا به مقيد الجهة وی، لکه موضوع د علم طبعی شوه چه جسم دے د دے حيثيت نه چه قابل د تغير دے، او که اشياءِ کثيره وی، نو بيا به خالی نه وی، يا به متشارك په امر ذاتی کښ وی، لکه موضوع د علمِ هندسه، چه خط، سطح، او جسم تعليمی چه دا ټول په کميت او مقدار کښ مشترك دی، او يا به متشارك په امر عرضی کښ وی، لکه موضوع د اصول فقه، لکه کتاب[1] الله، سنة رسول[2] الله صلی الله عليه وسلم، اجماع[3] الامة او قياس[4] دی، چه دا ټول مشترك دی په موصل الی الاحکام کيدو کښ،

**وَلَمَّا كَانَ بَيَانُ الْحَاجَةِ اِلَى الْمَنْطِقِ يَنْسَاقُ اِلٰى مَعْرِفَتِهٖ بِرَسْمِهٖ اَوْرَدَهُمَا فِىْ بَحْثٍ وَّاحِدٍ وَّصَدَّرَ الْبَحْثَ بِتَقْسِيْمِ الْعِلْمِ اِلَى التَّصَوُّرِ فَقَطْ وَالتَّصْدِيْقِ لِتَوَقُّفِ بَيَانِ الْحَاجَةِ اِلَيْهِ عَلَيْهِ فَقَالَ الخ**

**ترجمه**:- او هر کله چه د حاجت الی المنطق بيان تعريف د منطق برسمه طرف ته چلولے شی، نو د دے وجه نه دواړه (تعريف برسمِ المنطق، او بيانُ الحاجة الی المنطق) په يو بحث کښ راوړل، او شروع د بحث ئے اوکړه په تقسيم د علم په تصور فقط او تصديق ته حُکه چه ضرورت الی المنطق بيان په دے تقسيم باندے موقوف دے،

**تشريح اللغات**[3]:- (۱) الحاجة: حاج يحوج د (ن) باب نه په معنیٰ د افتقار، او ضرورت سره (۲) ينساق: په اصل کښ ينسوقُ وؤ، واو متحرك ماقبل ئے مفتوح بدل شو په الف سره، سوق د (ن) باب نه بيان او ليږلو ته وائی



ومنه ساق الحديث وساق المهر الى المرأة اى بين الحديث من اوله الى آخره وارسل المهر الى المرأة۔

(۳) صدّر: صيغه د واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم ده د باب د تفعيل نه، يقال صدّر الفرس اى سبق غيره من الخيل، ومنه الصدر مقدّم كل شئ يقال صدر الكتاب وصدر النهار، وصدر القوم وغير ذالك مجرد ئې صدر (ن) نه په معنیٰ د واپس کيدل او اړولو سره

**تشريح**:- قوله ولما كان الخ غرض د شارح رحمه الله د دے عبارت سره تمهيد دی راتلونکی متن لپاره او دفع د يو اعتراض ده چې په ماتن رحمه الله باندې وارديږی، خلاصه د اعتراض دا ده چه مقدمه په بيان د دريے شيانو کې (۱) تعريف د منطق (۲) بيان الحاجة (۳) موضوع، او په دېکښې ټول پنځه احتمالات کيدی شی (۱) دا دريے واړه په بحث واحد کې ذکر کول (۲) هر يو د دی نه په بحث على حده کښ مستقل ذکر کول (۳) تعريف د منطق او بيان الحاجة غرض په يو بحث کښ ذکر کول او موضوع په بل بحث کښ ذکر کول (۴) تعريف د منطق، موضوع په يو بحث کښ ذکر کول او بيان الحاجة په بل بحث کښ ذکر کول۔ (۵) بيان الحاجة، او موضوع په يو بحث کښ ذکر کول، او تعريف په بل بحث کښ ذکر کول نو په ماتن باندی سوال دا وارديږی چه تا پنځه احتمالاتو کښ يو احتمال (دريم) منتخب کړو، چه تعريف المنطق او بيان الحاجة دی، په يو بحث کښ راوړل او موضوع د په بل بحث کښ راوړل "تلك اذًا قسمةٌ ضيزیٰ" شارح رحمه الله جواب ورکړيدی قول سره ولمّا كانَ الخ خلاصه د جواب داده چې بيان الحاجة مبنی او مشعر ده په تعريف باندی په دی شان سره چې حاجة الى المنطق نه منطق تعريف معلوميږی حُکه چې د منطق فائده او ددی غرض او غايه "صيانة الذهن عن الخطأ فى الفكر" دے (انسان ذهن په فکر کښ د غلط کيد و نه محفوظ ساتل) او دا د منطق خاصه ده، او د خاصه د منطق رسم هم دی حُکه چې رسم کښ هم خاصه وی نو ددی بيان الحاجة نه رسم د منطق معلوم شی هغه چه "آلةٌ قانونيةٌ تعصم مراعاتها الذهنَ عن الخطاءِ فى الفكر دی۔ پس هر کله چې يو بل سره مستلزم وؤ نو ماتن دواړه په بحث واحد کښ ذکر کړل، سوال: بيان الحاجة څرنگه مستلزم دی تعريف لره هم دغه شان مستلزم دی تصديق بالموضوع لره هم يعنی "ان المنطق علمٌ يبحث فيه عن احوال المعلومات التصوريّة والتصديقية من حيث الايصال۔ پس شارح په بيان الماهية، تعريف او بيان الحاجة (غرض) په يو بحث کښ راوړو دپاره کومه وجه بيان کړيده هغه غير تام او غير صحيح شوه، جواب: د لته د تعريف او بيان الحاجة د موضوع سره جمع کولو سبب بيان مقصود ندی بلکه تعريف او بيان الحاجة مستقل او جدا جدا بحث کښ نه ذکر کول، او موضوع په مستقل جدا جدا بحث کښ ذکر کول دی، او د دا سبب د تعريف د منطق او بيان الحاجة ترصيف کمال اتصال دی په دوئی کښې مروبه د اسی شی باندی مشتمل دی چه په هغه باندی اصل شروع موقوف ده يعنی تصور بوجه مّا او تصديق بفائدة مّا۔ نو د شارح ذکر کړی شوی وجه بغير د دوم اشکال نه تمام شوه جواب: مراد زمونږ په رسم د منطق سره رسم مخصوص دی "چه الةٌ قانونيةٌ" الخ ده نه رسمِ عام او دېکښې هيڅ شک نشته چې بيان الحاجة مستلزم ده تصور د علم په دی رسم مخصوص او تصديق بالموضوع مستلزم د تصور د علم په رسم مخصوص بلکه په رسم آخر سره ده۔ قولهٗ وصدّر البحث الخ غرض د شارح په دی عبارت سره هم جواب د سوال مقدر دی، خلاصه د سوال دا ده چه مقصود د لته بيان د اجزاء

دمقدمې نه چه عبارت دی د تعریف، غرض او موضوع څخه نو ماتن رح له پکار دا چه په دې دری واړو کښې پوره بحث کړی ولی دی. حالانکه ماتن رح دلته تقسیم الی التصور والتصدیق بحث کښې شروع کړو کړه دا نه یو راځی دا چه خروج عن البحث راغی بلکه اشتغال بما لا یعنی راغلو؛ شارح رح جواب وکړو، خلاصه د جواب دا ده چه اصل مقصود نو مونږ دلته بیان ضرورت او حاجة الی المنطق دی او دا بیان الحاجة الی المنطق موقوف دی په تقسیم د علم باندې ځکه چې حاجة الی المنطق موقوف دی په تقسیم د علم باندې ځکه چې حاجة الی المنطق ثبوت لپاره دری مقدمات ضروری دی - اول تقسیم د علم تصور او تصدیق ته دوهم بعض تصورات او تصدیقات بدیهی کیدل او بعضی نظری کیدل دریم په فکر او نظر کښې په بعضو اوقاتو کښې خطا ئی راځی نو لا بدی ده دیو قانون نه چه د هغه قانون رعایت وکړی شی نو بیا به خطا ئی نه واقع کیږی او هغه قانون نه دی مګر منطق نو ماتن رح حاجة الی المنطق د پوره وضاحت په خاطر شروع ئی وکړه په تقسیم د علم کښې تصور او تصدیق ته فالبحث عن متعلق الشئ بحث عن ذالك الشئ،

سوال - بیان الحاجة الی المنطق لکه څرنګه چه موقوف دی په دری مقدمه پورې چه تقسیم د علم دی تصور او تصدیق ته همدغه شان موقوف دی په نورو مقدمو پورې او دینه څو تقدیم د دی مقدمې (چه تقسیم د علم دی تصور او تصدیق ته) نه لازمیږی په نورو مقدمو باندې او وستا د کلام نه تقدیم د دی مقدمې معلومیږی په نورو مقدمو باندې. جواب ضمیر د علیه دا جمع دی تقدیر ته چه په ضمن د صدر کښې موجود وه د اعدلوا هو اقرب للتقوی د قبیلې نه) نو معنی شو بیان الحاجة الی المنطق دی تصدیر پورې او تصدیر د ټولو مقدمو اعلی دی باقی تقدیم د د مقدمې په نورو باندې ځکه راغلی دی چه موقوف علیها ده د نورو مقدمو لپاره او موقوف علیه مقدم وی په موقوف باندې - جواب - ضمیر د علیه راجع دی تقسیم ته او صدر متضمن دی معنی د ذکر لره - نو تقدیر د عبارت داسې شو چه وذکر فی صدر البحث الاول تقسیم العلم الی التصور والتصدیق: سوال - د بیان الحاجة ثابتولو کښې داولی مقدمې د پاره چه تقسیم د علم دی تصور او تصدیق ته هیڅ ضرورت نشته، بلکه بیان الحاجة موقوف دی په دوو نورو مقدمو باندې پس ماتن له پکار وو چې د اول نه ئی د علم تقسیم کړی وی دوو قسمو ته چه بدیهی او نظری دی، جواب علامه میر سید شریف رحمة الله جواب داسې کړیدی چه دلته د منطق دوه قسمونه، موصل الی التصور المجهول او موصل الی التصدیق المجهول طرف ته ثابتول مقصود دی او دا هله کیدی شی چه اول د علم تقسیم او کړیشی تصور او تصدیق ته بیا د هر یو که بدیهی او نظری ته تقسیم او کړی شی بیا بیا په نظر کښې کله کله غلطی واقع کیږی نو قانون ته ضرورت راځی.

فَقَالَ اَلْعِلْمُ اِمَّا تَصَوُّرٌ فَقَطْ وَهُوَ حُصُوْلُ صُوْرَةِ الشَّئِ فِی الْعَقْلِ اَوْ تَصَوُّرٌ مَعَهٗ حُکْمٌ وَهُوَ اِسْنَادُ اَمْرٍ اِلٰی آخَرَ اِیْجَابًا اَوْ سَلْبًا وَیُقَالُ لِلْمَجْمُوْعِ تَصْدِیْقٌ، اَقُوْلُ - اَلْعِلْمُ اِمَّا تَصَوُّرٌ فَقَطْ اَیْ تَصَوُّرٌ لَا حُکْمَ مَعَهٗ. وَیُقَالُ لَهُ التَّصَوُّرُ السَّاذَجُ کَتَصَوُّرِنَا الْاِنْسَانَ مِنْ غَیْرِ حُکْمٍ عَلَیْهِ بِنَفْیٍ اَوْ اِثْبَاتٍ، وَاِمَّا تَصَوُّرٌ مَعَهٗ حُکْمٌ وَیُقَالُ لِلْمَجْمُوْعِ تَصْدِیْقٌ کَمَا اِذَا تَصَوَّرْنَا الْاِنْسَانَ وَحَکَمْنَا عَلَیْهِ بِاَنَّهٗ کَاتِبٌ اَوْ لَیْسَ بِکَاتِبٍ.



**ترجمه:-** پس (ماتن) اوویل چه علم په دوه قسمه دے، یا به تصور فقط وی، او دا حاصلیدل د صورت (شکل) دیو شی د ے په عقل کښې، او یا به تصور سره د حکم نه وی، او دا حکم نسبت کول د یو امر دے (چه محمول دے مثلاً) بل امر ته (چه موضوع دے مثلاً، په لحاظ د ثبت والے سره یا په لحاظ د نفی والی سره او دے مجموعے ته تصدیق ویلے شی، زه (شارح) وایم چه علم یا تصور فقط دے یعنی دا سے تصور چه په هغې کښې څه قسم حکم نه وی او دے ته تصور ساذج (ساده) ویلے شی لکه څرنګه مونږ په انسان باندے تصور کول بغیر د حکم کولو نه په دے باندے په اثبات او نفی سره او یا علم داسے دے چه ورسره حکم وی او دے مجموعے ته تصدیق ویلے شی، لکه چه کله مونږ د انسان تصور وکړو، او په ده باندے د لیکونکی او یا نه لیکونکی حکم وکړو،

**توضیح اللغات:-** (۱) فقط، د اکثر په معنی د فحسب سره راځی او داعام طور د عدد سره مقترن کیږی، چه په معنی د لا غیر سره راځی، بو مه شه چه لفظ د قط د پاره درے حالاته دی (۱) قط د ا ظرف زمان دے د استغراق د ماضی لپاره راځی، او دا مختص دے په نفی پورے یقال ما فعلت هذا قط، اے فیما مضیٰ وانقطع (۲) قط، په معنی د حسب سره اے کاف، او دغه حالت کښې اکثر په فاء سره استعمالیږی او بغیر د فاء نه هم کم استعمالیږی، یقال اخذتُ درهمًا فقط، (۳) کله دا اسم فعل وی په معنی د یکفی سره، بیا اکثر نون و قایه سره مستعملیږی کله چه یاء د متکلم ته نسبت اوشی، یقال قطنی اے کفانی و قطك اے کفاك کذا فی المعجم،

(۲) عقل د (ض، س) نه په لغت کښې ادراك او پوهیدو ته وائی، او په اصطلاح کښې د عقل مختلف تعریفونه شوی دی (۱) ما یقابل الغریزة التی لا اختیار لها (۲) مایکون به التفکیر والاستدلال وترکیب التصورات والتصدیقات، (۳) ما به یتمیز الحسن من القبیح والخیر من الشر، (۴) جوهر مجرد یدرك الغائبات بالوسائط والمحسوسات بالمشاهدة، (۵) العقل جوهر مضیئ خلقه الله فی الدماغ وجعل نوره فی القلب، (۶) ما ینجی صاحبه من ملامة الدنیا وندامة العقبیٰ (۷) حیوة الروح، والروح حیوة الجسد (۸) قال علیه السلام العقل نور فی القلب یفرق بین الحق والباطل،

وقال علیه السّلام اوّل ما خلق الله تعالی العقل، ومن اراد التفصیل فلیرجع الی کشاف اصطلاحات الفنون ص ۱۹۴/۲۲۰ (۳) ساذج " دا اصلاً د فارسی لفظ دے چه معرب دے د ساده نه، الساذج الخالص غیر مشوب بالغیر، والمراد هٰهنا العراء عن الحکم اوالساذج الخالی عن القید،

تشریح:- قوله، العلم اما الخ مصنف رحمهٗ الله بیان الحاجة الی المنطق ثابت کړیدے په مقدماتو ثلاثو سره، نو غرض د مصنف رحمه الله به دے عبارت سره بیان داولی مقدمے دے د مقدماتو ثلاثو نه چه هغه تقسیم د علم دے تصور او تصدیق ته،

## "احسن الکلم فی توضیح لفظ العلم"

زده کړه دا خبره چه علم په لغت کښ دانستن ته وائی او په اصطلاح کښ د علم باره کښ اختلاف عظیم واقع شویدے په دے شان سره چه علم بدیهی دے او که نظری دے، امام فخرالدین رازی او د هغه متبعینو قول دا دے چه علم بدیهی دے واختارهٗ صاحب السلم حیث قال والحقّ انّهٗ مِنْ اجلیٰ البدیهیاتِ" او د دے حضراتو دلیل دا دے، چه وضاحت د هر شئ په غیر د علم نه موقوف دے په علم باندے، او س که علم نظری شی نو وضاحت ددهٔ به موقوف شی په غیر باندے، نو لازم به شی تسلسل یا خلاف مفروض، اویا تحقق د ما بهِ العرض بدون ما بالذات نه لکن تالی په ټولو شقوقو سره باطل دے نو مقدم به هم مثل شو، وجه د ملازمے داده، چه که وضاحت د علم د غیر نه وائی، نو هغه غیر به خالی نه وائی، یا به بے منکشف بنفسه وائی، اویا به بے منکشف په امر اخر سره وائی، اویا به بے منکشف واپس هم په دے علم سره وائی، که منکشف بنفسه بے وائی، نو خلاف المفروض راغے ځکه چه علم په حقیقت کښ هغه غیر شو، او که وضاحت د هغه غیر دوجه د شئ آخر نه وائی، نو د وضاحت د شئ آخر به خالی نه وائی، و هٰکذا نو تسلسل راغے، او که انکشاف د هغه واپس په دے علم سره وائی، نو لازم به شی دور او تحقق د ما بالعرض بدون د ما بالذات ځکه چه علم وائی چه په ما کښ وضاحت نشته ما دا وضاحت د غیر نه راوړے دے، او هغه غیر وائی او هغه غیر وائی چه په ما کښ وضاحت نشته، ما دا وضاحت د علم نه راوړے دے نو



د حقیقت په دواړو کښ وضاحت نشته، سوال علم د موقوفٌ علیه شئ د باره د وضاحت د غیر او په اعتبار د مصداق سره او بیا موقوف د شئ په اعتبار د مفهوم نو دور رانغے ځکه چه جهت د توقف بدل شو؟ جواب دا هله ممکن وُو چه د امام رازی رحمه الله په بداهت د علم باندے په اعتبار د مفهوم سره قول کړیدے لیکن امام رازی چه علم ته بدیهی وائی نو په اعتبار د مصداق ئے وائی، نو موقوف علیه هم مصداق شو او موقوف هم مصداق شو،

(۲) امام غزالی رحمه الله او امام حرمین او د دوئی د متبعینو قول دا دے چه علم نظری متعسر التحدید دے، نظری خو ځکه دے چه په دے کښ اختلاف د دے په دے شان سره چه ډیر اشیاء چه محسوس هم دی او مرغوب النفس هم دی د دے نه چه حقیقت د هغوئ مونږ ته معلوم نهٔ دے، لکه خوشبوئی د مشک شو نو پس حقیقة د علم به څرنګ معلوم شی سره د کون دده نه غیر محسوس بنی معقول، او متعسر التحدید ځکه دے چه تحدید حقیقی کیږی په جوهر د ذاتیاتو سره چه جنس او فصل دی، او حال دا دے چه ذاتیات د هر حقیقت معلوم نهٔ دی ځکه چه جنس شریك دے د عرض عام سره په عموم کښ او فصل شریك دے د خاصے سره په خصوص کښ والفرق بینهما من الغوامض

سوال: نه منم دا خبره چه د تحدید د باره اشیاء متعسر دی ځکه چه دا واقع دی لکه د انسان د باره چه خلق تحدید کوی په حیوان ناطق سره، او حیوان او ناطق جنس او فصل دی د باره د انسان، او ماشی او ضاحك عرض عام او خاصه دی، جواب، مراد څمونږ په تعسر سره تعسر د تحدید حقیقی دے نه تحدید توسیعی او اصطلاحی، او دا کوم چه واقع دے دا تعسر تحدید توسیعی او اصطلاحی او عرفی دے نهٔ حقیقی، سوال: هرکله چه تحدید د علم متعسر اګرځیده) شو نو دا خو مجهول مطلق شو، پس تقسیم د علم تصور او تصدیق ته دا تقسیم د مجهول مطلق شو، او دا باطله دهٔ، جواب، مونږ تشریح او وضاحت د شئ راوړلو په تمثیل او په تقسیم د شئ آخر سره، یعنی مثلاً مونږ کیف منقسم کوؤ مبدأ الانکشاف او غیر ته، یعنے داسے وایو چه کیف په دوه قسمه دے (۱) چه مبدأ الانکشاف وی (۲) چه مبدأ الانکشاف نهٔ وی، نو کوم چه مبدأ الانکشاف دے، هغه علم دے او کوم چه مبدأ الانکشاف نه دے نو هغه علم نه دے، نو د دے تقسیم د کیف نه معلومه

Maktaba Tul Ishaat.com

شوه، چه علم هغه شئ دے چه هغه مبدأ د پاره د انکشاف د سے او يا
مونږ معلوموو د تعريف په تقسيم د اعتقاد سره جازم او غير جازم او مطابق
او غير مطابق ته او ثابت او غير ثابت وته نو معلومه شوه چه علم اعتقاد
جازمه ثابته راسخه مطابقه للواقع دے،
سوال، د ا تقسيم د علم بيښه تحديد د علم شو، او تا خو وئيلي وو چه متعسر التحديد
دے، جواب، د ا تحديد تو سمي اصطلاحي او رسمي دے نهٔ حقيقي، او مراد
خمونږ په قسم د تحديد سره تحديد حقيقي دے، او مذهب[٣] د جمهورو
حضراتو دا دے، چه علم نظري ممكن التحديد دے، نظري خو ځکه دے
چه په دے کښ اختلاف واقع شويدے په دے شان سره چه بعضو وئيلي
دي، چه د ا علم د مقولے د کيف نه دے[٢]، او بعضو وئيلي چه د ا د مقولے د
اضافت نه دے، او بعضو وئيلي دي چه د ا د مقولے د انفعال نه دے، او
اختلاف په شي خفي کښ کيږي، او خفي نه وي مګر نظري وي، او بل دوجهد
وقوع د تعريفاتو نه د لره په دے شان سره چه د علم مختلف تعريفات
شويدي (کما ستاتي) او تعريفات کيږي د پاره د نظري، او ممكن التحديد
(ميسر التعريف) ځکه دے چه علم د مقولے د کيف نه دے او يا د اضافت
او يا د انفعال نه، نو بهر صورت لاندے د مقولے شو، او مقولات ماتحت
د پاره اجناس دي نو علم لره جنس راغے، وكلُّ ما لهٗ جنسٌ فلهٗ فصلٌ، وكل
ما لهٗ جنسٌ وفصلٌ فله حدٌ، او څوک چه علم ممكن التحديد واني، نو
هغوئ نه د علم مختلف تعريفونه نقل شويدي، صاحب د مرقات[٥] پنځه
تعريفونه ذکر کړيدي، او صاحب د کشف الظنون پنځه لس[١٥] تعريفونه ذکر
کړيدي، مونږ هم د لته يو څو تعريفونه ذکر کوو (١) العلم حصول صورة
الشئ في العقل. قوت ادراکيه کوم چه د انتقاش د اشياء د پاره وي، لکه اينې
(شيشه) په انسان کښ د هغه يو امانت او وديعت دے، او عقلاء د دے نه په
عقل او يا په ذهن سره تعبير کوي، او په دے کښ د شي معلوم صورت
حاصيدلو ته علم وئيلے شي، برابره خبره ده که د ا شي کلي وي او که جزئي
وي، موجود وي او که معدوم وي، دا د مطلق علم مشهور تعريف دے کوم
چه د دے متعلق ابن صدر الدين واني چه دا محققينو حکماؤ په نيزا صح
الحدود دے، مير باقر داماد صاحب د ((الافق المبين)) هم دا تعريف غوره



کړيدے، او مصنف رحمهٔ الله هم دا تعريف غوره کړيدے او په دے قول
باندے علم د مقولے د کيف نه شو (وفيه كلامٌ لا يسعهٗ المقام) (٢) الصورة
الحاصلة من الشئ عند العقل (٣) الحاضر عند المدرك (٤) نور قائمٌ لذاته
واجبٌ لذاته لا يدخل تحت مقولة، (٥) قبول النفس لتلك الصورة، (٦) العلم
هو صفة بسيطة ذات اضافةٍ بالمدرك عليها مدار الامتياز واختاره الماتريدية
(٧) العلم هو الذي يوجبُ كونُ من قام به عالمًا، واختاره الاشعرية (٨) العلم
اعتقاد جازمٌ مطابق لموجَب، واختاره الرازي رحمهٗ الله (٩) العلم هو صفة
توجبُ لمحلها تميزًا بين المعاني لا يحتمل النقيض واختاره المتكلمون، (١٠) الاضافة
الحاصلة بين العالِم والمعلوم (١١) الصفة الحقيقية مع الاحاطة الحاصلة بين
العالم والمعلوم (١٢) اعتقاد الشئ على ما هو به (١٣) معرفة المعلوم على ما
هو به (١٤) العلم ادراك الشئ بحقيقته (١٥) العلم اتحاد مع المعلوم (١٦) العلم
اتحاد مع العقل الفعال (١٧) العلم مقارنة العالم للمعلوم في العقل الفعال
(١٨) صفة يتجلى بها المذكور لمن قامت هيَ به قال الشريف هو احسن الحدود
(١٩) الادراك مطلقًا تصورًا كان او تصديقًا (٢٠) العلم نورٌ تظهر به حقائق
الاشياء وغير ذالك من التعريفات،
پس زده کړه دا خبره چه علم په دوه قسمه دے يو[١] علم حضوري او
بل[٢] علم حصولي دے، علمِ حضوري هغه دے چه په مابين د عالم او د
معلوم کښ علاقه وي د علاقو ثلاثو نه، چه عينيت[١]، نعتيت[٢]، او معلوليت[٣] دي
عينيت لکه علم د شي شو په نفس خپل باندے، نعتيت لکه علم د شي شو په
صفاتو خپلو باندے، او معلوليت لکه علم د واجب تعالیٰ شو په سلسله د ممکناتو
باندے، او دويم[٢] قسم، علم حصولي دے چه په مابين د عالم او د معلوم کښ
علاقه نه وي د علاقو ثلاثو مذکوره څخه، او دے علم حصولي ته علم
انطباعي هم وئيلے شي، لکه علم حصولي د انسان شو، بيا علمِ حضوري په
دوه قسمه دے، يو قديم دے او بل حادث دے، ځکه چه دا علم به خالي
نه وي يا به مسبوق بالعدم وي او يا به نهٔ وي که مسبوق بالعدم وو نو هغه
حادث دے. لکه علمِ حضوري د انسان شو په نفس خپل باندے او که نهٔ
وو نو هغه قديم دے، لکه علم د واجب تعالیٰ شو په نفس خپل باندے هم
د غه شان علمِ حصولي هم په دوه قسمه دے، يو قديم او بل حادث، قديم

لکه علم دعقولو عشرو شو په نیز دمنطقیانو او حادث لکه علم حصولی د انسان شو- یا علم حصولي حادث خپل کورکښې په دوه قسمه دے، یو تصور او بل تصدیق دے،

تنبیه ۱:- پوهه شه چه په مقسم د تصور او تصدیق کښې اختلاف واقع شویدے، په دے شان سره چه یو مذهب[1] د جمهورو دے او بل مسلك د متقدمینو دے، او بل[3] مشرب د محققینو دے - مسلك د متقدمینو دادے چه مقسم د تصور او د تصدیق مطلق علم دے، ځکه چه انقسام په خاص کښې مستلزم دے انقسام لره په عام کښې، او بل د دے وجه نه، چه مقسم لره نسبت وی مسائلو د فن ته او مسائل د فن خو کلیات دی او کلی خو نه وی مګر مطلق علم وی، او مذهب د جمهورو دادے چه مقسم علم حصولي حادث دے نه مطلق علم و لی که مطلق علم شي نو لازم به شي عدم انحصار د مقسم په اقسامو کښې فالتالی با طل والمقدم مثله، هرچه وجه د ملازمے ده ځکه چه بعض د علم مطلق نه علم حضوری هم دے او هغه تصور او تصدیق نه دی، او دا رنګه مقسم مطلق حصولی هم نه دے، و لی که مطلق حصولی شي نو بیا لازمیږی عدم انحصار د مقسم په اقسامو کښې فالتالي با طل و المقدم مثله، وجه د ملازمے داده، چه بعض د مطلق حصولي نه حصولی قدیم دے، او حصولی قدیم تصور او تصدیق نه دے ځکه چه تصور او تصدیق منقسم دی دواړه بدیهی او نظری ته، او بدیهی او نظری دواړه حادثین دی نو تصور او تصدیق هم حادثین شو، او مذهب د محققینو دادے چه مقسم مطلق علم حصولي دے نه مطلق علم او نه حصولی حادث، و لی که مطلق علم شي نو لازمیږی عدم انحصار د مقسم په اقسامو کښې، کما مراوکه ته وائی، چه مسائل د فن کلی وی او کلی مطلق علم دے نو زه وایم چه مطلق حصولی هم کلی دے په نسبت د حصولی حادث ته، او هم دغه شان مقسم علم حصولی حادث هم نشی کیدے ځکه چه لازم به شي عموم د اقسامو د مقسم نه فالتالي با طل و المقدم مثله او وجه د ملازمه داده، چه بعض د تصور او د تصدیق نه حصولی قدیم هم دے، او جواب د دلیل د جمهورونه دا دے، چه منقسم بدیهی او نظری ته هغه تصور او تصدیق حادثین دی نه مطلق ،



فائده :- محل د علم حادث کښې اختلاف واقع شویدے حکماء وائی محل د علم نفس ناطقة دے، لیکن اهل حق وائی چه محل د علم برابره خبره ده که کلی وی او که جزئی وی غیر متعین دے، بلکه عقلاً جائز دی چه الله تعالیٰ هر اندام د بدن کښې محل د علم وګرځوی، او دلائل سمعیه نقلیه دلالت کوی چه محل د علم قلب (زړه) دے قال تعالیٰ فتکون لهم قلوبٌ یعقلون بها الحج ۴۶ افلا یتدبرون القرآن ام علی قلوبٍ اقفالها - محمد ۲۴ اسباب د علم دوه شیان دی (۱) سمع اوریدل، (۲) بصر لیدل، کتل) او مرکز د علم زړه دے، قال تعالیٰ هو الذی انشاکم وجعل لکم السمع والابصار والافئدة قلیلاً ما تشکرون، ملك ۲۳،

بیا علم حصولی حادث (کما هو مذهب الجمهور) په دوه قسمه ده (۱) تصور (۲) تصدیق، وجه د حصر یکښې داده، چه کوم شي چه په ذهن کښې مستحضر شی دا به خالی نه وائی، یا به سره د حکم نه وی، او یا به بدون د حکم نه وی، اول تصدیق او دوئیم تصور شو، لیکن دا وجه د حصر ضعیف ځکه ده چه په صورت د شك کښې یو قسم حکم وی حالانکه دا قسم د تصور دے نه د تصدیق، پس صحیح وجه د حصر داده چه کوم شی چه ذهن ته راشي دا به خالی نه وائی یا به موصل د اعتقاد ته وی، او یا به نه وی که وو نو تصدیق او که نه وو نو تصور شو یا تصدیق په خلور قسمه دے (۱) ظن (۲) تقلید (۳) جهل مرکب (۴) یقین، وجه د حصر یکښې داده چه دا موصل د حد اعتقاد به خالی نه وائی یا به جازم وی او یا به نه وی دوئیم ظن شو، او که جازم وو، نو بیا به خالی نه وائی، یا به په تشکیك د مشکك سره زائل کیږی او یا به نه زائل کیږی اول تقلید شو او که نه زائل کیدو بیا به خالی نه وائی یا به مطابق د واقع سره وی او یا به نه وی دوئیم جهل مرکب شو او اول یقین شو او دا په درے قسمه دے (۱) علم الیقین (۲) عین الیقین، (۳) حق الیقین، وجه د حصر یکښې داده، چه دا یقین به خالی نه وائی یا به حاصل شوے وی به دلائلو سره، او یا به حاصل شوے وی په مشاهدے سره او یا به حاصل شوے وی په دواړو سره، اول علم الیقین شو، لکه علم د عامو علماؤ، او دوئیم عین الیقین شو، لکه علم د اولیاؤ شو او دریم[3]

Maktaba Tul Ishaat.com

حق الیقین شو، لکه علم د انبیاء علیهم السّلام، او تصور هم په خلور قسمه دے (۱) تصور د مفرداتو (۲) نسبت تقیدی (۳) نسبت انشائی (۴) شك و وهم وغیره، وجه د حصر یکښ داده چه کوم علم موصل حد د اعتقاد ته نه وی (تصور) دا به خالی نه وائی یا به نسبت وی او یا به نه وی که نسبت ورکښ نه وُو نو هغه تصور د مفرداتو شو، لکه زید عمرو بکر وغیره، اوکه نسبت وی یا به خالی نه وائی، یا به دا نسبت تام وی او یا به نه وی، که نسبت تام نه وُو نو هغه نسبت تقیدی شو، لکه غلام زیدٍ رجلٌ عالمٌ شو، اوکه نسبت تام وُو، نو یا به ئی خالی نه وائی یا به اعتقاد پرے وی او یا به نه وی، که وُو نو هغه نسبت انشائی شو لکه اِضْرِب، او که نه وُو نو هغه صورت د شك و وهم تخیل دے، شك متساوی الطرفین ته وئیلی شی، او وهم جانب مرجوحه ته وائی، چه په مقابل کښ ئے ظن دے، او تخیل (خیال) تصور د نسبت تام خبری دے بے د قصد د حکایت نه، کوم ته چه تصور ساذج وئیلے شی، او دا تصور ساذج په خلور قسمه دے (۱) تصور بالکنه (۲) تصور بکنهه (۳) تصور بالوجه (۴) تصور بوجهه، (۱) تصور بالکنه، دے ته وائی چه حاصل کړی حد (تعریف) د شی په ذهن کښ او مرآة (ذریعه) ئے کړے د پاره د حصول د هغه شی، لکه حیوان ناطق حاصل کړے په ذهن کښ او مرآة ئے کړے لپاره د حصول د انسان، او (۲) تصور بکنهه دے ته وائی چه حاصل کړے حد د یو شی او مرآة ئے نکړے لپاره د حصول د دغه شی لکه په ذهن کښ حیوان ناطق حاصل کړے او ذریعه او مرآة ئے نکړے لپاره د حصول د انسان او (۳) تصور بالوجه دے ته وائی چه حاصل کړے رسم د یو شی په ذهن کښ او مرآة ئے کړے لپاره د حصول د دغه شی لکه چه حاصل کړے حیوان ضاحك په ذهن کښ او مرآة ئے کړے لپاره د حصول د انسان، او (۴) تصور بوجهه دے ته وائی چه حاصل کړے رسم د یو شی په ذهن کښ او مرآة ئے نکړے لپاره د حصول د دغه شی لکه حاصل کړے حیوان ضاحك او مرآة ئے نکړے لپاره د حصول د انسان،

نقشه د تقسیم د علم خپلو اقسامو ته په بله صفحه باندے ملاحظه کړئے،





اوس په ماتن باندے سوال واردیږی، چه تا په متن کښ د تصور فقط د قسم د علم دِ اوګرځولونهٔ مطلق تصور، نو لازم شو خلاف د مشهور او خلاف د مشهور نه بے دخه نکتے نه په توت د خطاء کښ وی، او که څه نکته وی نو فعليك بالبيان ورنه ستا داعبارت خطاء ګرځی، جواب، نکته شته او هغه دا چه مطلق تصور مرادف د علم دَے نو بیا به لازم شی تقسیم د شی نفس او غیر ته، وكلُّ تقسیم یکون هٰكذا فهو باطل فهٰذا التقسیم باطلٌ،

سوال: دا نکته بے د قید دَ ,,فقط،، هم حاصلیږی ځکه چه مطلق تصور قسم دَ علم اوګرځولے شی په مرتبه د بشرط لاشئ (حکم) کښ، بیا به دے معنیٰ سره تصور قسم د علم او قسیم د تصور ګرځی او که په مرتبه د لا بشرط شئ (حکم) کښ واخستے شی نو بیا مرادف د علم ګرځی او که په مرتبه د بشرط شئ (حکم) کښ واخستے شی نو بیا عین تصدیق ګرځی نو تا به مطلق تصور ذکر کړے وے، او په مرتبه د بشرطِ لا شئ به دِ اخستے وے،

جواب[1] هر کله چه په مشهور تقسیم او طرز کښ ډیر تکلفات وو، نو ما قید د فقط اولګاوه چه حتی الوسع اجتناب راشی د تکلفاتو څخه،

جواب[2]: ما قید د فقط پیوست کړو چه حاصل شی تنبیه (خبرداری) په تعین د تقابل بانبے د تصور او تصدیق ترمنځ ځکه چه تصور او تصدیق متقابلان دی، جواب[3] چه تقسیم د تصور او تصدیق تقسیم حقیقی شی او تقسیم حقیقی عبارت دَے د نهٔ جمع کیدل د متقابلینو په محل واحد کښ کنے لازم به شی اجتماع د نقیضینو، او نه رفع کیدل د متقابلینو دے محل واحد نه کنے لازم به شی ارتفاع د نقیضینو وکل واحد منهما باطلٌ،

قوله، هو حصول صورة الشئ في العقل الخ سوال تصور او تصدیق اقسام د علم دی او علم مقسم دَے، دے دواړو لپاره نو د لته د مقسم (علم، تعریف پکار وو، او هم د غه شان تصور او تصدیق قسمین د علم دی نو تصدیق د تصور سره متصل ذکر کول پکار وو او تا په مابین د تصور او تصدیق کښ فصل راوستو په تعریف د تصور مطلق سره، جواب په دے کښ ماتن تنبیه وکړه په ترادف باندے په مابین د تصور مطلق او د علم کښ، سوال، د لته په تعریف کښ عقل ذکر شو او د عقل اطلاق په معانیو ثلاثو باندے چه جوهر مجرد عن المادة لا بفعله "او



په دے معنیٰ سره عقل مرادف د نفس ناطقه شو او بل، جو هرٌ مجرّدٌ عن المادةِ في ذاتِهٖ وبفعله "او په دے معنیٰ سره بیا مرادف د ملکه ګرځی او بل عقل عبارت دے د "قوة مدركةٌ" څخه نو هر یو اطلاق په واجب تعالیٰ باندے غیر صحیح ده، ځکه چه واجب تعالیٰ د نفس ناطقه او د ملکه او دَ قوة مدركة اطلاق په واجب تعالیٰ باندے نهٔ کیږی، نو ستا تعریف د علم جامع نشو خپلو افرادو لره، خارج شو ترې نه علم د واجب تعالیٰ جواب[1] چه کله د قوة مدركه اطلاق په نفس مدرك هم کیدے شی او واجب تعالیٰ مدرك دے، وهو يدرك الابصار" جواب[2] حصول په معنیٰ د حضور سره دے نو معنیٰ ئے دا شوه، چه الصورة الحاضرة " جواب[3] که علم د واجب تعالیٰ د تعریف نه خارج شی نو کوم نقصان نهٔ جوړیږی ځکه چه حُسن نو خبره په علم حصولی کښ ده، او علم د واجب تعالیٰ علم حضوری دَے، و هو الاصح

قوله، وهو اسناد امرٍالی آخَرَ الخ سوال: ذکر کول د ماتن تعریف د حکم لره اشتغال بما لا یعنی او ترك د ما یعنی ده، ځکه چه مقصود د لته بیان د قسمینو د علم دے چه تصور او تصدیق دی او دا په ماسبق عبارت سره حاصل شو دے، جواب، چونکه تصدیق لپاره دوه جزء دی یو جزء پکښ تصور او بل جزء پکښ حکم دَے نو ماهیة د تصور خو په ماسبق سره حاصل وو، او اوس ماهیت د حکم ذکر کوی، نو اشتغال د مصنف رحمه الله بما یعنی شو،

قوله، اقول العلم اما تصورٌ لا حکم معهٔ الخ مقصد د شارح د دے شرح نه اشاره کول دی یو څو اغراضو ته (۱) تحقیق د مقام (۲) اشاره به اوکړی تشریح د تصور فقط ته په لا حکم معهٔ سره (۳) اشاره به اوکړی تسمیه د تصور فقط ته په اسم آخر سره چه تصور ساذج دے (۴) اشاره به اوکړی ایراد د مثال د تصور فقط ته (۵) اشاره به وکړی ایراد د مثال ته لپاره د تصور معهٔ حکم، سوال، عبارت دا سے ویل پکار وو چه تصور مع عدم الحکم ځکه چه د تصور فقط تعریف شامل نه شی حکم ته ځکه چه حکم هم تصور دے او قرینه په دے باندے عدیل "قسیم" د تصور دے چه هغه تصدیق دے ځکه چه په دے کښ اثبات د حکم دے، جواب[1] دا سوال ستا هلته واردیدو که عبارت په ظاهر باتے وے، لیکن په دے عبارت کښ تاویل او تصرف شوے په دے شان سره چه لا په معنیٰ د عدم ده او "معه" پرے مقدم دے

Maktaba Tul Ishaat.com

نو تقدیر د عبارت دا سے شو چه « معه عدم الحکم » جواب (۲) تصور لا معه حُکمٌ په حکم نه صادقیږی، ځکه چه حکم فعل دے د افعال د نفس نه نو دا مقولے د فعل نه دے په نیز د مصنف رحمه الله باندے نو په نفس ذکر د تصور سره حکم ورنه خارج شو جواب (۳) مراد ځمونږ په تصور فقط سره سلب د ماهیت د حکم دے من شانه معیة الحکم،

قوله، ویقال له التصور الساذج الخ سوال، ماتن په متن کښ تصور فقط ذکر کړے وو، او شارح د هغه په ځائے تصور ساذج ذکر کړو، او دا نه د مگر مخالفت د شرح د مشروح (متن) څخه دے او دا بدون د نکتے نه په توره د خطا کښ وی، ځکه دا قول بمالا یرضٰی به قائِلُهٗ د قبیلے څخه گرځی،

جواب (۱) چه نکته د لته تَتِمَّه د مافات د مصنف ده، په دے شان سره چه ماتن د تصور مَعَهٗ حکم لپاره بل اسم ذکر کړے دے په دے عبارة حِیل سره چه "ویقال للمجموع تصدیق" لیکن د تصور فقط لپاره بل اسم نه دے ذکر کړے نو شارح رحمهٗ الله د لته بل اسم ذکر کړو چه تصور ساذج دے چه صحیح شی تقابل د تصدیق سره - جواب (۲) شارح تشریح د تصور فقط په تصور ساذج سره وکړه لپاره د دفع د توهم، ځکه چه هلته ئے تصور فقط ویلے وو، نو متوهم دا توهم کولو چه مراد به د تصور فقط نه مطلق تصور وی او مطلق تصور په مرتبه د لابشرط شی کښ ده نو مرادف د علم شو پس لازم شو تقسیم د شی (علم) نفس (تصور) او غیر (تصدیق) ته نو شارح رحمه الله دفع د دے وهم اوکړه چه د تصور فقط نه ئے تعبیر په تصور ساذج سره وکړو، پس مراد د تصور نه تصور بشرط لاشئ شو فلا یلزم المحذور،

تنبیــه :- لکه لفظ عالَم د الله تعالیٰ نه ماسِوٰی په تول (مخلوق) باندے صادقیږی دغه شان تصور فقط هم اطلاق په کل او په جزء باندے کیږی په طریقه د اشتراك سره، همدغه شان د تصور فقط اطلاق په ټولو تصوراتو ساذجو او د دئ په اجزاء باندے اطلاق کیږی، صرف تخیل (خیال) پورے خاص نهٔ دے،

قوله، من غیر حکمٍ علیه الخ سوال دے نه معلومیږی چه تصور د انسان سره د حکم نه په انسان باندے دا تصدیق دے، لکه په هٰذا انسانٌ شو او حالانکه دا تصدیق نه دی ځکه چه کله ته تصور د انسان وکړی په ”جواب



ناطق ، سره او تصور د هٰذا هم وکړی چه دا اسمِ اشاره ده، وضع شوے ده لپاره د مفرد مذکر محسوس بالبصر مثلاً، او ایقاع د نسبت پکښ او نکړی، نو دا هم تصور ساذج دے، جواب (۱) ستا سوال هله وارد یده، که عبارت په ظاهر محمول وے، لیکن د لته په عبارت کښ حذف دے چه تقدیر د عبارت دا سے دے « من غیر حکمٍ علیه و لا به » جواب (۲) په دے عبارت کښ تاویل شو یدے په دے شان سره چه دا قول من غیر حکمٍ علیه الخ محمول دے په بعض صور تو نو پورے، او هغه دا چه انسان محکوم علیه واقع شی،

قوله، بنفی او اثبات الخ دا تفصیل د حکم لپاره دے ای الحکم المصور بالاثبات او بالنفی، مثال د اثبات لکه زیدٌ قائِمٌ، او مثال د نفی لکه زید لیس بقائمٍ نو گویا که حکم امر مجهول وو، وا هم دا و هم کاوو چه د حکم نه مراد به نسبت وی نو شارح ئے تفصیل وکړو په دے قول سره بنفیٍ او اثباتٍ الخ او څوك چه وائی، چه دا باطله د حکم ده، بیا دا نفی په معنیٰ د منفی سره اخلی او اثبات په معنیٰ د مثبت سره اخلی، دا خبره چندان صحیح ځکه نه ده، چه دا په قضیه موجبه، معدوله لکه از ید قائم، او محصله لکه "زید لا قائمٌ" دواړو باندے مشتمله ده. لیکن حکمِ سلبی یعنی موضوع سالبی و الا (لیس زیدٌ بقائِمٍ) لره نه شاملیږی بلکه ترے خارجیږی،

قوله، واما تصورٌ معهٗ حکمٌ الخ یعنی د علم دویم قسم تصدیق دے، یعنی هغه تصور چه ورسره حکم وی، سوال، هیڅ یو تصور د حکم نه خالی نه وی، ځکه چه د هر تصور سره دا حکم وی چه دا د فلانی شی تصور دے پس د قسم اول د علم (تصور ساذج) لپاره د سره تحقیق نشی کیدے ؟ په تعریف د تصدیق کښ چه کوم حکم ذکر دے دا حکم صریحی دے، او تصوراتو مفردو سره چه کوم حکم وی هغه ضمنی وی،

اَمَّا التَّصَوُّرُ فَهُوَ حُصُوْلُ صُوْرَةِ الشَّیْءِ فِی الْعَقْلِ فَلَیْسَ مَعْنٰی تَصَوُّرِنَا الْاِنْسَانَ اِلَّا اَنْ تَرْتَسِمَ صُوْرَةٌ مِّنْهُ فِی الْعَقْلِ بِهَا یَمْتَازُ الْاِنْسَانُ مِنْ غَیْرِهٖ عِنْدَ الْعَقْلِ كَمَا تَثْبُتُ صُوْرَةُ الشَّیْءِ فِی الْمِرْاٰةِ اِلَّا اَنَّ الْمِرْاٰةَ لَا تَثْبُتُ فِیْهَا اِلَّا مِثْلُ الْمَحْسُوْسَاتِ، وَالنَّفْسُ مِرْاٰةٌ تَنْطَبِعُ فِیْهَا مِثْلُ الْمَعْقُوْلَاتِ وَالْمَحْسُوْسَاتِ. فَقَوْلُهٗ وَهُوَ حُصُوْلُ صُوْرَةِ الشَّیْءِ فِی الْعَقْلِ

إِشَارَةٌ إِلَى تَعْرِيفِ مُطْلَقِ التَّصَوُّرِ دُوْنَ التَّصَوُّرِ فَقَطْ لِأَنَّهُ لَمَّا ذَكَرَ التَّصَوُّرَ فَقَطْ فَقَدْ ذَكَرَ أَمْرَيْنِ أَحَدُهُمَا التَّصَوُّرُ الْمُطْلَقُ، لِأَنَّ الْمُقَيَّدَ إِذَا كَانَ مَذْكُوْرًا كَانَ الْمُطْلَقُ مَذْكُوْرًا بِالضَّرُوْرَةِ وَثَانِيْهِمَا التَّصَوُّرُ فَقَطْ أَيِ الَّذِيْ هُوَ التَّصَوُّرُ السَّاذَجُ،

**ترجمه:-** هر چه تصور دے پس هغه په عقل کښې د کوم شی صورت حاصلیدل دے پس نه دے معنیٰ د تصور رخمونږ انسان لره مگر د دے نه یو صورت په عقل کښې منتقش کیدل دی، چه په هغے سره په عقل کښې انسان د غیر نه ممتاز (جدا) کوَلے شی لکه په آینه (شیشه) کښې د بد شی صورت ثابتیږی لیکن په آینه کښې صرف د محسوساتُ صورت منتقش کیږی، او نفس یوه داسے آینه ده چه معقولات او محسوسات ټول پکښې منتقش کیږی، پس دا قول د ماتن رحمه الله "و هو حصول صورة الشئ فی العقل، د مطلق تصور تعریف طرف ته اشاره ده نه تصور فقط تعریف ته، ځکه چه کله د تصور فقط ذکر وکړو نو د دوه شیانو ذکر بے وکړو چه یو تصور مطلق دے، ځکه چه کله مقید ذکر شی نو مطلق هم ورسره ضرور (لازما) ذکر کیږی، او دویم تصور فقط کوم چه تصور ساذج دے؛

**توضیح اللغات:-** (۱) صورة په معنیٰ د ماهیة سره راځی لکه صورة الشئ په معنیٰ د ماهیة الشئ (۲) صورة په معنیٰ د قسم سره هم راځی یقال هَذَا الامر علیٰ ثلاث صورای انواع (۳) صورة په معنیٰ د صفت سره هم راځی لکه صورة المسئلة اے صفتها (۴) صورة په معنیٰ د شکل او تمثال مجسم هم راځی، لکه دا قول د الله تعالیٰ فِیْٓ اَیِّ صُوْرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ، وهو المراد، (۲) ترتسم: صیغه واحد مؤنث غائب ده د باب افتعال نه ارتسام بمعنیٰ تلل یکل او اثر باقی د کورته والی، او په اصطلاح کښې "صنع الاشكال و الصور والخطوط بالقلم" ته وائی په قلم شکلونه او تصویرونه جوړولو ته وائی، (۳) مرآة صیغه د اسم آله ده د رؤیة (ف) په معنیٰ د لیدل او کتلو، او په اصطلاح کښې مرآة عبارت ده د مایری الناظر فیها نفسه" نه یعنی هر څه شی چه کتونکے پکښې ځان کوری (۴) محسوسات، جمع د محسوس ده، هر هغه شی چه ادراک ئے په حس سره کیږی یعنی په حواس خمسو ظاهره سره، په دے کښې ټول ملموسات، مبصرات، مسموعات، مذوقات، او مشمومات پکښې



داخل دی، دا په نیز د متکلمینو، او په نیز د حکماؤ محسوس هغه دے چه ادراک د هغه حواس ظاهریه او باطنیو د واړو سره کیږی (۵) معقولات، جمع د معقول ده او دا مقابل د محسوس دے، وفی کشاف الاصطلاحات ص۶۷۴ ج۱ والمشهور ان الحسی ما ادرك بالحس الظاهر والعقلی، ما لا یكون للحس فیه مدخل، پس معقولات عبارت دی د کلیاتو نه، او محسوسات عبارت دے د کلیاتو او جزئیاتو د واړو نه، او یا مراد ترے نه صرف جزئیات (مشاهدات) وجدانیات دی،

**تشریح:-** غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره توطیه او تمهید دے، د تحقیق د کلام د ماتن لپاره، په دے شان سره چه کوم تعریفین مذکورین په کلام د ماتن کښې دی په دوئ کښې اول لپاره د مطلق تصور دے کوم چه مرادف د علم دے، او دویم تعریف د قید د تصور دے چه هغه حکم دے، او ځنې حضرات وائی چه غرض د شارح په دے عبارت سره اعتراض کول دی په ماتن باندے په دے شان سره چه ظاهری کلام د ماتن رحمة الله چه تعریف اول لپاره د تصور ساذج دے، او دویم تعریف د تصور مقید بالحکم لپاره دے لیکن دا غرض د شارح بیانول صحیح نهٔ دی، ځکه چه تعریف اول د ذات د مقید لپاره دے، او تعریف ثانی د قید لپاره دے چه هغه حکم دے، **قوله،** عند العقل الخ زده کړه دا خبره چه مدرکات څلور دی (۱) کلیات (۲) جزئیات مجرّده (۳) جزئیات مادیه (۴) هغه معانی غیر محسوسه چه منتزع وی د محسوس نه، او مدرکات درے دی (۱) عقل (۲) حواس خمسه ظاهره، (۳) حواس خمسه باطنه نو اوس دلته دوه مذهبه دی (۱) مذهب د محققینو دے، دوئ وائی چه مدرك د ټولو عقل دے او ارتسام هم په عقل کښې ده، ځکه چه شان د عالم دا ده، چه دا به جوهر قائم بذاته وی، او دا نهٔ دے مگر عقل، او هر چه حواس دی نو یو خو مجرد نه دی مادی دی، بل جوهر نه دی عرض دی او بل قائم بالذات نه دی بلکه قائم بالغیر دی (۲) مسلك د متأخرینو دے، چه مدرك د ټولو خو عقل دے لیکن د جزئیاتو مادیو او هغه معانیو غیر محسوسه چه منتزع وی د محسوس نه مدرك حواس دی ولے که د دوئ مدرك هم عقل شی نو ارتسام به ئے په عقل کښې نو انقسام د حال راځی، ځکه چه

Maktaba Tul-Ishaat.com

دا مادی دی، او هر ماده قابل د انقسام وی، او انقسام د حال مستلزم ده انقسام د محل لره چه (محل) عقل او نفس ناطقه دی، وَقَدْ تَقَرَّرَ اَنَّ الْعَقْلَ بَسِيْطٌ، بیا محققین خپلو مینځو نو دوه ځایه شو یدی، (۱) بعض محققین وائی چه مدرك د ټولو خو عقل دے لیکن کلیات او جزئیات مجرده مرتسم هم په عقل کښ دی، خو جزئیات مجرده او هغه معانی غیر محسوسه چه منتزع وی د محسوس نه د دوئی ارتسام په حواسو کښ شو یدے، او (۲) بعض محققین وائی چه د ټولو مدرك هم عقل دے او ارتسام خو هم عقل کوی، او س دلته په مصنف رحمه الله باندے دوه اعتراضونه وارد یږی اول دا چه "فی" راځی لپاره د ظرفیت نو معنیٰ دا شوه چه ارتسام ئی هم په عقل کښ شو یدے نو دا تعریف ستا شامل نه شو مذهب د متأخرینو او د بعض محققینو لره ځکه چه هغوئی ارتسام د جزئیاتِ مادیو او هغه معانیو غیر محسوسه چه منتزع وی د محسوس نه حواس بولی، دوئم اعتراض دا دے چه "فی" راځی د پاره د ظرفیت، نو معنیٰ ئے دا شوه، چه حصول د صورة د شی صرف په عقل کښ کیږی حالانکه کله کله حصول د صورت د شی په اسبابو او آلاتو باندے هم کیږی هم د غه شان مدخول د "فی" مظروف وی د ماقبل لپاره دلته دا ظرفیت نه صحیح کیږی، ځکه چه ظرف یا زمان وی او یا مکان وی، او عقل نه ظرف زمان دے او نه ظرف مکان دے، شارح د دے ټولونه جواب وکړو چه "فی" په معنیٰ د عندَ سره ده،

قوله، کما تثبت صورة الشئ فی المرآة الخ غرض د شارح رحمهٔ الله په دے عبارت سره تشبیه د معقول ده د محسوس ده، لپاره د وضاحت د معقول په دے شان سره چه ارتسام د صورة په عقل کښ داسے دے لکه ارتسام د محسوس په آینه (شیشه) کښ نو دلته یا تشبیه د کل سره ده یعنی ارتسام د صورة په عقل کښ مشبه ده، او ارتسام د صورة په مرآة کښ مشبه به ده او یا تشبیه د جزء د جزء سره ده په دے شان سره چه صورة مرتسمه په عقل کښ مشبه کړو د هغه صورة سره چه په مرآة کښ مرتسمه وی،

قوله، الا ان المرآة لا تثبت الخ غرض د شارح په دے عبارت سره دفع د وهم ده، هغه وهم دا ده چه دا تشبیه د صحیح نه ده ځکه چه مرآة کښ صرف صرف محسوسات مرتسم کیږی، او عقل محسوسات او معقولات





مرتسم کیږی، جواب د لاعموم فی التشبیه یعنی په تشبیه کښ عموم نه دی، لکه زیدٌ کالاسد زید په هر او صافو کښ اسد پشان نه کیدے کما لا یخفی،

قوله، وهو حصول صورة الشئ الخ سوال، دلته دا فا راوړل غیر صحیح دی، ځکه چه فاء په څلور قسمه سره راځی (۱) جزائیه (۲) تفصیلیه (۳) تفریعیهٔ (۴) تعلیلیه، او دلته یو هم نه صحیح کیږی، فاء جزائیه مخکښ فعل شرط بالادات شرط غواړی، او دلته نشته، او فاء تفصیلیه مخکښ اجمال غواړی او دلته نشته، هم دغه شان فاء تفریعیه مخکښ متفرع علیها (قانون کلی) غواړی دلته نشته، او فاءِ تعلیلیه مخکښ علت غواړی او دلته نشته،

جواب (۱) دلته فاء جزائیه ده، فعل او ادات شرط عام دی، که لفظا وی او که مقدر دی، دلته اګرکه لفظًا نشته لیکن معنًی موجود دے نو تقدیر د عبارت داسے دے لمّا کانَ هٰذا التعریف تعریف لمطلق التصور فقوله وهو حصول الخ جواب (۲) دلته دا فاء تفصیلیه ده لیکن دا واقع ده په جواب د سوال مقدر کښ نو دا جواب په منزله د تفصیل د سوال دے، او خلاصه د سوال دا ده چه هر کله مطلق تصور په کلام د ماتن کښ نه وو ذکر، نو بیا په هُوَ سره اشاره کول تعریف د مطلق تصور ته صحیح نه شو فضلًا عن الوجوب، نو شارح جواب وکړو په دے قول سره فقوله وهو حصول الخ اشارةً اِلیٰ تعریف مطلق التصور، خلاصه د جواب دا ده، چه دلته مطلق تصور اګرکه صراحةً نه دے ذکر لیکن په ضمن د مقید کښ ذکر دے، ځکه چه ذکر د مقید مستلزم دے ذکر د مطلق لره بالاستلزام وجود الخاصِ وجود العام، جواب (۳) دلته دا فاء تفریعیه هم ده بنی نو تقدیر د عبارت به داسے شی فاذا عرفت ان هٰذا تعریفٌ لِمطلق التصدق الواقع عرفت ان قوله وهو حصول آه- پس غرض د شارح په دے عبارت چه فقوله وهو حصول صورة الخ مقید دے لپاره د هغه سوال، چه وارد یږی په ماتن باندے کوم چه شارح رومسته بیان کړیدے پدے قول فذالك الضمیر الخ قوله اشارةٌ الی تعریف الخ سوال دلته اشارة راوړل صحیح نه دی ځکه چه اشاره هغه ته وائی چه په ضمن د یو شی کښ ذکر وی او دلته تعریف د مطلق تصور صراحةً ذکر دے، جواب اشاره نه مراد الثابتُ بنفس الصیغه من غیر ان سیق له الکلام" اخلم اشاره په

دغه معنیٰ سره عام ده شامل ده صریحی او ضمنی دواړو لره،

**قوله،** لانّهٗ لمّا ذکر التصوّر فقط الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب د سوال مقدر دے، ته هُوَ ضمیر راجع والیٔ مطلق تصور ته او مطلق تصور خو مخکښ ذکر نهٔ دے نو لازم شو اضمار قبل الذکر او دا ناروا دے، جواب مرجع عام ده که صراحةً ذکر وی او که ضمنًا دلته په ضمن د تصور فقط کښ ذکر ده نو مرجع ضمنی شوه، (اعدلوا هُوَ اقربُ للتقوٰی د قبیلے نه شو)

فَذَالِكَ الضَّمِيْرُ اِمَّا اَنْ يَّعُوْدَ اِلٰى مُطْلَقِ التَّصَوُّرِ اَوْ اِلَى التَّصَوُّرِ فَقَطْ، لَا جَائِزٌ اَنْ يَّعُوْدَ اِلَى التَّصَوُّرِ فَقَطْ لِصِدْقِ حُصُوْلِ صُوْرَةِ الشَّيْءِ فِي الْعَقْلِ عَلَى التَّصَوُّرِ الَّذِيْ مَعَهٗ حُكْمٌ فَلَوْ كَانَ تَعْرِيْفًا لِلتَّصَوُّرِ فَقَطْ لَمْ يَكُنْ مَانِعًا لِهٖ لِدُخُوْلِ غَيْرِهٖ فِيْهِ فَتَعَيَّنَ اَنْ يَّعُوْدَ الضَّمِيْرُ اِلٰى مُطْلَقِ التَّصَوُّرِ دُوْنَ التَّصَوُّرِ فَقَطْ فَيَكُوْنُ حُصُوْلُ صُوْرَةِ الشَّيْءِ فِي الْعَقْلِ تَعْرِيْفًا لَهٗ وَاِنَّمَا عَرَّفَ مُطْلَقَ التَّصَوُّرِ دُوْنَ التَّصَوُّرِ فَقَطْ مَعَ اَنَّ الْمَقَامَ يَقْتَضِيْ تَعْرِيْفَهٗ تَنْبِيْهًا عَلٰى اَنَّ التَّصَوُّرَ كَمَا يُطْلَقُ فِيْمَا هُوَ الْمَشْهُوْرُ عَلٰى مَا يُقَابِلُ التَّصْدِيْقَ اَعْنِي التَّصَوُّرَ السَّاذَجَ كَذَالِكَ يُطْلَقُ عَلٰى مَا يُرَادِفُ الْعِلْمَ وَيَعُمُّ التَّصْدِيْقَ وَهُوَ مُطْلَقُ التَّصَوُّرِ

**ترجمه:-** دا ضمیر د (هُوَ حصول) یا مطلق تصور ته راجع کیږی او یا تصور فقط ته، تصور فقط ته راجع کیدل روانهٔ دی، ځکه چه په عقل کښ د شی صورت حاصلیدل په هغه تصور باندے صادقیږی چه هغه سره حکم وی، نو که دا تعریف د تصور شی نو بیا دا د دخول د غیر (مطلق تصور، تصدیق) نه مانع نهٔ گرځی د دے وجه نه دا متعین شو چه ضمیر مطلق تصور ته راجع شی، نهٔ تصور فقط ته نو "حصول صورة الشئ فی العقل" د مطلق تصور تعریف شو، او (ماتن) رحمهٔ الله د مطلق تصور تعریف وکړو نه د تصور فقط حالانکه مقام (ځائے) د دے (تصور فقط) تعریف تقاضا کوی د پاره د تنبیه (خبردارے) په دے خبره باندے چه د تصور اطلاق (په اصطلاح د منطقیانو کښ) په هغه تصور باندے کیږی چه هغه مقابل د تصدیق وی، یعنی تصور ساذج (ساده) هم دغه شان په هغه تصور باندے هم اطلاق کیږی چه مرادف د علم دے او د تصدیق نه عام دے چه هغه مطلق تصور دے،



**توضیح اللغات[۳]:-** (۱) تنبیه" صیغه د مصدر ده د باب تفعیل نه په لغت کښ د خوبه یا د غفلته بیدارول او زیرکیا ته وائی، او په اصطلاح کښ خلد نه یو شو شوید ی (۱) استحضار ما سبق و انتظار ما سیأتی (۲) بیان الشئ تصنًا بعد سبقه ضمنًا علیٰ وجهٍ لو توجّه الیه السّامع الفطِنُ بکلّیةٍ لعرفه"

(۳) ما ذکر لازالة خفاءِ البدیهی (۴) قاعدة تعرف بها الابحاث الآتیةُ مجملةً (۵) هو توقیف علی المعنی الذی یضمنه الکلام السابق علیٰ وجهٍ لم یتنبه علیه الا الاذکیاء (۶) اعلام لتفصیل ما عُلِمَ ممّا قبله اجمالاً (۷) اعلام ما فی ضمیر المتکلم للمخاطب، وهوا الانسب هٰهُنَا او المعنی اللغوی، او تنبیه اصطلاحی په دوه مقاماتو کښ استعمالولے شی (۱) چه هغه حکم چه روسته د دے نه ذکروی هغه بدیهی وی، (۲) چه دا به د کلام سابق نه معلو میږی،

(۲) یرادف: صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده د باب مفاعله نه په لغت کښ تابع کیدل او رکوب احد خلف آخر، سوریدل د یو کس د بل کس نه، او په اصطلاح کښ توارد لفظین مفردین او الفاظ کذالك فی الدلالة علی الانفراد بحسب اصل الوضع علیٰ معنیً واحدٍ من جهةٍ واحدةٍ وسیجئ التفصیل فیه، (۳) یعم هم صیغه د واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده د (ن) باب نه په معنیٰ د شمول سره مند د خاص دے،

**تشریح:-** قوله فذالك الضمیر اما ان الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول دی جواب د سوال مقدر وته، خلاصه د سوال داده چه هر کله چه اضمار قبل الذکر مسئلی نه جواب وشو چه مرجع ضمنی ده چه تصور د مطلق دے په ضمن د تصور فقط کښ نو اصل په ارجاع د ضمیر کښ ارجاع د ضمیر ده مرجع صریحی ته نو ضمیر که راجع شی فقط ته نو خو مرجع به صریحی شی او بیا دا تعریف به د تصور فقط شی، ـه

ملنګه دوه کتی دِ او کړے ؛ یو دِ خیر تول که بل دِ او کړل دیدنونه

او خلاصه د جواب داده چه ضمیر راجع دے تصور مطلق ته ولے که ضمیر راجع شی تصور فقط ته نو بیا به تعریف مانع و نهٔ گرځی چه په کښ داخلیږی تصور مع الحکم یعنی مطلق تصور بلکه تصدیق هم ورکښ داخلیږی ځکه چه صدق د مقسم په اقسامو کښ ضروری وی، ځکه چه په دوئی کښ هم حصول الصورة [illegible] تعریف دِ صادق شوَ به غیر باندے او تعریف مانع

Maktaba Tul Ishaat.com

نهٔ کیدل باطل دی، نو کیدل د تعریف تعریف د تصور فقط هم باطل شو او ارجاع د ضمیر مرجع صریحي ته هم باطل شو او ارجاع د ضمیر مرجع ضمني ته حق پاتې شو.

سوال:- پس د ذکر دا مرینونه چه تصور فقط (مقید) او تصور مطلق دی، نو یا به قید د فقط ورسره معتبر وي یا به معتبر نهٔ وي، که معتبر وي نو حصر خو صحیح دے لیکن دا اعتبار د صحیح نهٔ دے، ځکه چه د لته خلور شیان دی (۱) مقید من حیث هو (۲) قید (۳) مطلق من حیث هو (۴) مجموع (معجون مرکب، نو د بطلان د ثانی نه بطلان د اول نهٔ معلومیږی، یعنی که بطلان د مقید کوی پکار ده چه قید هم باطل کړی او مجموع مرکب هم باطل کړی، د هغه روسته بیا اعتبار او کړی، حالانکه د اسے نشی کیدے او که قید د فقط ورسره معتبر نه منی نو حصر د غیر صحیح شو، ځکه چه که قید د اعتبار ورسره ونکړی نو بیا خو مقید نشو مطلق شو، جواب په اعتبار د شق ثانی سره کوو په دے شان سره چه قید د فقط ته اعتبار نه ورکوو، نو چه قید د فقط معتبر نکړو نو مقید من حیث هو پاتے شو، پس ارجاع د ضمیر مقید ته باطله شوه او که ته وائے چه حصر نه صحیح کیږی نو مونږ وایو چه حصر صحیح دے او که ته وائے چه باطل خو دِ نکړو نو مونږ وایو چه اِحاله عن فهم المتعلم د لسے ده چه ارجاع د ضمیر مقید من حیث هُوَ ته صحیح نه شو نو مقید مع القید ته هم نشو، نو مجموع مرکب ته په طریق اولیٰ سره صحیح نهٔ شو.

سوال: د لته یو بل احتمال هم شته، چه ضمیر راجع شی علم ته نو کوم نقصان نهٔ جوړیږی، جواب دا دے چه بیا تعریف د علم کرځی کوم چه مقسم دے په مابین د قسمینو کښ چه (تصور او تصدیق دی) حالانکه مقسم مع التعریف مقدم وی په اقسامو باندے.

**قوله، وانما عرف مطلق التصور الخ** غرض د شارح په دے عبارت سره جواب د سوالیتو مقدر بنو دے، حاصل د سوال اول دا دے، چه کله چه دا تعریف ستاپه قول، د مطلق تصور دے کوم چه مرادف د علم دے او علم مقسم دے نو بیا خو تعریف مقسم سره جوړښت د تقسیم نه مخکښ را وړل پکار وو حالانکه ماتن د علم د دو قسمینو مینځ کښ تعریف راوړے دے کوم نه چه ظاهری طور دا معلومیږی چه دا تعریف صرف د تصور فقط دے نه د مطلق تصور او تا دا شق باطل کړے دے، او خلاصه د دویم سوال دا





ده چه مخکښ دوه شیان ذکر دی (۱) مطلق تصور (۲) تصور فقط نو دا مذکور الذکر تعریف به د تصور فقط تعریف وی ځکه چه دا مذکور صراحةً دے نه ده تصور مطلق ځکه چه هغه ضمنی طور ذکر دے، او مشهوره داده چه تعریف د مذکور صریحی کیږی نهٔ د ضمنی، شارح جواب ورکړو، خلاصه د جواب دا ده چه دا مذکور تعریف د تصور مطلق دے، او دے تعریف له فیما بین القسمین راوړلو کښ تنبیه (خبرداری) ورکړو چه په عرف د مناطقو کښ د تصور اطلاق لکه څرنګ په قسیم د تصدیق باندے کیږی، دغه شان په مرادف د علم باندے هم کیږی،

سوال، مطلق تصور مرادف د علم دے لکه شارح روسته تصریح کړیده، نو د مطلق تصور تعریف بعینه د علم تعریف دے پس اولاً د علم تقسیم کول او بیا مابین القسمین کښ د مطلق تصور تعریف کول لوکښ څه فائده پاتے نهٔ شوه،

جواب[1]:- په دے ترتیب کذا ئی سره اشاره ده دے خبرے ته چه د بیان الحاجة (الی المنطق) په سلسله کښ اصل شئ تقسیم د علم دے تصور او تصدیق نه تعریف کول ځکه چه تعریف بوجهٍ مّا مخکښ نه معلوم شویدے، جواب[2] په دے ترتیب کذائی سره اشاره او تنبیه ده دے خبرے ته چه مرادفت د مطلق تصور او د علم معلوم شی کما صرّح به الشارح بقوله تنبیها علیٰ انّ التصور کما یطلق الخ سوال: تصور فقط او تصور مع الحکم طرف ته د علم تقسیم کول پخپله په دے دلالت کوی چه تصور دواړو قسمو نو په مینځ کښ امر مشترک دے په دے شان سره چه تصور د حکم سره مقترن وی او کله د عدم حکم لحاظ ورکړی وی نو د علم او د تصور مرادفت د دے تقسیم نه پخپله معلومیدو د مطلق تصور تعریف کولو سره مرادفت ته اشاره کولو ته څه ضرورت پاتے نهٔ شو،

جواب: خبره هم د لسے ده لیکن هرکله چه په دے دلالت سره د مرادفت غفلت امکان وو، نو ماتن رحمة الله د مطلق تصور تعریف ذکر کړو چه امکان د غفلت ختم او رفع شی، او د اد تصریح بما علم ضمناً د قبیلی نه شی،

**قوله، علیٰ ما یرادف العلم الخ** سوال: د یرادف او د یعم ضمیر مرجع شی واحد معلومیږی، چه کلمه د (ما) ده لیکن خبره د اسے نهٔ ده ولے چه د یعُمّ ضمیر خو د کلمهٔ "ما" طرف ته راجع کیږی، ځکه چه مرادفت د لفظ تصور صفت دے، نهٔ چه په دے باندے لفظ تصور اطلاق کیږی،

بعض حضراتو د دے دا جواب کړیدے چه ترادف کوم چه د لفظ صفت دے رېره سره معنیٰ د دے دپاره متصف کیږی چه د لفظ او معنیٰ په مینځ کښ ملابست دے په دے باندے داو پلے کیدے شی، چه د ملابست د وجے نه د معنیٰ صفت سره لفظ متصف کول شائع او ذائع دی نه د دے عکس،

او بعض حضرات د عبارت توجیه دا سے کړیده، چه یرا د ف ضمیر لفظ تصوراً ته راجع دے، او مرجع محذوف دے، اے مایرادف بہِ التصور، لیکن په دے توجیه باندے انتفا ر د ضمائرو خا نخوا راځی، او مقصد هم نه واضح کیږی او علامه عصام الدینؒ وائی چه که داسے وے چه کلمه د ما وجه نه عبارت شی نو د ضمائرو انتشار ختمیږی، وَمَنْ تَوَهَّمَ اَنَّهٗ لَا حذف ایضًا علٰی هٰذا التوجیه فلیس محمودًا،

وَاَمَّا الْحُکْمُ فَهُوَ اِسْنَادُ اَمْرٍ اِلٰی آخَرَ اِیْجَابًا اَوْ سَلْبًا، وَالْاِیْجَابُ هُوَ اِیْقَاعُ النِّسْبَةِ وَالسَّلْبُ هُوَ اِنْتِزَاعُهَا فَاِذَا قُلْنَا الْاِنْسَانُ کَاتِبٌ اَوْ لَیْسَ بِکَاتِبٍ فَقَدْ اَسْنَدْنَا الْکَاتِبَ اِلَی الْاِنْسَانِ وَاَوْقَعْنَا نِسْبَةَ ثُبُوْتِ الْکِتَابَةِ اِلَیْهِ وَهُوَ الْاِیْجَابُ اَوْ رَفَعْنَا نِسْبَةَ ثُبُوْتِ الْکِتَابَةِ عَنْهُ وَهُوَ السَّلْبُ فَلَابُدَّ هٰهُنَا اَنْ تُدْرِكَ اَوَّلًا الْاِنْسَانَ ثُمَّ مَفْهُوْمَ الْکَاتِبِ ثُمَّ نِسْبَةَ ثُبُوْتِ الْکِتَابَةِ اِلَی الْاِنْسَانِ ثُمَّ وُقُوْعُ تِلْكَ النِّسْبَةِ اَوْ لَاوُقُوْعُهَا فَاِدْرَاكُ الْاِنْسَانِ هُوَ تَصَوُّرُ الْمَحْکُوْمِ عَلَیْهِ وَالْاِنْسَانُ الْمُتَصَوَّرُ مَحْکُوْمٌ عَلَیْهِ وَاِدْرَاكُ الْکَاتِبِ هُوَ تَصَوُّرُ الْمَحْکُوْمِ بِهٖ وَالْکَاتِبُ الْمُتَصَوَّرُ مَحْکُوْمٌ بِهٖ وَاِدْرَاكُ نِسْبَةِ ثُبُوْتِ الْکِتَابَةِ اَوْ لَا ثُبُوْتِهَا هُوَ تَصَوُّرُ النِّسْبَةِ الْحُکْمِیَّةِ وَاِدْرَاكُ وُقُوْعِ النِّسْبَةِ اَوْ لَاوُقُوْعِهَا بِمَعْنٰی اِدْرَاكِ اَنَّ النِّسْبَةَ وَاقِعَةٌ اَوْ لَیْسَتْ بِوَاقِعَةٍ هُوَ الْحُکْمُ وَرُبَّمَا یَحْصُلُ اِدْرَاكُ النِّسْبَةِ الْحُکْمِیَّةِ بِدُوْنِ الْحُکْمِ کَمَنْ شَكَّ اَوْ تَوَهَّمَهَا فَاِذَا الشَّكُّ فِی النِّسْبَةِ اَوْ تَوَهُّمُهَا بِدُوْنِ تَصَوُّرِهَا مُحَالٌ لٰکِنَّ التَّصْدِیْقَ لَا یَحْصُلُ مَالَمْ یَحْصُلِ الْحُکْمُ،

**ترجمه** :- "بهرحال" هرچه حکم دے پس نسبت دیو امر (محمول تالی کول دی بل امر (موضوع مقدم) ته ایجابًا یا سلبًا (رشته والی یا په نتوالے سره) او "ایجاب" نسبت واقع کولو (او سلب) نسبت ایستل (ختمولو) ته وائی، پس کله چه مونږ اووا یو "الانسانُ کاتبٌ او لیس بکاتبٍ" نو مونږ د



کاتب نسبت انسان ته وکړو، او نسبت د ثبوت د کتابت صو د دے ته واقع کړو او دا ایجاب دے، یا د دے (انسان) نه نسبت د ثبوت د کاتب مولرے کړو او دا سلب دے پس دلته دا ضروری دی چه اول دا انسان ادراک وکړے شی بیا د کاتب د مخلی او بیا د ثبوت د کاتب انسان ته یا د دے نسبت واقع کیدل یا نهٔ واقع کیدل نو دا انسان ادراک تصور د محکومٌ علیه دے او کاتب محکوم به دے، او ادراک د نسبت د ثبوت د کاتب او یا عدم ثبوت نو دا تصور د حکمیه دے او ادراک د وقوع د نسبت یا عدم په دے معنیٰ سره چه نسبت واقع دے او یا واقع نهٔ دے نو دا حکم دے او ډیر ځلے نسبت حکمیه ادراک د حکم نه بغیر حاصلیږی لکه هغه کس چه په نسبت کښ شك وکړی او یا وهم وکړی ځکه چه په نسبت کښ شك یا وهم کیدل بی د تصور د دے (نسبت حکمیه) نه محال دے لیکن تصدیق تر هغه وخته پورے نه حاصلیږی چه تر څو حکم حاصل وی،

**توضیح اللغات** :- (۱) اسناد مصدر دے د باب افعال نه په لغت کښ منسوب او نسبت کولو ته وائی یقال اسند الحدیث الی قائلِه اے رفعهٗ الیه و نسبهٗ، او په اصطلاح کښ ضم کلمةٍ الی اُخرٰی علٰی وجهٍ یفید معنیٰ تامًا (۲) انتزاع: مصدر دے د باب انفعال نه په معنیٰ د منع کول او د بیخه ویستلو سره راځی،

(۳) تشك، شك د (ن) نه په لغت کښ التباس (خلطول) تردد ته وائی، او په اصطلاح کښ ئے مختلف تعریفونه شوی دی (۱) تجویز الامرین لامزیة لاحدهما علی الاخر (۲) اعتدال النقیضین عند الانسان وتساویهما، او شك یو قسم د جهل نه دے او خاص دے د جهل نه ځکه چه جهل کله په عدم العلم بالنقیضین سره وی، فکل شكٍّ جهل ولا عکس، او شك سبب د ریب دے گویا چه اول شك راځی بیا ریب یقال شك مریب ولا یقال ریبٌ مشککٌ، والریب مالم یبلغ درجة الیقین فکلُّ ریبٍ شكٌّ ولا عکس، (۴) توهم وهم د (ض، س) نه په لغت کښ غلطیدل او سهو کیدل ته وائی، او په اصطلاح کښ د دے هم مختلف تعریفونه شویدی (۱) مایقع فی الذهن من الخاطر (۲) الاعتقاد المرجوح، (۳) ادراك المعنی الجزئی المتعلق بالمعنی المحسوس،

**فائدة** "فی الفرق بین الشكِّ والوهمِ والظنِّ والتقلید والجهلِ المرکب والیقین" لانَّ مایحصل فی الذهنِ لا یخلو من ان یکونَ طرف الوقوع واللاوقوع علی السویّة او یکون احد الطرفین راجحًا والآخر مرجوحًا فان کان الاوّل

Maktaba Tul Ishaat.com

فهوالشك، فان كان الثانى فالطرف المرجوح يسمّٰى وهمًا، والطرف الراجح ان قارن امكان المرجوح يسمّٰى ظنًا، وان قارنَ امتناعَهُ فلا يخلوا امّا ان يزيله بتشكيك المشكك اولا، فالاول يسمّٰى تقليدًا والثانى ان يطابق الواقعَ يسمّٰى يقينًا، وان لم يطابق يسمّٰى جهلًا مركبًا، "التمات علىٰ هامش التعريفات"

تشريح :- قوله واما الحكم فهواسناد الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول دی پو څو اغراضو ته (۱) تفصيل د مقام (۲) تشريح د حکم په ايراد دا مثلو سره (۳) تقسيم د حکم دے قسمونو ته، چه يو حکم ايجابي دے اوبل سلبي دے (۴) فرق په مابين د تصديق او قضيه کښ،

پس زده کړه دا خبره چه حکم د (ن) باب نه په لغت کښ قضاء، فيصله او پو هي سره راځي، او په اصطلاح کښ ئے مختلف تعريفات شويدي، (۱) اهل عربيت د حکم معنیٰ کوی په "النسبة الكلامية" سره کوم چه د کلام نه مفهوميږي يعني ثبوت د محکوم به د محکومٌ عليه لپاره، او انتفاء د محکومٌ به د محکومٌ عليه (۲) په نيز د فقهيا نو حکم عبارت دے، د خطاب الله تعالىٰ المتعلق بافعال المکلفين (۳) ماثبت بالخطاب، يعني حکم هغه اموراو صفتونو ته وائي چه هغه مرتب وی په خطاب د الله تعالىٰ باندے، لکه وجوب، فرضيت او حرمت، وغير ذالك، (۴) الاثر المرتب على العقود والفسوخ، كملك الرقبة او المتعة، او المنفعة المرتب على فعل المكلف و هوالثواب، او په فن منطق کښ د حکم اطلاق په پنځه معانيو باندے کيږي (۱) نسبت تام خبريه کوم چه د قضي جزوي (۲) محمول يعني محکوم به دا هم د قضي جزوي (۳) موضوع يعني محکوم عليه دا هم د قضی جزوی، قال الچلپي فى حاشية المطول، فى بحث التأكيد اطلاق الحکم على المحکوم به متعارف عند النحاة کا طلاقه على المحکوم عليه انتهى، (۴) نفس قضيه په دے حيثيت سره چه دا په نسبت ايجابي يا سلبي باندے مشتمله وی، چه هغه سره ربط د محمول راځي د موضوع سره (۵) ادراك د وقوع نسبت يا لا وقوع نسبت يعني اذعان کوم چه د حکماو په نيز عين تصديق دے، او س شارح و امّا الحکم فهوالخ سره دا خودل غواړي چه د تصديق تعريف کښ کوم حکم ذکر دے، نو دا ئی فهو اسنادٌ امرٍ الىٰ آخر الخ نو مراد په حکم سره په دے مقام کښ نسبت تام خبری دے لکه چه مصنف رحمهُ الله وويل، واما الحکم فهوالخ يعني حکم عبارت دے له نسبت ديو امر نه بل امر ته يا په



طريقے د ايقاع سره يعني د انسبت ديو امر به بل امر ته شوے وی په طريقه داثبات سره په دے سان سره چه دايوامر به ثابت کړے شوے وی بل يوامر ته اود ے ايقاع ته ايجاب (اثبات) هم وائی، او يا به دا نسبت ديوامر بل امر ته شوے وی خو ليکن په طريقه د انتزاع سره يعني چه دايوامر به سلب کړے شوے وی د بل امر نه، او دے انتزاع ته سلب (نفی) هم وائی، او په اسناد امر الىٰ آخر کښ امرين نه مراد دقضيي دواړه طرفين مراد دی د قضی حملي طرفينو ته محکوم عليه (موضوع) او محکوم به (محمول) ويلی شي او دقضی شرطي طرفينو ته مقدم او تالی ويلے شي (اسناد امرٍ نه مراد (طرف ثانی) دقضيه حمليه کښ محمول او شرطيه کښ تالی دے او الىٰ آمر اخرکښ دامرنه مراد طرف اول (موضوع او مقدم) دے پس موضوع يا مقدم ته د محمول يا د تالی اسناد کولو نوم حکم دے خواه که په طريقه د حمل او سلب سره وی، او که په طريقه د اتصال، انفصال، او سلب انفصال سره وی، د حملي حکم، مثال الانسان کاتبٌ، او حکم اتصالي شرطي لکه ان کانت الشمس طالعةً فالنهار موجودٌ، او حکم انفصال لکه هذا العدد اما زوج اوفردٌ، پس تعريف مذکور عام دے، د دے دواړو (حملي اتصالي، انفصالي) لره شامل دے، سوال مصنف رحمه الله اسنادٌ امرٍ او ويل نو اسناد شئ ئے و لے او نهٔ ويل حالانکه مراد دا مرنه هم دغه شئ دے جواب :- عام طور امر په ممکنا تو کښ استعماليږی، او شئ خو عام دے، ممکن ممتنع، او واجب درے واړو کښ استعماليږی، حالانکه د لته وجوب، يا امتنع معنی مناسب او درست نکوځی، سوال : څه وجه ده چه مصنف رحمه الله اسناد امرٍ الخ ئے او ويل، او اسنادُ لفظ ئے اونه ويل، حالانکه نسبت ديو لفظ بل لفظ ته مراد دے، جواب : امرٍ ئے وويل د پاره د دے چه په دے کښ لفظا يا معقوله هم داخل شي، که لفظ ئے ويلے وے نو بيا تعنا يا معقوله ترے خارج کيدل،

قوله فاذا قلنا الانسان کاتبٌ او ليس بکاتب الخ سوال مثال د مطابق نشو د ممثل سره، ځکه چه ممثل حکمِ ايجابي او حکم سلبي دے، او مثال خو نه حکم ايجابي دے او نهٔ حکمِ سلبي دے بلکه ترديد دے د دواړو ترمينځ، ځکه چه او راځي لپاره د ترديد، جواب دا اعتراض به تاهله کولو که او ليس بکاتبٍ عطف وے په الانسان کاتبٌ باندے بلکه دا عطف دے په کاتبٌ باندے نو تقدير د عبارت

راجع شوې چه الانسان کاتبٌ، او الانسان لیس بکاتبٍ، او دا مجموعه مقوله د تلنا شوه، **قوله**، فقد اسندنا الکاتبَ الخ سوال تفسیر د حکم دِ وکړو په اسندنا سره، بیا راسندنا تفسیر دِ وکړو په اوقعنا سره او دا غیر صحیح ده، ځکه چه اوقع نه دے مګر ایجاب دے، نو تعریف د حکم جامع نشو خپلو افرادو له، خارج شو ترے نه حکمِ سلبی، که ته وائې، چه حکم سلبی با لمقائسة ورنه معلومیږی نو مونږ وایو چه د انحکم دے، او همدغه شان رو ستنه مثال ذکرکول غیرصحیح دے، ۲ په تعریف د مثال راچه دا ذکر د جزئی دے پس دکلی نه لپاره د ایضاح ذکلی کلی نشو بلکه جزئی راغلو چه مثال دَے، جواب او اوقعنا معطوفة علیها ده او روستنه او رفعنا معطوف دَے بیا مجموعه معطوفة او معطوف تفسیر لپاره د اسندنا واقع کیږی نو تفسیر د حکم په اسندنا سره وشوا و تفسیر شامل شو ایجاب او سلب دواړو له، سوال، تفسیر د حکم په اسندنا سره شامل شو ایجاب او سلب ته لیکن دلته دا مثال اِبَا انکار کوی ځکه چه اسناد د کاتب انسان ته شوے دا حکم ایجابی دے او بیا هم حکم سلبی ورنه خارج دَے، جواب مراد د نسبت د کاتب نه انسان ته مطلق نسبت دے، عام دے نه که ایجابی وی او که سلبی وی، **قوله**، فلابدَّ ههُنا ان یدرکَ اوّلاً الخ غرض د شارح په دِے عبارت سره اشاره کول دی تمهید د فرق ته په مابین د تصدیق او قضیه کښ، پس ذده کړه دا خبره چه "الانسان کاتبٌ" کښ مثلاً خلور شیان ذهن ته راځی، (۱) انسان په اعتبار د افرادو سره (۲) مفهوم د کاتب (۳) نسبت د ثبوت د کتابت انسان ته (۴) دا نسبت د واقعی سره مطابق دے او که نه دَے، دوه روبی لفظی دی، او دوه روستنی غیر لفظی دی، د مزید وضاحت د پاره مونږ د دغه خلورو نو مونه ذکر کوو، (۱) ادراك د انسان، دے ته تصور د محکومٌ علیه او انسان ته پخپله محکومٌ علیه وئیلی شی (۲) ادراك د کاتب دِے ته تصور د محکوم به او کاتب ته په خپله محکومٌ به وئیلی شی (۳) ادراك د نسبت د ثبوت د کاتب او یا عدم ثبوت ته نو دے ته تصور د نسبت حکمیه وئیلی (۴) د نسبت واقع کیدل، او یا نه واقع کیدل په دے معنیٰ سره چه نسبت په نفس الامر کښ واقع دے او که نه نو دے ته حکم وئیلی شی، پس دا عبارت تو "فادراك الانسانِ" پورے بیان دا جزاء د تصدیق شو، فادراك الانسان نه روستو بیان د فرق دَے په مابین د تصدیق او د قضیه کښ په دے شان سره چه ادراك د انسان چه تعبیر



ترے نه کیدے شی په تصور د محکوم علیه سره، نو دا جز د تصدیق دے، او هغه انسان متصور چه تعبیر ترے نه کیدے شی په نفس محکوم علیه سره جز د قضیې دَے ځکه چه اول علم او ثانی معلوم دے، او همدغه شان ادراك د کاتب چه تعبیر ترے نه کیدے شی په تصور د محکوم به سره بل جزء د تصدیق شو، وعلٰی هٰذا القیاس جمیع اجزائه، سوال، "ان یدرك الانسان" با ندے سوال وارد یږی چه لے شارحه ته عمده ئی او چه خلاف په عبارت د عمده کښ واقع شی هغه له لابدی وی د نکتی څخه نو دلته څه نکته ده چه انسان د (موضوع) مفهوم مضاف الیه د وګرځو او کاتب (محمول) د مفهوم مضافٌ الیه دا وګرځو، جواب، "الانسانُ کاتبٌ" قضیه موجبه ده او په قضیه موجبه کښ اختلاف دے په مابین د محققینو او د مشهورینو ترمینځ، محققین وائی چه په قضیه موجبه کښ حکم په طبعیة، منطبقه علی الافراد وی، او مشهورین وائی، چه حکم په افرادو وی، نو شارح حکم په وصفِ عنوانی وکړو، چه دواړو ته شامل شی، که مفهوم الانسان ئے وئیلے وے چه مفهوم طبعیة ده نو مذهب د مشهورینو نه نهٔ شاملیدو،

تنبیه:- مونږ به تفصیل د مقام کښ وایو، چه دلته دوه مذهبه دی یو د مشهورینو دے، دوئی وائی چه په قضیه موجبه کښ حکم په افرادو وی ځکه چه دلیل دوئی دا پیش کوی چه محکوم علیه بالذات به هغه شئ وی، چه هغه ملتفتٌ علیه (مقصود) بالذات وی او ملتفَتٌ علیه بالذات خو افراد دی، نو محکومٌ علیه بالذات افراد شول، او دوئیم مذهب د محققینو دے دوئی چه په قضیه موجبه کښ حکم په طبعیة علی الافراد وی، ځکه چه په محکوم علیه بالذات هغه شئ وی چه هغه معلوم بالذات وی، او معلوم بالذات صرف طبعیة منطبقه علی الافراد ده، نو حکم هم په طبعیة منطبقه شو، خو حق مذهب د محققینو دے او دا به هله حق شی چه مونږ د مشهورینو مسلك ردکړو، په دے شان سره چه اولاً مونږ چه مدار د حکم په التفات دے بلکه مراد د حکم په معلومیت بالذات دے، او ثانیًا که او منو چه مدار د حکم په ملتفتٌ الیه بالذات دے، نو بیا هم دلیل مونږ د پاره کوځی، نه ستاسو لپاره ځکه چه ملتفت الیه بالذات هغه شئ وی چه باقی وی په بقاء د ذات خپل سره او دا نه ده مګر په طبعیت ده، او ثالثًا دا چه ملتفَتٌ علیه بالذات هغه شی وی

Maktaba Tul Ishaat.com

چه په دے کمال دنفس ناطقه وی ، اوکمال د نفس ناطقه په علم دکلیا توکښ وی نه د جزئیا توکښ ځکه چه علم یقینی دائم کلی په ادراك دکلیا توکښ وی نه په ادراك د جزئیاتوکښ،

**قوله،** وربما یحصل ادراك النسبة الخ غرض دشارح په دے عبارت سره د نسبت حکمیه اود حکم ترمینځ فرق کول دی او ردکول دی، په هغه چا چه هغوی دے دواړو ترمینځ فرق نه منی "بالفاظ دیگر" غرض دشارح په دے عبارت سره، جواب کول دی دسوال مقدرنه، خلاصه دسوال داده، چه نسبت حکمیه او حکم خو دواړه شیٔ واحد دی تا دا دواړه مستقل جدا جدا اجزاء د تصدیق ولے وګرځول جواب پو هه شه چه ادراك دانسان (موضوع) او ادراك دکاتب (محمول) او ادراك دنسبة (کوم چه د دے دواړو په مابین کښ وی) د دے درے واړو په ادراك کښ امتیاز او مغائرت (فرق) بالکل ښکاره دے د دے وجه نه بیان ته ضرورت نهٔ لری، (البته خفاء او التباس که دے نو خاص د نسبت حکمیه او د حکم په مابین کښ دے هم د دے خفاء په وجه حکماء په تصدیق کښ د تصور نسبت نه منکر دی، او دوئی اجزاء د قضیے په دریو کښ منحصر کړیدی، نو ځکه شارح په (ربما یحصل) سره د دے دواړو ترمینځ فرق په داسے طریقے سره ثابتوی چه کله داسے وی، چه د نسبت حکمیه ادراك بے د حکم نه، لکه دیو انسان چه په نسبت کښ شك یا وهم وی، نو په نسبت کښ شك یا وهم دلیل د دے خبرے دے چه هلته د نسبت حکمیه ادراك خو شته لیکن اذعان او حکم نه ملاویږی، د دے وجے دا تصدیق نشی کیدے فبین ادراك النسبة ووقوع الحکم عموم وخصوص مطلق لوجود الادراك فی الشك والوهم بدون الحُکم،

**قوله،** لکنّ التصدیق لا یحصل بدون الحکم الخ غرض دشارح په دے عبارت سره اشاره کول دی، دفع دیو وهم ته، چه دا وهم ناشی دے د کلام سابق نه، او خلاصه دوهم داده، چه شارح وویل چه "وربما یحصل الخ یعنی دیر کرته ادراك د نسبة حکمیه وی، او حکم نهٔ وی، نو وا هم وائی چه تصدیق به هم داسے وی، او حال دا دے چه حکم په جز د تصدیق دے په رائی د امام نو انتفاء د جزء چه حکم دے مستلزم وی د انتفاء د کل لره نو تصدیق به منتفی شی، او په رائی د حکیم حکم عین تصدیق دے نو انتفاء د احد العینین مستلزم ده انتفاء د عین آخر لره نو شارح دا توهم دفع کړو حیث قال، لکن التصدیق لا یحصل الخ



وَعِنْدَ مُتَأَخِّرِی الْمَنْطِقِیِّیْنَ اَنَّ الْحُکْمَ اَیْ اِیْقَاعُ النِّسْبَةِ اَوْ اِنْتِزَاعُهَا مِنْ اَفْعَالِ النَّفْسِ فَلَا یَکُوْنُ اِدْرَاکًا لِاَنَّ الْاِدْرَاکَ اِنْفِعَالٌ وَالْفِعْلُ لَا یَکُوْنُ اِنْفِعَالًا فَلَوْ قُلْنَا اِنَّ الْحُکْمَ اِدْرَاکٌ یَکُوْنُ التَّصْدِیْقُ مَجْمُوْعَ التَّصَوُّرَاتِ الْاَرْبَعَةِ تَصَوُّرُ الْمَحْکُوْمِ عَلَیْهِ وَتَصَوُّرُ الْمَحْکُوْمِ بِهٖ وَتَصَوُّرُ النِّسْبَةِ الْحُکْمِیَّةِ، وَالتَّصَوُّرُ الَّذِیْ هُوَ الْحُکْمُ وَاِنْ قُلْنَا اِنَّهٗ لَیْسَ بِاِدْرَاکٍ یَکُوْنُ التَّصْدِیْقُ مَجْمُوْعَ التَّصَوُّرَاتِ الثَّلٰثِ وَالْحُکْمِ عَلٰی رَاْیِ الْاِمَامِ وَاَمَّا عَلٰی رَاْیِ الْحُکَمَاءِ فَالتَّصْدِیْقُ هُوَ الْحُکْمُ فَقَطْ،

**ترجمه:-** (۱)- او په نیز د متأخرین مناطقو حکم یعنی نسبت واقع کول او نفی کول لرے کول دنفس دافعالو څخه یو فعل دے پس دا ادراك نشی کیدے، ځکه چه دا ادراك انفعال دے او فعل انفعال نشی کیدے پس که مونږ او وایو چه حکم ادراك دے نو په دے صورت کښ تصدیق د څلورو تصوراتو مجموعه ګرځی، یعنی (۱) تصور د محکوم علیه (۲) تصور د محکوم به (۳) تصور د نسبت حکمیه (۴) او هغه تصور چه هغه حکم دے، او که مونږ دا او وایو چه حکم ادراك نهٔ دے نو تصدیق د درے تصوراتو او د حکم مجموعے نه (عبارت ګرځی) دا د امام رازی په رائی موافق دے او حکماؤ د رأی مطابق تصدیق صرف حکم دے،

**توضیح[۲] اللغات:-** (۱) النقس که د (ن) باب نه شی، نو به معنیٰ د اصابة العین سره راځی او که د (س) باب نه شی نو بیا په معنیٰ د نفاس د ښځی سره راځی او که د (ك) باب نه شی، نو بیا په معنیٰ د عظیم القیمة سره راځی، او په اصطلاح کښ هی الجوهر البخاری اللطیف الحامل لقوة الحیاة والحس و الارادة (تعریفات)

(۲) الجوهر المفارق عن المادة فی ذاته دون فعله "کشاف الاصطلاحات"

(۲) الفعال (۱) هو التأثر وقبول الاثر (۲) کون الشئ متأثرا کالمنقطع مادام منقطعا (۳) هو التأثر و حصول صورة الشئ فی النفس (۳) الفعل، هو الهیئة العارضة للمؤثر فی غیره بسبب التأثیر اولا کالهیئة الحاصلة للقاطع بسبب کونه قاطعا (۲) عبارة عن التأثیر دے ته مقوله د أن یفعل هم وائی لکه چه انفعال ته مقوله د أن ینفعل دویلے شی (۳) رأی، لید لو ته وائی، او دلته نوے مراد اعتقاد، نظر او مسلك دے، وعند الاصولیین، استنباط الاحکام الشرعیة فی ضوء قواعد متفق رأیا،

## "کشف السقم عن اختلافات الحکم"[۲]

**تشریح:**۔ زده کړه دا خبره چه په مابین د متقدمینو او متأخرینو کښې غلور اختلافه دی، (۱) اختلاف په نفس تصور او تصدیق کښې دے، په دے شان سره چه دا دواړه متحدان دی او که متباثنان، او دوئیم اختلاف په بیان د تصور کښې دے، او دریئیم اختلاف په مقوله د حکم کښې دے، او څلورم په بیان د اجزاء د قضیې کښې دے،

**تفصیل المقام:**۔ اول اختلاف په نفس تصور او تصدیق کښې دے په دے شان سره چه متقدمین وائی، چه تصور او تصدیق نوعین متباثنین دی په اعتبار د ذات سره په دے شان سره، چه د تصور ذات جدا دے او د تصدیق ذات جدا دے، تصور جدا نوعه ده لپاره د علم او تصدیق جدا نوعه لپاره د علم او ددوئ دلیل دا دے چه هر واحد د تصور او تصدیق لره لوازم مختلفه دی او هر هغه شیئین چه د هغوی په لوازمو تباثن وی نو په ملزومو تو ددوئ کښې به هم تباین وی، هرچه صغرٰی ده یعنی دوئ لره لوازم مختلفه څنګه دی؟ ځکه چه لازم د تصور سره عموم التعلق دے، او لازم د تصدیق سره خصوص التعلق دے، او په مابین د عموم التعلق او خصوص التعلق کښې تباین دے، او هرچه کبرٰی ده یعنی دا چه لازمه ده چه په مابین د لوازموکښې تباثن وی نو په مابین د ملزوماتوکښې به هم تباین وی، ولې که د تباین د لوازمو سره تباین د ملزوماتو رانشی نو یا به لازم شی اجتماع د نقیضینو او یا به احد اللازم لازم نشی، فالتالی بکلا الشقین باطل دے نو مقدم ئې مثل شو، هرچه وجه د ملازمه ده، ځکه چه که دغه ملزمینوکښې اتحاد راشی نو هغه لازمین خالی نه وائی، یا به دواړه راوړے او یا به احدهما راوړی او اخر به نۀ راوړے بنا په اول لازمیږی اجتماع النقیضین او بنا په دوئیم باندے لازم به لازم نشی او متأخرین حضرات وائی چه په مابین د تصور او د تصدیق کښې اتحاد ذاتی دے ځکه چه دا دواړه اقسام د حصول دی، او په مابین د اقسامُ د حصول کښې اتحاد ذاتی دی، هرچه صغرٰی ده ځکه چه دا دواړه اقسام د حصولی دی او هغه مفسر دے په حصول سره او هرچه کبرٰی ده ځکه چه حصول معنٰی مصدری ده او په افرادو د معنٰی مصدری کښې اتحاد ذاتی وی، او هرچه دا خبره ده[۵] چه



افراد د معنٰی مصدری متحد بالذات دی، ځکه چه معنٰی مصدری په نسبت سره ماتحت ته نوع وی او جنس نه وی، ولے که جنس شی نو د جنس لاقدے انواع وی، او نوع خو موجود فی الخارج وی، نو جنس د موجود به هم موجود فی الخارج وی، او سره د دے خبرے نه چه معنٰی مصدری موجود فی الخارج نه ده، او هرکله چه نوع شو نو د نوع لاندے خو څلور قسمه افراد دی، (۱) افراد فردیه په قید ار تقید دواړو داخل دی (۲) افراد شخصیه، لکه زید، عمر، بکر، شو، (۳) افراد صنفیه لکه انسان رومي شو، (۴) افراد حصصیه چه قید او تقید دواړه خارج وی د عنوان کلی نه لیکن تقید عارض وی، نو افراد د معنٰی مصدری نشی کیدے ځکه چه افراد فردیه په حقیقت کښې افراد نه وی د وجه د عدم صحت د حمل د کلی نه په دوئ باندے، او افراد شخصیه او حقیقیه هم نه دی ځکه چه هر واحد د افرادِ کذائیه ؤ نه موجود وی، او معنٰی مصدری خو نشی موجودیدلے په خارج کښې نو بالضرورة افراد د معنٰی مصدری حصص شو او په مابین د افراد حصصیو کښې اتحاد ذاتی وی ځکه چه ذات د تولو هغه کلی وی تغیر دیو بل نه راځی په اعتبار د عروض د تقید سره، او متأخرین اعتراض کوی په متقدمینو باندے په دے شان سره چه نه منو چه په مابین د تصور او د تصدیق کښې تباین دے بلکه اتحاد دے، ځکه چه هر واحد د تصور او تصدیق لره لوازم متحده وی نو په مابین د ملزماتو کښې به هم اتحاد وی هرچه دا خبره چه دوئ لره لوازم متحده څنګه دی ځکه چه لازم د تصور سره هم انکشاف دے او لازم د تصدیق سره هم انکشاف دے، مونږ د متقدمینو له اړخه جواب کوؤ چه اتحاد د لازمینو چه مستلزم دے اتحاد د ملزومینو لره دا به هله وی چه تحقق د لوازمو مستلزم وی تحقق د ملزوماتو لره، لکنّ التالی باطل فالمقدم مثلهٗ، هرچه بطلان د تالی دے، ځکه چه حرارة لازم د شمس سره هم دے د نار (اور) سره هم لازم دے او سره د دے نه چه په شبه کښې اور بل کړی نو حرارت ور سره وی، او شمس ور سره نه وی، نو هرکله چه تحقق د لوازمو مستلزم نۀ شو تحقق د ملزوماتو لره نو اتحاد د لوازمو مستلزم نۀ شو اتحاد د ملزوماتو لره فقط، وفی التّلم وهما نوعان متباینان من الادراك،

او دوئیم[۲] اختلاف د متقدمینو او د متأخرینو په تعلق د تصور کښې دے په دے شان سره چه متقدمین حضرات وائی، چه متعلق د تصور اعم مطلق

دے ځکه چه تصور هم تر مفرداتو پورے تعلق نیسي، او هم تر نسبت تقیدي پورے او هم تر نسبت تام خبري پورے تعلق نیسي او متعلق د تصدیق اخص مطلق دے په دے شان سره چه تصدیق تر نسبت تام خبرے پورے تعلق نیسي فقط، نو د متقدمینو په نزد په مابین د تصور او متعلق د تصدیق کښ نسبت د تباین او خصوص مطلق دے، او متاخرین حضرات وائي، چه په مابین د متعلق د تصور او په متعلق د تصدیق کښ نسبت د تباین کلي دے، په دے شان سره چه تصور تعلق نیسي تر مفرداتو او تر نسبت تقیدي فقط، او تصدیق تعلق نیسي تر وقوع د نسبت تقیدي پورے او تر وقوع د نسبت تقیدي پورے فقط، وفي السُّلَّم، لَا حَجْرَ فِي التَّصَوُّرِ فَيَتَعَلَّقُ بِكُلِّ شَيْءٍ، او دریم اختلاف د متقدمینو او د متاخرینو په مقوله د حکم کښ دے، په دے شان سره چه متقدمین وائي، چه حکم د ادراک او اذعان نوم دے او ادراک مقوله د انفعال یا د کیف نه دی، او متاخرین (امام رازي ابو علي سینا وغیره) وائي چه حکم عبارت دے د ایقاع او د انتزاع نه کوم چه د نفس یو فعل او د یے تاثیر دے، او حکم د ادراک نوم نه دے ځکه چه ادراک انفعال دے او فعل انفعال نشي کیدے لیکن قول محقق دا دے چه حکم د ادراک نه عبارت دے نه د نفس فعل نه ځکه چه په نسبت حملیه یا شرطیه کښ د تصور نه روستو مونږ ته ایقاع معلوم نه وي، بلکه ادراک معلوم وي پس معلوم شوه چه مذهب د متقدمین حق دے، او څلورم اختلاف د متقدمینو او د متاخرینو په اجزاؤ د قضیه کښ دے په دے شان سره چه متقدمین وائي چه اجزاء د قضیه درے دي (۱) محکوم علیه (۲) محکوم به (۳) نسبت تام خبري، او متاخرین وائي، چه اجزاء د قضیه څلور دي (۱) محکوم علیه (۲) محکوم به (۳) نسبت تقیدي (نسبت حکمیه (۳) وقوع د دغه نسبت یا عدم وقوع، قوله، فلا یکون ادراکا الخ دا مدعیٰ شوه او لان الادراک الخ دلیل د په نمط د قیاس اقتراني حملي، یا په قیاس اقتراني حملي کښ شکل ثاني دے ای الحکم من افعال النفس و لا یکون با دراک لان کل ادراک انفعال و لا شيء من الفعل انفعال، فلا شيء من الادراک بفعل و لا شيء من الفعل ادراک یعني د متاخرینو په نزد حکم د افعال نفسه و څخه یو فعل دے د دے وجه نه دا ادراک نشي کیدے ځکه چه ادراک انفعال دے او فعل انفعال نه وي، ځکه چه د فعل معنیٰ اثر کول او اثر موجودول دي، او د انفعال معنیٰ اثر اخستل او اثر قبلول دي، او دا بنکاره خبره ده



چه په دوئ کښ کوم یو په بل باندے نشي صادقیدے، لیکن د ادراک انفعال کیدل هله صحیح کیدے شي، چه دا ادراک معنیٰ او تفسیر په انتقاش النفس بالصورة الحاصلة من الشئ سره وکړے شي او که د ادراک معنیٰ په الصورة الحاصلة في النفس سره وکړے شي نو بیا ادراک نه د مقولے د فعل نه کیږي او نه د مقوله د انفعال نه کیدے شي، بلکه ادراک د مقوله د کیف نه صحیح کیږي،

قوله، فلو قلنا ان الحکم ادراک الخ زده کړه دا خبره چه په تصدیق کښ درے مذاهب دي اول مذهب د محققینو د حکماؤ دے او دوئ وائي چه تصدیق عبارت دے د کیفیة اذعانیه نه، او دویم مسلک د مشهورینو د حکماؤ دے دوئ وائي چه تصدیق عبارت دے د ادراک د نسبة نه بشرط التکیف بالاذعان او دریم مذهب د امام فخرالدین رازي دے، دے وائي چه تصدیق عبارت دے د تصورات ثلاثه مع الحکم نه پس تصدیق بسیط دے په نیز د حکماؤ او مرکب دے په نزد د امام رازي، پس یو هم شه په دے خبره باندے چه مذهب د امام رازي رحمه الله مرجوح (ضعیف) دے په څو وجوهو سره (۱) وجه دا ده چه مقصود د تقسیم د علم نه امتیاز د ما هو المکتسب دے من الحجة، او د ما هو المکتسب من المعرف دے او دا امتیاز نه راځي په مذهب د امام باندے ځکه چه که تصدیق مرکب شي د دغو امورو اربعو نه نو اذعان خو نظري دے او مکتسب دے د حجة څخه او په کل تصدیق کښ تصورات ثلاثه هم دي، نو تصورات هم مکتسب شول د حجت نه حالانکه تصورات مکتسب من المعرف دي نه مکتسب من الحجة او دویمه وجه دا ده چه که تصدیق مرکب شي د امورِ اربعو نه، نو دا اجزاءِ اربعه به خالي نه وي، یا به اجزاءِ ذهنیه وي او یا به اجزاءِ خارجیه وي که ذهنیه وي نو بیا قاعده په اجزاءِ ذهنیهٔ وکښ دا ده چه دوئ محمول کیږي په یو بل باندے او دوئ دارنګه نهٔ دي، او که اجزاء خارجیهٔ دي نو شئ حقیقةً د اجزاءِ خارجیهٔ نه مرکب کیږي نو په مابین د اجزاء کښ افتقار وي، او دوئ دارنګه نهٔ دي، او که اجزاءِ خارجیه غیر مفتقره ئي واخلې نو شي به تصدیق امرِ اعتباري، ځکه چه شئ مرکب شي د اجزاءِ غیرِ مفتقرو نه نو هغه امرِ اعتباري وي، او دریمه وجه دا ده چه که تصدیق مرکب شي د اجزاء اربعو نه نو حصریه را نشي د علمِ حصولي په تصور او تصدیق کښ ځکه چه اذعان چه مختلط شي د صورة د موضوع سره مثلاً نو دا تصدیق خو نه شو،

او دارنګه تصور به هم نشی، ځکه چه امام رازی رحمه الله ویلی دی چه اذعان یا شرط دپاره دتصدیق دَے او یا شطر دے، او غلورم(۳) وجه داده چه که تصدیق مرکب شی نو لازم به شی ترکیب دعلم حصولی یا دمطلق علم ځکه چه ترکیب دقسم مستلزم دے ترکیب دمقسم لره،

## "القول الاظهر فی توضیح العرض والجوهر"

مخکښ د مقولهٔ دفعل، انفعال او دکیف ذکر او شو او س ددوی معرفت ضروری دَ
پس پوهه شه چه شئ ممکن په دوه قسمه دے (۱) جوهر (۲) عرض، جوهر
هغه دَے چه قائم بالذات وی، او عرض هغه دے چه قائم بالغیر وی، پس
جوهر په پنځه قسمه دَے (۱) هیولیٰ، (۲) صورت (۳) جسم (۴) نفس ناطقه
(۵) عقل - پس هیولیٰ هغه جوهر دے چه محل وی لپاره د صورت جسمی، او
صورت هغه جوهر دَے چه حال وی په هیولیٰ کښ، او جسم هغه جوهر دَے
چه مرکب وی دهیولیٰ او صورت نه او نفس(۴) ناطقه هغه جوهر دے چه
مجرد وی د مادے څخه فی نفسه او مقارن وی د مادے سره فی فعلهٖ، او عقل(۵)
هغه جوهر دَے چه مجرد وی د مادے نه لذاتهٖ او فعله، او عرض په نهه(۹)
قسمه دَے (۱) فعل (۲) انفعال (۳) این (۴) متیٰ (۵) کم (۶) کیف (۷) وضع
(۸) ملک (۹) اضافت، پس(۱) فعل هغه حالت دے چه حاصلیږی په سبب د تاثیر
دده سره په غیر کښ، او انفعال هغه حالت دے چه حاصلیږی شی ته په
سبب دقبول د تاثیر سره د غیر نه او دریم(۳) این هغه حالت دے چه حاصلیږی
شی ته په سبب د حصول دهغه سره په مکان کښ او غلورم(۴) متیٰ هغه حالت
دَے چه عارض وی شی ته په سبب دحصول دهغه سره په زمان کښ، او
کم(۵) هغه عرض دَے چه قابل دقسمت وی لذاتهٖ او کم په دوه(۲) قسمه دے
(۱) متصل چه په مابین داقسا موکښ حد مشترک وی (یعنی نقطه) (۲) منفصل
چه په مابین داقسا موکښ حد مشترک نهٔ وی، لکه عدد شوٴ بیا کم متصل
په دوه(۲) قسمه دَے یو(۱) قارالذات دَے، لکه خط او سطح او بل(۲) غیر قار الذات
لکه زمانه شوه، او کیف(۶) هغه عرض دے چه لذاته تقاضا نه کوی دقسمت
او دنسبت، او کیف په دوه(۲) قسمه دے (۱) جسمانی او (۲) نفسانی، بیا جسمانی په
دوه(۲) قسمه دَے یو(۱) راسخ او بل(۲) غیر راسخ، راسخ هغه دَے چه زائله کیږی به



سره، لکه حمرة الخجل او صفرة الوجل شو، او نفسانی هم په دوه(۲)
قسمه دے یو(۱) راسخ او بل(۲) غیر راسخ، راسخ ملکه ته وائی لکه کتابت شو پس
د زده کولو نه، او غیر راسخ هغه حالت ته وائی لکه کتابت شو په ابتداء د خلقت کښ
او وضع(۷) هغه هیئت دَے چه عارض وی شی ته په نسبت د بعض اجزاؤ بعضو ته
او ملک(۸) هغه هیئت دَے چه عارض وی شی ته په اشتمال دشئ آخر سره په دے
باندے لکه اشتمال د ثوب (جامه) شو په بدن باندے، او اضافت عبارت
دے د نسبت نه په د شیئنو کښ په نسبت د غیر سره،

## "الاجناس العالیه"




Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْفَرْقُ بَيْنَهُمَا مِنْ وجوهٍ اَحَدُهَا اَنَّ التَّصْدِيْقَ بَسِيْطٌ عَلٰى مَذْهَبِ الْحُكَمَاءِ وَمُرَكَّبٌ عَلٰى رَأْيِ الْاِمَامِ وَثَانِيْهَا اَنَّ تَصَوُّرُ الطَّرَفَيْنِ وَالنِّسْبَةِ شَرْطٌ لِلتَّصْدِيْقِ خَارِجٌ عَنْهُ عَلٰى قَوْلِهِمْ، وَشَطْرُهُ الدَّاخِلُ فِيْهِ عَلٰى قَوْلِهِ، وَثَالِثُهَا اَنَّ الْحُكْمَ نَفْسُ التَّصْدِيْقِ عَلٰى زَعْمِهِمْ وَجُزْؤُهُ الدَّاخِلُ عَلٰى زَعْمِهِ،

**ترجمه**:- او د دے دواړو په (مسلك دامام او په مسلك دحكيم) مینځ کښې په څو وجو سره فرق دے (۱) تصدیق د حکماؤ مذهب مطابق بسیط دے.
او دامام رازی رحمه الله د رای مطابق مرکب دے (۲) طرفین او د نسبت تصور، تصدیق لپاره شرط او د دے "حقیقت" نه خارج دے په نزد د حکماؤ باندے او د تصدیق شطر (رکن) او په دے کښې داخل دے په نزد امام، (۳) د حکماؤ قول مطابق، حکم نفس تصدیق دے او د قول دامام مطابق حکم جزء داخل دے (د څلورو اجزاؤ څخه)

**توضیح اللغات**:- (۱) بسیط، صیغه د صفت مشبه ده د (ن) نه په معنی د (نثر) او کولاوولو، او د (ك) نه په معنی د پیر قیدل، خلیدل، او بسیط په اصطلاح کښې ضد د مرکب دے، کما سیجیئ، (۲) حکماء، جمع د حکیم ده او دا هم صفت مشبه صیغه ده د (ن) نه په معنی د فیصلے سره او د (ك) نه حکیم کیدلو سره او په اصطلاح کښې اطلاق کیږی (۱) په فیلسوف (۲) صاحب علم الحکمة، (۳) صاحب الحجة القطعیة (۴) الطبیب- و فی کشاف الاصطلاحات ص۱۰۲،
اِعلم اَنَّ السَّعادَةَ العظمٰی و المرتبة العلیا للنفس الناطقة هی معرفة الصانِع تعالٰی بمالِه من صفات الکمالِ و التنزه عن النقصانِ و بما صدر عنهُ من الآثارِ والافعال فی النشأة الاولٰی والاخرةِ والطریق الی هذهِ المعرفةِ من وجهین، الاوّلُ طریقة اهل النظر و الاستدلال و سالکوها ان اتبعوا ملةً مِن مِلَلِ الانبیاء علیهم الصَّلوٰة و السّلام فهم المتکلمون، و الّا فهُمُ الحکما المشائیون لقبوا بذالك لانهم کانوا مشائیین فی رکاب افلاطون متعلمین منه العلم والحکمة بطریق المباحثةِ، والثانی طریق اهل الرّیاضةِ و المجاهدةِ و سالکوها انْ وافقوا ریاضتهم الشریعة فهم الصُّوفیة المتشرعُوْنَ، وَاِلَّا فهم الْحُکَمَاء الاشراقیون، لقبوا بذالكَ، لانهم هم الذین اشرقت بواطنهم الصافیة بالرّیاضةِ وَالمجاهدةِ من باطِنِ افلاطون، (۳) شرط د (ن، ض) نه په معنی





دعلامة سره قال تعالٰی "فقد جاءَ اشراطُها" او په اصطلاح کښې مایتوقف علیه وجود الشئ ویکون خارجًا عنهُ ته وائی، و فی کشاف الاصطلاحات، ص۱۰۳، وینقسم الشرط الی عقلی و شرعیٍ وعادیٍ و لغویٍ، و اما العقلی فکالحیوٰة للعلمِ واما الشرعی، فکالطهارَة للصلوٰةِ، و اما العادی، فکالنطفة فی الرَّحِمِ للولادة واما اللغوی فمثل قولنا ان دخلت الدار، من قولِنَا انتِ طالِقٌ ان دخلت الدار او رکن په لغت کښې جزء ته وائی، او په اصطلاح کښې مایتوقف علیه وجود الشئ ویکون داخِلاً فیه ته وائی، (۴) شطر، د (ن) نه په معنی د جزء، نصف الشئ او طرف سره راځی قال تعالٰی "فَوَلِّ وجهك شطر المسجد الحرام" و فی الحدیث الطهور شطر الایمانِ (۴) زعم د (ن) نه په معنی د گمان سره و اکثر ما یستعملُ الزعم فیما کان باطلا و فی اصطلاحات الجرجانی الزعم هوالقول بلا دلیل،

**تشریح**:- زده کړه داخبره چه په مابین د مذهب د حکماؤ کښې او په مابین د مذهب دامام فخرالدین کښې څه فرق نه دی، چه شارح ترینه صرف درے ذکرکړیدی (۱) فرق دادے چه تصدیق په مذهب د حکماؤ باندے بسیط دے (یعنی مرکب نهٔ دے صرف د حکم نوم دے) او په مذهب دامام رازی باندے مرکب (۲) فرق دادے چه تصورات ثلاثه شرط دی لپاره د تصدیق، یعنی حقیقت د تصدیق نه خارج دی په مذهب د حکماؤ باندے، او دا تصورات ثلاثه د تصدیق جزء دی یعنی په حقیقت د تصدیق کښې داخل دی په مذهب دامام رازی باندے او دریم (۳) فرق دادے چه حکم (اذعان)، نفس تصدیق دے په مذهب د حکماؤ باندے او حکم د تصدیق د څلورو اجزاؤ څخه یو جزء دے په مذهب دامام رازی باندے دادرے وجوه شارح ذکرکړیدی، او څلورم (۴) فرق دادے چه معلوم د تصدیق امر واحد فقط دے چه هغه د وقوع او لاوقوع دے په مذهب د حکماؤ او معلوم د تصدیق امور اربعه دی (۱) محکوم علیه (۲) محکوم به (۳) نسبت تقیدی (۴) وقوع النسبة او اللاوقوع په مذهب دامام رازی رحمة الله، او پنځم (۵) فرق دادے چه کاسب د تصدیق لپاره منحصر دے په حجت کښې فقط په نزد د حکماؤ، او کاسب د تصدیق کله حجت وی او کله معرف وی، په نیز دامام رازی باندے، او مذهب د حکماؤ حق دے، قاضی مبارك د سلم العلوم د دے عبارت "ان کان اعتقادًا للنِّسبَةِ" د لاندے وائی چه "اثرهَا ما اختار اهل التحقیق حیث جعل التصدیق نفس الحکمِ بمعنی الاعتقاد، او میرصاحب

الفرق بین الحکماء والامام الرازی ۲

یکلی چه "اقول هٰذا هوالحق" او مولانا عبدالحق مراد آبادی د مرقات په شرح کښ وائی "هٰذا هوالحق الحقیق بالقبول" او د امام رازی مسلك په خلورو وجوهاتو سره ضعیف دے لاکما مرت الوجوه"

**تنبیه:-** میر سید شریف رحمه الله وائی چه د ماتن رحمه الله دا ذکر شوے تقسیم په یو مذهب باندے هم صحیح نهٔ کرځی، ځکه چه د حکماؤ په نزد تصدیق تنها د حکم نوم دے نه د هغه تصور چه هغه سره حکم وی او د امام په نزد حکم جز د تصدیق (داخل د تصدیق) دے، او ماتن حکم د تصدیق نه خارج کړے دے، په مذهب د امام رازی باندے د تقسیم مذکور عدم انطباق تشریح داده چه ماتن چه څهٔ ذکر کړیدی د هغه حاصل دا دے چه د علم یو قسم هغه ادراك دے چه مجامع د حکم نهٔ دے ځکه قید د نقط د معه ځکمٌ په مقابله کښ دے، او دویم قسم هغه ادراك دے چه مجامع د حکم وی (۲) "لانّ الظاهر اَنْ یکونَ الظرف لغوًا" په دے باندے اعتراض واردیږی چه چه یواځے د محکومٌ علیه تصور یوادراك دے کوم چه مجامع د حکم دے لهٰذا دے ته تصدیق ویئل پکار دو او د قسم اول (تصور) نه خارج کول او په قسم ثانی (تصدیق) داخلول پکار دو هم دغه شان د محکوم به په تصور باندے هم دا خبره صادقیږی چه دا یو تصور دے مجامع د حکم دے نو دا دویم تصدیق شو، او هم دغه شان تصور نسبت حکمیه هم مقارن د حکم دے لهٰذا دا بل دریم تصدیق شو او مجموعه تصورات ثلاثه مقارن د حکم شی دا خلورم تصدیق شو او محکوم علیه او محکوم به د دواړو مجموعه د معیت د حکم په بناء پنځم تصدیق شو او د محکومٌ علیه او د نسبت حکمیه مجموعه دا شپږم تصدیق شو، او د محکوم به او د نسبت حکمیه مجموعه دا اووم (۶) تصدیق شو حاصل دا چه کله یو تصدیق مثلاً کل انسان کاتبٌ کښ مصنف ذکر کړه تعریف د تصدیق منطبق کړے نو په یو تصدیق کښ د اوو (۷) تصدیقونو جمع کیدل لازمیږی، او دا مذهب د امام رازی نه بالکل خلاف دے، ځکه چه په دے خو امام رازی هم قائل دے چه تصدیق یو دے او حکم په دیکښ داخل دے، او صرف دا نهٔ دے چه تقسیم مذکور د دواړو مذهبو نو باندے باندے غیر منطبق کرځی، بلکه که غور سره وکتلے شی نو دا تعریف او تقسیم فی نفسه غلط دے، ځکه چه د دے تفسیر، تعریف



مطابق تصدیق د قول شارح نهٔ حاصلیږی، او کوم حکم چه د دے مجامع دے هغه د حجت نه حاصل وی، او دا بالکل باطل دی ځکه چه د مناطقو په نزد دا ثابته شوی خبره ده چه موصل الی التصور قول شارح وی، او موصل الی التصدیق حجت دے،

ځنی حضرات د ماتن، د دے قول "او تصور معهٔ حکمٌ" دا توجیه کړیده چه د دے معیت نه معیت دائمه مراد دے نو تصور د محکومٌ علیه تصور د محکوم به او تصور د نسبت حکمیه کښ د هر یو تصدیق کیدل نهٔ لازمیږی، ځکه چه دا دائمی طور مقارن د حکم نه وی په دغه لحاظ سره تقسیم د ماتن د امام رازی په مذهب باندے منطبق کیږی، بعضو توجیه دا سے کړیده چه دلته د مجامعت نه مراد مطلقه نه دے بلکه علیٰ وجهِ العروض مراد دے، او د تقسیم مطلب دا دے که چرے ادراك معروض حکم نه وی، نو قسمِ اول دے او که معروض حکم وی نو قسمِ ثانی دے په دے صورت کښ دا لازم نهٔ راځی چه یواځے د محکومٌ علیه یا د محکومٌ به تصور یا د دے مجموعے تصور یا په دے دواړو کښ دے یو تصور نسبت حکمیه سره تصدیق وی، او زیدٌ قائمٌ کښ اوو (۷) تصدیقونه جمع شی،

لیکن په دے صورت کښ تصوراتِ ثلاثه د مجموعے تصدیق کیدل لازِمُ راځی، ځکه چه تصوُّرات ثلاثه مجموعه ادراك دے چه معروض د حکم دے بلکه یواځے د نسبت ادراك نه تصدیق لازِم راځی ځکه چه حکم په حقیقت کښ هم دے ته عارض وی، او هم دغه شان په دے باندے دا هم لازم راځی، چه حکم د تصدیق نه خارج دے ځکه چه عارض د شئ خارج از شئ وی حالانکه دا سے نهٔ ده ځکه چه حکم خو عین تصدیق دے، سوال: ماتن د دے خبرے تصریح کړے ده چه د ادراك او حکم مجموعه مرکب تصدیق دے او هم دا بعینه د امام رازی مذهب دے، پس د ماتن په تقسیم باندے نهٔ خو تصدیق واحد الانسانُ کاتبٌ کښ اووه تصدیقونو جمع کیدل لازِم راغلے دی او نهٔ د حکم په دوئ کښ د هر یو نه خارج کیدل، حتّی یلزم عدمُ انطباقه علےٰ مذهب الامام، جواب تصریح مذکور قطعًا بے فائدے ده د دے وجه نه چه د تقسیم نه چه کوم قسم ثانی خارج دے، هغه ادراك دے چه مجامع حکم کیـ[illegible] نهٔ چه د دواړو مجموعه، اوس نچرے

Maktaba Tul Ishaat.com

د ماتن په نزد تصديق د علم قسم ثاني نوم وے نو د دے حال خو مخکښ معلوم شو چه دا په مذهبينو کښے په يو باندے هم نښې منطبق کيدے بلکه دا في نفسه هم غلط دے او کچرے ادراك او حکم د مجموعے نوم دے. لکه څنګه چه ده ويقال للمجموع تصديق، ورته د ښلے دے او تصريح ئے کړيده نو د تصديق علم تسم نهٔ شو بلکه د علم يو قسم او يو شي آخر (حکم) سره ملاو کولو سره مرکب شو، او دا باطل ده ځکه چه په دے باندے د تولو اتفاق دے چه تصديق د علم يو قسم، او اختلاف صرف په حقيقت د تصديق کښ دے نهٔ چه د دے قسم کيدو کښ پس د تقسيم منطبق کيدل خو لرے خبره ده هغه في نفسه هم صحيح پاتے نهٔ شو، او همد غه شان دا چه محکوم عليه او د حکم په تصور باندے دا خبره صادق ده چه هغه د ادراك او حکم مجموعه ده، نو لهذا دا يو تصديق به وی، هم د غه رنګ محکوم به او د حکم تصور دويم تصديق به وی او نسبت حکميه او د حکم تصور دريم تصديق به وی، او محکوم عليه او به تصورا تو مجموعه څلورم او محکوم عليه او نسبت حکميه مجموعه پنځم او د محکوم به او د نسبت حکميه تصوراتو مجموعه شپږم، او محکوم عليه او به د نسبت حکميه د تصوراتو مجموعه اووم تصديق به وی،

قوله، انَّ التصديقَ بسيط الخ د بسيط معنیٰ لغوی تحقيق مخکښ تير شويدے او په اصطلاح کښ مختلف معانی شويدی، اوّل ما لا جزءَ له اصلاً کالباری تعالیٰ والنقطة، او دے ته بسيط حقيقي وائی (۲) ما لا جزءَ له بالفعل، برابره خبره ده چه بالقوة ورله جزء وی، لکه خط، سطح، جسم تعليمي شو، او که نه وی لکه وحدة او نقطه شو، او دے ته بسيط عرفي وائی (۳)، ما لا يكون مركباً مِنْ اجسامٍ مختلفة الطبائع لکه جمله عناصر شو، دے ته هم بسيط عرفي وائی، (۴) اقل الاجزاء بالنسبة الى الآخر لکه قضيه حمليه چه اقلُّ الاجزاء ده، په نسبت د قضيه شرطيه، او دے ته بسيط اضافي وائی، "والنسب فيما بين المعاني في المطولات" او دلته مراد معاني بسيطو ثلاثو اخيرو څخه هر يو کيدے شي نه اول،

تنبيه :- شارح رحمهٔ الله د حکماؤ او د امام رازی رحمهٔ الله مسلکونو مطابق درے فرقونه ذکر کړيدی او ل فرق سره " علیٰ مذهب الحکماء علیٰ رأی الامام " الفاظ راوړيدی، او دويم[2] فرق سره "علیٰ قولهم علیٰ قوله" الفاظ راوړيدی، او دريم[3] فرق سره " علیٰ زعمهم .. علیٰ زعمه " الفاظ راوړيدی



د ابا خو تفنن في العبارت دے کوم چه دلالت کوی په فصاحت او بلاغت باندے او با غرض د شارح په دے تعبيرات مختلفو سره اشاره کول دی، مراتب ؤته په دے شان سره اول فرق قوی او ظاهر دے ځکه ئے په مذهب او رأی سره تعبير وکړو، او دويم[2] فرق متوسط دے ځکه ئے په قول سره ئے تعبير وکړو، او دريم[3] فرق خفي او ضعيف دے، ځکهٔ په زعم سره تعبير وکړو، والله عليم بذات الصدور

وَاعْلَمْ اَنَّ الْمَشْهُوْرَ فِيْمَا بَيْنَ الْقَوْمِ اَنَّ الْعِلْمَ اِمَّا تَصَوُّرٌ اَوْ تَصْدِيْقٌ وَالمصنّف عَدَلَ عَنْهُ اِلَى التَّصَوُّرِ السَّاذِجِ، وَاِلَى التَّصْدِيْقِ وَ سَبَبُ الْعُدُوْلِ وُرُوْدُ الْاِعْتِرَاضِ عَلَى التَّقْسِيْمِ الْمَشْهُوْرِ مِنْ وَجْهَيْنِ اَلْاَوَّلُ اَنَّ التَّقْسِيْمَ فَاسِدٌ لِاَنَّ اَحَدَ الْاَمْرَيْنِ لَازِمٌ وَ هُوَ اِمَّا اَنْ يَّكُوْنَ قِسْمُ الشَّيْءِ قَسِيْمًا لَهٗ اَوْ يَكُوْنَ قَسِيْمُ الشَّيْءِ قِسْمًا مِنْهُ وَهُمَا بَاطِلَانِ، وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ التَّصْدِيْقَ، اِنْ كَانَ عِبَارَةً عَنِ التَّصَوُّرِ مَعَ الْحُكْمِ، وَ التَّصَوُّرُ مَعَ الْحُكْمِ قِسْمٌ مِّنَ التَّصَوُّرِ الْوَاقِعِ وَقَدْ جُعِلَ فِي التَّقْسِيْمِ الْمَشْهُوْرِ قَسِيْمًا لَهٗ فَيَكُوْنُ قِسْمُ الشَّيْءِ قَسِيْمًا لَهٗ وَهُوَ الْاَمْرُ الْاَوَّلُ، وَاِنْ كَانَ عِبَارَةً عَنِ الْحُكْمِ وَالْحُكْمُ قَسِيْمُ التَّصَوُّرِ وَ قَدْ جُعِلَ فِي التَّقْسِيْمِ، قِسْمًا مِنَ الْعِلْمِ الَّذِيْ هُوَ نَفْسُ التَّصَوُّرِ فَيَكُوْنُ قَسِيْمُ الشَّيْءِ قِسْمًا مِنْهُ، وَهُوَ الْاَمْرُ الثَّانِيْ،

ترجمه :- او پوهه شه چه د مناطقه په نز د د علم مشهور تقسيم دا دے چه علم يا تصور دے او يا تصديق دے، او ماتن د دے نه تصور ساذج او تصديق طرف ته عدول کړے دے، د تقسيم مشهور نه د اعراض وجه دا ده، چه په د تقسيم مشهور باندے د دوؤ طرفونو نه اعتراض واقع کيدل دی، ورومبی دا چه دا تقسيم فاسد دے ځکه چه په دوؤ خبرو کښ يو ضرور لازميږی، يا خو د قسم د شی تقسيم د شی ګرځی او دا دواړه باطل دی، د دے دپاره که چرے د تصديق نه مراد تصور مع الحُکم وی، او د تصور مع الحکم چه په واقع کښ د تصور قسم دے، او تقسيم مشهور کښ هم دے لره د تصور قسيم ګنړلے شويدے پس د قسم شی قسيم کيدل لازم راځی، او دا ورومبے امر دے، او که چرے د تقسيم نه مراد حکم وی او حکم في الواقع (نفس الامر) کښ د تصور قسيم دے ليکن تقسيم مشهور کښ د دے علم قسم ګنړلے شويدے، کوم چه نفس تصور دے، پس قسيم د شیٔ قسم د شیٔ کيدل لازم شو او دا دويم امر دے،

## توضیح اللغات[۴]

:- (۱) عدل، صیغه د مصدر ده د (س) نه په اعتبار د صلې سره په پنځو، معانیو سره راځي (۱) په معنیٰ د مساواة سره چه کله صله ئې کښې بَیْنَ راشي لکه عَدَلَ بَیْنَ زَیدٍ وعَمرٍو اَے سَاوٰی بَینَهُمَا (۲) په معنیٰ د میلان سره چه کله په صله د دے کښې الیٰ راشي لکه عَدَلَ الیه، اے مَالَ الیه (۳) په معنیٰ د اعراض سره چه کله صله د ده کښې عَنْ راشي، لکه عدل عَنهُ اَے اَعرَضَ عنهُ (۴) په معنیٰ د بعد سره چه کله صله د دے کښې مِنْ راشي، لکه عدل مِنهُ اے بَعُدَ مِنهُ (۵) په معنیٰ د تغیر سره، چه کله په معنیٰ د دے کښې فِي راشي، لکه عَدَلَ فِیهِ اے تَغَیَّرَ فِیهِ، (۲) اعتراض، صیغه د مصدر ده د باب اِفتعالِ ځنځه، په لغت کښې منع، انکار، او پیش کول ته وائي، قیل اعترض فلان المَتَاعَ لِلْبَیعِ، او په اصطلاح کښې عبارت دَے د التقدم الی البحث نه (التعریفیه) (۳) تقسیم، په لغت کښې احداث الکثرة فی الوحدةِ ته وائي، او په اصطلاح کښې ضم د قیود د مختلفو دے یو امر مشترک ته د پاره دد ے چه حاصل شي په ضم کولو د هر قید سره قسم علیحده یعني قسمِ آخر (۴) قسم د یو شي امر مشترک ته سره د قید نه (۵) قسیم و یلے شي امر مشترک ته سره د قید نه په نسبت سره بل ته (۶) مقسم امر مشترک ته وائي، مثال په ئې دا دے شي چه علم دا یو امرِ مشترک دے چه ضم د عدمِ حکمٍ ورسره راغے نو یو قسم ترے نه پیدا شو، چه هغه تصور دَے، او چه ضم د حکم ورسره راغے نو بل قسم ترے نه پیدا شو چه هغه تصدیق دَے، او نسبت په مابین د قسم او مقسم کښې د عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه مقسم په ځلو تولو اقسامو باندے حمل کیږي په کلي طور سره دا سے مونږ دا سے و یلے شو چه التصدیق عِلمٌ، التصوُّرُ علمٌ، یا ورسره کُل او تکو چه کل تصدیقٍ عِلمٌ الخ نو خلاصه دا شوه چه قسم خاص دَے او مقسم عام مطلق دَے، او نسبت په مابین د قسیمونو کښې تباین وي، یعني دواړه په یو بل باندے نهٔ حمل کیږي لکه تصور په تصدیق باندے یا حرف په فعل باندے نه حمل کیږي، اسم په فعل او فعل په اسم او حرف په اسم باندے نهٔ حمل کیږي،

**تشریح:-** قوله، واعلمْ انَّ المشهور فیما بین الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره نه جواب دَے د سوال مقدر نه، حاصل د سوال دا دَے چه عموماً مناطقه حضرات په اثبات دا حتیاج الی المنطق کښې تقسیم د علم کوي مطلق تصور او تصدیق ته، په دے شان سره چه وائي" العلم اِمّا تصوُّرٌ او تصدیقٌ" او ماتن رحمهٔ الله دغه طریقه پریخوده، او بله طریقه ئې غوره کړه، ځکه چه ده و دیل چه د علم دوه قسمونه دي، یو تصور فقط، یعني تصور ساذج او بل تصور معهٔ حکمٌ یعني تصدیق نو مصنف رحمهٔ الله عدول او اعراض و کړو د تقسیم مشهور نه، او عدول د مشهور نه بدون د نکتے نه په قوة د خطاء کښې وي نو که دلته څه نکته وي، نو بیان ئې کړه کنے ستا دا تقسیم خطاء او باطل کرځي، نو شارح راغے د جواب ئې و کړو په دے قول سره چه "والمصنف رحمهٔ الله عَدَلَ اِلَی التصوُّرِ السَّاذِج الخ او حاصل د جواب دا دے، چه ماتن عدول او اعراض د تقسیم مشهور نه ځکه و کړو چه دا عدول کول واجب دي، د دوو[۲] وجونه یعني په تقسیم مشهور باندے دوه اعتراض وارديږي، اول اعتراض دا وارديږي، چه په تقسیم مشهور سره دوه نقصانه لازميږي، او دارُمدار د دواړو نقصانونو هغه احتلاف دَے په معنیٰ د تصدیق کښې په دے شان سره چه تصدیق عبارت دے د حکمِ فقط نه، او یا تصدیق عبارت دَے، د تصورات مشتمله علی الحکم نه نو بنا په اول باندے تصدیق قسیم (مقابل) د تصور کرځي او د تقسیم مشهور نه دا معلوميږي چه تصدیق یو قسم د هغه علم نهٔ دَے کوم چه مرادف د تصور دے نو قسیم د شي قسم د دغه شي نه و کرځیده، دا نقصانِ اول شو، او بنا په دو یم باندے تصدیق عبارت دَے د تصورات ثلاثه او حکم نه او تصدیق په دغه صورت باندے یو قسم د تصور دَے او په تقسیم مشهور کښې تصدیق قسیم د تصور کرځولے شوے دَے نو قسم د شئ قسیم د دغه شئ و کرځیده دا دو یم نقصان شو، او دا دواړه باطل دي، او کوم شیٔ چه مستلزم وي باطل لره هغه وي مګر باطل وي، نو تقسیم مشهور هم باطل و کرځیده،

قوله، لان التصدیق ان کان الخ غرض د شارح په دے عبارت سره د لیل د بطلان د تقسیم مشهور بیا نول دي، خلاصه د د لیل دا ده چه علم په دوه قسمه دَے، یو تصور او بل تصدیق، په دے کښې د تصدیق نه که تصور مع الحکم مراد شي لکه چه امام رازي رحمه الله وائي نو بیا قسم د شئ قسیم د دغه شي کیدل لازميږي، ځکه چه تصور مع الحُکم د مطلق تصور یو قسم دَے او دا په تقسیم مشهور کښې د تصور قسیم (مقابل) کرځولے شوے دَے، او قسیم د شي قسم د دغه شي ځکه کرځي، چه که د تصدیق نه صرف حکم مراد کړے شي، لکه چه د حکماؤ مذهب دَے نو حکم، د تصور قسیم دَے، ځکه چه په تصور کښې



Maktaba Tul Ishaat.com

حکم نه وی، او دا مخکښې تیر شویدی چه تصور مرادف د علم دَے، او تصدیق د علم یو قسم دَے نو تصدیق د تصور کوم چه مرادف د علم دے) هم یو قسم شو، ځکه چه د علم او د تصور په مابین کښې ترادف دَے، او حالانکه په نفس الامر کښې تصدیق د تصور قسم نهٔ دَے بلکه قسیم ئې دے، پس هر کله چه تقسیم مشهور کښې دا نقصانونه وُو نو دا تقسیم واجب او واجب العدول شو، نو ماتن رحمه الله ځکه د دغه تقسیم مشهور نه اعراض وکړو۔

تنبیه :- "اعلم" کله چه یو امر (کومه خبره ډیره مهتم بالشان وی) او د هغه زده کول ضروری وی نو قوم (علماءِ کرام) په اول د دغه خبره کښې لفظ د اعلم وغیره سره راوړی، چه سامع مخاطب په شوق شِی، ځکه چه دا اعلم یوه کلمه ده چه ذکر کولے شِی لپاره د تنبیه د سامع او ایقاظ د غافل او شوق د ذکی، پس زده کړه دا خبره چه عام طور په اصل استعمال لحاظ سره، اعلم په هغه ځائے کښې راوړے شِی چه د وستو یوه قاعده کلیه ذکرېږی چه د هغې زده کړه ضروری وی او "واعلَمُ" په هغه ځائے کښې راوړے شِی چه دا جمله جواب د سوال مقدر وی، او "فاعلم" سره عام طور اشاره وِی تفصیل دا جمال ته، او ثم اعلم سره وی، حکم د ماقبل ته کذا فی المتممات علیٰ هامش التعریفات، ص۳۳،

وَهٰذَا الْاِعْتِرَاضُ اِنَّمَا يَرِدُ اِذَا قُسِّمَ الْعِلْمُ اِلٰى مُطْلَقِ التَّصَوُّرِ وَالتَّصْدِيْقِ كَمَا هُوَ الْمَشْهُوْرُ وَاَمَّا اِذَا قُسِّمَ الْعِلْمُ اِلَى التَّصَوُّرِ السَّاذِجِ وَاِلَى التَّصْدِيْقِ كَمَا فَعَلَهُ الْمُصَنِّفُ فَلَا وُرُوْدَ لَهٗ عَلَيْهِ لِاَنَّا نَخْتَارُ اَنَّ التَّصْدِيْقَ عِبَارَةٌ عَنِ التَّصَوُّرِ مَعَ الْحُكْمِ فَقَوْلُهٗ "اَلتَّصَوُّرُ مَعَ الْحُكْمِ قِسْمٌ مِّنَ التَّصَوُّرِ" قُلْنَا اِنْ اَرَدْتُمْ بِهٖ اِنَّهٗ قِسْمٌ مِّنَ التَّصَوُّرِ السَّاذِجِ الْمُقَابِلِ لِلتَّصْدِيْقِ فَظَاهِرٌ اَنَّهٗ لَيْسَ كَذٰلِكَ، وَاِنْ اَرَدْتُمْ بِهٖ اَنَّهٗ قِسْمٌ مِّنْ مُطْلَقِ التَّصَوُّرِ فَنُسَلِّمُ لٰكِنْ قَسِيْمُ التَّصْدِيْقِ لَيْسَ مُطْلَقُ التَّصَوُّرِ بَلِ التَّصَوُّرُ السَّاذِجُ، فَلَا يَلْزَمُ اَنْ يَّكُوْنَ قِسْمُ الشَّيْءِ قَسِيْمًا لَهٗ،

ترجمه :- او دا اعتراض په هغه وخت کښې واردیږی، چه د علم مطلق تصور او تصدیق ته تقسیم وشِی لکه چه (تقسیم) مشهور دَے، لیکن کله چه د علم تقسیم وکړے شِی تصور ساذج او تصدیق ته لکه څرنګه چه ماتن



(تقسیم) کړیدے نو بیا دا اعتراض نهٔ واردیږی، ځکه چه مونږ دا شق غوره کوو چه تصدیق عبارت دے د تصور مع الحکم څخه، نو د معترض قول "التصور مع الحکم قسمٌ من التصوُّر" که مقصد ستاسو داوی چه دا (تصدیق) د تصور ساذج یو قسم کوم چه مقابل د تصدیق دَے، نو دا ښکاره دَه چه خبره داسې نهٔ ده، او که مقصد ستاسو داوی چه هغه (تصدیق) د مطلق تصور یو قسم دے نو ددے (ثبوت) خو منلے شویدے لیکن قسیم د تصدیق مطلق تصور نه دَے بلکه تصور ساذج نو ددے وجے نه قسم د شی قسیم د دغه شی کیدل، نه لازمیږی،

تشریح :- مذکور اعتراض یعنی قسم د شئ قسیم کیدل او قسیم د شی قسم کیدل، هغه وخت کښې واردیږی چه علم منقسم کړے شی مطلق تصور او تصدیق ته لکه چه تقسیم مشهور دے "العلم اِمَّا تصور او تصدیق" وو ئیلے شِی لیکن که علم منقسم کړے دے تصور ساذج او تصدیق ته لکه چه ماتن رحمهُ الله تقسیم کړے دَے، حیث قال العلم اِمَّا تصورٌ فقط، واما تصور معهٗ حکمٌ نو په دے صورت کښې اعتراض مذکور نهٔ واردیږی، ځکه چه د تصدیق نه مراد تصور مع الحکم دے کوم چه قسیم د مطلق تصور دے بلکه قسیم د تصور ساذج د پس قسم د شئ قسیم ونګرځیده۔ میر سید شریف رحمهٗ الله وائی چه تقسیم مشهور باندے دا اعتراض سطحی، هوائی دے تحقیقی اعتراض نهٔ دے ځکه چه کله تصور د تصدیق په مقابله کښې ذکر شی نو بد یهی او ښکاره خبره ده چه دلته تصور نه مراد هغه تصور نه دے کوم چه مرادف د علم دے بلکه هغه تصور مراد وی چه کوم مقابل د تصدیق وی یعنی تصور (مقید) ساذج نو تصدیق چه کوم د مطلق هغه قسیم نهٔ دَے او د کوم تصور چه قسیم دے د هغه قسم نهٔ دے، او معترض په دے خبره غور او امتیازی نهٔ ده کړی چه د تصور دوه معانی دی، او تصدیق د تصور یو معنیٰ سره قسم دے او په بل معنیٰ قسیم دے نو ددے وجه نه معترض اعتراض کړیدے،

اوس په ماتن باندے هم اعتراض شویدے چه څنګه په عبارت د قوم باندے اعتراض وارد شوے وو لکه چه د عبارت د شرح نه معلومیږی "حیث جعل عدم الورود مبنیاً علی الاختیار"، نو هر کله چه عبارت (تقسیم) د ماتن هم مورد د اعتراض شو، نو بیا عدول د تقسیم مشهور نه غیر مشهور ته صحیح نهٔ شو، ځکه چه فائده پرے نهٔ مرتب کیږی، او د مشهور خلاف په توګه د خطاء کښې وی،

جواب[1]: په تقسیم د ماتن باندې صرف دا یو اعتراض واردیږی او په تقسیم مشهور باندې دوه اعتراضونه واردیږی کوم چه مخکښې تېر شول نو ماتن ځکه ترجیح د غیر مشهور ته ورکړو په مشهور باندې، جواب[2]: په ماتن باندې چه کوم اعتراض واردیږی د هغې جواب د هغه تقریر نه معلومیږی کوم چه شارح بیان کړیدې، او په تقسیم مشهور باندې چه کوم اعتراض وارد شوې وو د هغې جواب نشته کیدې،

سوال: د تقسیم مشهور د اعتراض نه جواب ممکن دې کما اجاب سید الشریف کما مرّ، جواب: د تقسیم مشهور د طرفه چه کوم جواب ذکر شویدې هغه غیر ظاهر دې، او د ماتن د تقسیم د طرفه چه کوم جواب بیان کړې شوې دې هغه ظاهر کړې او ښکاره دې، جواب[3]: (من اصل الاعتراض) منع چه کوم اعتراض په تقسیم مشهور باندې واردیدو هغه اعتراض په تقسیم د ماتن باندې هم واردیږی لیکن په تقسیم غیر مشهور د ماتن کښې قرینه د جواب (الامر الدال على الجواب) شته، او په تقسیم مشهور د قوم کښې امر دال على الجواب نشته،

قوله: فقوله التصور مع الحکم. قلنا ان اردتم الخ په دې عبارت کښې ترکیبی لحاظ سره دوه[2] احتماله دی اول[1] دا چه قوله مبتدا دی او قلنا ورله خبر دې لیکن په دې احتمال باندې سوال واردیږی چه جمله چه کله خبر واقع شی نو په دې کښې لا بدی وی دیو عائد نه چه راجع وی مبتدا ته د پاره د ارتباط د جملې مبتدا سره او دلته عائد نشته، جواب: دلته عائد محذوف دې نو تقدیر د عبارت داسې شو، چه "قلنا فیه ان اردتم الخ" لیکن دا ترکیب غیر صحیح دې ځکه چه یو خو قول په حذف د ضمیر مجرور قیاسی نه دې مګر په هغه مواضعو مخصوصو کښې چه شارح رضی ذکر کړیدی، او بل دا چه قوله مبتدا شی او قلنا خبر شی، نو حمل نه صحیح کیږی ځکه چه قوله مبدأ دې او قلنا مشتق دې او مبدأ جزوی او مشتق کل وی نو حمل د جزء په کل باندې صحیح نه دې ځکه چه حمل اتحاد غواړی او دلته اتحاد نشته، او دویم[2] احتمال دا دې چه قوله التصور مع الحکم الخ مبتداء محذوف الخبر دې چه هغه لا یرد دې اے فقوله التصور مع الحکم لا یرد، قلنا ان اردتم الخ او قلنا جمله مستانفه ده چه واقع ده په جواب د سوال کښې چه ناشی ده د مخکښې جملې نه سوال دا دې چه الاعتراض المذکور لم لا یرد على تقسیم المصنف الخ قلنا سره جواب ورکړو، او د جواب تفصیل مخکښې بیان شو،



تنبیه:- مرجع د ضمیر د قوله په "فقوله" معترض دې اصلاً سوال واردیږی چه قوله کښې ضمیر راجع دې معترض ته او د هغه مخکښې څه ذکر نشته، نو اضمار قبل الذکر راغې او دا ناروا دې، مونږ په جواب کښې وایو چه ذکر د مرجع عام دې که لفظاً وی او که معناً وی او که حکماً وی، او په دې مقام کښې اګرچه لفظاً یا معناً خو نهٔ دې ذکر لیکن حکماً ذکر دې، ځکه چه قول عرض دې او عرض له لا بدی وی دیو معروض نه چه دا عرض د پورې قائم دی، نو هغه معروض په دې ځائے کښې معترض دې نو لفظ د معترض په حکم د مذکور کښې دې، ان اردتم سره خطاب دې هغه معترضینو ته کوم چه اعتراض کړیدې په تقسیم د ماتن باندې چه دا مذکور الذکر والاعتراض لکه چه په تقسیم مشهور د قوم باندې واردیدو دغه شان دا په تقسیم غیر مشهور د ماتن باندې واردیږی، والجواب قد مرّ،

وَالثَّانِي، اَنَّ الْمُرَادُ بِالتَّصَوُّرِ اِمَّا الْحُضُورُ الذِّهْنِيُّ مُطْلَقًا اَوِ الْمُقَيَّدُ بِعَدَمِ الْحُكْمِ فَاِنْ عُنِيَ بِهِ الْحُضُورُ الذِّهْنِيُّ مُطْلَقًا لَزِمَ اِنْقِسَامُ الشَّيْءِ اِلٰى نَفْسِهٖ وَاِلٰى غَيْرِهٖ لِاَنَّ الْحُضُورَ الذِّهْنِيَّ مُطْلَقًا نَفْسُ الْعِلْمِ وَاِنْ عُنِيَ بِهِ الْمُقَيَّدُ بِعَدَمِ الْحُكْمِ امْتَنَعَ اعْتِبَارُ التَّصَوُّرِ فِي التَّصْدِيقِ لِاَنَّ عَدَمَ الْحُكْمِ حِ يَكُوْنُ مُعْتَبَرًا فِي التَّصَوُّرِ فَلَوْ كَانَ التَّصَوُّرُ مُعْتَبَرًا فِي التَّصْدِيقِ اَيْضًا لَزِمَ اعْتِبَارُ الْحُكْمِ وَعَدَمِهٖ فِي التَّصْدِيقِ وَاَنَّهٗ مُحَالٌ،

**ترجمه**:- او دویم اعتراض (په "تقسیم مشهور") دا دې چه د تصور نه مراد یا حضور ذهنی دې (خواه که ورسره حکم وی او که نه) او یا ورنه مراد مقید بعدم الحکم دې پس که (تصور) نه مراد حضور ذهنی مطلق وی نو ویشل د شی ځان او غیر ته لازمیږی، ځکه چه حضور ذهنی مطلق بعینه علم دې او که دې (تصور) نه مقید به نشتوالی د حکم سره مراد وی، نو بیا تصدیق کښې د تصور اعتبار (وجود اصل) ممتنع ګرځی ځکه چه په دې وخت کښې په تصور کښې عدم حکم معتبر دې او س که تصدیق کښې تصور (معتبر او منلے شی نو (ګویا) عدم حکم معتبر شو ځکه چه په دغه وخت کښې د تصور نه عدم حکم مراد دې) او په تصدیق کښې حکم د مخکښې نه معتبر دې نو د دې وجه نه په تصدیق حکم او عدم حکم

دوارہ معتبر کیدل لازمیږی که
(دانه ده مګر اجتماع دنقیضینو) اودا محال (نکیدونکی) دے -

**تشریح** :- په تقسیم مشهور باندے څه کوم اعتراضونه واردیږی،
په دوی کښی داول اعتراض تشریح مخکښی تیرشوے اودلته دَدویم اعتراض
ذکر دے اوداول اعتراض تعلق د تصدیق سره وو،
اودَدویم اعتراض تعلق تصور سره دے پدے شان سره چه اصلاً
داد والثانی ان المراد بالتصور الخ ادلیل ثانی دے دپاره دعدول دتقسیم
مشهور دقوم څخه،
اوداد لیل بنا دے په نمط دقیاس استثنائی رفعی سره دلیل دبهرنه دے
او مذکور په کتاب کښی وجهٔ الملازمة ده اوهغه دا چه د اتقسیم
مشهور واجب العدول دے لانه باطل وکل باطل واجب العدول
فالتقسیم واجب العدول،
هرچه دلیل دصغری دے، چه لانه باطل دے ځکه چه که باطل نشی
نو ددوه محالو خبرونو نه یو ضروری لازمیږی،
(۱) انقسام دشی الی نفسه اوالی غیره ته (۲) یو شی کښی شی اودده نقیض
(اجتماع دنقیضینو) لکن التالی باعتبار کلا الشقین باطل فالمقدم مثله
اووجه د ملازمه دادہ چه یا به مراد په تصور مذکوره سره په تقسیم مشهور
کښی یا حضور ذهنی مطلق وی نو بیا انقسام دشی الی نفسه والی غیره لازم شو اودا
صحیح نه ده، ځکه چه حضور ذهنی مطلق علم دے، نو بیا د دغه تقسیم حاصل
دا شو چه "العلم اما علم اوتصدیق ته او انقسام دشی الی نفسه والی
غیره باطل دے، وکل تقسیم هکذا شانه فهو باطل فهذا التقسیم المشهور
باطل"،
اویا به دتصور نه مراد حضور ذهنی مقید بعدم الحکم وی نو دا هم صحیح
نه دے ځکه چه په دے صورت په تصدیق کښی دتصور اعتبار کول ممکن نه دی ځکه چه په
تصور کښی عدم حکم معتبر وی او تصدیق کښی حکم معتبر وی لو ګویا چه په دے
کښی عدم معتبر دے اودا ثابته شوی خبره ده چه په تصدیق کښی حکم معتبر وی
ګنی تصدیق تصدیق نه پاکیږی نو دَدے وجه نه که تصدیق کښی دتصور اعتبار وکړے شی نو په دے صورت



کښی په تصدیق کښی حکم او عدم حکم دواړه جمع کیږی، اِنْ هٰذَا اِلَّا اجتماع
النقیضین" وهو باطل"، فالتقسیم المشهور باطلٌ، ووجه د بطلان د تالی په اعتبار
دشق اول سره دا ده چه په دے صورت کښی قسم (تصور) او دمقسم (علم)
په مابین کښی نسبت تساوی ګرځی، حالانکه دمقسم او دقسم په مینځ کښی
نسبت دعموم خصوص مطلق وی، او وجه د بطلان د تالی په اعتبار دشق
ثانی سره چه هغه بطلان د اجتماع دنقیضینو دے بدیهی دے، نو هر کله
چه تقسیم مشهور باطل وو نو مصنف رحمه الله ځکه تقسیم مشهور نه
عدول وکړو، میرسید شریف صاحب وائی، چه بقول بعض دا اعتراض
بنیه دماتن په عبارت (تقسیم) باندے هم کیدے شی په دے شان سره
چه تصور فقط (ساذج) نه مراد یا به حضور ذهنی مطلق اخلی او یا به
مقید بعدم الحکم اخلی، که حضور ذهنی مطلق اخلے نو انقسام دشی الی
نفسه والی غیره لازمیږی، لکه د تقسیم مشهور پشان، او په دے وجه د
ماتن په عبارت کښی د لفظ "فقط" لتوکیدل لازمیږی، سوال، که د تصور نه
مراد حضور ذهنی مطلق شی بیا هم لفظ فقط لغو کیدل نه راځی، ځکه چه
لفظ فقط په دغه وخت کښی د بیان اطلاق او دکوم فرد خاص مراد کیدل وهم
لرے کولو دپاره راځی، لکه الانسان من حیث هو یا الماهیة لا بشرط شئ
وغیره په دیکښے کوم لفظ لغو نهٔ دے په دے معنی سره چه دا الفاظ دد
توهم لرې کولو دپاره مفید دی،
جواب: په دمقام د تقسیم کښی ذهن مطلق طرف نه ځی نه فرد خاص طرف
نه لهذا ددے توهم از اله لپاره دهغه شی ضرورت نشته، او که مراد
د تصور فقط نه حضور ذهنی مقید بعدم الحکم اخلے نو تصدیق کښی د
تصور فقط په اعتبار کولو سره اجتماع دنقیضینو لازمیږی، سوال: دشارح
قول" وجوابهٔ انّ التصور الخ سره دا اعتراض دماتن د عبارت څخه دفع
کیږی، جواب په دے عبارت دشارح سره لکه څنګه د ماتن د کلام نه اعتراض
دفع کیږی، هم دغه شان په دے عبارت سره دقوم د کلام نه هم د دا
اعتراض دفع کیږی بلکه دا جواب دقوم دکلام سره زیات مناسب معلومیږی
ځکه چه لفظ تصور د حضور ذهنی مطلق او مقید بعدم الحکم په مینځ کښی
مشترک کیدل دقوم د عبارت نه ظاهریږی نه د کلام د ماتن نه ځکه چه قوم

د تصور اطلاق د تصدیق په قسیم باندے کړیدے او دے نه هغه معنیٰ اخلے کوم چه د تصدیق مقابل دَے، هم د غه شان د تصور اطلاق په هغه ادراك مطلق باندے کوی کوم چه مرادف د علم دے نو د دوئی په نزد د تصور دوه معانی شوې او د ماتن په کلام کښ په دے باندے څه دلالت نشته ځکه چه ماتن تصور فقط مقابل د تصدیق کړخوځلے دے، نو عدم حکم قید د لفظ فقط نهٔ معلومیږی او په مفهوم د تصور کښ نه داخلیږی بلکه لفظ تصور مطلق ادراك په معنی سره مستعمل شوے دے نو دګے نه د ماتن په نزد تصور په دې معنیٰ سره دا غلے یعنی حضور ذهنی مطلق کوم چه د تصور فقط او تصور مع الحکم دواړو لره شامل دے،

**قوله،** وانّهٗ محالٌ الخ د اِنّهٗ په ضمیر کښ دوه احتماله دی اوّل احتمال دا دَے چه دا ضمیر راجع دَے دا عتراض ثانی شق اول او شق ثانی دواړو ته نو مطلب به ئے دا وی چه د اقسیم د شئ لنفسه او الیٰ غیره او اجتماع د نقیضینو دواړه دواړه محال دی، سوال په اِنّهٗ کښ ضمیر مفرد دے او مرجع شیئین نو مطابقت رانهٔ غے د راجع او د مرجع ترمینځ، د ذا ضروری، جواب انّهٗ ضمیر د واړو شیئینو ته راجع دَے په اعتبار د مذکور وغیره سره، او دوئیم احتمال دا دے چه دا ضمیر راجع دَے داعتراض شقِ ثانی فقط ته (و هو الاقرب الاصح) یعنی که تصور نه مراد مقید بعدم الحکم وی نو په تصدیق د تصور اعتبار (منل) محال او مشکل کرځی، ځکه چه په دے صورت کښ د امام رازی رحمه الله په مذهب باندے د یو شی د نقیضینو نه مرکب کیدل لازمیږی او د حکماؤ په مذهب باندے د یو شی د خپل نقیض سره مشروط کیدل لازمیږی، او د دے مزید وضاحت دا دے چه امام رازی رحمه الله په نزد تصدیق عبارت دے د تصورات ثلاثه او د حکم مجموعه او په تصور کښ د عدم حکم قید دَے نو په تصورات ثلاثهٔ وکښ عدم حکم معتبر شو او په تصدیق کښ حکم معتبر دے او دا قول د تصدیق اجزاء دی، نو تصدیق مرکب شو د حکم او د عدم حکم نه، او د حکماؤ په نز د تصدیق لپاره تصورات ثلاثه شرط دی نه اجزاء، او په تصوُرات ثلاثه وکښ د عدم حکم قید ملحوظ دے نو د حکم د عدم حکم سره مشروط کیدل لازم شو او دا دواړه خبرے محالے دی چه یو د نقیضینو نه مرکب شی یا یو شئ خپل نقیض سره مشروط شی،



وَجَوَابُهٗ، اَنَّ التَّصَوُّرَ يُطْلَقُ بِالْاِشْتِرَاكِ عَلٰى مَا اُعْتُبِرَ فِيْهِ عَدَمُ الْحُكْمِ وَهُوَ التَّصَوُّرُ السَّاذِجُ وَعَلَى الْحُضُوْرِ الذِّهْنِيِّ مُطْلَقًا كَمَا وَقَعَ التَّنْبِيْهُ عَلَيْهِ وَالْمُعْتَبَرُ فِى التَّصْدِيْقِ لَيْسَ هُوَ الْاَوَّلُ بَلِ الثَّانِيْ. وَالْحَاصِلُ اَنَّ الْحُضُوْرَ الذِّهْنِيَّ مُطْلَقًا هُوَ الْعِلْمُ وَالتَّصَوُّرُ اِمَّا اَنْ يُّعْتَبَرَ بِشَرْطِ شَيْءٍ اَيِ الْحُكْمِ وَيُقَالُ لَهُ التَّصْدِيْقُ اَوْ بِشَرْطِ لَا شَيْءَ اَيْ عَدَمُ الْحُكْمِ وَيُقَالُ لَهُ التَّصَوُّرُ السَّاذِجُ اَوْ لَا بِشَرْطِ شَيْءٍ وَهُوَ مُطْلَقُ التَّصَوُّرِ فَالْمُقَابِلُ لِلتَّصْدِيْقِ هُوَ التَّصَوُّرُ بِشَرْطِ لَا شَيْءَ وَالْمُعْتَبَرُ فِى التَّصْدِيْقِ شَرْطًا اَوْ شَطْرًا هُوَ التَّصَوُّرُ لَا بِشَرْطٍ فَلَا اِشْكَالَ"

**ترجمه:-** او د دے اعتراض جواب دا دے چه د تصور اطلاق په طریقه د اشتراك (په دوؤ معنو باندے کیږی) یو هغه دے چه په هغے کښ عدم حکم معتبر وی، چه هغه تصور ساذج دَے، او دوئیم حضور ذهنی مطلق باندے اطلاق کیږی، لکه په دے باندے خبردارے واقع شو یدے، او په تصدیق کښ اول "تصور ساذج" معتبر نهٔ دے بلکه دوئیم (چه حضور ذهنی مطلق دے) معتبر دَے، د جواب حاصل دا دَے چه حضور ذهنی مطلق خوا‌عین علم دے او تصور لره درے اعتبارات دی، (۱) یا بشرط شئ یعنی بشرط الحکم معتبر وی او دے ته تصدیق ویلے شی (۲) او یا تصور بشرطِ لا شئ یعنی بشرطِ عدم الحکم معتبر وی، او دے ته تصور ساذج ویلے شی (کوم چه مقابل د تصدیق دے)، او یا تصور لابشرط شئ (یعنی په دے کښ نه حکم شرط وی، او نه عدم الحکم) معتبر وی او دا مطلق تصور دَے (کوم چه مرادف د علم دے) نو د تصدیق مقابل تصور بشرطِ لا شئ یعنی تصور ساذج دَے او په تصدیق کښ شرط (عند الحکماء) او یا شطرًا (عند الامام) تصور لابشرط شئ یعنی تصور مطلق معتبر دَے پس کوم اشکال پاتے نهٔ شو،

**تشریح:-** مولانا عماد رحمه الله وائی چه کیدے شی چه دا جواب شی د اعتراض ثانی (شق ثانی) ځکه کوم چه وارد وؤ په کلام د قوم باندے و هُوَ الظاهر، او یا دا جواب شی د اعتراض د دواړو شقینونه، او همد غه شان کیدے شی چه دا جواب شی د هغه اعتراض (سابق) نه چه وارد وو په کلام د ماتن باندے او همد غه رانا احتمال لری چه دا جواب شی د دواړو اعتراضونو نه په اعتبار د مذکور سره لیکن دا قول د شارح رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

چه «والمعتبر في التصديق ليس هو الاول بل الثاني» خبر دارۀ ورکوی چه دا جواب دے دا عتراض ثانی دشق ثانی‌ته او عصام رحمة الله وائی چه دا جواب دے دا عتراض ثانی دقوم ته دا عتراض اول نه، لانه لا التجاءَ لهُ عليه والمقصود من ايراد الجواب ايضاحُ انَّهٗ لا يتجهُ علیٰ تقسيم المصنف رحمه الله اوس په شارح باندے اعتراض واردیږی چه تاله پکار ووُ چه صرف د هنه اعتراض جواب ئے کړے وَے، چه هنه وارد ووُ په کلام د ماتن باندے نهٔ دکلام دقوم نه ځکه چه شرح خوخدمت د متن کوی نقط، جواب: مقصود بالذات دشارح توضیح دکلام د ماتن ده پس دکشف د مرام نه (چه ماتن ولے عدول وکړید ے د تقسیم مشهور نه) پس حاصل د جواب دادے چه تصور په دوۀ معنو سره دَے یو چه په هغه کښ دعدم الحکم اعتبار وکړے شی او هغه ته تصور ساذج ويلے شی او دوئیم[۲] معنیٰ دا چه حضور ذهنی مطلق وا خستے شی خواکه حکم ورسره وی او که نهٔ او په تصدیق کښ چه کوم تصور مراد دَے، هغه دوئیمه معنیٰ ده یعنی حضور ذهنی مطلق دَے نو دیِ وجه نه به تصدیق کښ حکم او عدم الحکم جمع کیدل لازم نشو، او اجتماع د حکم او عدم الحکم هغه وخت کښ لازمیږی چه په تصدیق کښ تصوّر ساذج مراد (موجود) شی،

د جواب: مزید وضاحت او تشریح په دا سے طریقے سره کولے شی چه حضور ذهنی مطلق دا عین علم او مرادف د علم دَے، او په تصور کښ اعتبارات ثلاثه دی، (۱) تصور بشرط شیٔ یعنی تصور بشرط حکم او دا تصدیق دے، لکه قلم په شرط د دوات (سیاهی) سره (۲) تصور بشرط لاشیٔ، یعنی تصور بشرط لا حکم، او دا تصور ساذج دَے کوم چه قسیم د تصدیق دے لکه قلم په شرط د نه دوات سره، (۳) تصور لا بشرط شیٔ یعنی په تصور کښ نه لحاظ د حکم وی، او نه لحاظ د عدم حکم وی لکه قلم چه نه ورسره لحاظ د سیاهی وی، او نه لحاظ د نشتوالی د سیاهی وی، او دا مطلق تصور دَے پس مقابل او قسیم د تصدیق هغه بشرط لاشیٔ یعنی تصور ساذج دے او په تصدیق کښ کوم تصور دے هغه تصور لابشرط شیٔ یعنی مطلق تصور دَے نهٔ تصور ساذج نو اجتماع د نقیضینو متناقضینو را نغله ځکه چه شرائط د تناقض موجود نه دی یعنی اتحاد د موضوع، او



دا شرائط اته[۸] دی،

در تناقض هشت وحدت شرط دان - وحدت موضوع ومحمول ومکان
وحدت شرط و اضافت جزو کل - قوة فعل است در آخر زمان،

او دا جواب، دا عتراض ثانی دشق اول نه هم کیدے شی، په دے شان سره چه مراد حُمو نږ په تصدیق سره تصور مع الحکم دَے، که ته وائی چه دا خو قسم د تصور دے او تا قسیم او ګرځولو، نو مونږ وایو چه مراد د تصور نه حضور ذهنی (لا بشرط شیٔ) اخلو، خواکه حکم ورسره وی او که نه وی، او کوم چه قسیم او مقابل د تصدیق دے نو هغه تصور مقید په قید د عدم الحکم (یعنی بشرط لاشیٔ) دَے نو چه دا چا د پاره قسیم دَے هغه لره قسم نهٔ دے او چه د چا د پاره قسم دَے هغه لپاره قسیم نهٔ دے،

قوله، والحاصل انّ الحضور الذهني مطلقا الخ غرض د شارح[۶] په دے عبارت سره رفع د استبعاد ده، او هغه دا چه معتبر په تصدیق کښ ځکه تصور مقید په قید د عدم الحکم سره شو، حالانکه دا خو اجتماع د نقیضینو ده نو شارح وائی چه تصور لره مراتب ثلاثه دی (۱) بشرط الحکم (۲) بشرط عدم الحکم (۳) لا بشرط الحکم و لا بشرط عدم الحکم کما مرَّ، او یا غرض د شارح په دے مذکور الذکر عبارت سره تصریح د جواب ده بما علِمَ ضمنًا،

قوله، فلا اشکال الخ سوال: په تصدیق کښ شرطًا یا شطرًا کوم تصوُّرات چه معتبر دی هغه تصور د محکوم علیه او محکوم به او نسبت حکمیه دی او هر واحد دے درے وارو تصورا تو نه یو خاص تصور دے، چه د نظری کیدو په صورت کښ حاصل او مستفاد وی د قول شارح نه، والحاصل من القول الشارح اِنّما هُو التصوُّر الساذج نقط نو په تصدیق کښ شرطًا او یا شطرًا هم هغه تصور معتبر شو، چه په هغه کښ عدم الحکم معتبر وو، فالاشکال المذکور باقٍ علیٰ حالِهٖ، و هو ما قلنا، اوَّلًا مِنْ اعتبار الشئ فی نقیضِهٖ او ترکیب الشیٔ من النقیضین: جواب تصور ساذج عبارت دَے د هغه حضور ذهنی نه چه هغه موصوف دَے په عدم الحکم سره، او هغه تصور چه هغه نهٔ تصدیق مرکب دَے هغه ذات د تصور ساذج دے، قطع نظر د حقیقت د دے نه پس دا قول صادق شو "الحضور الذهنی المطلق معتبر فی التصدیق" نو لازم نهٔ شو ترکیب د شی د نقیض خپل نه، او نه اشتراط د شی په نقیض

خپل کښی، ځکه چه مناطقه وائی چه "المرکب من القدیم والحادث حادثٌ"
په دے شان سره چه مراد د مرکب نه ذات د قدیم دَے، قطع نظر د حقیقت
د دے نه، والّا لزم اجتماع الحدوث والقِدَم وهو باطلٌ، او همدغه شان
علماء وائی چه المرکبُ مِنَ الموجودِ والمعدومِ معدومٌ، مثال په طور چهت
(بام) مرکب دے د ستنو میخونو او لرګو وغیره نه او لرګی ستنی میخونه موجود
دی، او وجود د چهت امر وجودی نه دے نو چهت مرکب دے د موصوف ...
د صفت نه والّا کان عَدَمِیًّا لِاَنَّ الوجود عدمیٌ او همدغه شان چهت مرکب
(جوړ کړے شوے دے) د لرګو او میخونو ستنو وغیره نه اول چه لرګی د هغه
موصوف دے چه میخونه ستنی به نهٔ وی، او دویم چه ممار دے هغه
موصوف دَے چه لرګی به نهٔ وی، فالسقفُ مرکبٌ من الموصوف دون صفة
والّا لزم کونهٔ معدومًا لانّهٔ مرکبٌ من موجودٍ ومعدومٍ فیکون معدومًا،
نو په دے مقام کښی هم ویلے شی، چه معتبر په تصدیق کښی هغه تصور
دے چه بدون الصفة وی، او دا کیدل دے دی چه حکم به ورسره نه وی
اګرچه صفت ورته حاصل دَے په واقع کښی، فلا اشکال، والحمد لله
علیٰ کُلِّ حال،

قَالَ، وَلَيْسَ الْكُلُّ مِنْ كُلٍّ مِنْهُمَا بَدِيهِيًّا وَاِلَّا لَمَا جَهِلْنَا شَيْئًا وَلَا نَظَرِيًّا
وَاِلَّا لَدَارَ اَوْ تَسَلْسَلَ، اَقُوْلُ، اَلْعِلْمُ اِمَّا بَدِيهِيٌّ وَهُوَ الَّذِيْ لَمْ يَتَوَقَّفْ
عَلٰى نَظَرٍ وَكَسْبٍ كَتَصَوُّرِ الْحَرَارَةِ وَالْبُرُوْدَةِ وَكَالتَّصْدِيْقِ بِاَنَّ النَّفْيَ وَ
الْاِثْبَاتَ لَا يَجْتَمِعَانِ وَلَا يَرْتَفِعَانِ، وَاِمَّا نَظَرِيٌّ وَهُوَ الَّذِيْ يَتَوَقَّفُ حُصُوْلُهٗ
عَلٰى نَظَرٍ وَكَسْبٍ كَتَصَوُّرِ الْعَقْلِ وَكَالتَّصْدِيْقِ بِاَنَّ الْعَالَمَ حَادِثٌ،
اِذَا عَرَفْتَ هٰذَا فَنَقُوْلُ لَيْسَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَ التَّصَوُّرِ وَالتَّصْدِيْقِ
بَدِيهِيًّا فَاِنَّهٗ لَوْ كَانَ جَمِيْعُ التَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِيْقَاتِ بَدِيهِيًّا لَمَا كَانَ
شَيْءٌ مِنَ الْاَشْيَاءِ مَجْهُوْلًا لَنَا وَهٰذَا بَاطِلٌ،

**ترجمه**:- (ماتن) ویلی دی چه او نه دی هر یو نوع د دواړو (تصور او تصدیق)
نه هر یو فرد بدیهی ګنے مونږ د کوم شی نه ناواقف به نه وُو (حالانکه مونږ
ته ډیر اشیاء مجهول دی) او نه هر یو فرد نظری دَے ګنے لازم شی دور او یا تسلسل
(او دا دواړه باطل دی) زه (شارح) وایم چه علم یا بدیهی دے او دا (بدیهی)
هغه شی دَے چه د هغه حصول په نظر او کسب (دلیل) باندے موقوف





نه وی، لکه د ګرمئ او د یخنئ تصور، او تصدیق په دے خبره باندے چه
نفی او اثبات نه دواړه جمع کیدے شی او نه دواړه مرتفع (اوچتولے) شی
او یا علم) نظری دَے، او نظری هغه شیٔ دَے چه حصول د هغه په نظر او
کسب (دلیل) باندے موقوف وی لکه تصور د عقل او د نفس، او تصدیق په
دے خبره باندے چه عالم حادث دے، کله چه تا دا اوپیژندل، نو مونږ
وایو چه هر واحد د دے دواړو، (تصور او تصدیق) نه هر واحد بدیهی نه
دی، ځکه چه که ټول تصورات او تصدیقات بدیهی شی نو کوم شی به مونږ
د پاره مجهول پاتے نهٔ شی (حالانکه ډیر اشیاء مونږ ته مجهول دی،

**توضیح اللغات**:- (۱) کلّ - کل په درے قسمه دے (۱) کل کلی چه په
معنیٰ د ماهیت سره وی لکه کلُّ انسانٍ نوعٌ (۲) کل مجموعی چه په معنیٰ د
مجموعُ، جمیع سره وی لکه کل انسان لا یسعهٔ الدّارُ (۳) کل افرادی په
معنیٰ د فرد سره وی، لکه کُلُّ اِنسانٍ یُشْبِعُهٗ هٰذا الرَّغِیفُ، (۲) بدیهی دا صیغه
د صفت مشبّه ده د (ف) باب نه یا بکښی د پاره د نسبت ده ۲ بداهة په لغت کښی
ښکاره ولے کره والے او اول د هر شیٔ ته وائی، او په اصطلاح کښی ما لایحتاج
الی دلیل ته وائی، (۳)، نظری: دا د (ن) باب نه په دے کښی هم یاءِ نسبتیه
ده، په لغت کښی سوچ کتل ته وائی، او په اصطلاح کښی ما لا یحتاج الی دلیل
ته وائی، او دا ضد او مقابل د بدیهی دَے و سیجیٔ التفصیل فیه،

(اقسام کل)

**تشریح**:- دا مقدمهٔ ثانیه ده د مقدماتو ثلاثو ترجیح و الی المنطق نه
پس بوهه شه، چه د علم لکه څرنګه تقسیم شوے دوٌ تصور او تصدیق
ته، همدغه شان علم بداهت او نظر طرف ته هم تقسیمیږی، لکن هر
کله چه د تصور او تصدیق تعلق د ذات سره، وٌ او بداهت او نظر تعلق لری د
صفاتو سره، او قاعده دا ده، چه ذات مقدم وی په صفاتو باندے هم د
دے وجه نه تصور او د تصدیق بیان مخکښی کړے شو، او د بداهت او نظر
بیان روستو کړے شو،

تنبیه:- په دے کښی د منطقیانو اختلاف دَے، چه آیا مقسم د بداهت
او نظر علم دَے او که تصور او تصدیق، نو جمهور (مشهورین) وائی چه
مقسم تصور او تصدیق دی لیکن محققین وائی، چه مقسم د دے تقسیم
هم علم دَے خو دا نزاع لفظی ده، ځکه چه تصور او تصدیق هم اقسام

Maktaba Tul Ishaat.com

د علم دي، او تقسيم د اقسامو مستلزم وي، تقسيم د مقسم لره، د دواړو پلو مقصديو دے، سه منزل د قولو يو دے خو سفر جدا جدا۔

پس زده کړه د اخبره چه تصور په دوه قسمه دے، اول قسم بديهي او دوئيم قسم نظري، تصور بديهي هغه تصور ته وائي چه حاصل وي بغير د نظر نه مثال لکه علم تصوري په حرارة باندے، او علم تصوري په برودة باندے نو په برودة او حرارة باندے تصور بديهي حاصليږي، نفس ناطقه لره او نفس ناطقه په حصول د دے تصورکښ نه دے محتاج نظر ته، او تصور نظري هغه نظري هغه تصور ته وائي، چه په حصول د هغه کښ نفس ناطقه محتاج وي فکر او نظر ته، مثال لکه علم تصوري په حقيقت د جن باندے، او همدارنګه علم تصوري په حقيقت د ملك باندے، او همدارنګه علم تصوري په حقيقت د عقل باندے، نو چه په حقيقت د جن باندے نفس ناطقه ته علم تصوري په واسطه د فکر او د نظر سره په حاصله وي، په دے شان سره چه ترتيب به وکړي په امور معلومه کښ، چه جسم ناري يتشکل باشکال مختلفة حميدة او خبيثة ويوصف بالذکور والاناث، نو چه کله نفس ناطقه په دے امورو معلومه کښ چه ترتيب ورکړے شي په دے شان سره چه جسم مقدم کړے په ناري باندے او ناري مقدم کړے په يتشکل باشکال الخ باندے نو ورته حاصليږي علم په حقيقت د جن باندے او بغير د دے نظر او ترتيب نه علم تصوري نه حاصليږي په جن باندے، همدارنګه علم په حقيقت د ملك باندے هم نظري دے نفس ناطقه په دے علم کښ محتاج دے نظر ته په امور معلومه کښ، چه جسم نوراني يتشکل باشکال مختلفة حميدة ولا يوصف بالذکور والاناث. نو چه کله نفس ناطقه په دے امورو معلومه کښے نظر او ترتيب وکړي په دے شان سره چه جسم مقدم کړي په نوراني باند او نوراني مقدم کړي په يتشکل باشکال الخ باندے نو ورته علم تصوري حاصليږي په حقيقت د ملك باندے، همدغه شان علم په حقيقت د عقل باندے هم نظري دے، نفس ناطقه په دے علم کښ محتاج دے نظر ته په امور معلومه کښ "چه جوهر مجرد يدرك بها الکليات والجزئيات، وغير ذالك من التعريفات التي مرت، نو چه چه نفس ناطقه په دے امورو معلومو کښ نظر او ترتيب وکړي په دے شان سره چه جوهر مقدم کړي



په مجرد باندے او مجرد مقدم کړے په يدرك بها الخ باندے نو ورته علم حاصليږي، په حقيقت د عقل باندے او همدارنګ تصديق هم په دوه قسمه دے، اول قسم تصديق بديهي دے او دوئيم[2] قسم تصديق نظري دے تصديق بديهي هغه تصديق ته وائي، چه نفس ناطقه ته حاصليږي بے د فکر او د نظر نه، مثال لکه علم تصديقي په دے قضيه باندے چه "النفي والاثبات لا يجتمعان ولا يرتفعان" يعني نفي او اثبات دواړه جمع کيدے نشي او نه دواړه رفع (اوچتيږي) بلکه د دواړو نه يو به وي يا د تصديق بديهي مثال لکه "الجز اعظم من الجزء" او بل مثال لکه علم په دے قضيه باندے، چه الاثنان نصف الاربعة، نو علم په دے قضيو باندے تصديق دے خو ليکن تصديق بديهي دے ځکه چه په دے قضيو باندے علم تصديقي حاصليږي نفس ناطقه ته بغير د فکر او د نظر نه، او دوئيم[3] قسم د تصديق تصديق نظري دے، تصديق نظري هغه تصديق ته وائي چه هغه حاصليږي نفس ناطقه ته په واسطه د فکر او د نظر سره مثال لکه علم په "العالم حادث" باندے نو علم په "العالم حادث" باندے علم تصديقي نظري دے ځکه چه حاصليږي نفس ناطقه ته په واسطه د فکر او د نظر سره په امور معلومه کښ چه هغه "العالم متغير وکل متغير حادث" دے نو چه کله نفس ناطقه نظر او ترتيب اوکړي په دے امور معلومه کښ په دے شان سره چه "العالم متغير" مقدم کړي، او کل متغير حادث مؤخر کړي نو په دے وخت کښ په واسطه د دے نظر او د ترتيب سره نفس ناطقه ته علم تصديقي حاصليږي په "العالم حادث" باندے هر کله چه تا تفصيل زده کړو نو پوهه شه چه جمله احتمالات په بداهت او نظارت د تصور او د تصديق کښ نسعه (9) دي، په دے شان سره چه (1) کل تصورات او کل تصديقات د بديهي شي (2) کل تصورات او کل تصديقات د نظري شي (3) کل تصورات د بديهي او کل تصديقات د نظري شي (4) کل تصورات نظري او کل تصديقات د بديهي شي (5) کل تصورات بديهي او تصديقات بعض بديهي او بعض نظري (6) کل تصورات نظري او تصديقات بعض بديهي او بعض نظري (7) کل تصديقات بديهي او تصورات بعض بديهي او بعض نظري (8) کل تصديقات نظري او تصورات بعض بديهي او بعض نظري (9) بعض تصورات بديهي او بعض نظري، او همدغه شان بعض

بعض تصدیقات بدیهی دی او بعض نظری، او احتیاج الی علم المنطق صرف په دے احتمال اخیر باندے ثابتیږی، هم ردے وجه نه مناطقه حضرات دا احتمال اخیر غوره کوی، پس دا مقدمهٔ ثانیه ده د مقدمات ثلاثو محوجه الی المنطق ځکه چه کل تصورات او کل تصدیقات که نظری یا بدیهی شی نو احتیاج الی المنطق نهٔ راځی،

**تنبیه**[1]:- زده کړه د اخبره چه د بدیهی او د نظری په مابین کښ یا تقابل د عدم والملکه دَے، او یا تقابل د تضاد دے نو کچرته تعریف د بدیهی دا سے وشی « ما هو حاصل بلا نظر وکسب » او د نظری تعریف دا سے وشی، « ما یتوقف حصوله علی نظر وکسب » لکه چه دا تعریفونه، د مصنف د عبارت نهٔ فهمیږی نو په دے وخت کښ د بدیهی او د نظری په مابین کښ تقابل د عدم والملکه دَے په دے شان سره چه بدیهی عدم دے او نظری ملکه ده، ځکه چه په تعریف د بدیهی کښ نفی معتبره وی، په حرف د لا نافیه یا په لَمْ جحد یه سره او چه دکوم شی په تعریف کښ نفی معتبره وی، هغه شیٔ عدمی وی، او په تعریف د نظری کښ نفی نهٔ ده معتبره نو نظری ملکه ده، او همدا رنګه که تعریف د بدیهی د لسے وشی چه « البدیهی ما لا یتوقف حصوله علی النظر » معنیٰ دا شوه چه بدیهی هغه علم ته وائی، چه حصول د هغه موقوف نوی تر نظر پورے، بلکه بغیر د نظر نه به نفس ناطقه ته حاصلیږی او نظری هغه علم ته وائی چه حصول د هغه موقوف وی تر نظر پورے نو په دے وخت کښ هم تقابل په مابین د بدیهی او نظری کښ تقابل د عدم والملکه دَے، په دے شان سره چه بدیهی عدمی دَے ځکه چه په تعریف کښ نفی معتبره ده، او نظری ملکه ده، او کچرته تعریف د بدیهی دا سے وشی چه « البدیهی ما یکون سهل الحصول » یعنی بدیهی هغه علم ته وائی چه د هغه حاصلول نفس ناطقه ته په طریقه د آسانتیا سره وی، ځکه چه بغیر د نظر نه ورته حاصلیږی، او تعریف د نظری دا سے وشی چه « النظری ما یکون صعب الحصول » یعنی نظری هغه علم ته وائی چه د هغه حاصلول نفس ناطقه ته په طریقه صعب (یعنے د سختی) سره وی، ځکه چه په واسطه د نظر سره حاصلیږی نفس ناطقه ته نو په دے وخت کښ بیا د بدیهی او د نظری، په مابین کښ تقابل د تضاد دے،



## « رفع التثاقل فی توضیح التقابل »

زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښ لږ بدی ده د معرفت د امورتسعونه[9]

(۱) صیغه د تقابل (۲) وزن (۳) باب (۴) معنیٰ لغوی (۵) معنیٰ اصطلاحی، (۶) مناسبت بین المعنیین (۷) اقسام (۸) وجه د حصر (۹) مثالونه د هر واحد،

**توضیح المقام**[1]:- تقابل صیغه د مصدر ده په وزن د تفاعل د باب تفاعل نه په لغت کښ مخامخ کیدل او مخالفت ته وائی، او په اصطلاح کښ عبارت دے د امتناع « حدة الشیئین فی موضع واحد من جهة واحدة » نه، یعنی کیدل د شیئنو دی په دا سے شان سره چه نه به جمع کیږی په محل واحد کښ په یو وخت کښ د جهت واحده نه، او تقابل په څلور قسمه دے،

(۱) تقابل عدم والملکه (۲) تقابل تضاد (۳) تقابل تضایف (۴) تقابل بالایجاب والسلب، تقابل عدم والملکه عبارت دَے دکون د دوه شیئنو نه په دا سے شان چه یو عدمی وی او بل وجودی وی، او محل د عدمی صالح وی لپاره د اتصاف په وجودی باندے مثال لکه عمی او بصر، نو عمی عدمی او بصر وجودی دے او د عمی محل صالح دے لپاره د اتصاف په وجودی سره ځکه چه اعمیٰ هغه کس ته ویلے شی چه په هغه کښ صلاحیت د بصر وی ځکه چه د عمی معنیٰ ده عدم البصر، او تقابل تضاد عبارت دے د کیدل د شیئنو نه په دا سے شان چه دواړه به نهٔ جمع کیږی په محل واحد کښ او دا دواړه شیئین به وجودی وی، او تعقل د احدهما به موقوف نهٔ وی تر [redacted] د آخر پورے، مثال لکه سوا د او بیاض شو، او تقابل تضایف عبارت دے د [redacted] د شیئنو نه چه دواړه وجودی وی، لیکن تعقل د احدهما موقوف وی پر تعقل د آخر پورے مثال لکه ابوة او بنوة نو ابوة (پلار والے) وبنوة (زوئے والے) وجودی دے او تعقل د احدهما موقوف دَے تر تعقل د آخر پورے او تقابل بالایجاب والسلب عبارت دے له کون د شیئنو نه چه یو وجودی وی او بل عدمی وی، او محل د عدمی صالح نهٔ وی لپاره د اتصاف په وجودی لکه فرسیت او لا فرسیت، او یا لکه انسان او لا انسان شو، نو فرسیت د انسان وجودی دے او لا فرسیت او لا انسان عدمی دَے او محل د لا فرسیت لا انسان چه دَے صالح نهٔ دے لپاره د اتصاف په فرسیت انسانیت سره

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه د حصر په خلورو کښې دا ده چه دا متقابلین به خالی نه وی، یا به دواړه وجودین وی، او یا به یو وجودی او بل به عدمی وی، کچرے دواړه وجودی وی نو بیا به خالی نه وی، یا به تعقل د احد هما موقوف وی تر تعقل د آخر پورے او یا به نهٔ وی کچرے اول وړُ نو هغه تقابل تضایف شو، او که ثانی وړُ نو هغه تقابل تضاد شو، او که یو وجودی وی او بل عدمی وی نو بیا به خالی نه وی، یا به له شانه د عدمی نه توصیف په وجودی سره وی، او یا به نهٔ وی، که اول وړُ هغه تقابل د عدم و الملکه شو، او که ثانی وړُ نو هغه تقابل ایجاب او سلب شو،

تنبیه (۲) :- زده کړه دا خبره چه د بدیهی او د ضروری ترمینځ یا خو ترادف دے په دے شان سره چه هر بدیهی ضروری دے او هر ضروری بدیهی دے یا د دوئی په مینځ کښې نسبت د عموم، خصوص مطلق دے په دے شان سره چه د ضروری تعریف کوّلے شی . ما لا یکون تحصیله مقدورًا للمخلوق (کشاف الاصطلاحات) پس ضروری په عام طور په امور غیر اختیاریو کښې استعمالیږی، او بدیهی په اختیاری او غیر اختیاری دواړو کښې استعمالیږی، لیکن صحیح خبره دا ده چه د دے ترمینځ اتحاد ذاتی او فرق اعتباری دے په ادنیٰ تأمل سره معلومیږی، او همدا رنګ په مابین د نظری او کسبی کښې ترادف دے، او بعض حضرات وائی چه د دوئی په مابین کښې هم نسبت د عموم خصوص مطلق دے په دے شان سره چه د نظری استعمال عام طور په امورو غیر اختیاریو او ما یتضمنه النظر الصحیح کښې کیږی، په خلاف د کسبی نه، چه د هغه استعمال په امورِ اختیاریو او غیر اختیاریو اد نظر صحیح او غیر صحیح دواړو کښې کیدے شی، و فی (کشاف الاصطلاحات) ص۱۱۶/۲ ص۳۶۳/۲ ویطلق الکسبی ایضًا علےٰ طریق یُعلمُ مِنهُ المجهول و قد اختلف فی جواز الکسب بغیر النظر، فمن جوزهٗ جعل الکسبی اعم مِن النظری، و من لم یُجوّزهٗ فقال النظری و الکسبی متلازمان، لکنَّ النظری یلازم الکسبی عادةً بالاتفاق من الفریقین،

تنبیه (۳) :- زده کړه دا خبره چه بداهت او نظارت، بعض وائی چه د او صافو د علم نه دے په اعتبار د وجهینو سره اوّل[1] وجه دا ده، چه نظر بالذات هغه شئ وی چه مرتب وی په نظر باندے بالذات او مرتب په نظر بالذات علم دے نو نظر بالذات هم علم شی، هرچه صغریٰ ده هغه ظاهره



ده، او هرچه کبریٰ ده (یعنی مرتب بالذات په نظر باندے علم دے) ځکه چه مرتب بالذات په نظر باندے هغه شئ وی چه مقصود بالذات وی په نظر سره او مقصود بالذات په نظر سره علم دے نو نظر بالذات علم شو، او دویمه وجه دا ده چه یو مطلق وجود دے په ظرف مطلق کښې او بل وجود خاص دے په ظرف کښې نو مطلق وجود د پاره علت واجب تعالیٰ دے او وجود خاص لپاره علت شرائط عادیه دی او وجود د علم په مرتبه د قیام کښې دا وجود خاص دے په ظرف خاص کښې نو علت یعنی شرائط عادیه ده د پاره نظر دے نو مرتب بالذات په نظر باندے علم شو نو نظری بالذات هم علم شو، او هر کله چه نظری علم شو، نو بدیهی به هم علم وی، ځکه چه په مابین د بدیهی او نظری کښې تقابل تضاد او یا تقابل عدم و الملکه دے (کما مرّ) نو احد هما چه د چا صفت وی نو آخر به هم د هغه صفت وی دوجه د عدم قول بالفصل نه په دوئی کښې،

او بعض وائی، چه بداهت او نظارت د صفاتو د معلوم نه دی په اعتبار د وجهینو سره نه که د مذهب تحقیق هم دے، اوّل[1] وجه دا ده چه نظر بالذات هغه شئ دے چه هغه مرتب بالذات وی په نظر باندے او مرتب بالذات په نظر باندے هغه شئ وی چه اوّلًا مستند وی جاعل وته او اولاً مستند جاعل وته معلوم دے، ځکه چه معلوم طبعیة مرسله دے په مرتبه من حیث هی کښې او هرچه علم دے هغه طبعیت مرسله نهٔ دے بلکه متشخص دے په عوارض ذهنیو سره او جعل د کلیاتو مقدم دے په جعل د جزئیاتو باندے نو مستند بالذات جاعل وته معلوم شو نو نظری بالذات هم معلوم شو، او دویمه وجه دا ده چه بداهت عبارت دے د اجلائیه مغنیه عن النظر نه، او نظارت عبارت دے د اخفائیه محوجه الی النظر نه او اخفائیه په معلوم کښې وی نه په علم کښې، نو اخفائیه صفت د معلوم شو و للتفصیل مقام آخر،

تنبیه (۴) :- زده کړه دا خبره چه دا تقسیم د تصور او د تصدیق بدیهی او نظری بعضو علماؤ حواله کړیدے بدا هت ته چه دا تقسیم بدیهی دے لکه علامه تفتازانی رحمه الله په خپل کتاب (تهذیب) کښې وائی چه ویقسمان بالضرورة الضرورة و الاکتساب بالنظر " نو د علامه تفتازانی

رحمه الله مذهب دا دے، چه دا تقسیم بدیهی دے او محتاج نه دے نکر او دلیل ته چه مونږ رجوع وکړو خپل وجدان او باطن ته نو مونږ مومو چه بعض تصورات مونږ ته حاصل دی بغیر د فکر او د نظر نه، او بعض نور تصورات مونږ ته حاصل دی په فکر او نظر سره، او همدا رنګ مونږ مومو (یعنی وینو یا ګورو) چه بعض تصدیقات مونږ ته حاصل دی بغیر د فکر او د نظر نه، او بعض نور تصدیقات مونږ ته حاصل دی په فکر او نظر سره نو څرګندو بلکه په دے اقسام د تصور او د تصدیق بدیهی او نظری ته راځی بغیر د فکر او د نظر نه، او اکثر علماء (مناطقه حضرات) وائی چه دا تقسیم د تصور او د تصدیق بدیهی او نظری ته نظری دے، محتاج دے فکر او نظر ته، لکه ماتن رحمهٔ الله او صاحب د سلم علامه محبُ الله بهاری دے طرف ته میلان کړیدے ځکه چه دوئ په تقسیم باندے دلیل قائم کړیدے، او دا دلیل مبنی دے په دوه شقینو باندے نو دلیل لپاره د ابطال د شق اول دا دے چه مونږ دا یو کړو ته ټول تصورات او تصدیقات بدیهی شی نو د! ټول به نفس ناطقه ته حاصلیږی بغیر د فکر او د نظر نه، او دا باطله ده چه نفس ناطقه مستغنی شی د نظر نه ځکه چه په حصول د ډیرو تصوراتو کښ او په حصول د ډیرو تصدیقاتو کښ مونږ محتاج یو نظر ته، نو معلومه شوه چه ټول تصورات او تصدیقات بدیهی نهٔ دی نعمد اشانکه ټول بدیهی شی نو بعض اشیاء به مونږ ته واضح شی حالانکه دا ایسے نه ده ځکه چه په ډیرو اشیاؤ باندے څمونږ علم نشته، د دے وجه تعلیم، تعلم، درس، تدریس او افاده، او استفاده سلسله جاری او ساری ده، او دلیل د پاره د ابطال د شق ثانی دا دے چه مونږ دا یو کړو ته ټول تصورات او تصدیقات نظری شی نو مونږ به دا یو نظری کسب او معلوموو د بل نظری نه، نو یا به دا نظری بیرته د اول نظری نه معلوموو بالذات یا بالواسطه نو لازمیږی دور، او که دا سلسله دا کتاب په دے نظر یا توکښ جاری کړے شی تر غیر نهایت پورے، نو لازم به شی تسلسل، او دا دواړه باطل دی، نو د ټول تصورات او تصدیقات نظری کیدل هم باطل او محال شو، "لاَنَّ مَا یَستَلزِم المحَالَ محالٌ"

قوله اقول، العلم اما بدیهیٌ الخ غرض د شارح رحمهٔ الله د دے شرح



نه اشاره کول دی یو څو امورو (اغراضو) ته (۱) تفصیل المقام (۲) تصریح بما علم ضمناً (۳) تعریف د هر واحد د بدیهی او د نظری سره د ایراد د امثلهٔ نه (۴)، دفع د اعتراض ده، تفصیل د مقام خو واضح دے، او تصریح بما علم ضمناً دا ده چه هر کله تصور او تصدیق منقسم شول بدیهی او نظری ته پس د اتقسیم ثانی د علم شو، فلذا قال صاحب السهیل "هذا شروع فی تقسیم آخَرَ لِلعلمِ الیٰ بدیهیٍ ونظریٍ"، قوله، والبدیهی هو الذی الخ د اتعریف د بدیهی صحیح نه شو ځکه چه بدیهی نظر، تعریف او دلیل ته ضرورت نهٔ لری، فلم یکن البدیهی بدیهیًا لکن التالِی باطلٌ فالمقدم مِثلهٗ، وجه د بطلان د تالِی ظاهره ده، ځکه چه ورته هم بدیهی وائی، وجه د ملازمه دا ده چه تعریف یُ وکړی نو بدیهی هم محتاج شو تعریف او کوم شی چه محتاج وی تعریف ته هغه نظری وِی نو بدیهی نظری شو، جواب، مونږ د لفظ او مفهوم د بدیهی تعریف کړیدے، او دا مستغنی عن التعریف نه دے بلکه محتاج دے تعریف ته، او هر چه مستغنی دے د تعریف نه نو هغه مصداق (ماصدق علیه) د بدیهی دے،

سوال:- ماتن او شارح رحمهما الله بدیهی ولے مقدم کړو په نظری باندے، سره د دے نه چه مَا صدق علیه د نظری زیات دے په نسبت د ما صَدَقَ علیه د بدیهی، و العزّة للکاثرِ، جواب بدیهی ئے مقدم کړو په نظری باندے، ځکه چه دا بدیهی عدمی دے او نظری وجودی دے او عدمي مقدم وی په وجودی باندے، قوله، واما نظریٌ وهو الذی یتوقف حصوله علیٰ الخ سوال حکم کله نظر او فکر ته محتاج نه وی او محکوم علیه یا محکوم به په غور سره فکر ته محتاج وی، او دا ایسے تصدیق ته هم بدیهی ویلے شی مثلاً د دے خبرے تصدیق باندے چه "الممکن محتاجٌ الی المؤثر لا مکانِهِ" یعنی ممکن د خپل امکان د وجے نه مؤثر ته محتاج دے دا خبره صادقه ده چه دا په نظر باندے موقوف دے، نو د دے وجے نه دا په تصدیق نظری کښ داخلیدل پکار دو، حالانکه دے ته تصدیق بدیهی ویلے شی، پس تعریف د بدیهی جامع نشو خپلو افرادو لره، ځکه چه تصدیق مذکور ورنه خارج شو، او تعریف د نظری مانع نشو د دخول د غیر نه ځکه چه تصدیق مذکور د بدیهی کید و سره سره، په نظری کښ

کښې داخل شو، جواب حاصل د جواب دا دے، چه تصدیق عبارت دے د حکم نه، او توقف نه مراد توقف بالذات دے نه توقف بالواسطه، نو که حکم فی ذاته په نظر او کسب باندے موقوف وُو نو دا به نظری وی، او که حکم فی ذاته په نظر باندے موقوف نه وی، نو دا به بدیهی وی، پس شارح رحمه الله د نظری په تعریف کښې چه څه ذکر کړیدی د هغې نه هم دا مراد دے، او که تصدیق د خپل اطرافو (محکوم علیه محکوم به) په اعتبار سره په نظر باندے موقوف وی، نو دا توقف بالواسطه دے نهٔ بالذات، او حُما مراد د توقف نه توقف بالذات دے - لیکن دا جواب مبنی دے په تقریر او مسلك د حکماؤ باندے، ځکه چه دوئ تصدیق عبارت احلې د حکم نه او که تصدیق عبارت واخلے د تصوراتِ ثلاثه او د حکمِ مجموعه ته (کما هو مسلك الرازی) نو اشکال او اعتراضِ مذکور نور هم قوی کیږی!

بعض حضراتٌ دا مام رازی د جانبه جواب دا ښے کړیدے چه د ده په نزد کل (ټول) تصورات بدیهی دی نو دد ے وجه نه د ده په نزد د تصورات مذکوره فی السوال تصور نشی کیدے، فافهم،

سوال: د نظری په مذکور الذکر تعریف باندے اعتراض واردیږی، خلاصه دا اعتراض دا ده چه د نظریاتو علم صاحب د قوت قدسیه د بدیهی وی، یعنی بغیر د نظر او دفکر نه حاصلږی ورته، او فاقد د قوة قدسیة هم د دغه نظریاتو علم په نظر او کسب سره حاصل وی نو نظری د تعریف نه خارج شول او د بدیهی تعریف کښې داخل شو، نو تعریف د نظری د جامع نشو، او تعریف د بدیهی د مانع نشو، جواب[1]، د لته توقف په معنیٰ د لولاهٔ لا متنع نهٔ دے بلکه د لته د توقف نه مراد توقف په معنیٰ د مصحح الدخول الفاء دے او د بدیهی تعریف دا دے چه د هغه حصول په نظر او فکر سره نه وی، او د نظر تعریف دا دے چه د هغه حصول په نظر او فکر سره وی، نو د کوم شی علم چه په نظر او فکر سره حاصل شی، په هغه باندے د نظری تعریف صادقیږی، اګرکه دا شے صاحب د قوت قدسیه ته بلانظر حاصل شی، او د بدیهی تعریف پرِ صادق نشو نو تعریف د بدیهی او د نظری خپل ځائے باندے جامع او مانع شول، جواب[2]، بداهت او نظارت د جمله صفت، او د هر انسان علم د بل انسان د علم نه مغائر وی، پس چا ته چه



یو شئ بغیر د نظر او فکر سره حاصل شی، نو د ده علم را تلل به بدیهی وی، او چا ته چه هم د دغه شی حصول په فکر او نظر سره وشی نو د ده علم به نظری وی، " و لولا الاعتبارات لبطلت الحکمة،

قوله، اذا عرفت هذا فنقول الخ غرض د شارح په دے عبارت سره بیان د امور و خمسه[5] وُ دَے (۱) تمهید ایخو دل دی را تلونکی اعتراض لپاره، چه روستو شارح بیان کړیدے په دے قول سره " وفیه نظرٌ لجواز ان الخ
(۲) اشاره کول دی جواب د سوال مقدر ته، خلاصه د سوال دا ده، چه کل رابځ د احاطې د افراد و لپاره، او د لته دا کل دوه ځله ذکر شویدے نو لازم شو استدراك دا احد هما، شارح جواب ورکړیدی قول خپل سره، چه " لیس کل واحدٍ من کل واحدٍ الخ او خلاصه د جواب دا ده چه کل اول د پاره د احاطې د افراد دے، او کل ثانی لپاره د احاطې د انواعو دے نو استدراك لازم نشو، پس هرکله چه موږ کل ثانی د پاره د احاطې د انواعو او وے نو دا هم دفع شو چه کل ثانی به د پاره د احاطې د افرادو وی او د افرادو لاندے نور دا افراد نهٔ وی حتی چه کل اول د پاره د احاطې د دغو افرادو شی نو لازم به شی استدراك د اول، (۳) الکل کښې الف لام عوض د مضاف الیه دے (۴) چه د کل نه مراد د لته کل افرادی دے، ځکه چه شئ مطلق ذکر شی نو مراد ورنه فی د کامل وی (۵) غرض بیان دلیل د شق اول دے په دے شان سره چه تصور او تصدیق په دے خبره کښې شریك دی چه د دوئ هر هر فرد نهٔ نظری وی او نه بدیهی وی د دے وجه نه شارح رحمه الله " لیس کل واحدٍ من کلٍ واحدٍ الخ سره تفسیر وکړو چه د دے نه دا خودل دی چه دا افرادو د تصور او افرادو د تصدیق نه هر فرد بدیهی هم نه دے او هر فرد نظری هم نه دَے، او د دے نه لازمًا دا خبره دا خبره معلومیږی چه بعض تصورات او تصدیقات بدیهی دی، او بعض نظری دی، او د دے وجه دا ده چه په دواړو دعوو کښې رفع دا یجاب کلی ده چه هغه د پاره سلب جزئی لازم دے په دے شان سره چه د کوم عام شی دا افرادو نه دوه مقابل صفتو نه سلب کړے شی په سلب جزئی سره، نو د هر یو وصف سلب جزئی په ځائے دولیم دا یجے مقابل وصف ثابتیږی، کوم چه د خپل مقابل لره عدم یا وجود وی، د مثال په طور او وئیلے شی چه " هر حیوان بینا نهٔ دے او نه هر حیوان نا بینا دے نو د دے نه لازمًا دا معلومه شوه

چه بعض حیوان بینا دے، او بعض نابینا دے۔ نو په دے تفسیر سره منه اعتراض هم ختم شو کوم چه په ماتن باندے وارديدو۔ چه دماتن استدلال مفيد د مقصود نهٔ دے ځکه چه دلته مقصود دا دے چه د تصور اود تصديق بعض افراد بديهي دی او بعض نظری دی اود عبارت نه د بعض مجموع د بداهت اود نظريت ثابتيږی اودا مطلوب ځمونږ نهٔ دے، او پوره تصريح دجواب دا ده چه په اصل کښ په دے مقام کښ څلور مدعاګانی دی (۱) دا چه کل تصورات بديهي نهٔ دی، دوئيم دا چه کل تصديقات بديهي دی (۳) دا چه کل تصورات نظر نهٔ دی (۴) دا چه کل تصديقات نظری نهٔ دی نو پس، د دے مقد متينو اوليتينو نه مصنف رحمه الله تعبير کړيدے په يو مقدمے سره چه "وليس الكل من كلٍّ منهما الخ د وجه د اشتراك د دے دواړو نه په دليل کښ او هغه دليل دا دے چه" والا لما جهلنا شيئًا "يعنی که ټول تصورات او تصديقات بديهي شی نو مونږ به مستغنی شو د نظر نه لکن تالی باطل دے نو مقدم ئے مثل د هغه شو هر چه بطلان د تالی دے ځکه چه په حقيقت دجن يا د ملك يا حدوثِ عالم معلومولو کښ نو مونږ خوامخواه محتاج کيږو نظر و ته، او د مقد متينو ثانيتينو نه هم مصنف رحمه الله تعبير کړيدے په يو مقدمے سره چه واْئی "ولا نظريا" د وجه د اشتراك د دے دواړو نه په دليل کښ، و "الا لدار او تسلسل" دے او بل دے طريقے سره چه د اشتراك فی الدليل سره سره اختصار هم راغے، و مبنی المتونِ علی الاختصار

---

وَفِيهِ نَظَرٌ لِجَوَازِ اَنْ يَكُوْنَ الشَّيْئُ بَدِيْهِيًّا وَ مَجْهُوْلًا لَنَا فَاِنَّ الْبَدِيْهِيَّ وَاِنْ لَمْ يَتَوَقَّفْ حُصُوْلُهٗ عَلٰى نَظْرٍ وَكَسْبٍ لٰكِنْ يُمْكِنُ اَنْ يَتَوَقَّفَ حُصُوْلُهٗ عَلٰى شَيْئٍ آخَرَ مِنْ تَوَجُّهِ الْعَقْلِ اِلَيْهِ وَالْاِحْسَاسِ بِهٖ اَوِ الْحَدْسِ اَوِ التَّجْرِبَةِ اَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ فَمَا لَمْ يَحْصُلْ ذٰلِكَ الشَّيْئُ الْمَوْقُوْفُ عَلَيْهِ لَمْ يَحْصُلِ الْبَدِيْهِيُّ فَاِنَّ الْبَدَاهَةَ لَا تَسْتَلْزِمُ الْحُصُوْلَ فَالصَّوَابُ اَنْ يُقَالَ لَوْ كَانَ كُلٌّ مِنَ التَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِيْقَاتِ بَدِيْهِيًّا لَمَا احْتَجْنَا فِيْ تَحْصِيْلِ شَيْئٍ مِنَ الْاَشْيَاءِ اِلٰى كَسْبٍ وَ نَظْرٍ وَهُوَ فَاسِدٌ ضَرُوْرَةَ احْتِيَاجِنَا فِيْ تَحْصِيْلِ بَعْضِ التَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِيْقَاتِ اِلَى الْفِكْرِ وَالنَّظْرِ

**ترجمه**:- او په دی (دليل) کښ نظر (اعتراض) دے ځکه چه دا جائز



ممکن دی چه يو شئ په نفس (الامر کښ) بديهي وی (ځمونږ) د پاره مجهول دے وجه نه چه د بديهي حصول اګر چه په نظر او کسب باندے موقوف نه وی ليکن داکيدے شی چه د دے (بديهي) حصول کوم بل شئ باندے موقوف وی لکه توجه د نفس، احساس، زيرکتيا او تجربه وغيره شو، ترکومه چه موقوف عليه شئ حاصل نهٔ وی تر دغه وخته پورے بديهي شئ نشی حاصليدے، ځکه چه بداهت (دکوم شی بديهي کيدل) حصول لره مستلزم نهٔ دے پس صحيح او درست (او بهتره) دا ده چه او ويلے شی که ټول تصورات او تصديقات بديهي شی نو بيا موتږ دکوم شی په حاصلولو کښ کسب او نظر ته محتاج نشو او دا فاسد (باطل) دے ځکه چه د بعض تصورا تو او د تصديقا په حاصلولو کښ ځمونږ نظر او فکر ته احتياج کيدل يو بديهي کار دے،

**توضيح اللغات**:- (۱) العقل، مر التفصيل فيه (۲) احساس په لغت کښ په يو شئ باندے پوهيدل او حاصلول د شئ دی په يو د حواس خمسه و ظاهر يو سره، وفی التنزيل، فَلَمَّا اَحَسَّ عِيسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ - الآية هل تحس منهم من احدٍ، او په اصطلاح کښ ادراك الشئ الموجود فی المادة الحاضرة مكنونة بهيئات مخصوصة - و فی کشاف الاصطلاحات ص۱۲ ج۱ ان الحكماء قسموا الادراك الی اربعة اقسام (۱) الاحساس و هو ما عرفت (۲) والتخيل و هو ادراك الشئ مع تلك الهيئات المذكورة فی حال غيبته بعد حضوره (ای لا يشترط فيه حضور المادة) (۳) والتوهم و هو ادراك معانٍ جزئية متعلقة بالمحسوسات (۴) و التعقل و هو ادراك المجرد عنها كليًا كان او جزئيًا (۲) الحدس: د (ن) نه په لغت کښ زيرکتيا او ادراك د يو شئ ته ويلے شی او په اصطلاح کښ سرعة انتقال الذهن من المبادی الی المطالب، وهی ادنی مراتب الكشف (التعريفات (۴) التجربة، دا مصدر دے د باب تفعيل تخه په لغت کښ ازمودن (ازمائيلو) ته وائی، او په اصطلاح کښ القضية اللتی يحتاج العقل فی جزم الحكم بها الی واسطة تكرار المشاهدة، و قيل تحقيق غرض معين- و غير هما (۵) الصواب: په لغت کښ واقع کيدل او درست والی ته وائی، او په اصطلاح، الامر الثابت الذی لا يسوغ انكاره، و قيل اصابة الحق (التعريفات) (۶) ضرورة په معنی د بداهت سره، ځکه چه بناء په دے قول باندے د ضرورة او د بداهت په مابين کښ ترادف وی قال الحصام

Maktaba Tul Ishaat.com

الصواب عند الجمهور فی نحوه "لضرورة احتیاجنا" لکن بعض متأخری المضوین
خالفهم وجوزهم،

تشریح:- **قوله،** وفیه نظر الخ یعنی دلیل د ماتن "لما کان من الاشیاء مجهولاً
لنا" محل نظر او اعتراض دے، او وجه د نظر دا ده چه د کوم شی بدیهی کیدل د دے
معلوم کیدلو له مستلزم نهٔ دے، ځکه چه کیدے شی چه د کوم شی حصول په
نظر باندے موقوف نه وی، بلکه توجه د نفس یا تجربه وغیره باندے موقوف
وی پس بداهة عدم جهل له مستلزم نشو، بلکه بداهت کله کله جهل سره جمع
کیږی هم، مثال په طور د کاڼی (موتی) اکثر تمام پرزه جات د محسوسات نو
نه دی لیکن مونږ ته نهٔ دی معلوم، لیکن کلینډر یا موټروان ډرایئور، ته
معلوم دی، لیکن دا اعتراض د ماتن ظاهری عبارت باندے وارد یږی ګنے ماتن
رحمهٔ الله شرح د کشف کښ لما جهلنا تفسیر په لما احتجنا سره کړیدے چه
د هغه خلاصه دا ده چه که ټول تصورات او تصدیقات بدیهی وَے،
نو مونږ د کوم په حاصلولو کښ نظر او فکر ته به محتاج نهٔ وو، حالانکه څومره
احتیاج ثابت دے نو د ماتن رحمهٔ الله د دے تفسیر نه روستو مذکور الذکر
اعتراض قابل د اهتمام پاتے نشو، علامه تفتازانی رحمه الله د تفسیر مذکور
په توجیه کښ وائی چه کوم یو شی څومره پاره دا سے مجهول نشی کیدے چه
مونږ د نظر او فکر محتاج جوړ شو، ګویا هر هغه شی چه نظر او فکر ته محتاج
نهٔ وی هغه مونږ ته معلوم دے، د توجیه مذکور حاصل دا دے چه د لته
جهل مطلق دے، او شی چه مطلق ذکر شی نو مراد ورته فرد کامل وی او فرد
کامل مجهول هغه دے چه په هغه کښ د کسب او نظر ته ضرورت وی،
او کوم شی کښ چه د کسب او نظر ته پکښ ضرورت نه وی، هغه د سره مجهول
کیدے هم نشی، لیکن میر سید شریف جرجانی رحمه الله په دے توجیه
مذکور باندے اعتراض کړیدے، حاصل د اعتراض دا دے چه د کوم
شی نظر باندے نهٔ موقوف کیدل معلوم کیدلو له مستلزم نهٔ دے، د دے
وجه نه چه د کوم شیانو حصول په تجربه، حدس او غیره باندے موقوف
کیږی هغه خپل حصول کښ نظر ته محتاج کیدل په نسبت د کوم انسان نه وی
علاوه د دے نه په دے کښ د هر شی حصول کم از کم توجه د نفس باندے
موقوف وی، نو د دے وجه نه هر بدیهی معلوم کیدل ضروری نهٔ دی.





**قوله،** فالصواب ان یقال الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب کول دی
د اعتراض مذکور څخه په بدلولو د دلیل سره، او حاصل د جواب دا دے
چه "لما جهلنا" مونږ بدلوو په لما احتجنا سره نو مقصد ترے نه دا یے
را او تلو چه که ټول تصورات او تصدیقات بدیهی وے، نو بیا مونږ د کوم
تصور او د تصدیق په حاصلولو کښ نظر او کسب ضرور محتاج یو نو معلومه شوه
دا خبره چه ټول تصورات او تصدیقات بدیهی نشی کیدے ګنے څومره په
بعض تصوراتو او تصدیقاتو په حاصلولو کښ نظر او کسب ته احتیاج به
رانشی، فالتالی باطلٌ والمقدم مثله، سوال فالصواب الخ سره چه شارح کوم
جواب کړیدے نو دا مبنی دے په بدلون د دلیل باندے، معنیٰ دا شوه چه
بغیر د بدلون د دلیل نه جواب نه صحیح کیږی، او صواب ضد د خطا دے
نو د دے جواب نه علاوه بل جواب به خطا وی، حالانکه د دے مذکور
الذکر اعتراض نه جواب کیدے شی بغیر د تغیر د دلیل نه په دے شان سره
په دے شان سره چه مونږ وایو، چه د لته تقدیر د عبارت دے، اے "لَمَّا
جهلنا شیئاً جهلاً محوجاً الی النظر"، نو منافات ختم شو، ځکه چه کله کله
مونږ ته یو شی مجهول وی او مونږ پکښ میلان د عقل او حدس او تجربې ته
محتاج یو، نو د شارح رحمه الله فالصواب ویل درست نهٔ شو،
جواب:- الصواب په معنیٰ د الاَوْلیٰ (غوره) سره دے نه په معنیٰ د ضد
د خطاء سره لامکان الجواب عن الدلیل الاول کما ذکرنا، لیکن کوم جواب
چه شارح رحمه الله ذکر کړیدے غوره ځکه دے، چه زیادت ظهور
سره سره ماتن رحمهٔ الله هم دا توجیه په شرح د کشف کښ ذکر کړیده،

## "المقالات الاصوبه فی اصطلاحات الاسولة والاجوبة"[۲۳]

زده کړه دا خبره چه د متقدمینو مصنفینو دا عادت دے چه د کوم
اعتراض یا جواب د ضعف او قوة د پاره مختلف مخصوص الفاظو سره
اشاره کوی، اګر چه د استعمال الخاص یو د بل په مقام کښ ذکر کولے شی لیکن
اصل عادت قدیمه دا دے چه (۱) لفظ تامل سره عام طور قوی جواب
طرف ته اشاره وی، (۲) تأمّل سره عام طور ضعیف جواب طرف ته اشاره
وی، (۳) فلیتأمّل سره عام طور جواب اضعف ته اشاره وی، (۴) فیه
بحث عبارت عام دے، مستعمل فیه مقام خو اکه کوم تحقیق لپاره وی یا فساد

يا ناد پاره وي، د دواړو لپاره استعمالولے شي د دے وجه په مناسب محل باندے محمولول پکار دي، (۵) فيه نظرٌ، عام طور په هغه موقع باندے استعمالولے شي، چه کوم ځائے کښ فساد لازم راځي (۶) لقائلٍ، سره اشاره وي سوال اقوای طرف ته، او د دے په جواب کښ اقوال ـ نقول، الفاظ راوړل مناسب (۷) فان قلت: سره اشاره وي، قوي سوال ته، او د دے په جواب کښ قلت يا قلنا راوړلے شي، (۸) فان قيل: سره اشاره کولے شي ضعف د سوال ته د دے په جواب کښ اُجيبَ يا يقال وغيره الفاظ راوړل مناسب دي، (۹) او لا يقال سره اشاره کولے شي چه دا سوال ا ضعف دے او د دے په جواب کښ لانا نقول راوړلے شي، (۱۰) اللّٰهُمَّ الّا ان يكون كذا د کوم سوال د سائل په جواب کښ ذکر کولے شي د پاره د دے چه جواب د سائل په ذهن کښ مستحکم او متقرر شي ـ او د دے سره هم اشاره وي مزيد قوة د سوال ته (۱۱) اعلم سره اشاره وي يوے قاعدے کلي ته، چه د هغے زده کول ضروري وي، (۱۲) واعلَمْ سره اشاره وي، جواب د سوال مقدر ته (۱۳) فاعلم سره اشاره وي تفصيل د اجمال ته (۱۴) في الجملة د قِلّت او اجمال د پاره استعماليږي (۱۵) بالجملة د کثرت او تفصيل لپاره استعماليږي (۱۶) محصول الكلام استعمال په هغه موقع کښ کولے شي چه هلته اجمال بعد التفصيل، او همدغه شان نتيجه ته هم محصول الكلام ويلے شي (۱۷) حاصل الكلام هر هغه موقع کښ استعمالولے شي چه هلته تفصيل بعد الاجمال وي، (۱۸) صواب خلاف او ضد د خطاء ته ويلے شي، ليکن د دے دواړو استعمال عام طور په مجتهداتو کښ کيدے شي، او د حق او د باطل استعمال په معتقداتو کښ کولے شي،

**فائدة:**. پوه شه چه لفظ د تأمّلُ مختلفو معانو او فوائدو لپاره راځي (۱) اول تأمّل سره اشاره وي عام طور دقة د مقام ته (۲) ولِتأمّل سره اشاره وي اشکال ته، يعني هغه مقام چه هلته اشکال او اشتباه وي، (۳) فتأمّلْ سره اشاره وي تحقيق او اهتمام د مقام ته (۴) فَلْيَتَأمّل: سره اشاره وي صرف جواب ته (۵) فيه التأمّل" سره اشاره وي اعتراض ته خو سره د جواب نه (۶) و التامل، سره اشاره وي اعتراض او جواب د دواړو ته وقد يستعمل كل واحدٍ منهما مقام الآخر (كذا افاد في الشيخ المعتمد)



**وَلَا نَظَرِيًّا اَىْ لَيْسَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنَ التَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِيْقَاتِ نَظَرِيًّا فَاِنَّهٗ لَوْ كَانَ جَمِيْعُ التَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِيْقَاتِ نَظَرِيًّا يَلْزِمُ الدَّوْرُ اَوِ التَّسَلْسُلُ :.**

**ترجمه**:- او نه ټول تصورات او تصديقات، نظري دي يعني هر واحد د هر تصور او د تصديق نه نظري نشي کيدے، ځکه چه که چرته ټول تصورات او تصديقات نظري شي، نو دور يا تسلسل لازميږي، او دا دواړه باطل دي،

**تشريح**:- قوله ولا نظريا الخ دا په بديهيا باندے عطف دے، مقصد دا دے چه ټول تصورات او تصديقات نظري هم نشي کيدے ګنې د تصور او د تصديق حصول په طريقه د دور او يا تسلسل سره کيږي، او دا دواړه باطل دي، وجه يې روسته راځي، سوال کيدے شي چه تمام تصورات نظري شي او سلسله د اکتساب کوم يو تصديق بديهي باندے ختم شي، او همدغه شان تمام تصديقات که نظري شي، او سلسله د اکتساب کوم تصور بديهي باندے ختم شي، نو په دے صورت کښ نه دور لازميږي او نه تسلسل،

جواب: شارح رحمه الله چه کوم دليل پيش کړيدے دا تصورات د تصديقاتو نه، او تصديقات د تصوراتو نه حاصلولو او کسب کولو امتناع باندے موقوف دے که چرے دا امتناع مذکور دليل تام وي، نو دا دليل هم تام دے ګنې دا دليل تام کيدے نشي، البته تصوراتو کښ دا دليل ثبوت دا امتناع مذکور نه بغير هم تام کيږي، ځکه چه هغه تصديق بديهي کوم باندے چه د تصوراتو سلسله د اکتساب ختم شوے ده، هغه يخپله تصور د محکومٌ عليه يا محکومٌ به او نسبت حکميه باندے موقوف دے، او د تمام تصورات د نظري کيدو په صورت کښ د اتصوّرات هم نظري کيږي، نو بيا هم دور يا تسلسل لازميږي،

سوال: د ټول تصورات او تصديقات د نظري کيدو په صورت کښ ستا د اقول چه "لو كانَ كلُّها نظريًّا يلزم الدور او التسلسل" دغه شان "واللّازم باطلٌ فالملزومُ مثلهٗ" دواړه تصديق نظري دي، او په دے دواړو تصديقونو کښ چه کوم تصورات مذکور دي، هغه هم نظري دي، پس په دے تصديقاتو او تصوراتو حاصلولو کښ هم دور او تسلسل طرف ته احتياج لازميږي، او دور او تسلسل دواړه باطل دي، نو بنا په دغه مقدماتو باندے ستا دليل هم باطل شو، جواب: دا مقدمات او په د يکښ چه کوم تصورات



Maktaba Tul Ishaat.com

مذکور دی دا ټول مونږ ته بلا شبه معلوم دی نو په دے باندے استدلال بالیقین او تام دے، منوچه دا مقدمات او په دے کښې چه کوم مذکور شوی تصورات دی د دے معلوم کیدو نه دا ضرور لازمیږی چه ټول تصورات او تصدیقات واقع کښې نظری نهٔ دی، او دا خبره مونږ لپاره کوم نقصان نهٔ جوړوی بلکه نور هم مفید کرځی،

قوله ، یلزم الدور الخ: د ټول تصوراتو او تصدیقاتو بدیهی کیدو، او نظری کیدو بطلان لپاره عمومًا د لزوم دور او تسلسل دلیل پیش کولے شی، لیکن اول دا په دے خبرے ثبوت باندے موقوف دے چه تصور د تصدیق نه حاصلول ممتنع دے، دوئیم[2] دا چه دا په حدوث نفس اثبات باندے موقوف دے، او ددے تفصیل عنقریب راتلونکے دے، پس خلاصه د دلیل دا شے ده،، لو کان کلها نظریًا یلزم احد الاستحالتین (الدور او التسلسل) واستلزام المحال محالٌ، فعُلِمَ اَنَّ نظریّة الکلِّ ایضًا محالٌ،

وَالدَّوْرُ هُوَ تَوَقُّفُ الشَّیْئِ عَلٰی مَا یَتَوَقَّفُ عَلَیْهِ ذَالِكَ الشَّیْئُ مِنْ جِهَةٍ وَّاحِدَةٍ اِمَّا بِمَرْتَبَةٍ کَمَا یَتَوَقَّفُ (آ) عَلٰی (ب) وَ بِالْعَکْسِ اَوْ بِمَرَاتِبَ کَمَا یَتَوَقَّفُ (آ) عَلٰی (ب) وَ (ب) عَلٰی (ج) وَ (ج) عَلٰی (آ) وَالتَّسَلْسُلُ هُوَ تَرَتُّبُ اُمُوْرٍ غَیْرِ مُتَنَاهِیَةٍ وَاللَّازِمُ بَاطِلٌ فَالْمَلْزُوْمُ مِثْلُهٗ اَمَّا الْمُلَازَمَةُ فَلِاَنَّهٗ عَلٰی ذَالِكَ التَّقْدِیْرِ اِذَا حَاوَلْنَا تَحْصِیْلَ شَیْئٍ مِنْهُمَا فَلَا بُدَّ اَنْ یَّکُوْنَ حُصُوْلُهٗ بِعِلْمٍ آخَرَ وَذَالِكَ الْعِلْمُ الْاٰخَرُ اَیْضًا نَظَرِیٌّ فَیَکُوْنُ حُصُوْلُهٗ بِعِلْمٍ آخَرَ، وَهَلُمَّ جَرًّا فَاِمَّا اَنْ تَذْهَبَ سِلْسِلَةُ الْاِکْتِسَابِ اِلٰی غَیْرِ النِّهَایَةِ، وَهُوَ التَّسَلْسُلُ، اَوْ تَعُوْدُ فَیَلْزَمُ الدَّوْرُ،

**ترجمه**:- او دور د یو شی دیو شی موقوف کیدل په هغه شی باندے چه دغه شی پرے موقوف وی، د ا توقف د یو جهت نه خواه که په یوی مرتبی سره وی «آ» موقوف دے په «ب» باندے او ددے عکس شو او که په څو مرتبو سره وی، لکه (آ) موقوف ده په (ب) باندے او (ب) موقوف ده په (ج) باندے او «ج» موقوف ده په «آ» باندے او تسلسل ویلے شی (ترتب د امورِ غیر متناهیه ته او لازم (دور او تسلسل) باطل دے



نو ملزوم (یعنی د ټول تصورات او تصدیقات نظری کیدل) هم باطل شو، او هرچه وجه د بطلان، د لازم ده نو کله چه مونږ بتقدیر فرض د تصور او د تصدیق نه د کوم یو د حاصلولو اراده وکړو نو لازمی خبره ده چه د دے حصول د دا بل (دوئیم) علم په ذریعه سره وی، او دا بل علم هم (چونکه) نظری دے نو ددے حصول بل (دریم) علم په ذریعه سره وی، او همدغه شان دا سلسله جاری وی، نو او سیا دا اکتساب د سلسلی تر الیٰ غیر النهایة جاری وی نو دا تسلسل شو، یا شروع (ابتداء) طرف ته واپس کیږی، نو دور لازم شو،

**تشریح**:- ز ده کړه دا خبره چه په دے مقام کښې معرفت د (۱۶) خبرو ضروری دی، (۱) صیغه د دور (۲) وزن (۳) معنیٰ لغوی (۴) معنیٰ اصطلاحی (۵) مناسبت په مابین د معنیٰ لغوی او د اصطلاحی کښې (۶) اقسام د دور (۷) وجه د بطلان د دور (۸) همدغه شان صیغه د تسلسل (۹) وزن (۱۰) معنیٰ لغوی، (۱۱) معنیٰ اصطلاحی (۱۲) مناسبت بین المعنیین (۱۳) اقسام د تسلسل (۱۴) وجه د بطلان د تسلسل (۱۵) وجه د ملازمه په مابین د لازم او د ملزوم کښې (۱۶) وجه د بطلان د لازم،

**تفصیل المقام**:- دور، صیغه د مصدر ده د (ن) باب نه په لغت کښې د یو شی جګ چاپیره کرځیدل او مطلق توقف ته وائی، او په اصطلاح کښې د دور مختلف تعریفونه شوی دی، (۱) توقف کل من الشیئین علی الآخر، (معجم) (۲) توقف الشیئ علیٰ ما یتوقف علیه ذالك الشیئ (تعریفات) او مناسبت بین المعنیین عموم خصوص مطلق دے، پس دور په دوه قسمه دے، یو دور مُعیٰ او بل دورِ معقب (مصروب) دے وجه د حصر دا ده، چه دا توقف به خالی نه وی، یا به په سبیله د معیت سره وی او یا به په سبیله د تعقب سره وی، که سبیله د معیت سره وو هغه دور معی شو لکه توقف د هر واحد د متضائفینو (مثلاً ابنٌ اَبٌ) شو په آخر پورے او دا قسم د دور روا دے ځکه چه دا دواړه په حقیقت کښې معلولین د علت ثالثه دی، چه هغه تولد دے، مثلاً او که په سبیله د تعقب سره وو، نو هغه دور معقب دے او دا دور معقب په دوه قسمه دے یو مصرح او بل مضمر وجه د حصر یکښې دا ده چه دا توقف به خالی نه وی یا به بغیر د واسطے نه وی، او یا به سره

دواسطے نه وی، بلکې بې دواسطے نه وی هغه دور مصرح دے لکه توقف د (آ) شو په (ب) پورے او توقف د (ب) شو په (آ) پورے او ددے ته دور مصرح ځکه ویلے شی، ځکه چه مصرح مشتق دے د تصریح نه او تصریح وائی اظهار ته او په دے کښې هم توقف ظاهر دے، او بلکې په واسطے سره وو هغه دور مضمر دے او دور مضمر ته ځکه ویلے شی چه مضمر مشتق دے د اضمار نه، او اضمار وائی پټ ولو، او په دے کښې هم توقف دے په پس دور مقتب مسمیٰ کولے شی په مهروب سره، لانه یُهرَبُ منهُ لاستلزامِهِ المحال، یعنی مهروب مشتق دے د هرب نه او هرب وائی فرار ته، او ددغه نه هم فرار کیږی له وجے د بطلان نه، او بطلان[1] یې له دے وجه نه چه لازمیږی تقدم د شی په نفس خپل باندے (۲) او بل لازمیږی کون د شی واحد علت او هم معلول او[3] بل لازمیږی وجود د شی په زمانے د عدم د شی کښې، (۴) او بل لازمیږی کون د شی واحد هم موقوف او هم موقوف علیه، او[5] بل لازمیږی استغناء د ممکن د واجب تعالیٰ نه، والکلُّ باطلٌ، وقد اشار الشارح الیٰ بعضِ هذا التقسیم بقولِه، امّا بمرتبةٍ او بمراتب الخ،

او تسلسل، هم صیغه د مصدر ده د باب تفعلل نه (رباعی مزید فیه) د په لغت کښې پیوسته و روان شدن آب در گلو است یعنی اتصال (پیوستول) او په مرے کښې اوبو خویه تیریدل ته وائی، او په اصطلاح کښې د تسلسل هم مختلف تعریفونه شویدی (۱) ترتیب امورِ غیر متناهیةٍ (۲) وهو ان یستند الممکن فی وجودہ الیٰ علةٍ مؤثرةٍ فیه و یستند تلك العلة المؤثرة الیٰ علةٍ اُخریٰ، وهلمّ جرًّا او مناسبت په مابین د معنی لغوی او اصطلاحی کښې عموم خصوص مطلق دے،

بیا زده کړه دا خبره چه تسلسل دپاره درے[3] مراتبه دی (۱) ما لا بدایةَ لهٗ فی جانبِ الماضی (۲) ما لا نهایةَ لهٗ فی جانب المستقبل (۳) ما لا بدایةَ لهٗ و لا نهایةَ لهٗ، او تسلسل په اعتبار اتوه معدو ماتو غیر مرتبو کښې او غیر مجتمعو کښې محال نهٔ دے هم دغه شان تسلسل په خلور قسمه دے او دحصر په خلورو کښې داده، چه دا تسلسل به خالی نه وائی، یا به به اٰحاد مجتمعوا فی الوجود کښې وی او یا نهٔ وی، دویم[2] لکه تسلسل په حوادثو کښې شو او اول به بیا خالی نه وی، یا به و رکښې ترتیب وی او یا به نهٔ وی، دویم لکه



تسلسل د نفوس ناطقو کښې شو، او اول به بیا خالی نه وی، یا به دا ترتیب طبعی وی، او یا به دا ترتیب وضعی وی، که ترتیب طبعی وو لکه تسلسل په عللو او معلولاتو کښې شو یا لکه تسلسل د صفت او د موصوفاتو شو او که وضعی وو لکه تسلسل په اجسامو کښې شو او محال په نیز د حکماؤ ر وستنی دواړه دی نه ړو مبنی، او په نیز د متکلمینو قول باطل دی، و بالجملة فاستحالة التسلسل عند الحکماءِ مشروطةٌ بشرطین (۲) اجتماع الامور الغیر المتناهیةِ فی الوجود و[2] الترتیب بینهما، امّا وضعًا او طبعًا،

والتفصیل فی کشافِ الاصطلاحات ص ۳۲۹ ج ۱

او زده کړه دا خبره چه بطلان د تسلسل بنا دے په برهان تضعیف باندے او برهان تضعیف مبنی دے په مقدمات خمسو باندے (۱) مقدمه داده، چه هر کثرت د لیت (معدوم) نه (ایسیت (موجود) ته راځی، نو دا به معروض العدد وی، ځکه چه عدد په خپل معروض کښې په غیر د وجود د معروض نه محتاج نهٔ دے شی آخر و ته، او مقدمه داده چه هر عدد قابل التضعیف دے، ځکه چه تضعیف عبارت دے د ضم کولو د مثل نه مثل ته او د ایه عدد د کیدے شی مثلاً لس ؤ تو لس به نور ضم کړے علیٰ هذا القیاس،

او دریمه مقدمه داده، چه عدد د تضعیف از ید وی د عدد د اصل نه ځکه چه عدد د تضعیف عبارت دے د مزید او مزید علیه دواړو نه او عدد د اصل عبارت دے د مزید علیه نه فقط،

او څلورمه مقدمه داده، چه زیادت د عدد د زائده به شروع کیږی پس د اختتام د جمیع احادو د مزید علیه نه و لے که د مبدأ نه شروع شی، نو بیا هغه مبدأ به مبدأ نهٔ شی او که د وسط نه شروع شی نو صفه به منضم متوالیات نشی او سره درے خبرے نه چه اوساط د اعدادو منضم متوالی، وی،

او پنځم مقدمه داده، چه تناهی د عدد مستلزم ده تناهی د معدود لره ځکه چه که مستلزم نشی نو لازم به شی خالی والے د عدد د معدود نه او دا خو باطل دے، پس د بیان د مقدماتِ خمسو نه، موبِږ وایو چه بطلان د تسلسل کښې چه تسلسل باطل دے، ولے که تسلسل را شی نو لازم



Maktaba Tul Ishaat.com

به غیر تناهي په تقدیر د لاتناهي باندے لیکن تناهي باطل ره نو مقدم
هم باطل شو هرچه بطلان التالي دے حکه چه لازم به شي خلاف المفروض
او هرچه وجه د ملازمے ده حکه چه که تسلسل راشي یعنی امور غیر متناهیه
موجود شي نو دا تول به معروض د عددونو بنا په مقدمه اولی باندے
پس دا عدد غیر متناهیه چه عارض شوید ے چه عارض شوید معدودات
غیر متناهیو ته دا قابل د تضعیف دے بنا په مقدمه ثانیه باندے او بیا
دا عدد د تضعیف به زائد وی په عدد اصل باندے بنا په مقدمه ثالثه
سره کما اشار الیه صاحب السلم حیث قال لِاَنَّ عَدَدَ التضعیف ازید مِن
عدد الاصل" او زیادت د عدد زائد به شروع کیږی پس د انصرام د
جمیع احاد و د مزید علیه نه بنا په مقدمه رابعه باندے او دا مزید
علیه به عدد متناهي وی، ولے که متناهي نشی نو لازم به شی زیادت په
جانب د لاتناهي کښ پس هرکله چه دا مزید علیه عدد چه عدد اصل
وو، او عارض وو معدوداتو غیر متناهیو له دا تناهي شو، نو معدودات د
دغه عدد به هم متناهي وی، بنا په مقدمه خامسه باندے لاَنَّ تناهِيَ
العددِ یستلزمُ تناهِيَ المعدودِ، پس هرکله چه دا معدودات متناهي شو
او سره د دے نه چه تا غیر متناهي فرض کړی وو نو لازم شو تناهي په تقدیر
د عدم تناهي سره او دے مذکور الذکر دلیل د بطلان التسلسل ته برهان
العرشی هم وائی، وایضًا التسلسل باطل والبرهان التطبیق والتضائف، وللتفصیل مقام آخر
قوله، و هَلُمَّ جَرًّا، په لفظ د هلم کښ پنځه اختلافات دی، پدے
شان اول اختلاف دا دے چه دا لفظ عربي دے او که دخیل دے (۲) اختلاف
پدے کښ دا دے چه دا بسیط (مفرد) دے که مرکب (۳) اختلاف په
دے کښ دا دے چه دا لفظ اسم دے یا فعل، (۴) اختلاف په دے کښ
دا دے چه دا لازمی دے او که متعدی دے (۵) اختلاف په دے کښ دے
چه دا متصرف دے او که غیر متصرف، صاحب د صحاح او د قاموس د
کلام نه خو دا معلومیږی چه دا لفظ عربی دے، یا د خلیل رحمه الله
په نیز باندے دا هاء د تنبیه ده، او لَمَّ په معنیٰ د جمع سره دے،
(۲) بصریان حضرات وائی چه دا هاء تنبیه ده او لُمَّ امر په معنیٰ د ضم
او جمع سره اے اجمع نفسك الینا، او (۳) کوفیان وائی، چه دا مرکب د



د هَلْ اُمَّ امر نه چه په معنیٰ د قصد سره دے، (۴) او ځنی نور وائی چه
دا مرکب دے د هَلْ اَمْ نه بهرحال دا دے نه مراد معنیٰ ترکیبی نه ده، بلکه
په معنیٰ د ائتِ سره دے، پس دا نه اسم دے، او نه فعل دے بلکه اسمِ فعل دے
یا دا تیان نه هم اتیان حسی نه دے مراد بلکه مداومت، استمرار مراد
دے، او دا لازمی او متعدی دواړو طریقو سره استعمالولے شی، او د متعدی په
صورت کښ به په معنیٰ د احضر سره وی "قل هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمْ" په لغت
حجاز یو کښ دا لفظ غیر متصرف دے، یعنی واحد، تثنیه، جمع، مذکر او مؤنث
د ټولو لپاره یو شان صفر د استعمالیږی، البتة بنو تمیمو او اهل نجد دا لفظ
متصرف کرځولے دے، یعنی د دے په آخر کښ ضمائر بارزه مرفوعه لګول
جائز دی، لفظ جرًّا، صیغه د مصدر ده د (ن) باب نه په معنیٰ د کشیدن
(راښکل) (او اوګده کول) لیکن د دے نه هم جر حسی نه دے مراد بلکه د دے
نه هم مراد جر مجازی یعنی شمول او استمرار دے، او د ترکیب په اعتبار
سره په دے کښ دوه احتماله دی (۱) دا منصوب دے د مفعول مطلق کیدو
د وجے نه د فعل محذوف د پاره اَیْ جُرَّ جرًّا، (۲) دا حال دے په معنیٰ د
اسم فاعل یا په معنیٰ د اسم مفعول سره، اَیْ حال کونِهِ جارًّا او مجرورًا
او علماء کرام دا لفظ په هغه ځائے کښ استعمالوی چه په کوم ځائے
کښ عدم النهایة بیان مراد وی، کذا فی النبراس ص۲۴ والفوائد العجیبة
قوله، واما الملازمة الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول
دی، وجهُ الملازمة ته په دے شان سره چه نظری به حاصل کوی په
نظری آخر سره او هغه بل نظری به حاصل کوی په بل نظری سره، نو که
عود کوی، اول ته نو لازمیږی دور او که په مخه ځی نو لازمیږی تسلسل
او دور او تسلسل دواړه باطل دی نو نظری کیدل د ټولو تصوراتو، او د
تصدیقاتو هم باطل شو،

وَاَمَّا بُطْلَانُ اللَّازِمِ فَلِاَنَّ تَحْصِيْلَ التَّصَوُّرِ وَالتَّصْدِيْقِ لَوْ كَانَ بِطَرِيْقِ
الدَّوْرِ اَوِ التَّسَلْسُلِ، لَامْتَنَعَ التَّحْصِيْلُ وَالْاِكْتِسَابُ اَمَّا بِطَرِيْقِ الدَّوْرِ
فَلِاَنَّهٗ يُفْضِيْ اِلٰى اَنْ يَكُوْنَ الشَّيْءُ حَاصِلًا قَبْلَ حُصُوْلِهٖ لِاَنَّهٗ اِذَا تَوَقَّفَ
(۱) عَلٰى حُصُوْلِ (ب) وَحُصُوْلُ (ب) عَلٰى حُصُوْلِ (آ) اِمَّا بِمَرْتَبَةٍ

اَوْ بِمَرَاتِبَ كَانَ حُصُوْلُ (ب) سَابِقًا عَلٰى حُصُوْلِ (آ) وَ حُصُوْلُ (آ) سَابِقًا عَلٰى حُصُوْلِ (ب) وَالسَّابِقُ عَلَى السَّابِقِ عَلَى الشَّيْءِ سَابِقٌ عَلٰى ذٰلِكَ الشَّيْءِ فَيَكُوْنُ حَاصِلًا قَبْلَ حُصُوْلِهٖ وَاَنَّهٗ مُحَالٌ، وَاَمَّا بِطَرِيْقِ التَّسَلْسُلِ فَلِاَنَّ حُصُوْلَ الْعِلْمِ الْمَطْلُوْبِ يَتَوَقَّفُ حِ عَلَى اسْتِحْضَارِ مَا لَا نِهَايَةَ لَهٗ وَاسْتِحْضَارُ مَا لَا نِهَايَةَ لَهٗ مُحَالٌ، وَالْمَوْقُوْفُ عَلَى الْمُحَالِ مُحَالٌ،

**ترجمہ:۔** او ددے لازم بطلان د وجہ دادہ، چہ کچرے حاصلول د تصور او د تصدیق پہ طریقے سرہ یا پہ طریقہ د تسلسل سرہ، نو بیا حاصلول او کسب کول اَو دوی محال گرځی پہ طریقہ د دور سرہ ځکہ (محال والے راځی) چہ دا دے خبرے تہ مقتضی دے چہ حصول د شئ د دے د حاصلیدو نہ مخکښ وی، د دے وجے نہ چہ کلہ حصول د (آ) موقوف شی پہ حصول د (ب) باندے او حصول د (ب) موقوف شی پہ (آ) باندے خواکہ پہ یوے مرتبے سرہ وی او کہ پہ ډیرو مراتبو سرہ وی، نو حصول د (ب) مقدم شو پہ حصول د (آ) باندے، او حصول د (آ) مقدم شو پہ حصول د (ب) باندے او دا قاعدہ دہ چہ کوم شئ (آ) سابق وی پہ سابق (ب) پہ شی (آ) باندے ھغہ شی مقدم وی پہ دغہ شی (آ) باندے نو (آ) خپل حصول نہ مخکښ حاصل شو او دا محال دے، او پہ طریقے د تسلسل سرہ (محال والے ځکہ راځی) چہ پہ دے صورت کښ حصول د علم مطلوب موقوف کیږی پہ استحضار د امورِ غیر متناهیو باندے، او استحضار د امورِ غیر متناهیو محال دے، او کوم شئ چہ موقوف وی پہ محال باندے ھغہ محال وی،

**تشریح:۔** قولہ وَاَمَّا بطلان اللازم الخ د دور پہ صورت کښ حاصلول د تصور او د تصدیق نتی کیدے ځکہ چہ لازمیږی "حاصل الشئ قبل حصولہ"، او ددے نہ تقدیم د شئ واحد پہ وجود کښ پہ خپل نفس باندے، او تاخیر د دغہ شی د خپل نفس نہ لازمیږی، او دا بدیهی البطلان دہ ځکہ چہ کہ فرض کړے شی چہ وجود د (زید) موقوف دے پہ وجود د (عمرو) باندے، او وجود د (عمرو) موقوف دے پہ وجود د (بکر) باندے، او ھمدغہ شان وجود د زید موقوف دے پہ وجود د عمرو باندے، او ھغہ موقوف دے پہ





وجود د بکر باندے، نو وجود د زید مؤخر شو د وجود د بکر نہ نو لازم شو تقدیم د زید او تاخیر د دہ پہ وجود کښ پہ آن واحد کښ (وھو محال) او قاعدہ پہ کښ دادہ چہ حصول د موقوف علیہ مقدم وی پہ موقوف باندے نو پہ یو جہت سرہ زید موقوف شو، او بل جہت سرہ زید موقوف علیہ شو، نو ځکہ لازمیږی تقدم د شی پہ نفس خپل باندے، او قاعدہ کلیہ دادہ چہ السَّابِقُ عَلَى السَّابِقِ عَلَى الشَّيْءِ سَابِقٌ عَلٰى ذٰلِكَ الشَّيْءِ" پس پہ دے عبارت د قاعدے کښ لفظ "سابق" درے ځلے استعمال ذکر شو او اول سابق نہ مراد (۱) دے او د دویم نہ مراد (ب) دے او د دریم نہ مراد مقدم (یعنی معنی لغوی دہ)، او لفظ د "شئ" دوہ ځلہ ذکر شو، او د دواړو نہ مراد (آ) دے، نو ترجمہ د قاعدے د اسے شوہ چہ سابق (آ) پہ سابق (ب) پہ شی (۱) باندے سابق دے پہ دغہ شی (۱) باندے نو لازم شو "حاصل الشئ قبل حصولہ" او دا مستلزم دے د تقدم الشئ علٰی نفسہ لرہ او دا باطل دے، نو حصول د تصور او د تصدیق پہ طریقے د دور سرہ خواکہ پہ مرتبہ واحدہ سرہ وی او کہ پہ مراتبو سرہ وی باطل شو، او د شئ خپل حصول نہ مخکښ حاصلیدل ځکہ محال دی چہ پہ دے کښ دیو شئ پہ یو وخت ھم موجود کیدل او ھم معدوم کیدل لازمیږی، او د دے بطلان بالکل واضح دے،

(بالجملۃ فبطلان الدور من البدیهیات الاولیۃ)

قولہ فلانہ یفضی الخ غرض د شارح پہ دے عبارت سرہ اشارہ دہ بطلان د تالی تہ پہ اعتبار د شق اول سرہ، قولہ وَاَمَّا بطریق التسلسل فلان الخ غرض د شارح پہ دے عبارت سرہ بطلان د تالی دے پہ اعتبار د شق ثانی سرہ، پہ دے شان سرہ چہ حاصلول د تصور او د تصدیق پہ طریقے د تسلسل سرہ وی نو دا ھم محال او باطل دی پہ دوو مقدمو سرہ، اولہ، مقدمہ دادہ چہ پہ دے صورت کښ لازمیږی موقوف کیدل د تحصیل د علمِ مطلوب پہ استحضار، پہ امورِ غیر متناهیو باندے او دویمہ: مقدمہ دادہ چہ استحضار د امورِ غیر متناهیو محال دے او چہ کوم شئ موقوف وی پہ محال باندے ھغہ ھم محال وی، لکہ چہ تعلیق پہ محال باندے محال وی، کما قال اللہ تعالٰی، وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ، الآیۃ، وقال علیہ السلام۔ لَا يَلِجُ النَّارَ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنْ بَكىٰ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ حَتّٰى يَعُوْدَ اللَّبَنُ فِى الضَّرْعِ الحديث، نو بنا په دغه أساس بانده تحصيل دعلمِ مطلوب محال وګرځېده فَلَا يَكُوْنُ التَّحصيل واقعًا مع انّهٗ واقعٌ - مَعَ اَنَّ النَّفْسَ حادثةٌ عَلَى التَّحْقِيق، و تحصيل الحادِثِ لِمَا لَا نهاية لَهٗ محالٌ،

**تنبیه**:- ذره کړه دا خبره چه منطقیان حضرات د موضوع او د محمول نه کله تعبیر په حروف هجاؤ سره کوی، د دوؤ فائدو له کبله، اوله فائده په کښ قصد د اختصار دے، ځکه چه کل بَ جَ، مختصر دے د دے قول نه چه مثلاً کلُّ انسانٍ حیوانٌ دے، او دویمه فائده ورکښ دا ده چه په عمل سره دفع د وهم د متوهم راځی، په دے شان سره چه واهم وهم کوی، چه اختصاص د مثال مثلاً د موجبی کلی لپاره په هر ځائے کښ په هر وخت کښ هم دغه مثال به راځی، چه کل انسانٌ حیوانٌ دے، حالانکه خبره داسے نه ده، بلکه موجبی کلی دپاره کل فرسٍ حیوانٌ کلُّ بقرٍ حیوانٌ او کل حمارٍ حیوانٌ و غیره و غیره هم د موجبی کلیٔ مثال کیدے شی، وهٰهنا تفصیل سینکشف فی مقامه إن شاء الله تعالیٰ،

فَاِنْ قُلْتَ اِنْ عَنَيْتُمْ بِقَوْلِكُمْ حُصُوْلُ الْعِلْمِ الْمَطْلُوْبِ يَتَوَقَّفُ عَلٰى ذَالِكَ التَّقْدِيْرِ عَلَى اسْتِحْضَارِ مَا لَا نِهَايَةَ لَهٗ اِنَّهٗ يَتَوَقَّفُ عَلَى اسْتِحْضَارِ الْاُمُوْرِ الْغَيْرِ الْمُتَنَاهِيَةِ دَفْعَةً وَاحِدَةً، فَلَا نُسَلِّمُ اَنَّهٗ لَوْ كَانَ الْاِكْتِسَابُ بِطَرِيْقِ التَّسَلْسُلِ يَلْزَمُ تَوَقُّفُ حُصُوْلِ الْعِلْمِ الْمَطْلُوْبِ، عَلٰى اُمُوْرٍ غَيْرِ مُتَنَاهِيَةٍ دَفْعَةً وَاحِدَةً فَاِنَّ الْاُمُوْرَ الْغَيْرَ الْمُتَنَاهِيَةَ مُعِدَّاتٌ لِحُصُوْلِ الْمَطْلُوْبِ وَالْمُعِدَّاتُ لَيْسَ مِنْ لَوَازِمِهَا اَنْ تَجْتَمِعَ فِى الْوُجُوْدِ دَفْعَةً وَاحِدَةً بَلْ يَكُوْنُ السَّابِقُ مُعِدًّا لِوُجُوْدِ اللَّاحِقِ، وَاِنْ عَنَيْتُمْ بِهٖ اَنَّهٗ يَتَوَقَّفُ عَلٰى اِسْتِحْضَارِهَا فِىْ اَزْمِنَةٍ غَيْرِ مُتَنَاهِيَةٍ فَمُسَلَّمٌ، وَلٰكِنْ لَا نُسَلِّمُ اَنَّ اِسْتِحْضَارَ الْاُمُوْرِ الْغَيْرِ الْمُتَنَاهِيَةِ فِى الْاَزْمِنَةِ الْغَيْرِ الْمُتَنَاهِيَةِ مُحَالٌ، فَاِمَّا اِذَا كَانَتْ قَدِيْمَةً تَكُوْنُ مَوْجُوْدَةً فِىْ اَزْمِنَةٍ غَيْرِ مُتَنَاهِيَةٍ، فَنَقُوْلُ هٰذَا الدَّلِيْلُ مَبْنِيٌّ عَلٰى حُدُوْثِ النَّفْسِ، وَقَدْ بُرْهِنَ عَلَيْهِ فِىْ فَنِّ الْحِكْمَةِ

**ترجمه**:- پس که ته" اے معترضه" په اعتراض کولو کښ اووائی، چه



ستاسی دد ے قول چه " حصولُ العلمِ المطلوبِ يَتَوَقَّفُ عَلٰى ذَالِكَ التَّقديرِ عَلَى استحضارِ مَا لا نهايةَ لَهٗ که دا مراد وی چه حصول د علمِ مطلوب په دغه تقدیر موقوف کیږی په استحضار د امورِ غیر متناهیو دفعةً واحدةً (یعنی په یوه زمانه کښ) نو دا مونږ نه منو چه که د علم مطلوب تحصیل په طریقے د تسلسل شی، نو حصول د علمِ مطلوب په امورِ غیر متناهیو دفعةً موقوف کیدل لازمیږی، ځکه چه امورِ غیر متناهیه د حصول د مطلوب لپاره اسباب او ذرائع دی، او اسبابو لپاره دا ضروری نه دی، چه هغه ټول یو ځائے جمع شی، بلکه په مبنی روستنی د وجود دپاره علتاو سبب وی، او که ستاسی دد ے (مذکور الذکر) قول نه مراد دا وی چه علمِ مطلوب په استحضار د امورُ غیر متناهیو بانده، په غیر متناهی ازمنو کښ موقوف کیږی، نو مونږ دا منو، لیکن مونږ دا نهٔ منو چه غیر متناهی ازمنو کښ د غیر متناهی امورو استحضار محال دے دا په هغه وخت محال ګرځی، چه نفس حادث شی، لیکن که نفس قدیم شی، نو دا په غیر متناهی ازمنهٔ وکښ موجودیږی، نو د دے وجه نه دا ممکن دی چه نفس له غیر متناهی علوم حاصل شی په غیر متناهی ازمنو کښ،

پس مونږ وایو، چه دا دلیل (مذکور دبطلان د لازم په طریقے د تسلسل بانده) د نفس په حادث کیدلو بانده مبنی دے کوم دپاره چه په فنِ علمِ حکمت کښ برهان (دلیل) قائم کړے شوے دے (چه نفس حادث دے قدیم نهٔ دے، نو د دے وجے نه اے معترضه ستا دا اعتراض صحیح نهٔ شو،

**توضیح اللغات**[10]:- (۱) عنیتُم، صیغهٔ واحد مذکر حاضر فعل ماضی معلوم د (ض) باب نه په معنیٰ د قصد او ارادے سره،"و فی الحدیث من حسنِ اسلام المرءِ ترکهٗ مَا لا یعنیه ،(۲) معدّات، دوه معانی لری، چه د هغه عدم بعد الوجود د معلول لپاره علت وی، (۲) چه د هغه اجتماع سره لازم نهٔ وی، وهو المراد هٰهُنَا، (۳) سابق صیغه د اسم فاعل ده د (ض) باب نه په معنیٰ د ما یجیُٔ قبل شیٔ، (۴) لاحق: صیغه د اسم فاعل ده د (س) نه په معنیٰ د ما یجیٔ بعد شیٔ یسبقهٗ، (۵) نفس: صیغه د مصدر ده، که د (ن) باب نه شی نو په معنیٰ د اصابةُ العین سره راځی، او که د (س) باب

نه شي، نو په معنٰی د بخې نفاسه کيدلو سره راځي، او که د (ك) باب نه شي نو په معنٰی د عظيم القسمة سره راځي او په اصطلاح کښ عبارت دے د (الجوهر البخاری الحاصل لقوة الحياة و الحس والحركة الارادية (۲) جوهر مشرق للبدن، (٦) حادث :- صيغه د اسم فاعل ده د (ن) باب نه دا ضد د قديم دے، او په اصطلاح کښ حادث عبارت دے د مسبوق بالعدم نه (۷) قديم صيغه د صفت مشبه ده د (ن، ك) نه په معنٰی د ضد د حادث سره راځي او په اصطلاح کښ قديم عبارت دے د غير مسبوق بالعدم نه (۸) برهن: صيغه د واحد مذکر غائب فعل ماضي مجهول ده، د (ف) باب نه په لغت کښ اقامة الحجة ته وائي، او په اصطلاح کښ په نز د منطقيانو، برهان عبارت دے د قياس مؤلف من مقدمات يقينية نه، او په نزد د اهل عربيت برهان عبارت دے د الحجة البينة الفاصلة نه، او په نز د د رياضيين باندے برهان عبارت دے د ما يثبت قضية من مقدمات مسلم بها " نه، او برهان په دوه قسمه دے، برهان انّي، او برهان لِمّي، ځکه چه يا به استدلال د معلول وي په علت باندے، او يا به استدلال د علت وي په معلول باندے، اوّل برهان انّي شو، او دويم برهان لمّي شو، وللبرهان اقسام آخر مثل البرهان الميزاني، والبرهان الترسي وبرهان التطبيق، و برهان التضائف، وبرهان العرشي، وبرهان السّلمي، وبرهان المسامتة، فمن اراد التفصيل فليرجع الى كشاف الاصطلاحات، ص ۳۲۳/۱۷۰ -

(۹) فن، صيغه د مصدر ده د (ن، س، ض،) نه په لغت کښ مهارت تسمار زينت ته وائي، او په اصطلاح کښ فن عبارت دے د نوع من العلم او الحرفة (۱۰) حكمت :- صيغه د مصدر ده د (ن، ك) نه په لغت کښ فيصله او حکم جوړيدلو ته وائي، او په اصطلاح کښ حکمت عبارت دے د معرفة د افضل الاشياء بافضل العلوم نه، وفي التنزيل، ولقد آتينا لقمن الحكمة، او علم الحكمة عبارت دے د علم باحث عن احوال اعيان الموجودات على ما هي عليه في نفس الامر بقدر الطاقة البشرية،

تشريح :- قوله، فان قلت فان عنيتم الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره بيان د اعتراض دے کوم چه دوه شقه لري او په نقول هذا الدليل الخ سره جواب کړل دي د شق ثاني د دغه اعتراض



نه، پس خلاصه د اعتراض داده، چه تاسو اووئيل چه حصول د علم مطلوب، په طريقے د تسلسل سره باطل دے، ځکه چه دا مستلزم دے استحضار د امور غير متناهيه لره، نو معترض وائي، چه زه تاسو نه تپوس کوم چه دے مذکور الذکر قول څخه ستاسي څه مراد دے، ځکه چه په دے کښ دوه احتمالات دي (۱) يو دا چه حصول د علم مطلوب، په طريقے د تسلسل سره، مستلزم دے د استحضار د امور غير متناهيه لره، دفعة واحدة، يو وخت او يوه زمانه کښ، او دويم دا چه حصول د علم مطلوب په طريقے د تسلسل سره موقوف دے، په استحضار د امور غير متناهيه پورے په ازمنه غير متناهيه کښ که ستاسي مراد اول احتمال وي نو مونږ دا نه منو، چه که حصول د تصور او د تصديق په طريقے د تسلسل سره شي نو حصول د علم مطلوب به موقوف او مستلزم شي په استحضار د امور غير متناهيه دفعة واحدة باندے، ځکه چه امور غير متناهيه د حصول مطلوب لپاره معدات اسباب او ذرائع دي، او معدات (ذرائع) لپاره دا ضروري نه دي، چه دفعة واحدة (يعنی په يو وخت کښ او په يو زمانه کښ په وجود کښ جمع شي، بلکه سابق (مخکښ) د لاحق (روستني) لپاره معد (علت او سبب) وي لکه چه پياده تلونکي مخکښ قدم د دويم قدم لپاره علت وي، چه مخکښ قدم اوچت (پورته) کړے شي نو دويم قدم ورسره مخکښ پورته کولے شي پس هر کله چه په يو وخت کښ د اشياء جمع کيدے نو بيا دا سلسله تر الی غير النهاية پورے چليږي، هم دغه شان اب (پلار) معد او علت دے د ابن (ځوی) لپاره او ابن معد او علت دے د ابن الابن لپاره، هلم جرا، نو دا سلسله تر الی غير النهاية پورے چليدے شي، او که ستاسي مراد دويم احتمال وي، چه استحضار د امور غير متناهيه دے په غير متناهي ازمنو کښ نو توقف منو ليکن بطلان د تالي نه منو چه استحضار د امور غير متناهيه و په ازمنه و غير متناهيه و کښ محال دے، محال والے به هله لازم شي، چه نفس حادث شي ځکه چه بيا دا نفس په غير متناهي ازمنو کښ نه شي موجود کيدلے، او که نفس قديم او منلے شي، نو بيا څه محال والے لزم نه، ځکه چه دا نفس به ازمنو غير متناهيه و کښ موجود کيدے شي، نو د دے وجه نه دا ممکن

Maktaba Tul Ishaat.com

دی، چه دا نفس په غیر متناهي ازمنو کښې غیر متناهي علوم حاصل کړي نو بیا

د استحضار نه ستاسي څهٔ مراد دے،

او خلاصه د جواب د شارح داده، چه ستاسو مراد دویم احتمال دے، یعنی

استحضار دامورِ غیر متناهیو په ازمنهٔ وغیر متناهیه وکښې محال دے

ځکه چه نفسِ ناطقه، قدیم نهٔ دے بلکه حادث دے، او حدوثِ نفس

په فن حکمت کښې په دلائلو سره ثابت کړے شویدے، او دلته دویم جواب

هم کیدے شي، او دا جواب هم مبنی دے په شق ثانی باندے، پس خلاصه

د جواب داده، چه که نفس ناطقه قدیم شي، نو بیا هم استحضار د غیر

متناهیه په ازمنو غیر متناهیو کښې محال دے، ځکه چه استحضار دامورِ

غیر متناهیو حاصلیږی په فکر سره، او فکر هغه شی دے، چه هغه متحقق

او موجود کیږی په حرکت د نفس معلومات سره بالقوة په بطن اوسط

کښې دد ماغو نه چه هغه قوة مفکره ده، او دماغ د بدن نه پوجرړے

او بدن حادث دے نو نفس ناطقه هم حادث شو، پس استحضار دامورِ غیر

متناهیو په ازمنو غیر متناهیو کښې محال او باطل دے، او کوم شی چه محال او

باطل له مستلزم وی نو هغه هم محال او باطل دی، نو حصول د تصور او

د تصدیق په طریقے د تسلسل سره هم محال او باطل شو

تنبیه :- د نفس باره کښې ډیر زیات اختلاف دے په دے شان سره چه

ماهیت د نفس څهٔ شی دے د قلب[1] (زړه) جزء لا یتجزی دے یا جسم[2]

لطیف نورانی علوی خفیف متحرک به حیاة کل شی دے، په ټولو اندامونو

کښې داسے ساری دے لکه چه په ګل کښې چه او به ساری وی، یا قوة[3] دماغیه

دے، یا هیکل محسوس دے، یا اعتدال مزاج[5] نوعی دے، یا سا (احتلاء)

چه هر وخت ځی راځی بیا په دے کښې اختلاف دے چه ایا نفس مجرد[1]

دے، یا مادی[2] دے، یا عین مزاج[3] دے، یا غیر مزاج[4] دے، حادث[1] دے که

قدیم[2] دے او پس د فنا د بدن نه دا نفس[1] باقی پاتے کیږی یا نه[2] پاتے کیږی

همدغه شان په ټولو افرادو کښې متحد الحقیقة دے، او که مختلف الحقائق

همدا راز په بل بدن کښې منتقل او متناسخ کیږی او که نه، او همدغه

شان مدرک د کلیاتو او د جزئیاتو دواړو دے، او که صرف مدرک د کلیاتو

دے، نفس متناهي دے او که غیر متناهي، دا هغه اختلافات دی کوم چه



فن حکمت (فلسفه) کښې بحث کولے شي، دلته صرف د رمره خو دل ضروری

دی، چه مذهب د مشائینو او د شیخ علی ابن سینا دا مسلک دے چه نفس

حادث دے، او بعض اشراقیین وائی چه نفس قدیم دے، والحق هو

الاول، پس افلاطون قول کړیدے په قدم د نفس باندے سره د تناسخ نه

او ارسطو قول کړیدے په حدوث د نفس سره د بطلان د تناسخ نه او بعضو

نورو قول کړیدے په حدوث د نفس سره د تناسخ نه، د تناسخ معنی ده

تناثر او انتقال، او د تناسخ خبره بالکل ضعیف ځکه ده چه یو عالم وی، هغه

مړشي نو د ده روح په حمار (خر) یا کلب (سپی) کښې ننه ووتو (کما یقوله

افلاطون) نو بیا خو پکار دا دی چه دا حمار یا کلب به عالم او ګرځی، او حالانکه

تر او سه پورے د حمار یا د سپی نه چا د عقل کارنهٔ دے لید لے، او همدغه

شان چه دا روح د دے جسد نه لاړ و بل جسد نو په هغه کښې به علم

وی، په حین د خروج د هغه جسد نه، بیا چه دا علم بل جسد ته لاړ و

نو علم لنو بیا په حین د خروج کښې بل جسد ته او د بل جسد نه بل جسد

ته وهلم جرًّا، وبالجملة ان بطلان التسلسل ظاهرٌ لِاَنَّهٗ یؤدی الی تحصیل

علوم لا نهایة لها لکیٌ تصل النفس الی اکتساب علم الارادة والنفس

حادثة علی التحقیق و تحصیل الحادث لما لا نهایة له محال فحصول التصور

والتصدیق بطریق التسلسل محالٌ،

قَالَ. بَلِ الْبَعْضُ مِنْ كُلٍّ مِّنْهُمَا بَدِيْهِيٌّ وَالْبَعْضُ الْاٰخَرُ نَظَرِيٌّ يُحَصَّلُ بِالْفِكْرِ؛ وَهُوَ تَرْتِيْبُ اُمُوْرٍ مَعْلُوْمَةٍ لِلتَّاَدِّيْ اِلٰى مَجْهُوْلٍ، وَ ذٰلِكَ التَّرْتِيْبُ لَيْسَ بِصَوَابٍ دَائِمًا لِمُنَاقَضَةِ بَعْضِ الْعُقَلَاءِ بَعْضًا فِيْ مُقْتَضٰى اَفْكَارِهِمْ بَلِ الْاِنْسَانُ الْوَاحِدُ يُنَاقِضُ نَفْسَهٗ فِيْ وَقْتَيْنِ فَمَسَّتِ الْحَاجَةُ اِلٰى قَانُوْنٍ يُفِيْدُ مَعْرِفَةَ طُرُقِ اكْتِسَابِ النَّظَرِيَّاتِ مِنَ الْبَدِيْهِيَّاتِ، وَالْاِحَاطَةَ بِالصَّحِيْحِ وَالْفَاسِدِ مِنَ الْفِكْرِ الْوَاقِعِ فِيْهَا وَهُوَ الْمَنْطِقُ، وَرَسَمُوْهُ بِاَنَّهٗ اٰلَةٌ قَانُوْنِيَّةٌ تَعْصِمُ مُرَاعَاتُهَا الذِّهْنَ عَنِ الْخَطَاءِ فِي الْفِكْرِ،

ترجمه :- (ماتن) وائی، چه بلکه د تصور او د تصدیق هر یو نه بعض

بدیهی دے، او بعض نظری، کوم چه فکر سره حاصلیږی، او فکر امورِ معلومو

نه ترتیب ورکول دی، د پاره د دے چه نا معلوم ته رسید لاوشی، او دا ترتیب

تل لپاره صحیح او (درست) نه وی، ځکه چه بعض عقلاء (هوښیاران) خپل فکرونو موافق حتی نود عقلاؤ سره مخالف وی، بلکه یو انسان د دوو مختلفو وختونو کښې خپل اراؤ او افکار (سوچونو) کښې خپل نفس سره مخالفت کوی نو د دے وجې نه یو داسے قانون ته ضرورت محسوس (پیښ) شو چه د نظریاتو د بدیهیاتو څخه حاصلولو طریقے د معلولو فائده ورکوی،

او په دے کښې واقع کیدو والا فکر صحیح او فکر فاسد، احاطه کولو فائده ورکوی، او دا قانون نهٔ دے مګر منطق دَے، او د دے منطقیانو دا تعریف کړیدے چه "اَلَةٌ قَانُوْنِیَّةٌ الخ یعنی علم منطق یو داسے قانونی آله ده چه رعایت د دے قانون (آله) ذهن ساتی د هغے خطائی نه چه کومه خطاء په فکر کښې واقع کیږی،

**توضیح اللغات:**- (۱) تأدّی: صیغه د مصدر ده د باب تفعُّل څخه په معنیٰ د فیصلی، تیاری کول او رسیدلو سره راځی، (۲) صواب: صیغه د مصدر ده په معنیٰ د درست والی سره (ای السداد) او په اصطلاح کښې، الصواب هو الأمر الثابت الذی لا یَسُوْغُ انکاره (۲) اصابة الحق، او صواب ضد د خطاء دے د دے دواړو استعمال په اعمالو مجتهد اتو کښې کیږی، او د حق او باطل استعمال عام طور په معتقداتو کښې کیږی، (۳) مناقضه: صیغه د مصدر ده د باب مفاعلے څخه په لغت کښې مخالفت بطلان او مقابلے ته وائی او دا مشتق دَے د نقض نه (ن) په معنیٰ د فساد، خراب، ماتوانے سره او په اصطلاح کښې، منع مقدمة معینة من مقدمات الدلیل ته وائی،

(۴) عقلاء، جمع د عاقل، صیغه د واحد مذکر اسم فاعل ده د (ض، س) په معنیٰ د ترلو، او ادراک الاشیاء سره راځی، او عاقل، په اصطلاح کښے مدرك الاشیاء ته وائی، (۵) افکار: جمع د فکر ده، او فکر صیغه د مصدر ده د (ض) نه یاداشت، سوچ او اعمال العقل ته وائی، او په اصطلاح کښ موصولاً الی معرفة مجهول ته وائی، والتفصیل فیه سیجیئ،

(۶) مست: صیغه واحد مؤنث غائبه فعل ماضی معلوم ده د (ن، س)، نه په معنیٰ د مجبورکولو، یقال مَسَّتِ الحاجة الیٰ کذا اے الجأت الیه (۷) رسموا صیغهٔ جمع مذکر غائب فعل ماضی معلوم ده، د باب تفعیل څخه مجرد ئے د (ض) نه راځی، په معنی د اثر کولو په زمکه کښ ته وائی، ومنهٔ الرسم الاثر الباقی



من الدار بعد ان عفت، او په اصطلاح کښ رسم عبارت دے د تعریف الشئ بعنا نضبه نه، لیکن دلته کښ تر دے نه مراد مطلق تعریف من قبیل ذکر الخاص وارادة العام کما ستفهم،

(۸) قانون، یو امر کلی ته وائی، والتفصیل آتٍ،

(۹) طرق، جمع طریق ده او دا د صفت مشبّه صیغه ده، د (ن) نه په لغت کښ د شپی راتللو ته وائی، ومنهٔ النجم الطارقُ، او په اصطلاح کښ المرالواضح المتد اوسّع من الشارع ته وائی، (۱۰) تعصِمُ، صیغهٔ واحدهٔ مؤنثه غائبه فعل مضارع معلوم ده د (ض)، نه په لغت کښ بچ کیدل، بچ کولو ته وائی، او په اصطلاح کښ، الحفاظة والوقایة عن الشرّ والخطا ته وائی، ومنهٔ العصمة وهی ملکة الهیة تمنع من فعل المعصیة، والمیل الیها مع القدرة علیه،

**تشریح:**- د باقی الفاظو توضیح د وسته فردًا فردًا تفصیلًا راځی، او س بو هه شه په دے خبره باندے، چه معترض د لته یو اعتراض کوی، خلاصه د اعتراض دا ده چه مخکښې دا بیان شو، چه ټول تصورات او تصدیقات تر بدیهی نشی کیدے ګنی ټول اشیاء به مونږ ته واضح شی، او تعلیم او تعلّم نه به ضرورت پاتے نهٔ شی فالتالی باطل والمقدم مثلهٔ، او همدغه شان ټول تصورات او تصدیقات نظری کیدے هم نشی ګنې لازم به شی دور یا تسلسل، وکلاهما باطلان، نو د دے مذکورالذکر خبرے نه لازمًا دا معلومیږی چه بعض تصورات بدیهی دی، او بعض نظری دی، همدغه شان بعض تصدیقات بدیهی دی او بعض نظری دی، نو د ماتن دا عبارت چه "بل البعض من کل الخ یو قسم تکرار دے، والتکرار شنیعٌ، جواب[1] دا تکرار نه دے، بلکه دا تصریح بما علم ضمنًا ده، یعنی مخکښې د بعض تصوراتو بدیهی کیدل او د بعض نظری کیدل، او همدا راز د بعض تصدیقاتو بدیهی کیدل او د بعض نظری کیدل، دا ضمنًا او اشارةً معلومیده، او اوس، ماتن رحمه الله تصریح ذکره په دے خبره باندے، و ذالك اوقع فی النفس، جواب[2]، دا عبارت د ماتن چه "بل البعض من کل الخ په منزلهٔ د نتیجه ده، ځکه چه هر کله چه مصنف رحمهٔ الله په مخکښې عبارت سره د ټول تصوراتو او تصدیقاتو بدیهی کیدل، او د ټولو تصوراتو او تصدیقاتو نظری کیدل باطل کړو، نو دا عبارت ئے ذکر کړو د پاره د دے



Maktaba Tul Ishaat.com

چه دا نتيجه د ماقبل اوګرځي، او هغه دا چه بعض تصورات او تصديقات بديهي دي، او بعض نظري دي، او نتيجه ذکرکول ته چا تکرار نهٔ دے ويلے

جواب[۳]: منم چه د بعض تصوراتو او د تصديقاتو بديهي کيدل او د بعض نظري کيدل د مخکښ عبارت نه لازميږي، ليکن دا خبره بيا ذکرکول د پاره د دے چه دا تمهيد شي د تعريف د فکر د پاره کوم چه پخپله تمهيد دے د مقدمهٔ ثالثه محوّجه الٰى علمِ المنطق لپاره،

پس پوهه شه چه غرض اصلي د ماتن د دے عبارت نه بيان د مقدمهٔ ثالثه دے د مقدمات ثلاثو محوجه الى علمِ المنطق نه، او خلاصهٔ ئے دا ده چه په فکر او نظر کښ خطائي واقع کيږي، په بعض او قاتو کښ چه بعض عقلاءً نظر دا سے جوړه وي، چه «العالَمُ حَادثٌ لِاَنَّهٗ متغيّرٌ وَ كُلُّ متغيّرٍ حادثٌ فالعالَمُ حادثٌ»، نو دا نظر نتيجه د ركوي حدوث د عالَم چه عالَم حادث دے او بعض عقلاء دا سے نظر جوړه وي، چه العالم قديمٌ لِاَنَّهٗ مستغنٍ عَنِ المؤثِر وكلُّ مَا هٰذا شانهٗ فهو قديمٌ فالعالَمُ قديمٌ نو دا نظر او فکر نتيجه ور کوي د قدم د عالَم چه عالَم قديم دے، نو اوس دا دواړه نظرونه که حق شي، نو د دواړو نتيجې به هم حق شي، په دے شان سره چه عالم به حادث هم شي او قديم به هم شي، نو لازم به شي اجتماع د نقيضينو چه حدوث د عالم او قدم د عالم دے، او اجتماع د نقيضينو بداهةً باطل ده، نو حقانيت د دواړو نظرونو هم باطل شو، او همدغه شان دا دواړه نظرونه باطل کيدے هم نشي، ځکه چه که دواړه باطل شي نو د دواړو نتيجې به هم باطل شي، په دے شان سره چه عالم به نه حادث وي او نهٔ قديم نو لازم به شي ارتفاع د نقيضينو په دے شان سره چه د عالم نه به هم حدوث مرتفع شي، او هم به ورنه قدم مرتفع شي، او ارتفاع د نقيضينو هم بداهةً باطل ده، او که په دے دواړو نظرونوکښ يو ته صحيح وايو او بل ته غلط نو لازميږي ترجيح بلا مرجح، او ترجيح بلا مرجح هم باطل ده، نو ضرور شو چه يو داسے قانون او دليل راوړے شي چه ترجيح بلا مرجح لازم نشي او هغه قانون نهٔ دے مگر منطق دے،

سوال: حاجت نه ثابتيږي علمِ منطق ته، ځکه چه علوم نظريه په نظر سره معلوميږي، او په نظر کښ خطاء واقع کيږي خو ليکن د هغې نه د تحفظ



د پاره حاجت قانون ته نشته، چه هغه قانون علمِ منطق دے بلکه طبيعت انساني تحفظ د ذهن کوي د خطائي نه، ځکه چه طبيعت انساني خطاء د نظر، او صحت د نظر معلوموُلے شي نو علمِ منطق ته يکښ حاجت پاتے نشو،

جواب: طبيعت انساني تحفظ د ذهن نشي کولے د خطائي نه ځکه چه په فکر او په نظر د عقلاؤ کښ خطائي واقع کيږي، سره له دے نه چه د هغوئ سره هم طبيعت انساني وي، نو هر کله چه د عقلاء په نظر او په فکر کښ خطائي واقع کيږي، نو معلومه شوه، چه طبيعت انساني صحت او فساد د فکر او د نظر نشي معلوموُلے، او طبيعت انساني نه دے کافي په فرق راوستو کښ، په مابين د حق او د باطل کښ او د صحت او د فساد کښ، نو لابدي ده لپاره د تحفظ د ذهن د خطائي نه چه په فکر کښ واقع کيږي، د يو قانون نه چه په هغه کښ بيان شوے وي په طريقه د کسب د مجهولاتو د معلوماتو نه په طريقه د فکر او د نظر سره، او هغه قانون نهٔ دے مگر منطق دے،

تنبيه:- پوهه شه چه په دے مقام کښ تفصيل زيات دے د هغه پوره تفصيل د شروح (قطبي) عبارت لاندے تفصيلاً راتلونکے دے، او س صرف دومره خبره ليکل ضروري دي، چه ماتن رحمهُ الله به دے مقدمه د رسالهٔ شمسيه کښ درے امور ذکرکول مقصود وو (۱) بيان الحاجة کوم چه ثابت وو په درے مقدماتو سره (۱) تقسيم د علم تصور او تصديق ته، (۲) بعض تصورات او تصديقات بديهي کيدل او د بعض نظري کيدل (۳) هر فکر او نظر صحيح کيدے هم نشي او خطا کيدے هم نشي او (۲) رسم المنطق وو، او (۳) موضوع د منطق وو، سوال:- لکه په دے مقدمه کښ د دغو امورو ثلاثه ذکر کړے دے، نو مصنف رحمه الله لره پکار وو چه غرض د علمِ منطق ئے هم ذکر کړے وے،

جواب[۱]: غرض د علمِ منطق داخل دے په بيان الحاجة کښ هم د دے د چه بعض علماء وائي، چه حاجت او غرض کښ اتحاد ذاتي دے او فرق اعتباري دے، جواب[۲]: غرض د علم منطق داخل دے په تعريف د علمِ منطق کښ، ځکه چه مقصود د تعريف د علم منطق نه صيانة د ذهن ده د خطائي فکري نه، او د غرض نه هم دا مقصود دے چه صيانة د ذهن راشي د خطاء فکري نه ګويا چه په دے مقدمه کښ، تعريف، غرض، او موضوع د دے

درے واړوبیان شوے دے۔

اَقُولُ: لَا یَخْلُوْ اِمَّا اَنْ یَکُوْنَ جَمِیْعُ التَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِیْقَاتِ بَدِیْهِیًّا اَوْ یَکُوْنَ جَمِیْعُ التَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِیْقَاتِ نَظَرِیًّا، اَوْ یَکُوْنَ بَعْضُ التَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِیْقَاتِ بَدِیْهِیًّا وَالْبَعْضُ الْاٰخَرُ نَظَرِیًّا فَالْاَقْسَامُ مُنْحَصِرَةٌ فِیْهَا وَلَمَّا بَطَلَ الْقِسْمَانِ الْاَوَّلَانِ تَعَیَّنَ الْقِسْمُ الثَّالِثُ، وَهُوَ اَنْ یَکُوْنَ الْبَعْضُ مِنْ کُلٍّ مِنْهُمَا بَدِیْهِیًّا وَالْبَعْضُ الْاٰخَرُ نَظَرِیًّا، وَالنَّظَرِیُّ یُمْکِنُ تَحْصِیْلُهٗ بِطَرِیْقِ الْفِکْرِ مِنَ الْبَدِیْهِیِّ لِاَنَّ مَنْ عَلِمَ لُزُوْمَ اَمْرٍ لِاٰخَرَ ثُمَّ عَلِمَ وُجُوْدَ الْمَلْزُوْمِ حَصَلَ لَهٗ مِنَ الْعِلْمَیْنِ السَّابِقَیْنِ وَهُوَ الْعِلْمُ بِالْمُلَازَمَةِ وَالْعِلْمُ بِوُجُوْدِ الْمَلْزُوْمِ الْعِلْمُ بِوُجُوْدِ اللَّازِمِ بِالضَّرُوْرَةِ، فَلَوْ لَمْ یُمْکِنْ تَحْصِیْلُ النَّظَرِیِّ بِطَرِیْقِ الْفِکْرِ لَمْ یَحْصُلِ الْعِلْمُ الثَّالِثُ مِنَ الْعِلْمَیْنِ السَّابِقَیْنِ لِاَنَّ حُصُوْلَهٗ بِطَرِیْقِ الْفِکْرِ،

**ترجمه:** زه (شارح) وایم چه دا (تقسیم) به خالی نهٔ وی، یا به ټول تصورات او تصدیقات بدیهی شی، او یا به ټول تصورات او تصدیقات نظری شی او یا به بعض تصورات او بعض تصدیقات بدیهی شی او بعض نظری نو دا اقسام په دې ریو کښې منحصر دی، او هرکله چه اوومبی دوارهٔ قسمونه باطل شو، نو دریم قسم متعین شو، او هغه دا چه هر واحد د تصوراو د تصدیق نه بعض بدیهی او بعض نظری شول، او نظری د فکر په ذریعه د بدیهی نه حاصلول ممکن دی، ځکه چه کوم انسان دیوا مر لزوم د بل امر دپاره معلوم کړی بیا وجود د ملزوم هم معلوم کړی، نو د دے مخکینی دواړو علمینو، یعنی علم بالمُلَازَمَةِ[1]، او علم بوجود د الملزوم[2]، نه ضروری طور په وجود د لازم باندے علم حاصلیږی، پس حصول د نظری د فکر په ذریعه ممکن نهٔ وی نو ړومبی علمینو نه دریم علم حاصل نهٔ وی، ځکه چه حصول دعلم دفکر په ذریعه وی،

**توضیح اللغات:** (۱) لَا یَخْلُوْ - صیغهٔ واحد مذکر غائب نفی فعل مضارع معلوم په معنی د خالی و الے سره، (۲) مُنْحَصِرَةٌ، صیغهٔ واحده مؤنثه اسم فاعل، او اسم مفعول هم کیدے شی، لیکن اسم مفعول کیدل ئے ډیر ضعیف دی، ځکه چه باب انفعال همیشه لپاره لازمی راځی، د انحصار معنی



حصر راځی، د (ن، س) نه په معنی د بند والی او په معنی د بند والی سره، (۳) بَطَلَ: صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل ماضی معلوم د (ن) نه په معنی د ختمیدلو، عبث کیدلو، او خرابیدلو سره راځی، او په اصطلاح کښې مالایکون مشروعًا لا باصله ولا بوصفه، (ابن عابدین) وقد مرّ الفرق بینه وبین الفاسد (۴) لزوم - صیغه د مصدر ده د (س) نه په معنی د ثبوت او دوام سره راځی، او په اصطلاح کښې لزوم عبارت دے د امتناع انفکاک الشئ عن الشئ نه (۵) لازم، صیغهٔ واحد مذکر اسم فاعل په لغت کښې ثبوت او دوام ته وائی، او په اصطلاح کښې مایمتنع انفکاکه عن الشئ ته وائی، (۶) ملزوم هم مشتق د لزوم نه دے، معنی لغوی ئی واضح ده، کونُ الشئ مقتضیًا للاٰخر کوجود النهار للشمس (۷) الملازمة، هم مشتق د لزوم نه ده معنی لغوی ئے واضح ده، او په اصطلاح کښې کون الحکم مقتضیًا للاٰخر کالدخان للنار فی النهار و النار للدخان فی اللیل - ملازمه دپاره مختلف اقسام دی،

(۱) الملازمة العقلیة، (۲) الملازمة المطلقة (۳) الملازمة الخارجیة (۴) الملازمة الذهنیة، والتفصیل فی التعریفات للشریف، وکشاف الاصطلاحات،

**تشریح:** قوله، اقول لا یخلوا الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول دی، ربط د دے عبارت د ماسبق سره، چه ماسبق سره دلیل وُو، او دا پورتنی عبارت نتیجه د دلیل ده، په متن کښې اجمال وُو نو دے تفصیل کوی، او ماتن رحمهٔ الله په متن کښې د دوه دعوو ذکر کوی (۱) دا چه بعض تصورات او تصدیقات بدیهی دی، او بعض نظری دی، او دویمه دعوه داده چه بعض نظری تصورات او تصدیقات حاصلولے شی، د بدیهی تصوراتو او تصدیقاتو نه، لیکن اولنئ دعوه نظری دے دلیل ته اشاره کړیده په دے قول سره "امّا ان یکون الخ او دویمه دعوی ئے ضروریه او بدیهیه ده، او د دے شارح تفسیر کړیدے په دے قول سره یحصل بالفکر بامکان تحصیله بالفکر لا حصوله بالفعل الخ

پس شارح رحمه الله چه تصورات او تصدیقات په بدیهی او نظری کیدلو باره کښې مختلف اقوال دی، لیکن جامع خبره دا ده، چه دا بنیادی طور دا په درے قسمونو کښې منحصر دی، دوه صورتونه غلط دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

اویو صورت صحیح او واقع دے (۱) ټول تصورات او تصدیقات بدیهي کیدل (۲) ټول تصورات او تصدیقات نظري کیدل، دا دواړه احتماله او مورتونه غلط او باطل دي کما مرّ، او دریم صورت صحیح او معتدل دے او هغه دا چه بعض تصورات او تصدیقات بدیهي شي، او بعض نور نظري شي.

قوله، فالاقسام منحصرة فيها الخ سوال د تصوراتو او تصدیقاتو په بدیهي او نظري کیدلو کښې ټول مجموعي طور سره نهه (۹) احتمالات دي، (۱) ټول تصورات او تصدیقات بدیهي دي کما قال به بعض الاشاعرة (۲) ټول تصورات او تصدیقات نظري دي کما قال به جهم بن صفوان الترمذي، (۳) ټول تصورات بدیهي او تصدیقات بعض بدیهي او بعض نظري کما قال به الامام الرازي رحمه الله (۴) عکس د دے، یعني ټول تصدیقات بدیهي او بعض تصورات بدیهي او بعض نظري کما قاله به الحکماء المتقدمون، (۵) ټول تصورات نظري او تصدیقات بعض بدیهي او بعض نظري، (۶) عکس د دے یعني ټول تصدیقات نظري، بعض تصورات بدیهي او بعض نظري، (۷) ټول تصورات نظري او ټول تصدیقات بدیهي (۸) د دے عکس یعني ټول تصدیقات نظري، او ټول تصورات بدیهي ولم یذهب الی هذه الاقوال الاربعة احدٌ، (۹) بعض تصورات او تصدیقات بدیهي او بعض نظري وبه قال الحکماء المتأخرون والمحققون من المتکلمين وهو المقصود پس هرکله چه ټول احتمالات او اقسام نهه (۹) شول نو ته څنګه قول کوې په انحصار د اقسامو په دریو کښې، فهل هذا الا کذبٌ صریحٌ،

جواب: د لته د هغه احوالو بیانول مقصود دي، چه کوم تصورات او تصدیقات ته في نفسه مع قطع نظر عن صاحبه حاصل وي او دا صوف او صاف د دے دي،

قوله تعین القسم الثالث الخ سوال په دے مقام کښې یو اشکال مشهور دے، او خلاصه ئې دا ده چه نقیض د موجبه کلیه سالبه جزئیه ده پس دا دواړه قضیې چه "کل التصورات نظریة" و "کل التصورات بدیهیة" کاذبې دي، او د دے دواړو نقیض "چه لیس بعض التصورات بدیهیًا او لیس بعض التصورات نظریًا دی" صادق دي، حُکه چه د دوی عینین



کاذبې دي، او دیکښې شک نشته چه سالبه صادقیږي په وخت د نشتوالي د موضوع د دے کښې، حُکه چه دا سالبة تقاضی نهٔ کوي د وجود د موضوع او محمول په مسلوب دي، او صدق د دے دواړو نقیضینو او کذب دا صل ته دا نهٔ لازمیږي چه دا نقیضه د موجوده وي چه "البعض ضروريٌّ والبعض نظريٌّ" چه دا دواړه نقیضین په وخت د نشتوالي د موضوع کښې صادقیږي، فلا یتم قول الشارح تعین الثالث وهو ان یکون الخ پس هرکله چه خبره دا سے شوه نو بطلان د نقیضینو نه تعین د ثالث نهٔ لازمیږي، جواب، په دا سے انداز جواب کوُلے شي چه دا تصورات امور موجوده دي په خارج کښې او په دغه وخت کښې دانهٔ حاصلیږي، چه موضوع د سالبې په واقع کښې معدوم وي او په دغه وخت کښې مساوات راغئ په مابین د سالبې او د موجبې معدوله کښې نو سالبه صادقیږي په نفي د محمول سره فقط نهٔ په نشتوالي د موضوع سره، او هرکله چه تصورات موجود دي، او حال دا دے چه د دوئ نه بداهة د تولو او نظریة د تولو نفي شویده، نو ثابت شو چه "ان البعض بديهيٌّ والآخر نظريٌّ"

قوله لان من علم لزوم الخ امر اول په باب د تصوراتو کښې محدود دے او امر ثاني حد دے او امر ثاني په باب د تصدیقاتو کښې نتیجه ده، او امر ثاني دلیل او قیاس دے،

والفکر هو ترتیب امورٍ معلومةٍ للتأدي الی المجهول کما اذا حاولنا تحصیل معرفة الانسان وقد عرفنا الحیوان والناطق رتبنا هما بان قدمنا الحیوان واخرنا الناطق حتی یتأدی الذهن منه الی تصور الانسان وکما اذا اردنا التصدیق بان العالم حادث ووسطنا المتغیر بین طرفي المطلوب وحکمنا بان العالم متغیر، وکل متغیر حادث تحصل لنا التصدیق بحدوث العالم، والترتیب في اللغة جعل کل شئ في مرتبته، وفي الاصطلاح جعل الاشیاء المتعددة بحیث یطلق علیها اسم الواحد ویکون لبعضها نسبة الی البعض الآخر بالتقدم والتأخر

ترجمه:- او "فکر" امور معلومه ته ترتیب ورکول دي د پاره د رسیدلو نامعلوم ته، لکه مونږ چه د انسان معرفت حاصلول اراده وکړو او مونږ حیوان او

ناطق پیژنو دوئ دواړو ته داترتیب ورکوو چه حیوان مخکښ او ناطق روسته کړو، دپاره ددے چه تصور دانسان ددے نه ذهن ته ورسیږی او همدغه شان لکه چه مونږ حدوث دعالم تصدیق تصد کړو او دمقصود دواړو طرفینو په مابین کښ (لفظ المتغیر کیدوا و مونږ فیصله اوکړو چه العالمُ متغیروکلُّ متغیرحادث، نو مونږ ته دعالم دحادث کیدو تصدیق حاصلیږی او "ترتیب" په لغت کښ هرشئ په خپله درجه کښ ایښودلوته وائی اوپه اصطلاح کښ ډیراشیاء په داسے انداز ملاوولو رجمع کولو) ته وائی، چه په هغه باندے د یو نوم اطلاق کیږی، او دے بعض امورو بعض نورو ته نسبت دتقدم او تاخروی"

**تشریح:-** قولهٗ والفکر هو ترتیب الخ غرض دشارح په دے عبارت سره اشاره ده اعادی د تعریف مذکور فی المتن ته لپاره دتوضیح په مثال سره، ځکه چه شئ په مثال سره ډیر واضح کیږی، کما نطق بهِ النصوص

## "البیان العجیب فی توضیح الفکر والترتیب"

زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښ لابدی ده دمعرفت دا مورسبعو نه (۱) صیغهٔ وزن دفکر (۲) معنیٰ لغوی (۳) معنیٰ اصطلاحی (۴) نسبت بین المعنیین (۵) فرق په مابین دفکر او د نظر کښ (۶) فکر خصوصیت د انسان دے او که نه (۷) اطلاقات دفکر

پس پوهه شه چه فکر په وزن دِفعلٌ صیغه د مصدر ده د (ض) نه په لغت کښ سوچ او اعمال العقل ته وائی، او په اصطلاح کښ مختلف تعریفونه شویدی (۱) اعمال العقل للوصولِ الیٰ معرفة مجهول (۲) چه فکر او نظر دواړه عبارت دے د ملاحظه د معقولاتو نه برابره خبره ده که دا ملاحظه دپاره د معلوموُلو دامرِ مجهول وی او که نهٔ وی، او معقولات عبارت دی د معلوماتو نه چه نفس ناطقه به معلوم شوے وی، بغیر د واسطه د حواسو نه او مقابل د دے معنیٰ دفکر د نظر کښ تخیل دے (۳) چه فکر او نظر عبارت دے د حرکتینو تدریجینو نه چه اول حرکت به د مطلوب نه وی مبادی ته او دویم حرکت تدریجی به د مبادی نه وی مطلوب ته او مقابل د دے فکر او نظر حدس دَے (۴) فکر عبارت دے د حرکت اولی تدریجی نه فقط (۵) قیل ادراك یمتاز بهِ الانسان عن البهائمِ (۶) فکر او نظر دواړه عبارت



دی د ترتیب د امورِ معلومو نه لپاره د تحصیل دامر مجهول، پس اول آخری تعریفونه د متاخرینو دی او باقی څلورواړه تعریفونه (وسطانی) د متقدمینو نه منقول دی، او نسبت په مابین دفکر معنیٰ لغوی او معانی اصطلاحیو کښ عموم خصوص مطلق دے، او په ادنیٰ تامُّل سره ئے ادراك کیږی، او فرق په مابین د فکر او د نظر باره کښ اختلاف واقع شوے دے، په دے شان سره چه اول مذهب دمشهورو ریو دے، دوئ وائی چه فکر او نظر په مابین کښ ترادف دَے، او ددوئ په مابین کښ هیڅ فرق نشته، نه فرق ذاتی شته او نه فرق اعتباری شته، فکل فکرٍ نظرٌ وکلُّ نظرٍ فکرٌ، او دویم مذهب دبعض علماء دے دوئ چه فکر او نظر په مابین کښ اتحاد ذاتی او فرق اعتباری دَے په دے شان سره چه فکر او نظر دواړه عبارت دی د حرکتینو تدریجینو نه، نو دوئ دواړه متحد دی په اعتبار د ذات سره لیکن هغه فرق اعتباری دا دے چه حرکت عبارت دے له حرکتینو تدریجینو نه لیکن ملاحظه د معقولو امورو چه په هغوئ کښ حرکت نفس ناطقه معتبره وی په نظر کښ، او فکر عبارت دے د حرکتینو تدریجینو نه لیکن دا ملاحظه په فکر کښ معتبره نهٔ وی، و فی کشاف الاصطلاحات ص[۱۲۸۵/۲۲]، ویرادف الفکر النظر فی القولِ المشهور، وقیل الفکر هو الترتیب والنظر ملاحظة المعقولات فی ضمنِهِ، او اطلاقات دفکر دا دی، چه متقدمین منطقیانو د فکر اطلاق په دریے شیانو باندے کوی (۱) حرکة النفس فی المعقولات بواسطةِ القوةِ المتصرفةِ (۲) حرکة النفسِ فی المعقولاتِ مبتدئةً مِن المطلوب المشعور بوجهٍ ما (اے مجموع الحرکتین) (۳) الحرکة الاولی مِنْ هاتین الحرکتین، او اکثر علماء وائی چه فکر د انسان دخواص نه دے، او بعض وائی چه دا فکر انسان پورے مختص نه دے، و فی کشاف الاصطلاحات، الفکر الذی یُعدُّ فی خواصِ الانسان، والمراد الاختصاص بالنسبةِ الیٰ باقی الحیواناتِ لا مطلقًا، قولهٗ، کما اذا حاولنا تحصیل معرفة الانسان الخ دا مثال د هغه فکر او نظر دے، چه په امور معلومو تصوریو کښ او ترتیب شی، او هغه په دا سے شان سره چه انسان مونږ ته مجهول دے او علم ور باندے تصور نظری دے، چه حاصلیږی په واسطه د فکر او د نظر سره، نو حیوان یو امر معلوم دے چه جسمٌ نامٍ حساس متحرك بالارادةِ دَے، او ناطق بل امر معلوم

چونکه مد فی الطبع دے، نو میلان ئے تصدیقات طرفته زیات کیږی
دوبجے دشرافت نه او دوبجے دترتیب د ثمراتو نه، نو ځکه شارح په باب دتصو
کښې تماوله راوړه، او په باب دتصدیق کښې ئے اراده راوړه، والله اعلم
سوال: د وسطًا د وسته لفظ دبَیْنَ راوړل مستدرك او بے فائدے دے
ځکه چه وسط، او توسط بخپله معنیٰ "جعل الشیٔ بین الشیئین دے"
جواب[1]: دا عبارت مبنی دے په تصریح بما علم ضمنًا باندے کوم چه دلالت
کوی په فصاحت باندے، جواب[2] د لته تجرید شویدے (او تجرید عبارت
دے دخلوّ اللفظ عن بعض المعنیٰ نه) په دے شان سره چه وسطًا په معنی د
جعلنا سره دے،

قوله، والترتیب فی اللغة الخ غرض دشارح په دے عبارت سره اشاره کول
دترتیب معنی لغوی او اصطلاحی ته، ځکه چه په تعریف دفکر کښې هم
ترتیب الخ ذکر دے او قانون دا دے چه معرفت د محدود (معرَّف) موقوف
دی تر معرفت دهر جزء دا جزاءُ دحد (تعریف) پورے او دلته یو جز (دفکر)
په ترتیب دے، نو گویا که معرفت دفکر موقوف دے تر معرفت دترتیب پورے
پس زده کړئ دا خبره چه په دے مقام کښې لابُدی ده د معرفت د امور ثمانیه[8] نه
(۱) صیغه او وزن دترتیب (۲) معنیٰ لغوی (۳) معنیٰ اصطلاحی (۴) مناسبت
په مابین د معنیٰ نو کښې (۵) سوال او جواب په ترتیب کښې (۶) فرق په مابین
دترتیب او تالیف کښې (۷) فرق په مابین د ترتیب او ترکیب کښې (۸) فرق په
مابین دترکیب او تالیف کښې،

تفصیل المقام (۱). ترتیب په وزن د تفعیل دے او صیغه د مصدر ده[5] د
باب تفعیل نه مجرد ئے د (ن) نه په معنیٰ دثبوت او استقرار سره راځی
او ترتیب په لغت کښې ایرا[1] دشیٔ عقیبَ شئ آخَرَ یا جعل[2] کل شئٍ فی مرتبته
ته وائی، او یا وضع[3] کلُ شئٍ فی مرتبته ته وائی، او ترتیب په اصطلاح کښې
عبارت دے "جعل الاشیاءِ المتعددة بحیث علیها اسمُ الواحدِ و یکون لبعضها
نسبةٌ الی البعض الاٰخر بالتقدُّم و التاخُّر، یعنی گرځول داشیاءِ کثیرو
دی په دا سے شان سره چه په هغوئ د یو نوم اطلاق وکړے شی او په
دے کښې بعض د بعض نورو سره د تقدم او تاخر نسبت لحاظ شوے وی
چه بعض مقدم وی، او بعض مؤخر وی، لکه حیوان ناطق چه دوه





دے، چه مدرك الکلیات دے، نو چه کله مونږ په دے امورو معلومو
کښې ترتیب وکړو، په دے شان سره چه حیوان مو مقدم کړو، ځکه چه
دا جنس، او عام دے او ناطق مو مؤخر کړو ځکه چه دا فصل او خاص دے
او دا تقدیم د جنس په فصل باندے بعض وائی چه واجب دے "فلایحصل
التعریف إلّا بهذا الترتیب" او بعض وائی چه دا ترتیب اگر چه واجب نه دے
لیکن اولی او بهتر ضرور دے، (لحصولِ الفائدة) بنا په هر صورت لیے مو
وویل چه "حیوان ناطقٌ" نو په ترتیب سره علم حاصل شو په امر مجهول
(انسان) باندے نو حیوان او ناطق امور معلومه تصوریه دی، او دا امور
معلومه ته معرف او قول شارح ویلے شی کوم چه په قول تصورات کښې
مقصود بالذات دی،

قوله، وکما اذا اردنا التصدیق الخ دا مثال د هغه فکر او نظر دے چه
امورو معلومو تصدیقیهٔ وکښې ترتیب وشی، په دے شان سره چه "العالم حادثٌ"
تصدیق نظری او مجهول دے، او العالَمُ متغیّرٌ یو امر معلوم دے او "وکل متغیّرٍ
یو امر معلوم دے، نو چه کله مونږ په دے امورِ معلومو کښې ترتیب وکړو
په دے شان سره چه "العالم متغیر" مقدَّم کړو، ځکه چه دا صغریٰ ده او
"کل متغیّرٍ حادثٌ" ئے مؤخر کړو ځکه چه دا کبریٰ ده، او دا سے او وایو چه
"العالمُ متغیر وکل متغیرٍ حادثٌ" نو په دے ترتیب سره مونږ ته علم
حاصل شو په هغه مجهول باندے، چه (العالمُ حادث) دے امورِ
معلومو ته دلیل او حجت ویلے شی، کوم چه په قول تصدیقاتو کښې مقصود
بالذات دی، پس په دے مذکور الذکر تقریر سره درته واضح شوه چه
دلته تعدد د مثالونو تعدد د ممثلونو په وجه راغلے دے، فلایردُ أنّ ایرادُ
المثالِ لتوضیح الممثل و یکفی له مثالٌ واحدٌ، قوله، رتّبناهما الخ وقع
فی بعض النسخ بالواو والاولیٰ حذفهما لانّ جواب إذْ لایقترن بالواو،
سوال: په باب د تصوراتو کښې د مثال راوړلو د پاره لفظ د "أرَدْنَا" راوړلو
دے کښې څهٔ حکمت دے، جواب: د دے دوا ړو یو معنیٰ ده، او د شارح دا
طرز په تفنن فی العبارت باندے محمول دے، کوم چه د دلالت کوی په فصاحت
او په بلاغت باندے، جواب[2]: محاوله. اصل کښې طلب الشیٔ بالحیل ته
وائی، او اراده عبارت دے د میل یعقب اعتقاد النفع "نه. او انسان

شیانو مجموعه اوپه دے باندے دشئ واحد (چه انسان دے) اطلاق کیږی، او تقدیم د حیوان واجب یا افضل دے، په ناطق باندے بنا په اختلاف د قولینو باندے، او په دے تعریف کښ اشاره ده بقاء د تعدد دا شیا ته په حالت د ترتیب کښ، پس که د دوؤ لوښو او په یوه لوښی کښ واچوے نه ترتیب نه شی د یلے، او اضافت د اسم الواحد ته دا اضافت بیانیه دے، او مراد دو احد نه لفظ واحد دے، قوله، ویکون لبعضها الخ یدے سره اشاره ده دے خبرے ته چه صحیح ده چه اشاره وکرے شی هر واحد د دغو اشیاؤ ته، چه دا مقدَّم دے یا مؤخَّر دے یا حِسًّا او یا عقلاً پس په دے سره احتراز راغے د ترکیب د اَذوِیَوُ نه، او همدغه شان احتراز راغے د ترکیب د مفهوماتِ اعتباریو نه، سؤال، د ترتیب مذکور تعریف جامع نهٔ دے چیل افرادو لره، ځکه چه خارج شو ترے نه مثل حیوان ناطق ځکه چه دا دوه شیان، او په تعریف کښ لفظ د جمع (اشیاء) ذکر دے او اقل مرتبه د جمع درے دی، جواب: دلته د جمع نه مراد مافوق الواحد دے کما یقول الشارح، والمراد مافوق الواحد وکذالك کلُّ جمع یستعمل فی التعریفات، فی هذاالفنِ،

تنبیه، د ترتیب اصطلاحی دوه جزء دی (١) جعل الاشیاء الخ (٢) یکون لبعضها الخ میر سید شریف صاحب وائی، چه د تعریف جزءِ اول پشان جزء ثانی هم ترتیب اصطلاحی په مفهوم کښ داخل دے، او بعض حضرات وائی، چه اتمام ترتیب اصطلاحی په جزء اول شوید ے او جزء ثانی تکمله د تعریف ده، والاوّل هوالاصحّ، والضمیر فی بعضها راجع الی الاشیاءِ المجعولةِ بالحیثیةِ المذکورَةِ اوبدون الحیثیَة، او مناسبت په مابین د معنیٰ لغوی او اصطلاحی کښ عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه معنیٰ لغوی اعم مطلق ده، او معنیٰ اصطلاحی اخص مطلق ده، سوال، او جواب په ترتیب کښ دا دے چه معترض اعتراض کوی، چه تاسو ویلی چه ترتیب په لغت کښ جعل کل شیئٍ فی مرتبته ته وائی، نو اوس زه درنه تپوس کوم چه ضمیر د مرتبته چا ته راجع بولے، په دے کښ دوه احتماله دی، اول دا چه دا ضمیر مضاف چه (کل ده) ته راجع شی او دوئیم دا چه دا ضمیر مضاف الیه (چه شئ دے) ته راجع شی دواړه نه صحیح کیږی ولے



که راجع شی مضاف ته نو معنیٰ به یٔ دا شی چه گرځول د هر شی دے په مرتبه د هر شی کښ، او دا معنیٰ فاسده ده، ځکه چه یو مرتبه خو مثلاً طوفان نوح علیه السلام دے، گرځول د طوفان نوح په مرتبه خمونږ کښ غیر ممکن دے، او که ضمیر مضاف الیه ته راجع شی نو معنیٰ به یٔ دا شی چه گرځول د هر شی دی په مرتبه د شی واحد کښ، او دا هم غیر صحیح ده، ځکه چه گرځول د هر شی په مجلس او معقد د یو شخص کښ هم غیر ممکن دی، اذ الترتیب لیس وضع کل شئٍ فی مرتبة کل شئٍ ولا فی مرتبة شئٍ ما وقد تحیَّرَ الناظرونَ فی حَلِّهٖ،

جواب: ضمیر زه راجع وایم مضاف (کل) ته خو عبارت په حذف د مضاف سره دے، اے جعل کل شئٍ فی مرتبةٍ فی مرتبةٍ لائقةٍ، او دا ځکه چه اضافت د پاره د تعمیم دے، لانهٔ مضاف مفردٌ، د دے نه هغه مراتب مراد دی کوم چه اشیاؤ سره مناسب او لائق دی، جواب[٢]، دا ضمیر راجع بولم مضاف الیه (شئ) ته که ته اعتراض کوی نو زه وایم چه دا کلام بنا دے په یوه قاعده باندے، او هغه قاعده دا ده چه ضمیر چه راجع شی مصدر ته نو دا مفید د استغراق دی او لفظ د کل" هم استغراق لپاره راځی، او قانون دا دے چه استغراق مقابل د استغراق راشی نو دا مفید د انقسام د احادو په احادو باندے، بالفاظ دیگر، دا مقابل د جمع بالجمع دے کوم چه دلالت کوی په تقسیم د احادو او افرادو باندے، نو معنیٰ یٔ دا شوه چه گرځول د هر شی دی په مرتبه خپله کښ او دا معنیٰ صحیح ده،

د ترتیب او د تالیف تر مینځ څه فرق شته او که نه، په دے کښ څلور قوله دی اول قول دا دے، چه د دوؤ په مابین کښ څه فرق نشته بلکه دا لفظین مترادفین دی، لکه قعود او جلوس، دوئیم[٢] قول دا دے (وهوالاصح) چه په مابین د دوؤ کښ عموم خصوص مطلق دے په دے شان سره چه تالیف اعم مطلق دے خوا که د بعض اجزاؤ د بعض نورو سره نسبت د تقدم او تأخر وی او که نه وی، او ترتیب اخص مطلق دے، چه په دے کښ دا نسبت د تقدیم او د تأخیر کیدل ضروری دی، فعلیٰ هذا یکون التالیف اعم من الترتیب، او دریم[٣] قول دا دے چه تالیف په منزله د مفرد دے او ترتیب په منزله د مرکب دے ځکه چه په تعریف د تالیف کښ یو جزء دے چه

جعل الاشیاء الخ دے، او په تعریف د ترتیب کښې دوه جزه دی (۱) جعل الاشیاء الخ (۲) ویکون لبعضها الخ خلورم[۳] قول دا دے چه تالیف کښې د نسبت لحاظ وی، او ترتیب کښې نه وی متن کښې ترتیب نه مراد تالیف دے او د ترتیب، او د ترکیب په مابین کښې خه فرق شته او که نه، په دیکښې دوه[۲] قوله دی، اول قول دا دے چه لفظین مترادفین دی فکل ترتیب ترکیب و کل ترکیب ترتیب، او دویم قول دا دے چه (او هو الاشهر) چه په مابین د دوی کښې هم تباین دے په دے شان سره چه ترتیب کښې لحاظ د نسبت شته او ترکیب د نسبت لحاظ ورکښې نشته، پس دلته دا خبره واضح کول ضروری دی چه د تالیف او د ترکیب په مابین خه فرق شته او که نه، بعض حضرات وائی چه نشته بلکه د دوی په مینځ کښې ترادف دے لیکن صحیح خبره دا ده چه د دوی په مابین کښې هم عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه تالیف عام دے که د نسبت د تقدیم او د تاخیر ورکښې وی او که نه، او ترکیب خاص دے چه د نسبت لحاظ ورکښې نه وی شوے، (وهل بین المرکب والقول والمؤلف فرق ام لا، د للتفصیل مقام آخر،

## " نیل الامانی فی معرفة المعنی اللغوی والاصطلاحی "

قوله، فی اللغة الخ دا خبره چه په دے مقام کښې لابدی ده د معرفت دخوارلس[۴] امورو نه (۱) صیغه د لغت (۲) وزن (۳) باب (۴) اصل د لغت (۵) معنی لغوی د لغت (۶) معنی اصطلاحی (۷) مناسبت بین المعنیین (۸) صیغه دا صطلاح (۹) وزن (۱۰) باب (۱۱) اصل دا صطلاح (۱۲) معنی لغوی دا صطلاح (۱۳) معانی اصطلاحی (۱۴) نسبت او مناسبت په مابین د معنیینو کښې، تفصیل المقام:- پس پوهه شه، چه لغت صیغه د مصدر ده، د باب لغی یلغی لغة نه قیاس په سمع یسمع باندے، لغت په اصل کښې لغو یا لغی وو، واو یا متحرک ماقبل مفتوح، دا واو یاء په الف سره بدل کړے شو، بیا التقاء د ساکنینو راغله په مابین د الف او د تنوین کښې، الف حذف کړے شونو تنوین ځکه چه تنوین حرف صحیح دے، او حذف د حرف صحیح غیر معقول دے، او بیا په عوض د دے محذوف کښې تا مو په آخر کښې راوړو، نو لغة شو، سوال: دا خو لازم شو مخالفت د قاعدے





سره او قاعده دا ده، چه هر هغه حرف چه په مصدر کښې حذف شی، په التقاء د تنوین سره، په عوض د هغه کښې تا نشی راوړے ځکه چه جمع به راشی په مابین د عوض او معوض کښې په نزد د دخول د الف لام او دا منافات سره، او په دے کښې یے تا راوړے ده، جواب، دا یا د دفع د التباس ده، د جمع د مفرد سره ځکه چه جمع یے لغی ده، او مفرد یے لغت دے، سوال: عکس به ئی کړے وے، جواب: عکس نه کوم ځکه چه جمع ثقیله ده معنی او زیات هم ثقیل دے، نو لازم به ثقل په ثقل باندے، سوال: بله داسے جمع او مفرد راغلی دی چه په وزن یے فعل او فعة وی، جواب. آو داسے جمع او مفرد راغلی دی لکه بُرن او بُرة شو، د برن معنی مهارونه د اوبنانو او برة معنی یو مهار د اوبن، او مشهور جمع یے لغات راځی،

او لغت په لغت کښې نطق او تعبیر ته وائی، لکه چه عرب وائی چه لغی بالکلام اذا انطق به په هغه وخت کښې چه نطق وکړے شی په دے کلام سره، او لغت په اصطلاح کښې عبارت دے د "اللفظ الموضوع للمعنی" نه نو خارج شو د تعریف د لغت نه حروف هجا، ځکه چه حروف هجا وضع کړی شوی دی لپاره د غرض د ترکیب د کلماتو نه د پاره د معنی، وقیل[۲] ما یعبر بها کل قوم عن اغراضهم او مناسبت په مابین د معنیینو کښې نسبت د عموم، خصوص مطلق دے، او اصطلاح، صیغه د مصدر ده په وزن د افتعال، د باب افتعال نه، اصطلاح په اصل کښې اصتلاح وو هر کله چه فاء کلمه د باب افتعال کښې صاد راغلو نو تا د افتعال مو بدله کړه په طاء سره، نو اصطلاح شو، او اصطلاح په لغت کښې راټولیدل، جمع کیدل، او د مابین نه خلاف لرے کول او شناخت ته وائی، او اصطلاح په اصطلاح کښې مختلف تعریفونه شوی دی (۱) اتفاق طائفة علی شئ مخصوص، (۲) اتفاق علی تسمیة الشئ باسم ما ینقل عن موضعه الاول (۳) اخراج اللفظ من معنی لغوی الی آخر لمناسبة بینهما (۴) اتفاق طائفة علی وضع اللفظ بازاء المعنی (۵) اخراج الشئ عن معنی لغوی الی معنی آخر لبیان المقصود (۶) لفظ معین بین قوم معینین، (۷) اتفاق قوم علی تخصیص شئ بشئ، (۸) اتفاق قوم علی استعمال اللفظ فی معنی معین لکن لایکون فی اصل الوضع، او مناسبت په مابین د معنی

لغوی ، او د معانیو اصطلاحیو کښې عموم خصوص مطلق دے چه په ادنیٰ تامل سره معلومیږی (او الکل متقارب)

وَالْمُرَادُ بِالْاُمُوْرِ مَا فَوْقَ الْاَمْرِ الْوَاحِدِ، وَكَذٰلِكَ كُلُّ جَمْعٍ يُسْتَعْمَلُ فِي التَّعْرِيْفَاتِ فِي هٰذَا الْفَنِّ وَاِنَّمَا اُعْتُبِرَتِ الْاُمُوْرُ لِاَنَّ التَّرْتِيْبَ لَا يُمْكِنُ اِلَّا بَيْنَ شَيْئَيْنِ فَصَاعِدًا وَبِالْمَعْلُوْمَةِ الْحَاصِلَةُ صُوَرُهَا عِنْدَ الْعَقْلِ وَهِيَ تَتَنَاوَلُ التَّصَوُّرِيَّةَ وَالتَّصْدِيْقِيَّةَ وَالْيَقِيْنِيَّاتِ وَالظَّنِّيَّاتِ وَالْجَهْلِيَّاتِ فَاِنَّ الْفِكْرَ كَمَا يَجْرِيْ فِي التَّصَوُّرَاتِ يَجْرِيْ اَيْضًا فِي التَّصْدِيْقَاتِ وَكَمَا يَكُوْنُ فِي الْيَقِيْنِيِّ يَكُوْنُ اَيْضًا فِي الظَّنِّيِّ وَالْجَهْلِيِّ، اَمَّا الْفِكْرُ فِي التَّصَوُّرِ وَالتَّصْدِيْقِ الْيَقِيْنِيِّ فَكَمَا ذَكَرْنَا، وَاَمَّا فِي الظَّنِّيِّ فَكَقَوْلِنَا هٰذَا الْحَائِطُ يَنْتَشِرُ مِنْهُ التُّرَابُ وَكُلُّ حَائِطٍ يَنْتَشِرُ مِنْهُ التُّرَابُ يَنْهَدِمُ فَهٰذَا الْحَائِطُ يَنْهَدِمُ، وَاَمَّا فِي الْجَهْلِيِّ فَكَمَا اِذَا قِيْلَ الْعَالَمُ مُسْتَغْنٍ عَنِ الْمُؤَثِّرِ وَكُلُّ مُسْتَغْنٍ عَنِ الْمُؤَثِّرِ قَدِيْمٌ فَالْعَالَمُ قَدِيْمٌ

**ترجمه** :- او د امورو نه ما فوق الواحد مراد دے ، او همدغه شان هر هغه جمع چه په دے فن کښې په تعریفونو کښې استعمال کړے شی ، او د امور اعتبار د دے وجه نه اوکړے شو ، چه ترتیب د دوؤ یا د دے نه زائد شیانو نه بغیر ممکن نهٔ دے او (معلومه) نه هغه امور مراد دی ، چه د هغوئ صورتونه په عقل کښې حاصل وی ، او دا امور ، تصوّرات او تصدیقات یقینیه ، ظنیّه او جهلیه وُ (تولو) له شامل دی ، ځکه فکر څرنګه چه په تصوراتو کښې جاری کیږی ، همدغه راز په تصدیقاتو کښې هم جاری کیږی او دا (امور) لکه څرنګه چه په یقینی کښې وی ، دغه شان په ظنی او جهلی کښې هم وی ، مونږ د تصور او تصدیق یقینی کښې د فکر مثال ذکر کړیدے هر چه تصدیق ظنی کښې ، نو د دے مثال لکه دا قول زمونږ هذا الحائط یعنی د دے دیوال نه خاوره دوړیږی ، او هر هغه دیوال چه د هغه نه خاوره دوړیږی ، هغه غورځیږی ، نو دا دیوال غورځیږی ، او په جهل مرکب کښې لکه و یُلے شی چه العالم مستغن الخ یعنی دا عالم مؤثر نه بے نیازه دے ، او هر هغه شی چه د مؤثر نه بے نیازه وی ، (یعنی محتاج نه وی مؤثر ته) هغه قدیم وی نو عالم قدیم دے



**توضیح اللغات** :(۱) مرادُ صیغه د اسمِ مفعول ده د باب افعال نه مجرد ئے د (ن) نه دے طلب کولو ته وائی ، په اصل کښې مرودٌ وو ، حرکت د واؤ ئے نقل کړو ماقبل حرف صحیح ته موورکړو ، بیا هغه واو چه په اصل کښې متحرک وؤ اوس ماقبل مفتوح وګرځیده بدل شو په الف سره نو مراد ترے جوړ شو ، (۲) فن : صیغه د مصدر ده د (ض ، س) باب نه په لغت کښې زینت ، تاخیر ، ستو مانی او قِسم ته وائی ، او په اصطلاح کښې جملة القواعد الخاصة بحرفة او صناعة - و لذا قیل "لکل فنّ رجال" (۳) فصاعدًا ، دالفظ اکثر دپاره منصوب وی بنا بر حالیت ، او فا عاطفه ده ، معطوفٌ علیه ، عامل او ذو الحال د دے دپاره مقدر دی ، نو تقدیر د عبارت دا بیے شو اذکر العدد ناز لا فصاعدًا هکذا سمعت من بعض الاساتذة الکرام ، و فی شرح الرّضی هل تقع صفة مقامَ المصدر قیل نعم کما قیل (قم قائمًا) ، وقع قائمًا فی موضع قیامًا ، انتهیٰ نو مونږ وایو چه امکان لری چه دا فصاعدًا د دے قبیله نه وی پس دغه وخت کښې دا مفعول مطلق شو د فعل مقدر دپاره یعنی اَصْعَدُ صعُودًا او فا په دے صورت کښې زائده ده مګر لازم ده ځکه چه د دے استعمال بغیر د فا او ثمّ نه په کلام د عربو کښې وارد نهٔ دے (۴) صُوَر ، جمع د صورة ده ، صورة په لغت کښې شکل او تمثال مجسم ته وائی ، و فی التنزیل فی ایّ صورةٍ مَا شاءَ رکّبک " او په اصطلاح کښې په عرف د حکماؤ باندے په مختلفو معانو باندے اطلاق کیږی (۱) کیفیة تحصل فی العقل ، هی آلةٌ ومرآةٌ لمشاهدة ذی الصّورة (وهی الشبح ، والمثال الشبیه بالمتخیل فی المراة (۲) مَا یتمیّز بهِ الشئ مطلقا سواء کان فی الخارج ویسمّی صورةً خارجیةً ، او فی الذهن ویسمّی صورةً ذهنیّةً (۳) الصورة الذهنیة ای المعلوم المتمیّز فی الذهن (۴) یقینیات ، ظنیات ، او جهلیات جمع د یقینی او ظنی او جهلیٌ ده ، او تفصیل د هر واحد مخکښې بیان شویدے ، (۶) حائط : صیغه د اسمِ فاعل ده د (ن) باب نه حَاطَ یحوط نه په لغت کیره ول حفاظت ته وائی ، او په اصطلاح کښې حائط عبارت دے د جدار (دیوال) نه (۷) ینتشر : صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده د باب (ن ، س) نه نشر خورول ، غورځیدل ، جدا جدا کولو ته وائی ، (۸) تراب صیغه د مصدر ده د (ن ، س) نه تراب مَا نَعُمَ مِنْ اَدِیمِ الارضِ

Maktaba Tul Ishaat.com

(خاوری ته) وائی (۹) یَنْهَدِمُ صیغهٔ واحد مذکر غائب فعل مضارع معلوم ده، د باب انفعال نه چه مجرد ئے د (ض) نه راځی نړیدل او غورځیدل او ختم لوته وائی، هدم البناء اسقطهٗ وَنَقَضَهٗ، (۱۰) مستغنٍ: صیغه د واحد مذکر اسمِ فاعل ده د باب استفعال نه اکتفاء او بے پروا او الے ته وائی، (ای عدم الاحتیاج الیٰ شیءٍ)

**تشریح:** قوله، والمراد بالامور الخ غرض د شارِح په دے عبارت سره جواب د سوال مقدر دے حاصل د سوال دا دے چه (( امور )) په دے قول کښ چه (( ترتیب امور )) دے جمع دے او اقل مرتبی د جمع درے دی، نو د انسان په تعریف کښ چه کوم ترتیب کړے شویدے، چه حیوان جنس مقدم دے، او ناطق فصل مؤخر دَے، دے ته دِ ترتیب څوك او نه وائی حالانکه دے ته ترتیب و یلے شوے دے، او حاصل د جواب دا دے چه د (امور) نه جمع مافوق الواحد مراد دے په طریقه د حقیقت عرفیه سره،

قوله، وکذالك کلُ جمع الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب ورکول دی د سوالِ مقدر څخه، حاصل د سوال دا دے چه هر کلمه (بقول شما) د امور نه مراد مافوق الواحد دی، نو دا د قبیلے د استعمال د مجاز نه شو، او په تعریفاتو کښ لکه څنګه اجتناب الفاظ مشترکو نه ضروری دے همدغه شان د استعمال د مجاز نه هم اجتناب ضروری دے، نو د باران نه پتیدلے د ناوے لاندے دِ شپه شوه، او حاصل د جواب دا دے چه اطلاق د جمع په مَافوق الواحد باندے استعمال د مجاز نهٔ دے بلکه حقیقت عرفیه شو، و هٰذا دلیلٌ علیٰ اَنَّ اطلاق الجمع علی الاثنین حقیقةٌ عرفیةٌ لَا اَنَّهٗ مجازٌ کما توهم، سوال، تاویل چه په دے فن منطق کښ د جمع نه مراد مَافوقَ الواحد وی، دا خبره دِ صحیح نهٔ ده څکه چه ډیرے جمع د اسے دی چه مراد و رنه مافوق الواحد نه وی، لکه هغه جمع چه په تعریف د جنس "مختلفین بالحقائق" یا په تعریف د نوع " متفقین بالحقائق " کښ دی و غیر ذالك،

جواب: دا مذکور الذکر، وکذالك کل جمع الخ قاعده اکثریه ده، نه کلیه او دا څکه چه قاعده مسلمه ده چه " مَامِن عامٍ اِلَّا و قد خُصَّ مِنهُ البعض پس دا قاعده عام مخصوص منهٗ البعض شو، و لعلَّ وجه کونِ المراد بالجمع



مَافوق الواحدِ، انَّ الاصلَ فی الفن مباحِثُ الموصِل الیَ التَّصورِ والتصدیق و فی تحققهِمَا یکفی الامران، فالجمع المستعملُ فی تعریفهما بمعنیٰ مافوقَ الواحدِ فکذَالِكَ یتبعهما الاَّ نادرًا،

قوله، وَاِنَّمَا اعتبرت الخ غرض د شارِح په دے عبارت سره جواب ورکول دی د دوه سوالونو څخه، حاصل د سوال اول دا دے، چه ذکر د امور قید احترازی دے احتراز راغے د هغه ترتیب نه چه په هغه کښ ترتیب د امورو نهٔ وی، بلکه ترتیب د امر ینو وی، او حاصل د جواب د دے سوال دا دے چه دا قید احترازی نهٔ دے بلکه دا قید اتفاقی او واقعی دے، فذکر الامور فی تعریف الترتیب لبیانِ الواقع تتمیمًا للترتیب، او حاصل د سوال ثانی دا دے چه څه وجه ده چه ترتیب په امر واحد کښ نه واقع کیږی، نو شارح جواب ورکړو په دے قول سره چه لان الترتیب لایمکن الخ یعنی ترتیب په کم د امرینو کښ نهٔ چلیږی، څکه چه ترتیب په امر واحد کښ نهٔ عقلاً ممکن دے او نهٔ عادةً او نهٔ شرعًا، و لمّا کانَ (اَیْ عدم الامکانِ) بدیهیًّا لم یذکر لهٗ دلیلاً " وفی نسخة وانّما اعتبرنا " قوله، وَ بالمعلومَةِ الامور الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب ورکول دی د دوه اعتراضونو نه، حاصل د اعتراض اول دا دے، چه متبادر د " امور معلومه " نه معلوم تصوری دی، نو خارج شو، ور نه معلوم تصدیقی حالانکه لکه څنګه چه ترتیب د امورِ معلومو تصوریو کیږی، همدغه شان ترتیب د امور معلومو تصدیقیو هم کیږی، او حاصل د جواب دا دے چه مراد د (امور معلومو) نه هغه امور معلومه دی چه حاصل وی صورتونه د هغوی په عقل کښ خواکه تصوری وی او که تصدیقی وی، او حاصل د اعتراض ثانی دا دے چه د (امور معلومه) نه مراد هغه امور مدرکه دی، په داسے ادراك سره چه موافق وی د واقع سره، او مبنی وی په دلیل باندے یعنی یقینیات نو خارج شول ورنه امور جهلیات او ظنیّات، او حالانکه ترتیب د امور لکه څرنګه چه په یقینیاتو کښ چلیږی نو همدا رازه په جهلیاتو او ظنیاتو کښ هم چلیږی،

او حاصل د جواب دا دے چه (( امورِ معلومه )) نه مراد هغه امور معلومه دی، چه صورتونه د هغوئ حاصل وی، په نزد د عقل برابره

خبره ده چه یقینیات وی، او که جهلیات او ظنیات وِی،

**قوله**، عند العقل الخ العقل جوهرٌ مجرّدٌ عن المادةِ فی ذاتِهِ و افعالِهِ علاوٌ النفس، وَانها جوهرٌ مجرّدٌ عن المادةِ فی ذاتها لا فی افعالها، **قوله**، من الیقینیات والظنیّات الخ سوال، تخصیص د دے امور ثلاثه دِ و لِے وکړو، حالانکه حالانکه اقسام د تصدیق نه لکه څنګه چه یقینیات، جهلیات، او ظنیات دی، همدغه شان قضایا مسلّمات، برهان قیاس خطابی، قیاس جدلی قیاس شعری، او قیاس سفسطی همدے فالتصدیقیة لا تنحصر فی الثلاثة جواب: دا درے واړه ئے ذکر کړل د زیادت اهتمام او د غوره والے د وجے نه څکه چه شان د قیاسونو دا دے چه دا درے واړه پکښ زیات واقع کیږی، چه بناء د استدلال هم په درے واړو باندے ده، په اعتقاد د مطابقت، یا په رجحان د مطابقت باندے، ولذا اقل ذکرا لاقسام الثلاثةِ بطریق التمثیل لکونها عمدةً، **قوله**، فان الفکر کما یجری الخ سوال: سوال جریان د فکری په تصدیقاتوکښ متحقق او ثابت دے په یقینی طور سره، په خلاف د تصوراتو نه څکه چه اجراء د فکر په تصوراتوکښ ظنی ده نو پکار داوو چه تصدیقات مشبه به او تصورات مشبه کړخولے وے، حالانکه شارح عکس کړیدے، چه تصورات مشبه به او تصدیقات ئے مشبه کرځولی دی، جواب[1] دا کاف د مجردتوان د تعلیلونو د پاره دے بغیر د تقیید دیو د دے نه په بل سره کما فی الرضی، جواب[2]، فکر اول په تصوراتوکښ واقع کیږی بیا په تصدیقاتوکښ فلذا قدّم التصورات علی التصدیقات، جواب[3] تصورات ئے مقدم کړل د زیادت اهتمام د وجے نه، و وجهَ الاهتمام انه یتوهّمُ من کونِ الفائدة والاستفادة لا تقعُ الا فی التصدیقات وعدمُ الفکرِ فی التّصوّراتِ فبیّنَ ذالِك وقوعهُ فیها، فکلامُ الشارح مبنی التشبیه المقلوبِ مبالغةً، **قوله**، هذا الحائط الخ دا د تصدیق ظنی مثال دے، په دے مثال کښ صغرٰی یقینی ده او کبرٰی ظنی ده، څکه چه هرهغه دیوال چه د هغے نه خاوره د وړیږی هغه نړیږی، لیکن هر کله چه نتیجه تابع د اخص او د ارذل وی، نو پوره قضیه (نتیجه) را اوو تو، او العالم مستغنٍ الخ دا مثال د تصدیق جهلی دے او په دے مثال کښ صغرٰی په جهالت باندے مبنی ده څکه چه په دے



په دے دنیا کښ هیڅ یو شئ د مؤثر نه مستغنی او بے نیازه نهٔ دے بلکه محتاج دے مؤثر ته، البته کبرٰی ئے صحیح او درست ده، لیکن هر کله چه نتیجه تابع د اخص او د ارذل وی، نو پوره قضیه جهلی را اووتله،

لا یُقالُ العِلمُ مِنَ الالفَاظِ المشترکَةِ فَانَّهُ کما یُطلَقُ علَی الحُصُولِ العَقلِیِّ کَذالِكَ یُطلَقُ عَلَی الاِعتِقَادِ الجَازِمِ المُطابِقِ وَهُوَ اَخَصُّ مِنَ الاَوَّلِ، وَمِن شَرَائِطِ التَّعرِیفَاتِ التَّحَرُّزُ عَنِ استِعمَالِ الالفَاظِ المُشتَرکَةِ لَانَّا نَقُولُ الاَلفَاظُ المُشتَرکَةُ لا تُستَعمَلُ فِی التَّعرِیفَاتِ، الا اِذَا قَامَت قَرِینَةٌ تَدُلُّ عَلَی تَعیِینِ المُرَادِ مِن مَعَانِیهَا وَهٰهُنَا قَرِینَةٌ دَالَّةٌ، عَلَی اَنَّ المُرَادَ بِالعِلمِ المَذکُورِ فِی التَّعرِیفِ الحُصُولُ العَقلِیُّ فَانَّهُ لَم یُفَسِّرهُ فِی هٰذَا الکِتَابِ اِلَّا بِهِ، وَاِنَّمَا اَعتَبَرَ الجَهلَ فِی المَطلُوبِ حَیثُ قَالَ لِلتَّادِیِّ اِلَی المَجهُولِ، لِاستِحَالَةِ استِعلَامِ المَعلُومِ، وَتَحصِیلِ الحَاصِلِ وَهُوَ اَعَمُّ مِن اَن یَکُونَ تَصَوُّرِیًّا اَو تَصدِیقِیًّا، اَمَّا المَجهُولُ التَّصَوُّرِیُّ فَاکتِسَابُهُ مِنَ الاُمُورِ التَّصَوُّرِیَّةِ، وَاَمَّا المَجهُولُ التَّصدِیقِیُّ فَاکتِسَابُهُ مِنَ الاُمُورِ التَّصدِیقِیَّةِ،

**ترجمه**:- دا دِ اونهٔ ویلے شی، چه لفظ د علم د مشترك الفاظو نه دے څکه چه د دے اطلاق لکه څنګه په حصول عقلی باندے کیږی، همغه شان په بختهٔ اعتقاد چه موافق وِی د واقعی سره هم کیږی، او دا (معنی ثانی) د اول (معنی) نه خاص ده، او د مشترك الفاظو د استعمال نه اجتناب کول د تعریفاتو د شروطو نه دے، څکه چه مونږه وایو چه الفاظ مشترکه په تعریفاتوکښ نشی استعمالولے مګر هغه وخت کښ (استعمال جائز وی) چه کله یو داسے قرینه موجوده وی چه د دے معانی مراد په تعین باندے، دلالت کوی، او دلته یو داسے قرینه ده چه په دے خبره باندے دلالت کوی چه دے لفظ علم نه کوم چه په تعریف د (ترتیب) کښ ذکر کړے شوے دے حصول عقلی مراد دے، څکه چه ماتن رحمه الله په دے کتاب (الرسالة الشمسیة) کښ د علم تفسیر نهٔ دے کړے، مګر په دے (حصول عقلی) سره او په مطلوب د جهل اعتبار وکړو، حیث قال للتأدی الی المجهولِ، څکه چه د معلوم شی معلومول او د حاصل شوے

Maktaba Tul Ishaat.com

شی حاصلول محال دی، د مطلوب مجهول کیدل عام دی که تصوری که تصوری وی او یا تصدیقی وی، او هغه چه مجهول تصوری دے د هغې اکتساب د امورِ تصوریو سره کیږی، او د مجهول تصدیقی اکتساب د امورِ تصدیقیو سره کیږی،

**توضیح اللغات[1]**: (۱) لفظ مشترك پوهه شه چه مشترك په دوه[2] قسمه دے (۱) مشترك لفظی دے، او دا عبارت دے د هغه لفظ نه چه هغه اوّلاً وَضعه وی د جدا جدا معنیٰ گانو لپاره، او دویم، مشترك معنوی دے، چه لفظ اوّلاً وضع وی لپاره د یوے معنیٰ چه د هغې لاندے بیا ډیر افراد وی، (۲) اعتقاد: صیغه د مصدر ده، د باب افتعال نه چه مجرد یے د (ض) نه دے، په لغت کښ مضبوط کلك او ثبوت ته وائی، او په اصطلاح کښ اعتقاد عبارت دے، د الحکم الذهنیُ الجازم او الراجح نه، وقال السیّد الشریف عَلَی المطول" الاعتقادُ عَلیٰ معنیین، (۱) مَایرادفُ التصدیقَ، وهو الحُکم مطلقًا (۲) ما هُوَ اخصُّ مِنَ التصدیق وَ هو الحُکمُ الجازِمُ، الشامِلُ لِلیقین وَالجهل المرکبِ و التقلید، دون الظنِ (۳) الجازِم: صیغهٔ واحد مذکر اسمِ فاعل ده د (ض) نه په لغت کښ قصد او ارادے ته وائی، او په اصطلاح کښ جزم عبارت دے د "الاِرَادَة المؤکَّدَة" نه (۴) شرائط: جمع د شریطة ده، او شریطة معنیٰ ده ځیرلی شوے غوږ والا اوښ) او شرط د (ن، ض) نه په لغت کښ علامے ته وائی، وفی التنزیل، فَقَدْ جَاءَ اَشْرَاطُهَا، او په اصطلاح کښ شرط عبارت دے د مایتوقف علیه الشیُّ و لَمْ یدخُل فی ماهِیَةِ الشیُّ نه، پس معلوم شو چه د شروط تعبیر په موقع کښ لفظ شرائط استعمال کول د لغت نه خلاف دے، او د صرفی قواعدو نه هم خلاف دے، ځکه چه د فعل جمع په فعائل باندے غیر محفوظ دے بخلاف فرائض فانّه جمع فریضةٌ کما انّ صحائف جمع صحیفةٌ فافهم، (۵) تحرز: صیغه د مصدر ده د باب تفعل نه په معنیٰ د اجتناب (ځان ساتل) سره راځی، (۶) قرینه: صیغه د صفت مشبّه ده اَے فعیلةٌ بمعنیٰ فاعلةٌ د (ض) نه په لغت کښ وصل او پیوست والی ته وائی، او په اصطلاح کښ "امرٌ یشیر بها اِلَی المطلُوبِ، ته وائی، بیا قرینه عام ده، خواه که حالیه وی، او که معنویه وی، او که لفظیه وی، لکه ضرب



موسیٰ عیسیٰ، او ضربَ مَنْ فِی الدارِ، مَنْ عَلَی السطحِ، ځکه چه اعراب او قرینه په دے کښ منتفی ده بخلاف د ضربت موسیٰ حُبلیٰ، او اَکَلَ یحییٰ الکمثریٰ، ځکه چه په اول کښ قرینه لفظیه ده، او په دویم کښ قرینه حالیه ده،

**تشریح**: قوله لایقال الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره اعتراض نقل کول دی اوّلاً، او بیا په لانا نقول سره جواب کول دی ثانیًا، حاصل د اعتراض دا دے چه په تعریف د فکر کښ "معلومةٌ" ذکر شو، او معلومةٌ مشتق دے د علم نه، او علم لفظ مشترك دے په مابین د حصول عقلی، او د اعتقاد جازم ثابت مطابق للواقع کښ، او دویم[2] معنیٰ اخص ده د اول نه او قانون دا دے چه اشتراك د مبدأ مستلزم دے اشتراك د مشتق لره نو معلومة مشترك شو، او شرائطو د تعریف نه ځان ساتل دی د ایراد د الفاظ مشترکو نه په تعریفونو کښ، او دا ځکه چه مقصود د تعریف نه یا اطلاع ده په جمیع ذاتیاتو د معرف باندے، او یا امتیاز د معرف دے د جمیع ماعدانه نه مقصود د تعریف نه وضاحت او تشریح د معرّف وی، او دا مقصود په الفاظ مشترکو سره نهٔ حاصلیږی، او حاصل د جواب دا دے چه په اعتراض کښ چه کومه مقدمه ذکرشویده، وَمِنْ شرائِطِ التعریفات الخ دا خاصه ده، او تا عامه گرځولی ده، یعنی دا مقدمه خاصه ده په کوم ځائے کښ چه قرینه موجود ده نهٔ وی، په تعین د معنیٰ مراد باندے، او هغه قرینه دلته دا ده چه مصنف رحمه الله (ماتن) په دے خپل کتاب هرځائے کښ د علم نه مراد دریم معنیٰ (چه حصول عقل دے) حیث قال هوالصورة الحاصلة عند العقل اخستے ده انتهیٰ، لیکن که څوك ځوړ سوچ وکړی نو دا اعتراض د سره نه وارد یږی، ځکه چه علم په دے فن منطق کښ عبارت دے، د الصورة الحاصلة، یا حصول صورة الشیُّ فی العقل نه او هرچه اطلاق د علم دَے په اعتقاد جازم ثابت للواقع باندے نو اصطلاح د اهل کلام وده پس علم مشترك نشو په دے فنِ منطق کښ، وکلُ متکلم یتکلم باصطلاحه،

قوله، وهو اخص من الاوّل الخ دا جمله معترضه ده، د ده څه په سوال کښ دخله نشته، او واقع ده په جواب د سوال د معترض کښ، حاصل د

اعتراض دا دَے، چه هرکله چه لفظ د علم مشترک شو په مابین د معنیو کښې، نو ددوئ په میځ کښې کوم نسبت دَے د نسب اربعو نه، او حاصل د جواب دا دَے چه په مابین د معنیو کښې نسبت د عموم خصوص مطلق دے، په دے شان چه اول معنیٰ اعم مطلق ده، او دوئیمه معنیٰ اخص مطلق ده، او دوئیمه معنیٰ اخص حُکه ده، چه دا د تصدیق یو خاص قسم دَے، او تصدیق د هغه علم قِسم دَے، کوم چه معنیٰ اولی سره متصف دَے (یعنی حصول عقلی) پس هرهغه علم چه هغه اعتقاد جازم مطابق للنفس الامر سره وی هغه علم په معنیٰ د حصول عقلی دَے او هر هغه علم چه په معنیٰ د حصول عقلی دَے هغه علم په معنیٰ د اعتقاد جازم موافق د نفس الامر سره نه دے،

قوله، وانما اعتبر الجهل الخ غرض د شارح رحمهُ الله په دے عبارت سره اشاره کول دی د فائدے د قید مذکور ته په تعریف د نکر کښې چه هغه «المجهول» دے حُکه چیرے مجهول قید او نه لګولے شی نو لازم میږی استعلام د معلوم، او دا محال حُکه دے چه دے سره لازم میږی تحصیل د حاصل او تحصیل د حاصل باطل دَے حُکه چه تحصیل په مرتبه د عدم حصول کښې دَے او حاصل په مرتبه د حصول کښې دے حصول او عدم حصول سره نقیضین دی نو اجتماع د نقیضینو باطل ده، حُکه چه دا مستلزم د ارتفاع د نقیضینو له، او ارتفاع د نقیضینو باطل ده، حُکه چه شئ د خپل نقیض سره واخلی دا دا مورِ عامو شاملو نه وی، سوال: دا قید چه اعتبار د جهل دے په مطلوب کښې دا به یا معلوم بولی او یا به مجهول که معلوم وی نو بیا هم تحصیل د حاصل راغے، او که مجهول وی نو لازم شو طلب د مجهول مطلق او دا ناروا ده لعدم توجه النفس، جواب: دا معلوم من وجهٍ او مجهول من وجهٍ ده نو معلوم ده په وجه مطلوب سره نو تحصیل د حاصل لازم نشو، او مجهول ده په وجه غیر مطلوب سره نو طلب د مجهول هم را انغے،

سوال: استعلام کښې سین د طلب د پاره دے، او طلب د محال خو عبث دے نه محال نکیف قال الشارح لاستحالة استعلام المعلوم الخ جواب: دا سین او تا زائد دی د پاره د تاکید دی، نه د طلب لپاره، فلا یرد ان طلب



المحالِ عبث لا محال، قوله د تحصیل الحاصل الخ دا او آو تعلیله دے دا علت دے د ماقبل لپاره اے لانهٔ تحصیل الخ قوله، واما المجهول التصوری الخ د ذکره دا خبره چه په دے مقام کښې نفس احتمالات عقلیه خلور دی (۱) اکتساب د مجهول تصوری د امور تصوریه ؤنه دا ممکن او واقع دے لکه اکتساب د انسان د حیوان ناطق نه (۲) اکتساب د مجهول تصدیقی د امور تصدیقیو نه دا هم ممکن او واقع ده، لکه اکتساب د حدوث د عالم د لانهٔ متغیر وکل متغیر حادث نه (۳) اکتساب د مجهول تصوری د امور تصدیقیو نه دا باطل او غیر واقع دے، حُکه چه مراد د تصدیق نه یا تصدیق امامی وی یا تصدیق حکمی وی، که تصدیق امامی وی، نو تصدیق امامی عبارت دے د تصورات ثلاثه او حکم نه، نو تصورات ثلاثه نظری دی، پس نظارت د جز مستلزم دے نظارت د کل لره، نو کل چه تصدیق دے نظری شو، پس نظری حاصل شو د نظری نه او تصدیق دا بدیهی فرض کړو، حُکه چه اکتساب د نظری د بدیهی نه کیږی، هذا خُلفٌ، او که د تصدیق نه مراد تصدیق حکمی شی نو تصدیق په معنیٰ د حکم موقوف شو په تصور ثلاثو پورے، حُکه چه تصورات ثلاثه شرط د تصدیق دی، نو توقف د شئ علیٰ ما یتوقف علیه ذالك الشئ راغے وهل هذا الا دورٌ، والدور باطل (۴) اکتساب او حصول د تصدیق مجهولِ دے د امورِ تصوریو نه او دا احتمال هم باطل دَے، حُکه چه تصدیق حاصل دے په حجت سره او کوم شی چه حاصل شی په تصور سره هغه حاصل وی په معرِّف او معرِّف غیر دے د حجت نه، او یا د دے د جے چه فوز د داریْنو په تصدیق سره دَے او مدار (مناط) د فوز د داریْنو په تصور نهُ ده که حصول د تصدیق د تصور نه راشی نو لازم به شی حصول د اعلیٰ د ادنیٰ نه،

وَمِنْ لَطَائِفِ هٰذَا التَّعْرِيْفِ اَنَّهٗ مُشْتَمِلٌ عَلَى الْعِلَلِ الْاَرْبَعِ فَالتَّرْتِيْبُ اِشَارَةٌ اِلَى الْعِلَّةِ الصُّوْرِيَّةِ بِالْمُطَابَقَةِ فَاِنَّ صُوْرَةَ الْفِكْرِ هِيَ الْهَيْئَةُ الْاِجْتِمَاعِيَّةُ الْحَاصِلَةُ لِلتَّصَوُّرَاتِ وَالتَّصْدِيْقَاتِ، كَالْهَيْئَةِ الْحَاصِلَةِ لِاَجْزَاءِ السَّرِيْرِ فِيْ اِجْتِمَاعِهَا وَتَرْتِيْبِهَا وَاِلَى الْعِلَّةِ الْفَاعِلِيَّةِ بِالْاِلْتِزَامِ اِذْ لَابُدَّ لِكُلِّ تَرْتِيْبٍ مِنْ مُرَتِّبٍ وَهِيَ الْقُوَّةُ الْعَاقِلَةُ، كَالنَّجَّارِ لِلسَّرِيْرِ، وَاُمُوْرٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَعْلُوْمَةٍ اِشَارَةٌ اِلَى الْعِلَّةِ الْمَادِيَّةِ كَقَطْعِ الْخَشَبِ لِلسَّرِيْرِ، وَلِلتَّأَدِّيْ اِلَى مَجْهُوْلٍ اِشَارَةٌ اِلَى الْعِلَّةِ الْغَائِيَّةِ فَاِنَّ الْغَرَضَ مِنْ ذَالِكَ التَّرْتِيْبِ لَيْسَ اِلَّا اَنْ يَتَأَدَّى الذِّهْنُ اِلَى الْمَطْلُوْبِ كَجُلُوْسِ السُّلْطَانِ مَثَلًا عَلَى السَّرِيْرِ

**ترجمه**:- او ددے تعریف دبعض بنه (بناشته) والی نه دا هم ده چه دا تعریف په خلورواړو علتونو باندے مشتمل دے ځکه (ترتیب) سره اشاره ده په معنیٰ مطابقی سره علت صوری ته ځکه چه د فکرصورت هغه اجتماعیه ده کوم چه د تصوراتو او تصدیقاتو لره حاصلیږی دے، لکه هغه هیئت چه حاصل دے اجزاء د تخت لره، په جمع کول او ترتیب کول د اجزاؤ کښ او (هم په دے ترتیب سره) علتِ فاعلیه طرف ته اشاره ده، په طریقه د دلالت التزامی سره، ځکه چه هر ترتیب لپاره مرتب کیدل ضروری دی او هغه قوة عاقله ده، لکه آره د نجار (ترکاڼ) لپاره۔ او "امورِ معلومه" سره اشاره ده علت مادیه ته حصی د لرګی د تخت لپاره او "للتأدی الی مجهول" سره اشاره ده علت غائیه ته ځکه چه ددے ترتیب نه صرف هم دا غرض دے، چه مطلوب مجهول ته ذهن ورسیږی، لکه مثال په طور کیناستل د بادشاه شو په تخت (چوکے) باندے۔

**توضیح اللغات**:- (۱) لطائف، جمع د لطیفة ده او لطیفة په وزن د فعیلة صیغه د صفت مشبه ده د (ن، ك) نه په لغت کښ بنائسته او نرم و ملایم ته وائی، او په اصطلاح کښ الدقیقة التی تستخرج بدقة النظر ته وائی، ــــ وغیرذالك۔

(۲) علل: جمع د علة ده او په دے کښ تفصیل مخکښ تیر شو (۳) هیئت هغه حالت ته وائی چه شی په ده باندے وی، خواکه دغه حالت محسوس وی او که معقول وی، وفی التنزیل "کهیئة الطیر" (۴) سریر، فعیل وزن دے، او صیغه د صفت مشبه ده د (ن) نه لغت کښ خوشحالی او پتوالی ته وائی، او په اصطلاح کښ د سریر مختلف تعریفونه شوی دی (۱) ما یجلس علیه (۲) المضطجع (۳) النعش قبل ان یحمل علیه المیت، ویراد هٰهنا الاولان دون الاخیر، والاصح هو الاول، بقرینة قوله کجلوس السلطان علی السریر (۵) نجار صیغهٔ واحد مذکر اسم



فاعل (مبالغه) ده د (ن) نه نجر په لغت کښ برابره کولو ته وائی، یقال نجر فلانٌ الخشب اے سوّاه وخشبهٗ وصنعهٗ ومنهٗ المنجر آلةٌ النجار یسوی بها الخشب (رنده) نجارته نجار ځکه وائی چه دے هم برابرول کوی دلرګو، او نجار په اصطلاح کښ من کانت حرفتهٗ نجرالخشب وصنعهٗ ته وائی، (۶) قطع جمع د قطعة ده، دیوشی حصے او ټکړو ته وائی، وفی المعجم القطع من الشجرة و نحوها الغصن یقطع منها تعالیٰ فاسر باهلك بقطع من الیل (۷) خشب۔ که د ضرب نه شی نو په معنیٰ د غلظ او کلکوالی سره راځی او که د سمع نه شی نو په معنیٰ د خلط سره راځی، والخشب ما غلظ من العیدان وفی المثل" لسانٌ من رطبٍ و یدهٗ من خشبٍ۔ یضرب فیمن یلین فی قوله ویشتد فی فعله۔

(۸) سلطان په لغت کښ قوة، قهر، حجة، او برهان ته وائی، او په اصطلاح کښ سلطان عبارت دے د الملك او الوالی نه (یعنی بادشاه)

اللّٰهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ولاساتذته

ولاحبابه المخلصین واخواننا المسلمین

ولجمیع المؤمنین ولمن سعیٰ فیه

ولمؤلفه آمین ثم آمین

یا ربّ العٰلمین

**تشریح:۔** قوله، ومن لطائف الخ غرض د شارح رحمة الله په دې عبارت سره مزید تحسین او بنائسته والې د تعریف دے، او مِنْ تبعیضیه دے او دې اشاره کوی دے خبرے ته چه دے مذکور التعریف لپاره نور هم فوائد او لطائف شته لکه (۱) شرط په ترتیب دا مورو کښې دا دے چه دا امور به معلوم دی لاستحالة معرفة المجهول بالمجهول، او (۲) یا لکه کون د ترکیب دے چه مرکب وی دا مرینو یا دزیاد زیاد دا مرینو، لِاَنَّ الترتیب لایکون اِلّا بین امور، او (۳) یا لکه ضروری ده چه مؤدّی به مجهول وی، ورنه لازمیږی تحصیل د حاصل۔ او دا مله چه اعتبار دا ضافت د لطائفو د تعریف نه مقدم شی په بعضیت باندے او کیږے اعتبار د بعضیت په اضافت د لطائفو د تعریف نه مقدم نو بیا دا معنیٰ شوه چه بعضیة هٰذِهِ اللطیفة من مطلق اللطائف سوال، قانون دا دے چه دا مذکور به بعض وی د مدخول د کلمه د مِن نه او دلته دا مذکور چه عللِ اربعه دی بعض د مدخول د مِنْ نه دی؟ جواب: چه کافی ده کیدل د مذکور بعض د مدخول د کلمه د مِنْ نه تقاضا کوی، د جواز دا مرا خرا او دلته امر اخر شته چه کون د ترتیب دے مرکَّبٌ من الاثنین وغیره،

**قوله، انه مشتمل الخ** مراد د اشتمال نه اشتمال د دال دے په مدلول باندے بیا دا عام دے که په معنیٰ مطابقی سره وی او که په معنیٰ التزامی سره وی، او اشتمال د کل په جز باندے مراد نهٔ دے ځکه چه بیا اعتراض وارد یږی، چه حمل کیږی په کل باندے او دلته حمل دا مورو په تکو باندے غیر صحیح دے، همدغه شان حمل د ترتیب او د معلوم او بل دا چه علتِ فاعلی چه عبارت دے د قوة عاقله نه دا مذکور هم نه ده او حمل دے هم غیر صحیح دے۔ نو بیا لا محالة ته به محتاج کیږی جواب ته په دے شان سره چه مراد د حمل نه هغه دے چه صلاحیت لری او صلاحیت د حمل په اجزاء ذهنیو کښې وی، او دا اجزاء خارجیه دی، نو اول نه اشتمال د کل په جز مه وایهٔ بلکه اشتمال د دال په مدلول باندے وایه،

## رفع الخلل فی تشریح العلل

زده کوه دا خبره چه په دے مقام کښې لابُدی ده د معرفت د لسو (۱۰) امورو نه (۱) صیغه د علة (۲) وزن (۳) باب (۴) معنیٰ لغوی (۵) معنیٰ اصطلاحی





(۶) مناسبت بین المعنیین (۷) اقسام د علت (۸) وجه د حصر (۹) تعریفونه د هر واحد (۱۰) مثال د هر واحد په محسوساتو کښې،

**تفصیل المقام:۔** علة په کسره د عین سره او په تشدید د لام سره صیغه د مصدر ده یا صفت مشبه ده په وزن د فعلة مرة، په لغت کښې المرض الشاغل یعنی مشغولونکے مرض ته وائی، چه په بدن د انسان کښې تړیږی وخته پورے وی، او همدغه شان علت په لغت کښې دیوشی علت یا نوَل او لاز میدل ته هم وائی د (ض) باب نه، او علت په اصطلاح کښې عبارت دے د «مایتوقف علیه وجود الشئ ویکون خارجاً مؤثراً فیه» نه (۶) مناسبت بین المعنیین عموم خصوص مطلق دے چه معنیٰ لغوی اعم مطلق ده، او معنیٰ اصطلاحی اخص مطلق ده، او علت په دوه قسمه دے (۱) علت تامه چه علت مستقله ورته هم وئیلے شی، او دا عبارت دے د «ما یجب وجود المعلول عند ها و قیل جمیع مَایتوقف علیه وجود الشئ» وغیر ذالک (۲) علت ناقصه، چه دا سے نه وی بیا علت ناقصه په څلور قسمه دے یعنی د فاعل مختار نه چه کوم فعل صادریږی، په هغه کښې څلور علتونه موجود وی ہے شی، (۱) علت صوریه (۲) علت مادیة (۳) علت فاعلیه (۴) علت غائیه، وجه د حصر پکښې داده چه دا علت به خالی نه وی، یا به د ځیل معلول نه خارج وی او یا به په معلول ځیل کښې داخل وی که داخل وو نو بیا به خالی نه وی یا به وجود د علت سره وجود بالفعل وی، او یا به بالقوة وی، که بالفعل وو نو دا علت صوریه شو، او که بالقوة وو نو دا علت مادیه شوه، او که علت د معلول نه خارج وی، نو بیا به خالی نه وی، یا به دے علت نه معلول (براه راست) صادر وی، او یا به دا علت سبب او باعث وی د معلول لپاره، پرو مبنئ علت فاعلیه شو، او د دوئیم علتِ غائیه شو، او تعریفونه د هریو په جدا جدا ډول بیا نولے شی، (۱) علت مادیه۔ مایوجَدُ الشئ بالقوة لکه طین (ختّه) د کوزے لپاره (۲) علت صوریه، مایوجد الشئ بالفعل، لکه صورة کذائیه د کوزی لپاره، سوال: یو سړی د لرګی نه صورة د سیف (تورے) جوړ کړو نو صورة د سیف موجود شو سره د دے نه سیف (توره) نه ده حاصل بالفعل، لِعَدَمِ ترتب آثار السیف، علیه؛ جواب د صورة نه مراد من حیث انها الصورة المعینة

واخلی، و لیست الحاصلة فی الخشب عین تلك الصورة بل فرد آخر من نوعها به يتحقق بالفعل ما يشبهُ السَّيف، (۳) علت فاعليه، ما يوجد الشئُ بسببه لكه كلال دكوزی لپاره، سوال، انعدام د علت فاعليه مستلزم دے دانعدام د معلول لره، اوحال دا دے چه ډیر کرته كلال موجود نه وی او كوزه موجوده وی جواب: دا نظیر دے يعنى معد د صنع ديداو"الٰات كلال بمجموعه ده نوانعدام اوشتوالے د جز د معد دا مستلزم نه دے انعدام د معدله لره كه بالفعل كلال موجود نهُ وی نوخه پروا نشته، (۴) علت غائيه، مايوجد الشئُ لِاجلِهِ - لكه غرض مطلوب دكوزی نه، نو دفكر په تعريف كښ علل اربعه په دا سے طریقے سره موجود دی، چه په لفظ "ترتيب" سره علت صوریه ته مطابقةً اشارةً ده، څکه چه د فکر دپاره یو صورت وی لکه ځنګه چه د تخت (چوکے) تمام اَجزاء کله چه مرتب او جمع کړے شی نو خاص یو هیئت حاصلیږی همدغه شان تصورات او تصدیقات جمع کړلو او ترتیب کړلو نه روسته یو خاص هیئت حاصلیږی چه هغه د فکر صورت دے کوم ته چه په (ترتیب) سره اشاره کړے شوید ه، او لفظ "ترتیب" سره علتِ فاعلیه طرفته التزامًا اشاره ده په دا سے شان سره چه هر ترتیب لپاره مرتب وی، څکه چه ترتیب اثر دے، او اثر لپاره مؤثر ضروری وی، او هغه مرتب قوة عاقله ده لکه نجار یا ترکاڼ شو د تخت لپاره او "امورِ معلومة" د فکر لپاره په منزله د مادے دے نو په دے سره اشاره ده علتِ مادیه ته لکه تمام اَجزاء د تخت لپاره، او هر کله چه مقصد په فکر سره هغه ته رسیدل دی، مجهول ته او د تمام کارونو نه هم دا مقصود دے نو "للتادی الی المجهول" سره اشاره اوشوه علت غائیه ته لکه کیناستل د صحن باداخله په تخت په (چوکے) باندے نو کامل تعريف دا دے، چه په دے کښ دا څلور واړه علتونه ذکر کړے شی، لکه السرير مركب من قطع الخشب والصورَةِ و مصنوعٌ للنجارِ للجلوسِ، او کله صرف د یو علت په ذریعه تعریف کولے شی لکه السریرُ مصنوعٌ للنجارِ، او کله د دو علتونو په ذریعه تعریف کولے شی، لکه السریرُ مرکبٌ مِنَ الخَشَبِ وَ مصنوعٌ لِلنجار او کله د دریو علتونو په ذریعه تعریف کولے شی لکه اَلسریر مرکبٌ من قطع الخشب والصورَةِ و مصنوع للنجارةِ،



قولهٗ، كجلوسِ السلطان الخ ظاهرُهٗ ان الجلوسَ علةٌ للسريرِ مَعَ ان الجلوسَ علة لاتخاذِ السرير ويمكن ان يُجابَ بانْ يقال هوَعلةٌ لهَ من حيث اِتخاذِه قوله، كالهيئةِ الحاصلةِ لِاجزاء السَّريرِ الخ غرض د شارح په دے عبارت سره تنبيه د معقول ده په محسوس سره د وضاحت د معقول لپاره، وعلٰى هذاالقياس فی البواقی،

وَذَالِكَ التَّرْتِيبُ اَيِ الْفِكْرُ لَيْسَ بِصَوَابٍ دَائِمًا لِاَنَّ بَعْضَ الْعُقَلَاءِ يُنَاقِضُ بَعْضًا فِيْ مُقتضٰى اَفْكَارِهِمْ فَمِنْ وَاحِدٍ يَتَأَدّٰى فِكْرُهٗ اِلَى التَّصْدِيْقِ بِحُدُوْثِ الْعَالَمِ وَمِنْ اٰخَرَ اِلَى التَّصْدِيْقِ بِقِدَمِهٖ بَلِ الْاِنْسَانُ الْوَاحِدُ يُنَاقِضُ نَفْسَهٗ بِحَسَبِ الْوَقْتَيْنِ فَقَدْ يُفَكِّرُ وَيُؤَدِّيْ فِكْرُهٗ اِلَى التَّصْدِيْقِ بِقِدَمِ الْعَالَمِ ثُمَّ يُفَكِّرُ وَيَتَأَدّٰى فِكْرُهٗ اِلَى التَّصْدِيْقِ بِحُدُوْثِهٖ فَالْفِكْرَانِ لَيْسَا بِصَوَابَيْنِ، وَاِلَّا لَزِمَ اجْتِمَاعُ النَّقِيْضَيْنِ فَلَا يَكُوْنُ كُلُّ فِكْرٍ صَوَابًا فَمَسَّتِ الْحَاجَةُ اِلٰى قَانُوْنٍ يُفِيْدُ مَعْرِفَةَ طُرُقِ اِكْتِسَابِ النَّظَرِيَّاتِ التَّصَوُّرِيَّةِ وَالتَّصْدِيْقِيَّةِ مِنْ ضَرُوْرِيَّاتِهِمَا وَالْاِحَاطَةَ بِالْاَفْكَارِ الصَّحِيْحَةِ وَالْفَاسِدَةِ الْوَاقِعَةِ فِيْهَا اَيْ فِيْ تِلْكَ الطُّرُقِ حَتّٰى يُعْرَفَ مِنْهُ اَنَّ كُلَّ نَظَرِيٍّ بِاَيِّ طَرِيْقٍ يُكْتَسَبُ وَاَيُّ فِكْرٍ صَحِيْحٌ وَاَيُّ فِكْرٍ فَاسِدٌ،

**ترجمه**:- او دا ترتیب یعنی فکر تل لپاره صحیح (حق) نهٔ وی څکه چه بعض عقلاء (هوښیاران) د خپلو فکرونو او نظریاتو مقتضٰی کښ نورو بعضو سره مخالف وی د یو فکر د حدوث عالَمْ تصدیق ته رسیږی، او د بل فکر قدیم والی د عالم ته اورسیږی) بلکه شخص واحد د دوو (مختلفو) وختونو کښ د خپل (اراراو فکرونو سره) مخالفت کوی، لکه کله فکر کوی، او د ده فکر د عالم قدیم والی تصدیق ته رسیږی، او بیا فکر کوی، او د ده فکر حدوث د عالم تصدیق طرف ته څی نو دا دواړه فکرونه صحیح نهٔ دی ګنے اجتماع د نقیضینو به لازم شی، بهرحال هر فکر صحیح نشی کیدلے نو درے وجے نه یو داسے قانون ته ضرورت راغے کوم چه د ضروریاتو نه د نظری تصوریه او د تصدیقیه حاصلولو طریقی بنائی، او په دو کښ دواقع کیدو والا صحیح او خراب فکر دا حاطے فائده رسوی، تر دے چه د دے نه معلوم شی چه هر نظری چه په کوم

طریقه سره حاصل کړے شی، اوکوم فکرِ صحیح اوکوم فکر فاسد (خراب) دے
تشریح:- قوله، وَ ذَالِكَ الترتیب ای الفکر الخ اِنَّمَا فَسَّرَهٗ بِذٰلِكَ رعایةً لسوق الکلام لِاَنَّ الکلام اَوَّلًا وَّاٰخِرًا فِی الفکر، غرض د شارِح په دے عبارت سره اقامَة د دلیل دے په مدعیٰ مذکور (فی المتن) باندے چه هر فکر صحیح او صواب نهٔ دے، او حاصل د دلیل دا دَے، چه که هر ترتیب مفیدشی نو دا به هم مفیدشی چه "لَاشَیْئَ مِنَ الْاِنْسَانِ بِحَجَرٍ وَّلَاشَیْئَ مِنَ الْحَجَرِ بِاِنْسَانٍ" نو نتیجه به دا شی چه لَاشَیْئَ مِنَ الْاِنْسَانِ بِاِنْسَانٍ، او سره د دے خبرے نه چه دا خو غلطه ده، سوال، چه ترتیب دِ مفیدنشی لیکن جائزه ده چه هر ترتیب عقلی وی یعنی د خطاء فی الترتیب نه دے فطرت انسانی عاصم شی نو بیا خو احتیاج را نغیٔ منطق ته، جواب، هر ترتیب فطری عقلی نهٔ دے، او دلیل د دے لپاره دا دَے چه هر ترتیب عقلی او طبعی، نو آراء او افکار د خلکو به متناقض نهٔ وی فالتالِی باطِلٌ والمقدمُ مثلهٗ، هرچه بطلان د تالِی دے، نو ځکه چه متکلمینو دلیل قائم کړیدے په حدوث د عالم باندے، مثلًا په دے شان سره دوئی وائی لِاَنَّهٗ متغیِّرٌ وَّکلٌّ متغیرٍ حادثٌ فَالعالَمُ حادثٌ، او حکماؤ دلیل قائم کړیدے په قدم د عالم باندے په دے شان سره لِاَنَّهٗ مُسْتَغْنٍ عَنِ الْمُؤَثِّرِ وَکُلُّ مُسْتَغْنٍ عَنِ الْمُؤَثِّرِ قَدِیْمٌ فَالْعَالَمُ قَدِیْمٌ، یا حکماؤ دلیل دا سے قائم کړیدے چه عالم قدیم دے، ولے که حادث شی نو دَے به مسبوق شی په ماده باندے ځکه چه هر حادث مسبوق وی په ماده باندے، نو او س په دے کښ به هغه ماده قدیم وی، لیکن که حادث شی نو مادی لره به بله ماده راشی نو لازم به شی تسلسل، او هر کله چه هغه ماده قدیم شوه نو عالم به په خپله قدیم وی، او هرچه وجه د ملازمه ده نو هغه ظاهره ده، ځکه چه که دا دواړه فکرونه صحیح شی نو په نفس الامر کښ عالم په حدوث او قدم سره متصف کیدل به لازم شِی، او دا نهٔ د مکو اجتماع د نقیضین ده او دا بدیهی البطلان ده، نو حقانیت د دواړو نظرونو هم باطل شو او همدارنګه دا دواړه نظرونه باطِل کیدلے هم نشی ځکه چه که دواړه فکرونه باطِل شِی نو د دوئی نتیجی به هم باطلے شِی، په دے شان چه عالم کښ به حدوث هم نهٔ وی، او قدم به پکښ هم هم نهٔ وی، او بطلان د دواړو نتیجو هم باطل دے ځکه چه لازمیږی



ارتفاع د نقیضینو په دے شان چه د عالم نه به هم حدوث مرتفع شی او هم به ورنه قدم مرتفع شِی، نو معلومه شوه چه په دے دوه[2] نظرونو کښ یو نظر حق دے چه حدوث د عالم دَے او بل نظر باطل دَے چه قدم د عالم دَے نو معلومه شوه چه په ترتیب او فکر کښ خطائی واقع کیږی، نو یو داسے قانون ته ضرورت راغے چه د هغه قانون په وجه سره د غلطئ نه ځان او ساتل شی،
سوال: وقوع د خطاء احتیاج الی القانون لره مستلزم نه ده ځکه چه کیدیشی چه تمیز د خطاء د صواب نه بدیهی وی، کوم چه د محض التفات په ذریعه حاصلیږی، یا فطری وی او فطرت انسانیه په ذریعه تمیز د خطاء د صواب نه په بداهت سره دا کافی نهٔ دَے، او هر ترتیب فطری هم نشی کیدَے ګنے ډیر اهل دانش (هوښیاران) نه به خطا نه واقع کیده حالانکه دوئی نه هم کله کله خطاء واقع کیږی، او دا خطاء په دوه[2] قسمه واقع کیږی (۱) د شکل او هیئت په اعتبار لکه کل انسانٍ حیوانٌ و بعض الحیوانِ فرسٌ فبعض الانسانِ فرسٌ، ځکه چه د کلیت د کبریٰ لحاظ نهٔ دے شوے (۲) د فساد د مادے د وجے نه لکه الحدیدُ جسمٌ نامٍ وکل جسمٍ نامٍ فهو نباتٌ فالحدیدُ نباتٌ

قوله، بحسب الوقتین الخ سوال: تناقض لپاره اتحاد د زمان شرط دَے او تناقض مذکور په دوه[2] وقتونو کښ دَے، نو دا تناقض تناقض نشو، جواب دلته دوه[2] زمانے دی، یوه زمانه د فکر او د حکم او بله زمانه د اعتبار د حکم او په تناقض کښ اعتبار د حکم معتبر دَے نه زمانه د فکر او ایقاع،
ولو لا الاعتبارات لبطلت الحکمة

قوله، فمست الحاجة الخ دا تفریع ده په ماقبل په ټولو مقدماتو ثلاثو موجود منطق باندے سوال، دلیل سابق "لِاَنَّ بعض العقلاء الخ" نه صرف دومره ثابتیږی چه په کوم افکار جزئیو کښ، چه خطا واقع شو یده، یا واقع کیږی، په دے کښ د واقع شوے خطاء نه حفاظت راشی او د دے فکرونو صحیح معرفت حاصل شی او د دے نه د قانون کلی احتیاج نه ثابتیږی،
جواب: د شارح مقصد هم دا دَے چه د افکار جزئیو تفصیلی حالات معرفت حاصل کړے شی لیکن هر کله چه د جدا جدا جزئیاتو معرفت ډیر مشکل وو نو یو داسے قانون ته ضرورت راغے کوم طرف ته چه په هر حال کښ رجوع کولے شِی،



Maktaba Tul Ishaat.com

**قولهٔ** ، وَمِنْ ضَرُوْرَتِهِمَا الخ سوال: دشارح رحمۃ اللہ درے قول نه معلومیږی چه د نظر یا تو اکتساب صرف او صرف د ضرور یا تو نه کیږی، حالانکه خبره داسے نه ده ځکه چه کله یو نظری دبل نظری نه او دا دبل نظری نه هم حاصلولے شی، لکه مثال په توګه انسان دحیوان ناطق نه او حیوان ناطق دجسمِ نامی نه او جسمِ نامی دجسمِ مطلق نه حاصلولے شی،

جواب دشارح رحمۃ اللہ دا مقصد نهٔ دے چه اکتساب دنظریاتو ابتداءً دتصوراتو بدیهیو یا دتصدیقات بدیهیو نه کیږی، بلکه مقصد او غرض دشارح رحمه الله دادے چه اکتساب د نظریاتو سلسله کوم تصور بدیهی یا تصدیق بدیهی باندے ختمیدل او انتهاء ته رسیدل ضروری دی، دپاره دے چه دور یا تسلسل لازم نشی.

**قولهٔ**، ای فکر صحیح الخ

**تذنیب** :- اعلم ان الخطاء فی الفکر اما ان یرجع الی شکل الترتیب وهیئته کما اذا قیل کل انسان حیوانٌ وبعض الحیوان فرس فقد یؤدی هذا الفکر الی نتیجةٍ فاسدةٍ هِیَ اَنَّ بعضَ الانسان فرسٌ، وَالسِرُّ فی هٰذا الخطاء یرجع الی صورة الفکر وشکله وَهی کونُ الکبریٰ جزئیةً فانها غیر صحیحة مَعَ سلامَةِ المَادَةِ وَاِمّا ینشأ الخطاءُ مِن فسادِ المادةِ کما اذا قیل الحدیدُ جِسمٌ نامٍ وکلُّ جسمٌ نامٍ حدیدٌ، فهذا الفکر صحیحٌ، من حیث الصُّوْرَةِ وَلکنَّهٗ فاسِدٌ مِنْ حیث المادةِ وَهُوَکَوْنُ الکُبْرٰی کاذِبةً فیأدی الی نتیجةٍ کَذِبَةٍ وهی الحدید نباتٌ، فلاجل هٰذا مست الحاجة الی قانونٍ یعرِّفُنَا الفرق بین الافکارِ الفاسِدَةِ مِن الصحیحةِ حتی نجتنب الاولیٰ ونلتزم الثانیة وهٰذا القانونُ هُوَ المَنطقُ، اه

وَذَالِکَ القَانُوْنُ هُوَ المَنطِقُ ، وَاِنَّمَا سُمِّیَ بِهٖ لِاَنَّ ظُهُوْرَ القُوَّةِ النُّطْقِیَّةِ اِنَّمَا یَحْصُلُ بِسَبَبِهٖ ، وَرَسَمُوْهُ بِاَنَّهٗ آلَةٌ قَانُوْنِیَّةٌ تَعْصِمُ مُرَاعَاتُهَا الذِّهْنَ عَنِ الخَطَاءِ فِی الفِکْرِ - فَالآلَةُ هِیَ الوَاسِطَةُ بَیْنَ الفَاعِلِ وَمُنْفَعِلِهٖ فِی وُصُوْلِ اَثَرِهٖ اِلَیْهِ، کَالمِنْشَارِ لِلنَّجَّارِ فَاِنَّهٗ وَاسِطَةٌ بَیْنَهٗ وَبَیْنَ الخَشَبِ فِی وُصُوْلِ اَثَرِهٖ اِلَیْهِ ، فَالقَیْدُ الاَخِیْرُ لِاِخْرَاجِ العِلَّةِ المُتَوَسِّطَةِ فَاِنَّهَا وَاسِطَةٌ بَیْنَ فَاعِلِهَا وَمُنْفَعِلِهَا اِذْ عِلَّةُ عِلَّةِ الشَّیْئِ عِلَّةٌ لِذَالِکَ الشَّیْئِ بِالوَاسِطَةِ، فَاِنَّ (آ) اِذَا کَانَ عِلَّةً لِبَ، وَ(بَ) عِلَّةً لِجَ، کَانَ (آ) عِلَّةً



(جَ) وَلٰکِنْ بِوَاسِطَةِ (بَ)، اِلَّا اَنَّهَا لَیْسَتْ بِوَاسِطَةٍ بَیْنَهُمَا فِی وُصُوْلِ اَثَرِ العِلَّةِ البَعِیْدَةِ اِلَی المَعْلُوْلِ لِاَنَّ اَثَرَ العِلَّةِ البَعِیْدَةِ لَا یَصِلُ اِلَی المَعْلُوْلِ فَضْلًا عَنْ اَنْ یَتَوَسَّطَ فِی ذَالِکَ شَیْئٌ آخَرُ، وَاِنَّمَا الوَاصِلُ اِلَیْهِ اَثَرُ العِلَّةِ المُتَوَسِّطَةِ لِاَنَّهٗ الصَّادِرُ مِنْهَا وَهِیَ مِنَ البَعِیْدَةِ.

**ترجمه** : او هغه قانون رنه دے مګر) منطق دے او ددے نوم ددے وجه ایخودے شو چه - ځکه چه ښکاره کیدل دقوة نطقیه (ویا) صرف په سبب د منطق راځی، او مناطقهٔ ددے منطق تعریف داسے کړیدے چه دا یو قانونی آله ده چه ددے په رعایت سره ذهن دفکر غلطیا نه محفوظ کیږی، پس آله دا یوه واسطه ده په مابین د فاعل او د منفعل کښ چه اثر د فاعل د رسوی منفعل ته لکه اره د نجار (ترکانړ) لپاره ځکه چه دا اره واسطه ده په مابین د فاعل (نجار) او منفعل (لرګی) کښ په رسول دا اثر د نجار کښ لرګی ته . پس آخری قید فی وصول الخ دعلت متوسطه خارجولو دپاره دے ځکه چه دا هم د فاعل او دمنفعل په مینځ کښ واسطه ده په دے شان سره چه علت دعلت دشی علت وی ددغه شی دپاره په واسطه سره ، پس کله چه (ا) علت شی د (بَ) دپاره او (بَ) علت شی د (جَ) نو (ا) علت شو د (جَ) دپاره لیکن په واسطه د (ب) سره مګر علتِ متوسطه د فاعل او د منفعل ترمینځ د علت بعیده اثر معلول ته په رسولو کښ واسطه نه ده ځکه چه اثر دعلت بعیده معلول ته نه رسیږی باقی لا دا چه په دیکښ کوم بل شئ واسطه شی، او معلول ته دعلت متوسطه اثر رسیږی، ځکه چه دا (معلول) ددے علت نه صادر دے او علت متوسطه دعلتِ بعیده نه (صادر دے)

**تشریح** زده کړه دا خبره چه دعلمِ منطق دپاره مشهور درے نومونه دی اول علم منطق او دویم علمِ میزان دریم علم آلی ، نو وجه دتسمیه دعلم منطق په منطق سره داده چه په لفظ د منطق کښ درے احتماله دی، اول دا چه منطق مصدر میمی دے کوم چه دی فن دپاره بطور مبالغه استعمالیږی . ګویا چه منطق بعینه نطق دے، دویم چه منطق صیغه دظرف ده په معنیٰ دځائے د نطق (خبرو) او محل د نطق سره دریم مِنطق په کسرے دمیم سره، لکه څنګه چه دمشهور تعریف آلَةٌ قَانُوْنِیَّةٌ اه نه مفهومیږی په دے صورت کښ لفظ منطق په فتح دمیم سره غلط راځی

ځکه چه اسم آله مکسوروی، همدغه شان کوم خلق چه منطق په فتحه د طاء سره وائي، غلط دے ځکه چه لفظ نطق د ضرب باب نه دے، او د دے باب په ظرف کښې ما قبل آخر مکسوروی، پس نطق په دوه قسمه دے، اول قسم نطقِ ظاهري، او دویم قسم نطق باطني، نطق ظاهري عبارت دے د تکلم نه، او نطق باطني عبارت دے د ادراک د علم نه او علمِ منطق ته ځکه منطق وائي چه د دے علم د پاره تاثیر شته هم په نطق کښې ظاهري کښې او هم په نطق باطني کښې، په نطق ظاهري کښې اثر دا دے چه هغه کس چه عالِم وی په علمِ منطق باندے هغه قادر دے په هغه اندازه د تکلم باندے چه په هغه انداز او طریقه باندے نه وی قادر هغه کس چه غافل وی د علمِ منطق نه، او په نطق باطني کښې اثر دا دے چه هغه کس چه عالِم وی په علمِ منطق باندے هغه کس پیژني اجناس د اشیاؤ او فصول د اشیاؤ او حقائق او لوازِم او خواص د اشیاؤ مثلاً لکه هغه کس چه عالم وی په منطق باندے هغه پیژني د انسان جنس چه حیوان دے او د انسان فصل چه ناطق دے، او د انسان حقیقت چه حیوانِ ناطق دے اود انسان خاصه چه ضاحک دے او د انسان لازِم کلیت چه انسان به کلي وی لپاره د ما تحت افرادو وعلیٰ هٰذا القیاس، په خلاف د هغه کس چه هغه غافِل وی د دے علم منطق نه، **سوال** نه منم چه هغه کس چه عالم وی په علم منطق باندے هغه حقائق د اشیاؤ پیژني ځکه چه علم په حقائق الاشیاء باندے مختص دے تر واجب تعالیٰ پورے، او نفسِ ناطقه صرف د شي خواص او لوازم پیژني، کما صرح به الشیخ ابو علي سینا في کتابه "التعلیقات" حیث قال نحن لا نعرف من الاشیاء إلّا الخواص واللوازِمُ الخ **جواب** حقائق الاشیاء په دوه قسمه دی، (۱) حقائق حقیقیه، یعنی هغه حقائق دی چه هغه په نفس الامر کښې حقائق دی لپاره د اشیاؤ (۲) حقائق اعتباریه یعنی هغه حقائق چه مونږ معتبر کړی وی حقائق لپاره د اشیاؤ لکه مونږ دا معتبر کړیدی چه حیوان ناطق حقیقت دے لپاره د انسان - او مختص تر واجب تعالیٰ پورے علم د حقائقو حقیقیه دے او علم د حقائقو اعتباریو مختص نه دے تر واجب تعالیٰ پورے، بلکه نفسِ ناطقه علم راوستے شي په حقائقو اعتباریو باندے، و مراد الشیخ الحقائق الحقیقیة - او دویم نوم د علم منطق علم المیزان دے، او وجه



د تسمیه ئې دا ده چه میزان عبارت دے په لغت کښې د تلې تخنه، او علمِ منطق ته میزان ځکه وائي چه دا هم تله ده لپاره د عقل او عقل ورباندے انکارِ صحیحه تلی، او همدغه شان عقل په علم منطق سره پیژني هغه نقصان چه په انکار فاسدو کښې موجود وی، او علم منطق ته علم آلي هم وئیلي شي، ځکه چه علم منطق آله ده لپاره د ټولو علومو، او خاصکر د علومو حکمیه و چه حکمت ریاضي دے، او حکمت طبعي دے او حکمت الهی،

**قوله** وَرَسَمُوْهُ الخ زده کړه دا خبره چه منطق کښې اختلاف دے په دے شان سره چه منطق علم دے او که نه، پس بعضِ وائي چه منطق علم نه دے لغیره دے ـ همدغه وجه ده چه بعض خلق وائي: چه منطق کسب حرفة او صنعت او جمهور وائي چه منطق علم دے که دا علم نشی دوجه د آلیت نه، بیا خو به علم نحو، صرف، عروض، وغیره هم علوم نشی ـ

**قوله** فالآلةُ الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول دی تعریف د آله ته او دا ځکه چه معرفت د معرَّف موقوف وی تر معرفت د معرِّف پورے او معرفت د معرِّف موقوف وی تر معرفت د هر جزء د اجزاءُ د معرِّف پورے نو شارح و وئیل فالآلَةُ الخ چه دا یوه واسطه ده په مابین د فاعل او د منفعل کښې چه د دے سره وصول د اثر د فاعل راځي منفعل ؤ ته لکه نسبت متوسطه په مابین د طرفینو کښې چه موضوع او محمول دی، نو د لته فاعل قوّة عاقله ناطقه ده او منفعل مجهول تصوّري دے، **قوله** کالمنشار الخ غرض د شارح اشاره کول دی ایراد د مثال جزئي ته لپاره د آلِي ـ لیکن دا مثال ئې په محسوساتو کښې راوړو، ځکه چه قوّةِ عاقله او مجهولِ تصوری کوم چه د معقولاتو نه دی په دوئي کښې څه ناڅه خفاء وه نو دا خفاء ئې په دے مثال سره ختم کړه

**قوله** فالقیدُ الاخیرُ الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب د سوالِ مقدر دے، خلاصه د سوال دا ده، چه د لته یو علت اول دے، او یو علت متوسطه ده، او بل معلول دے ددے د پاره مثال، لکه بعض مناطقه وائي چه واجب تعالیٰ عقلِ فعّال پیدا کړو، بیا عقل فعّال ممکنات پیدا کړل دوئي وائي چه دا ممکنات واجب تعالیٰ نه دی پیدا کړی ځکه چه واجب تعالیٰ واحد دے وَالواحِدُ لا یصدُرُ عنهُ الاّ واحِدٌ نو وس واجب تعالیٰ علت اول شو او عقل فعال علت متوسطه شو، او ممکنات معلول شول، نو ستا تعریف

Maktaba Tul Ishaat.com

مانع نشو د دخول د غیر نه علت متوسطه پکښ داخله شوه په ځکه معنیره چه دا علت متوسطه هم د فاعل او د منفعل په مابین کښ واسطه وی نو دے ته هم آله ویل پکاردی، یا په تعریف کښ ددے د اخراج لپاره کوم قید نکول پکاردی، نو شارح رحمة الله فالقید الاخیر الخ جواب وکړو چه قید اخیر « فی وصول اثره الیه » سره علت متوسطه د تعریف نه خارجیږی نو بل قید ته څه ضرورت نشته، او وجه د اخراج دا ده چه علت متوسطه د فاعل او د منفعل په مینځ کښ واسطه وی، اذ علة علة الشئ علة لذالك الشئ، پس هرکله چه ۲ علت شو د ب لپاره او ب علت وی د ج لپاره نو یقیناً ۲ علت شو د ج لیکن معلول ته د علت بعیده اثر رسولو کښ علت متوسطه واسطه نوی بلکه دا په معلول کښ بخپله مؤثروی او معلول ته د علت بعیده اثر نه رسوی بلکه ددے اثر علت متوسطه ته رسیږی، پس هر کله چه علت بعیده اثر معلول ته نه رسیږی نو علت متوسطه هم جوړ نشو پس په دے باندے دا له تعریف صادق نشو فافهم،

وَالْقَانُوْنُ هُوَ اَمْرٌ كُلِّيٌّ يَنْطَبِقُ عَلٰى جَمِيْعِ جُزْئِيَّاتِهٖ لِيَتَعَرَّفَ اَحْكَامُهَا مِنْهُ، كَقَوْلِ النُّحَاةِ، اَلْفَاعِلُ مَرْفُوْعٌ فَاِنَّهٗ اَمْرٌ كُلِّيٌّ مُنْطَبِقٌ عَلٰى جَمِيْعِ جُزْئِيَّاتِهٖ يَتَعَرَّفُ اَحْكَامُ جُزْئِيَّاتِهٖ مِنْهُ حَتّٰى يَتَعَرَّفَ مِنْهُ اِنَّ زَيْدٌ مَرْفُوْعٌ فِيْ قَوْلِنَا ضَرَبَ زَيْدٌ فَاِنَّهٗ فَاعِلٌ، وَاِنَّمَا كَانَ الْمَنْطِقُ آلَةً لِاَنَّهٗ وَاسِطَةٌ بَيْنَ الْقُوَّةِ الْعَاقِلَةِ وَبَيْنَ الْمَطَالِبِ الْكَسْبِيَّةِ فِى الْاِكْتِسَابِ، وَاِنَّمَا كَانَ قَانُوْنًا لِاَنَّ مَسَائِلَهٗ قَوَانِيْنُ كُلِّيَّةٌ مُنْطَبِقَةٌ عَلٰى سَائِرِ جُزْئِيَّاتِهَا كَمَا اِذَا عَرَفْنَا اَنَّ السَّالِبَةَ الضَّرُوْرِيَّةَ تَنْعَكِسُ اِلٰى سَالِبَةٍ دَائِمَةٍ عَرَفْنَا مِنْهُ اَنَّ قَوْلَنَا لَا شَيْءَ مِنَ الْاِنْسَانِ بِحَجَرٍ بِالضَّرُوْرَةِ يَنْعَكِسُ اِلٰى قَوْلِنَا لَا شَيْءَ مِنَ الْحَجَرِ بِاِنْسَانٍ دَائِمًا، وَاِنَّمَا قَالَ تَعْصِمُ مُرَاعَاتُهَا الذِّهْنَ، لِاَنَّ الْمَنْطِقَ لَيْسَ هُوَ نَفْسُهٗ يَعْصِمُ الذِّهْنَ عَنِ الْخَطَاءِ وَاِلَّا لَمْ يَعْرِضْ لِلْمَنْطِقِيِّ خَطَاءٌ اَصْلًا، وَلَيْسَ كَذَالِكَ فَاِنَّهٗ رُبَّمَا يُخْطِيْ لِاِهْمَالِ الْاٰلَةِ هٰذَا هُوَ مَفْهُوْمُ التَّعْرِيْفِ ـــ

**ترجمه**:- او قانون هغه یو امر کلی دے کوم چه خپل ټولو جزئیاتو باندے منطبق کیږی ددے ته ددے جزئیات معلومیږی، لکه دا قول د نحویانو « الفاعل مرفوع » امر کلی دے کوم چه په خپلو ټولو جزئیاتو منطبق دے



ددے نه ددے جزئیات معلومیږی، تردے چه ددینه معلومیږی چه په ضرب زید کښ زید مرفوع دے ځکه چه فاعل دے او منطق آله ځکه ده چه دا په اکتساب کښ د قوت عاقله او د مطالب کسبیه ترمنځه واسطه ده، او (منطق) قانون ځکه دے چه ددے مسائل کلی قوانین دی کوم چه تمامو جزئیاتو باندے منطبق دی، مثلاً کله چه مونږ ته دا معلوم وی چه د سالبه ضروریه عکس سالبه دائمه راځی، نو ددے نه مونږ ته دا معلومیږی چه دا قول څمونږ « لا شئ من الانسان بحجر بالضرورة » عکس راځی لا شئ من الحجر بانسان دائماً « او ماتن تعصم مراعاتها الذهن » ځکه دویلی چه نفس منطق ذهن لره د خطائی نه نه بچ کوی، کنی کوم یو منطقی نه به څه قسم غلطی به نه راتله، او حالانکه (خبره) داسے نه ده، بلکه داد آلې نه استعمالولو په وجه غلطی کوی، دا د تعریف (د علم منطق) مفهوم دو

**تشریح** هرکله چه ایضاح د معرف موقوف وی تر ایضاح د معرّف پورے او ایضاح د معرّف موقوف وی تر ایضاح د هر جز د اجزاؤ د معرّف پورے، نو یو جز د تعریف آله وو د هغې وضاحت وشو او س شارح توضیح د بل جز کوی چه هغه « قانونية » دے کوم چه قانون ته منسوب دے نو ددے وجه نه د قانون تشریح کوی، پس قانون په لغت کښ لفظ یونانی یا سریانی دے په معنی د مسطر د کتاب یعنی قانون خط کش ته وائی، او په اصطلاح کښ هو امر کلی الخ زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښ لا بدی ده د معرفت د امورو ربعونه، اوّل قاعده کلیة دویم موضوع د قاعده کلیه (۳) مثال جزئی د جزئیاتو د موضوع د قاعدے کلی نه، څلورم حکم د هغې جزئی، نو قاعده کلیه لکه کل فاعل مرفوع، او موضوع د قاعدے کلی لکه کل فاعل، او مثال جزئی د موضوع د قاعدے کلیه، لکه زید په ضرب زید کښ، او حکم نے مرفوع دے، نو دا حکم د جزئی نظری دے، طریقه د عرفان به دا وی چه قاعده کلیه به کبری کړی او صغری سهلة الحصول به ورسره راوړی (صغری سهلة الحصول دے ته وائی چه په ادنی التفات سره ظاهریږی) نو دے نه قیاس مرکب شی او نتیجه حاصله د قیاس به حکم د جزئی د موضوع د قاعده کلیه شی، نو او به وائی زید فی ضرب زید مرفوع، لانه فاعل، و کل فاعل مرفوع حد اوسط چه فاعل فاعل دے دلته ساقط کړه نو نتیجه به داسے شی زید

فی ضرب زیدٌ مرفوعٌ، یا دا قاعده د علمِ بلاغت شوه "کلُّ کلامٍ مع المنکر یجبُ توکیدهٗ او موضوع د قاعده کلیه کلُّ کلامٍ مع المنکر، او حکم د قاعده کلیه یجب توکیدهٗ نو حکم د دے قاعده کلیه هم نظری دے، نو قاعده کلیه به کبریٰ شی او صغریٰ سهلة الحصول به ورا او باسی نو او به وائی زیدٌ قائمٌ فی ان زیداً قائمٌ یجب توکیدهٗ، لانّه کلامٌ مع المنکر وکلُّ کلامٍ مع المنکر یجب توکیدهٗ فزیدٌ قائمٌ یجبُ توکیدهٗ، **سوال** ذکر د ینطبقُ پس دامرِ کلی نه لغو او مستدرك دے ځکه چه امر کلی خپله هم منطبق وِی په جزئیاتو باندے، نو مفاد د ماقبل او د مابعد واحد شو، **جواب** مراد دامرِ کلی نه مفهوم کلی دے عام دے نه چه تصدیق وی او که تصوّر روی، او مقصود د لته مفهوم تصدیقی دَے نو ینطبق لپاره د اخراج د مفهوم تصوّری دَے، او به "یتعرّفُ" سره اخراج د هغه قضیه کلیه و شو چه جزئیاتِ بدیهی وی، **جواب۲** قضیه کلیه ته مطلقاً قانون نه وائی بلکه هلته ورته وائی چه مشتمل وی په معرفت د احکامو د جزئیاتو نو ذکر د ینطبق مستدرك نه شو بلکه محتاج الیه شو، به تعریف د قانون کښ، **جواب۳** دا تصریح بما علم ضِمناً له تبیلے نه دے وهٰذ لیس باستدراكٍ **قوله** حتّی یتعرّف الخ دا تفریع ده د یتعرّف منه جزئیاتهٗ الخ لپاره نو حتّی په معنیٰ د فاء تفریعیه ده، **قوله** لانّهٗ واسطةٌ الخ **سوال** قوّة عاقله د مطالبِ کسبیه لپاره فاعل نه دَے بلکه قابل دے او آله د فاعل او د منفعل په مینځ کښ واسطه وی، نه د قابل او د مقبول په مینځ، والمنطق واسطةٌ بین القابلِ والمقبول فلا یکونُ المنطق حینئذٍ آلةً؟ **جواب۱** کرزول د منطق آله دا مبنی دے په قول د متأخرینو او د امامِ رازی او د ده متبعینو باندے پدے شان سره چه دوئ وائی چه حکم فعل دَے نو مطالب کسبیه فعل شول لپاره د قوة عاقله نو منطق واسطه شوه په مابین د فاعل او د منفعل کښ ځکه چه هر فعل لپاره فاعل کیدل ضروری وِی او هغه قوة عاقله ده،
**جواب۲** حکم که د قبیلے د ادراك "انفعال" نه شی بیا د منطق آله کرزول یا خو مبنی دے په ظاهر متبادر الیٰ افهامِ المبتدئین باندے، ځکه چه د ادراکاتو لپاره قوّة عاقله فاعل کیدل متبادر الیَ الفهم، یعنی فیضان د ادراکاتُ چونکه د نفسِ انسانی نه صادریدو نکی افعال، احساس توجه او نظریه وساطت سره کیږی نو متبادر الیِ الفهم هم داوِی چه دا افعال دی، یا دا مبنی دے



په دے باندے چه ادراك اگرکه د قوّة عاقله فعل نهٔ دے لیکن منطق قوّة عاقله او ددے د معلوماتو په مابین کښ واسطه وی چه هغه ترتیب ورکے شی نو مجهولات حاصل کړے شی، ځکه چه دا بنکاره خبره ده چه په ذٰ امورو معلومو باندے چه کوم اثر او نتیجه مرتب کیږی، هغه په دے کښ قوّت عاقله صحیح ترتیب کوٗلو سره مرتب کیږی، او صحیح ترتیب د منطق په ذریعه حاصلیږی، نو منطق ته آله ویئل صحیح شو پس په عبارت د شارح کښ مضاف محذوف دے، نو تقدیر د عبارت به دا شی، لِانّهٗ واسطةٌ بین القوّةِ العاقلةِ وبَیْنَ مبادی المطالب الکسبیه، **قوله** وانما کان قانوناً لان مسائله الخ غرض د شارح په دے عبارت سره بیان د امور ثلاثو دے، اوّل دا چه اشاره کوٗل دی اقامت د دلیل ته په دے خبره باندے چه منطق قانون (قضیه کلیه) ده لانّ مسائلهٗ قوانینُ کلیّةٌ، وکلُّ ما هٰذا شانه فهو قانونٌ فالمنطقُ قانونٌ۔ د منطق خو مره مسائل چه دی هغه قواعد کلیه دِی ځکه چه مسائل د فن هغه قضایا وی چه موضوع د فن وی او د دے عوارض ذاتیو له محمولو سره حاصلیږی او د منطق موضوع معقولات ثانیة دی کما سیجیُٔ او معقولات ثانیه کلیات دی۔
او دویم غرض د شارح اشاره کوٗل دی دے ته چه قوانین د منطق کلیه دِی به اعتبار د اجزاؤ سره نه په اعتبار د ذات د منطق سره پس تسمیه د منطق په قانون سره مجازاً دے ای من باب تسمیة الشئ بوصفِ اجزائهٖ،
دریم غرض د شارح اشاره کول دی جواب د سوال مقدر ته، خلاصه د سوال داده چه په قانونیة کښ یا تا نسبتیه دی نو قانونیة منسوب شو منطق ته او منطق قانون دَے نو لازم شو نسبت د شی نفس خپل ته او په مابین د منسوب او د منسوبٌ الیه کښ مغائرت وی د لته مغائرت نه دے! نو شارح په دے مذکور الذکر عبارت سره جواب ورکړو، او خلاصه د جواب دا دے چه قانونیتهٗ الخ دا نسبت د کل دے وصف د اجزاؤ ته نو په مابین د کل او د وصف د اجزاؤ مغائرت وی نو د دوئ کښ هم مغائرت ثابت شو، **سوال** علمِ منطق ته قانون ویئل صحیح نه دی ځکه چه علم منطق قوانین دِی نه قانون! **جواب** دا مبنی دے په جمیع القوانین من حیث المجموع او یا دا چه قانون اسمِ جنس دَے اطلاق ئے په قلیل او کثیر دواړو باندے کیږی،

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال ذکر دکلیة پس دقوانین نه لغوا ومستدرك دے ځکه چه قوانین خپله هم کلیه وی ناکت جواب وکړو په (صفة کاشفة) او ذکر د صفت کاشفه ته خوك لغوا واستدراك نه وائی، که خوك اعتراض وکړی چه صفت کاشفه خو ضرور مشتمل وی په فائده باندے، نو مونږ وایو په جواب کښ چه والفائدة ان اطلاق القوانین علی المسائل بالوقوف علی کلیة المسائل یعنی اطلاق دقانون په منطق باندے په اتصاف دقوانین کلیئو سره دے، قوله کما اذا عرفنا الخ غرض دشارح په دے عبارت سره اشاره کول دی ایضاح د صغری ته په مثال سره او هرچه کبری ده نو هغه واضح ده قوله ان قولنا لاشیئ الخ په دے شان سره چه اووائی، لاشیئ من الانسان بحجر بالضرورة سالبة ضروریة وکل سالبة ضروریة تنعکس سالبة دائمة ینتج لاشیئ من الانسان بحجر. سوال عکس د سالبه ضروریه پشان دنفس راتلی ځکه چه جائز ده چه په عکس د لاشیئ من الانسان بحجر بالضرورة کښ ووئیلے شی لاشیئ من الحجر بانسان بالضرورة، جواب دعکس د سالبه ضروریه پشان دنفس خپل عام او مطرد نه کیدے بلکه څنی وخت کښ کذب لازمیږی لکه فرض کړے چه زید په تمام عمر خپل کښ چرته په آس نه وی سور شوے نو صادق دے داقول "لاشیئ من مرکب زید بفرس بالضرورة" او سکه دے عکس پشان دنفس خپل راوړی (یعنی سالبه ضروریة) په دے شان سره چه اووائی لاشیئ من الفرس بمرکوب زید بالضرورة، او دا دروغ ځکه وی چه نقیض دد دے، چه "بعض الفرس مرکوب زید لیس بالامکان" صادق دے او دائے نقیض ځکه شو چه امکان مقابل د ضرورة وی پس هرکله چه یو د نقیضینو نه صادق شو نو بل به کاذب وی، او هرکله چه عکس پشان د نفس خپل کاذب شو، نو متعین شو چه عکس د سالبه ضروریة سالبه دائمه راځی او هغه دا چه لاشیئ من الفرس بمرکوب زید دائما وهذه صحیحة قطعًا۔

"فائده" زده کړه دا خبره چه په مابین د آله او دقانون کښ نسبت دعموم خصوص من وجه دے په دے شان سره چه دا مادے غواړی، یوه مادهٔ اجتماعیه لکه منطق، او بله مادهٔ افتراقیه د یو جانب نه لکه منشار شو چه اله ده او قانون نه دے او مادة افتراقیه د بل جا



نه لکه علوم عربیه یا "کل فاعل مرفوع" قانون دے او اله نه دے فافهم؛

قوله وانما قال تعصم الخ غرض دشارح رحمة الله د دے عبارت نه بیان د امور ثلاثو دے اول دا چه اشاره کوی دے خبرے ته چه په دے مقام کښ قید د مراعات د ضروریاتو د تعریف نه دے، او دویم غرض جواب د سوال مقدر دے، خلاصه د سوال داده چه علم منطق عاصم د خطا نه دے، بیا خو چه د منطقی نه څه قسم خطائی راتلی حالانکه ډیر کرته منطقی خطا کیږی په فکر خپل کښ، او خلاصه د جواب داده چه نفس منطق عاصم نه دے بلکه قید د مراعات ضروری دے، والا لم یعرض للمنطقی خطاء اصلا والتالی باطل فالمقدم مثله اوس به دے باندے اعتراض وارد یږی خلاصه د اعتراض داده چه ته وائی چه منطقی من حیث المنطقی څخه په فکرکښ خطاء نه راځی نو اوس مونږ دا تپوس کوو چه مراد د منطقی نه څوك اخلی، هغه منطقی چه عالم وی په جمیع قواعدو د منطق باندے نو دا سے شخص خو نایاب دے ځکه چه دا فعل د صاحب القدرة والقوة دے او بل دا سے کس خطائی په څه سره معلوموی او یا مراد د منطقی هغه منطقی دے چه هغه عالم وی په بعض قواعدو د منطق باندے نو که رعایت د قواعدو د منطق وکړی هم نو عصمة د دے په فکرکښ د خطاء څخه نه راځی جواب خمونږ مراد د قواعدو د منطق هغه قواعد دی چه په قدر د طاقت بشری د اوساط الناس وی، نو چه مونږ اوساط ووئیل نو خارج شو ترے نه اعلی الناس لکه انبیاء علیهم السلام ځکه چه د دوی عصمة په فکر د وحی په ذریعه وی، هم د غه شان ورنه خارج شول ادنی الناس لکه عوام جهال؛

دریم غرض دشارح رحمة الله هم جواب د سوال مقدر خودے، حاصل د سوال دادے چه نه منو دا خبره چه رعایت د منطق دا عصمت راولی د خطائی څخه بلکه عصمت د خطاء نه نفس منطق راولی او رعایت ئے شرط دے او حاصل د جواب دادے چه په کلام دشارح کښ اشاره ده دے خبرے ته چه په کلام د ماتن کښ مجاز دے او ارتکاب د مجاز ځکه دے چه تنبیه او خبردار ئے راشی دے خبرے ته چه دا قید د رعایت د مما لابد منه

دقیلی نخه دے، **قوله** هٰذا مفهومُ التعریف الخ د هٰذا په مشار الیه کښ دوه احتماله دی، اول دا چه مشار الیه د هٰذا عصمت د خطایٔ نه سره قید د مراعات، دا تعریف د علمِ منطق دے، او دویم دا چه مشار الیه د هٰذا جمیع ما تقدّم دے،

واما احترازاته فالآلة بمنزلة الجنس والقانونية بمنزلة الفصل یخرج الآلات الجزئیة لارباب الصنائع، وقوله تعصم مراعاتها الذهن من الضلال فی الفکر بل فی المقال، کالعلوم العربیة، وانما کان هذا التعریف رسمًا لان کونه آلة عارض من عوارضه فان الذاتی للشئ انما یکون له فی نفسه والآلیة للمنطق لیست له فی نفسه بل بالقیاس الی غیره من العلوم الحکمیة ولانه تعریف بالغایة اذ غایة المنطق العصمة عن الخطاء فی الفکر وغایة الشئ تکون خارجة عنه والتعریف بالخارج رسم۔

**ترجمه**:- او هرچه احترازات دی دے چه دی نو آله په منزلة د جنس ده او "قانونیة" په منزلة د فصل دے په دے سره احتراز راغلے دا آلاتِ جزئیو د کاریګرانو نه او دا قول د ماتن تعصمُ الخ دے سره احتراز راغے د هغه قانونی علومو نه چه د هغې رعایت د هغه لره د فکری ګمراهۍ نه نه بچ کوی بلکه صرف مقالی غلطۍ نه عصمت راولي، لکه علوم عربیه او دا تعریف رسمی ځکه دے چه کیدل د منطق آله د عوارضو نه یو عارض دے ځکه چه ذاتی د شئ دا فی نفسه د شئ لپاره وی، او د منطق آله کیدل په اعتبار د نفس سره نه دے بلکه په نسبت د نورو علومو حکمیو دے، او بل دا وجه نه چه دا تعریف بالغایة دے ځکه چه غایة د منطق "العصمةُ عن الخطاءِ فی الفکر" دے او غایة د شئ خارج د شی نه وی، او تعریف په امر خارج سره رسمی وی۔

**تشریح**:- **قوله** واما احترازاته الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول دی جامعیت او مانعیت د تعریف ته، او جامعیت او مانعیت به جنس او فصل سره راځی، او فصل قیوداتِ احترازیه وی نو دے به هم محترز ذکر کوی او هم محترز عنه، **سوال** شارح رحمه الله دا احترازات عنوان لاندے جنس هم ذکر کړیدے حالانکه جنس په محترزاتو کښ شمارل صحیح نه



ځکه چه جنس سره د کوم شی نه احتراز نه دے راغلے کښی جنس بیا جنس نه بیا کیږی بلکه جنس هم فصل ګرځی، فالتالی باطلٌ والمقدّمُ مثلهٗ؛

**جواب** دا دے چه د لته د قاعدے مطابق جنس سره د کوم شی احتراز نه دے راغلے دے او اما احترازاته الخ عنوان لاندے ئے ذکر کړیدے نو دا مبنی دے په تغلیب باندے په دے شان سره چه غلبه د فصل وکړے شو په جنس باندے دوه چه د کثرت نه وَالعِزَّةُ للتکاثُرِ، **جواب ۲** دا دے چه مراد د احترازات نه عام دے وجودی او که عدمی۔ **قوله** بمنزلة الجنس الخ **سوال** شارح رحمهُ الله بمنزلة الجنس وویل فالآلة جنسٌ ئے او نه وئیل حالانکه دا په تعریف کښ جنس واقع شویدے چه په دے سره د کوم شئ نه احتراز نه دے راغلے، **جواب** دا ځکه چه جنس جزوی د معرّف د حقیقت او د علمِ منطق حقیقت مجموعه مسائل د دے دی نه آله بلکه آله عرض عام دے لیکن هر کله چه جنس جزء مشترك وی او آله کیدل په منطق او په علوم عربیو کښ هم مشترك دے نو د دے مشابهت په وجه شارح بمنزلة الجنس و وئیل۔ **جواب ۲** عین جنس په تعریف حدی کښ وی او دا تعریف د علم منطق رسمی دے نه حدی للوجوهِ الثلاثةِ الآتیةِ۔

پس پوهه شه په دے خبره باندے چه هر تعریف کښ جنس ضرورشئ واحد وی، او فصل کله یو وی او کله زیات نو په تعریف د منطق کښ هم جنس یو دے، چه آله دے په دے کښ هر قسم آله شامل ده، او دوه فصله دی فصل اول "القانونیة" دے په دے سره د ټولو جزئی الاتو د کاروبار خښته احتراز راغے او فصل ثانی "تعصمُ الخ دے په دے سره د هغه قانونی علومو نه احتراز راغے کوم علومو په رعایت کولو سره د خطاءِ مقالے عصمت راځی لکه علوم عربیه، صرف، نحو، معانی، او بیان شول، **قوله**، وانما کان الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب د سوال مقدر دے، خلاصه د سوال دا ده چه هرکله چه تعریف د علمِ منطق کښ جنس او فصلین راغلل نو بیا خو بکار دا دی چه تعریف حدی شی نه رسمی، او حالانکه ماتن وئیلی دی، ورسمُوهٗ الخ دے اعتراض څخه درحقیقت درے جوابونه دی کوم چه شارح ذکر کړیدی اول جواب په دے قول سره لانّ کونهٗ آلةً عارضٌ منْ عوارضه کړیدے، او دویم جواب ئے وَلانّهٗ تعریفٌ بالغایة الخ سره کړیدے او دریم جواب ئے وههُنا

Maktaba Tul Ishaat.com

فائدهٔ جلیلة پسې کړیدے خلاصه دجواب اول داده، چه دمنطق دا تعریف مذکور الذکر رسم دے او حد نه دے ځکه چه د۱۱ حد، تعلق ذات سره وی او درسم تعلق عرض سره وی او دمنطق آله کیدل دے دعوارضو څخه یو عرض دے ذاتیاتو نه نه دے ځکه چه هغه شی حدکیدے شی چه کوم شی طرف ته فی نفسه منسوب وی او دمنطق آله کیدل ذاتی (منسوب فی نفسه) نه دے بلکه منطق آله ده په لحاظ دنورو علوموحکمیو سره لکه حکمت،

**سوال**، هرکله چه منطق آله کیدل دعوارضو نه شو بیا خو تعریف صحیح نه شی، ځکه چه مسلك دمتاخرینو دا دے چه تعریف په عرض سره صحیح نه دے کما سیاتی التفصیل فی موضعه او ماتن دمتاخرینو دجملے څخه دے،

**جواب** دا تعریف مذکور دماتن نه دے بلکه دا تعریف دمتقدمینو نه منقول دے، و یدل علی ذالك قوله ورسموه الخ او دمتقدمینو په نزد تعریف په عرض عام جائز او صحیح دے،

او خلاصه دجواب ثانی (وجه تعلیل ثانی درسمیت) دادے چه دعلم منطق دا تعریف مذکور تعریف بالغایة دے، ځکه چه غرض او غایة دمنطق، "العصمة عن الخطاء فی الفکر" دے او غایة دشی خارج وی دشی نه، او تعریف په اعتبار د الخارج نه وی مگر رسم وی نو دا مذکور تعریف هم رسم شو، وبالجملة علل الشارح علی کون التعریف المذکور رسما بتعلیلین الاول بقوله لانه کونه الخ و الثانی بقوله ولانه تعریف الخ و قدم التعلیل الاول علی الثانی لکون الاول فی الجنس و الثانی فی الفصل، والجنس مقدم علی الفصل،

وَهٰهُنَا فَائِدَةٌ جَلِيلَةٌ وهِيَ اَنَّ حَقِيقَةَ كُلِّ عِلْمٍ مَسَائِلُهُ لِاَنَّهُ قَدْ حَصَلَتْ تِلْكَ الْمَسَائِلُ اَوَّلًا ثُمَّ وُضِعَ اسْمُ الْعِلْمِ بِإِزَائِهَا فَلَا يَكُوْنُ لَهُ مَاهِيَةٌ وَحَقِيقَةٌ وَرَاءَ تِلْكَ الْمَسَائِلِ فَمَعْرِفَتُهُ بِحَسَبِ حَدِّهٖ وحقيقته لَا تَحْصُلُ اِلَّا بِالْعِلْمِ بِجَمِيْعِ مَسَائِلِهٖ وَلَيْسَ ذَالِكَ مُقَدَّمَةً لِلشُّرُوعِ فِيهِ وَاِنَّمَا الْمُقَدَّمَةُ فِي مَعْرِفَتِهٖ بِحَسَبِ رَسْمِهٖ فَلِذَا صَرَّحَ بِقَوْلِهٖ وَرَسَمُوْهُ دُوْنَ اَنْ يَقُوْلَ وَحَدُّوْهُ اِلٰى غَيْرِ ذَالِكَ مِنَ الْعِبَارَاتِ تَنْبِيهًا عَلٰى اَنَّ مُقَدِّمَةَ الشُّرُوعِ فِيْ كُلِّ عِلْمٍ رَسْمُهُ لَا حَدُّهُ، فَاِنْ قُلْتَ اَلْعِلْمُ بِالْمَسَائِلِ هو التَّصْدِيقُ بِهَا وَمَعْرِفَةُ



الْعِلْمِ بِحَدِّهٖ تَصَوُّرُهُ وَالتَّصَوُّرُ لَا يُسْتَفَادُ مِنَ التَّصْدِيقِ. قُلْتُ اَلْعِلْمُ بِالْمَسَائِلِ هُوَ التَّصْدِيقُ بِالْمَسَائِلِ حَتّٰى اِذَا حَصَلَ التَّصْدِيقُ بِجَمِيعِ الْمَسَائِلِ حَصَلَ الْعِلْمُ الْمَطْلُوبُ، وَلٰكِنَّ تَصَوُّرُ الْعِلْمِ الْمَطْلُوبِ بِحَدِّهٖ يَتَوَقَّفُ عَلٰى تَصَوُّرِ تِلْكَ التَّصْدِيقَاتِ لَا عَلٰى نَفْسِهَا فَالتَّصَوُّرُ غَيْرُ مُسْتَفَادٍ مِنَ التَّصْدِيقِ

**ترجمه** :- او دلته یوه عظیم الشانه فائده ده، او هغه دا چه حقیقت دهرعلم مسائل دے (علم) دی، ځکه چه اولاً دا مسائل حاصل وی بیا ددے (مسائلو) په مقابله کښ کوم نوم تجویزکولے شی۔ پس دعلم ماهیت او حقیقت ددے مسائلو نه علاوه بل څه نه وی نو دعلم معرفت حقیقی تعریف په اعتبار نه وی مگر په علم په ټولو مسائلو ددے باندے او دا خیز مقدمة الشروع فی العلم نه دے بلکه مقدمة معرفة دعلم بحسب الرسم دے ددے وجه نه ماتن تصریح کړیده په دے قول سره ورسموه او دا ئی او نه ویل وحدوه یا ددے پشان کوم بل عبارت، دپاره دخبردارئ په دے خبره باندے چه دهرعلم مقدمة الشروع ددے رسم وی نه حقیقی تعریف۔

که ته (د اعتراض په شکل) ووائی، چه علم بالمسائل دا تصدیق بالمسائل دے او معرفت دعلم ده په حد سره د تصور دده دے، او تصور د تصدیق نه حاصلیږی، زه به (جواب) کښ وایم چه علم بالمسائل دا تصدیق بالمسائل دے تر دے چه په ټولو مسائلو تصدیق حاصل شی نو علم مطلوب حاصلیږی لیکن تصور دعلم مطلوب په حد ددے سره دا موقوف دے په تصور ددے تصدیقاتو باندے نه نفس تصدیقاتو باندے نو تصور د تصدیق حاصل نشو،

**تشریح** :- قوله، وَهٰهُنَا فائدة الخ غرض دشارح رحمه الله په دے فائدے ذکرکولو سره بیان دجواب ثالث (توجیه ثالث) دے چه دا مذکور تعریف دعلم منطق رسمی دے نه حدی،

او خلاصه ددے وجه داده چه دهرعلم اصل او حقیقت ددے مسائل وی هم دا وجه ده چه څو مره علوم چه وی اول دهغوئ لپاره مسائل وضع کولے شی، بیا ددے مسائلو مطابق ددے دپاره نوم منتخب کولے شی دمسائلو نه بغیر دعلم کوم حقیقت او حیثیت نه وی، او تعریف بحده هغه وخته

پورے نشی حاصلیدے ترخو ددے علم ټول مسائل دابتدا نه تر انتها پورې حاصل نه وی، او دا ښکاره خبره ده چه مُقَدِّمَةُ الشروع فی العِلم کښې علم په ټامو مسائلو ممکن نه ښی کیدے ځکه چه په مُقَدِّمه کښې تعریف بالرسم دی تعریف بِحَدِّہٖ نشی کیدلے، ځکه چه حد عبارت وی د ذاتیاتو او دحقائقو نه او دا هله کیدے شِی چه علم په ټولو مسائلو حاصل شِی او دا حاصلیږی چه کله شروع په علم کښې کوی فالشروعُ موقوفٌ علَی الحدِّ والحدُّ موقوفٌ علی الشروعِ وهٰذا الدورُ وَهو باطِلٌ **قوله** حَقِيقَةَ كُلِّ علمِ الخ یدے باندے اعتراض واردیږی په دے شان سره چه شارح دلته اوویل حِقِیقَةُ کُلِّ علمٍ مسائِلُهٗ او وروستو ئے اوویل چه " العلم بالمسائل هو التصدیق بالمسائل" ددے مؤخّر الذکر عبارت نه معلومیږی چه حقیقت د علم تصدیق بالمسائل دے نه نفس مسائل، پس دواړو عبارتو کښې ښکاره تعارض دے، جواب دا دے چه اسماء د علومو مخصوصو لکه منطق، صرف، نحو، فقه وغیره اطلاق کله په معلوماتِ مخصوصه (مسائلو) باندے کیږی، لکه وئیلے شی فلانے سړی نحو پیژنی، یعنی د نحو په مسائلو معینه وُ باندے واقف دے، او کله اطلاق د معلوماتِ مخصوصه د علم باندے یعنی ددے تصدیقاتو اطلاق کیږی پس د رومبنی اطلاق په لحاظ حقیقت د هر علم ددے مسائل وی کما ذکرہٗ اولاً او د دویم اطلاق په لحاظ حقیقت د هر علم ددے مسائلو تصدیقات دی کما ذکرہٗ ثانِیًا فَلَا یَلزِمُ التَّعارض، **سوال** اجزاء د علومو درے دی، موضوع، او مَبادی، او مسائل، لکه چه په خاتمه کښې ذکر دی نو صرف په مسائلو باندے د علم اطلاق څه رنګ صحیح کیدے شی، **جواب** مسائل مقصود بالذات دی او موضوع او مبادی مقصود بالتبع دی، ځکه چه موضوع ته ضرورت ددے وجے نه دے ترڅو چه د موضوع په ذریعه بعض مسائلو د بعض نورو سره ارتباط راشی نو د علم واحد مصداق وګرځی، او مبادی ته ضرورت ددے وجے نه دے چه په دے مبادیو باندے مسائل موقوف وی، نو د شدّتِ احتیاج د وجے نه درے واړه اجزاء په علومو کښې شمار کړے شی کنے در حقیقت په علم کښې صرف مسائلو له اعتبار وی، **قوله** لِاَنَّهٗ قَدْ حَصَلَتْ الخ یدے باندے اعتراض واردیږی چه مسائل د علومو ورځ په ورځ ترقی کوی او زیاتیږی خو مره چه په افکارو کښې اضافه کیږی هم دومره علوم او فنونو کښې اضافه



راځی، پس شارح دا قول لِاَنَّهٗ قَدْ حصلت تلك المسائل ثُمَّ وضع الخ صحیح نشو، **جواب** دا دے چه کوم شی لپاره څه نوم مقرر وَل موقوف نه دی چه دا د حصول فی الخارج وی بلکه حصول فِی الذهن کافی دے، او د حصول فی الذهن دپاره دوه حیثیتین دی، یو اجمالی او بل تفصیلی، پس د شارح دا مقصد نه دے چه هغه مسائل بالفعل حاصل او مدوّن وی، ددے نه روسته ورله کوم نوم منتخب کولے شی، بلکه مقصد د شارح دا دے چه دا مسائل اجمالی طور باندے واخستے شی او بیا ورله هم په دے درجه کښې نوم ورله منتخب کړے شی، اګر که په دوی کښې بعض بالفعل حاصل وِی او بعض بالقُوّة حاصل وی،

**قوله**، دون ان یَّقُوْلَ الخ یعنی که ماتن د رسُمُوۂ په ځائے وحَدُّوۂ وئیلے وے نو دا به صحیح نه وُ ځکه چه حد او تعریف حقیقی د ذاتیاتو په ذریعه کولے شی، او ماتن چه کوم تعریف ذکر کړیدے دا د ذاتیاتو په ذریعه نه دے کما مَرَّ التفصیل، او که ماتن رحمه الله و هو (ای القانون) "اٰلَةٌ" قانونیةٌ الخ پائے عَرَّفُوۂ، بَیَّنُوۂ، فَسَّرُوۂ وغیره وئیلے وے نو دا اګرچه صحیح وُو، لیکن په دے صورت کښې امرِ مذکور باندے څه قسم تنبیه نه راتله،

**قوله** فان قلت الخ خلاصه د اعتراض دا ده، چه علم عبارت دے د مسائلو د تصدیقاتو نه او د رسم په ذریعه چه کوم علم حاصلوی هغه تصوّر وی، او تصور د تصدیق نه نه شی حاصلولی، بلکه تصور د تصوُّر نه حاصلولی شی، او خلاصه د جواب دا ده، چه دا صحیح دی چه علم بجمیع المسائل تصدیق دے او تعریف بحدّہ تصوُّر دے لیکن د تعریف بحدّہٖ تصور د دے تصدیقاتو په ذات باندے موقوف نه دے کما زعم المعترض بلکه تصور د تصدیقاتو پورے موقوف دے نو تصور د تصور نه حاصلولی شی نه د تصدیق نه فاندفع الاشکال.

**قوله**، وَالتصوُّرُ لا یستفادُ منَ التصدیق الخ او دا خبره مبنی ده په نمط د قیاس اقترانی سره، په دے شان سره چه " لاشیَٔ من التصدیق بکاسب للتصور لان کاسب التَّصَوُّرِ معرِّفٌ (صغری) وَکل معرّف مقول (کبری) لکاسب التَّصَوُّرِ مقولٌ (نتیجه) پس دا نتیجه مونږ صغری ګرځوؤ او ورسره کبری منضم کوؤ نو وایو، اِنَّ کاسب التَّصَوُّرِ مقولٌ ولاشیَٔ من المقول بتصدیقٍ فلاشیَٔ من کاسب التَّصَوُّرِ بتصدیقٍ. بیا په عکس د نتیجه سره

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلوب حاصلیږی وهو لا شئ من التصدیق بکاسبٍ للتصوُّرِ،

**قَالَ.** وَلَيْسَ كُلُّهُ بَدِيهِيًّا وَ اِلَّا لَا سْتَغْنٰى عَنْ تَعَلُّمِهٖ وَ لَا نَظَرِيًّا وَاِلَّا لَدَارَ اَوْ تَسَلْسَلَ، بَلْ بَعْضُهٗ بَدِيْهِيٌّ وَ بَعْضُهٗ نَظَرِيٌّ مُسْتَفَادٌ مِنْهُ، **اَقُوْلُ** هٰذَا اِشَارَةٌ اِلٰى جَوَابِ مُعَارَضَةٍ تُوْرَدُ هٰهُنَا، وَ تَوْجِيْهُهَا اَنْ يُّقَالَ اَلْمَنْطِقُ بَدِيْهِيٌّ فَلَا حَاجَةَ اِلٰى تَعَلُّمِهٖ، بَيَانُ الْاَوَّلِ اَنَّهٗ لَوْ لَمْ يَكُنِ الْمَنْطِقُ بَدِيْهِيًّا لَكَانَ كَسْبِيًّا فَاحْتِيْجَ فِيْ تَحْصِيْلِهٖ اِلٰى قَانُوْنٍ اٰخَرَ وَ ذَالِكَ الْقَانُوْنُ اَيْضًا يَحْتَاجُ اِلٰى قَانُوْنٍ اٰخَرَ فَاِمَّا اَنْ يَدُوْرَ بِهِ الْاِكْتِسَابُ اَوْ يَتَسَلْسَلَ وَ هُمَا مُحَالَانِ،

**ترجمه** :- ماتن (رحمه الله) وائی چه ټول علمِ منطق بدیهی نه دے کنے دا زده کړے نه به ئے بے پروایئ راشی او نه کل (علمِ منطق) نظری دے کنے دور یا تسلسل به لازم شی بلکه بعضِ علمِ منطق بدیهی دے او بعض نظری دے کوم چه د بدیهی نه حاصل کړیشوے دے، زه (شارح) وایم چه دا قال دیو معارضے جواب ته اشاره ده کوم چه دلته واردیږی، او د دے توجیه داده، چه ویلے شی چه منطق بدیهی دے نو د دے زده کړے ته ضرورت نشته داول (منطق بدیهی کیدل) بیان دا دے چه که منطق بدیهی نشی نو کسبی به شی نو د دے په تحصیل کښ به قانون ته ضرورت راځی او دا قانون هم (چونکه یځیله نظری دے) بل قانون محتاج کیږی، پس اکتساب یا د دور صورت کښ کیږی او یا د تسلسل په صورت کښ او دا دواړه محال دی،

**تشریح** :- **قوله**، اقولُ هٰذا الخ هرکله چه د هر کلام او د عبارت جدا جدا مقصد او غرض وی، نو شارح رحمهُ الله په دے عبارت سره اشاره کوی غرض د ماتن ته د دے عبارت نه په دے شان سره اصلاً دلته یوه معارضه واردیږی دا (قال) د هغے جواب کښ واقع شویدے، پس زده کړه دا خبره چه په دے مقام کښ لابدی ده د معرفت د امور ثلاثه نه، اول د فن مناظرے دیو څو اصطلاحاتو وضاحت دویم ورود معارضه تقریر دریم جواب د معارضے نه -

**تفصیل المقام** :- پس دلته د معارضے او د فن مناظرے د بعض نورو الفاظو مصطلحو تشریح کول ضروری دی د پاره د دے چه د معارضے



حقیقت په بنه طریقه سره واضح شی، اول منع، که استدلال کونکے دخپل مدعیٰ لپاره کوم دلیل راوړی نو د دے مقابل (خصم) د دلیل په کومه مقدمه معینه یا علی التعین د هرے مقدمے لره منع کړی او اووائی، چه لا نسلم. یا او وائی چه هٰذِهِ الْمُقَدِّمَةُ مَمْنُوعَةٌ، نو دے ته منع وائی، او مناقضه ورته هم وائی دویم سند منع - دیته وائی چه مقابل (خصم) د منع د مقدمه لپاره دلیل راوړی، کما یقال لا نُسَلِّمُ هٰذِهِ الْمُقَدِّمَةَ اِنَّمَا يَكُوْنُ كَذَالِكَ لَوْ كَانَ هٰكَذَا لِمَ لَا يَجُوْزُ اَنْ يَكُوْنَ هٰكَذَا دریم نقضِ اجمالی - چه مقابل (خصم) کوم غیر معین مقدمه لره منع کړی او خلل پکښ را او باسی لکه داسے او وائی چه ستا دلیل په ټولو مقدماتو سره صحیح نه دے، څلورم نقض تفصیلی چه مقابل (خصم) د دلیل کومه معینه مقدمه بیان کړی، پنځم معارضه مقابل (خصم) نقیض د مدعیٰ د مستدل په دلیل سره ثابت کړی

**"فائده"** معارضه په درے قسمه ده، معارضه بالقلب، معارضه بالمثل، معارضه بالغیر، ځکه چه د مقابل او د مستدل دلیلونه مادةً او صورةً متحد (یو شان) وی لکه مغالطة عامة الورود، یا قیاسات فقهیه، نو دے ته معارضه بالقلب وائی، او که صرف صورةً متحد وی، نو دے ته معارضه بالمثل وائی، او که نه مادةً متحد وی او نه صورةً نو دے ته معارضه بالغیر وائی، او د معارضے تقریر دا دے چه مخکښ ئے تقسیم د علم وکړو تصور او تصدیق ته بیان او یل چه تمام تصورات او تصدیقات نه نظری دی او نه بدیهی، او مقصود په دے سره احتیاج الی علم المنطق وو، نو اوس معارض وائی چه منطق محتاج الیه نه دے، ځکه چه علمِ منطق بدیهی دے ولے که بدیهی نه شی نو نظری او کسبی به شی، د دے په تحصیل کښ بل قانون ته ضرورت راځی او دا قانون د هم نظری دے، نو د دے په تحصیل کښ بل قانون ته ضرورت راځی او هغه به بیا نظری وی، هَلُمَّ جَرًّا که هم د غه شان ذهاب کوی، نو تسلسل لازمیږی، او که عود کوے نو دور لازمیږی، او دلائل د بطلان د دور او تسلسل مخکښ بیان شویدی، جواب مبنی دے په منع د ملازمه چه نه منو دا خبره چه کچرته منطق نظری شی، نو لازم به شی دور، یا تسلسل، ځکه چه منطق نظری دے، په اعتبار د بعضِ اجزاؤ سره، نو دور او تسلسل هم رالځی کما سیاتی التفصیل -

لَا يُقَالُ لَا نُسَلِّمُ لُزُوْمَ الدَّوْرِ اَوِ التَّسَلْسُلِ وَاِنَّمَا يَلْزَمُ لَوْ لَمْ تَنْتَهِ الْاِكْتِسَابُ اِلٰى قَانُوْنٍ بَدِيْهِيٍّ وَهُوَ مَمْنُوْعٌ لِاَنَّا نَقُوْلُ الْمَنْطِقُ مَجْمُوْعُ قَوَانِيْنِ الْاِكْتِسَابِ، فَاِذَا فَرَضْنَا اَنَّ الْمَنْطِقَ كَسْبِيٌّ وَحَاوَلْنَا اِكْتِسَابَهٗ فَاِذَا اِكْتَسَبْنَا قَانُوْنًا مِّنْهَا وَالتَّقْدِيْرُ اَنَّ الْاِكْتِسَابَ لَا يَتِمُّ اِلَّا بِالْمَنْطِقِ فَيَتَوَقَّفُ اِكْتِسَابُ ذَالِكَ الْقَانُوْنِ اِلٰى قَانُوْنٍ اٰخَرَ فَهُوَ اَيْضًا كَسْبِيٌّ عَلٰى ذَالِكَ التَّقْدِيْرِ فَالدَّوْرُ اَوِ التَّسَلْسُلُ لَازِمٌ، وَتَقْرِيْرُ الْجَوَابِ اَنَّ الْمَنْطِقَ لَيْسَ بِجَمِيْعِ الْاَجْزَاءِ بَدِيْهِيًّا وَاِلَّا لَاسْتَغْنٰى عَنْ تَعَلُّمِهٖ وَلَا بِجَمِيْعِ اَجْزَائِهٖ كَسْبِيًّا وَاِلَّا لَزِمَ الدَّوْرُ اَوِ التَّسَلْسُلُ كَمَا زَعَمَهُ الْمُعْتَرِضُ بَلْ بَعْضُ اَجْزَائِهٖ بَدِيْهِيٌّ كَالشَّكْلِ الْاَوَّلِ وَالْبَعْضُ الْاٰخَرُ كَسْبِيٌّ كَبَاقِي الْاَشْكَالِ وَالْبَعْضُ الْكَسْبِيُّ اِنَّمَا يُسْتَفَادُ مِنَ الْبَعْضِ الْبَدِيْهِيِّ فَلَا يَلْزَمُ الدَّوْرُ وَلَا التَّسَلْسُلُ

**ترجمه**:- خو لګ دِ دانه وائي چه مونږ د دور او د تسلسل لزوم نه منو ځکه چه دا (لزوم) په هغه وخت لازمیږی چه د اکتساب سلسله انتها يو بديهي قانون ته ونه رسيږی او دا ممنوع دے، ځکه چه مونږه وايو چه منطق د اکتساب تمام قوانينو مجموعه ده، پس کله چه مونږ منطق کسبي فرض کړو او مونږ اراده وکړو تحصيل د قانون د (قوانين) نه او فرض کړے شوے دا دے چه اکتساب صرف په منطق سره تماميږی، نو اکتساب د دے قانون په بل قانون به پورے موقوف او دا قانون (آخر هم کسبي د بنا په د مفروض باندے، نو دور او تسلسل لازم دے (او س د اصل معارضه) جواب تقرير دا دے چه منطق تما اجزاؤ سره بديهي نه دے ګڼے د دے زده کړے ته به ضرورت رانشی او نه تما مو اجزاؤ سره کسبي دے ګڼے دور يا تسلسل لازميږی څرنګه چه معترض ذکر کړو، بلکه بعض اجزاء د منطق بديهي دی لکه شکل اول، او بعض اجزاء ئے کسبي دی لکه باقی نور شکلونه، او بعض کسبي د بعض بديهي نه حاصلولے شي پس وُس نه دور لازميږی او نه تسلسل

**تشريح**:- **قوله** لَا يُقَالُ الخ غرض د شارح په دے عبارت سره بيان د اعتراض دے په معارضهٔ مذکوره باندے، نو دا اعتراض در حقيقت جواب کوځې د معارضی نه، ليکن هر کله چه دا جواب (د اعتراض په شکل) د شارح په نيز باندے صحيح نه وؤ، نو شارح به اول بيان د دے اعتراض وکړی بيا به په "لِاَنَّا نَقُوْلُ" سره جواب وکړی، نو اصل معارضه باقی پاتے شوه د هغه به بيا جواب وکړی په دِے قول خپل سره "وتقريرُ الجواب" الخ پس خلاصه



د اعتراض دا ده، کوم چه لَا يُقَالُ سره تعبير کړيږی چه نه منم چه د لته دور يا تسلسل لازميږی، ځکه چه منطق نظری شو او محتاج شو يو قانون ته نو هغه قانون يا نظری دے محتاج د بل قانون ته بيا را قانون هم نظری دے محتاج د بل قانون ته را پيے زه آخر ممکن دے چه بعض قانون بديهي وی، او طريقه د اکتساب د قوانين تر يو قانونِ بديهي پورے شوے وی يعني انتهاء ئې په يو بديهي قانون پورے شوے وی، نو بيا دور او تسلسل لازم نشو؟

نو شارح د دے اعتراض نه جواب کړے دے په دے قول سره چه "لِاَنَّا نَقُوْلُ الخ" دے، او خلاصه د جواب دا ده چه دا اعتراض هله کيدے شي چه کله منطق عبارت شي د يو خاص قوانينو نه، حالانکه منطق عبارت دے د مجموعي د قوانينو نه په دے شان سره چه اکتساب د تصور را توی او که د تصديق وی او د معرف او د قولِ شارِح نه کيږی، او دوئيم د حجت او د قياس نه نو د اکتساب جمله قوانين په دے دو اړو کښ منحصر شول، د دے نه روسته کوم دا سے قانون نشی پاتے کيدے چه هغه متعلق بالاکتساب وی، پس هر کله چه د منطق ټول مسائل فرض کړے شی نو د اکتساب هيڅ يو قانون بديهي نشی کيدے او نه د اکتساب انتهاء کوم بديهي قانون باندے کيدے شی نو د دے وجه نه په تقدير د کسبيت د منطق لزوم د دور يا د تسلسل يقيني خبره ده،

**قوله** و تقريرِ الجواب الخ د معارضے نه شارح دوه جوابونه ذکر کړيدی، اول جواب په دے قول خپل "و تقرير الجواب الخ" سره ذکر کړيدے، دا جواب له ماتن له خوانه دے، او دوئيم جواب ته شارح اشاره کړے ده په دے قول سره چه "و اعلم ان هٰهنا مقامين الخ" دے او دا جواب د شارح له خوانه دے، پس خلاصه د جوابِ اول (کوم چه اصل جواب د معارضه دے) دا دے چه منطق نهٔ په تمامو اجزاؤ سره بديهي دے، او نه په تمامو اجزاؤ سره کسبي دے بلکه د دے بعض مسائل بديهي دی، او بعض نظری دی، بديهي مسائل لکه شکل اول ځکه چه د دے نتائج بالکل ظاهر دي لکه کوم انسان د شکلِ اول د ضرب اول په طريقے باندے د موجبتينو علم راشي او د دے موجبه کليه باندے علم راشي کوم چه د شکل اول نتيجه وی نو د دے انسان په دے خبره باندے يقين راځي چه دا نتيجه د دے لپاره لازم ده، لکه كُلُّ اِنْسَانٍ حَيَوَانٌ وَكُلُّ حَيَوَانٍ جِسْمٌ يَنْتُجُ كُلُّ اِنْسَانٍ جِسْمٌ، او همدغه شان قياسِ

Maktaba Tul Ishaat.com

استثنائي متصل بديهي الانتاج وي، ځکه چه کوم انسان د ملازمت او دوجود د ملزوم نه واقف شي نو وجود د لازم باندے يقينًا واقف کيږي او همدغه شان، که نقيض د تالي استثناء کړے شي، نو د دے نتيجه هم بديهي وي، لکه ان کان هٰذا انسانًا کان حيوانًا لٰکنّهٗ ليس بحيوانٍ ينتج انهٗ ليس بحيوانٍ - او همدا رنګ د قياس استثنائي منفصل، د عکس او د نقيض د يرخه مسائل بديهي وي. **سوال** هرکله چه ډير مسائل د منطق بديهي دي، نو په کتابونو کښ د دے مسائلو ذکر او تدوين کول او بحث ترے نه کولو ته څه ضرورت دے؟ **جواب** تدوين او ذکر کول د دا سے مسائلو په کتابونو کښ دوه فائدے لري، اوله فائده پکښ دا ده چه ځنې په د مسائلو سره د بداهت والی څه قدر خفاء پکښ وي، نو محتاج شول تنبيه ته، او دويمه فائده پکښ دا ده چه دا مسائل بديهيه ذريعه دی د پاره د وصول د مسائلو کسبيه، په دے شان سره چه مسائل نظری د دے بديهيانو په ذريعه حاصل کولے شي، **قوله** کما ذکره المعترض الخ د دے تعلق د وارو لازمينو سره دے په دے شان سره چه بداهت د ټول منطق په صورت کښ تعلم د منطق استغناء لازميدل او د نظريت د ټول منطق په صورت کښ دور يا تسلسل لازميدل د واړه مقدّمي الزامي دي چه د دے معترض پخپله هم اعتراف کوی، نهما نافعتان في الجواب عن اعتراضه، **قوله** والبعض الکسبي الخ په دے باندے اعتراض وارد يږی چه کوم بعض نظری مسائلو اکتساب د بديهي نه کيږی دا بغير د نظر نه نشي کيدے نو د دے نظر د معرفت حاصلولو لپاره کوم بل قانون ته ضرورت راغئ و هٰکذا فعاد المحذور و هُوَ لزومُ الدور او التسلسل جواب دا دے چه دا طريقه د نظر نظری نه ده بلکه بديهي ده، پس قانون آخر ته ضرورت رانغئ، او د دے وضاحت دا دے چه د اقول ستا مثلًا " کُلُّ انسانٍ حيوانٌ وَلَا شيءَ من الحيوانِ بحجرٍ ينتج لا شيءَ مِنَ الانسان بحجرٍ د شکل اول نه او خوک چه تصور د متقدمتينو او د نتيجي وکړی نو د هغه به ضرور يقين راځي چه دا نتيجه لازم ده د مقدّمتينو لپاره او عکس د کبری ور سره لازم دے، قطعًا او بداهةً، ځکه چه هره قضيه دا لازمه ده چه عکس به ئے بداهةً راځي، نو کله چه ئے ته عکس وکړے نو رجوع به وکړی شکل ثاني ته نو شکل ثاني لازم شو د شکل اول سره په عکس د کبری نو انتاج د



شکل اول نه انتاج د شکل ثاني لازميږی، لانّ صحّة الملزوم تقتضي صحّة اللازم نو خلاصه ئے دا شوه چه انتاج د شکل ثاني دے، ليکن مونږ ئے اکتساب د شکل اول نه وکړو او دا بديهي او طريقه هم بديهيه ده فلا حاجة الٰی قانونٍ حتّی يرد مَا يرد،

وَاعلم اَنَّ هٰهُنَا مقامين الاَوّلُ الاحتياجُ اِلَی نفسِ المنطقِ، والثّاني الاحتياج الی تعلّمه وَ الدّليلُ اِنّما ينتهضُ علٰی ثبوتِ الاحتياجِ لَه اِلٰی تعلّمه وَالمعارضة المذکورة وَ اِن فرضنا اِتمامها لا تدلّ اِلّا علی الاستغناءِ عن تعلّمِ المنطق وهو لا يناقض الاحتياجَ اِليه فلا يُبعدُ اَن لا يحتاجَ الی تعلّمِ المنطقِ بکونه مرزوقًا بجميعِ اجزائه او لکونه معلومًا بجميعِ اجزائه او لکونه معلومًا بشيءٍ آخرَ وتکونُ الحاجةُ ماسّةً اِلٰی نفسه في تحصيلِ العلومِ النّظريّةِ فالمذکورُ في معرضِ المعارضةِ لا يصلحُ للمعارضةِ لِاَنّها المقابلةُ علی سبيلِ الممانعةِ -

**ترجمه**:- پوهه شه چه په دے ځائ کښ دوه مقامه دي اول نفس منطق ته ضرورت، دويم تعلّم (زده کړی) د منطق ته ضرورت، او دليل مبنی دے په ثبوت د احتياج نفس منطق ته نه تعلّم د منطق ته، او معارضه مذکوره که مونږ مکمّل فرض کړو نو دا دلالت نه کوی مګر استغنی د تعلّم (زده کړی) د منطق باندے، او دا احتياج د نفس منطق سره منافي نه دے پس دا خبره څه لرے نه ده چه تعلّم د منطق ته د دے وجے نه ضرورت نه وی چه دا تمامو اجزاؤ سره بديهي دے، او يا د دے وجے نه چه دا (تعلّم د منطق) معلوم وی په شئ آخر سره او حاجت عارض وی نفس منطق ته په زده کړے د علوم نظريو کښ، پس د معارضے په موقع باندے چه کوم ذکر کړے شو هغه د معارضے صلاحيت نه لری ځکه چه معارضه د ممانعت په طريقه د مقابلے نوم دے،

**توضيح اللغات**[3]:- (۱) مقامين تثنيه د مقام ده او مقام صيغه د ظرف ده د (ق) يا صيغه د مصدر ميمی ده په لغت کښ موضعُ القدمين - مَوضع الاِقامة - اَلاِقامة - مجلس ته وائي، او په اصطلاح کښ مقام نه مراد دلته مدّعٰی دے،

(٢) یَنتھِضُ: صیغه واحد مذکر غائب فعل مضارع ده دباب افتعال نه مجرد ئې نَهَض (ف) دے په معنی دقیام، تَحَرُّك، سُرعت، او قوّت ته وائی وَالمناسِبُ الاَوّلُ،

(٣) معارضه صیغه دمصدر ده، دباب مفاعله نه، په لغت کښې مقابله علیٰ سبیل الممانعة ته وائی، او په اصطلاح کښې معارضه عبارت دے داقامة الدّلیل علیٰ خلافِ مَا اقامَ الدَّلِیْلُ علیه الخَصْمُ کَمَا مَرَّ،

(۴) ممانعة په لغت کښې منع والی ته وائی، او په اصطلاح کښې امتناعُ السائِلِ عَنْ قَبُوْلِ مَا اَوْجَبَهُ المعَلّل مِن غیرِ دلیل ته وائی،

**تشریح**:- **قوله**، وَاعلَمْ ان ههُنا الخ غرض دشارِح په دے عبارت سره بیان ددوئیم جواب دے دمعارضه مذکوره، ځکه چه کوم جواب ذکرووُ، هغه د مَاتِن دطرفه وو، اودا جواب دشارِح دطرفه دے خلاصه د دے جواب دشارح داده چه دلته دوه دعوی دی اوّل احتیاج اِلیٰ نَفْسِ المنطق دوئیم احتیاج اِلیٰ تَعَلُّمِ المنطق دلیل مذکور (سابقًا) سره احتیاج اِلی المنطق ثابتیږی نه احتیاج الی تَعَلُّمِ المنطق، او معارضه مذکوره ددے دمُقدّمَا تو نه قطع که مکمّل صحیح فرض کړے شی نو دے نه زیات نه زیات دا ثابتیږی چه مونږ دتَعَلُّمُ د منطق نه مستغنی یُو، او دلے بنازی او استغناء د نفس منطق ضرورت او احتیاج سره منافی او معارض نه ده ځکه چه کیدے شی چه تَعَلُّم (زده کړه) دمنطق ته ضرورت په دے وجه رانشی چه تمام مسائل دمنطق بدیهی وی، یا دا دیل شی په ذریعه حاصل کړے شی، لیکن دعلوم نظریو په تحصیل په هرحال منطق ته ضرورت راځی پس حاصل دخبرے دا شو چه معارضه رد په تعلم د منطق باندے دے اودا څمونږ مَقصود نه دے بلکه څمونږ مقصود اثبات دا حتیاج الی المنطق دے، نو چه کوم مقصود دے هغه رد نه دے، او کوم چه رد دے هغه مقصود نه دے، پس دا معارضه بے ځائے شو، **قوله** فالمذکور الخ یعنی دا معارضه د معارضه جوړیدلو صلاحیت او قابلیت نه لری ځکه چه معارضه مقابله علیٰ سبیل الممانعة وی، پس دا معارضه په حقیقت کښې دد دے خبرے صلاحیت نه لری چه د مستدل د دلیل معارض شی ددے وجه نه چه معارضه دے ته وائی، چه دلیل په مقابله کښې بل داسے یو دلیل قایم کړے شی



چه ددے وجه د مخکنی دلیل د (مدعیٰ) نقیض ثابت کړے شی، او په مذکوره معارضه سره خلاف د مدعیٰ نهٔ ثابتیږی بلکه تَعَلُّم د منطق نه استغناء ثابتیږی کوم چه احتیاج اِلَی المنطق سره هیڅ قسم منافی نه دے ځکه چه کیدے شی چه دعلومِ نظریَو د زده کړے لپاره منطق ته ضرورت راشی، او دمنطق بدیهی کیدو په وجه تَعَلُّم دَمنطق ضرور ، فَاَیْنَ هٰذا مِنْ ذَالِکَ۔

**تنبیـه** « شارح رحمهُ الله دمَاتن ددے قول مذکور " وَلَیْسَ کُلُّهٗ بَدِیهِیًّا الخ غرض بیان کړے وو چه دا اشاره ده جواب دیوے معارضے ته چه دغه ځائی کښې وارد یده، حیث قَالَ اَقُوْلُ هٰذا اِشارةٌ اِلیٰ جوابِ معارضةٍ تورِدُ هٰهُنَا الخ لیکن دماتن ددے قول مذکور غرض په بل طریقے سره هم بیا نولے شی، بیا دا جواب دمعارضه نشی کیدے په دے شان سره چه غرض دمصنفؒ په دے عبارت سره اشاره ده جواب دسوال مقدر ته، حاصل دسوال دا دے، چه ماتن مخکښې "احتیاج الیَ المنطق" دپاره دلیل ذکر کړو نو وس پرے اعتراض دا وارد یږی، چه علم منطق به خالی نه وائی، یا به ئے بدیهی وائی، او یا به ئے نظری وائی، نو که منطق بتمامه بدیهی شی بیا تدوین او ذکر کولو ته ئے په کتابونو کښې څه ضرورت او حاجت نشته او که نظری شی نو بیا ددے علمِ منطق تحصیل (زده کړه ئے) محال ده بیا هم په کتابونو کښې تدوین کولو حاجت او ضرورت نشته، نو ماتن راغے جواب ئے وکړو په دے قول خپل سره چه "ولیسَ کُلُّهٗ بدِیهیًّا الخ
او خلاصه دجواب داده چه علم منطق بِتَمَامِهٖ نه بدیهی دے او نه نظری دے بلکه بعضِ بدیهی او بعضِ نظری دی نو ددے وجه نه تدوین ته ئے ضرورت راغے۔

قَالَ البحثُ الثانِی فِی مَوْضوعِ المَنْطِقِ الخ اَقُوْلُ قَدْ سَمِعْتَ اَنَّ العِلْمَ لَایَتَمَیَّزُ عِندَ العَقْلِ اِلاَّ بعدَ العِلْمِ بِمَوْضوعِهٖ وَلَمَّا کَانَ مَوْضُوْعُ المَنطقِ اَخَصَّ مِن مطلقِ المَوْضُوْعِ وَالعِلْمُ بالخاصِ مَسْبُوْقٌ بالعِلْمِ بالعَامِ وَجَبَ اَوَّلاً تَعْرِیْفُ مُطْلَقِ مَوْضوعِ العِلْمِ حَتّیٰ یحصِلُ معرفَةُ مَوْضوعِ علمِ المنطقِ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

# «الاعتذار والمشورة في ترك الترجمة»

د قطبي (كتاب) دشروع نه تردے خائے پورے دشرح سره سره ترجمه هم هم ليكلے شويده، ليكن ددے نه روستو به ترجمه ترك كولے شي، او دا ترجمه دخو وجوهو نه ترك كولے شي،

اوّل دكتاب په اوائل كښ مشكل الفاظ او لغات ډير په كثرت سره وو ليكن دے نه روسته خه ډير مشكل الفاظ او لغات نشته، بيا هم كه كوم خائے كښ قابل تشريح لغات مخے ته راشي د هغے به پوره پوره وضاحت كولے شي

دوئيم[2] هركله چه دا شرح د قطبي ډيره اوږديدله نو ما بعض اكابرو سره مشوره وكړه نو هغوئي دا مشوره راكړه چه كه ترجمه حذف كړے شي نو دا ختصار مراعت به وكړے شي،

دريم[3] هركله چه د الفاظ توضيح وكړے شي او دمقام تشريح وكړے شي نو ترجمه او عبارت لګول آسان شي.

نو ترجمه او عبارت لګول آسان شي.

خلورم[4] ددے شرح خه مسوّدے ما مكتبه والاته حواله كړل، نو صاحب المكتبة هم اووئيل چه دكتاب په تشريح كښ اختصار مراعت كول به مفيدوى، نوزه (بنده نعماني) په خائے ددے چه دمقاما تو او ددرسونو تشريح كښ اختصار وكړم ما مناسب وګڼلو چه په ترك د ترجمة العبارة سره اختصار وكړم ؎

وَلِلنَّاسِ فِيْمَا يَعْشِقُوْنَ مَذَاهِبُ

**تشريح المقام**:- **قوله** قَالَ البحث الثانی ما يبحث فيه عن عوارضه الخ

هركله چه مصنف رح فارغ شو دجزء ثانیٔ د مقدّمه نه نو شروع ئے وكړه په جزء ثالث دمقدمه كښ، **سوال** بحث په لغت كښ مطلق تفحص او تلاش ته وائي، او په اصطلاح كښ ثبوت د محمولا تو ده موضوعاتو لره په دليل سره، په نظر يا توكښ او په تنبيه سره په بديهيا توكښ، اوس دلته ثبوت د محمولا تو لره شته خو عوارض ذاتيهٔ د موضوع د علم محمولات كرځولے ده، نو قَلْبُ المقصود راغے ځكه چه عوارض ذاتيه خپله محمولات دي نهٔ موضوعات، **جواب** دا سوال ستا هله وارديږي چه عبارت بظاهر



بانے شي، ليكن دلته پكښ تصرف شويدے، په دے شان سره چه يبحث په معنیٰ ديرجع ده، فيه كښ ضمير راجع دے علم ته او عَنْ (په عَنْ عوارضه كښ) په معنیٰ دوائي سره ده، او عوارضه كښ ضمير راجع دے شئ ته نو معنیٰ به ئے داسے شي چه «موضوع دهر علم، هر هغه شئ دے چه رجوع كولے شي عوارض ذاتيه د دغه شي ته، نو عوارضِ ذاتيه محمولات شول، **سوال**. توصيف دعوارضو په ذاتيه سره صحيح نهٔ دے، ځكه چه عوارِض جمع دعارض ده خارج دشئ ته وائي، او ذاتي داخل دشئ ته وائي، او مابين دداخل او خارج كښ منافات دے! **جواب** مراد دعارض او ذاتي نه د فن ايساغوجي نه دي چه داخل او خارج ته وائي، بلكه مراد دعارض نه دا چه مَا لَا يَكُوْنُ مستندًا اِلَى الذَّاتِ، سواءٌ كَانَ دَاخِلاً فِي الشيء اَمْ خارِجًا منهُ، او مراد د ذاتي نه دا چه مايَكُوْنُ مستندًا الَى الذَّاتِ دے، **قوله** اَقُوْلُ قَدْ سمِعتَ انَّ العلمَ الخ غرض د شارح رحمهٔ الله په دے عبارت سره، خلور خبرى دى، اوّل[1] اشاره كول دي، احتياج د موضوع دعلم ته چه دا محتاجٌ اليه دے (لِاَنَّ تمايُز العلومِ بِحَسَبِ تمايُز الموضوعات دوئيم[2] اشاره كول دى تفصيل دعوارض ذاتيه او غريبهٔ و ته دريم[3] اشاره ده هغه اعتراض ته چه په مابين دعارض او دلذاته كښ منافات دے كَمَا مَرَّ الاعتراض مَعَ الجواب خلورم[4] اشارهٔ اعتراض ته كوم اعتراض چه وارديږي په ماتن رحمهٔ الله باندے، خلاصه دا عتراض دا ده چه دلته مقصود ذكر د موضوع د علم منطق دے نه بيان د مطلق موضوع، نو اشتغال ستا به ذكر د مطلق موضوع اشتغال بما لا يعنى ده او ترك د ما يعنى ده، او حاصل دجواب دا دے چه موضوع دعلم منطق خاص ده او مطلق موضوع عام ده، او معرفت د خاص موقوف وي تر معرفت دعام پورے، نو مطلق موضوع عليه شو لپاره دموضوع دعلمِ منطق او بحث د موقوفٌ عليه د شي، دا عينِ بحث وي د شي نه، نو اشتغال بما لا يعنى نشو، او همدغه شان موضوع دعلمِ منطق مقيد ده او مطلق موضوع مطلق دے او معرفت د مقيد موقوف تر معرفت د مطلق پورے.

قوله، قَدْ سمعت انَّ العِلمَ لَا يَتَمَيَّزُ الخ يعنى دعلوموجُدا منځ كښ فرق او امتياز صرف ـــــــ د موضوعا تو سره حاصليږي، پدے باندے اعتراض

واردیږی، خلاصه دا عتراض داده چه تعریف بالرّسم علم بالخاصه لره مستلزم دوی، او که چه علم بالخاصه راشی نو د علوم وخپل مینځ کښې تمائز راځی، نو بیا د شارح داقول "اِنَّ العِلمَ لَا یَتَمَیَّزُ الخ صحیح نشو، جواب دادے چه تمائز نه مراد تمایز ذاتی دے، او کوم تمایز چه خاصه سره حاصلیږی هغه تمائز خارجی دے نه تمایز ذاتی، سوال کوم تمائز چه خاصه سره حاصلیږی دا تمائز خارجی دی، نو دغه شان کوم تمائز چه موضوع سره حاصلیږی هغه هم تمائز خارجی وی پس جواب مذکور صحیح نشو که ته وائی چه قوم اجزاء د علوم درے شمار کړی دی اول[1] مبادی دویم[2] موضوع دریم[3] مسائل، نو معلومه شوه دا خبره چه موضوع د علم جزو دے نو کوم تمائز چه حاصل وی په موضوع سره هغه ذاتی وی نو جواب مذکور صحیح شو، نو زه وایم چه داوهم محض دے، ځکه چه علم درحقیقت د مسائلو نوم دے او موضوع او مبادی ته د شدّت احتیاج د وجے تسامحًا اجزاء د علم شمار کړے شویدی کما صَرَّح به السَّید الشریف نو جواب مذکور صحیح پاتے نشو، پس اصل اعتراض باقی دے، نو صحیح جواب دا صل اعتراض نه دادے چه علم بالخاصه نه صرف ذومره معلومیږی چه دا مسئله د فلانی علم ده پاتے شو د مسائلو دا متیاز پس دا په علم بالخاصه سره نه حاصلیږی ځکه چه ډیر مسائل په څو علوموکښې مشترك وی لکه د زمکې د کروی کیدلو مسئله که په دے باندے دلیل لِمّی قائم کړے شی نو دا د علمِ طبعی مسئله کرځی، او که دلیل اِنّی قائم کړے شی نو دا د علمِ ریاضی مسئله کرځی کما صرّح بِهِ اَلشیخُ فِی الشّفاءِ،

او س د علم بالخاصه نه دا خو معلومیږی چه دا مسئله د فلانی علم ده لیکن دے نه دا نه لازمیږی چه دا دبل علم مسئله نه ده نو احتمال د اشتراك راځی نو تمائز حاصل نشو، بخلاف د موضوع نه، ځکه چه د موضوع سره د علم امتیاز راځی، او دا هم ورسره معلومیږی چه دا مسئله په دے حیثیت د فلانی علم مسئله ده، او په دے حیثیت سره د فلانی علم مسئله ده،

**قوله،** وَ لَمّا کَانَ الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب د سوال مقدر دے، خلاصه د سوال دا دے چه بحث ثانی په بیان د موضوع د علم منطق کښې نو اول د دے تعریف کوُل پکار دی، حالانکه ماتن اول بحث او تفصیل د مطلق



موضوع نے کړیدے، تقدیم د مقصود اولی وی په غیر مقصود باندے ځکه چه مقصود خو نږ موضوع د علم منطق ده نه مطلق موضوع، او حاصل د جواب دادے الامر کذالِكَ لیکن موضوع د منطق خاص ده مطلق موضوع داده او معرفت د خاص موقوف وی تر معرفت د عام پورے (بالفاظِ دیگر) موضوع د منطق مقید ده او مطلق موضوع خو مطلق ده، او معرفت د مقید موقوف وی تر معرفت د مطلق پورے، او قاعده داده چه موقوفٌ علیه مقدَّم وی په موقوف باندے،

وفی التسهیل ص[18] قد جرت عادة المؤلّفینَ فی علمِ المنطق عند ما یتکلمون عن موضوعِ المنطق، ان یذکروا تعریف مطلق الموضوع و السِرُّ فی هٰذا هو اَنَّ موضوع المنطق جزئیٌّ مِنْ موضوع کلِّ علمٍ مِنْ حیث هو کلّیٌّ ومعرفة مفهومِ الکلی یسهل معرفةُ مفهومِ الجزئی، فَلِذَا قَالَ موضوع کلِّ علمِ الخ

**قوله،** فموضوعُ کلِّ علمٍ مَا یبحثُ الخ زده کړه دا خبره چه موضوع صیغه د اسم مفعول ده مشتق ده د وضع نه، او وضع په لغت کښې (نهادن) ته وائی، او په اصطلاح کښې د موضوع مختلف تعریفونه شویدی (1) اول اثباتُ المحمولاتِ للموضوعاتِ، دویم[2] هو محل العرض المختص بهٖ دریم[3] الامرالموجود فِی الذهنِ، لیکن مشهور تعریف دادے چه "مَا یُبحَثُ فِیْهِ عَنْ عوارضه الذاتیّةِ الخ بحث په لغت کښې کشف ــــــ او طلب ته وائی، یُقَالُ بَحَثَ مِنَ الامرِ بَحْثًا و بَحَثْتُ کَذَا ای کَشَفْتُ و طَلَبْتُ، او هم دغه شان بحث د زمکے کنستل (اکوغالی) ته هم وائی، و فی التنزیلِ فَبَعَثَ اللهُ غرابًا یبحثُ فِی الارضِ، او په اصطلاح کښې د بحث هم مختلف تعریفونه شوی دی، اوّل حمل شئٍ علیٰ شئٍ دویم[2] اثباتُ النسبةِ الخبریّةِ بین الشیئین بالدلیلِ دریم[3] اثباتُ المحمولِ للموضوعِ څلورم[4] اثبات العرض الذاتی لِموْضُوعِ العِلمِ وَ غیرِ ذالِكَ۔

او دلته یُبحَثُ په معنیٰ د یُرجَع سره دے کما مرّ یعنی د عوارضونه د بحث دا مطلب نه دے چه عوارضِ موضوع د علم لپاره محمولات کرځولے شی بلکه مقصد دادے چه بحث هغه عوارضو ته راجع دے چه کوم عوارض د موضوع د علم محمول وی، یا غیر محمول، د محمول صورت دادے چه د علم موضوع [illegible] موضوع جوړ کړے شی، او ورے په عوارض کښې یو

Maktaba Tul Ishaat.com

عارض لره موضوع علم باندے محمول کرے شی، لکه "الکلمةُ اِمّا مُعربٌ او مَبنِیٌ"، یا موضوع دعلم نوعَ باندے محمول کرے شی لکه "الحروف کلّها مبنیّةٌ"، یا اعراضِ ذاتیه دموضوع دعلم باندے محمول کرے شی لکه "المعربُ اللّفظی اِمّا مرفوعٌ اومنصوبٌ او مجرورٌ"،

اُوس مشهور تعریف دموضوع دعلم باندے داا اعتراض وارد یږی چه دا تعریف صحیح نهٔ دے ځکه چه دی نه معلومیږی چه په علومو کښ صرف عوارض د موضوع دعلم نه بحث کیږی، حالانکه دا سے نه ده ځکه چه علوموکښ بحث دیو څوامورو نه کیږی اوّل[1] عرض ذاتیه د موضوع دعلم نه دوئیم[2] انواع دَعوارضِ ذاتیه دموضوع دعلم نه دریئم[3] عوارضِ ذاتیه دعوارضِ ذاتیو دموضوع دعلم نه دی، جزد موضوع دعوارضِ ذاتیهٔ نه، څلورم[4] دموضوع دعوارضِ ذاتیه دانواع دعوارضِ ذاتیهٔ نه دی تولو نه بحث کیږی، او تا صرف یو یوکښ منحصر کړے دَے، ددے مذکور الذکر اعتراض څخه علامه محقق جلال الدین دوانی رحمهٔ الله جواب کړیدے، خلاصه دجواب داده چه مشهور تعریف مبنی دے په تسامح باندے، په دے شان سره چه په دے کښ داختصار نه کار اخستلے شویدے ګنی درحقیقت په علوموکښ دد ے مذکوره تولو نه بحث کیږی،

دوئیم جواب دا دَے چه محمول دعلم او محمول دمسئله کښ فرق دَے لکه څنګه چه موضوع دعلم او موضوع دمسئله کښ فرق دَے، نو څنګه چه دعلم موضوع کله بعینه موضوع دمسئله وی، لکه "الجِسمُ متحَیِّزٌ"، او کله موضوع دعلم بعینه موضوع دمسئله نه وی لکه "الحیوانُ متحرِّكٌ بالارادةِ" همدغه شان محمول دعلم کله بعینه محمول دمسئله وی لکه "کلُّ جِسمٍ فَلَهٗ حیِّزٌ طَبعِیٌّ" او کله محمول دعلم بعینه محمول د مسئله نه وی لکه "الفلكُ لَا یَقبَلُ الخرْقَ وَالِالتِیَامَ" که امتناع دخرق و التیام منفرد واخستلے شی، نو دا فلك لپاره ثابت دے، او فلك د جسمِ طبعی نوع ده. او جسمِ طبعی دعلمِ طبعی موضوع دَه او دے لره ددے مقابل یعنی قبولِ خرق والالتیام سره واخستلے شی او په طریقه د تردید سره دا سے او ویلے شی، الجِسمُ اِمّا اَنْ یَمْتَنِعَ خِرْقَهٗ



وَالِتِیَامُهٗ، او لَا یَمْتَنِعَ، نو دا دجسمِ طبعی دپاره عرض ذاتی دَے، نو هرکله چه محمول دعلم دمحمول دمسئله نه غیر شی نو په دے صورکښ محمولات دمسائلو کښ دننه یوامر مردود دا نه روی، کوم چه موضوع دعلم لپاره عرضِ ذاتی وی، لهٰذا په هرصورت باندے مبحوث عنه په حقیقت کښ هغه محمول دعلم دَے،

قوله و العوارض الذاتیة هی الّتی تلحق ...... فیکون العارض الضَّ‍نيدًا الی النا‌ت

توضیح[4] اللغات:- (۱) تلحقُ. صیغهٔ واحده مؤنثه غائبه فعل مضارع معلوم ده د (س) باب نه په معنیٰ د لزوم او لصوق (پیوست و الحاق) او ادراك ته وائی، و فی دعاءِ القُنُوتِ اِن عذابكَ الجِدَّ بالکفار مُلحِقٌ، (۲) تعجب (س) نه په لغت کښ انکار کولو ته وائی دوجه دعدم اعتیادنه، او په اصطلاح کښ استعظامُ امرٍ ظاهِرُ المزیّةِ خافی السَّبب ته وائی وقیل ادراكُ امورِ الغریبةِ، (۳) ضحك، د (س) نه په لغت کښ دشوندی کولاویدل او غابنونه ښکاریدلو ته وائی، او په اصطلاح کښ دا عبارت دَے دهغه خندا څخه چه انسان بخپله خوواوری لیکن ګوانډی (دما څخه) وا نه وری، والتفصیل فی کتبِ الفقه.

(۴) مستند صیغهٔ واحد مذکر اسم مفعول ده، دبابِ استفعال نه مجرد ئے د (ن) نه راځی په معنیٰ دمیلان، اعتماد، تکیاسره،

تشریح المقام:- قوله و العوارض الخ غرض دشارح په دَے عبارت سره اشاره کول دی یو څو امورو ته. اوّل غرض دشارح تفصیل کول دی په عوارضو کښ، او دوئیم[2] غرض دشارح تقسیم دعوارضو دے ذاتیه او غریبه ؤ ته او ددوئی اقسامو ته، او دریئم[3] غرض دشارح اشاره کول دی وجه تسمیه دعوارضو ذاتیه ؤ او غریبه ؤ ته،

تفصیل المقام:- زده کړه دا خبره چه عوارض په دوه قسمه دی اوّل عوارض ذاتیه او دوئیم[2] قسم عوارضِ غریبه، او وجه دحصر په دے دواړو کښ داده، چه دا عوارض به خالی نه وائی، یا به منسوب وی، ذات دمعروض ته ذاتًا یا واسطةً، او یا به منسوب نه وی ذات دمعروض ته بلکه غرابت به وی په نسبت دذات معروض، اول عوارض

ذاتیه شول، او دوّیم عوارضِ غریبه شول، بیا عوارض ذاتیه په خپل کورکښ په درے قسمه دی، او عوارضِ غریبه هم درے قسمه دی
اوّل[1] قِسم دعرض ذاتی هغه عرض دے چه شی ته عارض وی بالذات وی بالذات بغیر دخهٔ واسطے نه لکه تعجب چه عارضیږی انسان ته په وخت دادراك دامرِ عجیبه او غریبه کښ نو تعجب عارضیږی انسان ته بغیر دخهٔ واسطے نه، او دوّ[2]یم قِسم دعرض ذاتی هغه عرض دے چه شی ته عارضیږی په واسطے د جزء دهغه شی سره، لکه حرکت بالاراده چه عارضیږی انسان ته په واسطه د حیوان سره، او حیوان دماهیت انسان (حیوان ناطق) جزدے،
او درّ[3]یم قسم هغه عرض ذاتی دے،
اودا هغه عرض دے چه شی ته عارضیږی په واسطه دامر مساوی سره لکه ضِحك چه عارضیږی انسان ته په واسطه د تعجب سره،
او متعجب مساوی دے دانسان سره په دے شان سره چه کوم افرادو باندے انسان صادقیږی، په هغوئی باندے متعجب هم صادقیږی، پس په مابین دد وئی کښ نسبت دمساوات دے.
او عوارضِ غریبه هم په درے قسمه دی اوّل[1] قسم هغه عرض دے چه عارض وی شی ته په واسطه دامر اعم سره چه هغه امرِ اعم په داخل نه وی په ذات د معروض کښ، مثال لکه حرکت چه عارضیږی ابیض ته په واسطه د حیوان سره، ځکه چه حرکت اوّلاً و بالذّات حیوان ته عارضیږی او بیا په واسطه د جسم سره ابیض ته عارضیږی، او حیوان اعم دے د ابیض نه، ځکه چه په مابین د حیوان او د ابیض کښ نسبت د عموم خصوص من وجه دے، یا لکه حرکت چه عارضیږی انسان ته په واسطه د حیوان سره، او دوّ[2]یم قِسم د عرض غریبه هغه عرض دے چه هغه عارض شوے وی شئ ته په واسطه دامر اخص سره، مثال لکه ضحك چه عارضیږی حیوان ته په واسطه د انسان سره، او انسان اخص دے د حیوان نه، او درّ[3]یم قسم د عرض غریب هغه عَرض دے چه عارض وی شی ته په واسطه دامرِ مبائن سره، مثال، لکه حرارت (گرمولے) چه عارضیږی مَاءُ (اوبو) ته په واسطه د نار (اور) سره او نار امرِ مبائن دے د ماؤ نه، ځکه چه د ماءُ او د نارُ په مابین کښ نسبت د تباین کلی دے،



**وجه الحصر** "پس ټول عوارض شپږ شول، او وجه د حصر یکښ داده، چه دا عارض به خالی نه وی، یا به لِذَاتِه وی، یا به عارضِ لِجزئه اویا به عارض دامرِ خارج مساوی دوجے وی، او یا دوجے دامر خارج اعم نه وی، اویا به دوجے دامرخارج اخص نه وی، اویا به دوجے دامرِ مبائن نه وی، مثال داول لکه عروض د تعجب انسان ته، مثال د ثانی لکه عروض دحرکت انسان ته په واسطه دحیوان سره، او مثال د ثالث لکه عروض د ضحك انسان ته په واسطه د تعجب سره، مثال د رابع لکه عروض د تحیز انسان ته په واسطه د جسم سره، مثال د خامس لکه عروض د ضحك حیوان ته په واسطه د انسان سره، او مثال د سادس لکه عروض د حرارت ماء ته په واسطه د نار سره، اول درے رومبنیو ته عوارض ذاتیه وائی، او درے دوستنی مسمّٰی کولے شی په عوارضِ غریبهٔ سره،
" **وجه تسمیه**" هرچه درے رومبنی دی، ځکه چه په عوارضِ ذاتیهٔ سره مسمّیٰ کولے شی چه دا ذات د معروض ته منسوب دی په دے شان سره چه کوم عارض ذات د معروض ته "همراه راست" "نیغ په نیغ" لاحق دے، د هغه ذاتی کیدل خو بیخی واضح دی، او کوم عارض چه معروض ته د جزء په وجه عارض دے، دے ته عرض ذاتی وائیلے شی چه جزء ذات کښ داخل وی، او قاعده داده چه کوم شیٔ (حرکت بالاراده) ماهو فی الذات (حیوان) طرف ته منسوب وی هغه (حرکت بالاراده) دی ذات (انسان) طرف ته منسوب وی یعنی حرکت حیوان ته منسوب کیږی او حیوان د انسان جزء دے، نو کوم شیٔ چه د انسان جز (حیوان) طرف ته منسوب وی، هغه انسان طرف ته هم منسوب وی، د دے وجه نه حرکت انسان ته عارضیږی په واسطه د حیوان سره، او انسان ذات دے، او حرکت دے ذات ته منسوب کیږی. او کوم عارض چه معروض ته په واسطه دامرِ مساوی سره لاحق کیږی، دیته عرض ذاتی ځکه وئیلے شی چه عارضِ امر مساوی طرف ته منسوب وی، او امرِ مساوی معروض ته منسوب وی،

او قاعده دا ده چه کوم شئ (ضحك) منسوب (تعجب الی الشئ (انسان) طرف ته منسوب وی (ضحك) دغه شئ (انسان) ته منسوب وی، نو ضحك په واسطه د تعجب انسان ته عارض وی او دا عارض (ضحك) د انسان سره لږ نسبت تا لره دے، نو دے وجے دے ته هم عرض ذاتی وائی،

اودرے دوستنو ته عوارض غریبه ځکه ویلے شی چه په دوئی کښی د ذات معروض په لحاظ غرابت او نا اشنا والی ملاویدے شی، والتفصیل فی مقام آخر

**قوله، لما هو هو الخ** کلمه د ما موصوله او د موصوفه په مینځ کښی مشترکه ده، لیکن دلته موصوله کیدل ئی متعین دی او ضمیر د هو (اول) ما موصوله ته راجع دے، او ضمیر د هو (ثانی) شئ ته راجع دے ځکه چه شئ معین دے او ما مبهم ده، او د مبهم بیان په معین سره کیږی، نه په عکس د دے سره، پس د جملے معنیٰ دا سے ده چه د شئ عوارض ذاتیه هغه احوال دی چه شئ ته د دے امر په وجه عارض کوم امر چه د غه شئ دے یعنی بغیر د واسطے عارض دے، **قوله کالتعجب الخ سوال** په دے باندے اعتراض وارد یږی خلاصه د اعتراض دا ده چه د عوارض ذاتیه وُ په سلسله د تعجب مثال صحیح نه دے ځکه چه کوم امر شئ ته عارض او لاحق کیږی هغه په دغه شئ باندے محمول وی، او حقیقت د شئ نه خارج وی، او تعجب په انسان باندے نشی محمول کیدے "فلا یُقالُ الانسانُ تَعَجُّبٌ"، **جواب** مناطقه حضرات په دا سے قسم مثالونو کښی اکثر تسامح کوی، په دے شان سره چه په عبارت کښی مبدأ محمول او ماخذ اشتقاق ذکر کوی او دے نه نفس محمول او مشتق مراد اخلی، لکه تعجب، نطق، ضحك، کتابت وغیره وائی او مراد ترے نه متعجب، ناطق، ضاحك، او کاتب اخلی،

**قوله کالحرکة بالارادة الخ** په دے مثال باندے مشهور دوه[2] اعتراضونه شویدی، خلاصه د اعتراض اول دا ده، چه حرکت بالارادہ حیوان لپاره فصل دے ځکه چه د حیوان تعریف په "جسمٌ نامیٌ متحرکٌ بالارادہ" سره کولے شی، نو حرکت بالارادہ په حقیقت کښی د حیوان جزء دے دا په عارض کښی شمارل غلط دی؟ جواب دا دے چه متحرك بالارادہ حیوان لپاره فصل نه دے ځکه چه په حقیقت د حیوان کښی د جنس نه علاوه حساس او متحرك بالارادہ دی، او من که دے دواړو ته فصل او ویلے شی نو لازمه به



شی حقیقت واحده لره دوه[2] فصلونه، په یو درجه کښی او دا غیر ممکن دے پس معلومه شوه چه دا (متحرك) د حیوان لپاره فصل نه دے، بلکه کوم امر چه د حیوان لپاره فصل دے د دے تعبیر د دے دواړو سره کولے شی پس دا دواړه د عوارضو نه دی،

او خلاصه د اعتراض ثانی دا ده، چه متحرك بالارادة عارض نه دے بلکه د انسان جزء دے، ځکه چه متحرك بالارادہ د حیوان جزء دے او حیوان د انسان جزء دے او قاعده دا ده چه جزءُ الجزءِ جزءٌ، نو متحرك بالارادہ د انسان جزء شو او جزء داخل وی په ذات د شئ کښی، نو ته ورته عارض څنګه وائی؟ جواب دا دے چه ځموږ مراد د متحرك بالارادہ نه بالفعل دے، او کوم متحرك چه د حیوان جزء دے هغه بالقوة دے، ځکه چه که دا علی الاطلاق د حیوان جزء کرځولے شی نو لازمیږی چه په حالت د سکون کښی حیوان په حیوان نه وی او دا خلاف د واقع څخه دے،

"**تنبیه**" میر سید شریف جرجانی رحمه الله وائی چه متاخرین منطقیان هغه عوارض کوم چه شئ ته په واسطه د جزء اعم سره لاحق شوے وی هغه عوارض ذاتیه وُ شماری کوم چه په علوموکښی بحث کولے شی لیکن دا صحیح نه دی، صحیح دا دی چه عوارض هغه دی کوم چه شئ ته لذاته یا په واسطه د امر مساوی سره لاحق شوے وی، برابره خبره ده چه هغه جزد شئ وی لکه انسان ناطق کیدو په وجه د امور غریبو ادراك کوی (ناطق د انسان جزء دے) یا جزد شئ نه وی بلکه خارج د شئ وی، لکه چه انسان ته په واسطه د تعجب ضحك لاحق کیږی، او ضحك د حقیقت د انسان نه خارج دے، او د دے لپاره امر مساوی وجه دا ده چه په علوموکښی چه کوم عوارضو نه بحث کولے شی هغه آثار مخصوصه وی کوم نه چه حالات د موضوع پیژندل مقصود وی او کوم شئ د حرکت بالارادہ امر اعم (حیوان) په واسطه شئ (انسان) ته لاحق شو، هغه انسان من حیث انّه انسان د احوالو نه دے، بلکه احوال د حیوان څخه دے،

**قوله والتفصیل هُناكَ الخ** غرض د شارح په دے عبارت سره تفصیل کول دی په عوارض ستهو کښی سره د وجه د حصر او وجه د تسمیه د ذاتیه وُ وقد فَصَّلْنَا ذَالِكَ او شارح رحمه الله په دے مقام کښی هناك ځکه

وتکوؤ چه بل مقام کښې د عرض څه نور تفصیلات دی، لکه دَ تقسیم لازم او مفارق، دائِم او غیر دائم، همدغه شان ددے عرض عام او خاصه کېدل۔

**قوله والثلاثة الاخيرة ،،،،،،، لِمَا فيها من الغرابةِ بالقياس الى ذات المعروضِ** غرض دشارح په دے عبارت سره بیان دعوارضو غریبه وُ ثلاثهُ وُ دے سره روجه دتسمیه ددوئ نه،

هرکله چه شارح فارغ شو د تفصیل دعوارضِ ذاتیه وُ نه نو شروع ئے وکړه په تفصیل دعوارِض غریبه وُ کښې، دعوارض ذاتیه وُ وجه د تسمیه مخکښې بیان شویده، آخری دری عوارض یعنی عارِض امرِ اعم یا امرِ اخص یا امرِ مبایِن پس دا هم ذات دمعروض ته عارض کیږی لیکن دا ذات ته په واسطه دا مرِ اعم یا امرِ اخص یا امرِ مبایِن منسوب کیږی او ذات معروض په لحاظ په دے کښې یو قسم غرابت دَ نو ددے وجه نه دوئ عوارض غریبه وبللے شی،

"**فائدة**" ددے رو مبئ عوارض ذاتیه کېدل او ددے روستئ عوارض غریبه کېدلو کښې، دمتقدمینو او متاخرینو ټولو اتفاق دے، لیکن هغه عرض چه شی ته په واسطه ددا سے امر محمول وی چه هغه دے شی نه اعم وی او ددے جزوی لکه حرکت چه په واسطه دَ جوان په انسان محمولیږی، او حیوان دانسان نه اعم دَے او ددے جز دے دا سے عرض په باره کښې دمتقدمینو او متأخرینو اختلاف دَ پدے شان سره چه دادا عراض ذاتیه وُ نه دے او که اعراض غریبه وُ نه دَے نو متقدمین مناطقه او بعضِ متأخرین (ومنهم الشارح) وائی چه دا قِسم عرض دعوارضِ ذاتیه وُ نه دے، او عام متأخرین (ومنهم العلامه التفتازانی رح) وائی چه دا قسم عرض دعوارض غریبه وُ نه دے، والادلة فی المطولات۔

**قوله كالحرارةِ العارضةِ للماءِ الخ** سوال دا مثال تحقیقی نَدے بلکه غلطی دَ ځکه چه اور واسطه فی العروض نه ده بلکه واسطه فی الثبوت ده او دا ځکه چه کوم حرارت ماء (اوبو) سره قائم دَے دا غیر دَے د هغه حرارت نه چه نار (اور) سره قائم دَے، فالمثالُ الصحیح "كاللون للجسمِ



بواسطةِ السطحِ، لیکن ددے اعتراض نه جواب ممکن دَے پدے شان سره چه دا مناقشه فی المثال ده، او مناقشه په مثال کښې د عادت د محصلینو نه نه ده، فافهم،

**قوله والعلومُ لا يبحث فيها ،،،،،، واقَامةً للحَدِّ مقامَ المحدودِ** غرض دشارح په دے عبارت سره دفع دوهم کوی، په دے شان سره چه واهمه داوهم کوی، هرکله چه ټول عوارض شپږ شول نو مبحوث عنها فی الفن به هم ټول وی، نو شارح ووئیل چه والعلوم لا يُبحَثُ الخ او خلاصه ددفع داده چه په علوموکښې دقِسمِ اول (عوارض ثلاثه ذاتیه وُ) نه بحث کیږی دَ قسمِ ثانی (عوارض ثلاثه غریبه) نه بحث نه کیږی، او ددے وجه میرسید شریف بیان کړیده چه هرعلم کښې مقصود بیانول دا حوالُ د موضوع ددِے علم وِی، او د موضوع احوال په حقیقت کښې عوارض ذاتیه دی، نه عوارض غریبه ځکه چه عوارض غریبه د نورو اشیاءُ احوال دِی نو ددے نه بحث په هغه علومو کښې کولے شی دکوم موضوع چه دغه احوالِ أخروی، لکه حرکت أبیض به لحاظ عرض غریب دَے په دے معنی سره چه دا ددے امرِ خارج اعم یعنی دجسم په واسطه عارض وی، او هم دا حرکت دجسم په لحاظ عرض ذاتی دے، نو د حرکت نه بحث په هغه علم کښې کولے شی دکوم علم چه موضوع جسم وی او هغه علم حکمت طبعیه دے ځکه چه موضوع ددے علم جسمِ طبعی دَے، او همدغه رنګ حرارت داو بو په لحاظ سره عرض غریب دَے، او همدغه حرارت داور په لحاظ سره عرض ذاتی دے نو د حرارت نه بحث به هغه علم کښې کولی شی چه موضوع ئے نار وِی، وَ نقلَ فی تائید ذالِكَ السَّيد میرزاهد الهروی، قول تلمیذ شیخ ابی علی بن سینا (بهمنیار) حیث قَالَ فِی کتابِهِ، "التحصیل" لوكانتِ الاعراضُ الغريبةُ يُبحَثُ عَنها فِی العُلُومِ لَكَانَ يَدْخُلُ كُلُّ عِلمٍ فِی كُلِّ عِلمٍ وَصَارَ النَّظَرُ ليس فی موضوعٍ مخصّصٍ ولَكَانَ العِلمُ الجزئِی عِلمًا كُليًّا، وَلَمَّا كَانتِ العلومُ متباينةً آه

**قوله فلهٰذا الخ** ددے نه په ظاهر انداز کښې دا معلومیږی چه "اللتی تلحقهٗ لما هو الخ" قید اتفاقی دے چه فائده ئے صرف تحقیق او

توضیح ده نه احتراز، لیکن په دے باندے اعتراض وارد یږی، چه شارح د اقول "اشارةً" ددے امر علت کیدے شی کوم چه "فلهذا" سره کړے شوے وو، پاتے شو "اقامةً" نو په دے کښ د اصلاحیت نشته نو په دے کښ به ضرور تکلف کولے شی، په دے شان سره چه اقامةً د اشارةً نه جُدا کړے شی او دا اقامةً مفعول مطلق وګرځولے شی، د فعل محذوف لپاره، ای اَقَامَ الحَدَّ مقامَ المَحدُودِ اقامةً په دے صورت کښ د اعطف ذے په قَالَ باندے، چه دے سره مقصود توضیح د کیفیت د قول دے، لیکن ددے نه جواب کیدے شی ار هغه دا چه دا قید د "التی تلحقهٔ الخ" قید احترازی ذے نه اتفاقی،

---

واذا تمهّدَ هٰذا فنقول موضوع المنطق ،،،،،، فهو باحثٌ عن الاعراض الذاتية لها۔

**تشریح المقام**:۔ هرکله چه شارح رحمه الله فارغ شو د بیان د مطلق موضوع نه نو شروع ئے وکړه په بیان د موضوع مقید کښ (یعنی موضوع د علمِ منطق کښ) او دا ځکه چه معرفت د مقید موقوف وی تر معرفت د مطلق پورے، پس په موضوع د علمِ منطق کښ مختلف اقوال دِی اوّل[1] قول دا دے چه "النَّظَرُ فِی الالفاظِ مِنْ حَیْثُ تَدُلُّ عَلَی المعانِی" وقَالَ بَعْضُ القُدَمَاءِ مِنَ المناطقه او د هغې وجه دا ده چه منطق کښ مثلاً دا یے ویلے شی "الحیوانُ النَّاطق" قولِ شارح دے او ددے جزء اول جنس دے، او جزء ثانی ئے فصل ذے، او همدغه شان کلُّ انسانٍ حیوانٌ وکُلُّ حَیَوانٍ جِسْمٌ قیاس ذے، او په دے کښ پو مبنیٔ قضیه صغریٰ ده او دویمه قضیه کبریٰ ده او دا د موضوع او د محمول نه مرکب وی الیٰ غیرِ ذالِکَ۔ لیکن دا مسلک بلاشک رَجْمًا بِالغیب دے ځکه چه نظر د منطقی صرف معانی معقوله و طرف ته وی، او دا ځکه چه محمولا تو ته رسیدل په معانیو سره کیږی نه الفاظو سره، لیکن افاده، او استفاده بغیر د الفاظو نه ممکن نه ده نو ددے وجے نه منطقی نظر په طور د مقصود بالعرض الفاظو ته هم وی۔ قال الشیخ ابو علی بْنِ سیناء فی فصل الموضوع مِن منطق الشفاء "لَاخَیْرَ فِیْ قَوْلِ مَنْ یَقُوْلُ اِنَّ المنطقَ مَوْضُوعُهٗ النَّظَرُ فِی الالفاظِ مِنْ حیث تَدُلُّ عَلَی المعانِی"، او دویم[2] قول د اکثرو



متقد مینو دے چه موضوع د منطق "المعقولاتِ الثانیة مِنْ حیثُ اِنَّهَا توصِلُ اِلَی تحصیل المجهول" ددے قول په تشریح کښ وایو، چه معقول په څلور قسمه دے، اوّل[1] معقولِ اولی کوم چه ذهن کښ اوَّلاً حاصل وی او د هغې په مقابل کښ شی په خارج کښ موجود وی لکه طبعیة دانسان او د حیوان شو، لکه دا قول "زیدٌ انسانٌ" وَ الفرسُ حَیَوانٌ"، دریم[2] معقول ثانی کوم شئ چه صرف ذهن کښ عارض وی، خارج کښ عارض نه وی او ددے په مقابل کښ کوم شی موجود فی الخارج نه وی، لکه نوع، جنس او فصل، و غیره شول، دریم[3] معقول ثالث هغه ذے چه په تعقل کښ په دریمه درجه کښ واقع وی، لکه تناقض او انعکاس وغیره شول، او څلورم[4] معقول رابع هغه ذے چه په تعقل کښ په څلورمه درجه کښ واقع وی لکه تناقض او انعکاس باندے د کوم شی حکم لګول، بیا معقولِ ثانی په دوه قسمه ذے، اوّل هغه چه په هغه کښ عروض لپاره وجودِ ذهنی شرط نه وی، لکه وجود او شیئیت وغیره، او دویم[2] هغه چه په هغه کښ عروض لپاره وجود ذهنی شرط وی، لکه کلیت، جزئیت، ذاتیت، عرضیت، معرفیت، او حجیت وغیره شول، پس د متقدمینو مناطقو په نزد باندے د معقول ثانی همدا قسم ذے په دے حیثیت چه مجهول طرف ته موصل وی، پس په قید د حیثیت سره هغه معقولاتِ ثانیه خارج شول، کوم چه معدوم یا موجود، عرض یا جوهر کیدلو په حیثیت سره وی پدی حیثیا تو په اعتبار سره د دوی بحث په علمِ الٰهی کښ وی،

دریم[3] مسلک د متاخرینو مناطقو دے (منهم التفتازانی رحمه الله وصاحب المطالع وصاحب الکشف والشارح) پس دوی وائی چه موضوع د علمِ منطق معلومِ تصوری او معلومِ تصدیقی دے په دے شان سره چه موضوع د علم منطق دوه اموره دی اول معرّف او دویم حجّت دے، معرّف عبارت دے د هغه معلوماتو تصوریه و نه چه موصل وی مجهولِ تصوری ته مثال لکه حیوان او ناطق نو حیوان او ناطق معلوم دی مونږ ته په علمِ تصوری سره نو دا دواړه موصل دی مجهول تصوری لره چه هغه مجهولِ تصوری انسان ذے، او حجّت عبارت دے د هغه معلوماتو تصدیقیه و څخه چه موصل وی مجهولِ تصدیقی لره، مثال لکه العَالَمُ متغیِّرٌ وکُلُّ متغیّرٍ حادِثٌ نو دا

معلوماتِ تصدیقیه دی خمونږ ورباندې علمِ تصدیقی راغلې د اورا
معلوماتِ تصدیقیه موصل دی مجهول تصدیقی لره چه هنه "فالعالمُ
حادثٌ" دې نو معلومه شوه چه موضوع دعلمِ منطق معلوماتِ تصوریه
دي، لیکن هغه معلوماتِ تصوریه چه موصل وی مجهولِ تصوُّری لره چه
ورته معرف وائی، او همدغه شان موضوع دعلمِ منطق معلوماتِ تصدیقیه
دي لیکن هغه معلوماتِ تصدیقیه چه موصل وی مجهولِ تصدیقی لره
چه ورته حجّت هم وائی،

**قوله** المعلوماتُ التصوریةِ الخ پدې باندې اعتراض کیږې شویدې، خلاصه
داعتراض داده چه شارح رحمهُ الله موضوع المنطق المعلوماتُ التَّصوُّرِیَّة
سره دعوی او مقدمات ددلیل مطلق کړځولي دي، او ددې مطلب دادې چه
معلوماتِ تصوُّرِیه اوتصدیقیه علی الاطلاق موضوع دعلمِ منطق دي
او په دې کښ ددې دټولو حالاتو څخه بحث کیږی، حالانکه خبره داسې
نه ده، ځکه چه هغه معلوماتِ تصوُّریه چه موصل نه وی مجهولِ تصوُّری
لره، لکه امورِ جزئیه چه زید، عمرو، او بکر دی، نو دا معلوماتِ تصوُّریه
موضوع دعلمِ منطق نهٔ دی، او معرّف ورته هم نشی ویلی لانَّ الجزئی
لایکونُ کاسبًا ولامکتسبًا،

او همدارنګ هغه معلوماتِ تصدیقیه چه موصل نه وی مجهولِ تصدیقی
لره، مثال ئې لکه "النَّارُ حَارَّةٌ" داهم موضوع دعلمِ منطق نه ده او حجّت
هم ورته نشی ویلي، **جواب**: دلته اطلاق نه دې مراد بلکه حیثیت
دصحت دایصال قید ضروری دې، او شارح رحمه الله دا قید دا کتفاء
بالشهرة په وجه ترک کړیدې، ځکه داقید ضروری دې، **سوال**: هرکله چه
موضوع دمنطق "مع الایصال" په حیثیت مقید شوه، نو مع الایصال د
موضوع تتمه او ددې قید شوا و په علم کښ دقید دموضوع بحث نه کیږی
حالانکه علمِ منطق کښ بحث دایصال نه کیږی

**جواب** موضوع لپاره چه کوم قید دې هغه صفت دایصال دې نه نفس ایصال
یعنی قید صرف مضاف دې کوم چه لفظ د صحت دې او د مضاف الیه،
"ایصال" ددې نه خارج دې، پس ایصال او ما یتوقف علیه الایصال
دټول اعراضِ ذاتیه او ددې منطق کښ مبحوث عنه دی، **سوال** هرکله



چه موضوع دعلمِ منطق معلومِ تصوُّری او معلومِ تصدیقی شو، نو تعدّد
دموضوع مستلزم دې تعدُّد دعلم لره حالانکه منطق علمِ واحد دې،
**جواب** موضوع منطق کښ تعدُّد نشته دې، بلکه موضوع واحد ده
یعنی معلوم خواکه تصوُّری وی او که تصدیقی، **جواب ۲** موضوع منطق
کښ تعدد نشته بلکه هغه واحد ده، یعنی ایصال خواه که تصوُّری او که
تصدیقی، **قوله** وانّما قُلنا ان المنطقی الخ غرض دشارح په دې عبارت
سره اشاره کول دی تفصیل دموضوع (معلوماتِ تصوُّریه او تصدیقیه)
ته او ددې حاصل دا دې چه دکوم معلوماتو تصوُّریه ؤ دا حوالونو په
علمِ منطق کښ بحث کیږی هغه په درې قسمه دی، اول مجهول تصوُّری
ته ایصال خواکه علم بالکنه سره وی لکه حد تام، یا علم بالوجه سره
وی ذاتی وی او که عرضی وی، لکه حد ناقص، رسمِ تام، او رسمِ ناقص
ددې بحث دمعرف او دقول شارح په بابونو کښ کیږی، دویم[2] هغه احوال
چه ایصال اِلی التَّصوُّرِ المجهول لپاره موقوف علیه قریبي وی، یعنی بغیر
دڅه واسطې نه موقوف علیه وی لکه دمعلوماتو تصوُّریهؤ کلیت جزئیت
ذاتیه، عرضیه، جنس، فصل، او خاصه کیدل، نو ددوئی نه په کلیاتو
خمسهؤ کښ بحث کیږی، درېیم[3] هغه احوال چه ایصال اِلیَ المجهولِ
التصوُّری لپاره موقوفٌ علیه بعیدی وی، لکه دمعلوماتو تصوُّریهؤ
موضوع او محمول کیدل، نو ددوئی بحث دقضایاؤ په ضِمن کښ کیږی
همدغه شان معلوماتِ تصدیقیه احوال هم په درې قسمه دی،
اول هغه ایصال الی المجهول التصدیقی، خواکه یقینی وی او که غیر یقینی
وی جازم وی او که غیر جازم، ددې بحث، قیاس، استقراء، او تمثیل په
ضِمن کښ کیږی، دویم[2] مایتوقّف علیه الایصال اِلیَ المجهولِ التصدیقی
توقفًا قریبًا، ددې بحث قضایاؤ کښ کیږی، درېیم[3] مایتوقّفُ علیه
الایصال اِلی المجهولِ التصدیقی توقفًا بعیدًا لکه دمعلوماتو تصدیقیهؤ
مقدّم، او تالی کېدل ددوئی بیان هم په قضایاؤ کښ کیږی،

**قوله** لانّهٔ یُبحثُ عنها مِن حیثُ انها الخ داحیث یا قید دې چه ددې نه
معلوماتِ تصوُّریه او تصدیقیه معهوده مراد دي یعنی
مقید بصحتِ ایصال، فالمعنی ،، انّما قلنا انهٔ یبحثُ عن المعلومات التصوریة

Maktaba Tul Ishaat.com

والتصدیقیة المعهودة "المقیدةُ بصحة الایصالِ" لانّه یُبحثُ عن المقیدة بالایصالِ وَالمقیدةُ یتوقّفُ الایصالُ علیها وَ توقّفُ الایصالِ علیها یرجعُ اِلَی الایصالِ البعید فیثبتُ انّه یبحثُ عنها مقیدةً بالایصالِ" پس په دے تقریر سره د مصادرة علی المطلوب توهّم هم ختم شو، او یا دا قول من حیث تمیز دے یعنی من حیث د هغه نسبت نه تمیز دے کوم چه لفظ عنها نه مستفاد او حاصل دے، فالمعنی ..... لانّه یُبحثُ عن شئٍ مِنَ الاشیاءِ المعلومةِ المذکورةِ وهی الایصال، دَ توقفِ الایصالِ علیها یعنی الایصال البعید" نو دا صورة د شارح رحمه الله د دے قول وَ بالجملةِ المنطقی الخ سره بالکل موافق شو،

**قولهٗ** وهذهِ الاحوالُ الخ په دے کښ اشاره صرف هغه احوال طرف ته نه ده کومو باندے چه ایصال موقوف دے بلکه ایصال او هغه احوال (کومو باندے چه ایصال موقوف دے) دواړو طرف ته اشاره ده او مقصد ترے دا دے چه دا احوال د معلوماتِ تصوّریه او تصدیقیه بغیر د واسطے نه عارض وی نو دا د معلوماتو عوارض ذاتیه شول او منطقیان بحث د عوارض ذاتیه نه کوی،

**قال** وَقد جرتِ العادةُ بان یُسمّی الموصلُ اِلی التصوّر ...... الی العلم الاولی بامتناعِ الحُکمِ مِمّن جَهِلَ اَحَدَ هٰذِهِ التصوّراتِ - غرض د ماتن رحمه الله په دے عبارت سره بیان دا مرینو دے، اول اشاره کول دی وجه د تسمیه د موصل اِلَی التصوّر ته په قولِ شارح سره او دَ موصل اِلَی التصدیق ته په حجّة سره، او دویم اشاره ده تقدیم د تصوّر ته په تصدیق باندے ذکره دا خبره چه د منطقی نظر د دوو[3] شیانو کښ وی یو موصل اِلَی التصوّر او دویم[2] موصل اِلَی التصدیق، او وجه د حصر پکښ دا ده[5]

چه هرکله علمِ منطق منحصر شو په تصوّر او تصدیق کښ نو معلوم هم منحصر شو په دوه[2] خیزونو کښ یو معلوم تصوّری، او بل معلومِ تصدیقی، نو همدغه شان مجهول هم په دوه[2] شیانو کښ منحصر شو، ځکه چه دا مجهول به خالی نه وائی، یا به دا سے مجهول وی چه که د هغه ادراک وکړے شی نو هغه تصوّر وی، نو دا مجهولِ تصوّری شو او که دا سے مجهول وی، چه که د هغه ادراک وکړے نو هغه تصدیق وی، نو دا



مجهولِ تصدیقی شو، پس د کوم شی په ذریعه چه رسیدل کیږی مجهول تصوّری ته نو هغه شی ته موصل الی التصوّر ویلے شی او د منطقیانو په عُرف کښ ورته قول شارح ویلے شی، او د دے وجه دا ده، چه موصل الی التصور اکثر مرکب وی، او قول د مرکب مرادف دے،

**قولهٗ** فِی الاغلبِ الخ پوهه شه چه معرف لپاره شپږ صورتونه دی، اوّل[1] حدِ تام، کوم چه د جنس قریبه او د فصل قریب نه مرکب وی، لکه حیوان ناطق دویم[2] حدِ ناقص کوم چه د جنسِ بعید او د فصل قریب نه مرکب وی، لکه جسمِ ناطق، دریم[3] حد ناقص چه صرف د فصل په ذریعه تعریف وکړے شی لکه ناطق، څلورم[4] رسمِ تام کوم چه د جنسِ قریب او خاصه نه مرکب وی لکه حیوان ضاحک پنځم[5] رسمِ ناقص، کوم چه جنس بعید او خاصه نه مرکب وی، لکه جسمِ ضاحک، شپږم[6] رسمِ ناقص چه صرف د خاصیه په ذریعه تعریف وکړے شی، لکه ضاحکٌ، پس په دے شپږ واړه صورتونو کښ څلور مرکب دی او دوه غیر مرکب دی،

**سوال** :- معترض اعتراض کوی په دے شان سره چه معرف او قولِ شارح چه موصل کیږی مجهول تصوّری ته دا په نظر سره او نظر او فکر عبارت دی د ترتیب امور معلومة الخ نه او د دے نه دا معلومیږی چه قول شارح همیشه لپاره کم از کم د دوو[2] امرینو نه مرکب وی او دلته "فی الاغلب" نه دا معلومیږی چه قولِ شارح کله کله غیر مرکب هم کیدے شی وَهَلْ هٰذا اِلّا تناقضٌ بین العبارتین،

**جواب** کوم حضرات چه تعریف بالمفرد (یعنی صرف د فصل او د خاصه په ذریعه تعریف) جائز مني نو هغوئ په تعریف د نظر کښ لږ عموم کوی حیث قالوا "النظرُ ترتیبُ امرٍ او ترتیبُ امورٍ" آه لیکن د ماتن نه تسامح او تساهل ځکه شوے ده، چه دیوه طرف نه په تعریف د نظر کښ "امورٌ" ذکر کړیدی، نو ده نظر د مرکباتو نه کرخولے دے، او بل طرف ته نے تعریف په صرف فصل او خاصه سره جائز کړے ولے دَے، والعذر عنه ان المراد من الجمع مافوق الواحد

**وقولهٗ**، واما کونهٗ شارحًا الخ په دے عبارت سره وجه د تسمیه د جزء ثانی د موصل الی التصوّر ده، په دے شان سره چه موصل الی التصور المجهول ته شارح ځکه وائی، چه شارح "ماشرح به" ته وائی او د دے

موصل الی التصوّر سره هم د ماهیات داشیاءُ وضاحت راځي لکه حیوان ناطق سره وضاحت او تشریح دانسان راځي

قولهٗ والموصل الی التصدیق الخ هرکله چه شارح رحمه الله فارغ شو د بیان دوجه تسمیه دامرِ اول (موصل الی التصور) نه نو شروع ئے وکړه په بیان دوجه دتسمیه دامرثانی (موصل الی التصدیق) کښ یعنی مجهولِ تصدیقي ته چه کوم شئ سره رسیدل کیږی هغه ته موصل الی التصدیق ویلے شي، او دمنطقیانو په عرف کښ په حجّت سره تعبیرکولے شي لو لفظ دحجت د نَصَرَ یَنْصُرُ باب نه دے په لغت کښ غالب (زور آور) کیدلو ته وائي، او په اصطلاح کښ حجّتُ عبارت دے د «مایَدُلُّ علیٰ صِحّةِ الدَّعوٰی» نه نو کوم کښ چه په دلیل باندے استدلال وکړی هغه هم غالِب اوزور آوروی، په مقابل (خصم) باندے،

تنبیه « زده کړه ذا خبره چه هغه معلومات تصوّریه چه موصل وی مجهولِ تصدیقي لره هغوئی ته معرف او قولِ شارِح هم وائی، او هغه معلوماتِ تصدیقیه چه موصل وِی مجهولِ تصدیقي لره هغوئی ته حجّت او دلیل هم وائي نو دے سره هغه اعتراض دفع شو، چه وارد یدلو په دے مقام کښ او حاصل دهغه اعتراض دادے چه ستا عبارت مخالف شو د عبارت دقوم نه، ځکه چه په عبارت دقوم کښ دا خبره ثابته ده، چه موضوع د علمِ منطق معرف او حجت دے، او حاصل دجواب داشي چه د مصنف او دقوم په عبارت کښ هیڅ تناقض نشته، ځکه چه مصنف دا وائي چه موضوع دعلمِ منطق معلومات تصوّریه او معلومات تصدیقیه دی، اوقوم وائي چه موضوع ئے معرف او حجت دے، او معرّف عبارت دے د معلوماتو تصوریه نه او حجت عبارت دے د معلوماتِ تصدیقیه نه فلاَ تَعَارُضَ، قولهٗ ویجِبُ ای یستحسن تقدیم الخ غرض دشارح په دے عبارت سره اشاره کول دی تقدیم د تصورته په تصدیق باندِ او دا موثر په عنوان د اعتراض کښ دے بیانوؤ چه علمِ منطق لره دوه حصے (شطرین) دی، یو شطر دتصوراتو او بل شطر د تصدیقاتو نو څه وجه ده؟ چه شطر دتصوراتو مقدم کړے شو په شطر دتصدیقاتو باندے،

سره ددے نه عمده یکښ تصدیق دے ځکه چه فوز ددارینو په تصدیق



دے نه په تصور نو په کار داوو چه تصدیق ئے مقدم کړے وے؛ نو جواب ئے وکړو په دے قول خپل سره چه ویجبُ الخ اوجواب بنا دے په نمط دقیاس اقترانی حملی باندے په دے شان سره چه تصوّر ئے مقدّم کړو په تصدیق باندے، لاَنَّ التصوُّرَ مقدَّمٌ علی التصدیق طبعًا، وکُلُّ ما هٰذا شانُه فهو مقدَّمٌ ذکرًا فالتصوُّر مقدَّمٌ علی التصدیق ذکرًا په ثبوت دشی سره لپاره دشی او نفی دشئ سره دشئ نه، ترهغه پورے اعتقاد په دغه حکم مذکور نشی کولی ترڅو چه دغه تصوّر محکومٌ علیه او محکوم بهٖ نه وی، نو تصوّر محتاجٌ الیه لپاره دتصدیق لیکن علت تامه ورله نه دے، ځکه چه که تصوّر علت تامه شي لپاره د تصدیق نو چیرته چه تصور موجود شي هلته تصدیق هم موجود وی حالانکه داسے نه ده، او دلیل دکبری دادے چه «لیوافق الوضع الطبع» یعنی موافقت دوضع او دذکر راشي دطبع سره «والموافقة خیرٌ مِنَ المخالفة»

پس زده کړه داخبره چه تقدم په پنځه قسمه دے، همدغه شان تاخرهم پنځه قسمه دے، (۱) اوّل تقدم بالذات، چه مقدم علت وی لپاره دمؤخر لکه تقدُّم دعلت شو په معلول باندے، لکه طلوع دشمس دوجود دنهار لپاره (۲) دویم تقدُّم بالزمان هغه دے چه زمانه دمقدَّم مقدمه وی د زمانی دمؤخَر نه، لکه تقدم دآدم علیه السلام شو په محمّد صلی الله علیه وسلم باندے (۳) دریم تقدُّم بالشرفِ، چه شرافت دمقدم زیات وی د شرافت دمؤخر نه لکه تقدُّم د محمَّد صلی الله علیه وسلم شو په آدم علیه السلام یا لکه تقدُّم د حضرتِ ابوبکر صدیق شو په حضرت عمر رضی الله عنه باندے، (۴) څلورم تقدم بالرتبه چه مقدّم نزدی وِی یو مکانِ معین ته په نسبت دمؤخر نه، لکه تقدم دصف اول شو په صف ثانی باندے په نظر سره محراب ته، (۵) پنځم تقدم بالطبع چه مقدم محتاجٌ الیه وی لپاره دمؤخر او علت تامه نه وی لکه تقدم دواحد شو په قیاس سره اثنینو ته، قولهٗ ای یستحسنُ الخ غرض دشارح رحمه الله په دے عبارت سره اشاره کول دِی یو سوال مقدر ته، خلاصه دسوال دا ده، چه واجب مَا یأثِمُ بترکه « ته وائي، حالانکه که بحث دمعرف او دقول شارح مقدم نکړے شي په بحث د دلیل او حجّت

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے نو کومه گناه نه لازمیږی،
نو شارح رحمه الله جواب وکړو " ای یستحسن الخ خلاصه د جواب دا ده چه د وجوب نه مراد دلته وجوب عرفی دے نه وجوب شرعی ځکه چه لزوم د گناه نشته کما قلتَ او وجوب عقلی هم نه دے مراد ځکه چه تقدم د تصوراتو په تصدیقاتو باندے تقدم بالطبع دے لیکن د وضع د طبع سره موافق کیدل ضروری نه دی بلکه اولیٰ او افضل دی،

قوله لان الموصل الخ په دے عبارت کښ ئے تصورات او تصدیقات جمع راوړل او په دے کښ دے فائدے ته اشاره ده چه د تصور موصل قریب حد او رسم دے، کوم چه د قبیلے د تصوراتو نه دی، خواکه مفرد وی او که مرکب تقییدی وی، او د تصور موصل بعید کلیات خمسه دی او دا هم د قبیلے د تصوراتو نه دی او د تصدیق موصل قریب انواع د حجت یعنی قیاس، استقراء او تمثیل دی کوم چه د قضایاؤ نه مرکب کیږی، او دا ټول د قبیلے د تصدیقاتو نه دی،
سوال: د تصدیق موصل بعید خو موضوع او محمول دی او دا د قبیلے د تصوراتو نه دی، نو دا قول د ده صحیح نشو، والموصِلُ الی التصدیق التصدیقات، جواب دلته موصل نه مراد موصل قریب دے لکه چه میرسید شریف رحمهٔ الله د موصل سره قریب لفظ زیات کړیدے، حیث قالَ والموصلُ القریب الی التصدیق الخ، قوله، والتصور مقدمٌ الخ پدے باندے معترض اعتراض کړیدے په دے شان سره چه که دے نه مراد دا اخلې چه هر تصور په هر تصدیق باندے مقدم دے یا دا مراد اخلې چه هر تصور په کوم غیر معین تصدیق باندے مقدم دے نو دا خو نه واقعی سره سمون خوری او نه ئے د لیل سره موافقت راځی او که دے نه دا مراد اخلې چه یو نوع تصور په یو نوع د تصدیق باندے مقدم وی نو بیا خو د دے عکس هم متحقق کیدے شي، لکه تصدیق بقا مُدةِ النظر په دے تصور باندے مقدم دے کوم چه د نه حاصل دے، جواب دادے چه دلته مراد ځما دا دے چه نوع د تصور مقدم ده په هر تصدیق ولا عکس لهٔ

قولهٔ وانما قلنا الخ غرض د شارح په دے عبارت سره، وضاحت د دلیل



د صغری دے په دے شان سره چه تصور محتاج الیه دے، لپاره د تصدیق او دا ځکه چه په هر تصدیق کښ درے تصورات ضروری دی اول[1] تصور د محکوم علیه بذاته، او یا مِصداق علیه دویم[2] تصور د محکوم به بذاته او یا مِصداق علیه دریم[3] تصور د نسبت حکمیه، د دے تصوراتو نه علاوه علم د دے وجه نه ضروری دے، چه که څوک فریو انسان د دے قولو نه یا په دے کښ د دوی نه یا په دے کښ دیو نه جاهل (ناخبر) وی نو هغه د دے حکم او تصدیق نه به جاهل وی،

قوله لانّ تقدّمَ الطبعی الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره وضاحت د امرینو دے، اول دا چه تقدّم په پنځه قسمه دے نو تقدم د تصور په تصدیق باندے کوم تقدّم دے، نو لپاره د تعین د تقدم شارح رحمهٔ الله وائی لانّ تقدّمُ الطبعی الخ او دویم[2] دا چه شارح وضاحت د تقدم طبعی کوی، چه تقدّم طبعی څه ته وائی او ورسره تطبیق هم کوی،

قولهٔ اما انه لیس علّة والّا لزم من حصول التصوّر حصولُ التصدیق لکن التالی باطلٌ فالمقدّمُ مثله - وجه د بطلان د تالی ظاهره ده ځکه چه ډیر ځله مونږ تصور وکړو چه کاش چه زه بادشاه وے لیکن تصدیق نه وی سه
په تصور م ځان بادشاه کړو ؛ چه تصدیق م پرِ وکړو ملنګ وو جامهٔ
قولهٔ ضرورة وجوب الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره وجه د ملاذمې ته اشاره کوه دی، سوال هرکله چه دا قید (د عدم علّیت) د مره ضروری وو بیا خو ما تن لره پکار وو چه صراحةً ئے ذکر کړے وے کما ذکرهٔ شارح المطالع، جواب شارح دا قید صراحةً نه دے ذکر کړے د ظهور (اکتفاء بالشهرة) د وجے نه،

وفی هٰذا الکلام قد نبّه علیٰ فائدتین ،،،،،،، لزادا اجزاء التصدیق علیٰ اربعةٍ وهو مصرح بخلافه،

توضیح اللغات[3] (۱) کنه صیغه د مصدر ده د (ن) نه په معنیٰ د جواهر الشئ واصله، وحقیقتهٔ سره (۲) شبح هم صیغه د مصدر ده

د (ف) نه په معنٰی د ما يعرفُ وَ يُنْظَرُ بالعين مِنْ اِبِلٍ وَ غَنَمٍ وغيرها سره (۳) حيز د حوز نه د (ن) باب نه دے په معنٰی د جمع ، او په اصطلاح کښې په معنٰی د مکان سره راځی، فعند المتكلمين هوالفرع المتوهم الذی يشغله شئ مُمْتَدٌ کالجسم او غير ممتد کالجوهر الفرد، وعند الحکماء هو السطح الباطن مِنَ الحاوی المماس للسطح الظاهری من المحوِی،

**تشريح** **قوله وفی هٰذا الکلام الخ** غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره بيان د امر بيو دے، اول غرض اشاره کول دی تحسين د کلام د ماتن رحمه الله ته چه دا يو عجيب کلام دے، ځکه چه مشتمل دے په دوو فائدو باندے،

دويم غرض د شارح رحمه الله توطيه او تمهيد دے د راتلونکی اعتراض "د تصور د شئ څلور صورتونه دی"

زده کړه دا خبره چه تصور په څلور قسمه دے اول[1] تصور بالکنه چه حاصل کړی حد او ذاتيات د شئ په ذهن کښې او مِرأة (ذريعه) ئے کړی لپاره د حصول د هغه شی لکه حاصل کړی حيوان ناطق په ذهن کښې او مرأة ئے کړی لپاره د حصول د انسان دريم[2] تصور بکنهٖ چه حاصل کړی حد د شی په ذهن کښې او مرأة (ذريعه) ئے نکړی لپاره د حصول د دغه شی، لکه حاصل کړی حيوان ناطق په ذهن کښې او مرأة ئے نکړی لپاره د حصول د انسان. دريم[3] تصور بالوجه چه حاصل کړی رسم او عرضيات د شئ په ذهن کښې او مرأة ئے کړی لپاره د حصول د هغه شی لکه حاصل کړی حيوان ضاحك ذهن کښې ليکن مرأة ئے نکړی لپاره د حصول د انسان (فی هٰذا الکلام فائدتان) په متن کښې ذکر شوی وو، چه "لابُدَّ فيه (التصديق) من تصور المحکوم عليه اِمّا بذاتِه او بامر صادق عليه" په شرح (قطبي) کښې د "هٰذ الکلام" نه همدغه عبارت مراد دے، شارح رحمهُ الله وائی چه ماتن دے کلام کښې دوو فائدو باندے خبر د رکړے کړيدے اول فائده دا چه هر تصديق بلا شبه مقتضی د تصور د محکوم عليه دے ځکه چه بغير د تصور د محکوم عليه نه وجود د تصديق نشی راتلے ليکن دے ته د امراد نه دے چه تصديق د محکوم عليه تصور بالکنه تقاضا کوی بلکه د دے مقصد دا دے چه تصديق



د تصور د محکوم عليه بوجهٍ مّا تقاضا کوی يعنی دا ضروری نه ده چه تصديق هغه وخت حاصليږی چه کله د محکوم عليه حقيقت معلوم وی بلکه هغه وخت هم تصديق حاصليدے شی چه کله تصور د محکوم عليه د عرضياتو نه حاصل شی او دے تعميم ته ماتن هم اشاره کړيده په دے شان سره چه تصور بالکنه تعبير په بذاته سره کړيدے او د دے نه علاوه نور تصورات عرضيات وغيره تصديق په بامر صادق عليه سره کړيدے، **سوال** تصور د محکوم عليه او د محکوم به کښې دو مره تعميم ولے کولے شی په دے کښې څه فائده ده،

**جواب** په دے کښې تعميم ځکه کولے شی چه مونږ په ډيرو اشياؤ باندے حکم کوو حالانکه مونږ ته د هغے شی تصور بالکنه حاصل نه وی لکه مونږ وايو الله عليمٌ و قديرٌ الله قادرٌ و حکيمٌ نو مونږ ته تصور د حقيقت د دے موضوع دے تضيئ (چه ذات اقدس دے) معلوم نه دے ليکن مونږ تصور د دے کړو په يو وجه د وجوهو سره "وهو انّهَ المعبودُ بحقٍ" او همدغه شان مونږ د لرے نه يو شبح (شکل) وينو نو حکم پرے کوو سره د دے نه مونږ ته د دغه شئ حقيقت او ماهيت معلوم نه وی په دے تولو اشياؤ باندے د عرضياتو د وجه نه حکم کوو، وکما لا يلزمُ فی تصوُّرِ المحکوم عليه لا يلزمُ فی تَصَوُّرِ المحکومِ به ايضًا بل يکفی ان تصوّر الطرفين او احدهما تصوُّرمّا،

او دويمه فائده دا ده چه په متن کښې دوه ځلی لفظ د "حکم" استعمال کړے شويدے، حيث قال: والحکم لامتناع الحُکمِ مِمَّنْ جهلَ" او لفظ د حکم مشترك دے اطلاق ئے په دوو معنو باندے کيږی اول[1] النسبة الايجابية اوالسلبية المتصوّرة بين الشيئين دويم[2] ايقاع تلك النسبة (فی الموجبة) او انتزاع [illegible] تام کښې څلور احتمالات دی، دوه[2]

متفق، او دوه[2] مختلف (۱) دواړو ځايونو کښې د "حکم" نه مراد نسبة ايجابيه يا سلبيه شی
(۲) په دواړو ځايونو کښې د حکم نه مراد ايقاع يا انتزاع د دے نسبت شی (۳) د اول حکم نه ايقاع يا انتزاع د دے نسبت شی او دويم حکم نه مراد نسبت ايجابيه يا سلبيه شی (۴) عکس د دے يعنی

اول حکم نه مراد نسبت ايجابيه يا سلبيه شی، او دويم[2] حکم نه مراد ايقاع يا انتزاع د دے نسبت شی. په دوی کښې درے پو مبنی احتمالات باطل دی او څلورم احتمال صحيح دے اول احتمال ځکه باطل دے چه په دے صورت کښې معنٰی به د دے شی چه په تصديق کښې تصوُّر د نسبت ايجابيه يا سلبيه

Maktaba Tul Ishaat.com

ضروري دے ځکه نسبت ایجابیه یا سلبیه ممتنع کرځي او دا مقصد صحیح نه دے، ځکه چه په واقع او نفس الامر کښې تحقق د نسبت ایجابیه د دے په تصور باندے موقوف نهٔ دے، لانّهٗ یَلزِمُ توقف النسبة علیٰ تصوّرِهَا وهٰذا غیر مستقیم لجواز وجودِ النِّسبةِ بَیْنَ الشَّیئَیْنِ من غیر تصورهَا، او دویم[2] احتمال ځکه باطِل دے چه په دے صورت کښې مطلب دا کرځي چه په تصدیق کښې تصور د ایقاع ضرور دے ځکه ایقاع نه حاصلیږی او وجه د بطلان ئے دا دے، چه کوم وخت کښې چه مونږ د دے خبرے ادراک وکړو چه نسبت واقع دے یا نه دے واقع نو مونږ ته تصدیق حاصلیږی یا د دے حصول په تصور د ایقاع باندے نهٔ موقوفیږی، لان ادراک ان النِّسبَةَ واقعةٌ او لیست بواقعَةٍ کافٍ فی حصولِ التصدیق فلاحاجةَ إلیٰ تصوّرِهَا ثانیًا۔ او دریم[3] احتمال ځکه باطل دے چه په دے صورت کښې مقصد دا کرځي چه په " تصدیق کښې د ایقاع تصور ضروری دے، ځکه چه د دے نه بغیر نسبت ایجابیه نشي حاصلیدے او دا معنیٰ باطل ده، ځکه چه په دے کښې دا لازمیږی چه تصدیق د تصور ایقاع مقتضي دے، او دا صحیح نه دے، پس هرکله چه دا درے واړه احتمالات باطل شو، نو احتمالِ رابع متعین شو او دا صحیح دے سوال دا احتمالِ رابع هم صحیح نهٔ، ځکه چه قاعده داده چه "المعرفةُ إذا أُعیدت معرِفَةً کانتِ الثانیةُ عَیْنُ الاولیٰ" نو بنا په د قاعده باندے د دواړو ځاینو کښې د حکم نه مراد شئ واحد دے،

جواب دا قاعده کلیه نه ده بلکه قاعده اکثریه ده، خلاف ترے جا دے، قولهٗ فان قلتَ الخ خلاصه د سوال داده چه معترض وائی که د حکم نه دواړو ځایونو کښې ایقاع د نسبت واخستے شي نو بطلان هغه وخت لازمیږی چه کله مونږ حکم دا ادراک (یعنی مقولهٗ کیف یا انفعال) مخه و منلے شي لکه چه جمهورو حکماؤ مذهب دے، ځکه چه په دے صورت کښې نسبت دا ادراک د تصدیق موقوف کرځي په ادراک باندے او دا باطل دے، لیکن که حکم نفس فعل وګرځولے شي لکه چه مذهب د محققینو دے، نو بیا تصدیق د تصوّرِ ایقاع تقاضا کوی ځکه چه په دے صورت کښې حکم یو فعل دے د نفس افعالِ اختیاریو نه



او نفس افعالِ اختیاریه تر هغه وخت نشی حاصلیدے، ترکوم وخته پورے چه د نفس په دے باندے شعور، تصدیق او علم نه وی، شارح د مزید وضاحت د سوال لپاره شکل داسے جوړ کړیدے،

اوّل[1] حصولُ التصدیقِ موقوفٌ علیٰ حصولِ الحُکمِ (صغری) (۲) وحصولُ الحکمِ موقوفٌ علیٰ تصوّرِ الحکمِ (کبری) (۳) فحُصولُ التصدیق موقوفٌ علیٰ تصوّرِ الحُکمِ (نتیجه) شارح رحمه الله وانٔ چه ماتن په شرح د ملخص کښې په دے خبره باندے تصریح کړیده، چه تصدیق په تصورِ حکم باندے موقوف دے، او دے تصوّرِ حکم لره د تصدیق لپاره شرط کرځولے دے، او جزء ئے نه دے کرځولے د پاره د دے چه اجزاء د تصدیق د څلورونه زیات نشی، او اجزاء د تصدیق څلور دی، اوّل[1] تصور د محکوم علیه دویم[2] تصور د محکوم به دریم[3] تصوّر د نسبت، څلورم[4] تصور د حکم

قولهٗ فنقول قولهٗ لانّ الخ غرض د شارح جواب کول دی د اعتراض سابق نه، او خلاصه د جواب داده چه د ماتن قول " لانّ کلّ تصدیقٍ لابُدّ له من تصوّرِ الحکمِ " په دے باندے دلالت کوی چه تصوّر د حکم هم جز د تصدیق دے، نو او س که حکم نه دواړو ځایونو کښې ایقاع د نسبت شي نو بیا اجزاء د تصدیق د څلورو نه زائد کرځي، اوّل[1] تصور د محکوم علیه دویم[2] تصوّر د محکوم به دریم[3] تصور د نسبت تامه څلورم[4] حکم په معنیٰ د ایقاع سره پنځم[5] تصور د حکم، حالانکه ماتن پخپله په شرح د "ملخص للامام الرّازی" کښې د دے خلاف تصریح کړیده،

قال الامام فی الملخص کلُّ تصدیقٍ لابُدَّ ،،،،،،،، والحکم اذ المریکن تصورًا لم یکن له دَخلٌ فی ذالِکَ، غرض د شارح په نقل کولو د قول د امام رازی رحمه الله سره د خپل قول فنقولُ قولهٗ لانّ کلّ تصدیقٍ الخ باندے اعتراض کول دی، او دا اعتراض مقدر دے په "قیل فرق ما بین قوله وقولِ المصنف رحمهٗ الله ههنا الخ او بیا د هغه اعتراض جواب کول دی، ګویا چه غرض د شارح رحمه الله په نقل کولو د قول د امام رازی رحمه الله د را تلونکی اعتراض تمهید دے، او بعض حضرات وائی چه غرض د شارح رحمهٗ الله په نقل کولو د قول د امام رازی رحمهٗ الله

سره تائید د خپل قول دے، ځکه چه امام رازی هم په ملخص کتاب کښ ویلی دی، "کلُّ تصدیقٍ لا بُدَّ فیه من ثلاث تصورات، تصوُّرُ المحکوم علیه، و به، والحکم" پس د دے نه دا معلومیږی چه تصور د حکم د تصدیق جزء دے د دے وجه نه که دے قول جز کیدلو باندے دلالت نه کولے نو امام رازی به "ثلاث تصوُّرات" نه وَ ویلے بلکه "اربع تصورات" به یے ویلے دے ځکه چه امام رازی په نزد حکم په معنیٰ د ایقاع فعل اختیاری دے او فعل اختیاری د دے د تصور نه بغیر نشی کیدلے، نو تصدیق لپاره تصور د حکم ضروری دے۔

میر صاحب وائی چه دا دویم غرض درست نهٔ دے ځکه چه د امام رازی دا قول مذکور جز کیدلو باندے دلالت کوی نو د دے وجه نه "ثلث تصوُّرات" وئیلی دی نو غرض اول صحیح شو چه دا تمهید دے د راتلونکی اعتراض لپاره۔ او د اعتراض خلاصه داده کوم واقع دے په "قیل نزف ما بین الخ" سره چه په ما بین دقول د امام رازی او دقول د ماتن کښ فرق دے، په دے شان سره چه حکم په قول د امام رازی کښ په معنیٰ د نسبت سره دے او هغه خا مخوا تصوُّر دے په خلاف دقول د ماتن، ځکه چه جائز دی چه داقول دده "والحُکم" عطف شی په مضاف باندے او هغه "تصوُّر المحکوم علیه" دے نو په دغه وخت کښ حکم تصوُّر نشو، گویا چه دا ئے وئیلے وے چه "لا بُدَّ فی التصدیق من نفس الحکم" او دا هم جائز دی چه داقول دده "والحکم" عطف شی په مضافٌ الیه باندے او هغه "محکومٌ علیه" دے نو حکم تصور شو،

نو خلاصه د خبرے دا شوه چه د ملخّص په عبارت کښ "والحکم" عطف دے په محکوم علیه باندے، او دا متعین دے او دا یقیناً حکم دے، په دے کښ بل کوم احتمال نشته او د ماتن په عبارت کښ دوه احتماله دی اوّل چه "الحکم" عطف شی په "محکوم علیه" باندے په دے صورت کښ حکم تصوُّر شو، **قوله** وفیه نظرٌ الخ خلاصه د نظر او د اعتراض داده، چه د ماتن په کلام کښ د "والحکم" عطف په تصور المحکوم علیه" باندے صحیح نهٔ دے ځکه چه ماتن په دلیل کښ "لامتناع الحکم مِمَّن جَهِل اَحد هٰذه الامور" صیغه د جمع راوړیده



نو کم از کم د درے امورو تصور بکار دے، او د درے امورو تصور هغه وخت کیدے شی چه "وَالحکم" عطف شی په مضافٌ الیه یعنی المحکوم علیه باندے، او که عطف په مضاف شی" یعنی تصور المحکوم علیه" باندے، نو بیا تصور د دوو شیانو راځی اوّل[1] تصور د محکوم علیه دویم[2] تصور د محکوم به نو بیا خو ماتن لره داسے ویل بکار وو، چه "لامتناع الحکم مِمَّن جهلَ هٰذین الامرین" حالانکه ماتن د جمع صیغه راوړے ده،

**قوله**، وَلَو صَحَّ حَمل قوله الخ بعض حضرات د مذکور الذکر اعتراض نه داجواب کړے وو چه په علم منطق کښ جمع نه مراد ما فوق الواحد وی، نو هٰذهِ الامور په منزله د هٰذین الامرین شو،

پس عطف د "والحکم" په مضاف "تصور المحکوم علیه" صحیح شو،

جواب دا دے چه علم منطق کښ صرف په تعریفاتو کښ جمع نه مراد مافوق الواحد وی علی الاطلاق هره جمع باندے داسے نه ده او دا هم قاعده اکثریه ده نه کلیه، لیکن دا د او منلے شی چه د هٰذهِ الامور نه مراد هٰذین الامرین دے، نو دوه نقصانونه لازمیږی اوّل[1] نقصان دا دے چه په دے صورت کښ تصدیق صرف د دوو تصوُّرو تقاضا کوی اوّل[1] تصوُّر د محکومٌ علیه او دویم تصوُّر د محکوم به حالانکه مدعیٰ او مقصود دا دے چه تصدیق مقتضی د تصوُّراتو ثلاثو د دے تصوُّر د محکومٌ علیه، تصوُّر د محکوم به او تصوُّر د حکم نو دلیل مذکور (لانَّ کلَّ تصدیق لابُدَّ فیه الخ) موافق نشو د مدعیٰ سره ځکه دعویٰ عامه ده، او دلیل خاص شو نو مدعیٰ ثابته نه شوه،

او دویم[2] نقصان دا دے چه ذکر د "الحکم" په کلام کښ مستدرک او بے فائدے شو، ځکه چه ځمونږ مقصد وجوب د تقدیم د تصوُّر دے په تصدیق باندے طبعًا نو هرکله چه حکم تصوُّر نشو نو په دلیل کښ د حکم ذکر کولو ته حاجت رانغے۔ پس خلاصه د کلام دا شوه چه ماتن لفظ "الحکمُ" دوه ځلے استعمال کړے دے، د اول نه مراد نسبت ایجابیه یا سلبیه دے او د دویم نه مراد ایقاع او انتزاع ده) نو په دغه صورت کښ ذکر کول د "الحکم" بیکار او لغو نشو، والتاسیس اولیٰ من التاکید،

**سوال**:۔ د شارح رحمة الله په دے قول باندے چه ولو صحّ حَملُ

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله الخ دے اعتراض واردیږی خلاصه د اعتراض دا ده چه مجازًا حملِ مذکور کښی یعنی جمع نه مراد ما فوق الواحد مرادا حتمل خو خفا نشته پس شارح رحمهٔ الله لره دا سے ویل پکار وو، ولو حمل قوله الخ جواب دا دے چه ترڅو چه حقیقت باندے محمول ممکن وی نو مجاز ته صیرورت او رجوع کول صحیح نه دی، او دلته "هٰذِهِ الامور" په حقیقت باندے حمل کول ممکن دی،

**قالَ وامّا المَقالاتُ ثلاثٌ المَقالَةُ الاُولٰی فی المفردات ..........**
**........ اقولُ لا شغلَ للمنطقی، ........ من وراء الجدارِ عَلٰی وجودِ الالفاظِ،**

## (۱۵) «اِزالة الملالةِ عن مباحثِ الدلالَةِ»

زده کړه د اخبره چه په دے مقام کښی لا بُدی ده د معرفت د (۱۵) امورو نه، (۱) وجه دراوړلو د بحث الفاظ (۲) وجه دراوړلو د بحث د دلالة، (۳) صیغه د دلالت (۴) معنیٰ لغوی (۵) معنیٰ اصطلاحی (۶) طریقه د تقسیم (۷) صورتونه د دلالة (۸) اقسام اولیه سره د وجوه التسمیه (۹) وجه د حصر په شپږو کښی (۱۰) وجه د انتخاب د لفظی وضعی (۱۱) اقسام ثانویه سره د وجه د حصر (۱۲) وجوه التسمیه (۱۳) په دلالت ثلاثه وُکښی د توسط الوضع قید (۱۴) شرط د دلالت التزامی (۱۵) نسب د دلالات ثلاثه

## تفصیل المقام

**تفصیل د امر اول**:- وجه دراوړلو د بحث د الفاظو ته شارح رح اشاره کړیده په دے قول سره چه « لا شُغْلَ للمنطقی مِنْ حیث هو الخ » پس غرض د شارح درحقیقت په دے عبارت سره جواب ورکول دی د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دے چه موضوع د علم منطق معرّف او حجت دے او معرّف او حجت د قبیلے د معانی نه دی ځکه چه معرّف لپاره د انسان معنیٰ د حیوان ناطق ده نه لفظ د حیوان ناطق دے، او همدغه شان



حجت لپاره د العالمُ حادثٌ معنیٰ العالَمُ متغیّرٌ، وکلُّ متغیّرٍ حادثٌ دے نه لفظ دیے، نو ذکر کول د الفاظو غیر مقصود دے په دے مقام کښی نو باید چه مصنف رحمه الله الفاظ په خپل کتاب کښی نه وے ذکر کړے او حاصل د جواب دا دے چه مونږ وایو چه نظر د منطقی مِن حیثُ انّهٗ منطقی په معرف او حجت کښی دے، او مقصود اوّلاً وبالذّات په منطق کښی هم بحث د معرف او حجت دے او معرّف او حجت له قبیلے د معانی نه دی نه د قبیلے د الفاظو نه خو لیکن تعلیم او تعلّم افاده او استفاده د معانی په الفاظو سره کیږی، نو الفاظ اګرچه مقصود بالذّات نه دی لیکن مقصود بالعرض دی لکه څنګه چه ذکر کول د تعریف د علم منطق او د موضوع د علم منطق او غرض د دے مقصود بالذات نه دی، لیکن ذکر کړے شی لپاره د بصیرت کامله حاصلیدلو مبتدی ته په مقصود کښی نو له دے وجه نه د تعریف، موضوع، او غرض مقصود بالعرض جوړشوے دی نو دغه شان الفاظ هم اګرچه مقصود بالذات نه دی لیکن مقصود بالعرض دی - **سوال** بحث د الفاظو هرکله چه مقصود بالعرض شو نهٔ مقصود بالذات نو بائد چه بحث د معانیو مقدم کړے شی په بحث د الفاظو باندے ځکه چه تقدیم د مقصود بالذّات اولیٰ وی د تقدیم د مقصود بالعرض نه، حالانکه جمله مناطقو بحث د الفاظ او د دلالت مقدّم کړے دے په معانیو باندے - **جواب** بحث د الفاظو په منزله د موقوفٌ علیها او بحث د معانیو په منزله د موقوف دے، او موقوفٌ علیه مقدّم وی په موقوف باندے او دا ځکه چه الفاظ دوال دی او معانی مدلولات دی او دال مقدّم وی په مدلول باندے،

**«تنبیه»** وجود په دوه قسمه دے (۱) وجودِ حقیقی، (۲) وجودِ مجازی یا د وجودِ حقیقی خپل کورکښی په دوه قسمه دے (۱) وجود فی الاعیان (۲) وجود فی الاذهان، او وجود مجازی هم خپل کورکښی په دوه قسمه دے (۱) وجود فی العبارة (۲) وجود فی الکتابة، هرکله چه تعلیم او تعلّم، تفهیم او تفهّم کښی وجود فی العبارة زیات دخل وی او افاده او استفاده کښی د عبارت ته شدید احتیاج وی نو د دے وجه نه په منطق کښی د بحث د الفاظو لپاره یو مستقل بحث منعقد کړے شی،

شارح چېل قول لاشغل للمنطقي من حيث منطقي الخ کښې حيثيت لره معتبر کړو، او حيثيت په درې قسمه دَے (۱) اطلاقيه کوم چه د حيث تعميم بيانوی، او د دے علامه داه چه د حيث ماقبل او مابعد يو وی، لکه الانسانُ مِن حيث هُوَ انسانٌ (۲) تقيديه کوم چه د حيث لپاره قيد وی او حيث مع الحيثية يو دريم شئ وی کوم چه د حيث نه روسته وی او حکم وی لکه الانسانُ مِن حَيثُ انّهٗ کاتبٌ متحرك الاصابع حين مايکونُ کاتبًا (۳) تعليليه کوم چه د حيث صرف په احکامو کښې تبديلی پيدا کوی او ذات د حيث حسب سابق محفوظ وی لکه زيدٌ مکرمٌ من حيثُ انّهٗ عالِمٌ - اوس په کلام د شارح کښې کوم حيثيت دَے؟ ميرسيد شريف جرجانی رحمه الله وائی چه دلته حيثيت اطلاقيه دَے نه تقيديه او نه تعليليه دے، ځکه چه دلته د حيث اعاده بيا اوکله چه حيثيت کښې د حيث اعاده وی نو په دے صورت کښې به حيثيت اطلاقيه وی نو مِن حيث هو منطقي " زيات کړو ولے که کوم منطقي نحوی هم وی نو هغه به ضرور د الفاظو څخه بحث کوی، ليکن د دے حيثيت نه چه دا نحوی دَے،

**قولهٗ** وهوَ لايتوقفُ الخ يعنی معرف او قول شارح کليا تو څخه مرکب وی او د حجت د قياس او قضايا و څخه مرکب وی، او کليات او قضايا د مفهوم اتسام دی نهٔ د الفاظو نو د دے وجه نه د دے مباحثيه الفاظو پورے موقوف نهٔ دی، **قوله** مقصودًا بالعرضِ الخ **سوال** هرکله چه مقالهٔ اولیٰ کښې د الفاظو بحث مقصود بالذات نشو نو بيا د مقالهٔ په عنوان کښې الفاظ دا خلول مستکره او شنيع دی، ځکه چه عنوان کښې هغه شئ ذکرکولے شی کوم چه مقصود بالذات وی، نو ماتن ولے اويل، " المقالة الاولیٰ في المفرداتِ " **جواب** مفرد بالذات د لفظ صفت دَے او بالعرض د معنیٰ صفت دَے، او دلته د مفرد نه مراد مفرد بالعرض دے کُنے د عنوان نه معانی خارجيږی، او دا نئی کيدے چه دواړه مرادشی، ځکه چه استعمالِ واحد کښې مايصدق عليه مفهومُ اللفظ بالذاتِ او ما يصدقُ عليه بالعرض ددواړو اراده جائز نه ده کما عرف في موضعه،



**تنبيه** تر دے ځائے پورے بيان دامراول وو چه بحث کول د الفاظو، **تفصيل** دامر ثانی (يعنی بحث کول د دلالت) دا دے چه دلته يو سوال وارديږی، او حاصل د سوال دا دے چه منطقي بحث د کاسب او مکتَسَب نه کوی نو اشتغال د مصنف په دلالاتو اشتغال بما لا يعنی دے ځکه چه مراد دلالاتو نه کاسب دی او نه مکتسب، او شارح هم دے ته اشاره کړيده په دے قول خپل سره " ولمّا کانَ النّظرُ فيها الخ "
او خلاصه د جواب داده چه منم دا خبره چه مقصود په منطق کښې بحث د احوال د کاسب او د مکتسب نه دے، ليکن تعليم او تعلّم، افاده او استفاده عموماً موقوف دَے په الفاظو باندے " بان يستحمل العلم الالفاظ في تقريره لتلا مِذه و هم يستمعُون کما لا يخفیٰ " او الفاظ په دوه قسمه دی، موضوع [۱] او مهمل [۲]، نو افاده او استفاده په مهملاتو سره نه حاصليږی، نو الفاظ موضوعه متعين شول او مابه الامتياز د موضوعاتو او د مهملاتو نهٔ دے مګر دلالت لفظيه وضعيه نو د دلالت څخه بحث کول ځکه ضروری شو، و بما ذکرنا علمَ وجهُ تقديم الکلام في الدلالة علی الکلام في الالفاظ کما اشار اليه الشارح ايضًا بقوله ولمّا کانَ النّظرُ فيها من حيثُ الخ او حاصل د جواب چه الفاظ په افاده او استفاده د معانی موقوف دی تر دلالت پورے او دلالت ورته موقوف عليه دَے، و الموقوف عليه مقدّمٌ طبعًا،
**سوال** هرکله چه امتياز په مابين د موضوعاتو او د مهملاتو کښې حاصليدو په دلالت لفظيه وضعيه سره، نو بيا بحث د مطلق دلالت د کولے شی په کتابونو د منطق کښې بايد دی چه اکتفاء وکړے شی صرف په ذکرکولو د دلالتِ لفظيه و ضعيه سره، **جواب** معرفت د مقيد موقوف وی تر معرفت د مطلق پورے، و معرفة الخاصِ تتوقفُ علیٰ معرفة العام فلذا يذکرُ مطلق الدّلالةِ -
**تفصيل** دامرِ ثالث او رابع) دلالة صيغه د مصدر ده د باب (ن) نه په وزن د فعالةٌ سره نو دلالت په لغت کښې ارشاد (يعنی راه نمودن) ته وا او هدايت هم راه نمودن ته وائی په لغت کښې، نو د معنیٰ لغوی په لحاظ سره په مابين د دلالت او هدايت کښې ترادف دَے، او د معنیٰ اصطلاحی په

Maktaba Tul.Ishaat.com

لحاظ سره په مابین ددوئ کښې تباین دے، ځکه چه دلالت په اصطلاح
کښې عبارت دے د کَوْنُ الشَّیْ بِحَیْثُ یَلْزَمُ مِنَ الْعِلْمِ بِهٖ الْعِلْمُ بِشَیْئٍ آخَرَ
نه، او هدایت په نزد د معتزلو عبارت دے د اِیْصَالُ اِلَی الْمَطْلُوْب نه
او په نزد داهل سنتو عبارت دے د اِرَاءَةُ الطَّرِیْقِ نه، وللتفصیل مقامٌ آخَرُ

(تفصیل د امر خامس) او معنیٰ اصطلاحی ددلالت دادۀ "چه کَوْنُ الشَّیْئِ
بِحَالَةٍ یَلْزَمُ مِنَ الْعِلْمِ بِهِ الْعِلْمُ بِشَیْئٍ آخَرَ" یعنی دلالت عبارت دے د کیدلو
د یو شی نه په داسے حالت او حیثیت چه لازمیږی به د علم نه په دے
شی باندے علم په شی آخر. یعنی یو شی د اسے حیثیت سره وی چه د نفس
ناطقه د دے باندے علم راشی نو د دے علم د نفس ناطقه نه په دے اول شی
لازمیږی به علم په دویم شی باندے، نو دے اول شی ته دال وائی او دویم
شی ته مدلول، مثال ئے لکه دُخان (لوګے) چه دلالت کوی په وجود د نار
باندے نو علم په دُخان باندے له دے علم نه لازمیږی علم په شی
آخر باندے چه نار دے نو دُخان ته دال او نار ته مدلول وئیلے شی
هکذا اذا کان بالنهار وامّا اذا کانَ باللیلِ فعلی العکسِ، فان قیل قوله
یلزم صفةٌ لقولهٖ حالةٍ ولیس فیه عائدٌ یعودُ اِلی الحالةِ مع انّ الصفةَ
اذا کانت جملةً یلزمُ فیها من عائدٍ اِلَی الموصوفِ، والقول بالتقدیر تکلّفٌ
قلنا العائدُ لا یجبُ اَن یکونَ ضمیرًا بل کَوْنُ الجملةِ مفسِّرَةً للموصوفِ یکفی
عائدًا اِذ المقصود هو الربطُ وَبِهٖ یحصل ذالِکَ (کشاف الاصطلاحات)

(تفصیل د امر سادس) زده کړه د اخبره چه په تقسیم د دلالت کښې
دوه طریقے دی، اوله طریقه د جمهورو ده، دوئ دلالت اولاً تقسیموی
لفظیه او غیر لفظیه ته، ځکه چه دال به خالی نه وائی، یا به ئے لفظ دال
او یا به ئے غیر لفظ وائی، اول لفظی شو، او دویم غیر لفظی شو، او بیا هر
یو د دے دوارو نه تقسیمیږی، وضعیه، طبعیه، او عقلیه ؤ ته، او دویمه
طریقه د بعضو ده، دوئ دلالت اولاً تقسیموی، وضعیه، طبعیه، او
عقلیه ؤ ته، او بیا هر واحد د دے درے واړو نه تقسیمیږی، لفظی او
غیر لفظی ته، کذا ذکره الصادق الحلوائی فی حاشیة الطیبی،

(تفصیل د امر سابع) چه شی اول ته دال، او شی ثانی ته مدلول وئیلے
شی، او مراد د شیئو نه عام دے، لفظ وی، او که غیر لفظ وی، نو تصور



د خلورو صورتونو کیږی (۱) چه دال او مدلول دواړه الفاظ وی لکه اسماء
افعال کوم چه موضوع دی د الفاظ الافعال د پاره علی رأیٍ (۲) چه دال او
مدلول دواړه غیر الفاظ وی، لکه عقود د شول کوم چه دلالت کوی په اعداد
باندے (۳) چه دال لفظ وی او مدلول غیر لفظ وی، لکه زید چه دلالت
کوی په شخص انسانی باندے (۴) عکس د دریم یعنی چه دال غیر لفظ وی
او مدلول لفظ وی، لکه خطوط چه دلالت کوی په الفاظو باندے،
او همدغه شان په دلالت کښې دوه علمه دی، یو علم په دال باندے او
بل علم په مدلول باندے، نو په دے دواړو علمونو کښې څلور صورته
دی (۱) چه لازمیږی تصور د دال نه تصور د مدلول یعنی دال او مدلول
دواړو باندے علم ظنی حاصل وی، لکه په وخت د رؤیت د دُخان کښې نو په
دے وخت کښې په وجود د سحاب باندے چه دال دے هم علم ظنی حاصل
وی، او په وجود د مطر باندے چه مدلول دے هم علم ظنی حاصل وی
(۲) چه لازمیږی د تصدیق د دال نه تصدیق د مدلول یعنی په دواړو باندے
علم یقینی وی، لکه علم په وجود دُخان باندے او علم په وجود د نار
باندے، نو دُخان دال دے او نار مدلول دے، نو په وخت د لیدلو د
دُخان کښې په دُخان او نار دواړو باندے علم یقینی حاصل وی هکذا
بالنهار و باللیل علی العکس،
(۳) چه لازمیږی د تصور د دال نه تصدیق په مدلول یعنی چه په وجود
د دال باندے علم ظنی حاصل وی، او په وجود د مدلول باندے علم
یقینی حاصل وی لکه په وخت د رؤیت مطر کښې په مطر باندے چه
مدلول دے علم یقینی حاصل وی، او په سحاب باندے چه دال دے
علم ظنی حاصل وی او په سحاب باندے چه دال دے علم ظنی حاصل
وی، علی ما قیل، وقیل انّه احتمالٌ محضٌ فقط،
(۴) د دے عکس، یعنی چه لازمیږی د تصدیق د دال نه تصور د مدلول
په دے شان سره چه په وجود د دال باندے علم یقینی حاصل وی
او په وجود د مدلول باندے علم ظنی حاصل وی، مثال لکه په وخت
د رؤیت د سحاب کښې په سحاب باندے چه دال دے علم یقینی حاصل
وی او په مطر باندے چه مدلول دے علم ظنی حاصل وی، په قول

صور تو نه په تعریف د دلالت کښ داخل نه شول، فافهم

(تفصيل دا مرتامن) اقسام اوليه د دلالت دا دی، چه دلالت په دوه قسمه دَے، اول قِسم دلالت لفظی، او دوئیم قِسم دلالت غیرلفظی

بیا دلالت لفظی خپل کورکښ په درے قسمه دَے،

(۱) دلالت لفظی (۲) دلالت لفظی طبعی (۳) دلالت لفظی عقلی، او همدغه شان دلالت غیرلفظی هم په درے قسمه دے۔ (۱) وضعی، طبعی، عقلی، نو ټول اقسام د دلالت شپږ دی،

(تفصيل المقام) (۱) دلالتِ لفظی وضعی او دا عبارت دے دهغه دلالت نه چه دال لفظ وی او دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د وضع د واضع سره وی، لکه دلالت دِ لفظ د زید شو، په خپله مسمّٰی باندے چه حیوان ناطق مع هٰذَ التشخص دَے،

او وجه د تسمیه ئے داده، چه دے دلالت ته لفظی وضعی ځکه وائی چه دال پکښې لفظ دے نو لفظی ورته وائی، او دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د وضع د واضع سره دے، نو ځکه ورته وضعی وائی،

(دوئیم) دلالت لفظی طبعی او دا عبارت دے دهغه دلالت نه چه دال لفظ وی، او دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د مقتضاء د طبعیت سره وی لکه دلالت د اُح اُح شو په درد سینه باندے، او دے ته لفظی ځکه وائی چه دال پکښې لفظ دے او طبعی ورته ځکه وائی چه د دلالت د دال په مدلول باندی په سبب د تقاضا د طبعیت وی، قال المولوی عبد الحکیم، الطبع والطبیعة والطباع، بالکسرِ اللغةِ السجیّة التی جُبِلَ علیها الانسانُ، وفِی الاصطلاح یطلق علی مبدأ الآثارِ المختصّةِ بالشئ سواء کانَ بشعورٍ اولاً، (کشاف)

(۳) دلالت لفظِی عقلی، او دا عبارت دے دهغه دلالت نه چه دال لفظ وی او دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د عقل سره وی، لکه دلالت د دیز شوچه مقلوب د زید دَے چه مسموع شی د وراء الجدار نه په وجود د لافظ باندے، او دے ته لفظی ځکه وائی چه دال (دیز) لفظ دے او عقلی ورته ځکه وائی چه دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د تقاضا د عقل سره دَے، ځکه چه عقل داوائی چه دیز یو اثر دَے، او هر اثر د پاره مؤثر پکار وی،

(۴) دلالتِ غیرلفظی وضعی، او دا عبارت دے، د هغه دلالت نه چه دال پکښ



غیرلفظ وی، او دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د وضع د واضع سره وی، مثال لکه دلالت د دوال اربعۀ په مدلولاتو خپلو باندے، چه خطوط، عقود، نُصب او اشارات دی، نو دے ته دلالتِ غیرلفظی ځکه وائی چه دال پکښې غیرلفظ دَے، او وضعی ورله ځکه وائی چه دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د وضع د واضع سره دے،

(۵) دلالتِ غیرلفظی طبعی، او دا عبارت دے دهغه دلالت نه چه دال پکښې غیرلفظ وی، او دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د تقاضا د طبعیت سره وی، لکه سرعت د نبض (رګ) شو په وجود د حمی (تبی) باندے او دے ته غیرلفظی ځکه وائی چه دال پکښې غیرلفظ دے، او طبعی ورته ځکه وائی چه دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د تقاضا د طبعیت سره وی (۶) دلالت غیرلفظی عقلی، او دا عبارت دے دهغه دلالت نه چه دال پکښ غیرلفظ وی، او دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د تقاضا د عقل سره وی، لکه دلالت د دُخان شو په نار باندے (و بالدلیل علی الحکم) او دے ته غیرلفظی ځکه وائی چه دال پکښ غیرِ لفظ دَے، او عقلی ورته ځکه وائی، چه دلالت د دال په مدلول باندے په سبب د تقاضا د عقل سره دَے ځکه چه عقل دا حکم کوی چه دُخان یو اثر دے او هر اثر لپاره لابدی وی د مؤثر نه او هغه نار دَے،

(تفصيل دا مرتاسع) ز ده کړه دا خبره چه وجه د حصر د دلالت په دے شپږو اقسامو کښ داده، چه دا دال به خالی نه وی، یا به لفظ وی او یا به غیرلفظ وی، که لفظ دوُ، بیا به خالی نه وی، یا به دلالت د دال په مدلول خپل باندے په سبب د وضع سره وی، او یا به په سبب د طبع سره وی او یا به په سبب د عقل سره وی، نو اول لفظی وضعی شو، او دوئیم لفظی طبعی شو، او دریم لفظی عقلی شو،

او که غیرلفظی وی، بیا به هم خالی نه وی، یا به دلالت د دال په مدلول خپل باندے په سبب د وضعی سره وی، او یا به په سبب د طبع سره وی او یا به په سبب د عقل سره وی، اوّل غیر لفظی وضعی شو، او دوئیم غیر لفظی طبعی شو، او دریم غیرِلفظی عقلی شو،

فائده : د دلالتِ اقسامِ مذکوره سته متفق علیه دی، صرف دلالتِ

Maktaba Tul Ishaat.com

غیر لفظي طبعي د ثبوت نه میر سید شریف انکار کړیدے، لکه په حاشیه د شرح مطالع کښ د دے تصریح موجود ده، او د مطول نه هم دا معلومیږي او د دے وجه دا ده چه د دے په مثال کښ عموماً، حرکت د سرعت د نبض په وجود د حمی باندے پیش کولے شي، نو کوم حضرات چه د دے نه انکار کوي، هغوئ دے لره په دلالت غیر لفظي عقلي کښ داخل مني، ځکه چه حمی علت دے او سرعت د نبض معلول دے، او دلالت د علت په معلول باندے عقلي وي او کوم جمهور حضرات چه د دے د ثبوت قائل دي هغوئ وائي چه دغه دلالتِ غیر لفظیه طبعیه ویل په لحاظ د جهت د احداث د طبع سره دے و لولا الاعتبارات لبطلت الحکمة، محقق دواني په حاشیه د تهذیب کښ وائي، چه دلالت طبعیه صرف په لفظ کښ منحصر نه دے، ځکه چه دلالت د حمرة په خجل باندے، او د صفرة په وجل باندے، دا دلالت غیر لفظي طبعي دے، وفي کشاف اصطلاحات الفنون ص۸۹/۱۲ ثم اعلم انهٗ لا یقدحُ في الدلالة الطبعیةِ وجود دلالةٍ عقلیةٍ مستندةٍ الی علاقةٍ عقلیةٍ لجوازِ اجتماع الدلالتین باعتبارِ العلاقتین بل ربما یجتمع الدلالات الثلاث باعتبار العلاقات الثلاث کما اذا وضع لفظ اُح اُح للسعال آه

**قوله** و هو جعل اللفظ الخ دا د لفظي وضعي تعریف دے د دے عقلاً څلور قسمونه دي (۱) چه لفظ او معنیٰ دواړه خاص وي، لکه زید په ذات زید باندے، (۲) لفظ او معنیٰ دواړه عام وي لکه هر هغه لفظ چه په وزن د فاعل سره وي، دا من له الفعل باندے دلالت کوي، (۳) لفظ عام وي او معنیٰ خاص وي، لکه مضمرات او اسماءِ اشارة (۴) د دے عکس لیکن دا قسم غیر متحقق دے، و مطلق الوضع لغةً جعل اللفظ بازاء المعنیٰ، و اصطلاحاً تخصیص شئٍ بشئٍ بحیث متیٰ اُطلق، او احِسّ الشئ الاول فُهِم منهُ الشئ الثاني، و للتفصیل مقامٌ آخر،

**قوله** اُح اُح الخ میر سید شریف رحمه الله وائي دا اَح دے کوم چه درد باندے دلالت کوي او اُح په درد د سینه باندے دلالت کوي او په حواشي د شرح مطالع کښ دي چه دا اُخ دے او اَخ په تحسر باندے دلالت کوي، و في القاموس اَخ بفتح الهمزةِ و تشدید الخاءِ المعجمة وضمها تکره و تأوه، وفي المعجم الوسیط ص۷/۱۲ اَخ حکایة



صوت الساعِل او المتوجّع، و اَخ اِسمُ صوتٍ یدُلُّ علی التوجُّع والتأوّه مِن غیظٍ او حزنٍ۔

وَ في التعریفات للجرجاني ص۱۰ اُح بفتح الالِف و ضمها و الحاء المهملة یدُلُّ علیٰ وجع الصدرِ و یُقالُ اح الرّجُل اذا سعل۔

**قوله** المسموع مِن الخ دا قید ځکه لګولے شي که دا آواز د دیوال د اخوا نه مسموع نه شي کیدے، بلکه مخامخ مسموع شي نو په دے صورت کښ وجود د لافظ په مشاهدے سره حاصل شو نه د قبیلې د دلالت د لفظ په دغه صورت کښ دا د دلالت عقلیه مثال نشي جوړیدے،

---

والمقصود هٰهُنا هو الدلالة اللفظیة الوضعیة ............ انّ اللفظ موضوعٌ لِما خرجَ ذالِك المعنیٰ۔

**تفصیل** د امرِ عاشر) درحقیقت سوال وارد یږي چه هر کله چه جمله دلالات شپږ شول نو څه وجه ده منطقیان بحث صرف د دلالتِ لفظي وضعي نه کوي، په دے شان سره دلالتِ لفظي وضعي تقسیموي، اقسام ثلاثو مطابقي، تضمني، او التزامي ته، او بحث نه کوي د باقي پنځو دلالاتو څخه دا نو دے مګر ترجیح بلا مرجح و ذا باطلٌ، شارح رحمهُ الله جواب طرف ته اشاره وکړه په دے قول سره، والمقصو د هٰهُنا الخ او حاصل د جواب دا دے چه افاده او استفاده د معناګانو په دلالتِ لفظي وضعي سره په طریقه د سهولت سره حاصلیږي په خلاف د هغه نورو اقسامو د دلالت ځکه چه افاده او استفاده په هغوئ سره حاصلیږي خو په طریقه د صعوبت سره، نو صرف د دلالتِ وضعي نه بحث کول ترجیح بلا مرجح نه ده بلکه ترجیح مع المرجح ده، چه هغه سهولت دے

**فائده** ۱ د دلالتِ لفظي وضعي هم په علوموکښ معتبر دے او هم په محاوراتوکښ معتبر دے، او معنیٰ د اعتبار د دلالت لفظي وضعي دا ده چه په علوموکښ مستعملیږي، او همدغه شان په محاوراتوکښ دلالتِ لفظي وضعي مستعملیږي په خلاف د هغه نورو اقسامو د دلالت نه ځکه دا اقسام په علوموکښ قطعاً نه مستعملیږي او په محاوراتوکښ په طریقه د قلت سره مستعملیږي،

**قوله، وهي كون اللفظ الخ** غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره اشاره کړې ده چه دا تعريف د دلالت لفظي وضعي ته، يعني د لفظ دا سے کيدل چه کله تلفظ پرے وکړے شي نو د دے نه د دے معنیٰ معلومیږي ځکه چه دا معلومه ده چه د الفظ د دے معنیٰ لپاره وضع کړے شويدے، لکه چه لفظ "الله" او ويلے شي نو د دے نه يو ذات مقدس مراد وي، يا لکه د قرآن مجيد نوم يادکړے شي نو د دے نه يو مخصوص کتاب مراد وي،

**قوله للعلم بوضعه الخ** په دے قيد سره ئے احترازو کړو د طبعيه او عقليه نه،

**تفصيل** د امر حادي عشر، د دے ته ئے اشاره کړيده په د قول خپل سره وهي اما مطابقة الخ پس زده کړه دا خبره چه دلالت لفظيه وضعيه په درے قسمه دے (۱) مطابقية (۲) تضمنيه (۳) التزاميه-

**وجه د حصر** "لفظ کله چه د وضع په اعتبار سره په کومې معنیٰ باندے دلالت کوي نو دغه معنیٰ (کومه چه د لفظ مدلول دے) يا عين موضوع له وي او يا داخل وي په موضوع له کښې او يا د دے نه خارج لازم وي، اول مطابقي شو، دويم تضمني، او دريم التزامي- **قوله فدلالة اللفظ الخ** غرض د شارح په دے عبارت سره تعريف ذکرکول د هر واحد د دلالات ثلاثو مع الامثله دے په دے شان سره چه دلالت مطابقي[1] عبارت دے د دے نه چه لفظ دلالت وکړي په ټوله معنیٰ موضوع له خپله باندے په دے واسطے چه لفظ وضع شويدے د دے معنیٰ لپاره لکه انسان چه وضع دے لپاره د حيوان ناطق، او دا حيوان ناطق ټوله معنیٰ موضوع له ده د لفظ انسان او دلالت تضمني[2] عبارت دے د دلالت د لفظ نه په جزء د معنیٰ موضوع له باندے په دے واسطه چه د الفظ دا سے معنیٰ د پاره وضع شويدے چه په دے معنیٰ کښې د لفظ معنیٰ مدلول هم داخل دے، لکه دلالت د انسان سره صرف په حيوان باندے يا صرف په ناطق باندے، او دلالت التزامي[3] عبارت دے له دے نه چه لفظ دلالت وکړي په هغې معنیٰ باندے چه هغه خارج وي د معنیٰ موضوع له نه او لازم وي د موضوع له سره لکه دلالت د لفظ انسان شو په قابل العلم او صنعة الكتابة باندے،

**فائده:** الاولیٰ تسمّٰى دلالة المطابقة بالاضافة و بالدلالة المطابقة بالتوصيف، وكذا الثانية دلالة التضمن والدلالة التضمنية وكذا الثالثة بدلالة الالتزام والدلالة الالتزامية بالاضافة والتوصيف،



**تفصيل** د امر ثاني عشر) وجه تسميه د دلالت مطابقي دا ده چه مطابقي ته مطابقي ځکه وائي چه دا منسوب دے بسوئ مطابقت او مطابقت په معنیٰ د موافقت او په دلالت مطابقي کښې هم لفظ موافق وي د معنیٰ سره، كما قيل طابق النعل بالنعل-

**وجه تسميه** د دلالت تضمني دا ده تضمني منسوب دے تضمن او تضمن معنیٰ يو شئ په ضمن (ترخ) کښې نيول او په دلالت تضمني کښې هم چه لفظ کومه معنیٰ دلالت کوي، هغه به په ضمن د معنیٰ موضوع له کښې موجوده وي،

**وجه تسميه** د التزامي دا ده چه په دے کښې لفظ خارج د معنیٰ موضوع له باندے دلالت کوي، ليکن هر امر خارج باندے نه بلکه کوم چه لازم وي د موضوع له سره،

**تفصيل** د امر ثالث عشر، (دلالات ثلاثه ؤ کښې د توسط الوضع قيد) درحقيقت د لته سوال وارديږي چه ماتن په دلالات ثلاثو په تعريفاتو کښې قيد د توسط الوضع زيات کړيدے، دا زيادت د ده صحيح نه دے د دوؤ وجهو نه (۱) وجه دا ده چه دا رساله شمسيه متن دے، او مبنیٰ د متون په اختصار باندے وي او اختصار په دے راځي چه دا قيد ذکرنکړے شي، او د دويمه وجه دا ده چه ماتن رحمة الله د عامو منطقيانو نه خلاف کړيدے، ځکه چه عامو منطقيانو په تعريفاتو کښې دا قيد نه دے ذکرکړے او خلاف د جمهورو نه په قوت د خطاء کښې وي، ترخو چه نکته بيان نکړے شي نو کومه داعيه د لته وه چه ماتن دا قيد زيات کړو، كما اشار اليه الشارح وانما قيد حدود الدلالات نو شارح رحمه الله وائي چه په دے درے وارو دلالاتو کښې (قيد د توسط الوضع) زيات نکړے شي نو د بعض دلالت تعريف به په بعض نورو سره ماتيږي، ليکن کله چه دا قيد زيات کړے شي نو دا فساد ختميږي او د دے قيد نه بغير د دلالاتو تعريفونه ځکه منتقض کيږي چه ممکن ده چه يو لفظ به مابين د کل او جز کښې مشترک وي، لکه

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظ امکان کوم چه امکانِ خاص او امکانِ عام دواړو کښې مشترک دَے (۱) امکان چه سلب د ضرورت د جانبینو نه وی (۲) امکان عام چه سلب د ضرورت د طرف واحد (جانب مخالف) نه وی په دے کښې امکان خاص کُل دَے او امکانِ عام جزء دے، او دا هم ممکن ده چه یو لفظ په مابین د لازم او ملزوم کښې مشترک وی لکه لفظ "شمس" د جرم (د نمر ګکوری) او ضوء (رڼرائی) لپاره په دے کښې جرم ملزوم دے او ضوء لازم، ګویا چه په دے دوؤ مثالونو کښې خلو د صورتونه معلومیږی (۱) چه لفظ امکان باندے تلفُّظ وکړے شی او مراد ترے نه امکانِ عام شی، (۲) لفظ امکان باندے تلفُّظ وکړے شی مراد ترے نه امکان خاص شی (۳) لفظِ شمس باندے تلفظ وکړے شی مراد ورنه جرم شی (۴) لفظِ شمس باندے تلفُّظ وکړے مراد ورنه ضوء شی،

پس هر کله چه اطلاق د لفظ د امکان وشی او مراد ترے نه امکان خاص شی نو دلالت د امکان په امکانِ خاص باندے مطابقی دَے او په دے وخت کښې دلالت د امکان په امکانِ عام باندے تضمنی دے او صادق دے په دے دلالت د لفظ امکان په امکان عام باندے دا چه دلالت د لفظ دے په تمامِ معنی موضوعٌ لهٗ نو تعریف د مطابقی مانع نشو د دخول د غیر نه داخل شو یکښې تضمنی نو تعریف د مطابق مات شو په تضمنی سره، او همدغه شان چه هر کله اطلاق د لفظ د شمس وشی او مراد په دے سره جرم شی نو دلالت د لفظ د شمس په جرم باندے مطابقی دَے، او په دے وخت کښې دلالت د شمس په ضوء باندے التزامی دے او صادق دے په دے دلالت د شمس په ضوء باندے سره دا اراده د جرم دا چه دا دلالت د لفظ دے په تمامِ معنی موضوعٌ لهٗ نو تعریف د مطابقی مانع نشو د دخول د غیر نه داخل شو یکښې التزامی،

والجامِعِیَّةُ وَ الْمَانِعِیَّةُ مِنَ الامورالضروریَّةِ فی التعریف،

نو چه کله مونږ مقید کړو تعریف د مطابقی په قید "د توسُّطِ الوضع" سره نو د مطابقی تعریف نه تضمّنی خارج شو، ځکه چه دلالت د لفظ امکان په امکانِ عام باندے اګرچه په دے صورت کښې چه اطلاق د لفظ امکان وشی مراد ترے نه امکان خاص شی دلالت د لفظ دَے



په تمام معنی موضوعٌ لهٗ باندے لیکن د دے حیثیت نه دے چه لفظ وضع دے لپاره د امکانِ عام بلکه په دے واسطه چه لفظ امکان موضوع دے لپاره د امکان خاص او امکان عام په دے کښې داخل دَے فیکونُ الحدُّ مانعًا،

او همدغه شان التزامی هم خارج شو د تعریف د مطابقی نه ځکه چه دا دلالت د لفظ د شمس په ضوء باندے په دے صورت چه دلالت د لفظ دے په تمامِ معنی موضوعٌ لهٗ، لیکن د دے حیثیت نه دَے چه لفظ موضوع دے لپاره د ضوء بلکه په دے واسطه چه لفظ شمس موضوع دَے لپاره د جرم او ضوء لازم دے، فیکونُ الحَدُّ مَانِعًا،

او همدغه رنګه انتقاض د دلالت تضمنی راجع دے مطابقی سره په دے شان سره چه مونږ اطلاق د لفظ د امکان وکړو او مراد په دے سره امکان عام کړو نو دلالت د لفظ امکان په امکان عام باندے مطابقی دے او په دے باندے دا هم صادق ده په جز د معنی موضوعٌ لهٗ، ځکه چه امکان عام داخل دے په امکانِ خاص کښې نو تعریف د تضمنی مات شو په مطابقی سره، هر کله چه مونږ مقیّد کړو تعریف د تضمنی په قید د توسط الوضع سره نو تعریف د تضمنی نه مطابقی خارج شو ځکه چه دلالت د لفظ امکان په امکانِ عام باندے د دے حیثیت نه نهٔ دے چه لفظ وضع شو یدے لپاره د هغه شی چه جز د معنیٰ موضوعٌ لهٗ دے

او همدغه شان ماتیږی تعریف د دلالت التزامی په مطابقی سره په دے شان سره چه هر کله اطلاق د لفظ د شمس وشی او مراد ترے ضوء شی نو دلالت د شمس په ضوء باندے مطابقی دَے، او دا هم پرے صادق دے چه دلالت د لفظ دَے په لازم د معنیٰ چه خارج دے د معنیٰ موضوعٌ لهٗ نه نو هر کله چه مونږ مقید کړو تعریف د التزامی په قید د مذکور سره تعریف د التزامی نه مطابقی خارج شو، پس ټول صورتونه د انتقاض خلور شول، (۱) انتقاضُ المطابقی بالتضمنی (۲) انتقاضُ المطابقی بالالتزامی (۳) انتقاض التضمّنی بالمطابقیِ (۴) انتقاضُ الالتزامِی بالمطابقی و ههُنَا تفصیل لا یسعهُ المقام - قدسی،

تنبیه " شارح رحمه الله انتقاض د تضمن بالالتزام او انتقاض

د التزام بالتضمن نی بیان نکړو د دے وجه چه د دے په نزد دا یے کوم لفظ ثابت نه دَے کوم چه مجموعه معنیٰ مرکب او جزء خارج لازم معنیٰ لپاره وضع شوے وی، او انتقاضین مذکورین هذه وخت کیدا ے شی چه دا ثابت شی،

سوال :۔ هرکله چه قید د توسط الوضع په تعریفونو کښ معتبرو نو ماتن رحمه الله لره پکار وو چه اولنی (یعنی مطابقی سره یے ذکر کړے وَے دوؤ روستنو (یعنی تضمنی، او التزامی) سره ذکر کړے نه وے بلکه اکتفاء یے کړے وے په ماسبق سره په دغه طریقه سره مقصود هم حاصلیدو او د اختصار مراعت هم کیدو کوم چه متونو کښ مطلوب وی۔

جواب :۔ که دا یے کړے وے نو اهم بیا دا وهم کاوه چه صرف انتقاض د دلالت مطابقی راځی، په تضمنی او التزامی سره حالانکه انتقاض د تضمنی او د التزامی هم راځی په مطابقی سره فلذا قید التعریفات الثلاثة بالقید المذکور،

**قوله** ویرادُ بِهِ الامکان العام ,,,,,,,,,, و یراد بِهِ الامکان الخاص د شارح رحمه الله د دے عبارت نه دا معلومیږی چه د دلالت د پاره اراده شرط ده حالانکه د جمهورو مناطقه په نزد باطل دَے او شارح رحمه الله په خپله د دے قائل نه دَے، او محقق طوسی رحمه الله په شرح د اشارات کښ د شیخ دا اراده شرط کول نقل کړی دی، د دے لره عامو منطقیانو خوښ کړے نه دَے، جواب دا دے چه د اراده ذکر کول د بیان واقعی په طور باندے دے نه په طریقه د اشتراط،

**فائده** :۔ الدلالةُ تتوقفُ علی الارادة املا، فاهلُ العربیّةِ یشترطون القصد فی الدلالةِ فمایفهمُ مِنْ غیر قصدٍ لا یکونُ مدلولاً للفظ عندهم فان الدلالة عندهم هی فهم المقصودِ لا فهم المعنیٰ مطلقًا وَ المنطقیّونَ لَا یشترطونهٗ فان الدلالةَ عندهم فهم المعنیٰ مطلقًا سواءٌ کان ارادة المتکلم اولاَ، وقیل لیسَ المطلوب انّ القصد معتبر عندهم فی اصل الدلالةِ حتّی یتوجهُ انَّ الدَّلالةَ لیست الا فهم المعنیٰ من اللفظ بل انها غیر معتبرةٌ اذالم یقارنِ القصدَ، فکانّهٗ لا یکونُ



عدم فتلی هذا یصیر النزاعُ لفظیًا فی اعتبارِ الارادةِ فی الدلالة وعدم اعتبارهما آه،

**قَالَ** ویشترطُ فی الدَّلالةِ الالتزامیّةِ ,,,,,,,,,,,,,, والا لاجتمع فی العمی البصر وعدمهٗ۔

**تفصیل** د امر رابع عشر) زده کړه دا خبره چه د تعریف د دلالت التزامیه نه دا خبره واضحه شویده چه دا یو امر خارج باندے دلالت کوی، نو دے امر خارج نه هر امر خارج مراد نه دَے ګنے لازمیږی دلالت د یو لفظ په امور غیر متناهیو باندے او دا محال او نا ممکن دَے او نه دے امر خارج نه کوم مخصوص امر خارج مراد دے ګنے ترجیح بلا مرجح لازمیږی او دا باطل دے، پس په دے دلالت التزامی کښ یو شرط او قید ضروری دَے چه د دے چه خبرے وضاحت وکړی چه د امر خارج نه کوم امر خارج مراد دے، او هغه شرط او قید دا دے چه په دلالت التزامی کښ (لزوم ذهنی) ضروری دَے د دے شرط نه بغیر دلالت التزامی نشی موجودیدے ځکه چه د شرط نه بغیر وجود د مشروط محال دے۔

بیا لزوم په دوه قسمه دے (۱) لزوم ذهنی (۲) لزوم خارجی، فالاوّل هو کونُ الامر الخارج لازمًا لِمُسمّی اللفظ بحیث یلزمُ من تصوّرِ المسمّی فی الذهن تصوّرهٗ فیهِ کالبصر للعمی۔ و الثانی و هو کون الامر الخارجی بحیث یلزمُ مِنْ تحقّقِ المسمّیٰ فی الخارج تحققه فی الخارج کوجود النهارِ لطلوعِ الشمس نو په دلالت التزامی کښ لزوم ذهنی شرط دے د دے مطلب دا دے چه کله په ذهن کښ د ملزوم تصوّر وکړے شی نو د دے سره د دے د لازم تصوّر هم راځی، او که کوم ځائی کښ دا یے نه وی نو هلته دلالت التزامی نه شی موجودیدے، د دے وجه دا ده چه کله کوم لفظ د وضع په لحاظ سره په معنیٰ باندے دلالت وکړی هلته بو دا مرینو نه به موجود وی خامخوا (۱) چه دا لفظ د دے معنیٰ لپاره موضوع دَے (۲) چه د معنیٰ موضوع له د فهم نه دا امر خارج فهم ضرور کیږی او لفظ ملزوم د امر خارج لپاره مطابقةً موضوع هم نه دَے نو که تصور د ملزوم نه تصوّر د لازم هم راشی نو امر ثانی هم نه متحقق کیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو بیا لفظ ملزوم په دے امر خارج باندے دال کرځي، همدا وجه ده چه بیا دلالت التزامي هم نه موجودیږي، لیکن که په دلالت التزامي کښ لزوم ذهني شرط کړے شي وجود دے راځي، بیا وجود ذهني خپل کور کښ په دوه قسمه دے (۱) لزوم عقلي، او دا عبارت دے له دے نه چه عقل به محال ګڼړي جُدا والے د تصور د موضوع لهٔ د تصور د خارجي معنی نه، مثال لکه بصر چه لازم دے د معنی موضوع لهٔ د عمی سره چه عدم البصر دے (۲) لزوم عرفي او دا عبارت دے له دے نه چه ذهن به انتقال کوي د تصور د معنی موضوع لهٔ نه امر خارج (خارجي) ته په اعتبار د عرف سره مثال لکه جُود (سخا) چه لازم ده د حاتم طائی سره د عامو منطقیانو په نزد په دلالت التزامي کښ لزوم د هغې عقلي شرط دے او د علماء عربیؤ په نزد په دلالت التزامي کښ لزوم عقلي او عرفي نه کوي چه وي لا على التعين شرط دے البته لزوم خارجي د هیچا په نزد شرط نهٔ دے، او ددے وجه داده چه که دا شرط اوګرځولے شي نو بیا دلالت التزامي ددے نه بغیر موجودیږي، فاللازم باطل و الملزوم مثله وجه د ملازمه داده چه که ملزوم لپاره دا شرط وګرځولے شي چه د دے امر خارج په خارج کښ ضرور موجود وي، نو ملزوم مشروط شو او قاعده داده چه انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط راځي نو وجود د دلالت التزامي به بغیر د وجود د لزوم خارجي نه نشي کیدے، حالانکه دلته مشروط (دلالت التزامي) بغیر د شرط (لزوم خارجي) نه موجودیږي، (او وجه د بطلان د لازم داده چه مثلاً د عمي دلالت په بصر باندے دلالت التزامي دے، عمی ملزوم دے او بصر لازم دے، لیکن د عمی او د بصر په مینځ کښ لزوم خارجي نشته، بلکه په خارج کښ د دوا په مابین کښ منافات دے، دوا ره جمع کیدے نشي او لازم چونکه باطل دے وجه نه چه کوم شي مستلزم وي باطل لره هغه هم باطل وي نو دا مرخارج په خارج کښ متحقق کیدل هم باطل شو۔

**تعریف العمی** "هو عدم البصر عمّا من شانه ان یکون بصیرًا"، "من شانه" کښ تعمیم دے په دے شان سره چه یا د "من شانه" نه مراد "من شان شخصه" دے مطلب دا چه انسان هغکښ بیناوؤ لیکن روسته



څه عوارضو په وجه دے نابینا شو، لیکن دده د شان سره دا خبره ده چه دے بینا شي، او (۲) یا مراد ترے نه "من شان نوعه" دے د دے نوع شان نه داده چه دا بینا شي، لکه مادر زاد ړوند، لیکن د دے نوع (یعنی انسان کیدلو په وجه) شان نه داده چه دا بینا شي، او (۳) یا مراد ورنه "من شان جنسه" شي لکه لړم او میږے د دوئ سترګی نه وي لیکن د دوئ جنس (یعني حیوان کیدلو په وجه) شان نه داده چه دا بینا شي۔

سوال، معترض وائي چه دلالت د لفظ عمي په بصر باندے دلالت التزامي نه دے، بلکه دلالت تضمني دے، ځکه چه بصر خارج د معنی نه ده موضوع لهٔ د لفظ نه بلکه داخل ده په معنی موضوع لهٔ او جزء دے د معنی موضوع له نه، ځکه چه معنی موضوع لهٔ د عمی عدم البصر ده، او جز باندے دلالت دلالت تضمني وي نه التزامي۔

جواب "عمی" عدم بصر او د مجموعے نوم نه دے ګنے اجتماع د نقیضین لازمیږي او دا محال ده بلکه معنی د عمی عدم دے چه مقید دے په قید د بصر سره او بصر قید خارجي دے ځکه چه مضاف الیه خارج وي د مضاف نه فتح یا به "عدم البصر" کښ د مضاف دوه حیثیتونه دي (۱) مضاف من حیث الذات په دیکښ مضاف الیه او اضافت دواړه د مضاف نه خارج وي دلته دا مراد نهٔ دے (۲) مضاف من حیث المضاف په دے کښ صرف مضاف الیه د مضاف نه خارج وي لیکن اضافت خارج نه وي په عدم البصر کښ هم دغه مراد دے، نو په دے کښ البصر کوم چه مضاف الیه دے د مضاف (عدم) نه خارج دے، او دلالت د لفظ په خارج باندے دا دلالت التزامي وي نه تضمني۔

سوال د تقدیر مذکور نه دا معلومیږي چه د عمی موضوع لهٔ هغه عدم دے کوم چه مقید دے په بصر سره بیا بصر طرف ته د دے اسناد نشي صحیح کیدے، حالانکه قرآن مجید کښ دي "فانها لا تعمی الابصار ولکن تعمی القلوب التی فی الصدور"

جواب دلته د عمی نه مراد مجازًا عدم مطلق دے،

قوله فانه لم یتحقق الخ په دے باندے اعتراض واردیږي چه اکثر معاني مجازیؤ کښ لزوم ذهني نه وي او ددے باوجود په دغه معانیو

باندې د الفاظو دلالت وي، مثلاً رجل شجاع باندې لفظ اسد دلالت کوي، حالانکه رجل شجاع د حیوان مفترس لپاره لازم نه دے،

جواب دا دے چه مجازات په دلالت مطابقي کښ داخل دي یا په التزامي کښ دا مسئله مختلف فیها ده، که مراد شق اول شي، نو بیا خو څه اعتراض نه واردیږي، ځکه چه معنیٰ مجازي د وضع په اعتبار سره موضوع له ده، او که شق ثاني شي نو بیا د قرینه بینه حالیه یا مقالیه په وجه معاني مجازيه او د موضوع له په مابین کښ لزوم ذهني راځي چه د هغې د وجه ذهن معاني مجازیو طرف ته ځي،

**فائده**: امام رازي رحمه الله په شرح د اشارات کښ ویلي دي چه دلالت التزامي په علوموکښ مهجور او متروک دے، البته په محاورات عربیه وکښ د دے استعمال شائع او ذائع دے، بلکه د بلغاؤ په نزد حسن کلام مدار په استعمال د معاني مجازیو باندې دے کوم چه اکثر د مدلولاتو التزامیه په شکل کښ وي، او په علوموکښ متروک ځکه دے چه د دے تدوین چونکه تعلیم او تعلم لپاره وي، نو د دا سے امورو نه احتراز کول ضروري دي کوم چه مخل بالفهم (دفي السلم. قیل التزام مهجور في العلوم لانه عقلي ونقض بالتضمن۔)

**قال** والمطابقةُ لا تستلزمُ التَّضَمُّنَ كما في البسائطِ ،،،،،،، **اقول** اراد المصنف رح بيان نسب الدلالات الثلاث ............ والمطلوب انّ التَّضَمُّنَ مطلقًا لا يوجدُ بدونِ المطابقةِ وهو غير لازم،

**تفصیل** دا مرحامس عشر، غرض د مصنف رحمه الله په دے عبارت سره اشاره کول دي یا د نسبت او د مناسبت ته په مابین د دلالاتو کښ په دے شان سره چه دلالت مطابقي اعم مطلق دے، د تضمني او التزامي نه، او په مابین د تضمني او التزامي کښ عموم خصوص من وجه د ے اوبل غرض د دے نه بیان د احتمالاتو واقعیو دے، په دے مقام کښ مطلق احتمالات عقلیه د دلالاتو کښ دولس دي، شپږ[6] مثبت دي او شپږ[6] منفي دي په دے شان سره چه (۱) دلالت مطابقي مستلزم وي تضمني لره (۲) مطابقي مستلزم نه وي تضمني لره (۳) دلالت مطابقي مستلزم وي دلالت التزامي لره (۴) دلالت مطابقي مستلزم نه وي التزامي



لره (۵) دلالت تضمني مستلزم وي مطابقي لره (۶) دلالت تضمني مستلزم نه وي مطابقي لره (۷) دلالت تضمني مستلزم وي التزامي لره، (۸) دلالت تضمني مستلزم نه وي مطابقي لره (۹) دلالت التزامي مستلزم وي مطابقي لره (۱۰) دلالت التزامي مستلزم نه وي تضمني لره، نو ټول احتمالات یکښ دولس[12] شول په دوي کښ صرف دوه متحقق دي، کما سیاتي التفصیل

**قوله اقول** اراد المصنف الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره اشاره ده تفصیل د ما اجمله الماتن ته، بل اشاره ده تعین د قائل د دے قیل ته کوم چه متن کښ ذکر دے او بل اشاره ده تفصیل د اعتراض نه او بل رد صریح دے په امام رازي باندې کوم چه قائل د قیل د دے

**تفصیل المقام**:- دلالت مطابقي مستلزم نه دے د دلالت تضمني لره یعني دا سے نشي کیدے چه کوم ځائے کښ مطابقي موجود وي هلته تضمني هم موجود وي ځکه چه دا سے کیدے شي چه یو لفظ معنیٰ بسیط لپاره موضوع وي نو د لته دلالت د لفظ معنیٰ بسیط باندې مطابقي دے لیکن تضمني نه دے، ځکه چه بسیط دے ته وائي چه ما لا جزء له، نو هر کله چه جزء نه دي نو دلالت تضمني به څنګه موجود شي لکه لفظ د «الله» دلالت په خپل معنیٰ باندې مطابقي دے لیکن د دے لپاره کوم جز نشته نو وَكَذَالِكَ مِثْلُ لفظ "النقطة الذي يَدُلُّ على طرف الخط وهو جزءٌ لا يتجزى فلا تَضَمُّنَ هناك (وهذا امرٌ محقّقٌ)

**قوله** اي ليس متى الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب کول دي د سوال مقدر نه، حاصل د سوال دا دے چه د ے قول د ماتن کښ چه "والمطابقة لا تستلزمُ التَّضَمُّنَ الخ دے د سالبه کلیه احتمال دے چه دلالت مطابقي کله هم مستلزم نه وي تضمني لره او دا صحیح خبره نه ده، ځکه چه بعض اوقاتو کښ مطابقي مستلزم وي تضمني لره کله چه معنیٰ مرکب وي او حاصل د جواب دا دے چه د لته سالبه کلیه مراد نه ده، بلکه د دے عکس سلب جزئي مراد دے او د دے مطلب دا دے چه بعض اوقاتو کښ مطابقي مستلزم وي تضمني لره،

**قوله**، واما استلزامُ المطابقةِ الالتزامَ الخ یعني د دلالت مطابقي التزامي لره مستلزم کیدل غیر یقیني دي، ځکه چه یقین خو هله کیدے شي، چه

Maktaba Tul Ishaat.com

کله معنیٰ لپاره کوم داسے لازم وی چه تصور دد ے معنی سره تصور دلازم ضروری وی او هر ماهیت لپاره داسے قسم لازم کیدل معلوم نه دی او نه ضروری دی، ځکه چه بعض ماهیات داسے هم وی چه څه قسم لازم ورسره نه وی نو مطابقی مستلزم نه شو التزامی لره .

**قوله** وزعم الامامُ الخ دا امام فخر الدین رازی نظریه دا ده چه دلالت مطابقی بالیقین مستلزم دے التزامی لره ، ځکه چه هر ماهیت لپاره کوم نه کوم لازم ضروری وی، او که نفس الامر کښ نور هیڅ لازم نه وی نو کم از کم " لَیْسَ غیرهٗ " مفهوم خو هر معنیٰ لپاره لازم وی نو لهٰذا ملزوم به دے لوازم باندے دلالت کوی ددے کیله دلالت مطابقی مستلزم دے التزامی لره " هٰذا هو زعمهٗ " او ددے زعم منشأ داده چه هر مفهوم لپاره سلب غیر لازم ذهنی بالمعنی الا خص دے، نو چه کله یو مفهوم لپاره دلالت مطابقی وی نو دلالتِ التزامی به هم وی، فثبت الالتزامُ بالیقین ، امام رازی رحمهٗ الله په دے خپله نظریه کښ متفرد دے د جمهور و مناطقو دا قول نه دے، نو هرکله چه مسلك دامام په دے مسلم کښ ضعیف وو نو شارح رحمه الله ورته اشاره وکړه ضعف ددے ته حیث قَالَ وَزَعَمَ الخ ځکه چه زعم استعمالیږی په قول باطل کښ او په هغه قول کښ چه پرے دلیل نه وی ، لکه چه ماتن رحمهٗ الله اشاره کړې وه ضعف د قول ده ته په دے قول سره و ما قیل الخ ؎

جمالك شتیٰ وحُسْنُكَ واحِدٌ ÷ وکلٌ اِلیٰ ذالك الجمال یشیرُ

دامام رازی رحمه الله د نظریه مذکوره د نه صحیح کیدلو لپاره دره وجه دی او له وجه شارح ذکر کړیده، چه مونږ دا نه منو چه هر ماهیت لپاره څه لازم ضروری وی او نه دا " انّهٗ لیسَ غیرهٗ " د ے لره ضروری لازم وی، ځکه چه مونږ ډیر کرت د ماهیاتُ دا شیاؤ او د حقائقو تصوُّر کوؤ او زمونږ په زړه او په ذهن کښ د سلب غیر خیال قدرے هم نه راځی، او بالفرض که سلب غیر لزوم و منلے شی نو لازمیږی استلزام د هر تصور تصدیق لره، وَذا باطلٌ بوجوهٍ (۱) دا خلاف دے د وجدان څخه ، او وجه د (۲) دا مستلزم دے تصوُّر دامورِ غیر متناهیو لره دفعةً، (۳) دا استلزام داره چه تصور دماهیت تصور دے او لیس غیره تصدیق دے





او دا تصدیق په تصوراتو باندے مشتمل دے ، نو دا تصورات مستلزم شو تصدیق مذکور لره، بعضے[۳] د معانیو متصوَّرونه څه داسے غیر مستقل معانی هم دی چه په هغې باندے کوم حکم نشی لګیدے ، علاوه لا دا چه په دے باندے دا حکم و لګولے شي چه انّه لیسَ غیرهٗ،

او دویمه وجه داده، چه په دلالت التزامي کښ خارج د معنیٰ لازم بیّن بالمعنیٰ الاخص هغه وی چه تصوُّر د ملزوم مستلزم تصور دلازم لره، او لیس غیره داسے نهٔ دے ځکه چه لازم بین با لمعنیٰ الا خص هغه وی چه تصور د ملزوم مستلزم وی تصور د لازم لره او لیس غیره لازم بین بالمعنیٰ الاعم دے، چه په دے کښ د تصور دلازم او د ملزوم نه جزم باللزوم او دا دلالت التزامی لپاره کافي نهٔ دے،

**فائده** :- زده کړه دا خبره چه په اعتبار د وضوح او دخفاء سره لزوم په څلور قسمه دے (۱) لازم بین بالمعنی الاخص، او دا عبارت دے له دے نه چه تصور د مجرد ملزوم کافي وی لپاره د جزم د ذهن په ملازمے باندے لکه تصور د عمی (ملزوم) د بصر (لازم) لپاره (۲) لازم بین بالمعنی الاعم، او دا عبارت دے له دے نه چه تصور د مجرد ملزوم کافي نه وی لپاره د جزم د ذهن په ملازمے باندے بلکه تصوُّر د دواړو کافي وی لکه اربعه د زوجیت لپاره ، او نسبت په مابین دد ے دواړو کښ عموم خصوص مطلق دے ، چه اول اقل دے په مصداق سره، او دویم عام او اکثر دے په مصداق سره .

(۳) لازم غیر بیّن بالمعنی الاخص، او دا عبارت دے د ے نه چه تصور د مجرد ملزوم کافي نه وی لپاره د جزم د ذهن په ملازمے باندے بلکه تصور د دواړو کافي وی لکه ثبوت د کاتب شو د انسان لپاره بالقوة (۴) لازم غیر بیّن بالمعنی الاعم، او دا عبارت دے له دے نه چه تصوُّر د دواړو کافي نه وی بلکه محتاج وی د دلیل ته لکه لزوم د حدوث شو لپاره د عالم، او نسبت په مابین دد ے دواړو کښ هم عموم خصوص مطلق دے لیکن په عکس سره، و التفصیل فی موضعٍ آخر،

**قولهٗ** و من هٰذا تبینُ الخ یعنی دد ے تقریر نه (چه دلالت مطابقی مستلزم نهٔ دے التزامی لره) دا هم معلوم شو چه دلالت تضمنی هم

مستلزم نه دے التزامی لره، ځکه چه څرنګه چه هر ماهیت بسیطه لپاره دلازم ذهنی وجود معلوم نه دے نو دغه شان دهر ماهیت مرکبه لپاره هم دلازم ذهنی وجود معلوم نه دے،

**سوال** میرصاحب وائی چه په دے باندے بعضے خلقو (یعنی ماتن بمنله خپل کتاب جامع الدقائق) دا اعتراض کړیدے چه دهر ماهیت مرکبه لپاره لازم ذهنی ضروری وی، ځکه کله چه دیو امر تصور وکړے شی نو د دے اجزاؤ جزکیدل او د مجموعه مرکب کیدل هم تصور کیږی نو مرکباتو لپاره، جزئیت، کلیت او ترکیب لازم ذهنی شو نو چه کله به اجزاؤ باندے دلالت تضمنی شو نو په لوازمو باندے التزامی کرځی

**جواب** جزئیت، کلیت، او ترکیب دلازم بین بالمعنی الاخص د قبیلی نه دی او د دلالت التزامی لپاره دا ضروری دے کما مر۔

**قوله** وفی عبارة المصنف رح تسامح الخ یعنی ماتن په دے عبارت سره ومن هذا تبین عدمُ استلزام التضمنِ الالتزامَ" استلزام نفی کړیدے حالانکه د دلیل نه دظهور استلزام نفی کیږی نه دا استلزام والفرق بینهما واضح نو دلیل موافق شو د مدعیٰ، او جواب د تسامح نه دا دے چه دا عبارت مبنی دے په حذف د مضاف باندے، تبین عدم تبین استلزام الخ پس مفهوم دعبارت د ماتن ظهور عدم استلزام دے او مفهوم د عبارت د شارح عدم ظهور استلزام دے،

**تنبیه** "التسامح فی عرف العلماء استعمال اللفظ فی غیر حقیقته بلا قصد علاقةٍ مقبولةٍ ولا نصب قرینةٍ دالةٍ علیهِ اعتماداً علی ظهور الفهم فی ذالک المقام (کشاف) وفی اصطلاحات السید هو ان لا یعلم الغرض [illegible] الا بتقدیر لفظ آخر

**قوله** واما هما ای التضمن الخ یعنی دلالت تضمنی او التزامی دواړه مطابقی لره مستلزم دی، او وجه ئے دا ده چه دا دواړه قصدی نه دی بلکه د مطابقی په ضمن کښ ملاویږی نو مطابقی متبوع او دا دواړه تابع دی، والتابعُ مِن حیثُ انَّهٗ تابعٌ لایوجدُ بدون المتبوع نو د دے دواړو تحقق هم بغیر د مطابقی نه نشی کیدے دا دلیل د شکل اول په طریقه دے، او صورت ئے دا دے چه هما تابعان للمطابقی (صغری)



والتابعُ من حیث هو تابعٌ لایوجدُ بدونِ المتبوعِ (کبری) فهما لایوجدان بدون المتبوع المطابقی (نتیجه)

**قوله**، وانما قید الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول دی د جواب دیو سوال مقدر نه حاصل د سوال دا دے، چه کبری ولے مقید کړے شوه په قید د من حیث هو تابع سره، او هم دغه شان قید په دوه قسمه دی (۱) قید اتفاقی (۲) قید احترازی دا کوم یو دے،؟

شارح رحمهٔ الله جواب وکړو، چه دا قید احترازی دے، کما هو الاصل فی القید، ولے که دا قید اونه لګولے شی، نو اعتراض وارد یږی، په دے شان سره چه ډیر کرته تابع د خپل متبوع نه بغیر ملاویږی، لکه حرارت د (نار) اور تابع دے او دا تابع اعم دے هم دغه وجه ده چه حرارت لکه څرنګه اور سره وی، همدغه شان په کرځے، حرکت، غیظ او غضب سره هم وی، په دے حیثیت چه "الحرارة من حیث انها تابعة للنار لاتوجد بدونها" بغیر د اور نه نه ملاویږی،

**قوله** وفی هذا البیان نظر الخ خلاصه د اعتراض دا ده چه حیث په درے قسمه دے (۱) تقییدیه (۲) تعلیلیه (۳) اطلاقیه کما مر فی التفصیل۔

پس په دے قول کښ والتابع من حیث هو تابع" نه تقیدیه کیدے شی او نه تعلیلیه، ځکه چه د تابع نه مراد مفهوم د تابع دے نه ذات د تابع نو لامحاله اطلاقیه شوه او س په دے کښ دوه صورتونه دی یا د دے لحاظ صغری کښ وی، او یا د دے لحاظ په کبری کښ وی، بنا په اول معنی به دا شی چه تضمن د نفس مفهوم د تابع دے، او دا غلط دے ځکه چه تضمن د افراد د تابع دیو فرد دے نه د نفس مفهوم تابع دے، یعنی که صغری مقید کړے په حیثیت مذکوره سره نو بیا صغری ممنوعه ده، ځکه چه مثلاً یو تضمن را داخله نو دا سے په شی، التضمن تابعٌ مِن حیثُ انّهٗ تابعٌ، نو تابع خودئے محمول ده او مراد په محمول سره نفس مفهوم وی نو دا معنی دا شوه، چه تضمن د نفس مفهوم تابع دے او حالانکه تضمن فرد دے دافرادو د تابع نه، او نفس مفهوم نه دے، او بنا په ثانی باندے حد اوسط مکرر نه کرځی حالانکه تکرار د حد اوسط په صغری او په کبری کښ ضروری وی،

**قوله** ویمکن ان یجاب الخ حاصل د جواب دا دے چه مونږ شق

Maktaba Tul Ishaat.com

ثاڼ غوره کوؤ، وان قُلتَ ماقُلتَ قُلتُ دحداوسط مکرر کيدلو صورت دا دے چه دمِن حيثُ هوتابعٌ " تَعَلُّق د محکوم به سره دے نه د محکومٌ عليه سره ' او ددے وضاحت دا دے چه کلام مذکور کښ چه کوم کبریٰ ده يعنی والتَّابِعُ من حيث هُوَ تابعٌ لا يوجَدُ بدونِ المتبوعِ " په دیکښ د من حيث هوتابعٌ تعلق محکوم به ( لا يوجدُ ) سره دے نه محکومٌ عليه التابع سره ، پس حداوسط په دے شکل مکرر کرځي ' التَّضَمُّنُ تابعٌ (صُغریٰ) وکل تابعٍ لا يوجَدُ بدونِ المتبوعِ من حيث هوتابعٌ (کبریٰ) فالتَّضَمُّنُ لا يوجد بدون المتبوع الذی هو المطابقة من حيثُ هو تابعٌ '

**قوله** بل الحکمُ فيها الخ **سوال** شارح دکوم ځائے نه دا معلوم کړو چه حيثُ مذکوره تعلق د محکوم به سره دے نه د محکومٌ عليه سره' **جواب** تعلق د محکومٌ عليه سره کيدے دشي ګنے نقصان لازميږی' په دے شان سره چه که " من حيث هو تابعٌ " تعلق محکوم عليه سره شی نو او س موضوع ( التَّابِعُ مِنْ حيث هوالتَّابع ) نه مراد مفهوم د تابع شي' مطلب دا چه مفهوم د تابع بغير د متبوع نه دشی کيدے' نو په دے صورت کښ قضيه کليه باقی نه پاتے کيږی' او حالانکه شکل اول کښ کليت دکبریٰ شرط دے' او که دا او وئيلے شي چه مراد په دے حيثيت مذکوره سره ذات د تابع دے ليکن متصف په وصف د تبعيت سره' يا مراد دو رنه ذات د تابع دے مقيد په يو قيد سره نو په دے صورت کښ تعليل يا تقيد د شي لِنفسِه لازميږی او دا باطل دے پس دا خبره ثابته شوه چه د حيث مذکوره تعلق محکوم به سره دے نهٔ محکومٌ عليه'

**قوله** نعم اللازم الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اعتراض کول دی په جواب مذکور باندے په دے شان سره چه جواب مذکور نه دا ثابتيږی چه دلالت تضمني او التزامي چه مقيد داخلے په قيد د وصف د تابعيت سره نود مطابقی نه بغير نه ملاويږی ، حالانکه دعوىٰ داوه چه تضمني او التزامی علی الاطلاق بغير د مطابقی نه نهٔ ملاويږی' نو مطابقت را نفي د دليل او د مدعیٰ ترمينځ ځکه چه مدعیٰ عامه شوه او دليل خاص شو' علامه تفتازانی رحمه الله اعتراض مذکور نه جواب کړيدے چه تضمنی او التزامي لپاره قيد مذکور يعنی تابعيت لازم ذاتی



دے په دے شان سره چه کله نه منفك کيږی پس قيد مذکور د اطلاق په حکم کښ او استلزام على الاطلاق ثابت دے' او ميرسيد شريف والی چه استلزام په ثابتولو کښ دا سے وئيلے شی چه تضمني او التزامی د داره وضع لره مستلزم دی په دے معنیٰ چه په تعريف کښ وضع ماخوذ ده او وضع مستلزم ده مطابقت لره نو د داره مطابقی لره مستلزم دی'

(تنبيه ۱) **قوله** والمطابقة لا تستلزم التضمُّنَ الخ فهو من تتمة التوجيه لمزيد انکشاف الدلالات الثلاث فلا يرد ان بيان الاستلزام لا دخل له فی الافادة والاستفادة ، فالاشتغال بالبحث عن مسئلة الاستلزام وعدمهٔ اشتغالٌ بما لا يعنی .

(تنبيه ۲) د تفصيل مذکورنه دا معلومه شوه چه نسبت په مابين د دلالت مطابقی او د دلالتِ تضمُّني او التزامی کښ عموم خصوص مطلق دے' مادهٔ اجتماع به هغه لفظ شي چه موضوع وی لپاره د معنیٰ مرکبے او ورسره لازم ذهنی هم وی ' او مادهٔ افتراق به هغه لفظ شي چه موضوع وی لپاره د معنیٰ بسيطه او ورسره لازم ذهني نه وی' او نسبة په مابين د تضمني او التزامی کښ عموم خصوص من وجه دے ' او ماده د اجتماع به هغه لفظ شي چه موضوع وی د معنیٰ مرکبه لپاره ' چه ورسره لازم ذهنی وی او ماده افتراق ديو جانب چه يو لفظ موضوع وی د معنیٰ بسيطه لپاره او لازم ذهنی ورسره وی ' فتحقق الالتزام بدون التَّضَمُّنِ ' او دبل جانب نه چه لفظ وضع شوے وی د معنیٰ مرکبه لپاره او ورسره لازم ذهنی نه وی فتحقق التَّضَمُّنُ بدون التزام'

**قال** والدَّال بالمطابقة ان تصد بجزئه ،،،،،،، ،،،،، **اقولُ** اللفظ الدا على المعنى بالمطابقة ،،،،،، والوجه الاول ان نتم بقيد وجوب اعتبار المطابقة في القسمة الخ

## ( القول المرتب فی مباحث المفرد والمرکب )

دا کړه داخبره چه په دے مقام کښے لا بدی ده د معرفت د ( ۱۳ ) امورونه ، اول تعريف د مفرد او د مرکب (۲) فرق په مابين د مرکب او د مؤلف او د قول کښ (۳) شروط د تحقق د مرکب او د مفرد (۴) وجه د تقديم د مرکب په تعريف کښ او تاخيرئے په تقسيم کښ (۵) تقابُل په مابين د مفرد او د مرکب کښ (۶) تعين د مقسم (۷) اقسام اوليه د مفرد (اسم ، کلمه ، اداة) (۸) وجوه تسميه (۹) وجهُ الحصر (۱۰) تعين

دمفـرد اقسام ثانویه دمتحد المعنیٰ او د متکثر المعنیٰ (۱۱) اقسام د متحد المعنیٰ (جزئی مشکك متواطی) مع وجه الحصر ووجهٔ التسمیۃ (۱۲) اقسام د متکثر المعنیٰ (مشترك. منقول. حقیقت. مجاز) مع وجه الحصر ووجه التسمیة - (۱۳) معرفت د ترادف (۱۴) تفصیل د اقسامُ د مرکب مع وجه الحصرِ ووجهُ التسمیۃ.

## تفصیل المقام :

(تفصیل الامرالاول) په حقیقت کښ دلته سوال وارد یږی.

خلاصه د سوال داده چه دلته څلور احتمال دادی (۱) افراد، ترکیب، کلیت، او جزئیت اول صفات د لفظ شی (۲) دا ټول صفات د معنیٰ شی (۳) افراد او ترکیب صفت د معنیٰ شی او کلیت، جزئیت د صفت د لفظ شی (۴) عکس د دې نما الوجهُ للمصنف وغیرهٔ للمنطقیین حیث اختار الاحتمال الرابع وترکوا الثلاثة الاُول فلزمُ الترجیح بلا مرجح ؛

د دے سوال ځخه جواب دادے چه افراد او ترکیب حقیقۃً وبالذات صفات د الفاظو دی او معانی موصوف کیږی ثانیًا وبالعرض یعنی په واسطه د الفاظو سره لکه کلیت او جزئیت بالذات صفات د معانیو دی او الفاظ موصوف کیږی په واسطے د معانیو سره. پس لفظ دال بالمطابقة په دوه قسمه دے، اول مفرد (۲) مرکب،

**قوله** اَمّا ان یقصد الخ شارح اَمّا ان یقصد- اولا یقصد الخ سره اشاره کوی دے خبرے ته چه د لفظ په مفرد او مرکب کښ منحصر کیدل دا حصر عقلی ځکه چه دائر دے په ما بین د نفی او اثبات، او شارح "فالفظ ریات کړو اشاره لے وکړه چه مقسم خاص دے یعنی لفظ ځکه چه دوال اربعه د افراد او ترکیب سره نه متصف کیږی، مطلب دا چه لفظ دال بالمطابقی د دوه حالو ځخه خالی نهٔ دے یا دلالت د جزء د لفظ په جزء د معنیٰ باندے مقصود وی اویا به مقصود نه وی، اول مرکب او دویم مفرد پاتے شوه دا خبره چه دلالت مطابقی دلے معتبر کړے شو دد بیان وروسته راځی،

**سوال** مرکب په تعریف کښ دلے مقدم کړے شو په مفرد باندے حالانکه مفرد مقدم دی بالطبع نو په ذکر او وضع کښ هم مقدم کول پکار وو لیوافق الوضع الطبع

**جواب** تعریف د مرکب وجودی دے او تعریف د مفرد عدمی دے، والوجود مقدمٌ فی الاعتبار علی العدم- والتفصیل فی مسئلۃِ التقدیم و التاخیر سیجیٔ

**قولهٗ** کرامِی الحجارۃِ الخ په دے باندے اعتراض وارد یږی، خلاصه د اعتراض داده چه رامِی الحجاره دواړه لفظونه مرکب دی کوم چه موضوع بالوضعین دی نو دے په کوم د وضع لحاظ مطابقی دے- جواب مراد د وضع نه په تعریف د دلالت مطابقی کښ عام دے واحد وی لکه انسان چه دا حیوان ناطق لپاره موضوع دے



او یا متعدد وی لکه رامِی الحجارۃ چه په دے جزء اول دیو معنیٰ لپاره او جزء ثانی د بل معنیٰ لپاره موضوع دے، او که مجموعه معنیین مراد وی نو بیا لفظ د مجموعه معنیٰ لپاره موضوع دے پس دا به دلالت مطابقی کښ داخل شو،

## تفصیل الامرُ الثانی :

د مرکب او د قول په مابین کښ فرق شته او که نه، په دے کښے مختلف اقوال دی "۱" دا دواړه لفظین مترادفین دی واختارهٔ صاحبُ السُلَّم حیث قالَ "ویُسمّٰی قولًا ومرکّبًا" (۲) دا چه فرق شته په دے شان چه قول هغه دے چه ملفوظ کښ مستعملیږی، او مؤلف هغه دے چه معقولاتو کښ مستعملیږی (۳) مرکب هغه دے چه معقولاتو کښ مستعملیږی او قول عام دے د معقول او د ملفوظ نه،

(۴) مؤلف هغه دے چه د هغه په اجزاؤ کښ مناسبت وی او قول عام دے چه مناسبت وی او که نه، هم د هغه شان د مرکب او د مؤلف تر مینځ فرق شته او که نه، نو یو قول دا دے چه دا دواړه لفظین مترادفین دی، او دویم قول دا دے چه مؤلف هغه دے چه د هغه په اجزاؤ کښ مناسبت وی او مرکب عام دے چه مناسبت وی او که نه وغیر ذالك من الاقوال

## تفصیل الامرالثالث :

**قولهٗ** فلابُدَّ ان یکونَ للفظ الخ ذده کړو دا خبره چه د مرکب په تعریف کښ چه کوم قیود ذکر دی په دے اعتبار سره مرکب لپاره پنځه اموره ضروری دی (۱) چه لفظ لره جزوی (۲) معنیٰ لره هم جزوی (۳) جزء د لفظ دال دی په جزء د معنیٰ باندے (۴) دا جزء به جزء د معنیٰ مقصود وی (۵) دلالت په دغه جزء د معنیٰ مقصود باندے هم مقصود وی لکه رامِی الحجارۃ شو نو معنیٰ د رامی ذات من لهٗ الرمی ده او معنیٰ د حجاره ذات من لهٗ الصعوبة ده،

پس په انتفاء د هر قید سره تحقق د مفرد راځی نو د مفرد لپاره پنځه اقسام شول (۱) چه د لفظ د پاره جزء نه وی لکه همزه د استفهام (۲) چه معنیٰ لپاره جزء نه وی لکه لفظ د الله نو معنیٰ ئے ذات واجب الوجود دے او واجب تعالیٰ نسبت د اجزاؤ او ترکیب نفی کیدے (۳) چه لفظ د پاره هم جزوی او معنیٰ لپاره هم جزوی لیکن جزء د لفظ دلالت نه کوی په جزء د معنیٰ باندے لکه زید چه معنیٰ ئے حیوان ناطق مع هذا التشخص ده نو لفظ لپاره اجزاء شته چه ز- ی- د، دی او معنیٰ لپاره ئے هم اجزاء شته، چه حیوان- ناطق- او تشخص دی لیکن جزء د لفظ دلالت نهٔ کوی په جزء د معنیٰ باندے (۴) چه د لفظ د پاره هم اجزاء دی او د معنیٰ لپاره هم اجزاء وی او جزء د لفظ به دلالت کوی په جزء د معنیٰ غیر مقصود

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے لکه عبد الله چه علَم کړے شي لپاره د يو شخص انساني نو په د علميت حالت کښې د عبد الله لپاره دوه معناګانې دي، اوله معنیٰ اضافي ده او دوېمه معنیٰ علمي ده نو معنیٰ اضافي د عبد الله داده چه "عبد" معنیٰ بنده او "الله" معنیٰ واجب تعالیٰ او اضافي معنیٰ ئے حيوان ناطق مع هٰذا التشخص ده، او معنیٰ اضافي غیر مقصود ده، (۵) چه د لفظ د پاره هم جزوي او معنیٰ لپاره هم جزوي او جزد لفظ به دلالت هم کوي په جز د معنیٰ باندے او دا جزبه جز د معنیٰ مقصودي وي خو لیکن دلالت د جز د لفظ به په جز د معنیٰ باندے مقصود نه وي لکه حیوان ناطق چه علم کړے شي لپاره د شخص انساني نو معنیٰ ئے حیوان الناطق مع هٰذا التشخص ده او هم دغه معنیٰ مقصود ده لیکن دا دلالت مقصود نه دے، ځکه مقصود د متکلم هغه دلالت د مجموعه لفظ دے په مجموعه معنیٰ باندے،

(تنبيه) او بعض منطقيانو تداخل کړے دے دهغوئ په نزد د مرکب د تحقق لپاره خلو خبرے ضروري دي، او د مفرد لپاره خلور اقسامه دي (۱) مالا جزء له كهمزة الاستفهام (۲) ماله جزء ولكن لا يدل على معنیٰ كزيد. (۳) ماله جزء يدل على معنیٰ غير المعنىٰ المقصود كعبد الله اذا كان علمًا (۴) ماله جزء وله معنیٰ هو جزء المعنىٰ المقصود ولكن لم يقصد بجزئه الدلالة على جزء المعنىٰ كحيوان ناطق علمًا، والخلاصة ان المركب نوع واحد استوفى في امور اربعة وان المفرد اربعة انواع (۱) لا يوجد فيه كل الامور (۲) لا يوجد فيه ثلاث منها (۳) لا يوجد فيه امران (۴) لا يوجد فيه واحد كذا في التسهيل -

(تنبيه) عبد الله، عبد الرحمٰن، شمس الدين او حيوان ناطق وغيره په حالت د علميت کښې مفرد دي او په حالت د غير علميت کښې مرکب دي،

## (تفصيل الامر الرابع) قوله فان قلت المفرد مقدم على المركب الخ

خلاصه د اعتراض داده چه مفرد ئے ولے روستو ذکر کړو د مرکب نه حالانکه مفرد مقدم وي په مرکب باندے طبعًا...... نو ذکرًا ئے مقدم کول پکار دو ليوافق الوضع الطبع والموافقة خير من المخالفة پس د وضع د ذکر د طبع نه مخالف کيدل د يو غلطئ درجه لري، د دے جواب موقوف دے په يو تمهيد باندے او هغه دا چه مفرد او مرکب لپاره دوه اعتباره دي (۱) بحسب الذات (۲) بحسب المفهوم بحسب الذات هغه شئ دے چه په دغه باندے مفرد يا مرکب صادق راځي، د مفرد مثال لکه زيد، عمرو وغيرهما. او بحسب المفهوم هغه شي دے چه دهغه په



مقابله کښې لفظ وضع کړے شي لکه "الكاتب" دے لپاره دوه اعتباره دي، يو د مفهوم لحاظ، او بل د ذات په لحاظ د کاتب مفهوم دادے چه دا يو داسې شئ دے چه دے د پاره کتابت ثابت دے او کاتب باعتبار الذات نه هغه افراد دانسان مراد دي کوم باندې چه لفظ د کاتب صادق راځي، قوله، فان عنيتم بقولكم الخ غرض د شارح په دې عبارت سره جواب کول دي د اعتراض نه بس د بيان د تمهيد نه او خلاصه د جواب داده چه هر کله د مفرد لپاره دوه اعتباره شول پس دا قول د معترض المفرد مقدم على المركب طبعًا، خالی نه دے يا به ذات د مفرد مقدم والے په ذات د مرکب باندې او يا به مفهوم د مفرد مقدم والے په مفهوم د مرکب باندے اول احتمال مسلم دے ليکن تاخير د مفرد په دے مقام کښې په تعريف کښې شوے دے، او تعريف بحسب المفهوم وي نه په اعتبار د ذات سره او احتمال ثاني ممنوع دے ځکه چه د مرکب په مفهوم کښې وجودي قيود دي او د مفرد په مفهوم کښې عدمي قيود دي او وجود په تصور کښې مقدم او سابق وي په عدم باندے نو ځکه ئے په تعريف کښې مفرد مؤخر کړو ليکن د مفرد احکام او اقسام بحسب الذات دي نو د دے وجه نه خو د دے احکام او اقسام د مرکب د احکامو او اقسامو نه مقدم کړے شول۔

## تفصيل الامر الخامس (اى التقابل بين المفرد والمركب)

زده کړه دا خبره چه د مفرد او د مرکب په مابين کښې د تقابل په باره کښې اختلاف واقع شويدے په دے شان سره چه بعض حضرات وائي چه په مابين د دوئ کښې تقابل تضاد دے ليکن د شارح د کلام نه دا مفهوميږي چه په مابين د دوئ کښې تقابل العدم والملكه دے، حيث قال والوجود سابق على العدم الخ په دے شان سره چه مرکب ملکه ده او مفرد عدم دے، او معرفت د اعدامو موقوف دے ترمعرفت د ملکاتو پورے نو معرفت د مفرد هم موقوف دے تر معرفت د مرکب پورے فلابد من تقدم المركب على المركب. والتفصيل في التقابل في مقام آخر۔

## تفصيل الامر السادس (تعين المقسم)

قوله وانما اعتبر في المقسم الخ د دے عبارت د وه مقصده کيدے شي اول دا چه ماتن رحمه الله په مقسم کښې صرف دلالت مطابقي معتبر کړيدے د مطلق دلالت اعتبار ئے نه دے کړے کوم چه مطابقي، تضمني، التزامي، دريے وارو ته شامل دے، دوېم دا چه صرف د مطابقي اعتبار ئے کړے دے صرف د تضمني يا صرف د التزامي اعتبار ئے نه دے کړے، ليکن دا دوېم مطلب غلط دے ځکه چه دلالت مطابقي متبوع او اصل دے، او تضمني او التزامي تابع او فرع دي او دا اصل ته

بغیر د فرع اعتبار نه وی، هم دغه شان په دے صورت کښ دا هم لازمیږی چې، تحقق دافراداو د ترکیب صرف الفاظ مجاز یو کښ دے، او کوم الفاظ چې خپل موضوع لهٔ کښ مستعمل وی په هغې کښ دافراداو د ترکیب تحقق نه وی، حالانکه دا غلطه خبره ده نواولنیٔ غرض د شارح متعین شو هغه مقسم کښ د دلالت مطابقی دا عتبار وجه داده چه لفظ مفرد او مرکب کیدلو کښ جزود لفظ په جزء د معنیٰ مطابقی باندے دلالت کول او نهٔ کول معتبر دے گنې کوم لفظ چه دا سے دوٚ لفظونه مرکب وی چه بسیط معانی لپاره موضوع وی، د دے مفرد کیدل لازمیږی ځکه چه موضوع لهٔ (معانی بسیط کیدلو په بنا باندے) جزء نه دے نو جزء د لفظ به جزء د معنیٰ تضمنی باندے دال نشو، حالانکه عرف کښ دے ته مرکب ویلے شی هم دغه شان کوم لفظ چه مرکب وی د دا سے دوٚ لفظونو نه او دا سے معنیٰ لپاره موضوع وی چه هغه لپاره لازم ذهنی بسیط وی، د دے مفرد کیدل هم لازمیږی ځکه چه دلته هم دلالت د جزء د لفظ په جزء د معنیٰ التزامی باندے نه دے حالانکه دا مرکب دے

**فائده**:- که مقسم مطلق ذکر حوالے شی نو په دے کښ څلور احتماله کیدے شی (۱) ترکیب کښ جزء د لفظ لپاره جزء د معنیٰ مطابقی، تضمنی او التزامی درے واړه په دال کیدو باندے شرط شی او افراد کښ د دے انتفاء شرط شی برابره خبره ده که دا انتفا جزء د معنیٰ مطابقی، تضمنی او التزامی په ټولو لحاظ سره وی، او که صرف بعض په لحاظ سره وی په دے صورت کښ په لفظ واحد کښ د نه اجتماع د افراد او د ترکیب نهٔ شی کیدے لیکن دا احتمال ډیر بعید دے وجه نه خو شارح ورته څه التفات هم نهٔ دے کړے (۲) ترکیب کښ د دلالت وجود د جمیع معانی په لحاظ سره شرط شی او افراد کښ هم ټولو معانیو لحاظ سره انتفاء وی (۳) ترکیب کښ د دلالت وجود کوم یو معنیٰ لحاظ سره وی او افراد کښ د دے انتفاء د ټولو معانیو په لحاظ سره شرط وی دا دواړه احتماله باطل دی ځکه چه په دیکښ د افراد او د ترکیب په مابین کښ واسطه لازمیږی (۴) ترکیب کښ دلالت د جزء د لفظ په جزء د معنیٰ باندے شرط یا معنیٰ مطابقی وی او یا معنیٰ التزامی او په افراد کښ د دے انتفاء شرط وی په دے صورت کښ لفظ واحد کښ د نه دافراد او ترکیب اجتماع لازمیږی او هم دا صورت مبحوث عنهٔ دے (قدسی تنورات)

**قولهٗ** وفیه نظرٌ الخ مقسم کښ دلالت مطابقی اعتبار لپاره چه کوم دلیل



ذکر کړے شوے وو، هغه کښ اعتراض دے، خلاصه د دلیل اولیٰ چه که مقسم کښ د مطابقی لحاظ و نکړے شی بلکه د تضمنی او د التزامی لحاظ وکړے شی نو په تعریف د مفرد کښ مرکب داخلیږی او دا صحیح نهٔ دی، په دے باندے چه کوم اعتراض وارد شویدے د هغه خلاصه داده چه د دے نه زیات نه زیات دا لازمیږی چه یو لفظ معنیٰ مطابقی په لحاظ سره مرکب وی او د تضمنی او د التزامی په لحاظ سره مفرد وی او دا جائز دی ځکه چه دا سے کیدے شی چه یو لفظ دوٚ مطابقی معنو لحاظ سره مفرد هم وی او مرکب هم وی، لکه عبد الله د علمیت نه مخکښ مرکب دے او د علمیت نه روسته مفرد دے، نو دغه شان دا هم کیدے شی چه یو لفظ معنیٰ مطابقی په اعتبار سره مرکب شی او تضمنی او التزامی په لحاظ سره مفرد شی د دے اعتراض څخه دوهٔ جوابونه شویدی.

حاصل د جواب اول داد ے چه لفظ د عبد الله لپاره دوهٔ معانی مطابقی دی د یو معنیٰ لحاظ سره مفرد دے او بل معنیٰ لحاظ سره مرکب دے دا په دوو حالتونو کښ یعنی د علمیت نه مخکښ مرکب دے او د علمیت نه روستو مفرد دے او چه یو لفظ د معنیٰ مطابقی په لحاظ سره مرکب وی او تضمنی او التزامی لحاظ سره مفرد وی دا په یو حالت او یو وخت نو قیاس د احد هما په آخر باندے قیاس مع الفارق دے.

او خلاصه د جواب ثانی داده چه کله ترکیب معنیٰ تضمنی او التزامی لحاظ سره موجود شی نو مطابقی معنیٰ سره ضرور موجودیږی (د بقاعدهٔ الجزء جزءٌ و مستلزم المستلزم مستلزمٌ) لیکن عکس نشته ځکه چه ډیر کرته معنیٰ مطابقی په لحاظ سره لفظ مرکب وی او معنیٰ تضمنی او التزامی لحاظ سره مرکب نشی کیدے د د وجے ترکیب د معنیٰ مطابقی اعتبار ضروری دے **قولهٗ** الافراد والترکیب الخ میر سید شریف وائی چه بعض نسخو کښ دلته لفظ افراد محض طبعًا او استطرادًا ذکر دے او په اکثرو نسخو کښ دا لفظ نشته هم دغه صحیح ده ځکه چه دلته مقصود دا دے چه ترکیب معنیٰ تضمنی او التزامی لحاظ سره ترهغه وخته پورے متحقق نه دے ترڅو چه معنیٰ مطابقی لحاظ سره متحقق او په افراد کښ د دے عکس دے یعنی کله چه معنیٰ مطابقی لحاظ سره افراد متحقق شی نو تضمنی او التزامی لحاظ تحقق ضروری دے لیکن د دے عکس نشته.

**قولهٗ** فلهذا اختصّ الخ **سوال** د ترکیب تقاضا داده چه د معنی مطابقی

Maktaba Tul Ishaat.com

اعتبار وی، او د افراد تقاضا دا ده چه د معنیٰ تضمنی او د التزامی اعتبار وی پس په مقتضیٰ ترکیب مقسم کښ د مطابقی اعتبار کول او د تضمنی او التزامی اعتبار نهٔ کول دا نه ده مګر ترجیح بلا مرجح او دا باطل ده، **جواب** ترکیب یو مفهوم وجودی دے کله چه د دے اعتبار په لحاظ د معنیٰ مطابقی وکړے شی نو اعتبار د تضمنی او التزامی ته ضرورت نه راځی نو د دے وجے ماتن مقتضیٰ د ترکیب اعتبار وکړو او اقتضاء د افراد طرف ته ئے توجه او نکړه.

**قوله** والوجه الاول الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول دی فرق ته په مابین د دوه وجهینو د اعتبار د معنیٰ مطابقی کښ، او خلاصه فرق دا ده چه په مابین د دوه وجهینو کښ عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه دویمه وجه (جواب) دلالت کوی په اولویت باندے چه مقسم کښ مطابقی اعتبار کول اولیٰ دی واجب نهٔ دی، او اوله وجه که د اعتراض مذکور څخه وساتلے شی نو دلالت کوی په وجوب باندے چه مقسم کښ اعتبار د مطابقی واجب دے،

**قوله** قال وهو ان لم يصلح لان يخبر به وحده الخ

## تفصيل الامر السابع (اقسام المفرد الاولية)

نده کړه دا خبره چه مفرد په درے قسمه دے (۱) اسم (۲) کلمة (۳) اداة تعریف د اداة دا دے چه دا یو لفظ دے چه صلاحیت او قابلیت نه لری د اخبار به کیدلو چه یوازے واخلی لکه فی، او ته شو، **سوال** - شارح دے قول "اللفظ" ته ضرورت نشته ځکه چه مفرد قسم د لفظ دے او مقسم معتبر وی په قسم کښ، **جواب**[(1)] دا د قبیلی د تصریح بما علم ضمنًا نه دے، **جواب**[(2)] غرض د شارح په دے سره بیان د مرجع د ضمیر هو دے کوم چه متن کښ ذکر دے.

**سوال** تعریف د اداة باندے اعتراض شویدے حاصل د اعتراض دا دے چه دا د اداة تعریف مانع نهٔ دے د دخول د غیر نه ځکه چه پکښ داخل شول ضمائر متصله مرفوعه ځکه چه ضمائر متصله ضربا کښ الف او ضربوا کښ واو او ضربك کښ کاف او غلامی کښ یا د مخبر به کیدلو صلاحیت نه لری، ځکه چه محکوم به هُمَا، هُمْ، اِيَّاكَ او اِيَّایَ دی، نه الف، واو، کاف، او یا نو پکار دا دی چه دوی ته هم اداة او وئیلے شی حالانکه دا اداة نه دی بلکه اسماء دی!



**جواب** اداة کښ د مخبر به صلاحیت نه کیدلو مقصد دا دے چه نه دا په خپله اداة مخبر به کیدے شی او نه د دوی مرادفات، او ضمائر متصله اګرچه په خپله د مخبر به کید لو صلاحیت نه لری لیکن د دوی مرادفات (چه هما، هم، انت، او انا دی) د مخبر به کید لو صلاحیت لری.

**سوال** بیا خو ډیر اداة (حروف) هم د مخبر به کید لو صلاحیت لری په مرادفاتو سره ځکه چه مثلاً لفظ فی مرادف د ظرفیت ده او من مرادف د ابتداء ده او الیٰ مرادف د انتهاء ده؟ **جواب** - زه مراد د مرادف نه مطلق مترادف احتلم او لفظ فی د ظرفیت مطلقه مرادف نه ده بلکه د ظرفیت مخصوصه مرادف ده کوم چه د حصول د زید او دار په مابین کښ دے او دا ظرفیت مخصوصه د مخبر به کید لو صلاحیت نهٔ لری کذا من و الیٰ - (**جواب** دا صل اعتراض ته میر سید شریف والیٰ چه که د اداة په تعریف کښ لفظ تغیر وکړے شی، او دا سے او وئیلے شی ان لم يصلح لان يخبر به وعنه وحده الخ نو بیا د ضمائرو متصلو اعتراض نهٔ واقع کیږی ځکه چه ضمائر مخبر عنه کیدے شی لکه ضربا کښ الف، او ضربوا کښ واو، او ضربت کښ تا لیکن په ضربك او غلامی کښ بیا هم تاویل مذکوره او احتیاج راځی په عبارت کښ نو هم لږ تغیر او ترمیم وکړے شی بیا تاویل ته ضرورت نه راځی چه دا سے او وئیلے شی لا نّ معنیٰ للفظ المفرد اما ان يصلح لان يخبر به وعنه وحده اولا.

**قوله** وانما ذكر مثالين الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب کول دی د یو اعتراض څخه، او حاصل د اعتراض دا دے چه مثال ذکر کولے شی د پاره د توضیح د ممثل او توضیح د ممثل د پاره مثال واحد هم کافی کیږی، د دوه مثالونو ذکر کولو ته څه ضرورت دے مع ان الرسالة متن ومبنى المتون على الايجاز، د دے اعتراض څخه دوه جوابونه دی یو خارجی او هغه دا چه مثال په منزله د ګواه دی او معتبر په شریعت کښ دوه ګواهان وی، قال تعالیٰ واستشهدوا شهيدين من رجالكم الاية او دویم جواب ته شارح اشاره کړیده په دے قول سره وانما ذكر مثالين الخ او حاصل د جواب د شارح دا دے چه کوم شے د مخبر به کید لو صلاحیت نه لری دا په دوه قسمه دے اول دا چه ما لا يصلح للاخبار به اصلًا لا وحده ولا مع غيره لکه فی، من او نور حروف جاره شول، که ته وائی زید فی الدار نو مخبر به محذوف

وِی چه هنه حَصَلَ او یا حَاصِلُ دِعلیٰ اختلافِ القولین او په دے کښې دا ر
په کیدلو خه نخل نشته، او دوئیم ما لایصلح للاخبارِ به وحدهٔ وان
سلح لذالك مع شئٍ آخر لکه لاَ شو په دے قول خموږ کښې چه زیدٌ
لاحجرٌ ځکه چه ، ته خبرمجموع لا حجر دَے نو لفظ دلا جز دخبر واقع
شو یدے فاذ الك مثل المصنف للاداة بمثالین اشارةٌ الیٰ هٰذینِ النوعین،
**قوله** ولعلك تقول الخ غرض دشارح په دے عبارت سره اعترا ض کول دی
په تعریف دا داة باندے خلاصه د اعتراض داده چه تعریف د ادا ةُ په
افعالِ ناقصۀ باندے هم صادقیږی ځکه چه دا هم یواځی مخبر به کیدلو
صلاحیت نهٔ لری حالانکه دا اداة نه دِی بلکه افعال دی کوم ته چه منطقیان
کلمه وائی، فنقول لاَ بعدَ الخ سره شارح جواب کوی او حاصل دجواب دادے
چه که تعریف دا داة به افعالِ ناقصۀ صادق شی خه پروا نشته ځکه چه
منا طقوا دوات دوهٔ قسمونو ته تقسیم کړیدی (۱) زمانیه لکه کان وغیره
شو (۲) غیرزمانیه لکه هو وغیره شو. **قوله** وغایة ما فی الباب الخ غرض
دشارح په دے عبارت سره اعتراض کول دی په جواب مذکور باندے او
حاصل د اعتراض دادَے چه یاخود منا طقوا اصطلاح او دنحویانو اصطلاح
کښې موافقت راشی، والموافقة خیرمِنَ المخالفةِ ، و ذالك غیرلازم الخ سره
شارح رحمهٔ الله جواب کوی او حاصل دجواب دادے چه دا توافق د
اصطلاحینَ خهٔ ضروری خبره نه ده ځکه چه نظر دنحویانو په الفاظو
باندے د الفاظو په اعتباروی اود منطقیانو نظر الفاظو د معانیو لحاظ ری
او افعالِ ناقصه لفظًا افعال دی، هم ددے وجه نه نحویان دا افعال او کرځول
او افعال ناقصه د معانی په لحاظ د مخبر به صلاحیت نه لری ددے وجه نه
منطقیانو دا اداة زمانیه اوګرځول و کلُّ متکلمٍ یتکلم با صطلاحِه؛ وللناس
فیما یعشقون مذاهب۔
**سوال** علامه تفتازانی رحمهٔ الله اعترا ض کړیدے چه افعال ناقصه خو نشته
اسماءِ موصوله هم ادوات کښې شامل کول پکار دی ځکه چه دا اسماء موصوله
هم یواځی مخبر به نشی کیدے بلکه صله ته محتاج دِی؟ **جواب** اسماء
موصوله یواځی د مخبر به کید لو صلاحیت لری لیکن دوئ د خپل ابهام په
بناء باندے صله ته محتاج دی نو محکوم به او محکوم علیه په حقیقت کښې



اسمِ موصول وی او صله صرف د مبین او د مفسر حیثیت لری،
**تعریف الکلمة** ۔ کلمه (فعل) دا یو مفرد لفظ دَے چه یواځی صلاحیت
لری د مخبر به کید لو او دَے به دلالت کوی په خپل هیئت او صورت سره
په زمانه معینه باندے د ازمنو ثلاثو نه لکه ضرب، یضرب شو۔ پس که دے
کښې یو قید هم منتفی شو نو بیا به کلمه نشی ویلے په دے شان سره چه د مخبر
به کید لو صلاحیت نه لری نو اداة شو، او که صلاحیت لری او دلالت نه کوی په
زمانه باندے یا اسم، لکه سماء لو ارض ، او که دلالت کوی په زمانه باند
په اعتبار د جوهر او مادی سره نو بیا هم اسم دے، لکه یوم ، لیل ، او امس و
غیره شو،
**قوله** وان صلح لا ن یخبر الخ **سوال**: شارح رحمهٔ الله دلته خلاف کړیدے
د قاعده مستمره نه او هغه داده چه الوجودی اشرف من العدمی کما مرّ۔
ځکه چه تعریف دا داةُ عدمِی دے او تعریف د کلمه او د اسم وجودی دَے او
وجودی مقدم وی په عدمِی باندے طبعًا **جواب** که وجودِی قسم مقدم
کړے وَے په عدمِی باندے نو نقصان لازمیده ځکه چه وجودی دوهٔ قسمونو
(کلمه ۔ اسم) ته منقسم دَے او دلته درے اقسام هم بیانول دِی او س که
وجودی قسم لی مقدم کړے وی نو دوهٔ صورتونه به وو اول دا چه اول دد
تقسیم کړلو نه روسته اقسام بیانول، او دوئیم دا چه وجودی قسم سره ۲
اداة بیانول او بیا ددے نه پس د وجودی قسم اقسام بیانول اولنی صورت
کښې بعد لازمیدو په مابین د قسمونو کښې کوم چه مخل بالفهم او موجب د
انتشار دے او دوئیم صورت کښې د وجودی قسم دوباره بیانولو سره تکرار
لازمید و نو ددغه دوؤ نقصانونو د اشغوړ لو د وجے نه عدمی (اداة) مقدم
کړو په وجودی باندے. **قوله** کضرَبَ وَیضرِبُ الخ دا دواړه مثالونه د کلمه
(فعل) دی اول د زمانهٔ ماضی باندے دلالت کوی او دوئیم په زمانهٔ حال یا استقبال
باندِ ۔ **سوال** مثال اول خو صحیح دے لیکن مثال ثانی دِ غیر صحیح دَے ځکه
چه فعل مضارِع په زمانهٔ معین باندے دلالت نه کوی بلکه دے کښې ابهام
دے **جواب** ۔ فعل مضارع هم په زمانهٔ معین باندے دلالت کوی یعنی
حال یا استقبال باندے او پاتے شو ابهام دا صرف په مراد کښې وی، کوم چه
قرینه سره زائلیږی ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

**تنبیه** ؛ اعلم انّهٗ اختلف فی المضارع ، قَالَ الجمهور انّهٗ مشترك بین زمانی الحالِ والاستقبالِ کوقوع الاسمِ مشترکًا بین المعانی المتعددة کالعین واختارهٗ الزمخشری ، وقَالَ ابن طراوه انّهٗ حقیقةٌ فی الحالِ و مجازٌ فی الاستقبال واختارهٗ اکثرالفقهاءِ ، وقَالَ الزجاج انهٗ حقیقةٌ فی الاستقبال و مجازٌ فی الحالِ والتفصیل فی الصرف والنحو

**تعریف الاسم** دایولفظ مفرددے صلاحیت لری د مخبربه کیدلو اودلالت نه کوی په خپل هیئت او صورت باندے په زمانه معینه باندے لکه زیدٌ وعلم الخ یا په وزن د ملحٌ سره کوم چه مقابل دجهلٍ دے اویا په وزن د فرسٌ سره دے (بمعنیٰ مَا وضع لشئٍ بعینهٖ) بنا براول زید د اسماءِ ذوات مثال شو او علم د اسماءِ معانی او بنا په دویم باندے یو د اسماء الذات مثال شو او بل د اسماءِ معانی۔

**تنبیه** ؛ زید مثال په ذوی العقول کښ شو او علم مثال په غیرذوالعقول کښ **قوله** والمراد بالهیئةِ الخ **سوال** د هیئة او د صیغه په تعریف کښ د هیئت ذکر اخذ د محدود دے په حد کښ وذا باطلٌ ، **جواب** هیئت مطلق حالت ته ویلے شی او صیغه هغه حالت ته ویلے شی چه تقدیم او تاخیر او حرکاتو او سکناتو په لحاظ حاصل وی نو هیئت عام شو او صیغه خاص شوه لیکن په تعریف کښ هیئت مرادف د صیغی دے نو اخذ د محدود فی الحد لازم نشولان المعرَّف خاصٌ والمعرِّف عامٌ (والتفصیل فی الصیغه فی رسالتنا منهاج الصیغه) گویا تعریف د کلمه کښ دوه شیان یو هیئت او بل مادهٗ د کلمی شکل او صورت ته هیئت ویلے شی ، او د کلمی حروفو ته ماده ویلے شی لیکن الفاظو لپاره هیئت ته علت صوری ویل او حروفو ته علت مادی ویل دا مجازًا دی یعنی په طریقه د تشبیه سره لکه چه علت صوری او مادی د مرکبا تو ما دیو سره خاص دی او الفاظ مادی نشی کیدلے

**قوله** وانما قید حد الکلمة الخ غرض د شارح رحمهٗ الله په دے عبارت جواب کول دی د دوو اعتراضونو څخه حاصل د اعتراض اول دا دے چه تعریف د کلمه مقید کړو په قید د "بهیئةٍ وصیغة" سره او قید په دوه قسمه وی (۱) اتفاقی (۲) احترازی ، نو دا قید کوم یو دے نو که اول وی خو بیائے ذکر کولو ته ضرورت نشته ، او که دویم وی نو د څه نه ئے احتراز کیدے نو شارح



جواب وکړو ، او حاصل د جواب دا دے چه دا قید احترازی دے په دے سره ئے د هغه اسماؤ نه احتراز کړیدے کوم چه دلالت کوی په زمانه باندے خو په اعتبار د جوهر او مادی نه په اعتبار د هیئت او صیغه سره لکه زمَانٌ (وخت) الامسُ (پرون ورځ) الیوم (نن ورځ) صَبُوحٌ (د صباح وخت) (غبوق) (د ماښام وخت) وغیره او حاصل د دویم اعتراض دا دے چه رساله شمسیه متن دے او بنا د متونو په اختصار باندے وی او اختصار هله راته چه ماتن دا تیه ویلے وے فان دل علی زمان معیّن الخ او بهیئتهٖ ئے ذکر کړے نه وے ۔ او حاصل د جواب دا دے چه که دا قید ماتن نهٔ وے ذکر کړے نو تعریف د فعل (کلمه) مانع نهٔ کرځیده د دخول د غیر نه او تعریف د اسم جامع نهٔ کرځیده خپلو افرادو لره ، ولا بدَّ فی التعریف من الاطرادِ والانعکاسِ) پس په اسماءِ مذکوره کښ زمانه په اعتبار د مادے سره ده نه په لحاظ د هیئت سره هم دا وجه ده چه په اختلاف د هیئت سره زمانه بدلیږی اګرکه ماده یوه وی لکه ضَرَبَ ، یضربُ شو ددوارو ماده (ضرب) یوه ده لیکن هیئت بدل دے نو دے وجه نه اول په ماضی او دویم په حال یا استقبال باندے دلالت کوی ، او که اختلاف د هیئت رانشی نو زمانه نهٔ بدلیږی اګرکه ماده کښ اختلاف راشی لکه ضربَ او طلبَ شو.

د اول مادهٔ ضرب ده او د دویم ماده طلب ده خو دواړه دلالت کوی په زمانه ماضی باندے۔ **قوله** بشهادةِ اختلافِ الزمانِ الخ معترض لره ممکن دی چه اعتراض وکړی په دے شان سره چه مثلاً ضَرَبَ (معلوم او ضُرِبَ مجهول) دوی کښ اختلاف د هیئت شته لیکن اختلاف د زمانے نشته ځکه چه دواړه په زمانه ماضی باندے دلالت کوی ، او همدغه شان د ضَرَبَ او د لَمْ یضرِب دواړو هیئت کښ اختلاف شته لیکن اختلاف د زمانے نشته ، او همدغه شان د لم یضرب او لا یضرِب هیئت کښ اختلاف نشته او زمانه کښ اختلاف شته . نو ستا داقاعده مذکوره چه په اختلاف د هیئت سره اختلاف د زمانے راځی منقوض او باطل شو ، د دے جواب دا دے چه اختلاف د هیئت مستلزم نهٔ دے اختلاف د زمان لره بلکه اختلاف د زمان مستلزم دے اختلاف د هیئت لره یعنی کوم ځائے کښ چه زمانه مختلف وی نو هلته به ضرور هیئت مختلف وی لیکن د دے عکس نشته چه کوم ځائے چه اختلاف د هیئت وی هلته به اختلاف د زمان وی ، گویا د دوی په مابین کښ نسبت د عموم خصوص مطلق دے

اختلاف زمان اخص مطلق دے، او اختلاف د هیئت اعم مطلق دے.

**سوال** دلَمْ یَضْرِبْ او دلَا یَضْرِبُ کښې اختلاف د زمان شته او اختلاف د هیئت نشته نو دا قول ستا چه اختلاف د زمان مستلزم دے اختلاف د هیئت لره باطل او منقوض شو، **جواب** دا سوال ځکه نه وارد یږی چه ځمونږ بحث په لفظ مفرد کښې دے او مثل دلم یضرب او لا یضرب مرکب دی د کلمه (یضرب) او اداة (لَمْ، لَا،) نه **فان قلت** الخ حاصل دا اعتراض دا دے چه کلمه (فعل) سره ددے نه چه دا د مفرد یو قسم دے لیکن دا د تعریف د مفرد نه خارجیږی او به تعریف د مرکب کښې داخلیږی ځکه چه په کلمه (فعل) کښې درے شیان وی (۱) معنیٰ حدثی (معنیٰ مصدری)(۲) نسبت الیٰ الزمان (۳) نسبت الی الفاعل، او دا معلومه خبره ده چه صیغه نسبت الی الزمان باندے دلالت کوی او ماده په معنیٰ مصدری باندے دلالت کوی نو جزء د کلمے دلالت کوی په جزء د معنیٰ باندے او دا نهٔ دے مگر مرکب حالانکه کلمه (فعل) د مفرد یو قسم دے

او شارح رحمهٔ الله جواب کړیدے په دے قول سره، **فنقول** المعنیٰ من الترکیب الخ او حاصل د جواب دا دے چه کلمه (فعل) هغه وخت مرکب کرځی چه کله د اجزاء په تلفظ او په سمع کښې ترتیب واروی، او حقیقت دا دے چه په تلفظ او سمع کښې ترتیب د الفاظو یا د حروفو وی، په هیئت او ماده کښې ترتیب نه وی ماده معروض او هیئت عارض دے او دا دواړه په تلفظ او په سمع معیت وی نو کلمه مرکب نشو، **قوله** والتقید بالمعین ,,,,,,,,,, لاَدخل له الخ یعنی په تعریف د کلمه (فعل) کښې ،، معین ،، قید احترازی نهٔ دے بلکه دا قید اتفاقی واقعی دے په تعریفاتو کښې بعض داسے قیود هم وی چه محض توضیح د پاره راوړلے شی داسے قسم قید ته اتفاقی او واقعی و یلے شی، لیکن په دے **سوال** کیدے شی چه دا قید مذکوره اتفاقی او واقعی نه دی ځکه چه اسم زمان هم په خپل هیئت باندے دلالت کوی په زمانه باندے نو ددے د اخراج لپاره تقید بالمعین ضروری دے. هم دغه شان اسم فاعل، اسم فاعل، اسم مفعول اسم تفضیل، صفة مشبه، اسم زمان، اسم مکان اسم آله دا ټول په خپلو هیئتونو باندے په زمان باندے دلالت کوی؟

پس د تعریف دا احتراز تو په سلسله کښې تحقیق دا دے چه "دلالت بالهیئة" په دا اسماءِ مذکوره نه علاوه ټول خارج شول، او په قید د "علیٰ الزَّمان"



سره دا اسم زمان نه علاوه ټول اسماءِ مذکوره خارج شول او په قید د "معین من الازمنة" سره اسم زمان خارج شو لانّ الازمنة معهودة باعتبار الثلاثة لشیوعها فی مقام تعریف الکلمةِ والمراد التعین النوعی

## تفصیل الامر الثامن

**قوله** ووجهُ التسمیةِ الخ غرض د شارح په دے عبارت سره د مفرد اقسام ثلاثهٔ (اداة، کلمهٔ او اسم) وجه تسمیه بیانول دی علیٰ ترتیب اللف و النشر المرتب - په دے شان سره چه اداة په لغت کښې آله ته وائی، او جمع ئے ادوات راځی دا هم د خپلو طرفینو یعنی متعلِق (اسم فاعل) او د متعلَق (اسم مفعول) په مابین کښې د اتصال او د تعلق ذریعه وی، یا د دے دواړو د احوالو معلومولو کښې ذریعه او وسیله وی، نو ځکه ورته اداة ویلے شی او کلمه د کلم نه مشتق ده او کلم په معنیٰ د جرح (زخم) سره راځی، نو لکه څنګه چه کوم الفاظ د خولے نه اوځی بعض اوقاتو کښې انسان مجروح کوی

ه جراحات السنان لها التیامُ ❊ ولا یلتامُ ما جرحَ اللسانُ ❊

وقیل جرح الکلام اشدُّ من جرح السهامِ - نو همدغه شان کلمه متجدد (نوے او تازه) او منصرم (ختمیدل او تیریدل) زمانه باندے دلالت کوی د خپل معنیٰ د تغیر په ذریعه زړونو لره مجروح کوی.

**تنبیه** اعلم ان فی لفظ الکلمةِ و الکلامِ مذهبین (۱) مذهب الجمهور (۲) مذهب البعض، فمذهبُ الجمهور انهما لیسا بمشتقین عن الغیر ولا یشتق منهما غیرهما لان مدار الاشتقاق علیٰ ارتکاب التکلفاتِ البعیدة، و مذهبُ البعض انهما مشتقان من الکلمِ بتسکینِ اللامِ و هو الجرحُ لانّ مدار الاشتقاقِ مبنی علی التناسب بینَ الکلماتِ وذا یحصل بالاشتقاقِ فلا یکونُ المشتق غریبًا. و المناسبةُ اعمُّ من ان یکون فی المعنیَ المطابقی او التضمنیِ او الالتزامیِ وههنا فی المعنی الثالثِ و هو التاثیر کذا فی الخادمة.

او اسم د سُمُوٌّ نه مشتق دے او سمو علو (اوچتوالی) ته وائی او اسم هم عالی وی په خپلو ملګرو باندے، ځکه چه دا مسند او مسند الیه راځی بخلاف د نورو نه ځکه چه فعل صرف مسند راځی او مسند الیه نهٔ شی راتلے او حرف خو نه مسند راځی او نه مسند الیه دا په مسلك د بصریانو، او کوفیان وائی چه اسم د وسمٌ نه دے او وسم علامے ته وائی او دا هم په خپل مسمیٰ باندے علامه ده لیکن دا خبره کمزورے ده، ځکه فعل او حرف هم علامه

Maktaba Tul Ishaat.com

په خپلو مسمّیٰ باندے۔ او د بصریانو مذهب حق دے، د څو وجوهو نه (۱) تصغیر: سُمَیٌّ راځي نهٔ وسیمٌ (۲) جمع تکسیر: أسماء راځي نهٔ أوسام (۳) صفت مشبه ئې سمیٌّ راځي نه وسیمٌ (۴) باب تفعیل، سَمّیٰ یسمّی تسمیةً راځي نه وسَمَّ یوسم الخ

## (تفصیل الامر التاسع)

**تنبیه** ۱ مفرد په درے قسمه دے (۱) اداة (حرف) (۲) کلمه (فعل) (۳) اسم په دے کښې یو څو وجوه (حصر) ذکرکولے شي (۱) دا کلمه (مفرد) به خالي نه وي یا به دلالت کوي ... ت باندے او یا به په وصف باندے او یا به په ربط باندے (۱) اسم دویم فعل او دریم حرف شو، (۲) دا کلمه به خالي نه وي یا به دلالت کوي پخپله معنیٰ باندے او یا به دلالت نهٔ کوي، که دلالت ئې نه کاوه، نو حرف شو، او که به دلالت ئې کاوهٔ پخپلې معنیٰ باندے نو بیا به ئې خالي نه وي، یا به مقترن وي یو د ازمنو ثلاثو یو رے او یا به مقترن نهٔ وي اول فعل شو، او دویم اسم، (۳) دا کلمه به خالي نهٔ وي یا به صلاحیت لري د مخبر عنهٔ او به کیدلو او یا به صلاحیت نهٔ لري که صلاحیت ئې نه لرلو نو اداة (حرف) شو او که صلاحیت ئې لرلو نو بیا به خالي نه وي یا به مقترن وي یو د زمانې یو رے او یا به مقترن نه وي، که اول وؤ نو فعل شو او که دویم وي نو اسم شو۔

**تنبیه** ۲ دد ے تقریر مذکور څخه دا معلومیږي چه په مابین د اداة او د حرف کښې هم دغه شان په مابین د کلمه او فعل کښې نسبت د مساواة دے په دے شان سره چه هر اداة د منطقیانو دا په حرف د نحویانو وي او هر کلمه د منطقیانو دا په فعل د نحویانو وي لیکن خبره دا سے نهٔ ده بلکه په مابین د اداة او د حرف کښې نسبت د عموم خصوص مطلق دے، په دے شان سره چه اداة عام دے لکه مِنْ او کَانَ وغیره او حرف خاص دے نو هر حرف اداة دے او هر اداة حرف نهٔ دے، او همدغه شان په مابین د کلمه او د فعل کښې هم نسبت د عموص مطلق دے په دے شان سره چه فعل اعم مطلق دے او کلمه اخص مطلق ده ځکه چه اضربُ (واحد متکلم) او نضرب (جمع متکلم مع الغیر) وغیره افعال دي په نزد د نحویانو باندے او کلمه نهٔ دي په نزد د منطقیانو باندے ځکه چه کلمهٔ قسم ده لپاره د مفرد او اضرب نضرب، تضرب، مرکب دي، ځکه چه جز د لفظ ئې دلالت کوي په جزء



(معنیٰ باندي، مثلاً اضربُ کښې همزه (متکلم) دلالت کوي متکلم باندي او ض، ر، ب، دلالت کوي په حدث باندي، همدا رنګې په اسم میزاني او اسم نحوي کښې عموم خصوص مطلق دے، ماده اجتماعیه لکه زید او ماده افتراقیه لکه اسم فعل دا اسم نحوي دے او اسم میزاني نهٔ دي۔

**قالَ** و ج (اما ان یکون معناهٗ واحداً او کثیراً ........... **اقول** اشارةٌ الیٰ قسمة الاسم بالقیاس الیٰ معناهٗ .................. واذا استعمل اللفظ فِی المعنی المجازی فقد جاز مکانهٗ الاول وموضوعهٗ الاصلی ۔

هر کله چه فارغ شو مصنف رحمهٔ الله د بیان د تقسیم اولي او د دے اقسامو څخه نو شروع ئې وکړه په بیان د اقسام الاقسام کښې نو اوس ئې ولګل د حینئذٍ

## (تفصیل الامر العاشر)

زده کړه دا خبره چه دا دے ځائے څخه د لفظ دویم تقسیم دے چه په دے کښې کلي، جزئي، مشترک، منقول، او حقیقت او مجاز اقسام بیانولے شي لیکن د دے تقسیم مقسم کښې اختلاف واقع شویدے په دے شان سره چه علامه تفتازاني رحمهٔ الله او محب الله بهاري رحمهٔ الله وغیره د دے مقسم هم مطلق مفرد ګرځولے دے، او مشهوره دا ده چه د دے تقسیم مقسم خاص اسم دے او شارح رحمهٔ الله هم د ماتن کلام په دے محمول کړیدے حیث قالَ اشارةٌ الیٰ قسمةِ الاسمِ " چه د ماتن قول " وحینئذٍ اِمَّا ان یکون الخ دے خبرے ته اشاره ده چه دا تقسیم د مطلق مفرد نه دے بلکه خاص طور د مفرد یو قسم (یعنی د اسم) تقسیم دے، او دد ے خبرے دا دے چه که مقسم مطلق مفرد شي نو اداة او کلمه به جزئي، کلي متواطي، کلي مشکک وغیره سره به متصف شي حالانکه اداة او کلمه دغه مذکور شیانو سره نه متصف کیږي، ځکه چه کلیت او جزئیت سره هغه معنیٰ متصف کیږي چه په هغه کښې موضوع او د محکوم علیه کېدلو صلاحیت وي او اداة د محکوم علیه او محکوم به کیدلو صلاحیت نهٔ لري کما مَرَّ۔

او همدغه شان کلمه حال دے مثلاً ضَرَبَ زیدٌ کښې ضَرَبَ حدث مخصوص او نسبت مخصوصه باندے مشتمل دے او دا دواړه معاني د آله کیدلو طریقه باندے ملحوظ دي، نو دا هم معنیٰ مستقل نهٔ شوه، پس په کلمه او اداة باندے د کوم شي حکم نکول نشي کیدے البته کلمه کښې چه کوم معنیٰ حدثي ماخوذ ده دا شي آخر طرف ته مستند کیږي په دغه لحاظ سره کله محکوم به کیدلے شي او نه محکوم علیه، پس دا دواړه (اداة، کلمه) هر کله چه د اتصاف مذکور صلاحیت نهٔ لري نو دریم قسم (اسم) په معنیٰ مستقل باندے

د مشتمل کیدلو په وجه متعین شو لهذا کلیت او جزئیت سره اسم مخصوص شو،
او دا تقسیم هم د اسم سره خاص شو،
پس خلاصه د دلیل دا شوه چه که مقسم مطلق لفظ مفرد شي نو به مطلق لفظ
د مفرد کښې خو فعل (کلمه، او حرف (اداة) هم دی نو هغه به هم منقسم شي واحد
المعنیٰ ته یعنی کلی او جزئی او کلی او جزئی خو محکوم علیه واقع کیږی نو معنیٰ او فعل
او حرف به هم محکوم علیه واقع شي او سره د دې خبرے نه چه موږ ته ممکن
ویلے دی چه محکومٌ علیه واقع کیدل دا خاصه د اسم ده،
او دلیل د محققینو (تفتازانی، بهاری) دا دے چه که مقسم مطلق مفرد نشي بلکه
اسم شي نو لازم به شي عموم د اقسامو د مقسم فالتالي باطلٌ والمقدم مثلهٗ،
مرچه بطلان التالي ظاهر دے او وجه د ملازمے ځکه چه کثیر المعنیٰ حرف او
فعل هم دی لکه نطق الاسان حقیقت دے او نطق الحال مجاز دے، او همدغه شان
«علیٰ» لپاره د استعلاء کیدل حقیقت دے او په معنیٰ د فی سره کیدل مجازی
او حقیقت او مجاز خو قسم د کثیر المعنیٰ دی - او بعض حضرات خو دا سے وائی چه
د دے تقسیم مقسم دوه دی د متحد المعنیٰ اقسامو (جزی، متواطی، مشکك)
مقسم اسم دے او د متکثر المعنیٰ اقسامو مشترك، منقول، حقیقت، مجاز،
مقسم مطلق مفرد دے، لیکن دا مسلك درست نهٔ دے،
وللناس فیما یعشقو مذاهبٌ - خُذْ مَا صَفَا وَدَعْ مَا کَدِر-

**قوله** بالقیاس الی معناه الخ غرض د شارح په دے عبارت سره جواب کول دی
د اعتراض مقدر، تخه، او حاصل د اعتراض دا دے، چه علم، متواطی او مشکك
کیدل متحد المعنیٰ اسم سره خاص نهٔ دے بلکه مشترك هم چیلو تولو معانیو
اعتبار سره یا متواطی دی او یا مشکك، یا بعض معانیو لحاظ سره متواطی وی
او بعض لحاظ مشکك وی؟ او حاصل د جواب دا دے چه د ماتن په دے
قول «اما ان یکون معناه» کښې معنیٰ نه مراد معنیٰ نه مراد معنیٰ مقیس علیه
دے چه کله معنیٰ واحد طرفته قیاس وکړے شي نو دا یا علم وی یا متواطی او
یا مشکك، او کله چه معانی متعدد دوؤ طرف ته قیاس وکړے شي، نو یا مشترك
دی، او یا منقول، او یا حقیقت او مجاز،

## (تفصیل الامر الحادی عشر والثانی عشر)

(انواع الاسم) زده کړه دا خبره چه د اسم اوه انواع دی (۱) جزئی



(۲) کلی متواطی (۳) کلی مشکك (۴) مشترك (۵) المنقول (۶) الحقیقت (۷) مجاز

**وجه د حصر** پکښې دا ده چه دا اسم به خالی نه وی یا به دلالت کوی مطابقةً
په معنیٰ واحد باندے او یا به دلالت کوی په زیات د معنیٰ واحد باندے، که اول وؤ
نو یا به خالی نه وی یا به ئے معنیٰ معینه او مشخصه وی نو دے ته جزئی وائی،
په نیز د منطقیانو او علم وائی په نزد د نحویانو او یا به ئے معنیٰ معینه او مشخصه
نهٔ وی بلکه معنیٰ به ئے کلی وی نو یا به خالی نه وی یا به دا معنیٰ خپلو افرادو باندے
صادقیږی په طریقہ د مساوات سره نو دے ته کلی متواطی وائی، او یا به دا معنیٰ صادقیږی
په خپلو افرادو باندے په طریقہ د تفاوت سره نو دے ته کلی مشکك وائی، او که آم
دلالت کوَلو په زیات د معنیٰ واحد باندے نو دا به خالی نه وی یا به وضع وی د هرے
معنیٰ د پاره په جُدا جُدا وضع سره نو دے متکثر المعنیٰ ته مشترك وائی، او که
چرته د هرے یوے معنیٰ د پاره په جُدا جُدا وضع سره نه وؤ بلکه وضع وؤ
لپاره د اولے معنیٰ او مستعمل شوے وؤ په نورو معناګانو کښې نو یا به خالي
نه وی یا به په دویمه معنیٰ کښې مشهوره شوی وِی او استعمال په ترك شوے
وِی په اوله معنیٰ کښې نو بیا و رته منقول وائی، او که په دویمه معنیٰ کښې نه وه
مشهوره شوے او استعمال په اوله معنیٰ کښې نه وؤ متروك شوے نو کله چه
مستعمل شی په اوله معنیٰ کښې نو حقیقت ورته ویلے شي او کله چه مستعمل شي
په دویمه معنیٰ کښې نو ورته مجاز ویلے شي، **قوله** اما ان یکون معناه الخ
په دے مقام کښې یو **سوال** واردیږی، او خلاصه د سوال دا ده چه حقیقت او مجاز
لره ئے په کثیر المعنیٰ کښې شمیرل صحیح نهٔ دی ځکه چه د مجاز حقیقی معنیٰ موضوعٌ
لهٗ وی او معنیٰ مجازی موضوعٌ لهٗ نه وی،» او خلاصه د **جواب** دلته معنیٰ نه
مراد معنیٰ ئے مستعمل فیه ده او دا معنیٰ نه مراد موضوعٌ لهٗ نه ده او د وضع نه مراد
عام ده که وضع شخصی وی او که وضع نوعی وی- **قوله** معناه واحداً دلته
په وحدت د معنیٰ کښې تعمیم کوَلے شي په دے شان سره چه وحدت بحسب اللحاظ
وی یا وحدت بحسب نفس الامر وی که دا تعمیم او نکړے شي نو به تعریف د
جزئی باندے په علم مشترك سره اعتراض واردیږی چه په یو خو مسمیانو
په مابین کښې مشترك وی، لکه زید چه دیرو کسانو لپاره نوم شی نو دے جزئی
کیدلو با وجود وحدتِ معنیٰ پکښې نهٔ ملا وی ی او کله چه په وحدت کښې تعمیم
وکړے شي نو اعتراض نهٔ واردیږی ځکه چه په علم مشترك کښې وحدت د معنیٰ

Maktaba Tul Ishaat.com

مفقود دے په اعتبار د اوضاع متعدد دوسره لیکن په دے لحاظ سره چه په موضوع کښې موضوع له اتحاد دے وحدت معنیٰ یقینی متحقق دے؛

**قوله** فان تشخص الخ د محقق دوانی معاصر علامه صدر الدین دلته اعتراض کړیدے چه د علم دا تعریف جامع نهٔ دے ځکه چه دینه هغه اعلام خارجیږی چه د هغوئی معانی مدرك بالحس نه وی. لکه لفظ الله، جبرئیل آدم وغیره شول، د دوئی معانی قطعی طور سره خصوصیت په ذهنونو کښې حاصلیږی لیکن د دوئی نفس تصور مانع د شرکت نه دی ځکه چه د دوئی معانی محسوس نه دی او محسوساتو طرف ته منتهی دی او منع د شرکت د حواسو د محسوساتو او د هغه امورو خواصو خنی دی چه محسوساتو طرف ته منتهی وی! جواب داد ے چه تشخص نه مراد د شی هغه خصوصیت دے چه د هغه سبب د شی په دا سے حیثیت کښې وی که د دے تصور بذاته فرض کړے شی نو هغه په نظر د عقل کثیرینو په مابین کښې د اشتراك قابل نه وی او نه په دے باندے منطبق وی او د کومو اعلامو معانی چه مدرك بالحس نه وی په هغوئی باندے دا خبره صادقه ده که د دوئی بانفسها تصور وکړے شی نو عقل صدق د دوئی په کثیرینو جائز کنړی

**قوله** یسمی علما الخ نده کړه دا خبره چه په مابین د علم او جزئی کښې نسبت د عموم خصوص مطلق دے په دے شان سره چه جزئی اسماء اشارات ته شامل دے او علم شامل نهٔ دے نو لفظ جزئی اشملوونو ماتن لره یکاروؤ چه د علما په ځائے ئے جزئیا ویلے دے، ولان کلّ متکلم یتکلم باصطلاحه- د علم تعریف مذکور زید، عمرو، بکر، خالد وغیره ټولو اسماؤ علم کیدلو څرګندوی؛ لیکن اشکال دادے چه تعریف مذکور په اسماء اشاراتو او مضمراتو باندے نهٔ صادقیږی ځکه چه اسماء اشارات او مضمرات د وضع په لحاظ سره مفهوم کلی لپاره وضع دی! جواب دادے چه معنیٰ نه مراد معنیٰ مستعمل فیه ده اسماء اشارات او مضمرات اګرچه د وضع لحاظ سره مفهوم کلی دپاره وضع دی لیکن د استعمال په لحاظ سره په جزئیاتو کښې داخل دی، علامه تفتازانی، اسماء اشارات او مضمرات کلیات منی اوبیا متروك الحقیقة په مجازاتو کښې شمارکړی، محققین د دے نه خلاف دی، **سوال** د علم تعریف مذکور اوس هم جامع نهٔ دے جیلو افرادو لره، ځکه چه دا په علم جنس باندے نه صادقیږی ځکه چه د علم جنس



معنیٰ متشخص نه وی بلکه جنسی وی چه په کثیرینو د صادقیدلو صلاحیت لری، **جواب** د مناطقو په نزد علم جنس ماهیت معلومه (من حیث انها معلومة) لپاره موضوع دے نو حقیقة دے په یو فرد باندے اطلاق صحیح کیږی په دے معنیٰ سره چه دا په هیئت معهوده د دے فرد سره متحد او په دے باندے صادقیږی پاتے شو خصوصیت فردیت نو هغه د قرائن خارجیو نه مستفاد کیږی پس هرکله چه د مناطقو په نزد دلته د علم جنس د غه معنیٰ (یعنی معنیٰ کلی) مراد ده نو علم جنس په علم کښې د سره داخل نشول، (البته د نحویانو په نزد علم جنس په علم کښې داخل دے ځکه چه د دوئی نظر په الفاظو وی پس هرکله چه نحویانو لیدل چه کوم لفظی احکام د علم سره مخصوص دی هغه په علم جنس باندے هم جاری کیږی لکه د دے مبتدا کیدل ذو الحال کیدل د معرفے سره موصوف کیدل او په دے باندے لام داخلیدل وغیره نو نحویانو دا علم جنس په علم کښې داخل کړل. **قوله** فی عرف النحاة الخ **سوال** دادے چه تخصیص په عرف النحاة سره غیر ظاهر دے ځکه چه د علم معانی والا ورته هم علم وائی بلکه د دے عرف معانی کیدل اشبه بالحق دے، ځکه چه نحویانو اسامه پشان الفاظو لره هم په علم کښې شمار کوی، حالانکه د دے معنیٰ مشخص نه ده بخلاف د اهل معانی نه ځکه چه د دوئی د ظاهری کلام نه دا معلومیږی چه مثل دا سامه علم نشی کیدے حیث قالوا علمیة المسند الیه لاحضاره بعینه فی ذهن السامع ابتداءً باسم مختص به. **جواب** مراد خما د عرف النحاة نه غیر د عرف المناطقة دی خواه که عرف د نحویانو وی او که عرف دارباب د معانی وی حتی چه علم المعانی باندے هم د علم النحو اطلاق کیږی تسمیة الکل باسم الجزء او عرف عام کښې هم ورته نحوه وائی، **قوله** کالانسان والشمس فان الانسان له افراد الخ غرض د شارح په دے عبارة سره جواب ورکول دی د سوال مقدر څخه، خلاصه د سوال داده چه مثال ذکر کول د شی لپاره د توضیح د ممثل او توضیح د ممثل لپاره مثال واحد هم کافی وؤ، نو ماتن ولے دوه مثالونه ذکر کړل، خلاصه د جواب داده چه انسان مثال د کلی متواطی دے په افراد خارجیو والا کښې، او شمس مثال د کلی متواطی دے په افراد ذهنیه والا کښې. **سوال** انسان لپاره هم افراد ذهنیه شته لکه چه شمس لره شته؟ **جواب** مراد د افراد خارجیو مایشمل الذهنیة والخارجیة دے

او مراد په افراد ذهنیهٔ ؤ سره افراد فرضیه دی، وابن زیدٍ مثلاً الذی لم یکن خارجاً هذا موجودٌ فی الذهنِ تحقیقاً بخلاف افراد الشمسِ فانها علیٰ سبیل الفرضِ۔ **سوال** د انسان لپاره هم افراد فرضیه شته نو د دے لحاظ په کښې و لے او نکړے شو **جواب** اعتبار د کثرت له وجے نه یعنی اکثر افراد د انسان موجود دی په خارج کښې، والعزةُ للتکاثرِ۔

ملا عصام الدین رحمه الله وائی، چه د شارح قول لانی افرادهِ الذهنیةِ و الخارجیةِ، کښې د افراد خارجیو نه مراد یا خو هغه افراد دی کوم چه په خارج کښې موجود بالفعل دی په دے صورت کښې دا لازمیږی چه هغه افراد چه په خارج کښې مقدَرَةُ الوجود وی د دوارو قسمونو نه خارج کیږی، حالانکه په کلی متواطی کښې د هغه افرادُ د نه هم برابریدل ضروری دی، او یا هغه افراد مراد چه د هغه اتصاف بالمفهوم خارج د ذهن نه وی، په دے صورت کښې هم دا لازمیږی چه افراد ذهنیه سره تخصیص د شمس د پاره کومه وجه نشته، ځکه چه شمس لپاره هم افراد خارجیه شته۔

او **تحقیق** دا دے چه افراد د ذهنیو نه د قوم مراد هغه افراد دی چه اتصاف بالمفهوم په ذهن کښې وی، او د افراد خارجیو نه مراد هغه افراد دی چه د هغه اتصاف بالمفهوم په خارج کښې وی برابره خبره ده چه هغه افراد محققه وی او که مقدره وی، نو یو مثال (انسان) د تساوی د افرادِ خارجیوُ لپاره مقرر وُل، او بل مثال (شمس) د تساوی د افرادِ ذهنیهوُ لپاره مقرروُل د اپه عقلت باندے پوهیږی فضعف الجوابُ المذکورُ عن اصل الاعتراضِ، پس حق په جواب کښې دا ده چه او وئیلی شی چه د انسان د مثال و د کولو نه وروسته په شمس سره مثال ذکر کول د دے خبرے وضاحت دے چه د افراد خارجیو نه مراد عام دے، محققه وی او که مقدره وی۔

**قوله**، وصدقهٗ علیها یُسمّیٰ متواطیًا الخ غرض د شارح په دے عبارت سره اشاره کول دی وجه تسمیه د کلی متواطی ته، په دے شان سره چه کلی متواطی هغه دے چه صدق د کلی په افرادو خپلو باندے علی السویه وی بے د اولیت اولویت شدت او زیادت نه په بعضو باندے او مسمّیٰ کړے شو په متواطی ځکه چه متواطی د تواطوُ نه ماخوذ دے او تواطوُ توافق ته وائی، او دلته هم موافق دے دا کلی په صدق کښې په افرادو خپلو باندے بی د اولیت او لویت شدت

او زیادت نه په بعضو باندے، **قوله** وان لم یتسا والافراد الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره اشاره کول بیان د کلی مشکک ته، پس تعریف د کلی مشکک دا دے چه کلی مشکک عبارت دے د هغه کلی نه چه صدق د کلی په افرادو خپلو باندے په تفاوت سره وی،

**سوال**، تعریف د کلی مشکک، مانع نشو د دخول د غیرنه داخل شو په کښې کلی متواطی لکه انسان شو، ځکه چه صدق د انسان په هغو افرادو باندے چه مخکښې زمانه کښې موجود شوی وی مخکښې کیږی مثلاً لکه آدم علیه السلام شو، او په هغو افرادُ باندے چه روستنی زمانه کښې موجود شویوی روستو کیږی مثلاً لکه مونږ او تاسو وغیره، شارح رحمهٗ الله جواب وکړو په دے قول سره حیث والتشکیکُ علیٰ ثلاثة اوجهٍ الخ حاصل د جواب دا دے چه مراد په تفاوت سره دا قسم تفاوت دے نه مطلق تفاوت، **سوال** نه منم چه تفاوت منحصر دے په دے اقسامو کښې بلکه تفاوت خو ډیر قسمونه لري **جواب** هغه تفاوتونه چه معتبر دی په وجوهو د تشکیک کښې هغه هم دغه دی۔

**فائدہ**؛ زده کړه دا خبره چه د تشکیک لپاره څلور طریقے دی (۱) اولیة (۲) اولویت (۳) اشدیة (۴) ازیدیة۔ اولیه عبارت دے له دے نه چه دا معنیٰ کلی په یو فرد کښې چه موجوده وی علت وی لپاره هم دغے معنیٰ کلی چه په فرد آخر کښې موجوده وی، مثال لکه موجود شو نو د موجود معنیٰ چه په واجب تعالیٰ کښې ده علت دے او په ممکن کښې چه دے معلول دے۔ او تشکیک فی الاولویت هغه دے چه صدق د کلی په بعضو افرادو خپلو باندے اولیٰ وی د صدق نه په بعض آخر باندے په دے شان سره چه صدق د کلی په بعضو افرادو خپلو باندے لذاتهٖ وی او په بعضو اُخرو باندے له وجه د غیر نه وی، لکه خو چه موجوده ده په شمس کښې نو لذاتهٖ ده، ځکه چه په شمس کښې خو حاصله شویده له وجه د ذات د شمس نه او په ارض کښې چه خو د موجوده ده له وجه د ذات د ارض نه نهٔ ده بلکه د وجه د شمس نه پکښې موجوده شویده او یا لکه هم دغه موجودُ چه صدق د دهٖ په الله تعالیٰ لذاته دے او په ممکن باندے له وجه د واجب تعالیٰ نه، او تشکیک فی الشدة دے ته وائی چه صدق د کلی په بعضو افرادو خپلو باندے مراراً وی او په بعضو اُخرو باندے مرةً واحدةً وی، لکه بیاض شو په ثلج (واوره) کښې اشد دے او په عاج،

Maktaba Tul Ishaat.com

(دماق غابن) کښې اضعف دے او عقل د ثلج نه انتزاع کوی د امثالو د هغه
بیاض چه کوم بیاض په عاج کښې موجود دے، خو لیکن هغه امثال چه عقل
منتزع کړی د ثلج نه هغه په خارج کښې متمائز نه دی یعنی په خارج کښې جُدًا
جُدا نه دی، او تشکیك فی الزیادة دے ته وائی چه صدق د کلی په بعضو افرادو
خپلو باندے مرارًا او بعضو اُخرو باندے مرةً واحدةً وی په دے شان سره چه
عقل به انتزاع کوی د هغه فرد نه چه کوم فرد انید دے امثال د هغه فرد چه
کوم فرد انقص وی خو لیکن د امثال به په خارج کښې په جُدا جُدًا وجود سره موجود
وی لکه مَنْ او رطل شو نو وزن هم به من کښې موجود دے او هم په رطل کښې
موجود دے لیکن مَنْ انید دے او رطل انقص دے او عقل منتزع کوی د مَنْ
نه امثال د رطل او هغه امثال متمائز دی په خارج **قوله** فلذا اسمیٰ بهذا الاسم
کلی مشکك ته مشکك ځکه وائی چه مشکك صیغه د اسم فاعل ده د باب
تفعیل نه چه ماضی ئے شکك راځی او مضارع ئے یشکك راځی او مصدر ئے
تشکیك راځی او معنیٰ د مشکك داده چه مشکك هر هغه شی ته وائی چه
غیر له په شك کښې غورزوی او کلی مشکك هم ناظر (کتونکے) په شك
کښې غورزوی ځکه چه ناظر دے ته گوری چه نفس د معنیٰ د کلی په دوارو افرادو
کښې موجوده ده نو هغه ته د اکلی مشکك متواطی ښکاری او دے ته چه ناظر
نظر وکړی چه صدق د دے معنیٰ کښې چه خپلو افرادو باندے پکښې تفاوت دے، نو هغه ته داسے
ښکاری چه د الفظ مشترك د هر فرد د پاره په جدا جدا وضعی سره وضع
شویده۔

**تنبیه**: اعلم انه لما کان للتشکیك طرقةً اربعة کما ذکرنا ما انفاوتات
محتملة لتداخل بعضها فی بعضٍ فاختلف فیها عبارات القوم، فعبّر البعض (۱)
بالتثنیة مثل التفتازانی فی التهذیب حیث قال،، ومشکك ان تفاوتت باولیة
او اولویة الخ وعبّر البعض (۲) بالتثلیث کما فی الرسالة الشمسیة ومشککا ان
کان حصوله فی البعض اولیٰ واقدم واشدّ من الآخر وعبر الجمهور بالتربیع
مثل صاحب السلم حیث قال وحصروا التفاوت فی الاولیة والاولویة والشدة
والزیادة آه وللناس فیما یعشقون مذاهب۔

ه منزل د تولو یو دے خو سفر جدا جدا۔



**قوله** وان کان الثانی الخ زده کړه چه هغه اسم (یا مفرد) چه متکثر المعنیٰ
وی۔ هغه لپاره څلور اقسام دی (۱) مشترك (۲) منقول (۳) حقیقت (۴) مجاز
**تفصیل المقام**: تعریف د مشترك دا دے چه معناگانے ئے ډیرے وی او
او د هرے معنیٰ لپاره په جدا جُدا وضع سره وضع شوے وی مثال ئے لفظ د عین
شو چه په معنیٰ د ذهب (سرو زرو) او د باصره (سترګه) او رکب (زنګون او جاسوس)
او ذات وغیره شو او لفظ د عین د هرے معنیٰ لپاره په جدا جدا وضعی سره وضع شوے ده
او منقول عبارت دے د دے نه چه د هغه د پاره دوه معانی وی خو لیکن د هر یو
د پاره به نه وی وضع شوے بلکه د اولی معنیٰ د پاره به وضع وی او په دویمه معنیٰ
کښې به مستعمل شوے وی د وجه د مناسبت د معنیٰ اولے د دویمے معنیٰ سره۔
لیکن په دویمه معنیٰ کښې به مشهور وی او د اوله معنیٰ کښې به ئے استعمال ترك
شوے وی نو اولے معنیٰ ته معنیٰ منقول عنهٔ وائی او دویمے معنیٰ ته منقول الیه
وائی او دے لفظ ته منقول وائی، او چا چه دا لفظ نقل کړے وی د دویمے معنیٰ ته
هغه ته ناقل وائی، پس منقول په اعتبار د ناقل سره په دریے قسمه دے،
(۱) منقول عرفی (۲) منقول شرعی (۳) منقول اصطلاحی۔ ځکه چه ناقل
به خالی نه وی یا به ناقل عرف عام وی نو دے ته منقول عرفی وائی، لکه لفظ
د دابه د اپه اصل استعمال کښې وضع شوے وو (لکل مَا یدبّ علی الارض
من الکائنات الحیّة) د پاره قال تعالیٰ وما من دابةٍ فی الارض الا علی الله
رزقها۔ هود آیه ۶۔ بیا عرف عام نقل کړو د پاره د ذاتِ قوائم اربعهٔ
مثلاً لکه اس، قچر، خر وغیره لپاره، او که ناقل شرع وی، نو دے ته
منقول شرعی وائی لکه صلوٰة۔ اذهیَ فی اللغة بمعنی الدعاءِ ثمّ نقلها الشرع
الی العبادة المعروفة۔ او که ناقل عرف خاص وی نو هغه ته منقول اصطلاحی
وائی لکه لفظ د فعل اذ معناهٗ لغةً ما یصدر عن الفاعل من قیامٍ و قعودٍ
ونومٍ وکتابةٍ وقراءةٍ وغیرها ثمّ نقله النحاة الی الکلمة الدالة بهیئتها
علی الاحد الازمنة الثلاثة، وکذالك لفظ النظر فان معناهٗ لغةً الابصار
ثمّ نقله النحاة الی ترتیب النفس لا صورٍ معلومةٍ بقصد الوصول الی مجهولةٍ
او حقیقت دا د حق فلان الامر نه ماخوذ دے په معنیٰ د ثابت کولو، پس کوم
لفظ چه خپل اصل معنیٰ موضوع لهٗ کښې مستعمل شی گویا چه هغه خپل
مقام کښې ثابت دے، و التاء للنقل من الوصفیة الی الاسمیة۔

او مجاز - د جاز الشئ يجوزه نه ماخوذ دے په معنیٰ د تجاوز سره۔
نوکوم لفظ چه خپل اصل معنیٰ موضوع لهٗ کښ مستعمل نشي کو يا چه هغه
د خپل مقام نه تجاوز کړيږي۔
پس تعریف د حقیقت او د مجاز دا دے چه هر هغه لفظ چه وضع وی لپاره د اولی
معنیٰ او بیا دویمه معنیٰ کښ مستعمل شوے وی له وجه د مناسبت نه او په دویمه
معنیٰ کښ دا لفظ نه وی مشهور شوے او استعمال هم په اوله معنیٰ کښ نه وی
ترک شوے نو چه کله مستعمل شي په اوله معنیٰ کښ نو دے ته حقیقت ویلے شي
او چه مستعمل شي په دویمه معنیٰ کښ نو دے ته مجاز ویلے شي مثال لکه اسد
چه وضع دے لپاره د حیوان مفترس او مستعمل په رجل شجاع کښ له وجه د
مناسبت د رجل شجاع د حیوان مفترس په یو وصف کښ چه شجاعت دے نو لفظ
د اسد چه مستعمل شي په حیوان مفترس کښ نو حقیقت ورته ویلے شي او چه
کله مستعمل شي په رجل شجاع کښ نو مجاز ورته ویلے شي۔

**قوله** كالدابة الخ **سوال** شارح د منقول عرفي عام مثال دابه ذکر کړو،
حالانکه دابه نه دے او له معنیٰ هم مراد کیدے شي لکه وما من دابة في
الارض الآية په دے شان سره چه په دے آیت کریمه کښ صرف اس یا ذات
قوائم اربعه مراد نهٔ دی بلکه هر ښنده سر مراد دے نو دا مثال د منقول صحیح
نشو؟ **جواب** معنیٰ اوله کښ ترک استعمال مطلقاً مراد نهٔ دے بلکه مراد دا دے
چه د قرینې نه بغیر استعمال متروک دے پس که کوم ځائے کښ د قرینې د وجې
نه اوله معنیٰ مراد وی نو کوم منافات نشته، **قوله** كالدوران الخ دا منقول
اصطلاحي مثال دے لفظ دوران په لغت کښ الطواف حول الشئ (په کوم څه کښ
گرځیدلو ته) وائي او په اصطلاح کښ هو ترتيب الشئ على الشئ الذي له صلوح
العلية (والشئ الاول يسمّى دائرًا والثاني مدارًا) وهو على ثلثة اقسام،
(۱) ان يكون المدار مدارًا للدائر وجودًا لا عدمًا كشرب السقمونيا للاسهال.
(۲) ان يكون المدار مدارًا للدائر عدمًا لا وجودًا كالحياة للعلم۔
(۳) ان يكون المدار مدارًا للدائر وجودًا وعدمًا كالزنا الصادر عن المحصن
لوجوب الرجم عليه. كذا في التعريفات للجرجاني۔



**فائدة** مرتجل په لغت کښ ماخوذ دے د ارتجل الخطبة اي اخترعها
من غير فكر - او په اصطلاح کښ مرتجل عبارت دے د ما وضع لمعنىً ثم نقل
الى الثاني لا لمناسبة نه دے لکه جعفر مثلاً د اول وضع شوے وو لپاره د نهر صغیره بیا
علم وګرځولے شو بغیر د څه مناسبت نه په مابین د معنیٰ اول او ثاني کښ پس بعض
حضرات وائي چه دا په مشترک کښ داخل دے، او بعض وائي چه دا د منقول څخه
برخه دے، وعند الجمهور المنقول والمرتجل قسمان وهذا هو الاشبه۔
فلا يرد ان حصر اللفظ المفرد كثير المعنى في الاقسام المذكورة غير صحيح لخروج
المرتجل - وحاصل الدفع انه اما داخل في المشترك او في المنقول على اختلاف
القولين - او نقول انه قسم على حدة. وان قلت ما قلت قلتُ، معنى الحصر
ان الاقسام المشهورة محصورة في الاقسام المذكورة. وهذا غير مشهور۔

---

**قال** وكل لفظ فهو بالنسبة الى لفظ آخر مرادف ............ **اقول**
ما مرّ من تقسيم اللفظ كان بالقياس الى نفسه ............ نعم الاتحاد
في الذات من لوازم الاتحاد في المفهوم بدون العكس -

## تفصيل الامر الثالث عشر (ترادف)

زده کړه د اخبره چه په دے مقام کښ لا بدی ده د معرفت د امور عشرو نه
(۱) وجه د راوړلو د ترادف (۲) معنیٰ لغوی د ترادف (۳) معنیٰ اصطلاحي
(۴) مناسبت په مابین د معنیٰ لغوی او اصطلاحي کښ (۵) مثال د ترادف -
(۶) بیان د اختلاف په وقوع د ترادف کښ (۷) اختلاف په مثالونو د ترادف
کښ (۸) معنیٰ لغوی د تباین (۹) معنیٰ اصطلاحي (۱۰) مثال د تباین-

**تفصيل المقام:** پس زده کړه د اخبره چه لفظ مفرد لپاره د دے
حالاته دی (۱) چه لفظ هم واحد وی او معنیٰ هم واحده وی نو دے
ته مفرد متحد المعنیٰ وائي۔ (۲) چه لفظ واحد وی او معاني ډیر وی نو دے
مفرد ته متکثر المعنیٰ وائي۔ (۳) چه معنیٰ واحده وی او لفظ متعدد وی
نو دے ته ترادف وائي۔ پس هر کله چه مصنف رحمه الله فارغ شو د بیان
د هغه نه چه لفظ مفرد وی او معنیٰ متعدد وی نو شروع ئي وکړه په بیان د هغه کښ چه معنیٰ ئے
واحده وی او لفظ متعدد وی۔ تعرف الاشياء باضدادها (بالفاظ دیگر)
هر کله چه فارغ شو مصنف د بیان د تقسیم د لفظ نه په اعتبار د نفس او د معنیٰ

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل سره. نو شروع ئے وکړه په بيان د هغه تقسيم د لفظ کښې په نسبت د بل لفظ سره. فالاول لماکان بمنزلة الفرد و هذا بمنزلة المرکب والواحد قبل المرکب آخر بحث الترادف والتباين.

پس ترادف په لغت کښې راکوب احد خلف الآخر ته وائي کما في البخاري ص۲۰۹ ج۱ عن ابن عباس رضي الله عنه ان اسامة کان ردف النبي صلى الله عليه وسلم من عرفة الى مزدلفة الحديث. او په اصطلاح کښې الاتحاد في المفهوم يعني چرته معنى وي او د هغې يوې معنى لپاره دوه لفظونه يا زيات له دوه لفظونو نه وضع شوي وي لپاره د دے يوے معنى، وقيل هو توالي الالفاظ المفردة الدالة على شئ واحد باعتبار واحد. او مناسبت په مابين د معنى لغوي او اصطلاحي کښې ظاهر دے په دے شان سره چه په لغوي معنى کښې چه څنګه مرکوب به يو وي او راکب متعدد دوي، همدغه شان په اصطلاحي معنى کښې هم معنى واحده وي او الفاظ متعدد دوي، مثال ئے لکه قعود او جلوس شو، يا اسد او ليث شو، يا لکه غيث او مطر شو.

صب زده کړه دا خبره چه په وقوع د ترادف په باره کښې اختلاف دے، او جمله مذاهب کښې درے دي (۱) دا چه ترادف ممکن نه دے، ځکه چه لفظ ذريعه دے د فهم المعنى لپاره. او واضع د الفاظو الله تعالى دے، او س که ترادف راشي نو لازميږي لغويت په فعل د باري تعالى کښې وهو محال، دويم دا چه ممکن دے خو غير واقع دے ولے چه که ترادف واقع شي نو لازميږي لغويت په افعال د عبادو کښې على ان واضع الالفاظ العباد، او دريم (۳) دا چه ترادف ممکن او واقع دے، وهو الحق. ولا يلزم اللغوية لان اللفظ وسيلة لفهم المعنى وتكثر الوسائل امر حسن فيسهل التعلم والتعلم لانه لو نسى لفظا فيتذكر اللفظ الآخر.

او همدغه شان اختلاف واقع شويدے په دے کښې چه اقامت د يو لفظ په مقام د آخر کښې کيږي او که نه جمله مذاهب په دے کښې هم درے دي، اول دا چه صحة د اقامة هر واحد د مترادفينو نه په مقام د آخر کښې واجب دے، خواه که دا مترادفين د لغة واحده نه وي لکه قعود او جلوس او که لغتين نه وي لکه خبز او نان شو، ځکه چه عدم صحة دا د مانع د وجه نه وي او دا مانع به خالي نه وي يا به من جانب اللفظ وي، او يا به من جانب المعنى وي، اول باطل دے ځکه چه لفظ ذريعه وي لپاره د معنى نو مقصود نه شو پس مانع هم نه



شو او دويم هم باطل دے ځکه چه معنى واحده ده. او دويم دا چه اقامة د هر واحد د مترادفينو په مقام د آخر کښې واجب دے په دے شان چه دا دواړه مترادفين د لغت واحد نه وي، نه د لغتينو نه بالدليل المذکور ولان اجتماع اللغات الكثيرة مستنكر.

او دريم دا چه اقامة د هر واحد د مترادفينو نه په مقام د آخر کښې واجب نه دے اګرکه د لغت واحد نه وي، وهو الحق، فلا يجب في الترادف قيام كل من المترادفين مقام الآخر وان كانا من لغة واحدة كالصلوة والدعاء بحيث اذا كان كلمة على صلة الدعاء فيكون المراد الدعاء بالشر واذا كان على صلة الصلوة فيكون المراد منه الدعاء بالخير فاذا اردت الدعاء بالخير لاحد فتقول صلى عليه ولا تقول دعا عليه. او تباين په لغت کښې جدا والي ته وائي، او په اصطلاح کښې تباين عبارت دے د تخالف اللفظين في المعنى بحيث لم يصدق احدهما على ما صدق عليه الآخر. كالانسان والفرس مثلا.

**قوله** وكل لفظ الخ **سوال** كل لفظ خو مثال دے مرکب لره هم او حالانکه بحث خو موږ په مفرد کښې دے **جواب** کل به درے قسمه دے (۱) کل کلي چه په معنى د ماهيت سره وي لکه کل انسان نوع (۲) کل مجموعي چه په معنى د مجموع سره وي لکه کل انسان لا يسعه الدار (۳) کل افرادي چه په معنى د فرد سره وي لکه کل انسان يشبعه هذا الرغيف او دلته مراد کل افرادي دے لا غير.

**قوله** ومن الناس من ظن الخ غرض د شارح رحمه الله په دے عبارت سره رد کول دي په بعضو باندے په دے شان سره چه بعض حضرات وائي چه ترادف چه ترادف کښې اتحاد في الصدق ضروري دے پس ناطق او فصيح همدغه شان سيف او صارم کښې ترادف دے ځکه چه ماصدق عليه د ناطق او فصيح يو ذات دے، او همدغه شان سيف او صارم به يو شي باندے صادقيږي پس دوي په مابين کښې ترادف دے، ليکن شارح وائي چه دا خيال صحيح نه دے او د دے لپاره دوه وجے دي يوه على سبيل الانکار او بله على سبيل التسلم. اوله وجه داده چه موږ د ناطق او فصيح په مابين کښې ترادف نه منو، ځکه چه لفظ فصيح ذات باندے کامل طور سره نه صادقيږي بلکه دا د ناطق صفت دے نو دا دواړه د معنى په لحاظ مختلف دي ځکه چه د صفت او موصوف په مابين کښې تغاير وي دا سے کيدے شي چه

ناطق دِوی او فصیح دِ نه وِی لکه یو انسان چه په قدر د ضرورت کومه ژبه پیژنی او پوره مهارت کښ نه وی نو دا ناطق دے لیکن فصیح نه دے،
پس مابین د ناطق او د فصیح کښ نسبت د عموم، خصوص مطلق دے په دے شان سره چه لفظ فصیح اخص مطلق دے او لفظ ناطق اعم مطلق دے کوم ځائے کښ چه فصاحت وی هلته به نطق ضرور وی ولا عکس۔
همدغه شان لفظ صارِم (سیف قاطع) د سیف صفت دے داسے کیدے شی چه یو ځائے کښ لفظ سیف صادق وی لیکن لفظ صارم صادق نه وی، لکه پــه توره وی، پس په مابین د سیف او د صارم کښ هم عموم خصوص مطلق شو، کوم ځائے کښ چه صارم صادق وی هلته سیف ضرور صادق وی ولا عکس،
او دویمه وجه داده چه بالفرض مونږه او منوچه د دوئی په مابین کښ ترادف دے لیکن د دوئی په مابین کښ بیا هم ترادف نهٔ متحقق کیږی ځکه چه د ترادف لپاره اتحاد فی المفهوم ضروری دے نهٔ اتحاد فی الذات یعنی کوم ځائے کښ چه اتحاد فی المفهوم وی نو هلته به ترادف وی او د لته ناطق او فصیح ذاتًا هم متحد نهٔ دی ځکه چه یو ذات به داسے وی چه په هغه باندے ناطق صادقیږی، لیکن فصیح دِ پرے نه صادقیږی لکه بره مثال تیر شو، همدغه شان سیف او صارم ذاتًا هم متحد نه دی ځکه چه یوه توره داسے وی چه په هغه باندے سیف صادق وی لیکن صارم پرے صادق نهٔ وی لکه پــه توره شوه نو هلته به بل هم صادق وی او د لته داسے نهٔ دے نو معلومه شوه دا خبره چه د دوئی په مابین کښ اتحاد فی الذات هم نشته، او هرکله چه د دوئی په مابین کښ اتحاد فی الذات نشته نو اتحاد فی المفهوم به څرنګه ئی۔ او ترادف د پاره اتحاد فی الذات نه بلکه اتحاد فی المفهوم ضروری وی او د لته مفقود دے،

**فائدة**: وفی کشاف الاصطلاحات ص۳۰۶ من الناس من ظنّ[1] انّ المتساویین صدقًا مترادفان وهو فاسد لان الترادف هو الاتحاد فی المفهوم لا فی الذاتِ وان کان مستلزمًا لهٔ (۲) وابعد منه توهم الترادف فی شیئین بینهما عمومٌ من وجهٍ کالحیوان والابیض، ومنهم[3] من زعم ان الحد الحقیقی والمحدود مترادفانِ ولیس بمستقیمٍ اذ الحدُّ یدُلُ علی المفردات مفصلةً باوضاعٍ متعدّدةٍ بخلاف المحدودِ فانّهٔ یدُلُ علیها مجملهٔ بوضعٍ



واحدٍ فقد خرجا بوحدة الجهةِ، نعم الحد اللفظی والمحدودَ مترادفانِ ودعوی الترادفِ فی الرسمی بعیدٌ جدًا اهـ

**قال** واَمّا المرکّبُ فهو امّا تامٌ ........................ **اقول** لما فرغ عن المفردِ واقسامِهٖ شرعَ فی المرکب ........................ اولا یکونُ وهو غیر التقییدی کالمرکب من اسمٍ واداةٍ او کلمةٍ واداةٍ۔

## تفصیل الامر الرابع عشر "المرکب واقسامه"

هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د مفرد او اقسامو د دے نه نو شروع ئے وکړه په بحث د مرکب او اقسامو د دے کښ۔ پس مرکب به خالی نه وی یا به تام وی او یا به ناقص (غیرتام) وی که مخاطب ته ئے فائده تامه رسوله په دے شان سره چه سکوت د متکلم پرے صحیح وُو نو دا مرکب تام شو لکه ضرب زیدٌ۔ زیدٌ قائمٌ، والله معنا شو او که مخاطب ته فائده تامه نه رسوله نو دا مرکب ناقص شو، لکه غلامُ زیدٍ۔ الکتاب الابیض، الحیوان الناطق شو، بیا مرکب تام به خالی نه وی یا به لذاته احتمال د صدق او د کذب لری او یا به ئے نهٔ لری که احتمال د صدق او د کذب ئے لرلو، نو دیته خبر، قضیه، او تصدیق ویلے شی او که احتمال د صدق او د کذب ئے نه لرلو نو دیته انشاء ویلے شی۔ پس دا انشاء به خالی نه وی یا به دلالت کوی په طلب د فعل باندے او یا به دلالت نه کوی، که بالوضع ئے دلالت کولو په طلب د فعل باندے نو بیا به خالی نه وی یا به صادر وی د اعلیٰ نه ادنیٰ لپاره لکه تسمر، اضرب، اقرأ شو، او یا به مقارن وی د خضوع سره یعنی صادر وی د ادنیٰ نه اعلیٰ لپاره لکه یاربِّ اغفر وارحم، او یا به صادر وی دیو مساوی نه مساوی آخر لپاره لکه اخی استمع لِی، اول امر، دویم دعا، او دریم التماس شو
او که دلالت نه کوی په طلب د فعل باندے نو دا تنبیه شوه او په دے کښ داخل دے تمنی لکه لیتنی حکیمٌ، او ترجی لکه لعلک ناجحٌ فی عملک، او قسم لکه والله لافعلنّ کذا۔ او ندا لکه یا طالب العلمِ اجتهد، او تعجب لکه ما اجملَ حسن الخلق، او هرچه نهی او استفهام دی نو څوک وائی چه دا قسم دے د انشاء نه۔ او بعض وائی چه د استفهام نهی داخل ده په امر کښ، او استفهام داخل دے په تنبیه کښ۔ او مرکب ناقص بیا خپل کورکښی دوه

قسمه دے، ځکه چه مرکب ناقص به خالی نه وی یا به قید وی د اول لپاره او
یا به قید نه وی او ل لپاره، اول تقیدی شو، او دویم غیر تقیدی، تقیدی بیا په
دوه قسمه دے اضافی لکه غلامُ زیدٍ - کتابُ علیٍ، توصیفی لکه رجلٌ عالم
الکتاب الابیض، الحیوان الناطق، او غیر تقیدی په درے قسمه دے،
تعدادی لکه احد عشر، امتزاجی لکه بعلبك، او صوتی لکه سیبویه شو،
**تنبیه** :: مرکب تام ته مرکب مفید، مرکب کلامی، مرکب اسنادی، جمله
او کلام ورته هم ویلے شی ـ

بود ترکیب نزد نحویان شش ÷ بیادش گیر اگر خائف زفوتی
اضافی دان و توصیفی و مزجی هم اسنادی و تعدادی و صوتی

**قوله** امّا تامٌ وهو الذی الخ مرکب په دوه قسمه دے تام او غیر تام هر کله
چه تعریف د مرکب تام وجودی وو نو مرکب تام ئے مقدم کړو، وهو الذی یصح
السکوت الخ ای سکوت المتکلم والعجب مما فی بعض الرسائل والحواشی حیث
کتبوا ان صح سکوت المخاطب وما فهموا ما معنی سکوت المخاطب لانه ساکت
وسامع من بدأ الامر فصحة السکوت لا بد ان یضاف الی من شانه ان یتکلم وهو
المتکلم بانه اذا ذکر المسند الیه او المسند کلیهما فیصح سکوته ـ
**سوال** سکوت د متکلم صحیح نه دے ترڅو قول مضمون بیان نکړے شی
مثلاً که څوك د موسیٰ علیه السلام قصه بیانول غواړی نو د هغه سکوت په جمله
او په جملتین باندے نه صحیح کیږی ترڅو چه پوره قصه بیان نکړی پس تعریف د
مرکب تام خارج شو مثل د زیدٌ قائمٌ او ضرب زیدٌ - **جواب** مراد ځما
د صحة د سکوت نه هغه ایراد د مسند او د مسند الیه دواړو دے نذکرهما هو
معیار السکوت - فلا یرد ما یرد -
**قوله** والتامُ ان احتمل الصدق الخ زده کړه داخبره چه مرکب تام په خپل کوا
کښ په دوه قسمه دے اول قسم ته خبر او قضیه وائی او دویم قسم ته انشاء
وائی، او وجه د حصر پکښ داده چه دا مرکب تام به خالی نه وی یا به احتمال
پکښ د صدق او د کذب وی او یا به نه وی اول ته خبر او قضیه وائی - او
دویم ته انشاء وائی -
پس په تعریف د خبر کښ مختلف اقوال دی (۱) خبر هغه مرکب ته وائی چه
مقصود په هغه سره حکایت وی د واقع نه (۲) چه احتمال د صدق او



د کذب لری (۳) قائل ته به ئے صادق او یا کاذب ویلے شی - او انشاء کښ
دا نه وی -
**فائده** :- زده کړه داخبره چه خبر او قضیه یو شے دے ددوی په مابین
کښ ترادف دے الفاظ متعدد دی او معنیٰ ئے واحده ده
**تنبیه** :: پوهه شه چه د صدق او د کذب دپاره دوه دوه معنیٰ کانی دی اوله
معنیٰ د صدق داده چه صدق عبارت دے د نفس هغه کلام او اعتقاد نه چه مطابق
وی د واقعی سره، او دویمه معنیٰ د صدق داده چه صدق عبارت دے د مطابقت د کلام
او اعتقاد نه د واقعی سره - او د کذب اوله معنیٰ داده چه کذب عبارت دے د نفس
د هغه کلام او اعتقاد نه چه هغه کلام غیر مطابق وی
د واقعی، او دویمه معنیٰ د کذب داده چه کذب عبارت دے د عدم مطابقت د کلام او
اعتقاد نه د واقعی سره او په تعریف د خبر کښ چه صدق او کذب ذکر دی نو مراد
ورنه دویمی معنیٰ کانی دی او صدق او کذب په دے معنیٰ کانو سره متحقق کیږی
چه په هغه کلام کښ حکایت وی د واقعی نه ځکه چه په دے کلام کښ چه حکایت
وی د واقعی نه ځکه چه په دے کلام کښ چه حکایت وی د واقعی نه احتمال د مطابقت
وی، او همدغه شان پکښ احتمال د عدم مطابقت وی نو حکایت د واقعی نه صرف
په کلام خبری کښ وی، او همدارنګه کلام خبری قائل ته صادق او یا کاذب
ویلے شی او په کلام انشائی کښ مقصود د حکایت د واقعی نه نه وی نو په هغه کښ احتمال
د مطابقت او د عدم مطابقت هم نه وی نو په کلام انشائی کښ احتمال د صدق
او د کذب نه وی، او همدارنګه قائل د کلام انشائی ته صادق او کاذب هم نشی
ویلے کیدے مثال د کلام خبری لکه السّماءُ تحتنا، دا په اعتبار د نفس لفظ سره
احتمال د صدق او د کذب لری اګرچه په نظر خارج ته احتمال پکښ د کذب
نشته وکذالك العالم حادثٌ -
**سوال** تعریف د خبر جامع نه دے خپل افرادو لره ځکه چه کلمه د توحید
(لا اله الا الله) ترے نه خارج شوه دا خبر دے او احتمال د کذب پکښ نشته
بلکه محض صادق دے فقط، **جواب** (۱) وا په دے قول د (الکذب) کښ په معنیٰ
د او سره دے او او پکښ د مانعة الخلو دپاره دے **جواب** (۲) په کلمه د توحید کښ
مثلاً دوه اعتباره دی (اول اعتبار چه مونږ نظر وکړو خصوصیت د حاشیتونه
(چه کلمهٔ توحید، او متکلم دے) نو پکښ احتمال د کذب نشته بلکه محض صدق

صدق دَے، او دوئیم[۲] اعتبار چه مونږ نظر وکړو لفظ د کلمهٔ توحید چه دا یو خبر دے او نظر مفهوم او مدلول ته او نکړو نو بیا و ربانده تعریف د خبر صادقیږی چه نفس لفظ لحاظ سره احتمال د صدق او د کذب پکښ شته کلمه د توحید چه مونږ خبر او قضیه وایو هم په دې اعتبار سره و لولا الاعتبارات لبطلت الحکمة

**قوله** فانقیل الخبر اَمّا ان الخ خلاصه د اعتراض دا ده چه خبر او قضیه د دوه حالونه به خالی نه وی یا به موافق وی د واقعی سره او یا به موافق نه وی، که موافق وی د واقعی او د نفس الامر سره نو دا صدق محض دے احتمال د کذب پکښ نشته او که موافق نه وی د واقعی سره نو دا کذب محض دَے احتمال د صدق پکښ نشته پس هیڅ خبر به تعریف د خبر کښ داخل نشو، او دا اعتراض منع دا ده چه د منطقیانو به نزد احتمال معنیٰ امکان عقلی او تجویز عقلی دَے کما صرّح الشارحُ فی شرح المطالع - پس معترض امکان لره په نفس الامر امکان بانده محمول کړیدے، (اعتراض بالفاظ دیگر) د یحتمل الصدق و الکذب نه متبادر الی الفهم دا ده چه په دے کښ د صدق او د کذب احتمال د نفس الامریه لحاظ سره دَے، او ظاهره خبره ده چه د نفس الامریه لحاظ دا خبر یا صدق وِی او یا به کذب وی دواړه نشی کیدے ګنے اجتماع د نقیضین راځی او دا بدیهی البطلان ده لکه چه بعض قضایا صادق محض دی لکه الله موجودٌ، محمدٌ رّسول الله، الکل اعظم من الجزء - الواحد نصف الاثنین السماء فوقنا والارض تحتنا، وغیر ذالك دا قول صادق دی احتمال د کذب پکښ د سره نشته، او بعض قضایا صرف کاذب دی لکه اجتماع النقیضین واقعٌ، الارض فوقنا والماء تحتنا وغیر ذالك دا قول کاذب دی احتمال د صدق پکښ نشته، پس د خبر او د قضیه تعریف مذکور په هیڅ قضیه بانده هم نه صادقیږی ځکه چه داسې قضیه نشته چه په هغې کښ احتمال د صدق او کذب دواړه وی، پس شارح رحمه الله د دغه اعتراض تخه دوه[۲] جوابونه ذکر کړیدی. اوّل جواب ضعیف دَے، او دوئیم جواب تحقیقی دَے، پس خلاصه[۳] د جواب اول دا ده چه په "یحتمل الصدقَ و الکذبَ" کښ واو واصله نه مراد دے اَوْ فاصله دے ای یحتمل الصِدقَ او الکذبَ، نو هر خبر صادق کښ احتمال د صدق دے او هر خبر کاذب کښ احتمال د کذب دے او س په قول اخبارو او قضایاؤ بانده تعریف مذکور شامل او صادق شو،

**قوله** غیر مرضیٍ الخ شارح په دے جواب مذکور بانده رد کوی چه دا



جواب ضعیف دَے ځکه چه په دغه وخت کښ لفظ دَ "احتمال" مستدرك او بے فائدے ګرځی، ځکه کوم یو خبر چه صادق وی نو هغه قطعی او یقینی وی بیا په دے کښ احتمال د صدق څه معنیٰ ده او کوم یو خبر چه کاذب وی قطعًا او یقینًا نو بیا احتمال د کذب څهٔ معنیٰ کیدے بیا خو تعریف د خبر داسے کول پکار دی "چه، الخبر ما صدق او کذِبَ،

**سوال**: شارح دلته (په قطبی کښ) دا جواب ضعیف ګرځولے دَے، حالانکه هم دغه شارح رحمهٔ الله په خپل کتاب شرح المطالع کښ دا جواب ثابت ګرځولے دَے، او دا نه ده مګر تدافع او تناقض ده چه کلامینو د شارح کښ،

**جواب** قطبی کښ شارح رحمهٔ الله په دے جواب بانده رد کړیدے، په دے قول خپل سره "وهذا الجوابُ غیر مرضیٍ الخ او ددے مقصد دا دَے چه په مقام د تحقیق کښ دا جواب غوره نه دَے او شرح المطالع کښ ئے چه دا جواب ثابت ګرځولے دَے د هغه مقصد دا دے چه دا جواب په نفس اجوبه وُمتعددو په بیان کښ داخل او ثابت دَے. فلا تناقض.

**سوال** شارح خو دے بدیهیا تو نه انکار کړیدے. حیث قالَ لانَ الاحتمالَ لاَ معنیٰ لهٗ الخ ځکه چه احتمال خو لفظ موضوع دَے دِ دے لپارهٔ معنیٰ شته چه مالا یکونُ تصورِ طرفیهِ کافیًا بل یتردد الذهن فی النسبةِ بینهمَا، وغیرِ ذالكَ او دا لفظ مهمل نه دَے نو شارح رحمهٔ الله بیا ولی وائی چه لانَ الاحتمالَ لاَ معنیٰ لهٗ الخ **جواب** د شارح د قول مقصد دا دَے چه په دغه وخت کښ د احتمال دا سے معنیٰ نشته کوم چه په مقام کښ د تعریف کښ لائق او مناسب وی ځکه چه په تعریف کښ د داسے الفاظو تخه احتراز کول ضروری دی کوم چه غیر ظاهر الدلالت وی، او یا د شارح د قول مطلب دا دے چه په مقام د افاده د تعین د صدق او د کذب کښ د لفظ د احتمال د ذکر کولو څه فائده نشته،

**قوله** والحقُ فی الجواب الخ غرض د شارح په دے عبارت سره د اعتراض مذکور تخه تحقیقی او قوی جواب ذکر کول دی او خلاصه د جواب دا ده چه په تعریف د خبر کښ د احتمال د صدق او د کذب نه مراد دا دے چه نفس مفهوم په لحاظ سره دا د صدق او د کذب احتمال لری، قطع لحاظ د متکلم خصوصیت طرفین؛ خصوصیت مشاهده، بداهت علم او خارج نه،

سمد غه وجه ده چه قضایا مذکوره صادقو کښ نفس مفهوم په لحاظ

Maktaba Tul.Ishaat.com

احتمال د کذب پکښې شته،

همدغه شان په تضا یا مذکوره کاذبو کښې نفس مفهوم په اعتبار احتمال د صدق شته، اګرچه د خارج او نفس الامر په لحاظ احتمال د صدق پکښې نشته، ولو لا الاعتبارات لبطلت الحکمة- **قوله** ثم تحصل التقسیم الخ غرض د شارح په دے عبارت سره یا خو صحت تعریف مذکور طرف ته اشاره ده، په دے شان سره که د خبر تعریف داسے وکړے شی، چه الخبر ما احتمل الصدق والکذب بحسب مفهومه. نو خه قسم اعتراض به پرے وارد نشی. او یا غرض د شارح په دے سره اشاره کول دی دے خبرے ته چه دا قول د شارح وهوا ما ان یدل علی طلب الفعل الخ تتمه د بیان ده،

**قوله** وهو اما ان یدل الخ غرض د شارح رحمة الله په دے عبارت سره تشریح او تفصیل کول دی په اقسامو د انشاء کښې ماتن رحمة الله د انشاء خلور قسمونه بیان کړیدی، (۱) امر (۲) دعاء (۳) التماس (۴) تنبیه، او پنځه قسمونه ئے په تنبیه کښې داخل کړیدی (۱) تمنی (۲) ترجی (۳) ندا (۴) تعجب (۵) قسم او دوه قسمونو کښې بالکل سکوت اختیار کړیدے (۱) نهی (۲) استفهام دے باره شارح بحیله کلام کوی انشاء الله، پس که انشاء په طلب د فعل باندے دلالت کوی نو دا طلب به خالی نه وی یا به طلب د اعلی وی د ادنی نه، او یا به طلب د ادنی وی د اعلی نه، او یا به طلب د دو مساوی وی دیل مساوی نه نو اول ته امر او دویم ته دعا او دریم ته التماس ویلے شی.

**امر**: پس امر په لغت کښې فرمودن، حکم کولو ته وائی، او په اصطلاح کښې ما دل علی طلب الفعل باعتبار الصیغة علی سبیل الاستعلاء، ته ویلے شی، په طلب الفعل سره تری نهی خارج شوه او باعتبار الصیغة سره د باب طلب یطلب نه احتراز راغے ځکه چه دا په طلب الفعل باندے دلالت کوی خو په اعتبار د مادے سره نه په اعتبار د صیغی سره،

**فائده**: مذکوره دا خبره چه اختلاف واقع شویدے په اهل علمو کښې په باره د امر کښې په دے شان سره چه امر اهل عربیه (لغت) په نزد عبارت دے د هغه لفظ نه چه دلالت کوی په طلب د فعل باندے برابره خبره ده چه امر عالی وی د مامور نه او که مساوی وی، او که سافل (ادنی) وی، او د



اصول فقه والا او منطقیانو په نزد امر عبارت دے د هغه لفظ نه چه دلالت کوی په طلب د فعل باندے او صادر وی د عالی نه او که د ادنی نه صادر وی نو هغه ته دعا ویلے شی او که د مساوی نه صادر شوے وی نو هغه ته التماس ویلے شی، نو په منطقیانو او اصول فقه والاؤ په نزد په امر کښې استعلاء د امر شرط ده، یعنی امر به خان عالی ګڼړی د مامور نه خواکه هغه په نفس الامر کښې عالی وی او که نه وی نو په ما بین د مسلکینو نسبت د عموم د خصوص مطلق دے چه امر د اهل عربیة و اعم مطلق دے او امر د منطقیانو اخص مطلق دے، ماده اجتماعی لکه اقیموا الصلوة او ماده افتراقی لکه یا رب اغفر وارحم،

**دعاء**" دعاء په لغت کښې "حاجت خواستن" ته وائی او په اصطلاح کښې د دعا مختلف تعریفونه شویدی (۱) کلام انشائی دال علی الطلب مع خضوع ویسمی سوالاً ایضاً (شرح المطالع) (۲) طلب الفعل مع التسفل والخضوع (عضدی) (۳) طلب الفعل مع مزید تضرع وغیرذالک لکه یا رب اغفر وارحم، اللهم اغفرلی - وقنا عذاب النار-

**التماس**" التماس په لغت کښې مطلق طلب ته وائی او په اصطلاح کښې هو الطلب مع التساوی بین الامر والمامور فی الرتبة- لکه یا اخی استمع لی،

**قوله** وانما قید الدلالة بالوضع الخ غرض د شارح رحمة الله په دے عبارت سره جواب د **سوال** مقدر دے خلاصه د **سوال** دا ده چه "الرسالة الشمسیة" متن دے او مبنی د متونو په اختصار باندے وی او اختصار به مله راته چه ماتن داسے "فان دل علی طلب الفعل فاما ان یقارن الخ" ویلے دے دلالة وضعیة ته خه ضرورت وو او خلاصه د **جواب** دا ده چه ماتن رحمة الله دا قید ځکه لګولے دے چه په دے سره هغه خبریه جملے خارج شی کوم چه په طلب د فعل باندے بلاوضع دلالت کوی لکه "کتب علیکم الصیام" ولله علی الناس حج البیت، او اطلب منک الفعل وغیر ذالک پس دا هم جمله خبریه دی په طلب د فعل باندے دلالت کوی لیکن چونکه دا په اصل وضع سره په طلب د فعل باندے دلالت نکوی نو په قید مذکور سره ئے خارج کړل لیکن په دے باندے شارح بحیله (شرح المطالع) کښې اعتراض کړیدے چه د دلته خبره د تقسیم د انشاء کښې ده او دا جملے خبریه دی مقسم کښې د سره داخل نه دی نو اخراج ته خه ضرورت دے؟ **جواب**: د دے اجارو ځکه

د احترازدا مطلب نه دے چه علی الاطلاق احترازدے، بلکه مطلب دا دے چه
دا اخبار هرکله چه مجازًا انشاء د طلب فعل په طور استعمال لوؤلے شمول، نو به
دوی باندے دا امر تعریف صادقیږی نو احترازته ضرورت راغے، لیکن دا
جواب ضعیف او مخدوش ځکه دے چه دا اخبار په انشاء کښ داخلید ل
فرع د داخلیدل ددے اخبارو په انشاء نوع ددے دی چه مرکب تام کښ داخل
شی، او مرکب تام ددال بالمطابقة قسم دے، او طلب د فعل باندے دد اخبارو
دلالت تضمنی دے نو دا هم مقسم نه خارج دی نو احترازته ضرورت رانه غے،
بس په جواب د اعتراض مذکور کښ زیات نه زیات دا ہے و یلے شی چه هرکله
مقسم نه د غفلت په وجه د تعریف صادقید لو احتمال وو نو صریح قید ئے
او نکولو ترڅو چه ظاهرًا احترازراشی،

**قوله** وان لم یدل علی طلب الفعل فهو تنبیهٌ الخ **تنبیه** په لغت کښ خبرداری
او د خوبه بید ارولو ته وائی، او په اصطلاح کښ مختلف اقوال دی،
(۱) مایفهم من مجمل بادنی تأمل اعلامًا بما فی ضمیر المتکلم للمخاطب،
(۲) قاعدةٌ تعرف بها الابحاث الاٰتیهُ مجملةً،
(۳) بیان الشئ قصدًا بعد سبقهٖ ضمنًا علی وجهٍ لوَجّهَ الیه السامع الفَطِن
بکلیتهٖ لعرفهٗ۔
(۴) استحضار مامضی وانتظار ماسیاتی، وغیر ذالک، والمراد ههنا المعنی
اللغوی وهوالدلالةُ عمّاغفل عنهُ المخاطب۔
والفرق بینهٗ و بین التذنیب مع اشتراکهما فی ان کلًا منهما یتعلق بالمباحث
المتقدمةِ ان ماذکر فی حیزهٖ بحیث لوتامل المتأمِل بالمباحث المتقدمةِ لفهمهٗ
بخلافِ التذنیب کذا فی الجلبی حاشیة المطوّل۔

**تمنی** " تمنی په لغت کښ امید او ارزو ته وائی او په اصطلاح کښ عبارت
دے (۱) طلبُ حصول الشئ علی سبیل المحبّةِ سواء کان ممکنًا اولا (۲) اظهار
محبّةِ الشئ ممکنًا او محالًا۔ مثال الاوّل لیتنی حکیمًا و مثال الثانی لیت الشباب
یعودُ۔ **ترجی** : په لغت کښ امید ته وائی۔ او په اصطلاح کښ ارتقاب
شئٍ لاوثوق بحصولهٖ (۲) اظهار ارادة الشئ الممکنِ اوکراهتهٖ، (۳) ماوضع
لطلب شئٍ ممکنٍ، نحو لعلّ اللهُ یرزقنی صلاحًا۔

**الفروق بین التمنی والترجی** ۱ اول فرق دا دے چه تمنی کښ د متمنی



او د مطلوب ممکن الوجود کیدل شرط نهٔ دی بخلاف د ترجی نه په دے کښ دا ضرور
دی چه دا به ممکن الوجود وی، نو لیت الشباب یعودُ دیل صحیح دی،
، قال الهدبة بن حشرم العذری، له فلیت الشباب یعودُ یومًا :. فاخبرهٗ
بمافعل المشیبُ، او لعلّ الشبابُ ویل صحیح نه دی، ځکه چه د شباب نه مراد
فقه زمانه ده، چه پکښ قوی نامیو کښ اضافه وی او د زمانے واپس کید ل محال د
او دوئم[۲] فرق په مابین د دوی کښ دا دے چه د ترجی استعمال عام طور په قریب
کښ کیږی او د تمنی استعمال په بعید کښ کیږی، او دریم[۳] فرق پکښ دا دے
چه د تمنی استعمال په امر محبوب کښ کیږی او د ترجی استعمال عام دے،
محبوب وی او که نهٔ فبینهما فرقٌ من وجوهٍ ثلاثةٍ۔

**ندا** ا په لغت کښ اواز کولو ته وائی، او په اصطلاح کښ (۱) عبارت دے، (الکلام
المستعملُ فی طلبِ الاقبالِ وغیره نه، **تعجب** ا په لغت کښ نا اشنا والی ته
وائی۔ او په اصطلاح کښ مختلف اقوال دی (۱) انفعال النفسِ عمّاخفی سببهٗ
(۲) استعظام صفةِ خرج المتعجب منهٗ علی نظائرهٖ (ابن الصائغ)
(۳) تعظیم الامرِ فی قلوب السامعین (زمخشری)

**قسم** ا په لغت کښ ویش او محکم تیاته وائی، او په اصطلاح کښ جملةٌ مؤکّدةٌ
یحتاج الی مایلصق بها من اسم دال علی التعظیم "۳" **استفهام** " په لغت کښ
طلب د فهم ته وائی، او په اصطلاح کښ مختلف اقوال دی، (۱) استعلام ما
فی الضمیر المخاطب (۲) طلبُ حصول صورة الشئ فی الذهن (۳) کلامٌ یدلُّ
علی طلبِ فهمِ مااتّصلَ بهٖ اداةُ الطلب۔ "**نهی**" ا په لغت کښ منع کولو ته وائی
او په اصطلاح کښ دا فرد دا مر دے، طلب الکف عن الفعلِ علی سبیل الاستعلاء
(۲) طلب الترکِ عن الفعلِ استعلاءً وغیر ذالک۔ **قوله** خارجانِ عن القسمةِ الخ
یعنی ماتن د انشاء د خلور قسمه بیان کړل (۱) امر (۲) دعا (۳) التماس (۵) تنبیه
او پنځه قسمونه (۱) تمنی (۲) ترجی (۳) تعجب (۴) قسم (۵) نداء ئے په تنبیه کښ
داخل کړل، او دوه قسمونه (۱) یعنی (۱) نهی (۲) استفهام نه ئے مکمل سکوت
اختیار کړے، د دے باره کښ شارح کلام کوی معترض **اعتراض** کوی چه
نهی او استفهام د دواړو قسمونو تخنه خارج دی، ځکه چه استفهام په امر دعا
او په التماس نه داخلیدل خو بنکاره خبره ده او په تنبیه کښ هم نشی داخلید
ځکه چه استفهام کښ د مخاطب تخنه د مافی الضمیر تپوس کول وی، او په

Maktaba Tul Ishaat.com

تنبیه کښې د متکلم ما في الضمیر ظاهرول وي او دغه دواړو په مابین کښې
بوږ بعید او تضاد دے، هم دغه شان د نهی په ذے اقسامو کښې نه داخلیدل
خوښکاره خبره ده او په امر کښې هم داخل نهٔ دے ځکه چه امر طلب د فعل
لپاره وضع شویدے او نهی طلب د ترك د فعل لپاره موضوع ده او دوئی په مابین کښې هم
تضاد دے شارح د دغه اعتراض نه **جواب** په دے قول کښل سره، لکن المصنف
ادرج الاستفهام الخ او د جواب خلاصه داده چه ماتن شاید استفهام په
تنبیه کښې داخل کړے وي او دوئی په مابین کښې د مناسبت لغویه اعتبار نه
دے کړے، یعنی د استفهام او د تنبیه په مابین کښې چه کوم اختلاف او تضاد دے
د دے نه قطع لحاظ ممکن دے چه ماتن استفهام په تنبیه کښې داخل کړے وي
او نهی په امر کښې داخل کړیده ځکه چه نهی اګرکه ترك فعل (کف النفس) وي لیکن
دا ترك د فعل او کف هم یو امر دے په دے لحاظ سره نهی دا مر سره شریکه ده،
په دے معنی سره چه په دواړو کښې مطلوب "فعل" دے صرف دومره خبره ده چه
په نهی کښې یو مخصوص فعل یعنی "الکف" مطلوب وي په دے لحاظ سره ئے نهی په
امر کښې داخله کړیده، **سوال** د شارح دا جواب د جمهور و نه خلاف دے ځکه چه
جمهور مناسبت قویه لره اعتبار ورکوی او د جمهور و نه خلاف دا په توت د خطار
کښې وي مګر چه نکته او وجه بیان کړے شي فما النکتة ههنا **جواب** جمهور
چه مناسبت لغویه لره اعتبار ورکوی دا په ډیرو قسمونو کښې نه ملا دیږی، مثلاً
ندا کښې د متکلم ما في الضمیر باندے تنبیه مقصود نه وي بلکه اصلی
مقصد د مخاطب متوجه کول وي، او همدا راز قسم کښې هم مقصود اصلي د
متکلم ما في الضمیر باندے تنبیه نه وي بلکه په ذهن د مخاطب کښې د جواب
قسم تقریر او تاکید مقصود وي، بهرحال جمهور چه کوم مناسبت لغویه لره
رعایت کړیدے دا په ډیرو قسمونو کښې نه تما میږی نو ماتن د تقلیل اقسام په وجه
استفهام په تنبیه کښې داخل کړیدے او نهی په امر کښې د لغوی مناسبت رعایت
نه دے کړے لیکن په دے باندے میرسید شریف اعتراض کړیدے چه
استفهام په تنبیه کښې داخلول په څخه صحیح شي ځکه چه استفهام طلب فعل
باندے وضعًا دلالت کوی، او تنبیه په دے باندے وضعًا دلالت نه کوی،
**جواب** ئے دادے چه استفهام وضعًا په طلب فهم باندے دلالت کوی نه طلب
فعل باندے ځکه چه فهم فعل نهٔ دے، بلکه انفعال دے،



**سوال** :- فهم اګرکه حقیقةً فعل نهٔ دے بلکه انفعال دے او یا کیف دے لیکن په
عرف د اهل لغت کښې دا فهم افعال قلبیه کښې شمارل کیږی دغه وجه نه اعلم،
او افهم د غیره ته امر ویلے شي، او د الفاظو نه هم دغه معنی متبادر الی الفهم
کیږی کوم چه د لغت په لحاظ مفهومیږی، پس په استفهام باندے دا خبره
صادقیږی چه دا په طلب د فعل باندے بالوضع دلالت کوی، نو دا په تنبیه کښې
داخلیدے نشی، او همدغه شان د استفهام نه مقصود تفهیم د مخاطب وي
نه فهم کوم چه د متکلم فعل دے او ښکاره خبره ده چه تفهیم فعل دے، دے
نه هم دا ثابتیږی چه استفهام په تنبیه داخلیدے نشی،
**سوال** لفظ فعل چه کله مطلق ذکر کړے شي نو د دے نه متبادر الی الفهم هغه
فعل وي کوم چه افعال جوارحو نه وي او تفهیم د افعال جوارحو نه نهٔ دے
نو استفهام باندے دا صادقیږی چه دا په طلب د فعل باندے دلالت نکوي
پس د استفهام په تنبیه کښې داخلیدل صحیح دي، **جواب** که خبره هم دا ئے
وي نو بیا خو فهمني او علمني وغیره هم طلب باندے دلالت او نکړي ځکه
چه علم او فهم هم د افعال جوارحو نه دي حتی یصدق علیهما انهما
دالان علی طلب الفعل، **قوله** ولم یعتبر المناسبة الخ په دے باندے **اعتراض**
واردیږی چه دلته لغوی مناسبت موجود دے ځکه چه د استفهام معنی د متکلم
ما في الضمیر باندے د مخاطب متنبه کول دي **جواب** د استفهام نه مقصود
اصلي دا نهٔ دے بلکه مقصود اصلي د دے نه د مخاطب ما في الضمیر باندے
متکلم پوهه کول وي، پس مقصود اصلي لحاظ سره د لغوی مناسبت رعایت
نشو بلکه رعایت بالتبع شو، **قوله** هو کف النفس الخ زده کړه دا خبره چه
په مطلوب د نهی کښې اختلاف واقع شویدے په دے شان سره چه بعض متکلمین
وائي چه د نهی نه مقصود عدم فعل نهٔ دے کوم چه متبادر الی الفهم دے، ځکه
چه عدم خو مستمر د ازل نه دے، پس دا نه د انسان فعل اختیاری کیدے شي
او نهٔ د انسان حاصلولو سره حاصلیږی حالانکه مکلف په حاصلیدل د تحصیل
د انسان سره ضروری دی کنے تکلیف بما لا یطاق لازمیږی بلکه مقصود اصلي
د نهی نه کف النفس عن الفعل دے، او په دے لحاظ سره نهی مشارك د امر
سره ده چه د دواړو نه مقصود فعل دے، صرف دومره خبره ده چه د نهی
نه مقصود یو خاص فعل وي یعنی الکف عن فعل آخر، په دے صورت کښې

نهی په امرکښ داخلیږي هم نشي لکه چه ماتن داخل کړیده، او خارجیږي هم نشي په دے شان سره چه په تعریف د امر (طلبُ امرٍ) کښ غیر کف قید ولګو نشي، لکه ابن حاجب قید لګولے دے، او جمهور متکلمین وائی چه مقصود اصلي د نهی نخنه عدم فعل دے، او عدم فعل په دے معنیٰ اختیاری دے، چه انسان په دواړو جانبو کښ اختیار لري په دے کښ هم اختیار کولے شي چه فعل وکړي ترڅو چه د عدم فعل استمرار دستور مطابق پاتے شي،

**قوله** ولوارد نا ایرادهما الخ غرض د شارح په دے عبارت سره دوه خبرو ته اشاره کول دی، (۱) دا چه شارح په دے سره اشاره کوی بیان دیوے ضابطے ته چه دغه ضابطے سره استفهام او نهی په تقسیم کښ بلا غبار داخلیږي، او دویم غرض دا چه په دے عبارت سره اشاره کوی دویمے وجے د حصر د تقسیم ته په دغ وجے د حصر سره تقسیم سداسی کرځي او په سابق وجه حصر سره تقسیم رباعی کرځیده، پس شارح وائی چه مونږ دا سے ضابطه او وجه د حصر ذکر کوو چه په هغے سره استفهام او نهی به تقسیم کښ داخل شي، او خلاصه د دے دا ده، چه انشاء طلب د شئ باندے وضعًا دلالت کوی او یا به ئے نه کوی، که دلالت ئے په طلب د شئ باندے وضعًا نه کولو، نو تنبیه شوه، په دے کښ، تمنی، ترجی، قسم، تعجب او ندا داخل دی، او که انشاء په طلب د فعل باندے وضعًا دلالت کوی، نو بیا به خالی نه وی، یا به مطلوب فهم او یا به مطلوب غیر فهم وی، که مطلوب فهم وی نو استفهام شو او که مطلوب غیر فهم وی نو بیا به خالی نه وی یا به مطلوب فعل دی او یا به مطلوب ترك وی، که مطلوب فعل وو نو بیا به خالی نه وی، یا به مع الاستعلاء وی او یا به مع التساوی وی، او یا به مع الخضوع، اول امر دویم التماس او دریم دعا شوه، او که مطلوب عدم فعل وی نو دے ته نهی ویلے شی، پس په دے صورت کښ تول شپږ قسمونه راځي، په خلاف د تقسیم د ماتن نه چه په دے سره صرف خلور قسمونه راتلل، میر سید شریف رحمه الله وائی، چه طلب شئ لره د طلب فعل نخنه عام کرځولے دے، ځکه چه تقریر د شارح کوم چه مبنی دے په عموم باندے، طلب شئ، طلب فهم، او طلب غیر فهم، یعنی طلب فعل، او طلب ترك فعل تولو لره شامل دے، او دا د ځکښے نه معلوم شوے وو، چه استفهام هم په طلب فعل باندے دلالت کوی نو بنا په دے باندے د (غیر) نخنه یا خو صرف فعل مطلوب کرځي او یا



عدم فعل مطلوب او ښکاره خبره ده چه د استفهام نخنه مطلوب عدم نه دے نو فعل مطلوب کیدل متعین شو، د دے تقسیم بهترین او غوره صورت دا دے چه دا سے او وئیلے شي چه کله انشاء طلب فعل باندے دلالت وکړي، نو د دے مقصود یا خو حصول د شئ په ذهن کښ وی په دے حیثیت سره چه دا حصول د شئ فی الذهن دے د دے ته استفهام وئیلے شي، او که مقصود حصول د شئ فی الخارج وی، او یا عدم حصول فی الخارج وی په دواړو صورتونو کښ که په استعلاء سره وی نو یا به طلب د فعل وی او یا به ترك د فعل وی، اول امر او دویم نهی شوه او که بلا استعلاء وی که تساوی سره وی نو التماس شو، او که خضوع سره وی نو دعا او سوال شو، او په تعریف د استفهام کښ دا "حیثیت (حصولِ شئ فی الذهن) په دے وجه او لګولے شو، چه اعتراض وارد نه شي چه علمني او فهمني نخنه مقصود اصلي حصول علم او حصول فهم دے او تعلیم او تفهیم صرف په دے وجه مقصود دی چه دا د حصول ذریعه دی، همدا وجه ده چه کله علم او فهم حاصل شي نو تعلیم او تفهیم مقصود نه پاتے کیږي، او د تقریر مذکور نخنه هم دا معلومیږي پس د مقصود اصلی په اعتبار سره استفهام او علمني او فهمني کښ کوم فرق پاتے نشو؟

**جواب** استفهام کښ حصول شئ فی الذهن من حیث هُوَهُوَ مراد دے او تعلیم او تفهیم کښ حصولُ شئٍ فی الخارج مراد وی البته خصوصیت فعل یعنی خصوصیت علمني او فهمني د دے مقتضي دے چه د دے اثر حصول فی الذهن وی، وقال صاحب المواقف فی الفوائد الغیاثیة والکشی فی رسالة فی المیزان ان مایدلُ علی الطلب ان کان یحصل فی الذهن مافی الخارج فهو الاستفهام وان کان یحصلُ فی الخارج مافی الذهن فهو البواقي ولا یرد علیه علمني لان المقصود باللفظ تحصیل مافی الخارج الا ان حصول مافی الخارج اقتضیٰ احرف الذهن (عصام)

**قوله** واما المرکب الغیر التام الخ هرکله چه شارح رحمهٔ الله فارغ شو د بیان د تفصیل د مرکب تام نخنه نو شروع ئے وکړه په تفصیل د مرکب غیر تام کښ کوم ته چه مرکب ناقص، او مرکب غیر مفید، او مرکب غیر کلامی او مرکب غیر اسنادی وئیلے شي، او تعریف ئے مخکښ تیر شوے دے، نو ماتن رحمه الله مرکب ناقص دوه قسمونه کرځولی دی (۱) تقیدی (۲) غیر تقیدی، او د غیر تقیدی دوه صورتونه

ذکرکړیدی(۱)چه کلمه اوداداة څخه مرکب وی لکه قَدضَرَبَ (۲) چه دَاِسم اوددادات څخه مرکب لکه فی الدار،یا الرَّجَلُ شو، حالانکه دَ مرکب ناقص څلور قسمونه دی، (۱)مرکب توصیف، لکه الحیوانُ الناطقُ،یالکه زیدٌعالمٌ ،(۲)مرکب اضافی.لکه غلامُ زیدٍ(۳)مرکب امتزاجی.لکه بَعْلَبَکُ (۴)مرکب غیرامتزاجی.لکه فی الدّار،بیامشهوره داده چه مرکب تقیدی صرف توصیفی ته وئیلے شی په دی صورت کښ باقی دری واړه مرکب غیرتقیدی کښ داخل شول؛ سوا ل: هرکله چه مرکب ناقص په دوه قسمه شو (۱)مرکب توصیفی (چه جزء ثانی قیدوی اول لپاره په طریقه دَ وصفیت سره لکه الحیوانُ الناطقُ شو ،(۲) مرکب اضافی .(چه جزء ثانی قید وی اول لپاره په طریقه دَ اضافت سره لکه) عبدُ اللهِ شو - **سوال**:شارح رحمه الله ولی اقتصاراوکړو په اول باندې په دلیل دمثال سره دانه دے مګرترجیح بلامرجح؟**جواب**:[۱]شارح رحمه الله په اول څکه اقتصاراوکړوچه داهغه قسم دے چه بحث پکښ واقع کیږی دَمعرف اوقول شارح کیدوپه جهت سره اواضافی داسے نه دے ؛**جواب**:[۲] دَمعنی لحاظ سره دَمرکب اضافی رجع کیږی مرکب توصیفی ته لکه غلامُ زیدٍمعنی کولے شی غُلامٌ مَنْسُوبٌ لِزَیْدٍ - والی هٰهنا قَد. تم الکلام عن الالفاظ بحمدالله تعالی

---

**قَال:الفصل الثانی فی المعانی المفردة------ اقول:المعانی هي الصور الذهنية . ---------- تسمية الدال باسم المد لول،**

---

« **تشریح** » هرکله چه مصنف رحمه الله فارغ شودَبیان دَدلا لت اودَ الفاظونه (کوم چه منزله دَ مقدمه وو) نوشروع ئ اوکړو په بیان دَمقصودکښ .نو"الفصل الثانی فی المعانی الخ":مقصودپه منطق کښ بیان دَاحوال دکاسب اودمکتسب دے،اوعلم منطق دوه فنه دی(۱) فن التصورات(۲) فن التصدیقات،نو په اول کښ دکاسب تصور نه بحث کیږی کوم ته چه معرف ( بالکسر) او قول شارح وئیلے شی،اومکتسب معرف (بالفتح)دے اوپه دوېم کښ دکاسب تصدیقی نه بحث کیږی کوم ته چه دلیل او حجت وئیلے شی او مکتسب نتیجه ده، نومانحن فیه فن دَتصورا تودے.او مفهوم نه کاسب



تصوری دے اونه مکتسب تصوری؟ **جواب** :کاسب اوموصل تصوری په څلور قسمه دے (۱)موصل قریب الی التصورچه معرف دے(۲) موصل بعیدچه اجزاءدَ تعریف(کلیات خمسه، جنس، نوع، فصل خاصه اوعرض عام) دی (۳) موصل ابعد چه مفهوم دے، (۴) موصل ابعد الابعد چه الفاظ اودلالات دی، بیاخومناسب داوو چه ترتیب واری ذکرکړے وے پدیشان سره چه اوموصل قریب ذکرکړے وے،بیاموصل بعید ،بیاموصل ابعداوبیاموصل ابعد الابعد ،سره ددینه مصنف رحمه الله ددی ترتیب کذای څه خیال نه دے ساتلے ؟ **جواب**: کوم ترتیب چه مصنف رحمه الله ذکرکړیدے دا موافق دے دَ نظم طبعی سره څکه چه موصل قریب(تعریف)کُل دے اوکل موقوف وی تراجزاؤ(کلیات) پوری،اوجزء مقدم په کُل باندَاوکلیات خمسه دَمفهوم اقسام دی او قسم موقوف وی ترمقسم پوری اوتعلیم اوتعلم په ټولو کښ ترالفاظو اودلا لا تو پوری موقوف وی او موقوف علیه مقدم وی په موقوف باند-

قوله"المعانی المفردة " **سوا ل**:دمصنف رحمه الله په عبارت کښ دَعنوان اودَ معنون تر مینځ ښکاره مخالفت دے څکه چه د دے فصل عنوان "المعانی المفردة" دے اومعنون یعنی تقسیم کښ هغے لره بدل کړوپه"کلّ مفهوم"سره ؟

**جواب**: [۱]دَفصل اول عنوان" الالفاظ"وو نودَهغے په مقابله کښ دَفصل ثانی عنوان" المعانی "مناسب شواوپه تقسیم کښ د"مفهوم"عنوان مناسب دے څکه چه کلی اوجزئ دَمعقولا تو ثانیه وڅخه دی؛ **جواب** [۲]: تقابل دَعنوانینو خبره خوظاهره ده لیکن مصنف رحمه الله معنون(تقسیم) په مفهوم سره بدل څکه کړوچه تعمیم راشی په مقسم کښ څکه چه په معنی کښ لحاظ دَقصدمن اللفظ وی اوپه مدلول کښ لحاظ دَدلالت وی والمفهوم اعم-

(( فائده )) معانی جمع دَمعنی ده په وزن دمَفعَلٌ دَعنی یعنی(ض) نه په معنی دَقصد سره اوپه صیغه دمعنی کښ دری اقوال دی(۱) صیغه دَمصد رمیمی ده(۲) صیغه د ظرف ده،(۳) صیغه دَاسم مفعول ده چه په اصل کښ معنوی وو لکه دَمَرْمِیٌ پشان اعلا ل په کښ شوے دے،لیکن اول احتمال غوره څکه دے چه معنی مقصود وی نه مکان دَقصد ،اوهم دغه شان په اول احتمال کښ احتیاج نه راځی اعلا ل ته؛

(( فائده ))- دَمفهوم،معنی،اودَمدلول دری وارو په مابین کښ اتحاد ذاتی اوفرق اعتباری دے پدیشان سره چه ماصدق علیه ددوی یوشئ دے (لکه حیوان ناطق چه دَلفظ دَ انسان معنی،مفهوم اومدلول دے) دری واړه په یوشی صادق شول،اوهم دغه حیوان ناطق چه په دی اعتبارچه فهمیږی دَلفظ دَ انسان نه نوورته مفهوم وائ.اوچه لفظ دَ انسان څخه قصدکړے شی نوورته معنی وائ اوچه لفظ دَانسان ورباندِدلالت کوی نوورته معلول وائ-

(( تنبیه )) - هرکله چه الفاظ په دوه قسمه وو[۱]مفرد[۲] مرکب،نو ماتن رحمه الله په دی فصل کښ معانیِمفرده وُ بیان کوی څکه چه مفردجزءدَمرکب وی او جزء مقدم وی په کل باند، سوال : څنګه چه دغه فصل ثانیکښ دَمعانی مفرده وُ او مباحث کلیه وُ بیان دے دغه شان په را تلونکیفصل ثالث کښ هم بیان دَمعانیمفرده وُ او مباحث کلیه وَدے، نوتقابل دَ فصلینوصحیح نشو ؟

جواب [۱] فصل ثانیکښ دَ مباحث کلیه وُ دَانواعو په لحاظ.او په فصل ثالث کښ دَمباحث کلیه وُ بیان دے دَمن حیث هوپه لحاظ.هم دغه وجه ده چه ماتنرح دلته لفظ دَمعانی په جمع سره ذکرکړواو هلته عنوان مفردذکرکړوحیث قال:الفصل الثالث فی مباحث الکلیوالجزیْ.الخ نو اعتبارات مختلف شول ولولا الاعتبارات لبطلت ا لحکمة-

جواب: [۲] په فصل ثالث کښ بیان دَهغه مباحثودےکوم چه دَفصل ثانیڅخه باقی مانده دی،نودَفصل ثانیاو دَفصل ثالث په مابین تقابل مقصود نه دے بلکه دَفصل رابع په لحاظ سره امتیاز مقصود دے-جواب: [۳] فصل ثانیدکلیمفردپه بیان دے اوفصل ثالث دَمطلق کلي په بیان کښ دے-

قوله:المعانی هی الصور الذهنیة .الخ زده کړه داخبره چه دَممکن لپاره دری وجوده دی (۱)وجودخارجی:داهغهدے چه پدی باند آثارخارجیه مرتب وی،لکه اورنوداپه اعتبار دَ وجود خارجی سره حرارت فائده کوی، اوماء( اوبو ) په اعتبار د وجود خارجی سره برودت فائده کوی،وعلیهذاالقیاس،اودی وجودخارجی ته وجود عینیاووجوداصلی هم ونیلے شی(۲) وجودذهنی:اوداهغه دے چه پدی باندی آثارذهنیه مرتب وی، بیادا وجود ذهنی خپل کور کښ په دوه قسمه دے(۱) وجودذهنی فیمرتبة من حیث هی، او



داعبارت دے دَ صورة حاصلة نه ذهن کښ بغیردَ لحاظ دَحصول ذهنیددی، او بغیر دَلحاظ دکیدو ددے معروض په عواض ذهنیه وُ سره (۲) وجود ذهنی فی مرتبة من حیث القیام اوداعبارت دے دَحصول دَصوری حاصله نه په ذهن کښ سره دَلحاظ د حصول ذهنیددی اوسره دکیدومعروض په عواضوذهیه وُ سره،پس قسم اول (وجود خارجی) معلوم بالعرض وی څکه چه علم نه منتفی کیږی په انتفاء ددے سره اودا "ملتفت الیه بالذات" سره مسمی کولے شی،څکه چه دالتفات اود قصد تعلق په امور خارجیه وُ پوری وی؛ اودویم قسم(وجودذهنیمن حیث هیمسمی کولے) شی په "معلوم بالذات" سره څکه چه ددے په انتفاء سره علم منتفیکیږی ،اوهم دغه شان دی ته "وجود ظلی"هم ونیلے شیڅکه چه په دی باند ترتب دآثارو نه کیږی؛اودریم قسم(وجود ذهنیمن حیث القیام) په "علم حصولی"باند مسمی کولے شی او "وجود اصلی" ورته هم ونیلے شیڅکه چه ترتب آثارو (لکه انکشاف،حزن،اوفرح وغیره پری کیږی-

پس زده کړه داخبره چه داقول دَشارح رحمه الله "الصورالذهیة"دینه مرادعامه معنی نه ده چه موجود وی په وجوداصلی سره لکه دَ ادراك نسبت قیام دَزید ته.اوچه موجود وی په وجود ظلی سره لکه قیام دزید ،بلکه مرادتری نه دویم احتمال دے په قرینه دَ قول دده سره چه " فان عبر عنهابالفاظ"دے څکه چه تعبیرکولےشیدنسبت دَموجودذهنی په وجودظلیسره، اوهم دغه مقصود دَ شارح رحمه الله په دی عبارت" الصور الذهنیه " سره تعریف دَ"معانی" نه دے څکه چه معنی معنیعبارت دے دَ"مایقصدمن اللفظ" څخه اودامعلوم،او دَصورذهنیه وُ اطلا ق په علم اومعلوم دواړو باندکیږی څکه چه دواړه حاصل وی په ذهن کښ.علم په وجوداصلی سره اومعلوم په وجود ظلی سره، وههناکلام لایسعه المقام-

قوله:فإن عبرعنها_الخ غرض دَشارح رحمه الله پدیعبارت سره دَوهم اودسوال مقدر دے، حاصل د سوال :دادے چه کله معنیدافرادصفت واقع شینودَهغے نه په بعض اوقاتو کښ بسیط مراد وی ( کوم چه جزء نه لری )اومصنف رحمه الله په"المعانی"افرادولره دَ معنیصفت واقع کړیدیٔ د دینه دامعلومیږی چه دلته دمفردنه مرادبسیط دے؟ اوحاصل دَجواب:دادے چه دلته دَمفردنه مرادبسیط نه دے بلکه هغه معنی مراده چه

Maktaba Tul-Ishaat.com

دَ هغه تعبیرپه لفظ دَمفرد سره شوے وی.اودَمرکب نه مراد هغه معنی ده چه دَ هغه تعبیر په لفظ دَمرکب شوے وی،پس افراداوترکیب اصالةً دالفاظوصفات دی، کما سیاتی- قوله:وإلا فالمرکبة_الخ په"والا" کوم چه په اصل کښ"وان لم یکن وو نفی صرف افراد قید ته متوجه دے اوهغه مفرددے اوتعبیرباللفظ علی حاله محفوظ دے"وان لم یعبر عنهابالفاظ مفردة بل بالفاظ مرکبة الخ مقصودخمونږ پدی سره جواب کول دی دیو سوال ځخه حاصل دَ سوال :دادے چه کله دَمعنی تعبیر په یوشئ سره نه وی نو دادَمرکب سره متصف کیدلے نشی‌حالانکه شارح رحمه الله قول"والا" دی لره شامل دے؟

جواب:دادے چه په و"الا"کښ نفی‌صرف افرادقیدته متوجه دے اوهغه مفرددے ،کما ذکرنا، سوال: دَمثل دعبدالله ځخه تعبیر په لفظ مفرد سره کیږی لیکن دادَ معنی اضافی په لحاظ سره نه ده بلکه دَمعنی علمی په لحاظ سره ده ؟

جواب : دَمفردلفظ سره تعبیر کولومقصد دادے چه تعبیر باللفظ المفرد دَمعبربه معنی په په لحاظ سره وی اومعنی اضافی‌دَعبدالله معبرعنه ده،

قوله: والکلا م ههنا الخ غرض د شارح رحمه الله پدی‌عبارت سره اشاره کول دی تخصیص دَعنوان ته ای‌الکلام فی‌هذاالفصل فی‌المعانی‌المفردة دون المرکبة فلذاخص العنوان بها- پس پدی سره داسوال هم ختم شوچه سائل سوال :کوی چه معتنی مفردوکښ گفتگو کول دَ"الفصل الثانی‌فی‌المعانی المفردة"عنوان نه معلوم شویدے نوحوالِه ته ضرورت نشته؟ اوحاصل دَجواب:دادے چه :الفصل الثانی:په عنوان کښ بحث صرف دمعانی مفرده ؤ په لحاظ دے کوم چه دَ معانی مرکبه ؤ په مقابله دی په خلا ف دهغه عنوان چه د کتاب په شروع کښ وو"یعنی المقالة الاولی فی‌المفردا ت" ځکه چه دا په معانی مفرده ؤ کښ منحصر نه د ے بلکه مرکباتولره هم شامل دے. لکه چه مونږ دی خبری ته مخکی‌اشاره کړے وو چه فصل ثانی د فصل رابع په مقابله دے، اودویم غرض دَ شارح رحمه الله پدی عبارت سره اشاره کول دی‌دی‌خبری ته چه دی فصل کښ بحث په دی خبره باند منحصرد ے چه د دینه دا تنبیه مقصود دے چه"الفصل الثانی فی المعانی المفردة" لره په ظاهر باند پرینبودل اودَ ماتن رحمه الله قول "کل مفهوم" لره دَافراد سره



مقید کول ضروری دی‌اوددی په خلا ف عنوان اکثری گرځول.او"کل مفهوم" لره دهغه په ظاهرباندپرینبودل صحیح نه دی.کماستعرفه من انه لولم یخص الکلام بالمعانی المفردة یبطل انحصارجزء الماهیة فی الجنس والفصل بمثل الجوهرالناطق-

قوله: وهوالحا صل فی‌العقل_الخ داجمله معترضه ده واقع ده په جواب دَ سوال دسائل کښ خلاصه دسوا ل:داده چه تادمفهوم تقسیم کړیدےکلی‌اوجزئ ته حالانکه تقسیم فرع د تعریف وی زه مفهوم نه پیژنم چه مفهوم څه ته وای؟

نوشارح رحمه الله جواب:اوکړوپدی‌قول سره "وهوالحاصل" الخ یعنی‌مفهوم هغه دے چه حاصل وی په نیزدعقل اویاپه نیزدمدرِك- سوا ل: بعض کلیات خومونږ ته معلوم نه دی، بیا هغه عقل کښ ځنگه حاصلیږ ی، اودیته مفهوم ونیل ځنگه صحیح کیږ ی حالانکه ټول کلیات دَمفهوم اقسام دی ځکه چه مفهوم په دوه❶کلی، ❷جزئ،اوهم دغه شان جزئ‌دَمفهوم اقساموڅخه دے حالانکه په عقل کښ نه حاصلیږی؟

جواب (۱)مراددَعقل نه مطلق مدرك دے، جواب (۲) حاصل فی‌العقل زه عام آخلم په دی شان سره چه هغه په عقل کښ دَلفظ نه بافعل حاصل وی یابالقوه،بالذات حاصل وی اوکه بالواسطه،

سوال :ډیرشیان په اسمانونواوزمکوکښ داسے دی چه"لاعین ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر" اودابه خامخوایابه کلیات وی‌اویابه جزئیات دی لعدم الواسطة بینهما سرددینه دامفهوم نه دی نولازم شوعموم داقسام د مقسم نه وهو کماتری؟

جواب: [۱]مرادکلی‌اوجزئ" نه منطقی دی نه حکمی‌اوکوم چه په سوال کښ ذکر دی داکلی‌اوجزئ‌منطقی نه دی، جواب [۲]مرادمفهوم نه"مایمکن ان یفهم"یعنی مفهوم بالقوه دے نه بالفعل،

قوله ا ماان یکون الخ دَشارح رحمه الله پدی عبارت سره دوه غرضونه(۱) غرض جلی:چه دَجزئ اودکلی تعریف کول دی(۲) غرض خفی:وجه دَحصر پدی‌دواړوکښ چه تفصیل یې‌دادےچه مفهوم یعنی حاصل فی‌الذهن دَشی صدق دَهغه دَحصول فی‌الذهن حیثت سره که په کثیرینو(ډیرو)باند عقلاً ممتنع وی نوهغه جزئ دے لکه هذاالانسان ځکه چه په مفهوم ددے په مجردئ حصولی‌عقلی سره مانع گرځی دَصدق ددے په کثیرینو

باندخکه چه په اشاره سره خاص شوتر واحدفقط پوری.اوهم دغه شان اعلام شخصیه لکه زید،عمر،بکر،قاهره حدیقة الاندلس.ونحوذالك- اوکه په حیثیت مذکوره سره ددےمفهوم صدق په کثیرینو عقلاً ممتنع نه وی نوداکلی شولکه انسان،فرس، اسد اومعدن وغیره.خکه چه مفهوم ددی په مجردحصول عقلی سره مانع نه گرځی دَصدق ددے په کثیرینوباند- **سوال** : جزئ ولی مقدم کړو په کلی باند؟

**جواب**:مفهوم دجزئ وجودی دے مستلزم دے دَ تصوردَمفهوم دکلی لپاره -

{ **تنبیه** } مرادجزئ نه پدی مقام کښ جزئ حقیقی دے خکه چه دَجزئ اضافی بیان سره دَنسبت په مابین دجزئ حقیقی اواضافی کښ روسته راځی.ان شاءالله تعالی،

**قوله فان الهندیة- قوله فان مفهومه** الخ غرض دشارح رحمه الله پدی عبارت سره اشاره کول دی تطبیق دمثالینودَممثلینو سره اوموږه تطبیق مخکی ذکر کړیدے فتذکره-

**قوله من حیث انه متصور** الخ **سوال**:دَماتن رحمه الله عبارة وو"ان منع نفس تصوره" شارح رحمه الله ددے تفسیر اوکړوبه"ای من حیث انه متصور" سره نوددی تغیر څه فائده ده؟

**جواب**:میرسیدشریف رحمه الله وائ چه دماتن رحمه الله دعبارت نه ظاهراً دا معلومیږی چه مانع عن الشرکة تصوردے حالانکه مانع عن الشرکة تصورنه دے بلکه نفس متصور دے تصور خو منع دتصوردپاره شرط دے نوشاره اشاره اوکړوچه تصورته دَ منع نسبت په طریقه دمجاز دے - پوهه شه چه په تعریف دکلی باند منعًا او په تعریف دجزئ باندجمعًاسوال واردیږی حاصل دسوا ل:دادے چه(۱)هغه صورت چه حاصل شی دبیضه (آگی)معینی نه (۲)اوهغه شبح چه ولیدے شی دَ لری نه (۳) او هم دارنگه هغه شی چه محسوس دطفل(ماشوم)وی په حالت دماشوم والے کښ.نودا دری واړه شیان جزئیات دی سره ددینه تعریف کلی وریاند صادقیږی ؟

**جواب**: صدق دمفهوم په کثیرینوباند په دوه قسمه دے(۱) صدق دمفهوم دے په کثیرینو باند په طریقه دَاجتماع سره- (۲) صدق دمفهوم دے په کثیرینو باندی په طریقه د بدلیت سره،نوصدق دکثیرینوپه تعریف دکلی کښ اوعدم صدق دکثیرین په تعریف دجزئ کښ نومرادترینه صدق دے په طریقه داجتماع سره اودا امورثلاثه چه په



سوال کښ ذکردی داصادقیږی په کثیرینو باند په طریقه دبدلیت سره.نوتعریف د کلی مانع شود دخول د غیرنه اوتعریف د جزئ جامع شو خپلوافرادو لره- -

**قوله: وقد وقع فی بعض النسخ** الخ یعنی د متن (رساله شمسیه) په بعضو نسخو کښ د" نفس تصوره" په خاځ" نفس تصورمعناه"ذکر دے،اودا په سهو مبنی خکه د ے چه دانقسیم د مفهوم د ےاو دامخکی تیرشو چه معنی او مفهوم سره متحد دی. نود " معناه" ضمیر"مفهوم" ته راجع کیږی نود معنی دپاره معنی لازم شو نوتقدیردعبارت دا سے شو" کل معنی جزئ ان منع نفس تصورمعناه" نومعنی لپاره معنی شو، ومنشا هذاالسهوا ن القوم قد یصفون اللفظ با لکلی والجزئ وان کان با لعرض فیقولون ان اللفظ إما ان یمتنع نفس تصور معناه من وقوع الشرکة فیه فهوالجزئ اولا یمنع فهو الکلی- لیکن ماتن رحمه الله مقسم بدل کړودَلفظ په خاځ"مفهوم" کیښولو خوبه کښ دَمعنی حذف کولوکښ ترینه غفلت اوشو- قاله العصام رحمه الله

**قوله:وانماقید بنفس التصور** الخ غرض دشارح رحمه الله پدی عبارت، سره جواب کول دی دیو سوال مقدر څخه حاصل دَسوا ل :دادے چه رساله شمسیه متن دےاومتون مبنی وی په ایجازاواختصارباندنوماتن رحمه الله دکلی اوجزئ په تعریف کښ دَ"نفس تصور" قید ولی اضافه کړو؟ **جواب**:داد ے چه که داقیداضافه نکړے شی نو تعریف دَ کلی جامع نه گرځی اوتعریف دَجزئ مانع نه گرځی.پدیشان سره چه بعض کلیات دَدلائل خارجیود وجے نه مانع دشرکت گرځی لکه کلی منحصرفی فرد شولکه واجب الوجود یا هغه کلی چه دهغه په خارج کښ څه فردموجود نه وی لکه کلیات فرضیه (لاشئ، لا امکان اولا وجود) نوکه داقید اضافه نکړے شی نوداکلیات دکلی تعریف نه خارجیږی اودَجزئ په تعریف کښ داخلیږی لیکن کله چه دا" نفس تصور" قیداولږ ولے شی نودا په تعریف کلی کښ داخل شول-

**قوله لم یفتقرفی اثبات الوحدانیة** الخ دادَمناطقونظریه ده علماء اسلا مو دانظریه نه ده خکه چه "شاهق الجبل" شخص مکلف بالتوحیددے-

ففی کل شئ له آیة :- تدل علی انه واحد.

ددے وجے نه په واجب تعالی باند اطلا ق دکلی نه بعض علماء احتراز کوی-

Maktaba Tul Ishaat.com

**قوله:كالكليات الفرضيه** الخ كلي فرضي ديته واي چه دهغه هيڅ فرد په خارج كښ موجود نه وي.لكه لا شئ،لا موجود اولا ممكن،ولي كه دهغه يوفرد په خارج كښ موجود شئ نوشئ،موجوداوممكن ګرځي نوبيابه لا زم شي اجتماع دَنقيضينو وهو كماترى، نود دے كلياتوهيڅ فردپه خارج كښ موجودنه دے.نودَخارج په اعتبارسره تكثرنشوليكن دمناطقودَ كلي اود جزئ تعريف كړيدے محض عقل په اعتبار سره دَ تكثر اودَ عدم تكثرلحاظ كړيدے نوداكليات فرضيه په كليا تو كښ داخل شول-

**قوله ومن ههنايعلم** الخ غرض دشارح رحمه الله په دى عبارت سره اشاره كول دى دجواب دسوال مقدر ته حاصل دَ **سوال**: دادے چه دغه كليات فرضيه په كلياتوكښ داخلول صحيح نشو ځكه چه دوى لپاره افراد نشته.اودكثرت او عدم كثرت پيژنګلو خو په افرادو سره كيږى؟ حاصل د **جواب**:دادے چه كلي چه دكومو افرادو په وجه كلي وى، ضروري نه ده چه كلي په هغه افرادوباند په نفس الامركښ صادقيدل ممتنع ګرځي، پس مداردكليت دكلي په دى باند دے چه صرف تصور د هغه مانع نه وى دَصدق د هغه په كثيرينوباند يعني دَ كلي په افرادوكښ دَامكان دَ فرض دَصدق اعتباردے او دَافراد حقيقه په نفس الامركښ موجودكيدل لازم نه دى-

**قوله: فلولم يعتبر** الخ غرض دَشارح رحمه الله په دى عبارت سره تفريع كول دى په ماقبل باند كوم اضافه كول دقيددَ "نفس تصور"وو او دغه شان تصريح كوى په جواب باند اودغه جواب مونږاوس اوس تفصيلاً ذكر كړو-

**قوله: وبيان التسمية بالكلى والجزئ** الخ غرض دشارح رحمه الله تصريح كول دى په وجه تسميه دكلي اوجزئ،اودا مبنى ده په دوو مقدمو باند اول داچه جزئ په غالبو اوقاتو كښ كل وى لپاره دځپل كلي.اوكلي جزء وى لپاره دځپل جزئ لكه زيد اوانسان، نو زيدجزئ دے اوكل دے ځكه چه دَزيدمعنى كولے شى په "حيوان ناطق مع هذا التشخص" سره، نوزيد معنى لحاظ سره مركب شو اول جزء"حيوان ناطق" دے ،او دويم جزء"هذا التشخص"دے.اوانسان كلي دے اوجزء دے ځكه چه دانسان معنى كولے شى په "حيوان ناطق"سره.نوكلي چه انسان دے جزء شولپاره دځپل جزئ چه زيد دے.او جزئ چه زيد دے كل شولپاره دځپل كلي چه انسان دے ،كلي ته كلي ځكه وائ چه كلي منسوب



دے بسوئ كل اودانسان نسبت هم كل ته كيږى چه زيد دے په دى اعتبار سره چه انسان جزء دے دپاره زيد.اوكوم شئ چه منسوب وى كل ته هغه كلي وى، اوجزئ ته جزئ ځكه وائ چه جزئ منسوب دے بسوئ جزء او زيد چه جزئ دے د دے هم نسبت كيږى جزء ته چه انسان دے په دى اعتبارسره چه زيدكل دے لپاره دانسان.اوكوم شئ په منسوب وى جزء ته هغه جزئ وى نوزيد جزئ شو-

**قوله:غالبًا** الخ شارح رحمه الله داقيدځكه اولګولوچه دكلي پنځه اقسام دى جنس،نوع، فصل، خاصه اوعرض عام.ديكښ د رى ړومبنى دَځپلوافرادو جزء وى.خوخاصه او عرض عام دَځپلوافرادوجزء نه وى.اودرى دپنځواكثر وى نودى وجے نه شارح رحمه الله "غالبًا" اوويلے- **قوله وكلية الشئ** الخ غرض دشارح رحمه الله پدى عبارت سره د وجه تسميه مقدمه ثانيه ته اشاره كول دى.يعني دَځه شئ جزئ كيدل دكلي په لحاظ سره وى. نوګويا د غه شئ يعني جزئ جزء (كلي) ته منسوب شواو چه كوم شئ چه (جزئ) جزء (كلي) ته منسوب وى نو هغه جزئ وى.ددى وجے نه ديته جزئ وائ ،وعلى هذا القياس،ليكن بعضو خلقو ته داوهم شويدے چه دى مقدمه ثانيه ته ضرورت نشته. ليكن صحيح خبره داده چه ديته ضرورى شته داجداخبره ده چه دادمقمه اولى ځځه ناشى كيږى -

**قوله: واعلم ان الكية والجزئية** الخ دشارح رحمه الله پدى عبارت سره دوه غرضونه دى [١]جواب دَ سوال مقدر:حاصل د **سوال**: دادے چه تادكلي اوجزئ په و جه تسميه كښ دَمعنى لحاظ د اوكړو اودَلفظ لحاظ د اونكړودايوقسم ترجيح بلا مرجح دے؟ اوحاصل د **جواب**: دادے چه دكلي اود جزئ تعلق په اصل دَمعانيو سره دے.ددغے معانيو په لحاظ سره دكليت اودَجزئيت نوم اينبودلے شويدے.خوچه دغه معانيو باند الفاظ د لالت كوى د دے وجے نه دغه الفاظ چه دال دى په كلي اوجزئ باندمتصف كيږى ګويا چه دال ته دمدلول نوم وركړے شو[٢] اشاره كول دى ترجيح دَمذهب دَ اهل عربيه وَ ته-

{ **فائده** }- زده كړه داخبره چه مقسم دَافراداوتركيب،اوكليت اوجزئيت كښ مختلف احتمالات دى(١ ) تول(افراد ،تركيب، كليت اوجزئيت)صفات دلفظ شى(٢ )تول صفات

دَمعنی شی(۳)افراداوترکیب صفات دمعنی شی.اوکلیت او جزئیت دلفظ شی،(۴) عکس ددی یعنی افراد اوترکیب صفات دلفظ شی اوکلیت اوجزئیت صفات د معنی شی وهو الصحیح؛پس پوه شه چه پدی مقام کښ دوه مذهبه دی[۱]اهل عربیه :دوئ وائ چه مفرد اومرکب حقیقةً بالذات صفات دلفظ دی او مجازًا اوطبعًا صفات د معنی دی دَقبیلی دَاسم دَمدلول نه په اسم دَدال لکه څنګه کلی اوجزئ حقیقةً صفات دمعنی اومجازاً صفات د لفظ دی [۲] اهل منطق:دوئ وائ چه مفرد اومرکب حقیقةً بالذات صفات د معنی دی او مجازًا بالطبع صفات دلفظ دی؛اواکثرو علماؤ ده دی مسئله کښ مذهب داهل عربیو غوره کړیدے.کماسیشیر الشارح رحمه الله الیه-

**قال: والکلی إماأن یکون تما م ماهیة ماتحته من الجزئیات----- اقول: إنك قدعرفت الغرض من وضع هذه المقالة----------------- وقدجعله من ا قسا م النوع،آه**

**تشریح}-** هرکله چه مصنف رحمه الله فارغ شو دَبیان دفرق اوتعریف دکلی اودجزئ نه نو شروع ئ وکړو په بیان دَ کلیاتوکښ(لان الکلیات مبادئ لما هو الغرض المقصود من وضع هذه المقالة فانهاوضعت لبیان الموصل الیاکتساب المجهولا ت التصوریة وهو القول الشارح،کذا فیالتسهیل؛) پس غرض دمصنف رحمه الله ددے خاځ نه اشاره کول دی اقسامود کلیاتو ته چه جنس،نوع، فصل،خاصه اوعرض عام دی سره تعریفاتوددوی ،اوهم دغه شان مصنف رحمه الله اشاره کوی وجه دَحصرته چه خلا صه • داده چه د کلی نسبت اوشی خپلوافرادوته.نوداکلی به خالی نه وی.یابه عین حقیقت دخپلو افراد وی اویا به دوئ کښ داخل وی (داخل ته ذاتی وائ ) اویابه ددوئ نه خارج وی (خارج ته عرضی وائ)که عین حقیقت دافرادو وُنودی کلی ته نوع وائ لکه انسان،اوکه داخل وُو په حقیقت دافرادوکښ نو بیابه خالی نه وی یابه تمام مشترك وی اویابه نه وی که وُو نوداجنس شولکه حیوان،اوکه تمام مشترك نه وو یعنی یاخوبه بالکل مشترك نه وی اویا به بعض کښ مشترك نه وی،نو دواړو صورتو نوکښ دیته فصل وائ لکه" ناطق" یاحساس" شو،والتفصیل فیه سیجئ-

**قوله: انك قدعرفت** الخ غرض دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره جواب کول دی دَیو



سوال مقدرځخه حاصل دَ سوال دادے چه [illegible] په بیان دَمفرداتوکښ دے او مفردات په دوه قسمه وُو ❶ کلی، ❷ جزئ،نوپه مقاله اولی کښ ددی دواړواحوالو نه بحث کول پکاردی حالانکه مصنف رحمه الله صرف دکلی احوال بیان کړیدی دانه دے مګرترجیح بلا مرجح؟ شارح رحمه الله جوابونوته اشاره اوکړو،

**جواب(۱)** احوال دکلیاتونه پوره کمال حاصلیږی ځکه چه دکلی افراد وقتًا فوقتًا پیدا کیږی اوپه جزئیاتوکښ تغیرات راځی اوهغه فناکیږی اودفناکیدونه بعددهغه احوال دَعلم هیڅ فائده نه پاتي کیږی، **جواب:(۲)** جزئیات غیرمحدود، غیرمحصوراوغیر متناهی دی دَهریوتحصیل مثل دَعمر نوح علیه السلام پکاردے-

**جواب:** (۳) په جزئیاتوکښ دَډیراختلا ف کیدو په یوه ضابطه کښ نشی منضبط کیدے- **جواب:(۴)** غرض دَمقاله اولی نه مجهول تصوری دَمعلوم تصوری نه حاصلول دی نو پدیکښ هغه احوال بیانیږی چه هغه کاسب اومکتسب واقع کیږی والجزئ لا یکون کاسبًا ولا مکتسبًا-

**قوله اقتناص المجهولا ت الخ** اقتناص صیغه دمصدرده دَباب افتعال ځخه مجردئ یقنص قنصًا(ض) د ے په معنی دښکارکو لوسره "قناص"ښکاری ته وائ. دَاقتناص المجهولات مقصدادے چه تحصیل دَمجهولا تو ډیر په مشکله کیږی،هم ددے وجے نه مصنف رحمه الله تعبیرپه اقتناص سره اوکړو.اوهم دغه شان په دیکښ اشاره ده چه تحصیل د دی جزئیاتو په نظراوکسب سره کیږی،اوپه دی کلا م کښ یاخواستعاره تصریحیه ده په دیشان سره چه تشبیه دَمجهولاتو ورکړو په" اقتناص الصید" سره د صعوبة دوجے نه. اواستعاره داسم دمشبه به وکړو دَمشه لپاره،اویااستعاره مکنیه ده پدیشان سره چه تشبیه دَمجهولاتو ورکړو د"صید"سره داتشبیه مضمرفی النفس ده. اواثبات دا قتناص دااستعاره تخیلیه ده-

**قوله: وهی لا تقتنص** الخ یعنی مجهولا ت په جزئیاتو سره نشی حاصلیدے ځکه چه جزئ نه کاسب وی اونه مکتسب، کاسب(معرِّف) ځکه نه وی چه که دے کاسب شی نودابه د دووحالو نه به خالی نه وی چه هغه جزئ چه) معرِّف (بالکسر) شی دے به یادَ معرَّف (بالفتح) فرد وی.اویابه مبائن وی که فردوی نو دے اخص شواومعرَّف اعم شو

Maktaba Tul Ishaat.com

اوتعریف بالاخص جائز نه دے .او که داجزئ د معرّف څخه مبائن وی نو داهم صحیح نه ده ځکه چه تعریف بالمبائن جائز نه دے - اوجزئ مکتسب ځکه نه وی چه دَ جزییاتو دوه قسمونه دی (۱) جزئیات مادیه (۲) اوجزئیات غیرمادیه.، جزئیات مادیه په حواسوظاهروسره حاصلیږی اوجزئیات غیر مادیه په حواسوباطنوسره حاصلیږی. اوبواحساس دَبل احساس لپاره موصل نه شی جوړیدلے،

**سوال:** قضایاشخصیه چه کله په شکل اول کښ صغری اوکبری واقع شی او موضوعات ددی جزئ وی نوجزئ کاسب اومکتسب واقع کیږی لکه" هذازیدٌ وزیدٌ انسانٌ ینتجُ هذا انسا نٌ ،حالانکه شارح رحمه الله مطلقًانفی کړیده په دی قول سره"وهی لاتقتنص بالجزئیات"؟ **جواب:** دَ نفی مطلب داد ے چه کسب معتبر اومفید صره په کلیاتو کښ وی، **سوال:** پدی قول کښ"زیدٌ انسا نٌ وکلّ انسا نٍ ناطقٌ ینتج زیدٌ نا طقٌ. زید شخص(جزئ) دے اودی سره مجهول اصلی حاصل شو؟

**جواب:** خمامقصدداد ے چه مراد په جزئیاتو بالاستقلا ل نه حاصلیږی اوزید جزء دَ قضیه واقع شویدے، **سوال:** استقراء ( کوم چه استدلا ل د جزئ وی په کلی باند ) او تمثیل( کوم چه استدلا ل د جزئ وی په جزئ باند ) دَجزئیاتو په ذریعه دکلیاتو اود جزئیاتو علم حاصلیږی.اوداد اهل فنو په نیز معتبرهم دی پس دَ شارح رحمه الله دا خبره "وهی لاتقتنص بالجزئیات" صحیح نه شوه ؟

**جواب:** دَشارح رحمه الله دخبری مقصدداد ے چه جزئیات دَتصوراتو کاسب او مکتسب نه واقع کیږی داقطعًامرادنه دی چه جزئیات دعلوموماطلقًاکاسب اومکتسب نه واقع کیږی،وللتفصیل مقام آخر-

**قوله بل لا یبحث عنها** الخ **سوال:** نه منم داخبره چه جزئ په منطق کښ مبحث عنه نه دے ځکه چه تمام منطقیان دَجزئ حقیقی تعریف ذکر کوی.اوهم دغه شان د دوی دَ جزئ اضافی هم تعریف ذکرکولے شی اوهم دغه شان ددوی په مابین کښ نسبت هم بیانولے شی.فلایصح قوله:فلهذا صارنظرالمنطقی الخ ؟

**جواب:** ذکردَجزئ حقیقی لذاته نه دے دَتوضیح دَمفهوم دکلی لپاره ذکرکولے شی ځکه



چه " تعرف ا لا شیاء باضدادها" وبضدهاتتبین الاشیاء- او بیان دَ نسبت په مابین د دوی کښ متضمن نه دے معرفت تامه لره ،اوباتی جزئ اضافی شوه نوداجزئ اضافی که کلی وی نوبحث کول دکلیت دوجے نه دے.اوکه جزئ وی نو منطقیان حضرات په هغه بحث نه کوی،

**سوال:** کله تصور دَجزئ اضافی کولے شی اودا شامل د ے حقیقی لره اوداتقاضا دَ التفات حقیقی کوی؟ **جواب:** دابه بحث کښ نه شی شمارلے.ولے ځکه چه بحث دَ شی بیان داحوالو ددی وی نه بیان دَذات ددی-

**قوله فالکلی اذانسب الی ماتحته** الخ غرض دَ شارح رحمه الله پدی عبارت سره کول دی وجه دحصردَاقسامودکلی ته اودکلی پنځه اقسام دی (۱) جنس (۲) نوع (۳) فصل (۴) خاصه (۵) عرض عام،-

ـه جنس وفصل،وفصل وخاصه عرض عام " جمله راایساغوجی کردندنام،

اووجه دحصرمونږ مخکی ذکرکړیدے فتذکره،دَشارح رحمه الله دقول مذکور"ماتحته" نه مراد مایحمل علیه د ے.اودجزئیاتونه مرادافراددی- **سوال:** شارح رحمه الله لره پکار وو چه " اذا نسب الی ماتحته"په ځائے"اذانسب الی الجزئ" وئیلے و ے ځکه چه ماتحته نه مراد هم د غه جزئ دے؟**جواب:** دکلی نسبت مطلق جزئ ته موجب دَحصردکلی په اقسام ثلا ثه وکښ نه دے " لان نسبة مفهوم الانسان الی هذاالفرس لایجعله شیئًامن الخمسة"- **قوله:نفس ماهیتها** الخ دماهیة ماخوذ عنه کښ مختلف اقوال د ی(۱)ماهیة ماخوذ دے دَ "ماهو" نه یائ نسبتیه ورپوری ملحق کړے شوه بیا لکه دَمرمیّ اعلا ل پکښ وشو. اوبوه " یا " حذفه کړے شوه لپاره دتخفیف او" تا"پکښ دنقل لپاره ده د وصفیت نه اسمیت ته -(۲)ماخوذدے دَ"ماهی"نه وقیل هذا اولی لانه اقل اعلالاً، (۳) علا مه عصام الدین رحمه الله وائ خماداخیال دے چه لفظ"ماهیة" منسوب دے دَ"ماهو" نه یائ نسبتیه ور پوری پیوست کړے شوه،اومثل دَ"ما" نه هرکله چه اراده د لفظ او کړے شی نوهمزه ورسره ملحق کیږی.نواصل دد ے"مائیی"دے (ای لفظ یُجاب به عن السوال بما) همزه ئ په "ها" سره بدل کړودَقرب مخرج د وجے نه لکه په"ایا ک" کښ"

هیاګئ"وئیلے شی، بیاماهیت په نیزدَ منطقیانوعبارت دے د"مابه یُجاب عن السوال اوپه نیز دمتکلمینو اوحکماو"ماهیت" عبارت دے د"مابه الشئ هو" نه، والتفصیل فی کشاف الا صطلاحات:۲/۱٤۲۳ وفی شرح العقائد:ص/۸:وقدیقال ان مابه الشئ هو هو باعتبار تحققه حقیقة وباعتباره تشخصه هویة ومع قطع ا لنظر عن ذالك ماهیة،اه-

قوله:والداخل یسمی ذاتیا الخ زده کړه داخبره په قول دجمهوروکلی متواطی په دوه قسمه دے(۱)ذاتی(۲)عرضی- ذاتی:هغه دے چه خارج نه وی دحقیقت دافرادونه برابره خبره ده چه عین حقیقت دافرادووی اوکه داخل وی په حقیقت دافرادوکښ، اوعرضی: چه خارج وی دحقیقت دافرادو نه، بناپدی کلی ذاتی په دری قسمه د ے (۱) جنس، (۲) نوع(۳) فصل،اوکلی عرضی په دوه قسمه دے(۱)خاصه (۲) عرض عام،د عرضی په اطلا ق کښ څه قول اواختلا ف نشته، امّا دَ ذاتی داطلا ق باره کښ اختلا ف واقع شویدے .په دیشان سره چه محققین:وائ دَذاتی اطلا ق اکثر په هغے کیږی چه هغه په ماهیت کښ داخل وی،اومشهورین:وائ چه دَ ذاتی اطلا ق په هغے کیږی چه هغه په ماهیت نه خارج نه وی.خواکه دیکښ داخل وی اوکه نه.په قول دمحققینودَذاتی ثنائ دے چه اطلا ق ئ صرف په جنس اوفصل باندکیږی.ځکه دے اګرچه تمام ماهیت د ے خو خپل ماهیت کښ داخل نه د ے ځکه چه شئ په خپل نفس کښ نه شی داخلید ے، اوپه قول دَمشهورینو ذاتی ثلا ثی د ے چه اطلاق ئ په جنس،فصل اونوع دری وارو باندکیږی،ځکه نوع څنګه چه په خپل نفس کښ داخل نه ده .نودغه شان دَخپل نفس نه خارج هم نه ده –

قوله:ثم النوع الخ مصنف رحمه الله مخکی دنوع تقسیم کړے وو دووقسمو نوته ترڅوچه دَ نوع(مطلقًا) تعریف ذکرکړی په طریقه دَتفریع سره،اګر چه په دی کلام شته، کماسیاتی، اوس شارح رحمه الله دَنوع هغه دووقسمونوتشریح کوی چه نوع به دَدوو حالونه به خالی نه وی، یابه متعدد الا شخاص وی،اویابه متحدالا شخاص وی.اول مثال لکه انسان (حیوان ناطق)چه دَهغه اشخاص اوافراد ډیردی.اودویم مثال لکه شمس(کوکب نهاری یضئ العالم)چه دهغه صرف یوفرددے،



سوال:نوع صرف په دوو قسمونوکښ منحصر نه دے بلکه یودریم قسم نوع هم شته. چه دَهغه افراداواشخاص نه وی بلکه انواع وی لکه کلی نوع ده.او انسان، فرس، بقر وغیره انواع دی؟جواب:دَنوع افراددَمفهوم په اعتبار سره اشخاص دی اودَصدق په اعتبارسره انواع دی.ولولا الا عتبا رات لبطلت الحکمة-

قوله:إماان یکون الخ سوال:شارح رحمه الله تصریح او کړو په حصر باندا وماتن رح داخبره دَ حصر په اندازکښ نه وه ذکرکړے.نومخالفت دشرح راغے دمشروح نه وهوکماتری؟ جواب: دَشارح رحمه الله دی حصرسره غرض تنبیه دے په خبره باند دَماتن رحمه الله قول" سواء کان متعددالا شخاص الخ" دتسویه نه مراد حصول دے، ګنی قول دَماتن رحمه الله "نهواذن کلی الخ"په دی باند تفریع کیدل صحیح نه ګرځی-

قوله:فان کان متعدد الخ زده کړه داخبره چه د"ماهو" په ذریعه دَیوشی حقیقت طلب کولے شی.نوکله چه په سوال کښ شئ واحدمذکوروی نوپه جواب کښ نوع وئیل کیږی ځکه چه دَشی ماهیت نوع ده لکه ماهوهذاالسوار؟ نوپه جواب کښ وئیلے شی"هوذهب"اودا تمام حقیقت دَمسوئل عنه دے- اوکه په سوال کښ متعدداشیاء متفقة الحقیقة ذکرکړي. بیا هم په جواب کښ نوع وئیل کیږی ځکه چه دهغه متعدداشیاء پوره ماهیت نوع ده لکه"ماهوهذاالسوار،وهذاالخاتم،وهذاالقرط" نوپه کښ وئیلے شی"انهاذهب"اود تمام ماهیت ئ مشترکه دے-

پس خلا صه دمقام داشوچه نوع په دوه قسمه د ے،(۱) نوع متعددالا شخاص :اودا هغه کلی دے چه د"ماهو" په جواب کښ دشرکت اود خصوصیت ددواړو په لحاظ سره یوشان وئیلے کیږی.لکه" انسان"ددی لاندچه څو مره افراددی.که ددی افرادوباره کښ سوال اوشی.نوپه جواب کښ"انسان" واقع کیږی،او خصوصیت دارنګه ده چه د د ے ټولوافرادوحقیقت یودے چه"حیوان ناطق"دے-(۲) نوع غیرمتعددالا شخاص: داهغه کلی د ے چه دماهو په جواب کښ صرف دَخصوصیت په لحاظ سره وئیل کیږی لکه "شمس"خارج کښ دد ے صرف یوفرد د ے غیر متعدد الا شخاص دے.اوس چه کله "شمس"باره کښ سوال اوشی نوپه جواب کښ به صرف هغه ماهیت مطلوب وی چه د

Maktaba Tul Ishaat.com

ده سره مختص وی دده په جواب کښ به ماهیت مشترکه مرادنه وی ځکه چه خارج کښ ددے صرف یوفرددے نه افرادکثیره -

قوله:معًا الخ پدیکښ دنحویانودری قوله دی(۱)جمهوروپه نیزدامعرب دے،منصوب دے بنابرظرفیت چه لازم النصب دے.اوپه اعتباردٚاعراب سره عادم التصرف دے یعنیٚدٚنصب نه بغیربل اعراب نه قبلوی(۲)سبویه په نیزباندمبنی علی السکون دےاو علت دٚبناءدادے چه ددے وضع پشان دٚحرف دے.اودٚحرف پشان غیرمتصرف هم دے، لیکن راجح دادے چه دامعرب دے"لدخول تنوین التمکین فی نحوکنامعًاودخول الجر فی نحو خرجت من معه"اګرچه دخول دجرپه دی باند خلاف القیاس دے،(۳) د بعض په نیزباندی.دامنصوب دے بنابرحالیت لکه"جمیعًا" پشان،یقال خرجنامعًا،ای حال کوننا مجتمعین کذافی الفوائد العجیبه،وفی بعض الحواشی:الفرق بین فعلنا معًا و فعلناجمیعًاان معًایفیدالاجتماع فی حال الفعل وجمیعًابمعنی کلناسواء اجتمعوا اولا-

قوله: لتمام الماهیة المختصة به_الخ سوال : کله نوع متعدد الاشخاص وی نودٚهغه ماهیت مختصه بالشخص کیدل ممکن نه دی؟

جواب: (۱) دٚماهیت لره دٚتختصه سره متصف کول دٚ سوال په اعتبارسره دے یعنی کومه نوعه چه متعددالاشخاص وی هغه اګرچه په نفس الامر کښ دٚیوفردسره مختص نه دے لیکن کله چه دٚ یوفردنه سوال او کړے شی نودهغه دٚفردمسوئل عنه سره مختص کیږی، جواب:(۲) با په"المختصة به" کښ دسببیت لپاره دے"ای یکون طالبًا لماهیة صارت مختصة بسببه واندفع اشتراکه بسبب الاتحادمعه-

قوله: لتمام ماهیتها الخ پوهه شه چه دلته" قطبی" نسخی مختلفی دی(۱)عامو نسخو کښ ضمیردواحدمونث دےاوداراجع دے"جماعة" ته چه دلالت پری کوی داقول دشارح رحمه الله وان جمع بین الخ کمافی قوله تعالی وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْلَهْوًا انْفَضُّوْا اِلَيْهَا ای الی الرؤیة - (۲)اوپه بعض نسخوکښ ضمیرد تثنیه دے"لتمام ماهیتهما" و فی الرضی: لایستنکرعود ضمیرالاثنین الی المعطوف بآو مع المعطوف علیه وان کان المراد احدهما لانه



لما استعمل آوکثیرًافی الاباحة صارکالواو.قال تعالی " ان یکن غنیًااو فقیرًا فالله اولی بهما"-

قوله:فلا جرم_الخ په دی لفظ کښ مختلف اقوال دی (۱)سبویه اوخلیل رحمهما الله وائی: چه دا مرکب دے د"لا" اود"جرم" نه په معنی د"حق"سره مابعدئ بنابرفاعلیت مرفوع ری،(۲) کسائی رحمه الله وائی:چه په معنی د"لاضدولا منع" سره دے.داسم دلا دے مبنی دے په فتحه باندلکه لارجل،(۳)بعض وائی:چه" لا" زائده اوجرم په معنی د"کسب"سره دے،(۴) بعضووائی:چه داپه معنی د"لاباطل یمینًا"سره دے.همددے وجے نه معنئ کولے شی په "حقًا"سره (۵)"لا"سره نفی دٚماقبل کیږی او"جرم"په معنی د"ثبت اوحق"(۶) فراء رحمه الله وائی: چه داپه معنی د"لابد"سره دے.وغیرذالك- والتفصیل فی البحرالمحیط: ۵/۲۱۲وروح المعانی ۱۲/۳۳-

قوله:فهوالذی کلی مقول الخ ای واذاتقرران النوع قدیقال علی کثیرین،ان کان متعددالافراد.وقدیقال:علی واحدفقط ان لم یکن متعددالافراد.فیکون تعریفه هوکلی مقول الخ کذافی التسهیل، سوال:"متفقین بالحقائق" په جمع مذکرسالم سره ولی ذکر کړوسره ددینه چه غیرعقلاء ډیردی په نسبت د ذوی العقلاؤ؟ جواب: تغلیب دٚ ذوی العقلاؤ شویدے په په غیر باند دشرافت دوجے نه، سوال:"حقائق" په ځای" حقیقة"را وړل پکار وو ځکه چه نوع لپاره څه حقائق نه وی،.اود تعدداعتباری په لحاظ هم جمع راوړل صحیح نه دی ځکه اصل واحدلره دٚخواعتبارات ضمیمو سره رجال نشی ونیلے- جواب: (۱)چونکه دجنس په تعریف کښ" بالحقائق" جمع ئ سره ذکروؤ نودلته ئ هم جمع سره ذکرکړو دٚموافقت دوجے نه، جواب: (۲) په دی کښ اشاره ده استقلال او کثرت ته.اودااګرچه حقیقةً نشته لیکن حکمًا شته- پس هرتعریف کښ لابدی وی دجنس اوفصل نه ترڅوچه په تعریف کښ اطراداوانعکاس راشی،(۱)"کلی"په تعریف کښ په منزله دٚجنس دے چه شامل دے ټولوکلیاتو(خمسه و)لره،(۲)"المقول علی واحد" کښ تصریح دے چه نوع غیرمتعدد الاشخاص په تعریف کښ داخل شی، (۳)"او علی کثیرین" چه نوع متعددالاشخاص په تعریف کښ داخل شی، (۴)"متفقین بالحقائق" فصل اول دے دی سره جنس دتعریف د نوع نه خارج شو" لان

الجنس مقول علی کثیرین مختلفین بالحقائق".کماسیاتی بیا نه-

(۵)"فی جواب ماهو" فصل ثانی دے دی سره فصل،خاصه او عرض عام خارج شول خکه چه فصل دپه دجواب د"ای شی هوفی ذا ته"کښ راځی.اوخاصه په جواب د" ای شی هو فی عرضه"کښ راځی.اوعرض عام خودسره په جواب کښ نه راځی-

**سوال:**عرض عام خویه"المتفقین بالحقائق"(فصل اول) سره هم خارج کیدونوشارح رحمه الله دد ے نسبت قید ثانی (یعنی فصل ثانی) ته ولی اوکړو.حالانکه قاعده داده چه کله دیوشی احتراز په دووقیدوسره کیږی نوقیداول نسبت کول ئ اولی وی؟

**جواب:**میرسیدشریف رحمه الله وائ چه عرض عام اوخاصه دواړه په عرض کیدوکښ شریك دی.هم دد ے وجے نه شارح رحمه الله په خروج دَشریك کولوسره ماهو ته نسبت اوکړو،

" **تنبیه** " ماتن رحمه الله دَجمهورونوخلا ف نوع تعریف ذکرکړیدے.شارح رحمه الله په دی باند څه سوالونه کړیدیچه داتعریف په غیرضروری قیوداتوباندمشتمل دے. او که څه کمی او زیاتی پکښ اوکړے شی نوبیاتعریف جامع نه پاتی کیږی-

**سوال**(۱)لفظ د"المقول علی کثیرین"په معنی اومصداق دَلفظ کلی سره مساوی دے نوذکر دکلی په تعریف حشو، بی فائده اوتکراردے اوداشان دَمناطقو نه خلا ف دے خکه چه دوی په قدردَضرورت د ضرورت خبری کوی؟

**جواب**(۱)داتفصیل بعد الاجمال دَقبیلی نه دے کوم چه اوقع فی النفس وی نودا تکرار بی فائده نشو بلکه با فائده شو- **جواب:**(۲)دَنوع مقسم کلی دے نودد ے ذکرکول مناسب وو بیا په تعریف کښ دَ افادت په لحاظ چونکه احاطه دَماهیت وی اګر چه تمیزاوامتیازددے نه بغیرهم کیدے شی لیکن دغیر نه احاطه تامه نه حاصلیږی.هم ددے وجے نه دلفظ"کلی"نه رو ستو مقول ذکرکړو، دی مذکور الذکرسوال ته شارح رحمه الله به بیابیااشاره کوی چه تاته دا جوابو سنه یادوی ترڅوخبط درباندرانشی-

**سوال**(۲)داخبره ثابته ده چه مداردکلیت دکلی په دی باند دے چه نفس تصور دد: منع والے نه کوی دشرکة نه پدیکښ خواکه خارج متعددالافرادوی اوکه متحدالافراد وی.نودَماتن ح خرج لره اعتبارورکول چه نوع په دوه قسمه ده (۱)المقول علی واحد،



(۲)المقول علی کثیرین" نوداخروج دے دَاصطلاحات دفن نه په دوو وجوسره(۱)نظر د فن عام وی تولوموادوته شامل وی نوتخصیص ئ په نوع خارجی سره ددی منافی دے (۲)دوی(اهل فن) اصطلاح کړیدے چه مقول بحسب الخصوصیة المحضه هغه دے چه مقول بحسب الشرکة نه وی اودا حدتام د ے په نسبت دمحدود.مقول بحسب الشرکة المختصه اویابحسب الشرکة والخصوصیة دواړه وی نودانوع ده، والخروج عن اصطلا ح القوم من غیرداع فی قوة الخطاء؟

**جواب:**داخروج عن الفن هله ګرځی چه دا بیان دَ ما فی الفن وی اوچه دااصطلاح جدیدشی نوخروج دفن څخه نه راځی خکه چه فن کښ دیرخله لفظ مشترك ګرځی په معنیینوکښ لکه لفظ د نوع غیره شو.وکیف یجعل تجدیدالاصطلاح خروجاعن الفن وقدتقررانه لا مشاحة فی الا صطلاح بل لکل احدان یصطلح علی مایشاء-

**سوال:**(۳)ماتن رحمه الله ته داو نیلے شی چه ستاد"علی کثیرین" نه څه مراددے؟(۱)کثیرین مطلقًا:برابره خبره ده چه موجودین فی الخارج وی اوکه نه نو"المقول علی واحد"مستدرك اوبی فائده ګرځی خکه چه نوعغیرمتعددالا شخاص په خارج کښ مقول علی کثرین فی الذهن دے نو"علی واحد" ته پکښ ضرورت پاتی نشو (۲) کثیرین فی الخارج فقط؟ بیاخوتعریف جامع نه ګرځی.هغه انواع تری خارجیږی چه په خارج کښ وجودنه لری لکه عنقاء مارغه شوه، هم دد ے وجے نه او ویل چه " فالصواب ان یحذف من التعریف قوله"علی واحد"الخ وفیه مافیه فتذکره ان کنت من اصحاب التحصیل -

**قوله زائد احشو ا**_الخ دَزائداوحشوپه مینځ کښ څه فرق شته اوکه نه؟ نوبعض وائ چه دادواړه لفظین مترادفین دی،لیکن جمهوروائ :چه فرق شته پدیشان سره چه کوم لفظ زائدوی که دهغه زائد کیدل متعین وی نو هغے ته حشو وائ لکه :-

ـه واعلمُ علمَ الیوم والامس قبله • ولکننی عن علم مافی غدٍ عمی

پدیکښ "قبله" زائد کیدل متعین دے ازکه زائد کیدل متعین نه وی نوهغے تطویل وائ لکه :- ـه وقددت الادیمُ لراهشیه • والفیٰ قولها کذبًا ومینًا

پدیکښ دکذب اومیندواړو یوه معنی ده نویوپکښ زائددے خولاعلی التعین، اوهم

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه شان ددی‌دواړوپه مابین کښ فرق په بله طریقه هم کولے شی‌اوهغه داچه حشو عبارت دے دهغه زائدنه مستغنی‌عنه وی‌(یعنی‌ضرورت ورته نه وی)اوتطویل هغه زائدد ے په اصل مرادباند بغیردکوم فائدی نه،کما فی‌مختصرالمعانی(۲۸۲)(۸ ) - والمطول( ۲۶۲)-(۱۳) -

**قوله کالعنقاء الخ** دَیوغټ مارغه نوم دے.وفی‌المعجم الوسیط :ج۲/ص۶۳۲:العنقاء طائرمتوهم لاوجود له،دده نوم چه څومره مشهوردے هم دومره جسم ئ مجهول دے. اودَفلاسفودَمذهب مطابق په خارج کښ دهغه وجودممکن دے. لیکن موجودنه دے. قال الشاعر۔ الجودوالغول والعنقاء ثالثة ( ) اسماءً اشیاء فلم توجد ولم تکن-

اوپه حیٰوةالحیوان (۸۶/۲)کښ ذکرکړیدی‌چه عنقاءیوناآشنامارغه ده چه دَ غَرد غُندو همره آکے آچوی‌دیته عنقاء په وجه وایٔ چه دد ی په څټ کښ دَطوق پشان سپین والے وی. علامه قزوینی رحمہ اللہ ونیلی دی چه دادَجُثے په لحاظ دَټولونه لویه مارغه ده،او مخکی زمانه کښ دده وجود وو حیوانات( ښاروی ) او مارغان به تښتول،یوځل ده دَ خوراك لپاره څه ملا وُ نه شونوبوه ناوے(جینے)سره دکالواوتښتوله،اوپه شرح مقامات (ابوالبقاء عبکری رحمہ اللہ دَروایت مطابق دَیوهلك اوجینیٔ او تښتول دَهغوی خپلو انو نبی‌دَوخت(حضرت حنظله بن صفوان علیہ السلام ته شکایت اوکړو د وی ورته خیری او کړی نوالله(هغه دَخط استواء نه مخکی بحرمحیط جزائر طرفته منتقل کړو،وئیلے شی چه کله داآلوځی‌نوالوتواوازلکه ددریاب یادجهاز پشان وی دا تقریبًادوه زره کاله ژوندے وی.او پنځه سوه کاله پس خپله جوړه غوره کوی-

دَابن خلکان رحمہ اللہ بیان د ے چه ماداحمد بن عبدفرغانی.په تاریخ کښ لیدلی دی چه عزیز بن نزارپه"مارغه خانه "کښ چه کوم غریب اوعجیب ځناورموجودوُوهغه دبل چاسره نه وُوموجوددهغے نه یوعنقاء هم وُو،په"ربیع الابرار" دَابن عباسؓ( نه روایت دے چه الله تعالی‌دَموسی علیہ السلام ( په دورکښ عنقاء مارغه پیداکړے وُوچه څلورخپیٔ، د انسان په شکل دهرڅیزنمونه اودده پشان جوړه ورکړے وُو.اوموسی( ته وحی وکړوچه مادوه نااشناماغان پیداکړیدی‌اودهغوی‌رزق م دَبیت المقدس دچاپیره وحوش،ځناور جوړ کړل ، پس ددوی نسل زیاتیدلوتردی چه کله موسی علیہ السلام( وفات شو نوداحجازاو



نجد طرفته منتقل شول اودَوُحوشوخوړل اودبچوړوته کول اوتښتول ئ شروع کړو نوخلقو" خالد بن سنان عبسی" ته شکایت اوکړوکوم چه مستجاب الدعوة وُوهغوی دده په حق کښ خیري اوکړی نوالله تعالی‌دَهغه نسل ئ ختم کړو،اوکله دَعنقاء اطلا ق په عقاب مارغه باند هم کیږی لکه ابوالعلاء مصری په دی شعر کښ هم دامراددے۔

۔ اری العنقاء تکبران تصادا :-•-: فعاند منتطیق له له عنادا،

**قا ل : وان کان الثانی فان کان تمام الجزء المشترك بینهما وبین نوع اخرفهو المقول(۱) —**

**—— اقول :الکلی الذی هوجزء الماهیة منحصر فی جنس الماهیة—— - وبجواب ماهویخرج الکلیات البواقی اعنی الخاصة والعرض العام -**

**تشریح}:-** هرکله چه مصنف رحمہ اللہ فارغ شود بیان دَنوع نه نوشروع اوکړو په بیان دجنس کښ نو اویل" وان کان الثانی" ددے عطف په "والاول النوع" بانددے،

**سوال:** داعطف صحیح نه دے ځکه چه عطف دشرطیة راځی په غیر شرطیة باند؟

**جواب:**(۱)داعطف دمعنی په لحاظ سره دے ځکه "والاول هو النوع" په دی قوت کښ دے چه" فان کان الاول فهوالنوع"، **جواب:**(۲)عطف دشرطیی په غیرشرطیة جائزدے او په کلام دعربوکښ موجود دے مثال په طور"جائنی زیدوان جاء عمرو فقل له کیت و ذیت،بهرحال مخکی‌تیرشوچه کلی‌نسبت اوشی خپل ماتحت جزئیاتوته،یابه عین وی اوبابه خارج وی که عین وُودانوع ده چه دهغه تفصیل مخکی‌تیر شو، اوکه داخل وی نودهغے دوه صوتونه دی یاخوداچه داکلی به ددی ماهیت اواود یلے نوع په مینځ کښ تمام جزء مشترك وی اوبابه نه وی ،که تمام جزء مشترك وُو نودیته جنس وایٔ او که تمام جزء مشترك نه وی نوهغه ته فصل وایٔ، نومعلوم شو چه هغه کلی چه هغه جزء داخل ماهیت دے هغه په جنس اوفصل کښ منحصردے ځکه چه دغه جزء دَماهیت د دےماهیت اودَبلے نوع په مینځ کښ تمام جزء مشترك وُونوداجنس شو.ګنےفصل دے ، دی متن(قال) کښ صرف دَاول(جنس) په باره کښ خبری کیږی همددے وجے نه شارح رحمہ اللہ هم دلته صرف دَجنس تشریح کړیدے-

(۱) : انما قال فهوالمقول الخ ولم یقل فهوالجنس لا نه انسب برسم الجنس فهو کالتوطئی له۱۲عصام رح

**قوله: وان کان الثانی الخ** دویم قسم دَاقسامودکلی نه اوداهغه دے چه داخل وی په ماهیت کښں یعنی جزء وی دَ ماهیت څخه چه هغه جنس اوفصل دی ځکه چه دا جزء یابه تمام مشترك وی په مابین دماهیت اودنوع اخر کښں اویابه تمام جزء مشترك نه وی.دَویم فصل دے"وسیاتی الکلام عنه فی حینه"اواول جنس دے،نومونږ په تفصیل دَجنس کښں وایو:چه جنس تمام مشترك دے په مابین دماهیت اودنوع اخرکښں-

پس دلته دوه خبری دی(۱)اوله خبره داده چه حیوان جزء دے دماهیت دانسان اود فرس نه ځکه چه ماهیت دانسان مرکب د ے د دوو جزؤ نه(۱) حیوان، (۲) ناطق،نو "حیوان" جزء دے دماهیت دانسان څخه اوهم دغه شان ماهیت دفرس هم مرکب دے دجزئینونه (۱) حیوان (۲)صاهل،نوحیوان جزء دے دماهیت دفرس نه (۲) دویمه خبره داده چه "حیوان" تمام جزء مشترك دے په دمابین دد ے دوا ړوکښں ځکه چه کوم جزء کښں انسان اوفرس شریك دی نودابه یانفس حیوان وی‌اویا به جزء دحیوان وی لکه مثال په طورانسان دَفرس سره شریك دے‌په"جسم نامی" کیدلوکښں او"جسم نامی"جزء د ے دَ انسان،اوهم دغه شان دادواړه شریك دی سره په" جوهر"کښں اوداجزء د ے دَ حیوان،اوهم دغه شان دادواړه شریك دی په"حساس"کښں اود اهم جزءد ے دَ حیوان، وعلی‌هذاالقیاس- نوداسے جزء نشته چه پکښں ماهیت دانسان اودفرس سره شریك وی مگرداجزء به یانفس حیوان وی اویابه جزء حیوان،نو"حیوان" جنس شوځکه تمام مشترك دے په مابین دانسان اود فرس کښں،اوهم دغه شان"حیوان"د" نبات" سره شریك دے ځکه چه دواړه جسم نامی دی اوداتمام جزء مشترك دے په مابین د دے دواړوکښں پدیشان سره چه یوداسے جزء نشته چه پکښں ماهیت دحیوان اودجسم نامی شریك وی مگرداجزء یانفس جسم نامی وی‌اویابه پکښں داخل وی،نوجسم نامی‌جنس شو ځکه <u>چه دا</u>تمام جزء مشترك دے په مابین دَحیوان اودجسم نامی کښں-

**قوله: وراءه الخ** (۱)امام ابوعبیده،اوازهری رحمهما الله وای:چه دالفظ دَاضدادونه دے، (۲) ثعلب رحمه الله چه"وراء" په معنی دَ"ماتواری عنك سواء کان امامك ام خلفك"سره راځی،اصل کښں وراء دَ" وری یری"مثل دقضی یقضی‌مصدرد ے په معنی د پټولو داکله فاعل ته مضاف وی‌اوکله مفعول ته،په اول صورت کښں په معنی دَقدام (مخکی)



سره وی ځکه چه کوم شیٔ مخکی‌وی هغه هم پټ وی قال تعالی : مِن وَرَآئِهٖ جَهَنَّمُ (ابراهیم:۱٦) وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٌ (الکهف:۷۹)،اوپه دویم صورت کښں په معنی د خلف (روسته) سره وی.کوم شیٔ چه روسته وی هغه هم پټ وی. پس کلمه د"وراء" ظرف مکان لازم الظرفیة دے اوداضدادو نه دے.اوکله دالفظ معنی دَ"سوی" سره هم راځی قال تعالی فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ -(المؤمنون:۷) ،(المعارج:۳۱)- اوپه دی مقام کښں ددی ظرفی معنی مرادنه ده بلکه اسمی معنی مراده.گویاچه شارح رحمه الله "وراء" لفظ په معنی د"<u>غیر</u>" سره استعمال کړید ے (ای لایکون غیره جزء مشترك.اهـ)-

**قوله: وربما یقال الخ** غرض دشارح رحمه الله په دی عبارت سره اشاره ده اختلا ف ته سره دترجیح دراجح نه چه مذهب دجمهوردے" پس زده کړه داخبره چه دَتمام جزء مشترك دوه تعریفونه دی(۱)جمهورمنطقیان وای: چه دَماهیت اودنوع اخر په مینځ کښں دَتمام جزء مشترك نه هغه جزء مشترك مراددے چه ددینه علاوه ددے دواړوپه مینځ کښں څه بل داسےجزء مشترك نه وی چه دے جزء مشترك نه خارج وی.اوکه داسے بل جزء مشترك په مینځ کښں تمام جزء مشترك دے ځکه چه ددے دواړو په مینځ کښں چه څومره اجزاء هم مشترك دی هغه خویاددے جزء مشترك یعنی حیوان عین د ے، یاد دے جزء د ے لکه جوهر،جسم نامی،حساس او متحرك بالاراده دی، دی کښں هر یودَانسان اوفرس په مابین کښں مشترك دی.، خوتمام مشترك نه دی بلکه دَ تمام مشترك یعنی‌دحیوان جزءدے،تمام مشترك صرف حیوان دے چه خپلو ټولواجزاو ته شامل دے، (۲) امام رازی رحمه الله وای: چه دتمام جزء مشترك نه د هغه تمام اجزاء مجموعه مراددی چه ددے ماهیت اودنوع اخر په مینځ کښں مشترك وی لکه"حیوان" تمام مشترك دے .خوبواځی نه بلکه دَجوهر،جسم نامی، حساس، او متحرك بالاراده ، ددی ټولودَمجموعے نوم تمام مشترك دے،پس خلاصه داشوه چه جمهورمناطقه تمام جزء مشترك ته شی واحد وای:اوامام رازی رحمه الله دَاجزاء مشترکو مجموعے ته جزء مشترك <u>وای</u>-

**قوله: وهومنقوض الخ** غرض دشارح رحمه الله په دی عبارت سره تصریح کول دی په ترجیح دَمذهب دجمهوروباندی .اودځکه چه امام رازی رحمه الله په تعریف باند اعتراض

Maktaba Tul.Ishaat.com

واردیږی چه داتعریف اجناس بسیطه ؤ(مقولات عشره) سره منقوض دے لکه جوهر (کوم چه جزء مشترك دے په مابین دَعقل اودنفس کښ) نودا جنس عالی دے اوبسیط دے.ددے څه جزء نشته چه داسے اوئیلے شی چه دا "اجزاؤ مشترکومجموعه ده" هم ددی وجےنه شارح رحمه الله اوئیل "فعبارتنا اسد" یعنی زمونږعبارت مضبوط، محکم،درست اومرتے دے

قوله وهذاالكلام الخ غرض دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره جواب دَسوال مقدر دے حاصل دسوال:دادے چه وظیفه دَشارح داوی چه دَمتن تشریح اوکړی،نوشارح رحمه الله په دی مقام کښ کوم کلا م ( اعنی وربمايقال الخ ) ذکرکړید ے دد ے دَمتن سره څه تعلق نشته ؟ جواب:دَ "الكلام يجرالكلام" په وجه داخبره اسطرداداً اوطرداًللباب ذکر شو. اګر چه دامما لابد منه قبیلی څخه نه وو، "والبين" فی الاصل مصدرابان بمعنی افترق واستعمل ههنا ظرفًا للمكان الفاصل بين الشيئين الحاصل بينهما فيكون ذكره اسطرداداً،اهـ- په دی مقام کښ ممالابدمنه تفسیراو وضاحت دَتمام مشترك دے بما ذكره اولاً فلذاقال الشارح رحمه الله "فليرجع الى ماكنافيه الخ يعنى:- آمدم برسرمطلب-

قوله: والا فهوالفصل الخ دا "الا" د "ان لم يكن" نه مخفف دے "اى وان لم يكن تمام المشترك فهوالفصل" یعنی که امام مشترك نه وی نوهغه فصل دے خواکه بالکل مشترك نه وی لکه "ناطق" چه دادَماهیت(انسان) اودَنوروانواعوترمینځ بالکل مشترك نه دے یاخومشترك وی لیکن تمام مشترك نه وی لکه" حساس،اومتحرك بالاراده" چه دَانسان اودفرس په مخابین کښ مشترك دی.لیکن تمام مشترك نه دی، نوپه دوا ړو صورتونوکښ ورته" فصل " وائی-

قوله:ورسموه الخ سوال:شارح رحمه الله لره پکاروو چه دَ " ورسموه" په ځائے "وحدوه" وئیلے وے ځکه کلی جنس د ے؟ جواب:دَجنس بلکه دکلیات خمس ؤ تعریفونه رسم دی نه حد ځکه چه "حد" مرکب وی دجنس اود فصل قریب نه ، نو په تعریفونو کښ "کلی" اګرچه جنس دے لیکن نوراجزاء لکه "مقول علی کثیرین" و غیره غیرمقوم دی یعنی امورعارضه دی فصل نه دی ځکه دَشی حقیقت محصل کیدونه روستوهغه په



یوشی باندمقول اومحمول کوی، نومحمول کیدل جنس اوفصل اونوع لپاره فصل نه دےځکه چه فصل دَماهیت جزءوی اومحمول کیدل دَماهیت تمام کیدلونه بعدعارض کیږی، نودَ "کلیاتو" تعریفونه بالخاصه شول،اودَ خاصه په ذریعه چه کوم تعریف او کړےشی هغه نه وی مګر "رسم" وی-

قوله: فلفظ الكلى الخ غرض دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره دتعریف(جنس) قیوداو فوائد بیانول دی(١) "کلی" تعریف دَجنس کښ مستدرك دےاوکه نه ددی تحقیق مخکی تیر شویدے فتذکره،دهغه نه علاوه علامه محقق دوانی رحمه الله په دی باند تصریح کړیدے چه لفظ دکلی په تعریف کښ دَ "جنس" په د رجه کښ دے،-

وفى الحاشية اعلم انه زا د الشيخ فى "الاشارات" لفظ الكلى فى تعريف الجنس ورسمه " بانه كلى محمول على اشياء مختلفة بالحقائق فىجواب ماهو- وقال الامام رحمه الله هذه الزيادة غير محتاج اليها لان لفظ المحمول على الاشياء كالمرادف،اهـ

(٢) "المقول على كثيرين" داپه تعریف د جنس کښ "جنس" لپاره دے چه ټول کلیات خمسه ؤلره شامل دے،

سوال: (١)کلی اوددے اقسام دَمفرداقسام دی او "مقول علی کثیرین" مرکب دے. نو د دے جنس کیدل صحیح نه دے ؟ سوال: (٢) "کثیرین" قیددَ جزئ نه احترازلپاره دے ځکه چه جزئ په واحدباندمحمولیږی نومعلومه شوه چه لفظ دَ "المقول" دَجزئ لپاره هم جنس دے.نودایواځی دکلیات خمسؤ لپاره نه بلکه جزئ لپاره هم جنس شو؟ علامه عصام رحمه الله جواب طرفته داشاره کړیده حاصل دَ جواب:دادے چه "مقول علی کثیرین" دکلیات خمسه ؤ لپاره په منزله دَجنس دے،اویواځی "المقول" شپږ واړو لپاره جنس دے (٣) "الكثيرين" داپه تعریف دَجنس کښ فصل اول دے،دے سره احتراز راغے دَجزئ نه اودلیل دَاحترازنه شارح رحمه الله اشاره کړیده په دی قول خپل سره "لانه مقول على الخ" پس زده کړه داخبره چه دَ جزئ مقول اومحمول کیدل یوه اختلا فی مسئله ده [١]جمهور(ابونصرفارابی،شیخ ابوعلی بن سینا،محقق دوانی او علامه بهاروی رحمهم الله وغیره)دَجزئ محمول کیدل جائزګرځولے ده -[٢]علامه تفتازانی رحمه الله وئیلی دی چه دَمناطقه ؤ مذهب دادے چه جزئ حقیقی اصلاً محمول کیدل جائزنه

دی ،[۳] میرسیدشریف رحمه الله وای: چه جزئ حقیقی په واحد باند محمول کیدل صرف ظاهری خبره ده،کنی دمخه جزئ حقیقی په کوم شی باند نشی محمول کیدلے بلکه په دی مفهومات کلیه محمول کولے شی.نوداجزئ په خنی صورتو نوکښ مقول علیه کیدے شی اومقول به نشی کیدے،ددی وجه داده چه"حمل"لپاره من وجه اتحاد اومن وجه غایرضروری دے خکه چه " حمل " یو نسبت د ے منتسبین (منسوب او منسوب الیه)غواړی،نواوس که داجزئ محمول شی نودا به خالی نه وی یا به خپل خان باندمحمول وی اویابه په غیرباند؟په رومبنی صورت کښ من کل الوجوه" اتحاد راخی اوپه دویم صورت کښ من کل الوجوه مغیرت راخی-

وللجمهوردلیلان،[۱] العقلی: وهوان مدارالحمل علی الاتحاد من وجه و التغیرمن وجه فیحمل ان یحمل الجزئ علی نفسه ویعبرعنه بمفهومین متغایرین کمااذارأیت زیداً یکتب ویضحك فتقول هذالکاتب وهذاالضاحك،

[۲]الدلیل النقلی:نقل عن الفارابی ان الحمل علی اربعة اقسام (۱)حمل الکلی علی الکلی: نحوالانسان حیوان،(۲) حمل الکلی علی الجزئ نحوزیدانسان،(۳) حمل الجزئ علی الجزئ نحو هذا زید، (۴) حمل الجزئ علی الکلی نحو بعض الانسان زید -اه کذافی مفتاح العلوم بتغیر-

قوله:فیقال هذازید الخ سوال:د"هذا"مدلول" شخص جزئ" نولازم شواتحادمحمول او موضوع اوڼ نده دحمل نسبت دےاوداتغایردَمنسوب اومنسوب الیه غواړی نوداحمل صحیح نشونه په ایجاب اونه په سلب کښ خکه چه حمل دجزئ په جزئ باندڅه فائده نه ورکوی؟ جواب: داقول ددوی چه "الجزئ محمول" په اعتباردَ ظاهراوسرسری نظر سره دے په حقیقت کښ محمول کلی دے نو"هذازید" ای هذامسمی زید ویسمی کلی وان انحصرفی الخارج فی فرد -(۴)"مختلفین بالحقائق"دا په تعریف کښ فصل ثانی دے ده سره احتراز راغےدَنوع مطلقاًخکه چه هغه متفقین بالحقائق باند محمولیږی (۵)"جواب ماهو"دا فصل ثالث دے دی سره احتراز راغے دَ باقی کلیاتوڅخه یعنی خاصه ، فصل اوعرض عام-



قال:وهوقریب ان کان الجواب عن الماهیة وعن بعض مایشارکها---- اقول: القوم قدرتبوا الکلیات ------------ ولکل مرتبة من مراتب البعدجواب اخر-آه

تشریح}- هرکله چه مصنف رحمه الله فارغ شودَبیان دَتعریف دَجنس نه نوشروع اوکړو په بیان دَمراتب ودَجنس کښ خکه چه جنس لپاره مختلف مراتب دی بعضها فوق بعض کماسیجئ التفصیل- القوم قدرتبواالخ ای القوم بینواترتیب الکلیات "اوانمافسرنا هذاالقول بهذالان الترتیب فیهاواقع فی نفس الامرولیس الترتیب فعل القوم(احمدجند رح) وقدیقال:المراد بینوا ترتیبهاوقالوابالترتیب(باوردے رح) پس پوهه شه چه دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره دوه غرضونه دی [۱]غرض جلی:اوداتوطیه اوتمهیددے دَپاره دَ تقسیم دَ جنس.قریب اوبعید ته کمااشارالشارح رحمه الله الیه بقوله"واذاانتقش هذا علی صحیفة الخاطرفنقول الجنس اماقریب الخ،[۲]غرض خفی:اوداجواب دَسوال مقدر دے حاصل دَ سوال: داد ے چه علم عبارت د ے دَ ضوابطو اوقواعد وکلیه وڼ نه او انسان، حیوان، ناطق،ضاحك اوماشی وغیره امثله جزئیه دی.نوبحث دکلیاتوکیږی نه دَجزئیاتونه؟اوحاصل د جواب:دادے چه علم عبارت دے دیو څو شیانونه (۱) ملکه (۲)ادراکات تصوریه(۳)ادراکات تصدیقیه (۴)قواعدکلیه وڼ،علی اختلاف الاقوال، اودابنکاره خبره ده چه دَامورکلیه وڼ وضاحت په امورجزئیوسره کیږی لکه " کل فاعل مرفوع"یوه قاعده کلیه ده.وضاحت په مثال جزئ سره کیږی لکه"زیدفاعل" دے په "قام زید"کښ وعلی هذاالقیاس- فلذاتری کتب الفنون مشحونة بالامثلة تسهیلاً علی المبتدی- سوال:قوم چه داترتیب کذائ سره کلیات ذکرکړی دی آیادا ترتیب واجب اوضروری دے؟جواب:داترتیب واجب نه دےخکه چه جائزدی چه یوماهیت لپاره وجود وی اوهغه لپاره جنس قریب وی لیکن مافوق اوماتحت دَهغه جنس نه وی؛

سوال:داچرته واقع دے اوکه نه؟ جواب:مراددَجوازنه جوازعقلی دے چه مسمی دے په جواز امکانی سره،واما هذا من الجوازالوقوعی فلا.اذلم یقع هذاالامر-

{ تعریف الاجناس} (۱)"انسان :حیوان ناطق،(۲)"حیوان :جسم نام حساس متحرك بالاراده،(۳)"جسم نامی :هوالذی یمدالی الابعاد الثلاثة(طول،عرض،عمق،)(۴)جسم شئ له ابعادثلاثة،(۵)"جوهر :هوالذی یکون قائماًبذاته فی الخارج-

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: واذاانتقش هذا الخ ای اذاعلمت تمام المشترک فاعلم انحصارالجنس فی القسمین فانه موقوف علی ذالک(عبدالحکیم).ارادبالخاطر "القلب "مجازًامرسلًا لا ما یحل فیه و الاضافة من اضافة المشبه به الی المشبه اھ

پس زده کړه داخبره چې دَ جنس لپاره دوه طرفه دی(١)ددی حیثیت نه چه دامفهوم عقلی دے(٢)ددی حیثیت نه چه صادق علی کثیرین دے؛اول طرف ئې تقسیمیدو دریو قسمونوته(١)چه داتمام ماهیت دجزئیاتووی(٢) داچه دَجزئیاتونه جزء وی (٣) داچه خارج وی دَجزئیاتونه (کمامرالتفصیل)- اودویم طرف ته ئې دادے چه که ددی افراد اشخاص جزئیه وی.نودا نوع شولکه" انسان" ځکه چه داصادقیږی زید ،عمرو، بکر. وغیره باند- اوکه افراد انواع وی نوداجنس شو لکه" حیوان" ځکه چه داصادقیږی په انسان،فرس اوبقره وغیره باند؛ اوهم دغه شان هرکله افراداجناس وی نوداهم جنس لکه"جسم نامی او جسم مطلق" ځکه چه حیوان او نبات دَجسم نامی فردین دی. اودا دواړه ( حیوان،نبات )جنسین دی؛همدغه شان جسم نامی اوجمادجنسین دی اودا فردین دَ جسم مطلق دی-

پوهه شه چه دَجنس دوه قسمونه دی (١) جنس قریب:که دَماهیت او د ے دَبعض مشارکات فی الجنس کښ کوم کلی په جواب کښ واقع وَوکه هم دغه کلی ددی ماهیة اوددی نوروتمامومشارکات فی الجنس په جواب کښ هم واقع کیدو نوداجنس قریب شو لکه" حیوان "دانسان لپاره جنس قریب دے ځکه چه انسان سره څو مره اشیاء چه دی ټول په وصف دَحیوانیت کښ شریك دی،نوددی ټولوپه جواب کښ"حیوان"واقع کیږی ، نوکله چه دَانسان اودَفرس په باره کښ سوال اوشی نوپه جواب کښ "حیوان" واقع کیږی، اوس دا"حیوان" داسے یوکلی د ے چه دَ انسان سره څومره شیان د ی حیوانیت کښ شریك دی.نوددی ټولوپه جواب کښ هم داکلی واقع کیږی-

(٢) جنس بعید:که دَماهیت اوددی دَبعض مشارکات فی الجنس په جواب کښ کوم کلی واقع کیدواودغه کلی ددی ماهیت اودَنورو ټولومشارکات فی الجنس کښ نه واقع کیدو نودا جنس بعید دےلکه دَ"انسان اوبقراودَنباتاتو باره کښ سوال او شی



نو ددی جواب به"جسم نامی"وی ځکه چه هم داددوی په مابین کښ تمام جزء مشترک دے لیکن که دَ"انسان اودبقر"په پاره کښ سوال اوشی نوجواب به" حیوان" وی ځکه چه دا ددوی په مابین کښ جزء مشترك دے.اوس دلته په جواب کښ یوکلی نه واقع کیږی بلکه دَړومبنئ په جواب کښ"جسم نامی" اودَدویم په جواب کښ "حیوان"واقع شو،هم ددوجے نه دجنس بعیدشو-

قوله:وعن جمیع مشرکاتها الخ سوال: تعریف دَجنس قریب مانع نه دے دَدخول دَغیرنه جنس بعید پکښ داخل شوځکه چه جسم نامی چه دَ انسان جنس بعیددے دَانسان او دَنباتاتو په جواب کښ هم صادقیږ ی.اودَانسان اودَ هغه ټول مشارکات فرس، بقر، غنماونباتاتوپه جواب کښ هم صادقیږی؟

جواب:دَجمیع مشارکاتونه مرادکل واحد واحد دے نه دَمشارکاتو مجموعه ، په دی شان سره چه دَمشارکاتودَماهیت نه که هریومشارك لره دَیویل نه سوال اوکړی. نو په جواب هم دغه کلی واقع کیږی،اوجسم نامی داسے کلی نه د ےځکه چه دَانسان او د نباتاتوپه جواب کښ خوجسم نامی صادقیږ ی لیکن دَانسان اودَ فرس په جواب کښ جسم نامی نه راځی بلکه حیوان راځی-

قوله:فهوالقریب کالحیوان الخ سوال:حیوان جزء دَانسان دےاوجزء مقدم وی په کل باند اوقضیه دَحمل داتقاضی کوی چه دابه مؤخر وی ځکه چه حمل صفت وی دَهغه لپاره اوصفت مؤخر وی دَموصوف نه ؟جواب: حیوان سره کله اعتباردَقید انضمام الناطقیة وی نودانوع گرځی،اوکله په دی اعتبار وی چه دا جزء دے،اوکله دَیوی خبری لحاظ هم نه وی.فالواقع محمولاً هو الحیوان الناطق-

قوله: ویکون هناك جوابان الخ غرض دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره اشاره کول دی درجات اومراتب دَبعد جنس ته پس دَبیان دَاقسام دَ جنس نه ؛ پدیشان سره چه دا " جنس"که په یوه مرتبه کښ بعیدوی.نودوه جوابونه به واقع کیږی لکه جسم نامی په نسبت دَانسان.ځکه چه دَانسان.اودَجسم نامی په مابین کښ صرف یوه مرتبه ده چه هغه"حیوان"دے په دی صورت کښ دوه جوابونه داسے دی چه که دَانسان اودَ مشارکات حیوانیه وَ په باره کښ سوال اوشی نو په جواب به" حیوان " راځی، اوکه دی سره "

نباتات"هم شامل شی نو په جواب به په "جسم نامی"سره وی،اوکه جنس په دوو مرتبو بعید وی نودری جوابونه وی لکه"جسم مطلق"په نسبت دَانسان چه د ي کښ حیوان اوجسم نامی دوه مرتبی دی نودی صورت به دری جوابونه واقع کیږی،پدیشان سره که دَانسان،بقر،شجراوحجر په باره کښ سوال اوشی‌نوجواب کښ به "جسم مطلق" راځی باقی دوه جوابونه هم په هغه رنګه دی چه مخکی تیر شو؛اوکه جنس په دري مرتبو بعیدوی‌نوڅلورجوابونه به وی‌لکه"جوهر" په نسبت دَانسان ځکه چه که دَ انسان اومشارکات عقلیه ؤ سره سوال اوشی‌نوجواب کښ به"جوهر"راځی،اوکه دَ انسان او دَ جماداتو سره سوال اوشی نو جواب به په"جسم مطلق" سره وی،اوکه دَانسان اودَ مشارکات نباتیه ؤ سره سوال اوشی نوجواب به "جسم نامی" وی،اوکه دَانسان اودَ مشارکات حیوایه ؤ سره سوال اوشی نو به "حیوان"وی؛

خلا صه داده چه څومره بُعُدزیاتیږی نودَجواب شماربه هم زیاتیږی‌اودَمراتبو په بُعد به دَجواب یوعدد زیات وی‌که دُبعدیوه درجه وی‌نوجوابونه به دوه وی وعلی‌هذاالقیاس-

قوله: وعلی‌هذاالقیاس الخ پوهه شه چه داکلمه کوم ځای کښ چه راشی نوددے دری ترکیبونه کیدے شی(۱)"علی‌هذا"خبرمقدم وی‌او"القیاس"مبتدامؤخروی،(۲)القیاس منصوب لفظاًمفعول به دے دَفعل محذوف لپاره چه هغه" آجر" دے یعنی " علی‌هذا آجر القیاس"(۳)"علی"جار"هذا"اسم اشاره موصوف"القیاس"مجرورلفظاً صفت. موصوف سره دَصفت نه مجروردَجارشو،جارسره دَمجرورنه خبرمقدم اوما بعدوالا جمله مبتدامؤخر- سوال:"جوهر"دَباسه خو بل شئ نشته نوشارحرح داقول"وعلی القیاس صحیح نشو؟جواب:دَشارحرحؒ‌داقول محمول په علی‌سبیل الفرض والتقدیر باندے-

---

قال:وإن لم يكن تمام المشترك بينها وبين نوع اخر———— اقول:هذابيان للشق الثانى——
———— وهذاماوعدناه فى صدر البحث-

---

{ تشریح}:- کوم کلی‌چه دَخپلوافرادو ماهیت جزء وی په هغه کښ دوه احتماله وو (۱) تمام مشترك کیدل(۲) تمام مشترك نه کیدل،نوهرکله چه مصنف رحمه الله فارغ شود بیان دَ احتمال اول نه نوشروع ئ اوکړو په بیان دَاحتمال ثانی کښ نواوئیل"وان لم یکن الخ - قوله:من الترديد الخ پدیکښ دوه احتماله دی [۱]"تردید" نه مرادهغه



تردیددے چه کوم چه دکلام دَماتن رحمه الله ځخه معلومیږی ځکه چه دَماتن رحمه الله قول وو"فان کان تمام الجزء المشترك بين الماهية و بين نوع اخراولا "(۱) [۲]"تردید" نه هغه تردیددے چه دَشارح رحمه الله خپل کلام کښ تیر شو یعنی" لا نه اماان يكون تمام الجزء المشترك بين الماهية وبين(۱)وترك التصريح به للا ختصار اعتماداًعلى دلا لة الشرطين الدائرين النفى والاثبات.اه

نوع اخراولا يكونَ " تفصيل المقام:- په دی مقام کښ بیان دَتردیددَشق ثانی دے چه که دَماهیت جزء دے اودَنوع اخرېه مابین کښ تمام مشترك نه وو،نو بیاد دی دوه صور تونه دی(۱)یاددی ماهیت اودَنوع اخرېه مابین کښ بالکل مشترك نه وی لکه" ناطق" په دَانسان،نودامميزددی ماهیت دے دَټولوماهیتونونه(۲)یابه مشترك وی خوتمام مشترك نه وی بلکه هغه دَتمام مشترك بعض وی لکه"حساس" په نسبت د انسان ،نودامميزددی ماهیت دے دَبعض اغیارونه اودامشترك مسمی‌کولَشی په " فصل جنس"سره ځکه چه"حساس"په حقیقت کښ فصل دےدَحیوان لپاره اوخاص دے ترحیوان پوری نو تمیزراولی دَټولواغیارونه.او"حیوان" جنس دے اپاره دَ " انسان" نو ټول اغیاردَحیوان بعض اغیاردَانسان دی نو"حساس"انسان لپاره هم فصل شو ځکه چه تمیزراولی‌دَ بعض اغیارودَانسان نه کوم چه ټول اغیاردَحیوان دی،نوفصل(۱) یا به تمیزدَماهیت را ولی دَټولوماهیتونونه لکه"ناطق" دَانسان لپاره،اوحساس دَحیوان لپاره(۲)اویابه د ماهیت راولی‌دَبعض ماهیتونونه لکه"حساس"دَانسان لپاره، فیکفینا من الفصل ان يميزالماهية فى‌الجملة- بیاپدی"بعض"کښ څلوراحتماله دی‌دی کښ صرف (مساوی) صورت کښ په دغه بعض ماهیت دپاره ممیزدے او باقی‌دری صورتونو کښ (مباین، اخص،اواعم) تمیزورکوونکی نه دی؛(۱)صورت مساوی:چه هرواحددی دو اړو یو په بل باندےصادقیږی لکه حیوان اوحساس، نوداسے وئیلے شی "کل حیوان‌حساس "لکه چه وئیلے شی"کل حساس حیوان" نود ا ضروری ده چه فصل جنس‌مساوی ددی وی ځکه چه که مساوی نه وی نویابه ورسره مبین وی ازیابه ترے خاص وی اویا به ارے عام وی نو دری واړه باطل دی فتعين الاول ولا خامس؛

(۲)صورت مباین: دا جائزنه دی چه فصل جنس ورسره مباین وی ځکه چه څمونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

خبره په هغه اجزاؤ کښې ده چه محمول علی الکل وی او حمل د شئ په مباین باندې محال
دے نو داسے نه شی ونیلے "البیاض سواد" لکه چه داسے نه شی ونیلے السواد بیاض،
پس که فرضاً حساس مبین دَ حیوان شی نو حمل به ئې پرے صحیح نه شی حالانکه
حمل ئې صحیح دے ئې یقال الحیوان حساس، فدل ذالك علی ان جزء تمام المشترك
لیس مباینًا له؛ (۳) صورت اخص: داهم جائزنه دے چه فصل جنس ترینه اخص شی
خکه چه که بعض دَ تمام مشترك اخص ترے شی نو وجود دَ تمام مشترك به راشی بغیر
ددی (بعض) نه او دا محال خکه دے چه لا زمیږی وجود دَ "کل" بغیر دَ وجود دَ "جزء" نه
او دا محال او ممتنع دے۔

(۴) صورت اعم: دا هم جائز نه دی چه اعم ترے شی خکه چه که بعض دَ تمام مشترك اعم
شی دَ تمام مشترك نه نو دا به موجود شی په نوع اخر کښې بغیر دَ تمام مشترك نه خکه
چه دَ اعم وجود بغیر دَ اخص نه کیږی په دغه وخت کښې به دا مشترك شی په مابین د
دے ماهیت او دَ نوع ثانی کښې، بیا دا بعض تمام مشترك خو کیدے نشی خکه چه دا
خلاف المفروض دے، نو دغه بعض به تمام مشترك دَ بعض شو دے، بعض کښې هم
دا خلور احتمالات چلیږی، یا به مباین وی، او یا به اخص وی، او یا به اعم وی، او یا به
مساوی وی، مباین او اخص خو نشی کیدے کما ذکرنا، که مساوی شی نو فثبت
المطلوب، او که اعم شی نو دا به موجود شی په بله نوع کښې بغیر دَ تمام مشترك نه
(تحقیقًا لمعنی العموم) نو په دغه وخت کښې به دا مشترك شی په مابین د دے ماهیت
او دَ نوع ثالث کښې. بیا دا بعض تمام مشترك خو کیدے نشی خکه چه دا خلاف المفروض
المفروض دے، نو دغه بعض به تمام مشترك د بعض شی دے، بعض کښې هم دغه خلور
احتمالات چلیږی، اخص او مباین خو نشی کیدے، مساوی خو ته نه منے نو خامخوا به
دا اعم وی. وَ هَلُمَّ جرًّا. فإ نما أن یوجد تمام مشترکات لا نهایة لها. فیلزم ترکب الماهیة من
أجزاء غیر متناهیة وهو محال او ینتهی الی بعض مشترك مسا وله وهو المطلوب۔

سوال: دبیان دَ نُسب اربع و (تباین، تساوی، عموم خصوص مطلق، عموم خصوص
من وجه) په معرفت موقوف دے حالانکه مصنف رحمه الله دَ نُسب اربعو بیان روسته ذکر



کړیدے نو دا مُفَوِّت دَ ترتیب دے؟ جواب: مفوت دترتیب به هغه وخت کښې وے چه دا
موقوف وے په نسب اربعو باند. ولیس الامر کذالك. خکه چه شارح روسته وائی چه.
ویمکن اختصار الدلیل بحذف النسب الاربع" نو مفوت دَ ترتیب نشو۔

**قوله: او اعم منه الخ** سوال: دا تردید غیر حاصر دے خکه چه اعم من وجه لره شامل نه
دے او که دا دَ مباین لا ندا داخل شی په دیشان سره مباین عام واخلی خو که مباینت کلیه
وی او که مباینت جزئیه وی نو دَ ابطال دَ مباین لپاره چه کوم دلیل شارح رحمه الله ذکر کړی
دے هغه دیته نه شاملیږی؟ جواب: دَ شارح رحمه الله په قول "او اعم منه" کښې اعم مطلق
او اعم من وجه دواړه داخل دی نو چه کله دَ اعم نفی کوی نو دَ دواړو نفی کیږی خکه چه
اعم مطلق او اعم من وجه دواړه ماهیت لره نه ممتاز کوی نو تردید حاصر شو۔

**قوله: فکان موجودًا فی نوع اٰخر الخ** سوال: چه په نوع اخر کښې ددی بعض مشترك
موجود یدو نه مراد څه دی؟ که دنوع اخر ددی جزء کیدل وی نو دا ممتنع دے خکه چه د
دی د تمام مشترك نه اعم کیدل پدی باند موقوف نه دی بلکه ددی خبری د پاره ددی په
نوع اخر باند صادقیدل کافی دی، او که ددینه مراد ده په نوع اخر باند صادق کیدل وی
نو مسلّم دے لیکن ددینه دانه لازمیږی چه هغه دَ ماهیت او دَ نوع اخر ترمینځ بعض د
تمام مشترك وی، پس دلته تمام مشترك دویم لا زم نه راخی پاتی لادا چه تمام
مشترکات متناهیه د لا زم شی؟ هر کله چه دا اعتراض واردیدو نو هم پدی وجه شارح
رحمه الله روسته دَ امکان دَ حذف دَ نسب دعوی کړیده دا صحیح نه ده بلکه حذف دَ
نُسب لابدی او ضروری ده۔

**قوله: فإما أن یوجد الخ** سوال: عقل انسانی ترڅو چه دَ اجزاء عقلیه ؤ اعتبار اونه کړی
په هغه وخت دهغے وجود نه کیږی او دَ عقل اعتبار خامخا منتهی دے خکه ده لره په
اعتبار غیر متناهیه ؤ باند قدرت حاصل نه دے نو کیدے شی چه تمام مشترکات غیر
متناهي موجود نه وی او نه داسے تمام مشترك نه انتهاء وی چه دَ هغے مساوی دَ غه بعض
وی بل ینتفع اعتبار العقل ؟

جواب: دَ تمام مشترکات غیر متناهیه وَ دَ وجود نه مراد دا دے چه سلسله په یو داسے
حدباند اودره وه چه دَ هغے نه بعد دَ عقل د پاره دَ تمام مشترك آخراعتبار کول نا ممکن

وی، مګر دا هم باطل ده ځکه دا دَتعقل دپاره دَماهیت بالکنه امتناع لره مستلزم دے۔

قوله تمام المشترکات الخ سوال: دَعلامه په مضاف الیه کښې نه وی بلکه په مضاف کښې کیدل پکار دی یعنی داسے وئیل پکار دی چه "تمامات المشترك" لکه مخکښې "فیکون للماهیة تماما الشترك" کښې دَتثنیه علامه په مضاف کښې راوړیده؟

جواب: تمام مشترك کښې دوه حیثیتونه دی (۱) مرکب اضافی کیدل، دد ے تقاضی دا ده چه علامه دَ جمع په مضاف وی، (۲) لقب کیدل. ددے په وجه دالفظ واحد شویدے او علامه دَجمع دَلفظ په اخر کښې وی شارح رحمه الله مخکښې عبارت کښې دَ مرکب اضافی لحاظ کړیدے او دلته دَلقب کیدو اعتبار کړیدے۔

قوله: لیس علی ماینبغی الخ غرض دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره سوال کول دی په ماتن رحمه الله باندې خلاصه دسوال: دادے چه ماتن رحمه الله قول "ولا یتسلسل ا لخ" بې ځایه دے ځکه چه تسلسل په دی صورت کښې نه لازمیږی ځکه چه تسلسل وائی دَغیر متناهی ؤ امور ترتیب ته او دلیل نه دَماهیت دَاجزاؤ ترتیب نه لازمیږی ځکه چه دلته کوم تمام مشارکات را او باسی دوی دَیو بل جزء نه دی که جزء وے بیا خو ستا خبره صحیح وه۔

قوله: ولعله اراد الخ غرض دشارح رحمه الله په دی عبارت سره یو قسم جواب کول دی دَماتن رحمه الله لخوا نه چه ستا سوال مضبوط دے خو کیدے شی چه ماتن رحمه الله دَ تسلسل نه په ماهیت کښې دَغیرمتناهی امورو موندل مراد اخستے وی، او دَترتیب اعتباریځ نه وی کړے. نو "لا یتسلسل" په ځاے دی؛ سوال: شارح رحمه الله دا جواب په لفظ دَ "لعل" سره ولې مصدر کړو؟

جواب: دیکښې اشاره ده چه دا هم احتمال دے چه دَماتن رحمه الله مقصد هغه وی کوم چه ظاهر عبارت دے لیکن دقیق کیدو په وجه سره مخکښې پاتې شو نو جواب مذکورېو تاویل دے چه متعارف (مشهور) نه دے۔

قوله: واما ان الجزء فصل الخ شارح رحمه الله په دی ځاے کښې دا ثابتوی چه دَماهیت جزء که تمام مشترك نه وی نو په هرحال کښې "فصل" ګرځی خواکه بلکل مشترك نه وی یا دَتمام مشترك بعض وی او یا مساوی وی، په اول صورت کښې ځکه چه کله چه جزء



مشترك نه وی نو هغه دَماهیت سره مختص کیږی او ماهیت لره دَتمام مشارکاتو نه ممتاز کوی او جزء ممیزته فصل وائی، او په دویم صورت کښې ځکه چه کله هغه جزء بعض تمام مشترك او دَهغه مساوی. وی نو دَهغه دَتمام مشترك او دَهغه مساوی، نو هغه دَتمام مشترك دپاره فصل کیږی او تمام مشترك دَ ماهیت لپاره جنس دے، نو دَجزء ماهیت دَجنس فصل شو او دَجنس ماهیت فصل دَ ماهیت فصل کیږی ځکه کله چه هغه جزء جنس لره دَجمیع ماعداه نه ممتاز کوی ځکه چه دَجنس جمیع ماعدا دَماهیت بعض ماعدا وی، او دَماهیت فصل هغه کیږی چه ماهیت لره فی الجمله دَما عداه نه ممتاز کوی۔

قوله: وجمیع اغیار الجنس الخ ددے وضاحت دادے چه "انسان" مثلاً اخص دے دَ "حیوان" نه لیکن نقیض دَانسان چه "لا انسان" دے اعم د ے دَنقیض دَ حیوان نه چه "لا حیوان" دے نو کوم ځای کښې چه "لا حیوان" موجود شی نو "لا انسان" هم موجود یږی، او دا ضروری نه ده چه کوم ځای کښې "لا انسان" موجود شی نو "لا حیوان" دی هم موجود شی ځکه چه "حیوان" په فرس وغیره باندې هم صادقیږی، بنا په دی اساس تمام اغیار دَجنس بعض اغیار دَ ماهیت دی ځکه چه ماهیت لپاره نور اغیار هم شته لکه فرس، او حمار وغیره شو۔ قوله: ای سواء الخ دا دَشارح رحمه الله لخوا دَ"کیف کان" عموم تفسیر دے چه دَشرط او دَجزاء تر مینځ واقع شویدے ځکه چه "کیف ماکان" شرط دے او "فهو بمنزلة الماهیة" جزاء دے "وفی بعض الحواشی: قوله "والی هذا اشار" (۱) قیل ای الی الداعی (۲) وقیل ای الی قوله" ولا نعنی بالفصل الا ممیز الماهیة فی الجملة (۳) ویحتمل ان یکون اشارة الی ان الجزء یمیز الماهیة فی الجملة علی کل من التقدیرین (٤) والأوجه ان المراد والی هذا الاستدلال اشار بقوله وکیف ماکان (عصام)

قوله وانما قال الخ غرض دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره جواب کول دی دَسوال مقدر څخه حاصل دَ سوال: دادے چه دلیل نه خو صرف دا ثابتیږی چه دغه جزء که تمام مشترك نه وی نو دے به ماهیت لره فی الجمله تمیز ورکوی، دغه فصل دے خو دغه جزء چه تمام مشترك لره دَمشارکات جنسیه ؤ نه جدا کوونکی ګرځی چه که ماهیت لره فصل وی نو دے پاره به جنس هم ضروری وی او دا دَدلیل نه ثابتیږی؟ او حاصل دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې به دَ تمام مشترك بعض وی –

" تنبیه " شارح رحمه الله اګرچه په(یمکن) سره تعبیر کړیدے لیکن مخکې تیر شویدی چه دَ دلیل څخه حذف دَ(نسب) ضروری ده- علامه عصام الدین رح وائ چه که څه تکلف او کړے شی او اووئیلے شی چه دَماتن رحمه الله دلیل پخپله محذوف النسب دے ځکه چه په هغے کښې دَمساوات نه مراد هغه مساوات اصطلاحی نه دے کوم چه په نسب اربعو کښې دے بلکه دَتمام مشترك سره مساوات فی الاشتراك ( لغوی ) مراد دے.من غیر زیادة اشتراك له علی اشتراك تمام المشترك فیفضی الی التسلسل ولا زیادة اشتراك لتمام المشترك فیوجد وجود الکل بدون الجزء-

قوله:لا یقال الخ شارح رحمه الله په دی سره سوال ذکرکوی بیا ترے جواب کوی په دی قول خپل سره"لا نا نقول الکلا م الخ" حاصل دَ سوال: دادے چه دَماهیت جزء په جنس اوفصل کښې منحصر کول صحیح نه دے چه جوهر ناطق او جوهر حساس مثلاً دَماهیت دَانسان جزء دے، حالانکه دا نه جنس دے او نه فصل ؟ او حاصل دَ

جواب: دادے چه څمونږ خبره مفرد اجزاؤ کښې ده، او جوهر ناطق او جوهر حساس دَ مرکبات نو نه دی دے وجے نه مونږ باند اعتراض نه راځی ؛

سوال:هرکله چه خبره په اجزاؤ مفردو کښې ده نو بیا خو یکارد ے چه دَ"جسم نامی" بحث هم اوکړے شی ځکه چه دا هم مرکب دے؟ جواب:مونږ دَ"جسم نامی"نه بحث نه کوو دا اګرچه مرکب دے لیکن دی(جنس بعید)کښې اصل"نامی" مقصود دے او دا مفرد دے او دی سره "جسم"ځکه ذکرکولے شی چه دَصفت سره دَموصوف ذکر هم وی ځکه چه نامی نه وی مګر جسم وی او قاعده مشهوره داده چه"مامن صفة الا ولها موصوف"-

قال: ورسموه با نه کلی یحمل علی الشئ ---------- اقول: رسموا الفصل با نه کلی یحمل ---------- وبایرا دهذا الاحتما ل ثلثوا-آه

تشریح}- غرض دَمصنف رحمه الله په دی متن(قال) کښې دَ"فصل" تعریف ذکرکول دی سره دَ ماله وماعلیه نه، پس تعریف دَفصل ذکرکړید ے په دی قول خپل سره"کلی یحمل" یعنی"فصل"هغه کلی دے چه په شی باندَ"ایُ شیٍ هو فی جوهره"په جواب کښې حملیږی، لکه دَانسان یا دَزید په باره کښې سوال اوشی.نو دے په جواب کښې ناطق،



یا حساس واقع کیږی ځکه چه دَیو شی په باره کښې په "ای شئ" سره سوال اوشی. نو دغه وخت په جواب کښې هم هغه شی مطلوب وی چه شئ فی الجمله دَنورونه ممتاز کړی، خواکه دَجمیع ماعدا نه ممتاز کړی یعنی هغه ممیز جوهر.نو دغه وخت په جواب کښې فصل واقع کیږی،لکه دَ"انسان"په باره کښې سوال اوشی چه "الانسان ای شئ فی جوهره" نو په جواب کښې وئیلے شی"حیوان ناطق"او که دَ"ای شئ فی عرضه"سره سوال اوشی نو په جواب به خاصه واقع کیږی،لکه دَ"انسان" په باره کښې سوال او شی چه "الانسان ای شئ فی عرضه" نو په جواب کښې"ضاحك" وئیلے شی،پس تعریف کښې لا بدی وی دَ جنس او فصل نه (۱)"کلی" په تعریف کښې جنس دے چه تمامو کلیا تو لره شامل دے(۲)"یحمل علی الشئ" فصل اول دے او دی سره عرض عام ترے نه خارج شو ځکه چه عرض عام بالکل په جواب کښې نه واقع کیږی،نه دَماهو په جواب کښې او نه دَای شئ په جواب کښې،وقیل:هل زیدماش یقال انه ماش بلا ریبة فالصحیح انه لا یقال فی جواب ای شئ(عصام رح)(۳)"فی جواب ای شئ" ثانی دے او دے سره احتراز راغے دَجنس او دَنوع نه ځکه چه دا دواړه په جواب دَ"ماهو"کښې واقع کیږی (۴)"فی جوهره" دا فصل ثالث دے او دے سره احتراز راغے دَ"خاصه" نه ځکه چه دا هم اګرچه شی لره فی الجمله تمیز ورکوی خو دَ"فی جوهره" په جواب کښې نه واقع کیږی بلکه دَ"فی عرضه" په جواب کښې وا قع کیږی-

قوله:مایمیز الشی فی الجملة الخ غرض دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره دَممیز جوهری او ممیز عرضی کښې تعمیم کول دی چه دَهغے قرینه دا قول دده دے چه" ثم ان طلب الممیز الجوهری" پس دا سوال هم نه واردیږی چه ددے تعمیم نه روسته راتلونکے تردید "ان طلب ممیز الشئ عن جمیع الا غیار--- وان طلب الممیز فی الجملة" قبیح معلومیږی - قوله: فا ن قلت الخ دا سوال یا خو په تعریف دَفصل باند وارد دے چه تعریف دَجامع او مانع نه دے،او یا دا سوال فوائد قیودو کښې دَشارح رحمه الله په"یخرج الجنس" باند دے او دَشارح رحمه الله دکلا م څخه اولنے احتمال اظهر معلومیږی ځکه چه شارح رحمه الله" فلا یخرج عن الحد"وئیلی دی،فعلی الاول الجواب منع وعلی الثانی اثبات للمقدمة الممنوعة، حاصل دَ سوال:دادے چه ای شئ سره خو یا دَتمامو اغیارو نه

ممیزمطلوب.اویاممیز فی الجمله ؟ په رومنے صورت کښ دَفصل داتعریف په "حساس" نه صادقیږی ځکه چه حساس ماهیت نوعی لره( یعنی انسان لره )دَجمیع ماعدانه نه ممتازکوی بلکه دَ بعض لکه شجر، اوحجرنه ممتاز کوی.حیواناتونه تمیز نه کوی،دے وجے نه دافصل دَ تعریف دَفصل نه خارج شو.نودَفصل تعریف جامع نشو،اودویم صورت کښ په " جنس"باندې هم داتعریف صادقیږی کله چه دَانسان په جواب کښ حیوان اووئیلے شی‌نوداجنس(حیوان)انسان لره دَبعض ماعدانه یعنی شجر اوحجر نه ممتازکوی،گویا جنس هم فی‌الجمله ممیزشو،نوجنس په تعریف دَ فصل داخل شونوتعریف دَفصل مانع نشودَدخول دَغیرنه ؟ نوشارح رحمه الله ددے سوال ځه جواب اوکړو په دی قول خپل سره"فقول لا یکفی‌الخ داجواب مبنی دے په اختیاردَشق ثانی سره حاصل دَ

**جواب**:دادے زه شق ثانی‌غوره کوم فان قلتَ ماقلتَ قلتُ"ای شئ"سره ممیز فی الجمله مطلوب دے اوجنس اگرچه ماهیت لره دَبعض ماعداؤ نه ممتازکوی،لیکن په جنس کښ دَتمام مشترك کیدوحیثیت معتبر دے،اوپه ممیزکښ تمام مشترك نه کیدل معتبردی،پس تعریف دَ فصل په جنس باندې نه صادقیږی،نوتعریف دَ فصل جامع اومانع شو؛وفی بعض الحواشی:فالحق فی‌الجواب عن السوال المذکور.یقال انا نختارالشق الثانی من الترديد وتمنع دخول الجنس فی‌الحدایضاً فان الجنس من حیث هوجنس لا یفید التمیزاصلاً(عصام رح)

**قوله: ولماکان محصله الخ** په "کلیات ابوالبقاء"کښ دی چه"محصل الکلام" په اجمال بعدالتفصیل راځی.او"حاصل الکلام"په تفصیل بعدالاجمال کښ استعمالیږی،وفی "الطریق العادل الی‌بغیی الکامل" للشیخ الروحانی رحمه الله (ص/۵۵)اعلم ان ههنا الفاظ یستعمل فی‌هذاالمعنی‌یقال محصلا لکلام، ومفاده، وتوضیحه، وتفصیله، وملخصه،و جملته،وحاصله،وخلاصته،وبیانه ونحوذالك اهـ

**قوله محصله الخ** که دَضمیرمرجع " تعریف"اوگرځولے شی لکه چه ظاهره دغه ده نو په محمول دمعرف ذکرمبنی‌دے په مسامحت لانه یکون قوله"ان الفصل" لغواً،پدی وجه



"الکلام" مرجع گرځول پکاردی وقال العصام رحمه الله والاوجه انه ارادلما کان التعریف متضمناًلهذاالحکم علی‌المعرف فرع المصنف رحمه الله قوله فعلی‌هذا،والا فلاوجه لتعریف الحکم علی‌التصور،اهـ

پس زده کړه داخبره چه دَفصل محصل دری شیان دی (۱) فصل کلی‌ذاتی دے(۲)دَ "ای شئ"په جواب کښ به واقع وی (۳)شئ دپاره فی‌الجمله به ممیزوی،ددے خبرو په رنړاکښ ماتن اوشارح رحمهما الله دَبعض خلقوددے قول تردیدکوی چه داوائی چه هرهغه ماهیت چه هغه دپاره فصل وی نودَهغه دپاره به جنس کیدل هم ضروری وی،گویاکه ددغه شی جنس بالفرض نه وی،نو په قول ددوی دهغه به فصل هم نه وی اودادَبعض متقدمینومنطقیانونظریه ده،اوشیخ ابوعلی‌بن سیناپه خپل مایه نازکتاب"الشفاء" کښ ددے خبری تصریح کړیدے ځکه چه دی دَفصل تعریف کړیدے په دی قول خپل سره "کلی مقول علی‌الشئ‌الخ" یعنی فصل هغه کلی دے چه دَ"ای شئ فی جوهره"په جواب کښ دَهغه دَجنس نه وئیلے کیږی،خولیکن دانظریه په دلائلو برابره نه ده او براهین ددے مضبوط والے نه راځ لی ځکه ماتن رحمه الله په ضعف په دریوطریقوسره تنبیه کړیدے(۱)ماتن رحمه الله دَ فصل په باره کښ وئیلی دی"وکیف ماکان یمیز الماهیة عن مشارکیها فی‌جنس او وجود"یعنی‌فصل خوماهیت لره په هرکیف دَ مشارکات جنسیؤ نه وی،یادمشارکات وجودیه ؤ نه ممتازکوی په دیکښ دَ"او وجود"اضافه په دی خبره دلالت کوی چه هرهغه ماهیت چه دَهغه لپاره فصل وی نوهغه دپاره جنس کیدل ضروری نه دی،ځکه چه که جنس نه وی نوکم ازکم ددے ماهیت مشارکات فی الوجودخویه وی،دوی نه به ی،ضرورممتازکوی لکه کهٔ دَیو ماهیت ئ په اوشیئیت کښ دَمشارکات نه ممتازکړواگرچه دلته ددےماهیت هیڅ جنس هم نشته،(۲)ماتن رحمه الله دَفصل په تعریف کښ دَ"ای شئ فی جوهره" نه پس دَ"من جنسه"ذکراونکړودے لپاره چه په دی نظریه رداوشی،(۳)ماتن رحمه الله دَیو احتمال ذکراوکړواودهغه ئ هم ضعف ته اشاره اوکړه فرمائ چه فرض کړی چه که دَیوماهیت ددوؤ متساوی اویاد څومتساوی امورونه مرکب وی مثلاً دَجنس عالی اودَفصل اخیرنودے امورکښ هریو ددے ماهیت لپاره په منزله دَفصل وی اوده لره به دَمشارکات وجودیه وو نه ممتاز

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی، اوپه دے ماهیت به دَ"ای موجودهو" په جواب کښ محمول وی حال دادے چه د دے ماهیت هیڅ جنس نشته دے، بیاهم دغه امرددے ماهیت دپاره فصل واقع کیږی، نومعلومه شوه چه هرهغه ماهیت چه دَهغه فصل وی‌نودَهغه دپاره جنس کیدل ضروری نه ده، جنس کیدواونه کیدودواړوصورتونوکښ دهفصول واقع کیدے شی دَمنطقیانو په نیزدا صحیح مسلك دے، ددے په رنړاکښ ماتن اوشارح رحمهما الله دَفصل باره تفصیل سره کلام اوکړو،

قوله:قدماء المنطقیین الخ شارح رحمه الله په بل مقام(دَتقسیم دَعلم تصوراوتصدیق)کښ تعبیر کړیدے چه امام رازی رحمه الله دَمتاخرینونه دے، اودلته دَقدماو" نه مراد هغه خلق دی چه د امام نه مقدم وی پس شارح رحمه الله لره داسے وئیل پکاروو"حتی الشیخ فی الشفاء" ځکه چه شیخ دَقدماو نه دے نه دتابعینو نه.فتدبر-

قوله: فی الشفاء الخ متابعت دشیخ ی، دَ شفاء سره په دی وجه مقید کړو.چه شیخ په بل کتاب"اشارات" کښ لفظ دَ"اووجود"زیادت کړیدے چه هغه امام رازی رحمه الله په احتمال مذکوربانذ محمول کړیدے ،محقق طوسی رح چه دَهغےتوجیه کړیدے هغه دَاعتراض ه خالی نه دے، هم ددے وجےنه شارح رحمه الله هغے ته التفات اونکړو بلکه دَماتن رح کلام ئ دَ امام رازیءپه تحقیق محمول کړو، قوله: ثا نیًا الخ سوال:ماتن رحمه الله دکلیه مذکوره په ضعف کیدوصرف په دوه ځله تنبیه نه دےکړے بلکه دری‌کرته تنبیه کړیدے کما ذکرنا؟ **جواب**:دلته یاخوتداخل کړیدے اودَ" ثانیًا" نه مرادکرة بعدکرة دے-

---

**«قال الفصل الممیزللنوع عن مشارکة فی‌الجنس قریب ----اقول : الفصل اما ممیز عن المشارك الجنسی اوعن المشارك الوجودی------ فلینظرفی‌هذاالمقام فانه من مطارح الا ذکیاء»- اه**

---

« تشریح »- غرض دَمصنف رحمه الله په دی متن ( قال ) سره تقسیم دَفصل ممیزدے دوو قسمونوته چه یوفصَل قریب دے اوبل فصل بعیددے،

قوله الممیزللنوع الخ سوال:دَنوع نه مرادنوع حقیقی‌دےاوکه نوع اضافی؟اول خو ېدی وجه نه شی‌کیدے چه دَفصل دواړه قسمونه (قریب اوبعید)دنوع حقیقی پوری خاص



نه دی بلکه دَنوع اضافی هم دادوه قسمونه دی، اودویم په دی وجه نشی‌کیدلے چه تر اوسه پوری‌دَنوع اضافی تعریف لا راغلے نه دے؟ **جواب**:دلته دَنوع نه مرادماهیت دے ځکه چه دَنوع یوه معنی‌داهم ده لکه چه په"شرح مطالع" ددے تصریح موجوددے-

قوله:إماقریب اوبعید الخ زده کړه داخبره چه دفصل دوه قسمونه دی(١) فصل قریب:او داهغه دے چه فصل ماهیت لره دَجنس قریب دَمشارکاتونه ممتازکوی لکه"ناطق" دَ انسان لپاره فصل قریب دے ځکه چه دَانسان دَهغه شیانونه ممتازکوی چه هغه ده سره په جنس قریب(حیوان)کښ شریك دے؛ سوال:دَ"ناطق"معنی ده"مدرك الکلیات" او ددے معنی په اعتبار سره"ناطق"دَانسان سره مخصوص نه دے بلکه الله تعالی‌اوتمام مجردات" لکه عقول، نفوس، اوافلاك ټول مدرك دکلیاتودی، پس ناطق لره دانسان فصل قریب ګرځول صحیح نه دی؟ جواب: دلته د"ناطق" معنی‌صاحب نطق اوادراك ده اومبدا نطق اوادراك دَماهیت دانسان سره مخصوص دے(٢) فصل بعید:اوداهغه دے چه ماهیت لره دَجنس بعیدمشارکاتونه جداکوی، لکه دَانسان دپاره "حساس" فصل بعیددے ځکه چه دے انسان لره تمیزورکوی دهغه شیانونه هغه ده سره په جنس بعید (جسم نامی)کښ ورسره شریك دے ؛ سوال: دَ"حساس"پشان ناطق هم دَ جسم نامی دَ شرکاؤ نه جداکوی، ځکه چه حساس اوناطق دواړه انسان لره دَنباتاتونه جدا کو ی، پس تریف دَفصل بعیددَدخول دَغیرنه مانع نشو؟ جواب : دَفصل بعیدپه تعریف کښ دَ"فقط"قید معتبردے یعنی فصل بعیدهغه دے چه دَهغے سره په جنس بعیدکښ شریك دی‌اوناطق اګرچه دَنباتاتونه تمیزورکوی، لیکن دَهغے سره سره دَحیواناتونه هم تمیزورکوی-

قوله:وانمااعتبرالقرب الخ غرض دَشارح رح په دی عبارت سره جواب کول دی دسوال مقدرڅخه حاصل دسوال: دادے چه دَقریب اوبعیدتفسیراوتعریف ولی خاص کړے شو په "فصل جنسی"پوری پکارداوو چه دقریب اوبعیدعام تعریف ذکر کړے وے چه

شامل شوے وے فصل جنسي اوفصل وجودي دواړولره؟ اوحاصل دَ جواب: دادے چه مذكوره دواړه قسمونه دَهغه فصل دي چه هغه ماهيت لره تميزدَ مشاركاتو جنسيه وَ نه وركوي خكه چه هغه فصل چه شئ دَمشاركات وجو د يه وَ نه ممتازكوينو هغه متحقق الوجود نه دے، بس دايوفرضي احتمال باند مبني دے نوخكه ديكښ دَقرب اودَبعدلحاظ نه دے شوے اودَهغے اقسام نه دي شوي په خلا ف دَهغه فصل چه هغه ماهياتولرهدَمشارك في الجنس نه تميزوركوي دَهغے اقسام بيان شوي دي خكه چه ددے وجودمتحقق دے، خكه چه داخبره ثابته ده چه "جسم"مركب دے دَ ماده اوصورة نه، اوماده اوصور ة په اعتباردَ"لا بشرط شئ"سره جنس اونصل دي، په دي وجه دَقريب اودَبعيدته ددے تقسيم اوشو- **سوال:** ميرسيدشريف ؒ اعتراض كړے دے چه قواعددَفن عام وي چه متحقق الوجوداوغيرمتحقق الوجود دواړوته شامل وي، نوعدم وجوداوعدم تحقق سبب دَبحث پريخودل نشي كيدلے؟

**جواب:** ميرسيد شريف ؒ پخپله دَتخصيص مذكورداوجه ذكركړيده چه دَمشاركات و جوديه وَ نه په فصل مميزوَ كښ قريب اوبعيدته انقسام نشي متصوركيدے خكه چه كله يوماهيت دَاجزاءِ متساويه وَ نه مركب وي، نودَهغے نه هريوجزء يوشان مميز وي، او دَهغے نه يوقريب اوبل بعيدونيل ممكن نه دي گني ترجيح بلا مرجح لازميږي. وفيه مافيه

**قوله:** وربما يمكن الخ دَشارح ؒ ددي عبارت نه دوه غرضونه دي[۱]غرض خفي: چه په دي سره اشاره كوي راى دَمتقدمينوته كوم چه قائل دي منع دَتركب دَماهيت دَامرينو متساوينواودامورمتساويه وَ نه، [۲]غرض جلي: ددي عبارت نه دوه دليلونه ذكركول دي په يوه مدعى باند اوهغه مدعى داده چه "يوماهيت دَامورمتساويونه مركب كيدل باطل دي، ليكن دادواړه دليلونه ضعيف دي چه مورددَاعتراض دي، هم په دي وجه شارح ؒ په "ربما يمكن ان يستدل الخ" سره تعبيراوكړو، نوموني ترتيب وارددليلونه ذكر كوو سره



دَماله اوماعليه نه (۱) **تفصيل الدليل الاول:** دَاول دليل خلاصه داه چه كه يو ماهيت حقيقيه دَدوه متساوي امورونه مركب شي نودے به دَدووحالونه به خالي نه وي (۱) يا خوبه متساوي اورو كښ يوامردَبل امرمحتاج نه وي(۲)اويابه محتاج وي، اولنے صورت (يعني محتاج نه كيدل) محال خكه دے چه دَماهيت حقيقي اجزاء خپل مينځ كښ يوبل نه محتاج وي، اودويم صورت(يعني محتاج نه كيدل) نشي كيدلے خكه كه دا اجزاء هر يوبل ته محتاج وي نودورلازميږي داهم محال دے، اوكه يومحتاج وي او بل محتاج نه وي نوداهم صحيح نه ده مثلاً "آ" موقوف په "ب" دے خو"ب" په "آ" موقوف نه دے داهم صحيح نه ده خكه چه دادواړه ذاتي دي اوخپل مينځ كښ مساوي دي، نو يو دَبل محتاج گرځول اوبل نه گرځول دا بغيردكومي وجے نه په بل باند فوقيت (بره والے) وركول دي او دا نه دے مگرترجيح بلا مرجح؛ نودَماهيت حقيقي دَامور متساويه وَ مركب كيدل باطل شوخكه چه مستلزم دےمحال لره "وكلّ ماهومستلزمٌ للمحال محالٌ"

«**ضعف الدليل**» دادليل ضعيف خكه دے چه مورد دَسوال دے په دي شان سره چه د دے دورمحال كيدل مسلم نه دي خكه چه محال دور هغه دے په هغے كښ احتياج په جهت واحده سره وي، ولي كه دَاحتياج جهت مختلف وي نوداقسم دور محال نه وي، لكه احتياج دَهيولي اودَصورة يوبل ته. ليكن جهت په كښ مختلف د خكه چه هيولي محتاج دےصورت ته په بقاء اووجودكښ اوصورة محتاج دےهيولي ته په تشخص او تشكل كښ، نوكوم دورچه محال دے هغه دلته لازم نه دے اوكودورچه دلته لازم دے هغه محال نه دے ، دَدغه سوال اگرچه بعض جواب كړيدے چه احتياج دَامرينو متسا وينوقياس كول په هيولي اوصورة باندقياس مع الفارق دے خكه چه په مسئله دَ احتياج دَهيولي اودَصورة كښ تغايردَ جهت ظاهردے او په مسئله دَاحتياج دَامرينو متساوينو كښ تغايردَجهت مخفي دے فافترقا-

Maktaba Tul Ishaat.com

نه هم باطل شو- **قوله:تقوم الجوهر الخ سوال**:دَسریر(مثلاً)یوجزء خوخشب(لرگی) دے
چه جزهردےاویل جزء هیئت سریردے چه عرض دےحالانکه سریرمرکب جوهری دے،
نومعلومه شوه چه تقوم جوهربالعرض محال نه دے ؟

**جواب** :دادے چه سریرمرکب صناعی دے اوخمونږ بحث په مرکب حقیقی کښې دے ؛

**قوله:فلا یکون** ـــ واته محال الخ وئیلے شی ددے محال والے مسلم نه دے ځکه چه دَ عارض دوه معانی دی (۱)عارض:په معنی دَخارج عن الشیٔ (۲)عارض:په معنی دَ قائم بالغیر،اوپه دی دواړوکښې لکه دَاسمان اوزمکه، یالکه دَثری اودَثریافرق دے ځکه چه عارض دَشی په معنی دَخارج عن الشیٔ بجمیع الاجزاء خارجیدل ضروری نه دی‌لکه چه دَناطق اوحیوان نه هریودپاره عارض دے. په دیشان سره چه کله انسان لره دَناطق په لحاظ سره قیاس اوشی نوهغه نه ددے عین دے اونه جزء دے بلکه دَهغےنه خارج دے لیکن بتمامه خارج نه دے =

**قوله:من مطارح الاذکیاء** الخ دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره دوه غرضونه دی(۱) اشاره ده دقة المقام ته(۲)اشاره ده هغه اعتراضاتواومنعاتوته کوم چه دَمیرسیدشریف رحمه الله په دلیلینومذکورینوباند واقع کیږی، پس پوه شه چه"مطارح" جمع دَمطرح ده صیغه یا دَ ظرف مکان(ځای دَخونیدل)اویادَمصدرمیمیٔ‌صیغه ده بهرصورت مطرح مصدر مبنی للفاعل دے لکه "مکتب"اویامصدرمبنی للمفعول دے لکه"مقتل"=

**واقول الثالث فإن إمتنع إنفكاكه عن الما هية ------اقول الثالث من أقسا م الكلي مايكون خارجًا ـــــ ويدوم كحركات الا فلا ك، اه»**

**تشریح** »- تاسوته معلومه شویده چه ماتن رحمه الله دکلی باره کښې ددے افرادو په اعتبار سره دری‌احتماله ذکرکړی وُو،چه دابه دَخپلوافرادوپوره ماهیت وی،یابه جزء دخل وی اویابه دَماهیت نه خارج وی،دوو ړومبنویبان خومخکی‌تیرشو، په دی متن ( قال ) کښې دریم احتمال ذکرکوی‌چه هغه کلی‌چه دَخپلوافرادودحقیقت نه خارج وی هغه به دَدوو حالونه به خالی نه وی،یابه دَماهیت نه دد ے انفکاك ممتنع وی.اویابه ممکن وی،اول ته "عرض لازم" وایٔ لکه دَدریودپاره فردیت(طاق کیدل) لازم دے .او یا څلورودپاره زوجیت(جفت والے) لازم دے،اودویم ته"عرض مفارق" وایٔ لکه دَانسان



لپاره کتابت بالفعل شو،بیاعرض لازم خپل کورکښې په دوه قسمه دے(۱)لازم الماهية من حيث هي‌هي"اوداهغه دے چه دَشیٔ دَماهیت سره لازم وی اودَهغه نه جدانه وی لکه دَڅلوررو جفت کیدل ځکه چه کله هم دَڅلوررماهیت متحقق شی نوهلته به دے سره زوجیت (جفت کیدل) لازم وی،زوجیت دَڅلوررونه نشی‌جداکیدلے،اوهم دغه شان دَدریوفردیت(طاق)کیدل ځکه چه کله هم دَدریوماهیت متحقق شی‌نوهلته به دےسره فردیت(طاق) کیدل لازم وی فردیت دَدریونه نشی جداکیدلے؛(۲)لازم الوجود:اوداهغه لازم دے چه دَ شیٔ دَوجود سره لازم وی اوداموجودوی په ضمن دَ افراد ددے ماهیت کښې په خارج کښې که دَحبشی‌توروالے،داتوروالے دده وجودسره په خارج کښې لازم دے. اودَحبشی په ماهیت کښې داخل نه دے دَده ماهیت خو"حیوان ناطق" دے، ولی‌که دا توروالے دَده ماهیت شی،نوبیاددے تقاضی داه چه یوانسان هم توروالی نه بغیرنه وے موجود، حالانکه ډیرانسانان بغیردَتوروالی‌موجوددی.وان تعدوهم لاتحصوهم=

**قوله:إما ان يمتنع** الخ **سوال**: دادَ لازم تعریف دے چه"لازم" هغه ته وایٔ چه دَهغه دَ ماهیت نه جداکیدل ممتنع وی، نوپدی باندداسوال واردیږی چه داتعریف"لازم اعم" نه شامل نه دے ځکه چه دَماهیت نه دَ هغه انفکاك ممتنع نه د ے بلکه هغه بغیردَ ماهیت نه هم موندل کیږی‌هم ددے وجے نه محقق طوسی رحمه الله په شرح دَ"اشارات" کښې د لازم تعریف په"مایمتنع انفکاك الشیٔ عنه"سره کړیدے؟

**جواب**:مراددَانفکاك نه سلب دے یعنی‌لازم کلی‌دےچه منع دے سلب دَهغه دَماهیت دَاو"لازم اعم"هم داسےدے **قوله:كالفردية** الخ فردیت،کتابت،سواداونطق وغیره مثالونه دَمنطقیانومشهورو مسامحاتونه دی ځکه چه مبدا محمول لره ذکرکوی،ګنی‌موافق مثالونه دادی چه" فرد ،کاتب،اسود ،اوناطق وغیره،ځکه چه بحث په هغه کلی کښې دے چه دَخپل افرادو دَماهیت نه خارج وی نودَدے ماهیت اودَدے افرادوباندمحمول کیدل ضروري دی،او ښکاره خبره ده چه"مبادی"په کوم شی باند نه محمولیږی-

**قوله: لازم للوجود** الخ **سوال**:هرکله چه عرض لازم په دوه قسمه وُو(۱) لازم الوجود (۲)لازم الماهية ،نوڅه وجه ده چه اکثرمنطقیان دَلازم الماهية تفصیل کوی‌اودَ لازم الوجودڅه خاص تفصیل نه ذکرکوی دلته هم دَ لازم الماهية څخه بحث کړیدے لیکن

دلازم الوجودبحث ئ نه کړے دانه دے مګر ترجیح بلا مرجح؟

**جواب:** هرکله چه دمنطقیانوغرض اصلی لازم الماهیة نه بحث کول دی اود لازم الوجودذکراستطراداًاوتوضیحاً کولے شي‌هم دد ے و ځ نه ددے صرف په مثال باندې اکتفاء اوکړواودهغ اقسام بیان نه کړل-

**قوله:_لا یقال الخ** دَ **سوال:** خلاصه داده چه تا دَ لازم تقسیم اوکړولازم الماهیة اولازم الوَجودته داباطل دے ځکه چه دیکښ تقسیم دَ شئ الی نفسه اوالی غیره لازمیږی داسے چه ماتن رحمه الله دَ لازم(مقسم دے )تعریف داسے کړیدے"مالامتنع انفکاکه عن الماهیۃ"بعینه دغه دلازم الماهیة،نوداتقسیم دَ شئ الی نفسه شو،اوالی غیره داسے چه لازم الوجودکښ دَماهیت نه دده جدائ نه ده بلکه ممکن ده اولازم کښ چه مقسم دے دَامتناع حکم دے،اوتقسیم دَشئ الی‌مفسه اوالی‌غیره باطل دے، نودا تقسیم دلازم لازم الوجوداولازم الماهیت ته باطل دے؟

شارح رحمه الله ددے سوال ځخه جواب کړیدے پدی قول خپل سره" لا نانقول لا نسلم انفکاکه عن الماهیة"اوتفصیل دَ **جواب:** دادے چه مونږدانه منوچه لازم وجودد"ماهیت من حیث هی‌هی"نه قطع نظر وجودخارجی‌کښ جداکیدل ممتنع نه دی،ممکن دے. خوددینه دا هرګزنه لازمیږی چه لازم الوجود دَماهیت نه جداکیدل ځه قدرے ممتنع نه دی بلکه داسے‌کیدے شی‌چه دلازم الوجوددَماهیت من حیث هی‌هی"نه جداکیدل خوممکن دی‌خوځه درجه کښ دلاوم وجوددَماهیت نه جداکیدل ممتنع اومحال وی، نوثابته شوه چه دلازم وجوددَماهیت نه ځه درجه کښ محال اوممتنع دے، نودلازم دواړه قسمونو ګ امتناع موندل کیږی،نوداتقسیم دَشئ الی‌غیره لازم نشو،اومقسم دَمطلق امتناع ذکردے اودهغے په اقساموکښ دَحیثیت قیددے ځکه چه لازم وجود من حیث الوجود وی‌اولاً زم الماهیة من حیث هی‌هی"وی،نوپه مقسم اواقساموکښ فرق ظاهر شو،نو تقسیم دَشئ الی‌نفسه اوالی‌غیره لازم نشو- پس حاصل دَجواب داشوچه "ممتنع الا نفکاك عن الماهیة"خولازم الوجوداولازم الماهیة دواړه کیږی لیکن فرق دادے چه لازم الوجود من حیث الوجودوی‌اولازم الماهیةمن حیث هی هی "وی نوتقسم دَ شئ الی نفسه اوالی‌غیره لازم نشو-



**قوله: غایة ما فی‌الباب_الخ** غرض دشارح رحمه الله په دی‌عبارت سره مزیدوضاحت دَ جواب دے په طریقه دَشکل اول سره چه خلاصه ئ‌داده چه لازم الوجودممتنع الا نفکاك عن الماهیة الموجودة(صغری) ، ومایمتنع إنفکاکه عن الماهیة الموجودة فهو ممتنع الا نفکاك عن الماهیة فی‌الجملة، (کبری) لازم الوجود ممتنع الا نفکاك عن الماهیة فی‌الجملة(نتیجه) او" فان مایمتنع انفکاکه عن الماهیة"دکبری دلیل دے چه هغه شئ دَهغه ماهیت نه جداکیدل ممتنع وی،هغه دوه حالونه به خالی نه وی،
(١)دده انفکاك به دَماهیت موجوده نه ممتنع نه وی‌دالازم الوجوددے(٢)دده انفکاك به دَماهیت من حیث هی‌هی" نه ممتنع وی دالازم الماهیة دے، نومقسم ممتنع الا نفکاك فی‌الجمله شوچه دواړه قسمونوته شامل دے-

**قوله: ولوقال اللازم مایمتنع الخ** غرض دَشارح رحمه الله تعریض کول دی په ماتن رحمه الله باندې په دی شان سره چه ماتن رحمه الله "إن إمتنع إنفکاکه عن الماهیة"په ځای"إن إمتنع إنفکاکه عن الشیٔ" وئیلے وے نوسوال مذکور نه واریدوځکه چه منشاء دَسوال لفظ دَ"ماهیة" دے؟

**جوا ب:** میرسیدشریف رحمه الله دَماتنؒ لخواداعذرکړیدے چه ده اولاً دکلی تقسیم اقسام ثلا ثه ته ،(چه عین ماهیت،جزء ماهیت اوخارج دَماهیت) ته دَافرادکلی دَماهیت په اعتبارکړیدے،بیادَجزء ماهیت تقسیم جنس اوفصل ته هم په دی اعتبار کړیدے .نو اوس مقتضی دَسوق کلا م هم دغه دے،چه دَخارج تقسیم لازم اوغیرلازم طرفته هم په دی اعتبار سره اوکړے شی،

**خلاصة المقام »** دَشارح رحمه الله دَجواب خلا صه داه چه تقسیم مذکورپه قوت کښ دے چه"ان الکلی الخارج امان یمتنع انفکاکه عن الماهیة فی‌الجملة اولا "لیکن په دی باندې داسوال:وارديږی چه لفظ دَفی الجملة"یاخود امتناع سره متعلق کیږی، او یادَماهیت سره،په اولنے‌صورت کښ معنی‌داګرځی‌چه لازم هغه دے چه دَهغه انفکاك دَماهیت نه فی‌الجمله ممتنع وی،په دی تقدیرباندپه"لازم" کښ هر"عرض مفارق"هم داخلیږی ځکه چه دَماهیت نه دَهغه انفکاك هم فی‌الجمله ممتنع دے یعنی په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت کښې کله چه دَهغه ثبوت للماهية متحقق وی چه معلول لپاره علت واجب وی لکه تعجب چه دَضحك لپاره علت دے، نو په حالت دَتعجب کښې دَ انسان نه دَ ضحك انفكاك ممتنع کیږی، نودَخارج ماهیت تقسیم لا زم اومفارق ته تقسیم الشیٔ الی نفسه اوالیٰ غیره لا زم نه راځی، اوکه دَماهیت سره متعلق شی نودا بالکل بی معنی دے. اذالمتبادرمنه مایکون ماهیته بوجه من الوجوه ولامعنی له" اوکه تکلف سره هم معنی جوړشی، نودصرف دغه کیږی چه دَماهیت نه مرادبلا تقید. شیٔ ماهیت مطلقه دے اوماهیت بلا تقیدشیٔ دغه ماهیت من حیث هی هی" دے لهذادغه تقسیم الشیٔ الی نفسه اوالیٰ غیره تراوسه باقی پاتی شو، اوکه دَانفکاك سره متعلق شی نوبیادَ لا زم په تعریف کښې ماسوی دَلا زم ماهیت نه نورهیڅ شیٔ نه داخلیږی ؟

جواب(۱) لفظ" فی الجمله" دَامتناع سره متعلق دے، پاتی شوعرض مفارق سوال نو هغه محض احتمال عقلی دے اوتقسیم هم عقلی دے لکه چه دَمفهوم تقسیم موجود مطلق اومعدوم مطلق ته، دغه شان دَجهت تقسیم ضرورت اودوام عقلی ته دے" مع ان الدوام لا ینفك عن الضرورة "لیکن داجواب ضعیف دے ځکه چه ماتن رحمه الله دَعرض مفارق تقسیم کړیدے حالانکه دَعقلی قسم تقسیم ئې نه دے کړے،

جواب(۲) دَماهیت" فی الجمله" مرادما یطلق علیه الماهیة دے، من حیث هی هی وی او که ماهیت موجوده، لیکن داجواب هم ضعیف دے ځکه چه مایطلق علیه الماهیة صرف په ماهیة مطلقه اوماهیة موجوده کښې منحصرنه دے بلکه دَهغې نه علاوه هغه ماهیت هم دے چه مقید بالا طلا ق دے، والماهیة بشرط شیٔ غیرالوجود، پس عرض مفارق دَ لا زم په تعریف کښې داخلیږی نواشکال مذکوربیاواپس کیږی او" قرارالی ما منه الفرار" راځی، هم ددے وجے نه سیدشریف رحمه الله وائی چه بهترین جواب: دادے چه دَ لا زم په تعریف کښې دَ "ماهیت" نه مرادماهیت موجوده دے، پس لا زم چه دَهغه انفکاك دَماهیت موجوده نه ممتنع دے دَهغې انفکاك دَماهیت من حیث هی هی. نه ممتنع وی یانه وی، اول لا زم ماهیت دے اوداهغه دے چه ماهیت ته لا زم وی مطلقاً یعنی خارج اودواړو کښې، اوثانی لا زم وجود دے یعنی لا زم ماهیت موجوده په خارج کښې یاپه ذهن



برابر دَاحاطے تمامیدونه حاصل وی، (۲) زوایا" جمع دَزاویه ده زاویه په لغت کښې "کُنج گوټ" ته وائی اوپه اصطلاح دَهندسه کښې اطلا ق شویدے په دوومعنویاند په طریقه دَاشتراك سره [۱] زاویه مسطحه(کوم ته چه زاویه بسیطه هم وئیلے شی) وهی هیئة عارضة للسطح المنحدب عندملتقی خطین یحیطان به- یعنی دایوشکل دے چه عارض کیږی داسے سطح ته په اوچت(لوړ) ځائ پروت وی په ځائ دَملا قات دَدوخطونو کښې چه دی دواړو خطونو احاطه کړے وی په سطح باند، اوچاداسے تعریف کړیدے چه "مابین الخطین" هکذا ┐ [۲] زاویه مجسمه وهی هیئة تحدث للجسم المنحدب عند نقطة منه من حیث هو" یعنی دایوشکل دے چه عرض کیږی داسے یوجسم ته چه په اوچت ځائ پروت وی په وخت دَ نقطی ددینه په مرتبه دَمن حیث هو" کښې والمراد ههنا الاولی،

« فائده » کل ضلع من اضلاع المثلث بالنسبة الی الضلعین یسمی قاعدة المثلث و الضلعان الاخران بالنسبة القاعدة یُسمیان بالساقین والزاریة التی بین الساقین تسمی راس المثلث- پس زاویه(مسطحه) داسے وی چه یوخط مستقیم باند یوبل خط مستقیم واقع شی، نوکه اوس دغه دواړه برابروی نودوئ ته" قائمه" وائ لکون احد ضلعیها قائماً علی الاخر، یعنی یوخط قائم دے په بل باند، اوهم دغه شان" محدوده" ورته هم وائ ځکه چه مختلف نه دے په قلت اوکثرت کښې، اوهم دغه شان" معموده" ورته هم وائ ځکه چه هرواحد ددے دواړو عمود(ستن ) وی په بل بانده هکذا ┴ اوکه یو صغری(وړوکے ) وی اوبل کبری(غټ ) وی. نوصغری ته" حاده" وائ لقلة الا نفراج فیها" او کبری ته" منفرجه" وای لکثرة الا نفراج فیها، هکذا ∠ ومن ارادالتفصیل فلیراجع الی کشاف الاصطلاحات-

قوله: وههنانظر الخ خلا صه دسوال: دادے چه تادَلا زم الماهیة تقسیم منحصرکړیه بین اوغیر بین کښې داانحصارصحیح نه دے ځکه چه دلته یوبل قسم هم شته تاخودا اونیل چه لا زم اودَملزوم دَتصورنه عندالعقل جزم باللزوم اوشی نودالا زم بین دے، (کوم ته چه بدیهی اولی وئیلے شی)، اوکه اوکه دلیل ته ضرورت پیښ شی نودالا زم غیر بین دے(کوم ته چه کسبی یانظری وئیلے شی)، لیکن دَ لا زم اودَملزوم دَتصورنه جزم باللزوم هم نه راځی اونه څه دلیل ته ضرورت پیښیږی بلکه دغه جزم په لزوم په حدس

،تجربه،اواحساس وغیره باندموقوف دےنوداقسم نه په اول قسم کښې داخل دے اونه په دویم قسم کښې،نودتقسیم انحصاریه دوؤ کښې صحیح نه شوځکه چه داصورت نه نظری دے اونه بدیهی اولی؟ پس خلاصه دَ

جواب: دادے چه دَلازم غیربین په تعریف کښې یٔ لږ بدلون اوکړے شی اودینه دَوسط (دلیل) قید ختم کړے شی اوددے تعریف یٔ داسے اوکړے شی"چه د لازم اودَملزوم دَ تصور سره جزم باللزوم حاصل نشیٔ اوس داوسط حدس،تجربه اواحساس ټولوباندِ صادقیږی ځکه چه دیکښې تعميم دے چه هغه خواکه دلیل سره حاصل وی اویاحدس، تجربهاواحساس سره حاصل وی،نودَتقسیم انحصاریه دوؤکښې صحیح دے۔

قوله:فلواعتبرنا الخ دَشارح رحمه الله دکلام نه خودامعلومیږی چه باعث دَفساد دَ" غیر بین" تعریف دے چه په هغے کښې دَافتقارالی الوسط اعتبارشویدے اودَاصلاح صورت دادے چه دادَتعریف نه لرې کړے شی،لیکن دَصاحب"قسطاس" دَکلام ځخه معلومیږی چه منشا مدَفسادد دَلازم بین"تعریف دے چه دَهغه په مفهوم دکفایت اعتبارشویدے او دَ اصلاح صورت دادے چه دَبین تفسیرمالا یفتقرالی وسط.سره والیه ذهب العلامه التفتازانی رح۔

قوله: وقدیقال البین الخ دی سره دلازم بین دویمه معنی بیانوی او هغه دا چه دَلازم بین دویمه معنی داده چه محض ملزوم تصوردَ لازم تصورلره کافی وی لکه " الا ثنان ضعف الواحد" ځکه چه دَاثنین دَ تصورنه ددےدَضعف الواحدتصورکیدل لازم دی،دیته لا زم بین بالمعنی الاخص"اولازم ذهنیورته هم وایٔ اوپه قول دَمیرسید شریف رح په دلا لت التزامی کښې معتبردے۔

قوله: والمعنی الاول الخ غرض دَشارح رح په دی عبارت سره نسبت بیانول دی په مابین دَدوارومعنیینودلازم بین کښې پدشان سره چه لازم بین اولنۍ معنی اعم ده اوثانی معنی اخص ده،نونسبت، په مابین ددوی کښې عموم خصوص مطلق دے،کوځایٔ کښې چه دویمه معنی وی هلته به اوله معنی هم وی،اوددے عکس ضروری نه دے ځکه چه کله لزوم کښې صرف دَملزوم تصورکافی دے،نودَلازم اودَملزوم دَتصور سره خویه لزوم کښې داخامخواکافی وی من غیر عکس۔



قوله: والعرض المفارق الخ هرکله چه شارح رحمه الله فارغ شودَبیان دَعرض لازم نه نو شروع یٔ اوکړوپه بیان عرض مفارق کښې،پس پوهه شه عرض مفارق عبارت دے دَ" مایمکن انفکاکه عن المعروض" نه،اوددی درې صورتونه دی(۱)دائمی:چه دعارض دَمعروض نه جداکیدل ممکن وی خولیکن جدانه وی نودیته "عرض مفارق دائمی" وایٔ،لکه حرکت دَفلك دپاره(۲) عرض مفارق زائل سریعی: چه عارض دَمعروض نه جداکیدل ممکن وی اوفوراًجداکیږی.لکه حمرة الخجل،اوصفرة الوجل،یعنی سور والے دَخجالت(یعنی شرمنده) سړی،اوزیړ والے دَیرې دلے سړی،(۳) عرض مفارق دائمی:چه دَعارض دَ معروض نه جداکیدل ممکن وی خوفوراًنه وی بلکه په دمه دمه وی لکه شیب او شباب (یعنی بوډاتوب اوځوانی)سوال: په دی مثالونوکښې اګرچه یوجزء (شباب) صحیح دے لیکن بل جزء(شیب) دَعرض مفارق مثال نشي جوړیدلے،نه سریع الزوال والامثال جوړیدلے شی اونه دَبطیئ الزوال ولا ځکه چه"الشیب لا یزول اصلا" اګر چه الله تعالی ورته مثل دَعمردَنوح علیه السلام ورکړی،اودَموت(مرګ) په صورت کښې خو انعدام دَمحل راځی وعندانعدام المحل لا یبقی غرض اصلا،هم ددے وجې نه اکثر متونوکښې دَبطیئ الزوال والامثال کښې په شباب باندِ اکتفاء کولے شی؟

جواب:مراددَ(شیب)نه دلته شیب غیرطبعی دے یعنی دَبدن کمزوری کوم چه بنه طعام اوطاقت ورددوایانوسره رورروختمیږی والاولی ان یمثل للبطوٴ بالعشق والامراض المزمنة فانهما لا یزولان الا ببطوٴ۔ مشق

قوله: وهذاالتقسیم الخ غرض دَشارح رحمه الله په دی عبارت سره اشاره کوا دی یوسوال ته حاصل دَسوال: دادے چه معترض وایٔ چه دَعرض مفارق په دوه قسمونو(دائم۔ زائل)کښې انحصارصحیح نه دےځکه چه دَعرض مفارق یوبل قسم هم شته چه دَشیٔ نه دَهغه جداکیدل ممتنع نه وی ممکن وی خونه جداکیږی ترینه لکه حرکت دَافلاك" نوداانحصارصحیح نه دے؟ جواب: بعض حضرات وایٔ : چه دَ عرض مفارق دوه قسمونه دی(۱)عرض مفارق بالفعل(۲) عرض مفارق بالقوه- نو سریع اوبطیئ بالفعل کښې داخل دی،اوقسم ثالث بالقوه کښې داخل دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

قال:وكل واحد من اللازم والمفارق إن اختص ـــــــ اقول:الكلی الخارج عن الماهية
سواء كان لا زمًا ـــــــ فلا يصح قوله بعذالك فالكليات إذن خمس، اه

« تشريح »- دی متن(قال) کښ دکلی دَڅلورم اودَپنځم قسم بيان دے،پس هغه کلی چه دَماهيت نه خارج وی،خواکه هغه عرض لازم وی،اوکهٔ عرض مفارق وی په دوه قسمه ده (١) خاصه (٢) عرض عام- پدیشان سره چه داقسم(کلی) يعنی هغه کلی چه خارج عن الماهية وی دابه خالی نه وی يابه خاص وی ترافراددَحقيقت واحده پوری، نودا خاصه شوه لکه ضاحك،يامتعجب،کوم ـ ه خاص دی ترانسان پوری،اويا به خاص نه وی ترافراددَحقيقت واحده پوری.نوداعرض عام شولکه ماشی"چه شامل دے نورو حيواناتولره هم- « تعريف الخاصه »دَخاصه تعريف داسے کولے شی"کلية مقولة علی افراد حقيقة واحدة فقط قولا عرضيًا"(١)کلية"لفظ مستدرك دے په قول دَشارح رحمہ اللہ اگر چه مونږ ترے جواب کړيدے فتذکره(٢)المقول الخ"جنس دے (٣) فقط"فصل اول دے دی سره جنس اوعرض عام خارج شول ځکه چه دوئ دواړه په مختلف حقائقو باندی وئيلے کيږی(۴)"قولاً عرضيًا"فصل ثانی دے،دی سره نوع اوفصل خارج شول، ځکه دوئ په خپلوافرادوحمل ذاتی دے نه عارضی-

« تعريف العرض العام »اودَعرض عام تعريف داسے کولے شی"کلی مقول علی أفراد حقيقة واحدة وغيرهاقولاً عرضيًا" (١)کلی"دشارح رحمہ اللہ دَطرزموافق مستدرك اوزائددے ليکن جمهوروپه نزدباندداقيدمستدرك نه دےکمامرغيرمرة (٢)المقول الخ"جنس دے (٣) وغيرها"دافصل اول دے،دی سره احترازراغے دَ نوع،فصل اوخاصه نه ځکه چه دوئ صرف دَيوحقيقت والا افرادوباند وئيلے کيږی، (٣) قولاً عرضيًا"دافصل ثانی دے،دی سره احترازراغےدَجنس نه ځکه چه قول ذاتی دے نه عرضی، سوال: تعريف دعرض عام مانع نه دے دَدخل دغيرنه ځکه چه داتعريف صادقيږی په"خواص الاجناس"باند لکه ماشی دَحيوان لپاره نودابه افراددَانسان اودَ فرس وغيره باندصادقيږی؟

جواب: هغه حقيقت چه "ماشی"لره خاصه گرځوی په نسبت ددے حقيقت هغه حيوان



دے او ماشی صرف په دیباند محموليږی اوهرکله چه نسبت انسان ته اوشی نو په ده باند صادقيږی نوداعرض عام مکرځی،والحاصل ان قيدالا نسيان من حيث هوکذالك مرادفی التعريفات،فالماشی من حيث للتولية علی الحيوان خاصة وعلی الا نسان عرض عام – پس بناپه دغه باند ټول کليات پنځه شول(١) نوع (٢) جنس (٣) فصل (۴) خاصه (۵) عرض عام-

قوله:الكلی الخارج الخ ماتن رحمہ اللہ دَخاصه اوعرض عام مقسم دَ لازم اومفارق نه هر واحدلره گرځولےدے،حالانکه دَلازم اومفارق نه کومه خاصه،اوعرض عام نه چا طرف ته نه مقسم کيږی،ځکه چه دَخاصه اوعرض عامنه هرواحددَلازم اومفارق نه دَبل نه اعم من وجهٍ دے"والقسم اخص مطلقًا"هم په دی وجه شارح رحمہ اللہ "الكلی الخارج عن الماهية" وئيلوسره پدی خبره باند ی متنبه کړلو چه صحيح تقسيم دادے چه خاصه او عرض عام نه خارج عن الماهية کلی تقسيم کړے شی-

قوله: وإنماكانت هذه التعريفات رسومًا الخ دینه روستو شارح رحمہ اللہ تقريبًا دری تنبيهاتو طرف ته اشاره کوی،مونږ به دَسوال اوجواب په طريقه باند واضح کوؤ ان شاءالله تعالی، پس غرض دَ شارح رحمہ اللہ په دی عبارت سره اشاره کول دی جواب دَسوال مقدرته حاصل دَ سوال:دادے چه څه وجه ده چه ماتن رحمہ اللہ داکليات خمسه ودَتعريفونه تعبير په حدودسره اونکړوبلکه په"رسوم" سره اوکړولکه چه وئيلی دی "رسموه- او- ترسم "سره ددينه تعريف حدی اولی وی دَتعريف رسمی نه؟اوحاصل دَ جواب: دادے چه"حد"هغه تعريف ته وائ چه ذاتيات(يعنی جنس اوفصل)نه مرکب وی،او"رسم"هغه تعريف ته وائ چه دَعرضياتونه مرکب وی،اوس په تعريفاتودکلياتوکښ چه مفهومات مذکوردی،دغه دَ هغے ذاتيات دی دَيقين سيره نه وئيل کيږی ځکه چه ممکن ده چه دکلياتودپاره دَهغه مفهوماتونه علاوه نورماهيات وی اودامفهومات دَهغه ماهياتو دپاره عوارض اولوازم وی،فلمالم يتيقن من ذالك سمی هذه المفاهيم رسومًا-

قوله: وهوبمعزل عن التحقيق الخ غرض دَشارح رحمہ اللہ په دی عبارت سره سزال کول دی په مذکورالذکرجواب باندحاصل دَسوا ل: دادے چه تادَرسم باره کښ چه کوم دليل ذکر کړيدےدادَ تحقيق مقام نه ډيربعيددے ځکه چه تااوئيل چه ممکن ده چه ددے












**ملنے کے پتے**

مکتبہ رشیدیہ سرکی روڈ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com